بسم اللہ الرحمن الرحیم

پښتو ترجمه

فتح الجواد

فی معارف

آیاتِ الجهاد

سُورة البقرة ● سُورة آلِ عمران ●

سُورة النّساء ● سُورة المائدة ●

١

مولانا محمد مسعود ازہر حفظہ اللہ تعالیٰ

مترجم مولینا کمال ارشاد

مکتبہ عرفان لاہور

پښتو ترجمہ

کتاب .... فتح الجوّاد فی معارف آیات الجہاد (جلد اول)

مؤلف .... مولانا محمد مسعود ازہر صاحب

مترجم .... مولینا گل اب شاہ

اشاعت اول .... صفر ۱۴۳۱ھ

صفحات ۶۷۲

تعداد ۱۱۰۰

قیمت .... ۳۵۰ روپے

ہماری مطبوعات ملنے کے پتے

مکتبۃ الایمان دکان نمبر ۱۳۱، ندیم ٹریڈ سینٹر، محلہ جنگی، عقب قصہ خوانی بازار پشاور 0321-9013592

رحمانی کتاب گھر دکان نمبر 2، نزد نور سبحانی مسجد، لسبیلہ چوک کراچی 0300-2249928

مکتبہ ابن مسعودؓ، مدرسہ عبداللہ بن مسعودؓ، چشمہ جات نزد کمپنی باغ کوہاٹ 0321-5782621

مکتبہ عثمانؓ وعلیؓ، نزد بندھن شادی ہال، کوثر کالونی بہاولپور 0321-6837145

مکتبہ مقصودؒ، اعظم مارکیٹ نزد کمیٹی چوک راولپنڈی 0323-5019010

ادارہ اشاعت الخیر، بیرون بوہڑ گیٹ ملتان، فون 061-4514929

مکتبہ رشیدیہ سرکی روڈ کوئٹہ 081-262263






اسٹاکسٹ مکتبہ ابن مبارک 37۔حق سٹریٹ اردو بازار۔لاہور

موبائل: 0321-4066827





بسم الله الرحمن الرحيم







مختصر فهرست

پښتو ترجمه

فتح الجواد في معارف آيات الجهاد




سُورَةُ
البَقَرَة
مَدَنِيَّة

ابتدائیه

په دې تالیف کښې د سورۀ بقرې ددې لاندینو پنځه
دیرش آیتونو جهادي مضامین بیان شوي دي۔

آیات ۱۵۳ تا ۱۵۷
آیت ۱۰۹
آیت ۱۱۴
آیت ۱۷۷
آیات ۱۹۰ تا ۱۹۵
آیت ۲۰۷
آیات ۲۱۴ تا ۲۱۸
آیت ۲۳۹
آیات ۲۴۳ تا ۲۵۲
آیت ۲۶۱
آیت ۲۶۲
آیت ۲۷۳
آیت ۲۸۶

او د سورۀ بقرې په دې لاندې پنځه آیتونو
کښې د جهاد مضامینو ته اشارې شوي دي۔

۳۰ ۳۶ ۵۸ ۵۹ ۸۹

والله تعالیٰ اعلم بالصواب

په پنځه دیرش آیتونو کښې دجهاد دمضامینو نچوړ

آیت ۱۰۹ جهاد د الله تعالیٰ حکم دے او په دے کښې د باطل توړ دے۔

آیت ۱۱۴ د جماتونو او د عبادت خانو حفاظت په جهاد کښې دے۔

آیت ۱۵۳ جهاد د صبر د تولونه اوچته درجه ده او په دے سره د الله تعالیٰ مدد راځي۔

آیت ۱۵۴ په جهاد فی سبیل الله کښې قتل شوے خلق ژوندی دی۔

آیت ۱۵۵_۱۵۷ امتحانونه خو راځي۔ خپل ځانونه مضبوط کړئ۔ په صبر او استقامت باندے خوشخبری ده۔

آیت ۱۷۷ جهاد د نیکو په دروازو کښې یوه دروازه ده۔ که صادیقینو او متقینو کښې شاملیدل غواړئ نو په جهاد کښې کلک شئ۔

آیت ۱۹۰ هر وخت د جهاد د پاره تیار اوسئ او حمله کوونکی د شمن ته جواب ورکوئ۔

آیت ۱۹۱ د کفر طاقت مات کړئ که هغوی په مسجد حرام کښې جنګ کوی نو هلته ورسره هم جنګ کوئ۔

آیت ۱۹۲ داسے جهاد اوکړئ چه کافر د کفر او شرک نه واپس شی او توبے و یستلو ته تیار شی۔

آیت ۱۹۳ د دین د غالب کیدو او د اسلام او دمسلمانانو دپوره محفوظ کیدو پورے جهاد کوئ۔

آیت ۱۹۴ حرمتونه د بدلے څیزونه دی۔

آیت ۱۹۵ جهاد کښې مال خرچ کوئ او د جهاد په پریښودو سره ځان په هلاکت کښې مۀ اچوئ۔

آیت ۲۰۷ د فدائي مجاهد شان۔

آیت ۲۱۴ د جنت لاره د تکلیفونو او ازمائشونو نه ډکه ده۔

آیت ۲۱۵ په خپلو رشته دارو باندے مال لګولو سره دهغوی د جهاد سامان برابر کړئ۔

آیت ۲۱۶ د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد فرض دے۔

آیت ۲۱۷ د جهاد حکم دهمیشه دپاره دے اوجهاد د ارتداد د فتنے علاج دے۔ (سریه عبدالله بن جحش رضی الله تعالیٰ عنه)

آیت ۲۱۸ هجرت او جهاد اوچت او مقبول عملونه دی۔

آیت ۲۳۹ په جهاد کښې مونځ (د صلوٰة الخوف حکم

آیت ۲۴۳ دمرګ د ویرے جهاد پریښودو والا دمرګ نه نهٔ شی بچ کیدے۔

آیت ۲۴۴ د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد فرض دے دا (فرض) ادا کوئ۔

آیت ۲۴۵ په جهاد کښې ښهٔ مال خرچ کړئ۔ واپس به خامخا ملاویږی۔

آیت ۲۴۶ د ظلم نه خلاصے او د کافرانو نه آزادی د جهاد په ذریعه ملاویږی۔

آیت ۲۴۷ د جهاد د امیر صفات۔

آیت ۲۴۹ د امیر اطاعت لازم دے او د شهادت رشتینے شوق او جذبه د قوت ذریعه ده۔

آیت ۲۵۰ په جهاد کښې دُعاء۔

آیت ۲۵۱ د جهاد برکتونه– فائدے او حکمتونه۔

آیت ۲۵۲ د فتوحاتو پیشن ګوئی۔

آیت ۲۶۱ په جهاد کښې د مال د خرچ کولووالؤ درجے۔

آیت ۲۶۲ په جهاد کښې دلګولے شوی مال د قبلیدو شرطونه۔

آیت ۲۷۳ د جهاد دپاره د خپل ځان د وقف کوونکو حق۔

آیت ۲۸۶ اے مسلمانانو؛ په کافرانو باندے د غالب راتلو کوشش ستاسو ذمه داری ده۔ په دے کښې دکامیابئ دپاره دعاء غواړئ۔

په پینځو آیتونو کښې دجهاد طرفته داشارو نچوړ۔

آیت ۳۰ چه د وینے بیول د علم او د دین تابع وی۔(خلافت)

آیت ۳٦ په خپل مینځ کښې به دشمنی خا مخا وی۔ د دے نه خلاصے نشته دے۔ د باطلو خلقود دشمنئ جواب به حق والا خا مخا ورکوی۔

آیت ۵۸-۵۹ بنی اسرائیلو ته د جهاد حکم۔

آیت ۸۹ اهل کتابو به فتحه غوښتله (دیو قول مطابق)

د لاهوری رحمہ اللہ اشارات

د حضرت مولانا احمد علی لاهوری رحمہ اللہ په نزد باندے ددے آیتونو تعلق هم د جهاد سره دے۔

۱۱۰ ۱۸۷ ۱۹٦ ۲۱۹ ۲۲۰ تفصیل د پاره د لاهوری رحمہ اللہ حاشیه باندے نظر واچوئ۔

اختتام ابتدائیہ وآغاز معارف آیات الجهاد



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ — آیت ۱۰۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ

خوښه ګڼړی ډیر اهل کتاب چه واپس جوړ کړی تاسو لره پس دایمان راوړلونه کافران۔ دوجهے

كُفَّارًا ۚ حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ مِّنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۚ

دحسد نه چه ددوی په زړونو کښ دے پس ددے نه چه ښکاره شودوی ته حق – نو عفوه ووکړئ –

فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

او ځان ناغرضه کړئ۔ تر دے چه راولیږی الله تعالیٰ خپل حکم – بیشکه الله تعالیٰ په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾

شی باندے قدرت لرونکے دے۔

نچوړ

❶ الله تبارک وتعالیٰ مسلمانان هوښیاره وی او خبروی ئے چه اهل کتاب (یهوداونصاریٰ) کافران ستاسو دمرتد کولو په کوششونو کښے لګیاوسی۔ هغوی ستاسو ښکاره اوپټ دښمنان دی – او دهغوی تاسو سره حسد دے۔ ❷ مسلمانان دے فی الحال صبر اوکړی – اودمونځ او زکوٰة په ذریعه دے د الله تعالیٰ سره خپل تعلق مضبوط کړی – او خپل جماعت ته دے په دغه عباداتو سره قوت ورکړی۔ ❸ داسلام او دمسلمانانو خلاف د سازش کوونکو علاج . . . د جهاد فی سبیل الله دحکم په ذریعه نازلیدونکے دے . . . جهاد فی سبیل الله په پوره عالم کښے دامن دانتظام کولو والا قانون دے۔ ❹ مسلمانان دے د خپلے کمزورتیا او د دښمنانو د طاقت په وجه نۀ پریشانه کیږی۔ هرکله چه دجهاد حکم نازل شی اومسلمانان په هغے باندے عمل کوی – نو هغوی به یواځے نۀ وی۔ الله پاک دهغوی په مدد کولو او دهغوی په غالب کولو باندے قادر دے۔

❺ جهاد . . . . امرالله یعنی دَالله حکم دے۔

اقوال

❶ دا آیت د یهودیانو په باره کښے نازل شوے دے۔ (۲) دکعب بن اشرف یهودی په

باره کښې نازل شوې دې۔ ۳ د حی بن اخطب او د ابو یاسر بن اخطب په باره کښې نازل شوې دې۔ ۴ کله چه داحد په غزا کښې مسلمانانو ته ظاهری شکست اوشو- نو یهودیانو مسلمانانوته پیغورونه ورکول شروع کړل...او هغوی ته ئې د مرتد کیدو دعوت ورکول شروع کړو -نو دغه وخت دا آیت نازل شو۔ (۵) په دې آیت کښې د هغه مسلمانانو د پاره د فتح ،نصرت او د غلبې زیرې دې کوم چه په سازشونو او په دشمنو تنګ کړې شوې وو۔

حوالې

❶ بعضې یهودو به شپه او روځ په مختلفو تدبیرونو سره د دوستئ او دخیر خواهئ په انداز کښې د مسلمانانو د اسلام نه دَ اړولو کوششونه کول او دَ ناکامئ باوجود به د خپل کار نه نهٔ اوړیدل۔ حق تعالیٰ مسلمانان په دې باندې خبرداره کړل۔

❷ عن ابن عباس رضی الله عنهما قال کان حی بن اخطب و ابو یاسر بن اخطب من اشدّ الیهود للعرب حسداً اذ خصهم الله برسوله صلی الله علیه وسلم، و کانا جاهدین فی ردالناس عن الاسلام ما استطاعا فانزل الله فیهما وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ ....الآیة (ابن کثیر)

حضرت عبدالله بن عباسؓ فرمائی چه حی بن اخطب او ابو یاسر بن اخطب په یهودیانو کښې دَعربو سره سخت حسد کوونکی وو- ځکه چه الله پاک په عربو کښې اخیری رسول ﷺ پیدا کړو او هغوی ته ئې په دهٔ سره خصوصیت ورکړو۔ دوی دواړو به پوره کوشش کولو چه په څهٔ طریقه مسلمانان داسلام نه لرې کړی- نو الله تعالیٰ دهغوی په باره کښې دا آیت نازل کړو۔

❸ د یوې مخصوصې واقعې په بنیاد باندې عموما د مفسرینو په نیز د اهل کتابونه مراد دلته "یهودی عالمان" دی۔ خو دَ قرآن پاک الفاظ عام دی۔اویهودونصاریٰ ددې په عموم کښې یوشان داخل دی۔ د عیسایانو د طرف نه چه کومه آزاده-زبردسته او منظمه - او د یهودیانو د عالمانو د طرف نه نسبتاً سپکه او پټه پراپیګنډه د اسلام د عقیدو خلاف د سیاست - معاشرت -د تاریخ او دجغرافیې په توګه باندې د تحریرونو په ذریعې سره د مسلمانانو په مینځ کښې

جاري ده۔ دے تولہ پراپیګنډہ کښې دا حقیقت ښکاره ښکاري۔ مقصد د دے تولوکارونو او کوششونو هم داوی۔ چہ کہ چرے مسلمانان عیسائیت او یهودیت قبول نهٔ کړی - بیا هم د خپل دین په باره کښې به ضرور بدګمانه شی او (د خپل دین نه به) لرے شی۔ پخوانو مفسرینو هم دا وئیلے دی چه په دے کښے مسلمانانو ته د کافرانو د مسلمانانو سره د دښمنئ په باره کښې یو زبردست خبردارے دے- (تفسیر ماجدی)

❷ عن کعب بن مالک ان کعب بن الاشرف الیهودی کان شاعرا و کان یهجو النبی صلی الله علیه وسلم وفیه انزل الله وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ ....الآية (ابن کثیر) د حضرت کعب بن مالکؓ نه روایت دے چه کعب بن اشرف یهودی شاعر وو- او هغهٔ به (نعوذبالله) د نبی کریم ﷺ په شان کښې فضول بکواس کولو- نو دا آیت د هغهٔ په باره کښے نازل شو۔

حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ دا اهل کتاب فی الحال پرېږدئ او دوی ته معافی اوکړئ۔ تر دے پورے چه الله تعالیٰ خپل حکم راوولیږی. . .د الله تعالیٰ د حکم نه مراد د اکثرو مفسرینو په نزد دجهاد فی سبیل الله حکم دے۔ او په دے کښے دبنو نضیر او د بنو قریظه وغیره غزاګانو ته هم اشاره ده۔ یو څو حوالے اوګورئ۔

حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ یعنی قتل بنی قریظة واجلاء بنی نضیر (قرطبی) یعنی د الله تعالیٰ دحکم نه مراد د بنو قریظه قتلول او د بنو نضیر د وطن نه ویستل دی ☆هو واحد الاوامر والمراد به الامر بالقتال (روح المعانی) یعنی امر د اوامر واحد دے او مراد ترے نه د قتال حکم دے۔ ☆وهو قول اکثر الصحابة والتابعین انه الامر بالقتال (تفسیر کبیر) دا اکثرو اصحابو او تابعینو په نزد د دے نه د قتال حکم مراد دے ☆(بامره) فیهم من القتال (جلالین) یعنی الله تعالیٰ د دوی په باره کښے خپل قتال والا حکم راوولیږی ☆الذی هو قتل بنی قریظة واجلاء بنی نضیر واذلالهم بضرب الجزیة علیهم (کشاف) د الله تعالیٰ د حکم نه مراد د بنو قریظه قتلول -د بنو نضیر جلاوطنی او په هغوی باندے د جزیے ذلت مسلط کول دی ★(په دے آیت کښے ئے)اشارةً اوویل چه دهغوی د شرارتونو علاج په"قانون انتظام امن عالم" یعنی په " قتال او جزیے "سره مونږ ډیر زر کوونکی یو- (بیان القرآن)

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وفیه إشعار بالانتقام من الکفار ووعد للمومنین بالنصرة

والتمکین (روح المعانی) اللہ تعالیٰ پہ ہر څیز باندے قادر دے - یعنی هغه د کافرانو نه په انتقام اخستو باندے او د مؤمنانو په نصرت کولو - او د هغوی په غالب کولو باندے پوره قدرت لری۔

فائده

فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا علامه قرطبی رحمه الله فرمائی هذه الآیة منسوخة بقول الله عز وجل قاتلوا الذین لا یؤمنون الی قوله وهم صغرون ......امام رازی رحمه الله په تفسیر کبیر کښے او علامه آلوسی رحمه الله په روح المعانی کښے په دے باندے تفصیلی کلام فرمائیلے دے۔ طالب علمان دے دا بحث په دے درے وارو تفسیرونو کښے اوګوری۔

نکته

د دے نه پس په بل آیت کښے حکم ورکړے شوے دے چه مونځ قائم کړئ -او زکوٰة ورکړئ۔(وغیره) د دے نه دا نکته په پوهه کښے راځی -چه په صالحو اعمالو کښے د غلبے تاثیر دے۔ یعنی د مونځ -زکوة او د نورو نیکو اعمالو په برکت سره به تاسو د جهاد کولو او په دښمن باندے د غلبے حاصلولو قابل شئ۔ صاحب د ترجمان القرآن لیکی :... مونځ او زکوٰة یعنی د قلبی او مالی عبادت سرګرمی یو داسے حالت دے چه په هغے سره دجماعت معنوی استعداد زیاتیږی او قوت مومی چه په کوم جماعت کښں دا سرګرمی موجوده وی نونهٔ خو هغوی د دین نه لرے کیدے شی اونهٔ دهغوی اجتماعی قوت کښے کمزوری راتلے شی (ترجمان القرآن)

یو څو مماثل آیتونه

البقره۔ ۱۲۰-۲۱۷ - آل عمران۔ ۶۹-۷۲-۱۰۰ المائده۔۵۱- التوبه۔۲۹۔

دعاء

د یهود ونصاریٰ د طرف نه د مسلمانانو د ګمراه کولو کوششونه اُس هم په زور کښے دی - او د اللہ تعالیٰ حکم د قتال فی سبیل الله هم نازل شوے دے۔ الله تعالی دے مونږ ټولو مسلمانانو ته بیداری او شعور او په خپلو حکمونو باندے د عمل کولو توفیق را نصیب کړی۔

آمین یا رب العٰلمین

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۱۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ

او څوک دے زیات ظالم د هغه چانه چه بندول ئے اوکړل دالله تعالیٰ د جماتونو نه

وَسَعٰى فِىْ خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا

چه یاد کړے شي پکښ نوم د هغهٔ او کوشش ئے ووکړو د هغے د ورانولو- دا خلق حق

خَآئِفِيْنَ ؕ لَهُمْ فِى الدُّنْيَا خِزْىٌ وَّلَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ

نهٔ لري چه داخل شي دے ته مګر په ویرے سره- د دوی د پاره په دنیا کښ رسوائی ده

عَظِيْمٌ ﴿۱۱۴﴾

او د دوی دپاره په آخرت کښ لوئے عذاب دے۔

نچوړ

❶ جوماتونه د الله تعالیٰ دی۔ هر څوک هم چه د دے د ورانولو کوشش په هره طریقه کوی هغه ډیر لوئے ظالم دے۔ ❷ مسلمانانو له پکار دی چه جوماتونه آباد ساتي - د هغے حفاظت کوی - او د جهاد په ذریعه دے جوماتونه محفوظ کړي۔ ❸ جماتونو ورانولو والا ته دے په دنیا کښے دجهاد په ذریعه سزا ورکړے شي او دهغوی نه دے حکومت واخستلے شي اوکه هغوی د جوماتونو په ځایونو باندے قبضه اوکړي- نو هغوی دے دجهاد په ذریعه وویرولے شي۔ ❹ په مخکښ زمانه کښے چه چا هم جوماتونه وران کړے دی - هغوی الله تعالیٰ دهغے علاقے نه محرومه کړے دی۔ ❺ د داسے خلقو دپاره په آخرت کښے ډیرلوئے عذاب تیار دے۔

اقوال

❶ په دے آیت مبارک کښے د مکے د فتحے خوشخبری ده۔ ❷ د بیت المقدس د آزادیدو خوشخبری ده (دا دواړه وعدے خو په تیره زمانه کښے الحمدلله پوره شوے دی)۔ ❸ د مسلمانانو د پاره د فتحے خوشخبری ده۔ ❹ د امام مهدی دراتلو خوشخبری ده۔

شان نزول

❶ دا آیت شریف د مشرکانو په باره کښې نازل شوے دے۔ ځکه چه هغوی د حدیبیه په کال مسلمانان د بیت الله شریف نه منعه کړے وو۔ ❷ دا آیت د عیسایانو په باره کښې نازل شوے دے –ځکه چه هم هغوی د جماتونو د ورانولو بانیان دی۔ ❸ دا آیت د یهودیانو باره کښې نازل شوے دے –ځنګه چه د ما قبل ربط هم اشاره کوی چه یهودیانو به د اسلام او مسلمانانو خلاف سازشونه کول۔ چه د هغے واضحه نتیجه د جماتونو ورانول دی۔ ❹ دا آیت عام دے۔ هر څوک هم چه هر کله هم د جماتونو د ورانولو کوشش کوی – په هغهٔ باندے به دا آیت صادقیږی۔

حوالے

❶ او غور اوکړه چه د هغهٔ نه زیات ظلم کولو والا انسان بل څوک کیدے شی چه هغه د الله تعالیٰ په عبادت خانو کښې د هغهٔ د نوم یاد بندوی۔ او د هغے د ورانولو د پاره کوشش کوی۔ چه دکومو خلقو د ظلم دا حال دے– یقیناً هغه د دے خبرے لائق نهٔ دے چه د الله تعالیٰ په عبادت خانو کښے قدم کیږدی۔سوا د دے حالت نه چه (بل څوک د خپل طاقت نه د ویرولو په ځائے په خپله د نورو د طاقت نه ویریدونکے وی۔ یادساتئ– د داسے خلقو د پاره په دنیا کښے ذلت دے۔ او په آخرت کښے ورله هم سخت عذاب دے۔(ترجمان القرآن)

❷ د دے شان نزول نصاریٰ دی چه هغوی د یهودیانو سره مقابله اوکړه او تورات ئے اوسوزولو او بیت المقدس ئے خراب کړو۔ یا د مکے مشرکان دی۔ چه هغوی مسلمانان صرف د تعصب او د عناد د وجے په حدیبیه کښې بیت الله شریف ته تلو نه منعه کړے وو۔ باقی چه کوم سړے هم جمات وران یا خراب کړی – هغه په دے حکم کښے داخل دے۔(تفسیر عثمانی)

❸ دا خلق د دے لائق نهٔ دی – چه دوی دے جوماتونو ته داخل شی۔ البته چه د مسلمانانو د رعب او دبدبے نه ویریدونکے وی یعنی جومات ته د داخلیدو اجازت غیر مسلموته په دے صورت کښے ورکیدے شی چه هغوی د مسلمانانو د حکم پابند وی۔ او د هغوی جوماتونو ته داخلیدل په سرکشئ سره نهٔ وی بلکه اطاعت سره وی۔یو قول دا هم دے چه دا آیت د ټولو کافرانو په حق کښے دے۔ ځکه چه د

عبادت نه منعه کولو والا خو تول کافران دي۔ او د جومات نه مراد تول له زمکه
ده۔ددے وجے نه کافرانو ته په دارالاسلام کښے د داخلیدو هیڅ حق نشته سوا د
دے نه چه د مسلمانانو په شرط باندې وی (تفسیر ماجدی)۔

۴ په دے کښے ئے د دے خبرے خوشخبری ورکړه چه مکه معظمه به فتحه کیږی۔
کله چه مسلمانانو ته فتحه حاصله شي نو دا مشرکین به په دے کښ په ویره
دا خلیږی۔ ځکه الله تعالیٰ دا اعلان اوکړو چه خبردار د دے کال نه پس به یو
مشرک هم بالکل حج نهٔ کوی۔(انوار البیان)

۵ دآخرت د عذاب تجربه خوبه په آخرت کښے کیږی۔ باقی دهغے خلقو د ذلت او
رسوایئ مشاهده خو په یو څو ورځو کښے تولو ته اوشوه۔ یهودیان ،مشرکان او
منافقان تول د اسلام د ښمنان د جزیرۃ عرب او دَ دے دَ سرحدونو نه د سترګو په
رپ کښ غائب شول۔ او د قرآن مجید پیشینګوئی تکے په تکے پوره
شوه۔(تفسیر ماجدی)

۶ أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ خبر بمعنیٰ الامر ای اخیفوهم بالجهاد فلا
ید خلها أحد آمناً (جلالین) د دے خلقو دا حق نهٔ دے چه دوی په دے جوماتونو
کښے داخل شی خو په ویره۔ داجمله خبریه د امر په معنی ده۔ چه د جوماتونو
ورانولو والا په جهاد سره وویروئ۔ چه دوی په جوماتونو کښے په امن سره داخل
نهٔ شی۔

۷ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ قیل القتل للحربی ، والجزیة للذمی ، عن قتادة و السُّدّی: الخزی
لهم فی الدنیا قیام المهدی ، وفتح عموریة و رومیةو قسطنطنیه ،وغیر ذلک من
مدنهم ...... ومن جعلها فی قریش جعل الخزی علیهم فی الفتح (القرطبی) جوماتونو
ورانولو والا د پاره په دنیا کښ رسوائی ده۔ یعنی د حربی کافر د پاره قتلول او د
ذمی د پاره جزیه۔ د قتاده او سدی رحمهما الله قول دے چه په دنیا کښ به د
دوی (عمومی) رسوائی د امام مهدی په راتلوسره کیږی او د دوی د ښارونو مثلاً
د عموریه۔ رومیه او قسطنطنیه د مسلمانانو د لاسه په فتحه کیدو سره۔او چه دَ
کومو حضراتو په نیز دا آیت د قریشو په باره کښے نازل شوے دے نو هغوی د
دنیا د رسوایئ نه د مکے فتحه مراد اغشتے ده۔

۸ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ای عظیم بقتل ابطالهم وأقیالهم و کسر اصنامهم وتسفیه احلامهم

واخراجهم من جزيرة العرب التي هي دار قرار هم ومسقط رُءُو سِهم او بضرب الجزية علىٰ اهل الذمة منهم(روح المعانی) د دوی د پاره په دنیا کښې رسوائی ده۔یعنی ډیره لویه رسوائی چه د دوی بهادران او سرداران به قتل کړے شی۔ د دوی بتان به مات کړے شی او د دوی د عقل بے وقوفی به ښکاره شی او دوی به خپل د استوګنے د ځائے نه یعنی د عربو د جزیرے نه اوویستلے شی۔یا چه په دوی کښې کوم ذمیان دی۔ په هغوی به جزیه لازم کړے شی۔

عجیبه نکته

کله چه دا آیت نازل شوے وو۔ نو په هغه وخت کښې دمکے دمشرکانو په بیت الله شریف باندے قبضه وه۔ او هلته به بے ویرے په شرکښ ګرزیدل راګرزیدل۔په بیت المقدس باندے د اهل کتابو کافرانو قبضه وه۔ او هغوی ته هیڅ قسمه خطره نۀ وه۔ او یهودیان په مدینه منوره پاخۀ ناست وو۔او بغیر د څۀ ویرے ئے د مسلمانانو د مرتد کولو او دهغوی د جوماتونو د ورانولو تدبیرونه کول۔په دے حالاتو کښې دا آیت نازل شو۔ او په دے آیت کښې چه کومه پیشنګوئی فرمائیلے شوے ده۔ د هغے د پوره کیدو څۀ ظاهری اسباب موجود نه وو۔ خو لږه موده پس ټول حالات بدل شو۔ بیت الله شریف د مشرکانو نه پاک شو۔مدینه منوره د یهودیانو نه صفا شوه۔ او په بیت المقدس کښې د اسلام اذان واوریدلے شو۔ او چا چه مسلمانان ویرول۔ هغوی پخپله د ویرے او د ذلت ښکار شول۔الحمد لله دا ټول هرڅه د جهاد فی سبیل الله په ذریعه آسان شو دا آیت نن هم ژوندے دے۔الله تعالیٰ دے مونږ ته پوهه را نصیب کړی۔

مماثل آیتونه

هم د جهاد فی سبیل الله په ذریعه باندے د جوماتونو او د عبادت خانو حفاظت کیدے شی۔ دے دَ پاره اوګورئی سوره حج آیت(۴۰)۔

دعاء

الله دے اوکړی چه د بابری مسجد ورانوونکی مشرکان او د مسجد اقصیٰ دَ راغورزولو اراده لرونکی یهودیان او دَ اندلس د جوماتونو ورانولو والا نصرانیان او دَ ماوراالنهر دَ جوماتونو ورانولو والا کمیونسټ هم دَ خپل انجام سره مخامخ شی او مسلمانانو ته دے الله تعالیٰ توفیق ورکړی چه هغوی د جهاد په ذریعے سره دَ جوماتونو دَ حفاظت انتظام اوکړی او چه دَ جوماتونو ورانولو والؤ ته ویره په ډالی کښې ورکړی۔(آمین یا رب العٰلمین) ☆☆☆

سُورَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَ الصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اے ایمان والاؤ ! امداد غواړئ په صبر سره اوپه مانځهٔ سره یقینا الله

مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾

د صبر کوونکو سره دے۔

تچوړ

اے مسلمانانو که چرے تاسو د الله تعالیٰ نصرت خپل ځان سره ملګرے کول غواړئ نو په صبر او مانځهٔ کښ خپل ځان مضبوط کړئ۔ د صبر معنی ده په شریعت باندے ټینګ اودریدل۔ او د دے د ټولو نه اوچته درجه جهاد فی سبیل الله ده۔

حوالے

اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ علی الذکر والشکر وسائر الطاعات من الصوم والجهاد وترک المبالاة بطعن المعاندين فی امر القبلة (روح المعانی)۔

مدد حاصل کړئ په صبر سره۔ یعنی ذکر او شکر او ټولو عبادتونو روژه او جهاد وغیره باندے ټینګ اوسیږئ۔ او دَ قبلے په بدلیدو باندے دَ دښمن د پیغورونو پرواه مهٔ کوئ۔

❷ د دے ځائے نه اشاره ده چه په جهاد کښ محنت برداشت کړی او مضبوطیا اختیار کړئ۔ (موضح القرآن)

❸ او په دے آیت کښے دا اشاره هم ده چه په جهاد کښے محنت برداشت کړئ۔ چه ذکر به ئے مخکښے راشي۔ ځکه چه په دے کښے صبر دَ اعلیٰ درجے دے (تفسیر عثمانی)۔

---

❹ ومنهم من حمله علی الجهاد لانه تعالیٰ ذکر بعده وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ (تفسیر کبیر)

بعضے د تفسیر خاوندانو په دے آیت کښے د صبر معنیٰ جهاد کړے ده۔ ځکه چه د دے نه په وروستونی آیت کښے الله تعالیٰ فرمائی چه هغه خلقو ته مړهٔ مهٔ وایئ چه دَ الله تعالیٰ په لار کښے قتل شوے دی۔

❺ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ بے شکه الله تعالیٰ دَ صبر والؤ سره دے (مع) کښې مفهوم د نصرت او د اعانت شامل وی۔ يقتضی معنی النصرة (راغب۔ تفسیر ماجدی)

دوروستنو څلورو آیتونو سره ربط

دا ربط په دواؤ ❷ طریقو سره په پوهه کښې راتلے شی۔

❶ د الله تعالیٰ مدد۔ نصرت او خصوصی ملګرتیا د صبر او مانځه په ذریعه حاصلیږی او د صبر اعلیٰ درجه ..جهاد فی سبیل الله ..ده۔نو کوم سړے چه په جهاد کښې اووژلے شی۔ نو الله تعالیٰ هغهٔ ته داسے اوچته مزیداره او خاص زندګی ورکړی۔ چه دهغے په مخکښې دَتولے دنیا بادشاهت او نعمتونه هیڅ حیثیت نهٔ لری۔خو شهادت ته د رسیدونه مخکښې ډیر امتحانونه راتلے شی۔نو کامیاب به هم هغه کس وی چه استقامت اوښائی (والله اعلم بالصواب)

❷ الله تعالیٰ د صبر والؤ سره دے۔ په دے باندے دا سوال دے چه الله تعالیٰ ورسره دے نو بیا مسلمانان په جهاد کښې ولے وژلے کیږی۔ داخلق خو دَ دنیا د نعمتونو نه محروم شی۔او کوم چه اونهٔ وژلے شی په هغوی باندے هم تکلیفونه راځی۔نو جواب اوشو چه کوم ووژلے شو هغوی خو اصل ژوند بیاموندلو۔دا سے مزیدار او طاقتور ژوند چه دَ تولے دنیاخلق رایوځائے شی نو هم پرے نهٔ شی پوهیدے۔اوخوک چه تکلیف برداشت کوی هغوی هم د رحمت ۔ د اجر او د هدایت خزانے جمع کوی۔(والله اعلم بالصواب)

مماثل آیتونه

دَ صبر اعلیٰ ترینه درجه په جهاد فی سبیل الله کښې استقامت دے۔دے دَ پاره اوګورئی سوره بقره آیت(١٧٧)

دعاء

یاالله؛ مونږ دخپلے خوښے په صبر او دخپلے خوښے په مونځ باندے قائمیدونکے جوړ کړے۔ (آمین یا رب العٰلمین)



سُوۡرَةُ الۡبَقَرَةِ مَدَنِیَّةٌ آیت ۱۵۴

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

وَلَا تَقُوۡلُوۡا لِمَنۡ یُّقۡتَلُ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ اَمۡوَاتٌ ؕ بَلۡ اَحۡیَآءٌ وَّ

او تاسو مهٔ وایئ هغه چاته چه ووژلے شي د الله په لاره کښې مړهٔ ـ بلکه دوی ژوندي دي

لٰكِنۡ لَّا تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾

خو تاسو نهٔ پوهیږئ.

نچوړ

❶ د حق په لاره کښے مرګ ،مرګ نهٔ دے بلکه دَ تکلیف او دغم نه پاک یو ژوند دے. نو اے مسلمانانو ! دَ مرګ دویرے نه خپل زړه پاک کړئ.

❷ دَ الله تعالیٰ په لار کښے وژلے کیدونکي " شهیدان "بے شکه ژوندي دي. خو تاسو دَ هغوی په ژوند باندے نهٔ پوهیږئ. دَ هغوی ژوند ډیر طاقتور او اوچت دے. ستاسو ناقصه شعور هغے ته نهٔ شي رسیدے. دَ دے وجے نه الله تعالیٰ دَ وحي په ذریعه مونږ ته او فرمائیل چه بَلۡ اَحۡیَآءٌ هغوی ژوندي دي.

❸ هر کله چه دَ مسلمانانو قبله بیت الله شریف جوړه کړے شوه نو یهودیان په ښکاره دښمنئ باندے راغلل. مسلمانان کمزورے وو او یهودیان ډیر طاقتور وو. بیا هغوی ته دَ منافقانو مدد هم حاصل وو. په داسے حالاتو کښے ویره وه چه دَ دے دین به څهٔ کیږي. دا دین خو په خپل مرکز مدینه منوره کښے دَ دومره مشکلاتو او دښمنو ښکار دے. په دے باندے او فرمائیلے شو چه دَ ویریدو ضرورت نشته. الله پاک به دا دین مکمل کوي. څنګه چه هغهٔ هم په تاسو کښے یو رسول رالیږلے دے. یهودیانو خو دا خبره هم نه شوه برداشت کولے. اوس تاسو دَ صبر، شکر او دَ ذکر او دمونځ په ذریعه پاخهٔ مسلمانان جوړ شئ او دَ جهاد د پاره اوځئ. په تاسو کښ چه څوک په جهاد کښے او وَژلے شو. هغه به عظیم الشان ژوند بیاموحي او څوک چه تنګولے شي هغه به هدایت او اجر او ثواب بیا مومي. دے نصاب مسلمانان پاخهٔ کړهٔ او د دین فدایان جوړ کړل. او بیا دنیا اولیدل چه یهودیت راغوندشو او اسلام د دنیا په اکثره حصه باندے خور شو. نو

الله تعالیٰ په مرګ کښې ژوند کیښودو او مسلمانان ئې د مرګ د ویرې نه پاک کړل او دا ربښتیا دی چه څوک د مرګ نه نۀ ویریږی بلکه په هغې پَسے منډې وهی نو په دنیا کښې هیڅ څوک د هغۀ مقابله نشی کولےوالله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم.

اقوال او حوالے

❶ دا آیت د بدر د شهیدانو په باره کښې نازل شویدے (روح المعانی)

دا څوارلس ⓮ حضرات وو۔ دشپږو ❻ تعلق دَ مهاجرینو سره وو او دَ اتو ❽ تعلق دَ انصارو سره وو۔دَ مهاجرینو حضراتو نومونه دا دی۔

حضرت عبیدة بن حارث بن عبدالمطلب رضی الله عنه -حضرت عمیربن ابی وقاص رضی الله عنه -حضرت ذوالشمالین رضی الله عنه -حضرت عاقل بن بکیر رضی الله عنه - حضرت مهجع بن صالح رضی الله عنه-حضرت صفوان بن بیضاء رضی الله عنه-

دانصارو حضراتو نومونه دادی

حضرت سعدبن خیثمه رضی الله عنه -حضرت مبشر بن عبد المنذر رضی الله عنه- حضرت یزید بن حارث رضی الله عنه - حضرت عمیر بن همام رضی الله عنه- حضرت رافع بن معلی رضی الله عنه-حضرت حارثه بن سراقه رضی الله عنه- حضرت معوذ بن عفرآء رضی الله عنه-حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه-

❷ بعضے مفسرین فرمائی چه کله جهاد شروع شو نو کافرانو او منافقانو دا خبرے شروع کړے چه دا خلق (صحابه کرام رضی الله عنهم) بے فائدے خپل ځانونه صرف دمحمد(ﷺ) دَ خوشحالولو د پاره ضائع کوی۔ نو دا آیت نازل شو او دَ شهدائے کرامو مقام په کښې اوښودلے شو۔امام رازی رحمه الله فرمائی: وعن آخرین ان الکفار والمنافقین قالوا: ان الناس یقتلو ن انفسهم طلبالمر ضاة محمد (صلی الله علیه وسلم) من غیر فائدة فنزلت هذه الایة.(تفسیر کبیر)۔

❸ د بدر په غزا کښے چه کله څه صحابه شهیدان شول نو ناپوهه کافرانو داخبرے شروع کړے چه دوی اوچ په موچه خپله ځوانی بائیلله او دَ ژوند دَ مزے نه محرومه شول۔ نو هغوی ته جواب ملاویږی چه تاسو په کومه معنی کښے دوی مړۀ ګڼړئ۔ په دغے کښے دوی د سره مړۀ نۀ دی بلکه دَ ژوندو نه هم زیات دَ هر

لذت نه مزے اخلی۔ دَ برزخ ژوند خو په خپل عام صورت کښے دَهر چا دَ پاره شته دے۔ خو شهیدانو ته به د غلته یو خصوصی او امتیازی ژوند نصیب کیږی چه هغه به دَ ژوند په آثارو کښے دنورو نه ډیر زیات قوی وی۔ (تفسیر ماجدی)

گذارش

په قرآن پاک کښے د شهیدانو دَ ژوندون مسئله دَ سورۂ ال عمران په آیت ۱٦۹ کښے په تفصیل سره بیان شوے ده۔ ان شآء الله تعالیٰ په دغه مقام باندے به په دے مسئله باندے نور تفصیلات عرض کړے شی۔

نکته

مسلمانان چه د مرگ نه بے ویرے شول۔ نو خپل دین سره په ټول عالم کښی خوارهٔ شو – او هغوی د شهادت سره محبت ساتلو – نو په دے وجه دَ دعوت په لار کښے چه کوم رکاوټ هم راغے۔ نو بے خطرے ورله په ډغره ورغلل۔ هغوی لګیا وو په مرگ پسے ئے منډے وهلے او دین ئے ژوندے کیدو۔ ولے یهودیان دَخپل ژوند دَ بچ کولو دَ پاره په خپلو قلعه ګانو عمارتونو کښے ناست وو او دَ هغوی مذهب راغونډیدو۔ اُوس معامله الټه ده۔ کافرانو دَ مسلمانانو نه جنګ او مسلمانانو دَ هغوی نه په کور کښے ناسته زده کړے ده۔ په دے وجه هغوی طاقتور شول او مسلمانان کمزورے شول۔ دَ دے کمزورئ دَ ختمولو نسخه هم په دے آیت کښے بیان شوه الله تعالیٰ دے اوکړی چه مونږ ټول مسلمانان په دے باندے عمل اوکړو او ژوند بیاموموـ

مماثل آیتونه

دَ قرآن پاک په نورو لاندینو آیتونو کښے هم د شهدائے کرامو دَ فضائلو بیان دے۔ البقره: ۲۰۷ ۔ آل عمران ۱۴۰ ۔ ۱۵۷ ۔ ۱۵۸ ۔ ۱٦۹ ۔ ۱۷۰ ۔ ۱۷۱ ۔ ۱۹۵ ۔ النساء: ٦۹ ۔ ۷۴ ۔ التوبه: ۱۱۱ ۔ الحج: ۵۸ ۔ ۵۹ ۔ الزمر: ٦۸ ۔ سوره محمد ﷺ: ۴ ۔ ۵ ۔ ٦ ۔ الحدید: ۱۹ ۔

دعاء

یا الله بے شکه ستا په لار کښے قتلیدل لوئے سعادت دے۔ یاالله! مونږ په دے آیت او ستا په ټول کلام باندے ایمان راوړو۔ یا الله مونږ ته دَ خپلے رضا د پاره دا سعادت رانصیب کړے۔ او مونږ په هغه مقبولو شهیدانو کښے شامل کړے چه دَ چا فضیلت په قرآن پاک کښے بیان شوے دے۔ (آمین یا رب العٰلمین) ☆☆☆

سُورَةُ البَقَرَة مَدَنِيَّة — آیات ۱۵۵، ۱۵۶، ۱۵۷

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ

او مونږ به خامخا آزمایو تاسو په څه قدرے ویرے او لوږے سره او په نقصان دَ مالونو او دَ ځانونو

وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٥﴾ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم

او دمیوو سره۔ او زیرے ورکړه صبرکوونکو ته هغه خلقو ته چه کله وورسیږی هغوی ته څه مصیبت

مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ

نو دوی وائی چه بے شکه مونږ د الله یو۔ او بے شکه مونږ هم دهٔ ته واپس تلونکی یو۔ دا خلق دی

صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾

چه په دوی مهربانئ دی دَ خپل رب او رحمت دے۔ او هم دا خلق هدایت موندلو والا دی۔

نچوړ

❶ اوّل خو دَهغه چا ذکر وو۔ چه هغوی دَ صبر اعلیٰ مرتبه حاصله کړه یعنی شهیدان۔ اوس فرمائی چه ستاسو به عام طور لږ لږ تکلیف او مصیبت سره وخت په وخت امتحان اخستلے شی او ستاسو صبر به کتلے شی۔ په صابرینو کښے داخلیدل څهٔ دومره آسان نهٔ دی۔ دے وجے نه ئے دَ مخکښے نه خبرتیا ورکړه (تفسیر عثمانی)

❷ اول دجهاد طرف ته اشاره اوشوه۔ بیا دَ شهادت فضیلت بیان شو اوس فرمائی چه دَ جهاد او شهادت لاره څه آسانه نهٔ ده۔ په دے کښے تکلیفونه او آزمینښتونه راځی۔ بیا چه کوم خلق صبر کوی او ټینګ ولاړوی۔ نو هغوی د پاره خصوصی زیری۔ رحمتونه او هدایت دے۔

❸ اهل حق دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه آزمائیلے کیږی۔ دا آزمینښتونه په هغوی باندے دَ عذاب الٰهی په طور باندے نهٔ وی بلکه دَ هغوی دَ درجاتو او مقاماتو دَ اوچتولو دپاره وی۔ په دے وجه که څوک باطل پرسته خلق دوی په مصیبت کښے اووینی نو خپل ځان دے په حقه باندے ګنړل نهٔ شروع کوی ۔

حوالے

❶ والخطاب عام لسائر المؤمنين وقيل للصحابة فقط وقيل لاهل مكة فقط (روح المعانی)

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ کښے خطاب عام دے دَ ټولو مسلمانانو دَ پاره۔ دَ بعضو په نيز دا خطاب صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دے۔ او دَ بعضو په نيز مکے والؤ ته دے۔(ورومبے قول راجح دے)

❷ ان هذه المحن لا يجب ان تكون عقوبات لانه تعالٰى وعد بها المومنين من الرسول واصحابه. ان هذه المحن اذا قارنها الصبر افادت درجة عالية فى الدين (تفسير كبير) دا تکليفونه ضروری نۀ ده چه دَ عذاب په طور دِ وی۔ ځکه چه د دے وعده خو الله پاک دَ خپل رسول ﷺ او د هغوی صحابه کرامو سره کړے ده۔ او کله چه د دغه تکليفونو سره صبر ملاؤ شی نو دا دَ دينی درجاتو دَ اوچتيدو ذريعه جوړه شی۔

❸ مِنَ الۡخَوۡفِ ای خوف العدو والفزع فى القتال قاله ابن عباس (قرطبی) مونږ به تاسو لږ په ويرے سره آزمايو۔ دَ خوف نه مراد دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په نيز دَ جهاد په دوران کښے ويره او د دښمن ويره ده۔

❹ وَنَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ بسبب الاشتغال بقتال الكفار (قرطبی) او د اموالو د کمی نه مراد هغه مالی نقصان دے چه مسلمانان ئے دَ جهاد دَ مشغولتيا دَ وجے نه او چتوی۔

❺ وَالۡاَنۡفُسِ قال ابن عباس : بالقتل والموت فى الجهاد (قرطبی) حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه (د جان دَ نقصان نه مراد) په جهاد کښے قتليدل او دَ دنيا نه تلل دی۔

مماثل آيتونه

په اهل ايمان باندے ازميښت کيږی۔ دا مضمون په لاندے آيتونو کښے هم بيان دے۔
البقره: ۲۱۴_۲۴۹_آل عمران: ۱۴۱_۱۴۲_۱۴۶_۱۵۴_۱۸۶_۱۹۵_
التوبه: ۱۶_ العنکبوت: ۲،۳_ الاحزاب: ۱۱_ محمد ﷺ :۳۱_

دَ دے سره يو شان آيتونه

دے عنوان سره يو شانتے يو څو آيتونه لاندينی دی۔
العنکبوت : ۱۰_ الحج: ۱۱_

دعاء

صبر کول په سختو حالاتو کښے په دين او جهاد باندے ټينګ پاتے کيدل۔ په ناسازګاره ماحول کښے په اسلامی نظرياتو مضبوط او سيدل ډير ګران دی۔ يا الله مونږ سره دَ عافيت والا معامله او فرمائے او صبر او استقامت زمونږ د پاره آسان کړے۔(آمين يا رب العٰلمين)

☆☆☆

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۷۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ

صرف دا نیکي نۀ ده چه تاسو مخ کړئ مشرق طرفته او مغرب طرفته۔ بلکه نیکي خود هغه

وَ لٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ الْمَلٰٓئِكَةِ وَ

کس ده چه ایمان راوړي په الله بانديے او د آخرت په ورځ بانديے او په فرښتو بانديے او په

الْكِتٰبِ وَ النَّبِيّٖنَ ۚ وَ اٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى وَ الْيَتٰمٰى

کتابونو او په پیغمبرانو بانديے۔ او مال ورکړي د هغۀ په محبت کښې رشته دارو ته او یتیمانانو

وَ الْمَسٰكِيْنَ وَ ابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَ السَّآئِلِيْنَ وَ فِي الرِّقَابِ ۚ وَ

ته او مسکینانو او مسافرو ته او سوال کوونکو ته او د څټونو په آزادولو کښې او مونځ قائم

اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَ الْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ

کړي او زکوة ورکړي۔ او هغه کسان چه خپل عهد سرته رسوي چه کله عهد ووکړي۔ او چه

وَ الصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَ الضَّرَّآءِ وَ حِيْنَ الْبَاْسِ ؕ اُولٰٓئِكَ

صبر کوونکي دي په غریبئ کښې او بیمارئ کښې او دَ جنگ په وخت کښې۔ هم دا خلق

الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾

هغه دي چه ربښتوني دي او هم دا خلق دي چه پرهیزګار دي۔

نچوړ

❶ په دے آیت کښے د شپاړسو (۱٦) امهات الاحکام (یعني دَ بنیادي او لازمي احکامو) بیان دے چه په هغے کښے یو دا هم دے چه دَجهاد په میدان کښے دے په کلکوالي او ثابت قدمئ سره د الله تعالیٰ په لار کښے جنګ اوکړے شي۔

❷ "ابواب البر" یعني د نیکئ نصاب په جهاد کښے د ځان تینګولو نه بغیر نۀ پوره کیږي۔

❸ په صادقینو او متقینو کښے د شاملیدو د پاره د نورو صفتونو سره سره په قتال في سبیل الله کښے خپے کلکول لازمي دي۔

شان نزول

❶ په دے کښې یهودیانو او نصرانیانو ته خطاب دے۔ هغوی به عبادت کښې مشرق او مغرب طرف ته په مخ کولو کښې سخت اختلاف لرلو۔ یهودیانو به مغرب طرف ته مخ کولو او عیسایانو به مشرق طرف ته۔ او هم دا به ئے پوره دین او مکمله کامیابی ګنړله۔نو ارشاد اوفرمائیلے شو چه نیکی صرف دا نۀ ده چه مشرق پرستی اوشی یا مغرب پرستی بلکه هغه نیکی چه د هدایت نتیجه ده۔او دَ مغفرت ضمانت دے۔ هغه دیو څو عقائدو۔اعمالو او اخلاقو نوم دے۔بیا ئے په دے آیات کښې هغه عقائد۔اعمال او اخلاق بیان کړل۔ چه د هغے شروع په الله تعالیٰ باندے دَ ایمان راوړلو نه او خاتمه ئے په میدان جنګ کښے مضبوط جنګیدو باندے کیږی۔ د دے دواړو په مینځ کښې د نورو څوارلسو څیزونو تذکره ده۔

❷ حضرت قتاده رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه یو صاحب دَ رسول ﷺ نه دَ نیکئ متعلق تپوس اوکړو نو دا آیت نازل شو۔

ماحصل

هره باطله ډله او فرقه یو څو رسمونه علامات او مقامات بس پوره دین ګنړی۔ او بیا د خپلو عقیدو۔اعمالو او اخلاقو دَ اصلاح نه غافله شی۔ یهودو او عیسایانو هم دا ظلم اوکړو۔ او اوس دَ مسلمانانو بعضے ګمراهو ډلو هم دغه شان بعضے مقامات۔دربارونه۔او بعضے کسان او رسمونه پوره دین او دَ کامیابئ ضمانت ګنړلے دے۔د داسے قسمه ګمراهئ دپاره دا آیت"نسخۀ اکسیر" او د حق معیار دے۔ هر مسلمان ته پکار دی چه ددے آیت یو یو حکم اولولی۔ او ور سره ورسره دے خپله محاسبه کوی چه په ما کښې دا عقیده ۔دا عمل او دا اخلاق موجود دی یا نۀ دی ؟

دَجهاد ماخذ

په دے آیت کښې دحین البأس د الفاظو نه د جهاد اهمیت او فضیلت پوره صراحت سره معلومیږی۔اوګورئ یو څو اقوال:

❶ وَحِيْنَ الْبَأْسِ ای وقت الحرب یعنی د جنګ په وخت کښې ثابت قدم اوسئ (قرطبی)

❷ وَحِيْنَ الْبَأْسِ وقت شدة القتال فی سبیل الله. د جنګ دَ تیزئ په وخت کښې ثابت قدم اوسیدونکے وی۔(جلالین)

❸ وَحِيْنَ الْبَأْسِ ای فی حال القتال والتقاء الا عداء قاله ابن مسعود وابن عباس وابو العالیة ومرة الهمدانی ومجاهد وسعیدبن جبیر والحسن وقتا دة والر بیع بن انس والسدی ومقاتل بن حیان وابو مالک والضحاک وغیرهم. یعنی د قتال په وخت دښمن له په ډغره د ورتلو په وخت کښې ثابت قدم اوسیدونکے وی۔ دا دَ حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما او دَ باقی حضراتو (چه د چا نومونه عربی عبارت کښے لیکلے شوی دی) قول دے۔(تفسیر ابن کثیر)

❹ وَحِيْنَ الْبَأْسِ ای وقت القتال وجهاد العدو یعنی دَ دښمن سره دَ جهاد اوقتال په وخت کښې ثابت قدم اوسیدونکے وی۔(روح المعانی) دَ دے نه پس علامه آلوسی رحمه الله لیکی وهذا من باب الترقی فی الصبر من الشدید الی الا شدلان الصبر علی المرض فوق الصبر علی الفقر والصبر علی القتال فوق الصبر علی المرض: یعنی په دے کښے دَا دنیٔ نه اعلیٰ طرف ته ترقی ده۔ اول په فقیریٔ باندے دَ صبر ذکر دے۔ بیا په مرض او بیا په قتال باندے۔ ځکه چه په مرض باندے صبر کول په فقر باندے دَ صبر کولو نه زیات ګران دی۔او په قتال باندے صبر کول یعنی په جهاد کښے مضبوطیا سره جنګیدل په مرض باندے د صبر نه زیات سخت دی (روح المعانی)

حوالے

❶ فقال قتادة ذکر لنا ان رجلا سئل النبی صلی الله علیه وسلم عن البّر فا نزل الله هذه الایة ترجمه ئے په شان نزول کښے تیره شوے ده۔(قرطبی)

❷ وقال الربیع وقتادة ایضا الخطاب للیهود والنصاریٰ لا نهم اختلفوا فی التوجه والتولیّ الخ ترجمه ئے په شان نزول کښے تیره شوے ده (قرطبی)

❸ د کفارو سره د جنګ په میدان کښے (ثابت قدمه اوسیږ) یعنی پریشانه او کم همته کیږئ مه (بیان القرآن):

فائده

وَفِي الرِّقَابِ یعنی هغوی مال خرچ کوی د ستونو په آزادولو کښے۔په دے کښے د دښمن په لاسو کښے قید شوے مجاهدین او مسلمانان په خاص طور باندے شامل دی۔ د دے وجے نه امام قرطبی رحمه الله دَ دے آیت لاندے لیکی۔

قال مالک رحمه الله : یجب علی الناس فداء اسراهم وان استغرق ذلک اموالهم وهذا اجماع ایضا: امام مالک رحمه الله فرمائی چه په خلقو د خپلو قید یانو په فدیے سره

آزادول واجب دی. اگر چه په دے کښے د دوی تول ما لونه وولګی. او په دے اجماع هم ده. (تفسیر قرطبی) علامه سیوطی رحمه الله لیکی. الرِّقَابِ المکاتبین والأسری زمونږ په زمانه کښے غلامان نهٔ دی پاتے شوی. په دے وجه ابواب البر یعنی د ایمان او اطاعت په نصاب باندے دَ مکمل عمل کولو د پاره مسلمانانو له پکار دی چه خپل مال دَ مظلومانو قید یانو په رازادولو باندے هم خرچ کړی. دَ دے مسئلے تفصیل به ان شآء الله تعالیٰ مخکښے په بل مقام باندے راشی.

نکته

شدت قتال یعنی په سخت جنګ کښے په مضبوطیا سره جنګیدل یو مختصر شان لفظ دے خو دَ دے په شا دَ ایمان یو پوره باب پټ پروت دے. په جهاد کښے په مضبوطیا سره جنګیدل آسان نهٔ دی. دا یو ډیر ګران او صبر آزما کار دے. په قرآن پاک کښے الله تعالیٰ په واضحو الفاظو سره د دے تاکید فرمائیلے دے. اوګورئ سورة انفال آیت ۴۵ او په هغه خلقوئے سخت وعید فرمائیلے دے. چه د جهاد د میدان نه د بزدلئ په وجه په شاتښتی. اوګورئ سوره انفال آیت ۱۵ ۱۶ او د جهاد په میدان کښے ئے په مضبوطیا سره دَ جنګ کوونکو سره دَ محبت اعلان کړے دے. اوګورئ سوره صف آیت ۴ او هم په دے معامله کښے ئے په منافقینو باندے سخت تړک فرمائیلے دے. اوګورئ سورة احزاب آیت ۱۵ ۱۶ او بیائے باقاعده دَ دے مسئلے شرعی تفصیل واضح کړے دے. اوګورئے سورة انفال آیت ۶۵ ۶۶ او په ډیرو ځایونو کښې ئے دَ کافرانو. منافقانو او دَ شیطان په جنګ کښې شاکول بیان کړے دی. اوګورئ سورة آل عمران ۱۱۱ حشر ۱۲ ۱۴ انفال ۴۸ توبه ۵۷ فتح ۲۲


معلومه شوه چه دا یو لازمی او تاکیدی حکم دے او قرآن پاک دَ دے هر اړخ بیان کړے دے. دَ پورتنو ذکر شوے تولو آیتونو ترجمه او تفسیر اولولئ. تاسو ته به په خپله د دے مسئلے دَ اهمیت او دَ حساسیت اندازه اوشی. د دے وجے نه ضروری ده چه هر مومن، متقی په خپل ځان کښے دا صفت او دا خوبی پیدا کړی اودَ بزدلئ نه دے دالله تعالیٰ پناه اوغواړی. د جهاد په میدان کښے مضبوطیا سره جنګیدو دَپاره دا لاندینی صفتونه موجودیدل ضروری دی. ۱ دَ الله تعالیٰ سره دَ ملاقات شوق ۲ جهاد دَ الله تعالیٰ حکم. اسلامی فریضه او اهم عبادت منی ۳ دَجهاد ضروری تربیت لری ۴ دَ دنیا دَمحبت اوشوم توب نه محفوظ وی ۵ جنګی

ماحول ته ځي راځي۔

دا مسئله ډېر تفصيل غواړي دے مختصره حاشيه کښې دا تفصيل نۀ ځائيګي۔ شوقيان حضرات دے دَجهادي کتابونو طرفته رجوع اوکړي۔

دعاء

الله تعالىٰ دے مونږ، ټولو مسلمانو ته په ابواب البر باندے د ښۀ نه ښۀ عمل کولو توفيق رانصيب کړي او دجهاد په وخت کښے دے مونږ ته ثابت قدمي رانصيب کړي۔ او په امت کښے دے دَ داسے صادقانو او متقيانو اولياء کرامو کثرت ووفرمائي چه په جهاد کښے ثابت قدم اوسيدونکي وي۔ (آمين يا رب الغلمين)



سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ۭ

او جنګ اوکړئ د الله په لاره کښې هغې خلقو سره چه تاسو سره جنګ کوی او زیاتے مۀ کوئ۔

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝۱۹۰

بیشکه الله تعالیٰ زیاتے کوونکی نۀ خوښوی۔

نچوړ

اے مسلمانانو خپلو مخالفو جنګ کوونکو ته سخت جواب ورکړئ۔ او تاسو د الله تعالیٰ په لاره کښې د جنګ کولو دپاره هروخت مستعداو تیار اوسئ۔ څنګه چه فوج په چهاونړئ کښې هر وخت تیار ووسی۔ خو د جنګ په وخت کښې دحد نه مۀ اوځئ۔ چه هغه خلق قتل کړئ۔ چه دهغوی جنګ سره هیڅ قسمه تعلق نۀ وی۔او مۀ په خپل نیت کښې غلطی او تجاوز کوئ چه د ریاکارئ او د نوم کولواو د قوم اوقبیلے په خاطر جنګ اوکړئ۔ ستاسو جنګ اوجګړه به صرف د الله تعالیٰ دپاره وی۔

شان نزول

ذوالقعده ٦ هجرئ کښې حضوراکرم ﷺ د صحابه کرامو سره عمرے دپاره تشریف یوړو۔ د مکے مشرکانو دوی په مکه مکرمه کښې داخلیدو ته پرے نۀ ښودل۔ د حدیبیے په مقام باندے د حضور ﷺ د مشرکانو سره یوه معاهده اوشوه چه صلح حدیبیه ورته وائی۔او هم په دے ځائے کښې په مرګ او په جهاد باندے بیعت اوشو چه "بیعت رضوان" ورته وائی۔په دے معاهده کښې داخبره هم فیصله شوه۔چه په راتلونکی کال به حضور پاک ﷺ مکے مکرمے ته تشریف راوړی او عمره به ادا کوی۔ او دا فیصله هم اوشوه چه لسو کالو پورے به د مسلمانانو او د مکے د مشرکانو په مینځ کښې جنګ بندی وی۔ذوالقعده ۷ هجری کښې چه حضور پاک ﷺ او د دوی صحابه کرام دعمرے دپاره روان شول نودا ویره وه۔ چه د مکے مشرکان چرته وعده خلافی اونۀ کړی۔او حمله اونۀ کړی۔ مسلمانان چونکه د احرام په حالت کښې وو او د حرم حدودو ته روان وو۔ او میاشت هم د ذوالقعدے وه۔ او دجنګ بندئ معاهده هم موجوده وه۔نو آیا

د مشرکانو د حملے په صورت کښې به دوی سره جنګ کول جائزوي؟ په دے آیت کښې اوفرمائیلے شو چه که دا خلق وعده خلافي اوکړي۔ اوتاسو سره جنګ ته تیار شي نو جنګ کولو کښې څه باک نشته۔تاسو هم ښۀ بهادرئ سره د دوی مقابله اوکړئ۔ او زړۀ کښې څۀ خدشه مۀ راولئ۔(قرطبی۔ابن کثیر ۔بیان القرآن۔روح المعانی وغیره)

عجیبه ربط

امام رازی رحمه الله د دے د وړاندینی آیت سره داسے ربط بیانوی ثم لما امر بالتقویٰ امر فی هذه الایة باشد اقسام التقویٰ و اشقها علی النفس وهو قتل اعداء الله فقال وقاتلوا فی سبیل الله (تفسیر کبیر) وړاندینی آیت کښې چه کله الله تعالیٰ مسلمانانو ته د تقوٰی اختیارولو حکم ورکړو نو بیا په دے آیت کښې ئے د تقوٰی دهغه تولونه داوچت قسم حکم بیان کړو چه په نفس باندے ډیر ګران لګی۔ او هغه د الله تعالیٰ د دښمنانو سره قتال کول دی۔ نو دے وجهے نه ئے اوفرمائیل۔او تاسو قتال اوکړئ د الله تعالیٰ په لاره کښې۔(معلومه شوه چه جهاد فی سبیل الله د تقوٰی د تولو نه اوچت۔ سخت او د تولو نه ګران قسم دے۔

جهاد باندے دغیرت ورکولو عجیبه انداز

علامه ابن کثیر رحمه الله لیکی انما هو تهییج واغراء بالاعداء الذین همتهم قتال الاسلام واهله ای کما یقاتلو نکم فا قتلو هم انتم : په دے آیت کښې ئے الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ ووفرمائیل۔یعنی وائی چه څوک تاسو سره جنګ کوی هغوی سره جنګ اوکړي۔ نو په دے کښې مسلمانانو ته جذبه او غیرت ورکړے شوے دے چه ستاسو د ښمنانان خو د اسلام او د مسلمانانو خلاف د جنګ دپاره اودریدلے دی۔(نوبیا تاسو د اسلام او دمسلمانانو په حق کښې ولے نۀ جنګیږئ)۔یعنی چه څنګه هغوی تا سو سره جنګیږی تاسو هم ورسره جنګ اوکړئ۔علامه ابن کثیر رحمه الله د آیت د دے مطلب بیانولو نه پس ارشاد فرمائی۔چه دا آیت منسوخ نۀ دے څنګه چه د بعض مفسرینو خیال دے۔ منسوخ به هله وی چه کله دا مطلب وی چه صرف دهغے خلقو سره جنګ اوکړئ۔ چه تاسو سره جنګ کوی اوپخپله دحملے وړومبے والے مۀ کوئ۔ حالانکه داسے نۀ ده۔

یو قول

دبعض متقدمینو حضراتو په نیز دا دجهاد په اجازت باندے وړومبے

نازلیدونکے آیت دے۔عن ابی العالیة قال: هذه اول آیة نزلت فی القتال بالمدینة (ابن کثیر. قرطبی) خو د نورو حضراتو په نزد اولنے آیت د سوره حج آیت (۳۹) دے۔

قَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ جنګ اوکړئ دالله تعالیٰ په لار کښې۔

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په تفسیر کښې یو څو اقوال اوګورئ۔

❶ ای فی طاعته وطلب رضوانه: یعنی دالله تعالی د طاعت او دهغهٔ د رضا حاصلولو دپاره جنګ اوکړئ (تفسیر کبیر)۔

❷ ای جاهدوا لاعزازدین الله واعلاء کلمته یعنی د الله تعالیٰ د دین دعزت او دهغهٔ دکلمے د اوچتولو دپاره جنګ اوکړئ۔(روح المعانی)

❸ ای لا علاء دینه: یعنی دالله تعالیٰ د دین د سربلندئ دپاره جنګ اوکړئ۔(جلالین)۔

اَلَّذِیْنَ یُقَاتِلُوْنَكُمْ څوک چه تاسو سره جنګ کوی۔د دے ترجمه هغے حضراتو چه دا آیت منسوخ منی۔ یناجزونکم القتال سره کړے ده۔یعنی چه کوم خلق تاسوسره جنګ کوی ،هغوی سره اوجنګیږئ۔خو اکثر مفسرین دا آیت محکم منی۔ دَ دے وجے نه دَ دے دوه ترجمے شوے دی۔

❶ اللذین یناصبونکم القتال یعنی هغه چه تاسوسره جنګ کولے شی۔او هغه څوک چه دسره جنګ کولے نهٔ شی۔ او نهٔ جنګ کښې دڅهٔ قسمه تعاون کوی۔نو هغوی مهٔ وژنئ۔

❷ الکفرة کلهم لانهم جمیعا مضادون للمسلمین قاصدون لمقاتلتهم یعنی دے نه مراد ټول کافران دی ځکه چه دوی ټول د مسلمانانو مخالف او دهغوی سره د جنګ کولو کلکه اراده لری۔(کشاف) دے ترجمے کولو سره به ډیر قسمه کافران مستثنیٰ کول غواړی مثلاً ذمی۔معاهد (چه د جنګ بندئ وعده ورسره شوے وی) او د قتال نه بے تعلقه وغیره۔

وَلَا تَعْتَدُوْا او تجاوز مهٔ کوئ۔ دآیت دمحکم کیدو په صورت کښې به د تجاوز نهٔ کولو دا معنی وی۔

❶ هغه ماشومان۔بوډاګان۔ ښځے۔ راهبان او زمینداران مهٔ قتلوئ چه دچادجنګ سره څهٔ تعلق نهٔ وی۔

❷ بغیر دعوته ناڅاپه حمله مهٔ کوئ۔ ❸ دلاشونو مثله مهٔ کوئ۔ ❹ بغیر دجنګی مصلحته اونے مهٔ سوزوئ۔ او مهٔ څناورقتلوئ۔ (که مصلحت وی نو

اجازت دے)۔(۵) مال غنیمت کښې خیانت مۀ کوئ۔(٦) حرم کښې دخپل طرفه جنګ مۀ شروع کوئ۔ چه چا سره دجنګبندئ معاهده وی هغوی سره وعده خلافی مۀ کوئ ۔ (قرطبی۔ کبیر۔ابن کثیر۔روح المعانی وعثمانی)۔ښځې که جنګ کښې شریکے وی یا مالی مدد کوی یا د مسلمانانو خلاف په جنګ باندے راپارول کوی یا خپل سر بیر کولو سره خپل لښکر ته په تیښته شرم ورکوی نود دوی قتلول جائز دی۔(تفسیر قرطبی)۔که ماشومان۔ بوډاګان۔ معذوران۔راهبان اوزمینداران هم جنګ کښې تعاون کوی نود دوی قتلول هم جائز دی۔(قرطبی) حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله به د دهقانانو د قتل کولو نه منعه فرمائیله۔(قرطبی)۔

بعضے مفسرینو حضراتو د وَلَا تَعۡتَدُوٓاْ ---- ترجمه دے الفاظو سره کړے ده المعنیٰ لاتعتدوا فی القتال لغیر وجه الله کالحمیّة وکسب الذکر بل قاتلوا فی سبیل الله الذین یقاتلونکم یعنی دیناً واظهاراً للکلمة یعنی لا تعتدوا معنی دا ده چه د الله تعالیٰ د رضا نه سوا د قوم۔ قبیلے او د نوم ګټلو دپاره مۀ جنګیږئ۔بلکه صرف د دین د خاطره او د الله تعالیٰ دکلمے دغالب کولو دپاره جنګ اوکړئ۔ (قرطبی) حق دا دے چه د اعتداء لفظ د زیاتئ هر اړخ له راجمع کوونکے دے او دهر قسم زیاتئ منعه د دے نه راا ووتله (تفسیر ماجدی)۔

فائده

عام طور (ددے آیت) دا ترجمه شوے ده چه څوک د جنګ دپاره راشی۔ دهغۀ سره جنګ اوکړئ۔ او چه څوک دجنګ دپاره نۀ راځی نو پخپله دهغۀ سره جنګ دپاره مۀ ځئ۔عقلی طور دا خبره منلے شوے ده چه کوم قوم دحملے کولو دپاره تیار نۀ وی هغه نۀ شی غالب کیدے۔ که چرے الله تعالیٰ ته مسلمانان محفوظ ساتل منظور دی نو دا تعلیم بالکل کیدے نۀ شی۔بلکه مطلب دادے چه تۀ جنګ ته هر وخت تیار اوسه څنګه چه فوج چهاؤنړئ کښې هر وخت تیار وی لکه چه جنګیږی۔ څکه چه جنګ ته هر وخت تیار اوسیدل هم جنګ دے۔ (حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

فائده

فِی سَبِیۡلِ دا قید څومره اهم او د دنیا د جنګونو په تاریخ کښې څومره انقلاب راوستونکے دے۔په دنیا کښې جنګونه همیشه شوے دی۔اوس هم جنګ جاری دے۔راتلونکے وخت کښې به هم کیږی۔خو څۀ د پاره ؟ د زرو د پاره یا دزنانه د پاره یا

دزمکے دپارہ۔زیات نہ زیات دا چہ د قوم او د وطن دپارہ۔دا خصوصیت صرف داسلامی جهاد دے چہ کله هم او په کومو حالاتو کښې هم شروع شی نو د الله تعالیٰ په لاره کښې به وی۔ د شرک د ختمولو او د توحید د اوچتولو دپاره به وی۔د دین حق په حمایت او په نصرت کښې به وی۔ د انسانی حکومت ختمولو او د خدائی حکومت د قائمولو دپاره به وی۔ دځان دپاره نه بلکه د خدائے دپاره به وی۔ (دمظلومانو د مدد او د فتنے دختمولو دپاره به وی)۔


قتال په بائبل کښې د دے ذکر یو دوه ځایه نۀ دے۔ په شلګونو ځایه موجود دے۔ او د یهودیانو دجنګونو نه خو د تاریخ کتابونه ډک دی۔پاتے شو مسیحی قومونه او د دوی خونریزئ۔ او وینے بیول۔ نو دهغے مثال خو به د دنیا په مخ باندے چرته ملاؤنۀ شی۔ د واضح څیز به څه وضاحت اوکړے۔او عملاً چه کوم ښکاره فرق د اسلامی فاتحینو د رحم دلئ او د مسیحی فاتحینو د سنګدلئ په مینځ کښې دے۔دهغے اعتراف خو پخپله مسیحی لیکوال هم کوی۔(تفسیر ماجدی)

نکته

د دے آیت د سیاق وسباق او د مفسرینو دکلام نه معلومیږی چه جهاد دحج محافظ دے۔او د دے دواړو فرائضو په مینځ کښې ډیر مناسبتونه دی۔

دعاء

یا الله دکافرانو لښکرے د مسلمانانو په ملکونو کښې رادننه شوے دی۔ دوی داسلام او د مسلمانانو خلاف جنګ کوی۔ یاالله! مونږه مسلمانانو ته د دے آیت د حکم د پوره کولو همت او توفیق راکړے۔ (آمین یاا رحم الراحمین)



سُورَةُ البَقَرَة مَدَنِيَّة — آيت ۱۹۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَاَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ

اودوي وژنئ كوم ځائے چه ئے بيا مومئ۔ او وے باسئ چه دكوم ځائے نه ئے تاسو ويستے ئے۔ او د شرك

اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ

غلبه د قتل نه زيات سخته ده۔ او تاسو جنگ مه كوئ دوى سره په مسجد حرام كښى ترڅو پورے چه كله

الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ۗ كَذٰلِكَ

دوى تاسو سره دغلته جنگ اونۀ كړى۔ نو بيا كه دوى تاسو سره دغلته جنگ كوى نو وژنئ دوى۔ هم دغه

جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾

رنگ سزا ده دكافرانو۔

نچوړ

د اسلام داسے مخالفين چه هر وخت ستاسو دفنا كولو تيارئ كوى چه كوم ځائے ئے بيا مومئ نو قتل ئى كړئ او دوى د مكے مكرمے او د مسجد حرام نه اوباسئ۔ څنگه چه دوى تاسو ويستے يئ۔ ياد ساتئ! چه د دوى په كفر باندے مضبوطيا او نورو خلقوته دكفر ترغيب وركول او د فسادى خلقو طاقتور كيدل۔ داټول جرمونه په حدود حرم كښى د قتل اوقتال نه زيات سخت دى۔ بيت الله د كافرانو او مشركانو نه آزادول اگرچه د مسلمانانو لازمى ذمه دارى ده۔ خو دغلته دے دوى پخپله دجنگ شروع نۀ كوى۔ كه هلته خلق جنگ ته تيار شى نو بيا تاسو هم مسجد حرام (بيت الله) كښى دوى سره جنگ اوكړئ۔ د داسے ضدى۔ سخت او مشروټه كافرانو هم دا سزا ده۔

تفسير

وَاقْتُلُوْهُمْ او دوى قتل كړئ الخطاب فيه واقع علىٰ النبى صلى الله عليه وسلم ومن هاجر معه وان كان الغرض به لا زماً بكل مسلم. په دے كښى خطاب نبى اكرم ﷺ او دوى سره هجرت كوونكو ته دے۔ اگر چه دا حكم ټولو مسلمانانو دپاره لازم دے۔(تفسير كبير)

وَاقْتُلُوْهُمْ او دوى قتل كړئ د هُمْ ضمير په باره كښى امام رازى رحمه الله ليكى عائد الى الذين امر بقتلهم فى الآية الاولىٰ وهم الكفار من اهل مكة فامر الله تعالىٰ بقتلهم حيث كانوا

فی الحل والحرم وفی الشهر الحرام، دا ضمیر هغے خلقو طرفته راجع دے۔ چه دهغوی سره په مخکښینی آیت کښ دجنګ حکم ورکړے شوے وو۔ یعنی دمکے کفار۔ نو الله تعالیٰ حکم ورکړو چه دوی سره دے هر ځائے او هروخت کښ جنګ اوکړے شی که حل وی اوکه حرم وی اوکه عزت والا میاشت وی۔ (تفسیر کبیر)

حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ یعنی چه کله تاسو په دوی باندے غلبه اومومئ۔ امام رازی رحمه الله فرمائی الثقف وجوده علی وجه الاخذ والغلبة (کبیر) ثَقِفۡتُمُوۡ ثقف نه ماخوذ دے چه دهغے معنی دیو څیز موندل او په هغے باندے کامیابیدل دی۔ (لغات القرآن نعمانی)۔ بیا چونکه په دے کښ دنیولو او دتړلو معنی هم راځی۔ د دے وجے نه امام قرطبی رحمه الله لیکی وفی هذا دلیل علی قتل الا سیر یعنی په دے کښ د قیدی د قتل کولو دلیل هم دے۔ (قرطبی)

مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡ دکوم ځائے نه چه دوی تاسو ویستے یئ۔ (تاسو دهغه ځائے نه دوی اوباسئ) ای مکة یعنی مکے نه (قرطبی)

علامه آلوسی رحمه الله لیکی والمراد افعلوا کل ماتیسر لکم من هذین الامرین فی حق المشرکین: یعنی په دے دواړو کارونو کښ تا سو ته اجازت دے چه مشرکین قتل کړئ۔ یا دمکے مکرمے نه ئے اوباسئ۔ په دے دواړو کارونو کښ چه کوم یو کولے شئ۔

وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِ دکافرانو طاقتور کیدل او زورآور کیدل۔ دا د قتل نه زیات سخت دی۔ د فتنے مکمل تفسیر به ان شآء الله راشی۔

اقوال

❶ دکفارو سره قتال کول ټیک دی۔ چه کله دجنګ دجائز کیدو شرطونه بیاموندے شی۔ (بیان القرآن)

❷ په جزیرهٔ عرب کښ چه په هغے کښ حرم هم راغے کفارو دپاره د وطن جوړولو اجازت نیشته۔ که په زور اوسیدل غواړی۔ نو په غیر حرم کښ خو په قتل سره د فعه کول جائز دی۔ او په حرم کښ د ننه اول جنګ مهٔ کوئ بلکه دوی په بلے طریقے سره تنګوئ۔ او که دفعه کولو سره جنګ ته تیار شی نو دغه وخت جنګ جائز دے۔ (بیان القرآن)

❸ د دین د جمهورو اماماتو اجماع ده۔ چه اشهر حرم (محرم۔ رجب۔ ذوالقعده۔ ذوالحجه) کښ اوس جنګ جائز دے۔ او چه کوم آیتونو نه منعه معلومیږی۔

هغه منسوخ دی۔ خو بهتره اوس هم داده چه په اشهر حرم کښ دجنګ شروع اونۀ شي شي۔ (بيان القرآن)

❷ د عربو کافران که اسلام نۀ راوړي نو دوی دپاره صرف د قتل قانون دے۔ که دوی جزيه ورکول غواړي نو نۀ به شي اخيستے۔ (بيان القرآن)

فائده

د تير شوي آيتونو نه دوه خبرے ثابتے شوے۔

(الف) يو ځائے د قتال فی سبيل الله نه بهر نيشته۔

(ب) يو مسلمان دجهاد نه خپل ځان مستثنیٰ نۀ شي خيال کولے۔

چه کوم خلق بيت الله کښ ځان له ناست وی۔ او دهغوی واحد مقصد صرف د الله ذکر وی۔ اوشپه او ورځ د الله تعالیٰ په عبادت کښ مشغول وی۔ د نفس پاکول او داخلاقو خائسته کول دهغوی مخے ته وی۔ هغوی هم په جنګ کښ د شرکت د حکم نه نۀ شي بهرکيدے۔ چه کله پخپله بيت الله کښ جنګ شروع شي نو څوک به د دوی د امداد د دپاره راځي۔ بلکه دوی به پخپله د دے دپاره تياری کوی۔ تيرو شوؤ پاڼړو کښ تاسو لوستے دی۔ چه حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله فضيل بن عياض رحمه الله ته کوم شعرونه ليکلے ليګلے وو نو دوی جړلے وو۔ او منلے ئے وه چه عبدالله رشتيا وائي۔ که دا هم ستاسو د اطمينان دپاره کافی نۀ وی نو پخپله الٰهی ژبه د شک نه پاک آواز سره اعلان کوی۔

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِندَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (توبه ۱۹)

(ترجمه) :آيا تاسو په حاجيانو باندے اوبۀ څکول او مسجد حرام آبادول د دے سره برابر کړے دی چه څوک په الله تعالیٰ باندے او د آخرت په ورځ باندے ايمان راوړي۔ او د الله تعالیٰ په لار کښ جنګ اوکړي۔ د الله په نيز دا برابر نۀ دی او الله تعالیٰ ظالمانو خلقو ته هدايت نۀ کوی۔) د دے نه دا خبره صفا معلومه شوه چه دالله تعالیٰ په لار کښ دجنګ د تياریٔ نه د يو مسلمان دپاره هم خلاصے نشته۔ (تفسير الفرقان)۔

❷ پس دے تولو وضاحتونو نه معلومه شوه۔ چه د جهاد اصلی غرض او مقصد به د الله دکلمے اوچتوالے وی۔ خو جنګ دے صرف هغے خلقو سره اوشي چه دهغوی نه د مخالفت ويره وی۔ يا چه کوم خلق داسلام دتباه کولو تياری کوی۔

داسے خلق فوراً قتلول پکار دی۔ کہ دوی تہ مہلت ملاؤ شو۔ او پہ دے مینځو مانه کښ جنګی آلاتو سره مسلح شو۔ نو بیا به د کامیابۍ څۀ صورت نۀ وی۔(تفسیر الفرقان)

❸ دبیت اللہ شریف اصلی وارثان مسلمانان وو۔ ځکه چه هم دوی د ابراهیمی ملت پابند وو: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا (ال عمران ۹۱) خو کفارو دوی ددغه ځائے نه اوویستل او پخپله ئے پہ هغے باندے پہ زور قبضه اوکړه۔ اوس د مسلمانانو فرض دی چه ددے مرکز نه دوی لرے کړی۔او داځائے واپس واخلی۔خو مسلمانانو له یاد ساتل پکار دی چه صرف بیت الله باندے قبضے سره د دوی فرض نۀ ختمیږی۔ دوی د شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ په درجه باندے فائز دی۔ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا د دوی امتیازی نښه ده۔ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ د دوی لوئے خصوصیت دے۔ دنیا ته چه څومره انبیاء علیهم السلام راغلے دی دهغوی اصلی وارثان اوس مسلمانانو نه علاوه بل څوک نشته۔دے رسولانو دخپلو امتونو دپاره مرکزونه قائم کړے وو خو څۀ موده پس نااهله نائبان په هغے باندے قبضه دار شو۔ د دے وجے نه د بیت الله د اخیستو نه پس د دوی دوئم فرض به داوی چه د دنیا څومره مذهبی مرکزونه دی په هغے باندے هم قبضه اوکړی چه صحیح معنی کښ د شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ مصداق جوړ شئ۔(تفسیر الفرقان فی معارف القرآن)۔

فائده

علامه ابن کثیر رحمه الله د دے آیت په تفسیر کښ لیکی یعنی بذلک صلوٰت الله وسلامه علیه قتاله اهله یوم فتح مکة فانه فتحها عنوة وقتلت رجال منهم عند الخندقة: یعنی حضور اکرم ﷺ ته الله تعالیٰ اجازت ورکړو۔ او هغوی د مکے د فتحے په ورځ د مکے د خلقو سره جنګ اوفرمائیلو۔او مکه ئے د تورے په زور فتحه کړه اوبعضے مشرکان ئے قتل هم کړل۔(ابن کثیر)

صحیح بخاری کښ روایت دے۔

ان النبی صلی الله علیه وسلم دخل مکة وعلیه المغفر فقیل ان ابن خطل متعلق باستا ر الکعبة فقال: اقتلوه (بخاری ، مسلم، قرطبی)

حضور اکرم ﷺ مکے مکرمے ته داخل شو او دوی جنګی توپۍ اچولے وه۔

نودوی ته عرض اوشو چه ابن خطل (مشرک) دکعبے په پردو پورے انختے دے۔نبی پاک ﷺ اوفرمائیل چه دے قتل کړئ۔امام رازی رحمه الله لیکی۔

ولهذا السبب اجلی رسول الله صلی الله علیه وسلم کل مشرک من الحرم ثم اجلا هم ایضاً من المدینة وقال علیه الصلوٰة والسلام لا یجتمع دینان فی جزیرة العرب (تفسیر کبیر)

د دے ټولو اقوالو او ددے په شان دنورو ډیرو اقوالو خلاصه داشوه چه مکه مکرمه دجهاد په ذریعه فتحه شوه۔ بیت الله شریف مسلمانانو ته دجهاد په ذریعه نصیب شو۔جزیرة العرب دجهاد په ذریعے سره دکفر او شرک نه پاک شو۔ او دنیا کښې د ورومبی اسلامی سلطنت قیام د جهاد فی سبیل الله په ذریعه عمل کښې راغے۔ ولله الحمد والمنّة.



سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾

بیا که چرے دوی منعه شو نو الله تعالیٰ ډیر بخښونکے یے حده مهربانه دے۔

نچوړ

پس که دوی دکفر او د شرک نه منعه شي او ایمان راوړي نو دوی سره څۀ جنګ نیشته) الله پاک بخښونکے مهربانه دے۔(دعربو دمشرکانو نه علاوه باقي کافران که جنګ پریږدي او داسلام او مسلمانانو حکومت قبول کړي او جزیه ورکړي نو دوی سره به جنګ نۀ کیږي)

حوالے

❶ قال ابن عباس : فان انتهو اعن القتال وقال الحسن فَإِنِ انْتَهَوْا عن الشرک: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه فَإِنِ انْتَهَوْا یعني که دوی د جنګ نه منعه شي او حسن بصری رحمه الله فرمائی چه فَإِنِ انْتَهَوْا که دوی د شرک نه منعه شي۔(تفسیر کبیر)

❷ فَإِنِ انْتَهَوْا عن الکفر بالتوبة منه کماروی عن مجاهد وغیره اوعنه وعن القتال کما قیل (روح المعانی)

❸ فَإِنِ انْتَهَوْا ای عن قتالکم بالایمان فان الله یغفر لهم جمیع ماتقدم ویر حم کلا منهم بالعفو عما اجترم: یعني که دوی تاسو سره دجنګ نه منعه شو دایمان راوړلو په ذریعه نو الله تعالیٰ به د دوی ټول مخکښني ګناهونه معاف کړي۔ او په دوی کښ به په هریو رحم اوکړي او د دوی جرمونه به معاف کړي۔(قرطبی)

❹ بیا که دجنګ د شروع کیدو نه پس هم دوی د خپل کفر نه منعه شو او اسلام ئے قبول کړو نو دوی اسلام به بے قدره نۀ ګڼړلے کیږي۔ بلکه الله تعالیٰ به د دوی تیر شوے کفر معاف کړي او دمغفرت نه علاوه قسم قسم نعمتونه به ورکړي او مهربانئ به پرے ووفرمائي۔(بیان القرآن)

❺ یعني ددے هر څۀ نه پس هم که مسلمانان شو نو توبه ئے قبوله ده۔(موضح القرآن)

۶ فَإِنِ انْتَهَوْا نو كه چرې منعه شو۔ صرف د جنګ نه نه چه كوم دوی شروع كړې وو۔ بلكه دكفر او د شرک د عقیدو نه هم منعه شي۔ كومې چه د جنګ او د قتال د راپورته كولو سبب دے۔ اوكومو نورے مفسرينو چه صرف انْتَهَوْا د جنګ نه منعه كيدل مراد اخستے دی هغوی ډير كمزورے اړخ اختيار كړے دے۔ (تفسير ماجدی)

دعاء

يا الله! مونږه مسلمانانو ته دجهاد داسے توفيق راكړه چه دهغے د طاقت مخے ته دكفر طاقت مات شي او كفار دكفر او شرک نه توبه اوباسي او ايمان قبلولو ته تيار شي۔ بے شكه ته غفور او رحيم ئے۔ (آمين يا رب الغلمين)



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۳

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ۭ فَاِنِ

او دوی سره جنگ او کړئ تر دے چه فساد پاتے نهٔ شی۔ او د الله دین قائم شی۔ نو بیا که

انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾

چرے دوی منعه شو۔ نو د ظالمانو نه سوا په هیچا باندے هیڅ زیاتے نیشته۔

نچوړ

تا سو دے مشرکانو سره جنگ کوئ۔ تر دے چه د دوی قوت مات شی۔ د شرک حکومت ختم شی او د الله دین قائم او نافذ شی نو که دوی منعه شی نو د ظالمانو نه سوا په چا باندے زیاتے نیشته۔

ربط

اکثر مفسرین حضرات د مخکښینو دریو آیتونو سره ربط تړی او دا آیت د جزیرة العرب سره خاص منی او د فتنے ترجمه په شرک سره کوی۔ یعنی د مکے د دے مشرکانو سره جنگ کوئ تر دے چه جزیرة العرب کښې هیڅ قسمه شرک پاتے نهٔ شی۔ او دا تکړه د الله تعالی د خالص عبادت دپاره خاص شی۔ د دے وجے نه صاحب د تفسیر ماجدی لیکی۔

وَقٰتِلُوْهُمْ کښې هُمْ ضمیر چا طرف ته دے؟ د جنگ جاری ساتلو حکم د چا په مقابله کښې ورکولے کیږی۔ ښکاره ده چه د دے نه مراد تول کفار هم کیدے شی او د عربو مشرکان هم مراد کیدے شی خو حنفی فقهاؤ او ډیرو تابعینو صرف د مکے مشرکان مراد اغشتے دی۔ ومن راها غیر ناسخة قال المعنیٰ قاتلوا هولاء الذین قال الله فیهم فان قاتلو کم (قرطبی) وهم کفا رمکة والفتنة ههنا الشرک ولا یسن بهم سنة اهل الکتاب فی قبول الجزیة قاله ابن عباس وقتادة والربیع والسدی (بحر) عطف علیٰ قٰتِلُوا الَّذِيْنَ يقاتلونکم ویؤیده ان مشرکی العرب لیس فی حقهم الا الاسلام اوالسیف (روح) وهذه الآیة خاصة فی المشرکین دون اهل الکتاب (جصاص)

اسلام یو عالمگیر مذهب دے۔ دے وجے نه ضروری وه۔ چه د دے دے یو

جغرافیائی مرکز وی اومستقر وی۔ او چه د زمکے په مخ کم از کم یوه داسے حصه وی چه دشرک او کفر نه بالکل پاکه او د اهل توحید دپاره په صحیح معنی کښې "پاکستان" وی۔ او د دے غرض دپاره د رسول ﷺ د پیدائش د ځائے او د قرآن د نازلیدو د ځائے نه زیاته بله کومه زمکه کیدے شی؟ قدرتی طور د دے دپاره د عربو سرزمین خوښ کړے شو۔ د عربو کفار که اسلام نۀ راوړی نو دوی دپاره صرف د قتل قانون دے۔ که دوی جزیه ورکوی نو نۀ به شی اخستے۔ (تفسیر ماجدی)

دوئمه رائے

د بعضے نورو مفسرینو حضراتو په نیز دا آیت عام دے۔ د دے وجے نه علامه قرطبی رحمه الله لیکی۔ وَقٰتِلُوْهُمْ امر بالقتال لکل مشرک فی کل موضع علیٰ قول من رآها ناسخة په دے آیت کښې د هر مشرک سره هر ځائے د جنګ عام حکم دے۔ دهغے حضراتو په نزد چه دا آیت عام ګڼړی۔ (قرطبی) د دے قول مطابق د فتنے معنیٰ دکفر شوے ده۔ (قرطبی) یعنی جهاد به هغه وخته پورے جاری وی چه ترڅو دکفر ملا ماته نۀ شی او دکفر قوت او اقتدار ختم نۀ شی۔ د دے قول مطابق به د دے آیت هم هغه معنیٰ شی کومه چه سورۀ انفال کښې دآیت (۳۹) ده۔ الله تعالیٰ ارشاد فرمائی۔

وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ (الانفال ۳۹)

دا آیت خو دمفسرینو په نیز داقدامی جهاد دمشروعیت دپاره بالکل صریح واضح عام او نص قطعی دے۔ د دے وجهے نه په دے آیت کښې چه کوم د فتنے لفظ ذکر شوے دے۔ د هغے په تشریح کښې صاحب دتفسیر عثمانی لیکی۔ "یعنی چه دکافرانو زور پاتے نۀ شی چه دایمان نه منعه کول اوکړے شی یا حق مذهب ته دمرګ دهمکی ورکړے شی۔ څنګه چه تاریخ ګواه دے۔ چه کله هم کفارو ته غلبه نصیب شوے ده نو دمسلمانانو ایمان اومذهب په خطره کښې پریوتے دے۔ د سپین مثال د دنیا مخے ته دے۔ چه کله کافرانو ته طاقت اوموقعه په لاس ورغله نو څنګه ئے مسلمانان تباه کړل۔ یا ئے مرتد کړل۔ بهر حال دجهاد اوقتال اولنے مقصد دادے چه مسلمانان په امن او په آرام سره د الله تعالیٰ عبادت اوکړے شی۔ او د ایمان او توحید دولت د کفارو د لاسه محفوظ شی۔ د دے وجے نه د فتنے هم دغه تفسیر د ابن عمر او دنورو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه دحدیث په کتابونو کښې نقل شوے دے۔" (تفسیر عثمانی)

او د يَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ په تفسیر کښې لیکی

"دا دجهاد آخري مقصد دے چه دکفر شوکت پاتے نۀ شي۔ حکم صرف دالله تعالیٰ چلیږي۔ حق دین په ټولو دینونو غالب راشي۔ (لیظهره علی الدین کله) که د نورو باطلو دینونو په موجودګئ کښ وي لکه دخلفائے راشدین وغیره په زمانه کښ چه وو۔ یا چه ټول ناحق دینونه ختم کړي لکه چه دعیسیٰ علیه السلام د نازلیدو په وخت کښ به وي۔ بهرحال دا آیت ددے واضح دلیل دے چه جهاد اوقتال که هجومي (کافرانو باندے ورتلل) وي یا دفاعي وي۔ دمسلمانانو دپاره هغه وخت پورے ثابت دے چه تر څو پورے دا دواړه مقصدونه حاصل نۀ شي۔ (تفسیر عثماني)

نچوړ دا شو چه که آیت خاص وومنلے شي۔ اوکه عام۔ په هر حال کښ د جهاد دحکم تاکید معلومیږي او دجهاد د غرض اومقصد هم پته لګي۔ د فِتْنَةٌ دلفظ مکمل تحقیق به انشاء الله په سوره انفال کښ بیان کړے شي۔ دلته صرف دامام رازي رحمه الله یو تحقیقي عبارت کافي ګڼړلے شي۔ چه په هغے کښ ددے لفظ حقیقت ته د رسیدو کافي سامان موجود دے۔

في المراد بالفتنة ههنا وجوه: احدها: انها الشرک والکفر قالوا کانت فتنتهم انهم کانوا یضربون ویوذون اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم بمکة حتی ذهبوا الی الحبشة ثم واظبوا علیٰ ذلک الایذاء حتی ذهبوا الی المدینة وکان غرضهم من اثارة تلک الفتنة ان یترکوا دینهم ویرجعوا کفارا فانزل الله تعالیٰ هذه الآیة والمعنیٰ قاتلوهم حتی تظهروا علیهم فلایفتنوکم عن دینکم فلاتقعوا فی الشرک

یعني دفتنے معنی دبعضے حضراتو په نیز کفر اوشرک دے۔ دا حضرات وائي چه د مکے د مشرکانو فتنه دا وه چه دوی به د حضور اکرم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم وهل اوتنګول به ئے۔ تر دے چه دوی حبشو ته په هجرت کولو باندے مجبوره شو خو دمکے مشرکانو دآزارولو سلسله جاري اوساتله تر دے چه مسلمانان مدینے منورے ته لاړل۔ دمکے دمشرکانو د دے فتنے نه غرض داوو چه مسلمانان خپل دین پریږدي اوکفر ته واپس راشي نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه دهغے مطلب دادے چه دے مشرکانو سره جنګ کوئ تر دے چه په دوی غالب راشئ اوچه دوی (مغلوب او کمزورے شي) اوتاسو ددین اسلام په باره کښ په فتنه کښ وانۀ چولے شي اوچه تاسو په شرک کښ مبتلا نه شئ۔ (التفسیر الکبیر)

د دے نه پس امام رازي رحمه الله د فتنے دوئم مطلب بیانوي فرمائي۔

وثانیها قال ابو مسلم معنی الفتنة ههنا الجرم قال :لان اللّٰه تعالیٰ امر بقتالهم حتی لایکون منهم القتال الذی اذا بدؤا بها کان فتنةً علی المو منین لما یخافون عنده من انواع المضار

یعنی دوئم قول دابو مسلم رحمه الله دے چه د فتنے نه مراد په دے آیت کښ "جرم"(یعنی د مسلمانانو خلاف د جنګ جرأت کول دی۔ هغه داسے چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته حکم اوکړو۔ دے کافرانو او مشرکانو سره جنګ کوئ چه دوی تاسو سره جنګ اونۀ کړے شی ځکه چه د دوی مسلمانانو سره جنګ کول به د مسلمانانو د پاره یوه فتنه شی چه د هغے د وجهے نه دوی ته نقصان رسیدے شی۔ (التفسیر الکبیر)

یعنی چه دکافرانو هر هغه طاقت مات شی چه دکوم په ذریعے سره دوی مسلمانان وژلے شی۔ نیولے ئے شی۔ ګمراه کولے ئے شی۔ او ددین په باره کښ ئے په فتنه کښ اچولے شی۔

سبحان الله ! الله تعالی داسلام او دمسلمانانو دحفاظت څنګه زبردست بندوبست اوکړو۔ خو مسلمانانو د خپل غفلت ،کم همتیٔ او د بزدلیٔ د وجے نه د دے بندوبست نه فائده وانۀ غشته۔اوس چه هر کله دکفر او دشرک عبادت کوونکی په حکومتی۔ عسکری۔ اقتصادی اوثقافتی طاقتونو باندے پوره دی نو څنګه ئے مسلمانان په تکلیف کښ اخته کړے دی اوڅنګه ګمراهی خوروی۔ فالی الله المشتکیٰ۔

دعاء

یاالله یاقوی یاقادر یامقتدر یاقیوم مونږ ته همت۔قوت او توفیق راکړے چه مونږ ستا په لاره کښ جنګ اوکړو۔ تردے چه فتنه ختمه شی او دین خالص دالله تعالیٰ قائم شی۔ آمین یا ارحم الراحمین۔



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى

عزتمنده میاشت د عزتمندے میاشتے په بدله کښې ده۔ او د عزت په خیزونو کښې بدل دے۔ پس چاچه زیاتے

عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

اوکړو په تاسو۔ نو تاسو بدل واخلئ د هغهٔ نه هغه هومره چه خومره زیاتے ئے کړے وی تاسو سره۔ او الله تعالیٰ نه

وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾

ووېرېږئ او پوه شئ چه الله تعالیٰ پرهیزګارو سره دے۔

نچوړ

❶ تیر کال دوی په عزتمنده میاشت ذوالقعده ٦ھ کښې تاسو په حرم شریف کښې د داخلیدو نه منعه کړے وئ۔ اوس په دے کال ذوالقعده ۷ھ کښې الله تعالیٰ تاسو حرم کښې داخل کړے یئ۔ دغه رنګے داعزتمنده میاشت دهغے عزتمندے میاشتے بدله شوه۔

❷ دمکے کافران پوهیدل چه مسلمانان په عزتمنده میاشت کښې دجنګ شروع نهٔ کوی۔ نو دوی دعمرے په دوران کښې په مسلمانانو باندے دحملے کولو اراده اوکړه۔ مسلمانان ددے صورتحال نه پریشانه وو نو دوی ته اوفرمائیلے شو چه هر کله مشرکان دخپل کفر دخاطره دحرم عزت دخپو لاندے کوی نو تاسو له هم داسلام د پاره په دے میاشت کښې د دوی سره په جنګ کولو کښې څهٔ ویره او ترخه نهٔ دی کول پکار۔

❸ دمکے مشرکان په عزت مند ښار کښې شرک کوی۔ او دوی تیر کال دذوالقعدے عزت دخپو لاندے کړو۔ او تاسو سره ئے جنګ اوکړو نو اوس د دوی خلاف په جنګ کولو کښې څهٔ بدی نشته۔ (تفسیر کبیر)

دوه اقوال:

❶ دامت د ډیرو عالمانو په نزد په عزتمندو میاشتو کښې یعنی محرم۔ رجب۔ ذوالقعده او ذوالحجه کښې دجنګ کولو حرمت اوس باقی نشته۔ ددے وجے نه

حضرت تھانوی رحمه الله لیکی " د دین د جمهورو امامانو اجماع ده چه په عزتمندو میاشتو کښې اوس قتل وقتال جائز دے۔ او چه دکومو آیتونو نه منعه معلومیږی هغه منسوخ دی۔ خو بهتر اوس هم دادی چه دے میاشتو کښې دے دجنگ شروع نهٔ کوی۔(بیان القرآن)

❷ په دے باره کښې یوه دوئمه رائے په دے عبارت کښې وړاندے کوؤ۔

"عام طور بـاندے مشهوره ده چـه دعزت میاشتے منسوخ دی داصحیح نهٔ ده۔ بلکـه حرمت بـاقی دے۔ درے میاشتے دحج دپاره حرامے دی او رجب دعمرے دپاره۔ کـه څوک زمونږه مقدس څیزونـه تباه کوی نو مونږ لـه هم د دوی مقدس مذهبی څیزونـه تباه کـول پکار دی۔(حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)۔ تفسیر کبیر کښې دی چه دا قول دحضرت عطاء بن ابی رباح رحمه الله دے۔

وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ عزتـونـه خـو دادل بـدل څیزونه دی۔ مخالف فریق کهٔ د دے لحاظ اوساتی نو مونږه به ئے هم لحاظ ساتو۔ او که دوی حرمتونه پامال کړی۔ سره د دے چه دوی په باطله بانـدے هم دی۔ نو مونږ له هم دحق دپاره په پوره جواب ورکولو کښې څهٔ کمے پریښودل نهٔ دی پکار۔ حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله لیکی۔

یعنی کـه یو کافر دعزت میاشت اومنی چه په دے کښې به تاسو سره نهٔ جنګیږی نو تاسو هم د دهٔ سره جنګ مهٔ کوئ۔ او دمکے خلق په دے میاشت کښې په مسلمانانو باندے ظلمونه کوی نو بیا مسلمانان ولے په دے کښې کمے کوی (یعنی ولے لاس بند اوساتی) بلکه دحد یبیے په سفر کښې د ذی قعدے میاشت وه۔ حضور ﷺ عمرے ته لاړو اوکافران جنګ دپاره راغلل۔ دا آیت د دے دپاره نازل شو چه مسلمانان ویریدل چه که د عزت میاشت کښې کافران د جنګ دپاره تیار شی نو مونږه به څهٔ کوؤ۔ (موضح القرآن)

فَمَنِ اعْتَدٰی عَلَیْکُمْ دلتـه د زیاتیٔ بدلے ته زیاتے اوئیلے شو حالانکه د زیاتیٔ بدله اختـلل انصاف دے نودا دشکل دیوشان والی دوجهے نه اوفرمایلے شو۔ دا دعربی ژبے انداز دے چه دیو عمل بدلے ته هم د دغے عمل نوم ورکولے شی۔ دمکر بدلے ته مکر۔ دخداع بدلے ته خداع(دهوکه)۔ دکید بدلے ته کید۔ دسیئه بدلے ته سیئه (بدی) اوداعتداء بدلے ته اعتداء (زیاتے)

اهم نکته

ړومبنی آیتونو نه معلومه شوے وه چه دجهاد نه هیڅ څه ځائے باهر نشته اونهٔ

یو مسلمان کس ته د دے نه چهتی ورکیدے شی۔ (سوا دهغے کسانو نه چه الله تعالیٰ پخپله د دے حکم نه بهر کړے دی)اوس ددے آیت نه معلومه شوه چه دجهاد نه یو وخت هم بهرنشته۔جهاد به همیشه جاری وی۔(مستفاد من تفسیر الفرقان)

جهاد په اصل کښ داسلام حفاظتی نظام دے۔اوس د دے دومره عظیم دین او د د ے دومره عظیم امت دحفاظت انتظام څنګه بندیدے شی یا اودریدے شی۔

فائده

وړاندے چه کوم څلور آیتونه تیر شوے دی۔ دا د مکے د فتحے نه لږ مخکښے نازل شوے دی۔په دے کښ خو یو طرف ته دا اشاره معلومیږی چه اوس جزیرة العرب عموماً او مکه مکرمه خصوصاً د شرک نه پاکیدونکے دی او بل طرف ته دا اشاره هم معلومیږی چه دمسلمانانو په زړونو کښ دبیت الله عزت۔ او د عزتمندو میاشتو عزت او داحرام عزت ډیر زیات وو او دوی طبعی طور په دے ځایونو او وختونو کښ جنګ نۀ خوښولو۔ که صورتحال دغه رنګے وے نو مکه به څنګه فتحه کیده ؟ د دے وجهے نه د دے آیتونو په ذریعه د دوی ذهن سازی کیږی او دوی پو هولے شی چه حرم شریف د شرک نه او د مشرکانو نه پاکول چه دی۔ هم دا ددے اصلی عزت دے۔او د دے حرمت حاصلولو دپاره په مسجد حرام کښ جنګ کول او په حرمت والا میاشتو کښ جنګ کول هم جائزدی۔غرض دا چه کله د دوی زړه اوذهن ددے دپاره تیار شو او دوی د مکے د فتحے دپاره ښۀ جنګی تیاری اوکړه نو الله پاک د ډیرے خونریزئ نه بچ کړل اومکه مکرمه فتحه شوه۔والله تعالیٰ اعلم بالصواب وعلمه اتم.

وَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ او ښۀ پوه شئ چه الله تعالیٰ دمتقیانو سره دے" دالله تعالیٰ اول انعام چه په خلقو باندے کیږی هغه دادے چه د دوی اراده مضبوطه شی ـترڅو چه دیوقانون دچلونکی قوم همت مضبوط وی۔ نو هیڅ یوقوم د دوی مقابله نۀ شی کولے۔ الله تعالیٰ تاسو سره دے یعنی ستاسو ارادے به مضبوطے ساتی۔ والله تعالیٰ اعلم" (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَأَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِأَيْدِيْكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ

اود الله تعالیٰ په لاره کښې خرچ اوکړئ۔ او د خپله لاسه ځان هلاکت ته مۀ غورزوئ۔

وَأَحْسِنُوْا إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۹۵﴾

او احسان کوئ۔ بے شکه الله تعالیٰ احسان کونکو سره محبت ساتی۔

نچوړ

جهاد فی سبیل الله کښې خپل مال خرچ کړئ۔ او جهاد پریښودو سره خپل ځان هلاکت کښې مۀ اچوئ۔ او د زړه په مینه اوشوق او جذبے سره نیکی کوئ۔ ځکه چه الله تعالیٰ محسنینو سره محبت ساتی۔

تفسیری اقوال

وَأَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ او خرچ اوکړئ د الله تعالیٰ په لار کښې

❶ وَسَبِيْلِ اللّٰهِ هنا "الجهاد" دلته د سبیل الله نه مراد جهاد دے (قرطبی)

❷ الا ان الاقرب فی هذه الآية وقدتقدم ذكر الجهاد انه يرادبه الانفاق فی الجهاد: دلته ډیره ښۀ معنی داده چه په جهاد کښې خرچ کول مراد واخستے شی ځکه چه د جهاد ذکر د مخکښې نه راروان دے (تفسیر کبیر)۔

❸ طاعته، الجهاد وغيره . د الله تعالیٰ په اطاعت یعنی جهاد وغیره کښې خرچ اوکړئ۔(جلالین)

وَلَا تُلْقُوْا بِأَيْدِيْكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ او پخپلو لاسو نو خپل ځانونه هلاکت ته مۀ اچوئ۔

❶ بالا مساک عن النفقة فی الجهاد اوتر که لانه يقوی العدو عليكم. یعنی خپل ځانونه په هلاکتونو کښې دغورزولو نه مراد دا دے چه جهاد کول یا په جهاد کښې خرچ کول پریږدی ځکه چه ددے وجهے نه به دشمن په تاسو غالب شی۔(جلالین)

❷ ان الالقاء باليد الى التهلكة هو ترک الجهاد فی سبيل الله یعنی جهاد فی سبیل الله پریښودل خپل ځان په هلاکتونو کښې غورزول دی۔(قرطبی)

❸ ان لا ينفقوا فی مهمات الجهاد اموالهم فيستولی العدو عليهم ويهلكهم و كانه قيل ان

کنت من رجال الدین فانفق مالک فی سبیل الله وفی طلب مرضاته وان کنت من رجال الدنیا فانفق مالک فی دفع الهلاک والضرر عن نفسک ۔ یعنی خپلو لاسونو سره خپل ځان په هلاکت کښ د اچولو مطلب دا دے چه مسلمانان په جهادی مهماتو (مقاصدو) کښ د خرچ کولو نه لاس واخلی۔ نو دغے د وجهے نه د شمن په دوی باندے غالب شی او دوی هلاک کړی۔ ګویا چه په آیت کښ دا اووئیلے شو چه اے مسلمانه ! که ته دیندار سړے ئیے نو خپل مال د الله تعالیٰ په لار کښ او دهغهٔ د رضا حاصلولو دپاره خرچ کوه۔ او که ته دنیا دار ئے نو دهلاکت نه د بچ کیدو او خپل ځان (دکافر) د ضرر نه د بچ کیدو دپاره مال خرچ کره۔

❹ یعنی جهاد مهٔ پریږدئ په دے کښ ستاسو هلاکت دے۔ (موضح القرآن)

❺ جهاد پریښودل تباهی اوبربادی ده ۔ صرف پیسو ورکولو سره خپل ځان بچ کول کامیابی نهٔ ده ۔ بلکه روپو ورکولو سره سره پخپله دجنګ تیاری او جهاد کښ شرکت ضروری دے۔ په داسے موقعه باندے کم همتئ، بزدلئ او شومتیا نه کار اخیستل خپل ځان ضعیف او کمزورے کول او مخالف قوی او طاقت ور کول دی۔ پس ځان اومال دواړه حاضر کړئ۔ (تفسیر الفرقان)۔

❻ چه کوم خلق دجهاد په لاره کښ مال نهٔ خرچ کوی۔ دوی خپلو لاسونو سره خپل ځانونه هلاکت ته ورکوی۔ ځکه چه د جهاد نه د مخ اړولو نتیجه د قومی ژوندګئ هلاکت دے۔ (ترجمان القرآن)

❼ اوتاسو خلق دځان سره سره مال هم خرچ کړئ د الله تعالیٰ په لاره کښ یعنی په جهاد کښ۔ او خپل ځانونه په خپلو لاسونو هلاکت ته مهٔ اچوئ چه داسے موقعو باندے دځان اومال خرچ کولو نه بزدلی یا بخل اوکړئ۔ چه دهغے په نتیجه کښ تاسو کمزورے شئ۔ او ستاسو مخالف مضبوط شی چه هم دغه تباهی ده۔ (بیان القرآن)

❽ انصارو خیال اوکړو چه مونږه د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښ داسلام ډیر خدمت اوکړو۔ او په جهاد کښ شریک شو۔ اوس حضور ﷺ سره مسلمانان مهاجرین ډیر جمع شوے دی نو په دے وجه مونږ ته اوس جهاد کښ د شرکت ضرورت نشته۔ نو ښهٔ به دا وی چه اوس مونږه خپله زمینداری او پټی سنمبال کړو۔ په دے باندے دا آیت نازل شو چه جهاد نه ځان پټول هلاکت دے۔ (حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

❾ مطلب دادے چه د الله په اطاعت کښ یعنی جهاد وغیره کښ خپل مال خرچ کرئ او خپل ځانونه هلاکت ته مۀ اچوئ یعنی چه جهاد پریږدئ یا چه خپل مال په جهاد کښ نۀ خرچ کوئ۔ دے سره به تاسو کمزوری او د شمن طاقتور شي۔(تفسیر عثمانی)

❿ دلته اصل خطاب امت سره مجموعی حیثیت سره دے او دا حقیقت بیانیږی چه که دامت کسانو دجهاد اوقتال نه ځان بچ کړو او مجاهدینو سره ئے په مالی تعاون کښ بخل اوکړو نو نتیجه به ظاهری طور د ټول امت دتباهئ۔ بربادئ او دهلاکت په شکل کښ ښکاره شی۔(تفسیر ماجدی)

تنبیه

د دے لسو عبارتونو د نقل کولو یو څو مقصدونه دی۔

❶ چه دآیت تفسیر واضح شی۔

❷ چه کوم خلق تر اوسه پورے د جانی او مالی جهاد نه لرے دی چه هغوی پوه شی چه دوی خپل ځانونه او پوره مسلمان امت په هلاکت کښ اچوی۔

❸ دامت د موجوده ښکته کیدو راز به معلوم شی۔

❹ په دے لسو عبارتونو کښ په اکثرو کښ ځان له جهادی نکات بیان شوے دی۔که باریک نظر سره اوکتلے شی نو ډیرے هغه خبرے به ذهن ته راشی چه دهغے نن مسلمان امت ته ضرورت دے۔

❺ د دے آیت اصل تفسیر هم دادے باقی اقوال دوئمه درجه لری۔

عجیبه نکته

د الله تعالیٰ خبرے رشتنے دی او دحکمت نه ډکے دی۔که څوک پرے پو هیږی اوکه نۀ پو هیږی۔ گورئ؛ په جهاد کښ مړکیدو ته خلق هلاکت وائی۔ الله پاک اوفرمائیل چه په جهاد کښ مړه کیدونکی ژوندی دی۔ څنګه چه دسورۂ بقرے آیت(۱۵۴)کښ تیر شوے دی۔دغه رنګے دجهاد نه ځان بچ کونکی ظاهری امن سره ناست خلق وائی چه مونږه بچ شو۔نو الله پاک ښائی چه داخلق هلاک شو۔چه دچا د زړه سترګے پرانستے دی هغوی ته خو د الله تعالیٰ خبرے بالکل رشتنے او حق په نظر رازی خو چه کوم خلق د زړه د سترګو نه محرومه دی نو هغوی دے د تاریخ مطالعه اوکړی او او دے گوری۔ نویقیناً دوی به بے اختیاره اووائی چه واقعی په جهاد

کښې ځان ختمونکو زندګی اوموندله اوبزدلئی سره ځان بچ کونکی هلاک شو برباد شو۔ الله پاک دے مونږ ته پوهه راکړی۔

ربط آیات

اعلم ان تعلق هذه الآیة بما قبلها من وجهین......الخ د دے آیت د مخکښنی آیت سره تعلق په دوه طریقو سره دے (تفسیر کبیر)

❶ وړاندینی آیت کښې الله تعالیٰ دقتال حکم کړے دے او دا خبره یقینی ده چه دجهاد دپاره د ډیرو آلاتو او اسبابو ضرورت وی چه صرف د مال په ذریعه حاصلیدے شی او ډیر کرتے داسے هم کیږی چه مال والا خلق جنګ نۀ شی کولے او دجنګ کونکو بهادرو سره مال نۀوی۔ په دے وجه الله تعالیٰ مالدارو ته حکم اوکړو چه دوی خپل مال په هغه مجاهدینو باندے خرچ کړی چه هغوی سره مال نشته۔

❷ روایاتو کښې راغلے دی چه کله وړاندینی آیت (چه هغے کښې د قتال ذکر دے) نازل شو۔ نو حاضرینو کښې یو کس عرض اوکړو چه زمونږه سره خو دجهاد دپاره توښه نشته اومونږ له څوک خوراک نۀ راکوی نو په دے باندے رسول الله ﷺ مالدارو ته دخرچ کولو حکم ورکړو اوخرچ نۀ کولو باندے یئ دهلاکت وعید بیان کړو نو د حضور ﷺ په تائید کښې دا آیت نازل شو۔(التفسیر الکبیر)

شان نزول

❶ وروی الترمذی عن اسلم ابی عمران فقال :کنا بمدنیة الروم فاخرجوا الینا صفا عظیماً من الروم فخرج الیهم من المسلمین مثلهم اواکثروعلیٰ اهل مصر عقبة بن عامر وعلی الجماعة فضالة بن عبید فحمل رجل من المسلیمن علیٰ صف الروم حتی دخل فیهم فصاح الناس وقالو اسبحان الله !یلقی بیدیه الی التهلکة فقام ابو ایوب الانصاری رضی اللّٰہتعالیٰ عنه فقال یا ایها الناس انما تتأولون هذه الایة هذاالتاویل وانما انزلت فینا معاشر الانصار لما اعزّالله الاسلام وکثر ناصروه فقال بعضنا لبعض سرّا دون رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم ان اموالنا قد ضاعت وان الله قد اعز الاسلام وکثر ناصروه فلو اقمنا فی اموالنا فاصلحنا ماضاع منها فانزل الله علیٰ نبیه صلی اللّٰہعلیه وسلم یردُّعلیه ماقلنا ﴿وَاَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْكُمْ اِلَی التَّهْلُكَةِ﴾ فکانت التهلکة الاقامة علی الاموال واصلاحهاوترکنا الغزو۔فمازال ابو ایوب شاخصاً فی سبیل الله حتی دفن بارض

الروم قال ابو عیسیٰ هذا حدیث حسن غریب صحیح۔(القرطبی)

یعنی د ترمذی روایت دے چه اسلم ابوعمران فرمائی چه مونږه د روم یو ښار کښې وو چه د رومیا نو یو ډیر لوئے لښکر څمونږ دمقابلے دپاره راووتو دغه وخت دښار ګورنر حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه وو او د لښکر امیر حضرت فضاله بن عیاض وو۔ د اسلامی لښکر نه یو کس په یوازے د رومیانو په لښکر حمله اوکړه (د دوی صفونه ئے څیرے کول) د دوی په مینځ کښې ورغے ۔خلقو چه دا حالت اولیدو نو جمع شو او وے وئیل چه سبحان الله دے کس خو پخپله خپل ځان هلاکت ته اچولے دے۔په دے خبره حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله عنه اودریدو او وے فرمائیل ؛ اے خلقو تاسو د دے آیت مطلب دا جوړه وئی حالانکه دا آیت خو زمونږه انصارو باره کښې نازل شوے دے۔(هغه دارنګے) چه کله الله تعالیٰ اسلام ته غلبه ورکړه او د دے مددګاران ښه زیات شو۔ نو مونږه انصارو حضوراکرم ﷺ نه په پټه یو بل ته اووے چه زمونږه مالونه برباد شوے دی او اوس چونکه الله تعالیٰ اسلام ته قوت ورکړے دے او ددے مددګاران زیات شوے دی نو مونږ خلق به په خپلو مالونو (جائیدادونو) کښې ایسار شو چه ددے اصلاح اوکړو په دے خبره الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ باندے دا آیت نازل کړو۔ او زمونږه خبره ئے ردکړه۔نو په دے آیت کښې د هلاکت معنی په خپلو مالونو کښې ایساریدل او دهغے خیر خبر اخیستل او جهاد پریښودل دی (راوی فرمائی) چه حضرت ابو ایوب انصاری رضی‌الله عنه جهاد کښې لګیا وو۔ تردے چه د روم په زمکه کښې د فن شو۔امام ترمذی رحمه الله دے حدیث ته حسن او صحیح وئیلے دے۔(قرطبی)

❷ وقول ثالث قاله ابن عباس رضی اللّٰہ تعالیٰ عنهما وذلك ان رسول الله صلی اللّٰہ علیه وسلم لما امر الناس بالخروج الی الجهاد قا م الیه اناس من الاعراب حاضرین بالمدینة فقالوا بماذا نتجهز فو الله مالنا من زاد ولایطعمنا احد فنزل قوله تعالیٰ وَاَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ یعنی تصد قوا یا اهل المیسرة فی سبیل الله یعنی فی طاعة الله وَلَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْکُمْ اِلَی التَّهْلُکَةِ یعنی ولاتمسکو ا باید یکم عن الصد قة فتهلکوا۔

یعنی حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه کله رسول الله ﷺ خلقو ته په جهاد کښې د وتلو حکم اوکړو نو څۀ بانډچیان حضرات چه مدینے منورے ته راغلے وو۔ هغوی ووئیل چه مونږه څه رنګے د جهاد سامان برابرکړو۔ په الله تعالیٰ

قسم مونږ سره خو د سفر توښه هم نشته او نور خلق مونږ ته راکوی نه۔ نو په دے د الله تعالیٰ دا فرمان نازل شو وَاَنۡفِقُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ یعنی اے مالدارو ؛ د الله تعالیٰ په لاره کښې یعنی دهغهٔ په تابعدارئ کښې صدقه کوئ وَلَا تُلۡقُوۡا بِاَیۡدِیۡکُمۡ اِلَی التَّهۡلُکَةِ یعنی خپل لاسونه د صدقے نه مهٔ بندوئ۔ گنې تاسو به هلاک شئ۔

ای لا تمسکو عن النفقة علی الضعفاء فانهم ان تخلفوا عنکم غلبکم العدو فتهلکوا یعنی فقیرانو خلقو باندے خرچ کولو نه مهٔ بندیږئ ځکه که دا خلق تاسو سره په جهاد کښې لاړ نهٔ شی نودشمن به په تاسو باندے غالب شی او تاسو به هلاک شئ۔(قرطبی)

نکته

چه د مال محبت د زړه نه اوزی نو په جهاد کښې به تلل آسان شی۔ د دے په خلاف که په زړه کښې دمال محبت زیات وی نو بیا به دشمن غالب شی اوکه مسلمانان مال جمع کوی او په جهاد کښې جنگ کونکی د الله ازمری حاجت مند ساتی۔ نوتول مسلمان امت ته به نقصان اورسی۔ په دے آیت کښې د مال په باره کښې پوره نصاب موجود دے چه مال د اسلام په خاطر په جهاد کښې خرچ کړئ۔ او خپل زړونه هم دمال د محبت نه پاک کړئ۔ او پخپله هم په شوق سره جهاد کښې اوزئ۔ کیدے شی چه په "اَحۡسِنُوۡا" کښې دے طرف ته اشاره وی۔ (والله اعلم بالصواب)

نکته

صحابه کرامو رضی الله عنهم په دے حکم باندے عمل اوکړو۔ د دوی سره دباقی د نیا په مقابله کښې ډیر لږ مال وو۔ هغه دوی په جهاد کښې وولگولو۔ الله تعالیٰ د روم او فارس خزانے د دوی قدمونو کښې ووغورزولے۔ او د دنیا مالدا رو دوی ته جزیه ورکول شروع کړل۔ خو چه کله مسلمانانو د مال بچ کولو او دمال جوړولو نعره اولگوله نون د ساه اخستو دپاره هم کافرانو ته ټیکس ورکوی۔ پخپله اوگورئ ؛ چه په جهاد کښې ځان او مال لگولو والا هلاک شو۔ یا دجهاد نه ځان پټونکی د ذلت سره هلاک کیږی۔

فائده

ډیرو مفسرینو حضراتو مثلاً امام قرطبی او امام رازی رحمهما الله ددے آیت د لاندے د فدائی حملے په جواز باندے بحث فرمایلے دے۔(تفسیر قرطبی او تفسیر کبیر کښې اوگورئ)

فائده

ددے آیت په تفسیر کښې نور اقوال هم شته مثلاً

❶ المعنیٰ لاتلقوا بایدیکم بان تترکوا النفقة فی سبیل الله وتخافوا العیلة فیقول الرجل لیس عندی ماانفقه والی هذا المعنیٰ ذهب البخاری رحمه الله (قرطبی) ددے معنی په اعتبار سره به هم ددے تعلق دجهاد سره وی۔

❷ وقال زید بن اسلم المعنیٰ لا تسافروا فی الجهاد بغیرزاد (قرطبی) ددے معنی په اعتبار سره به هم د دے تعلق دجهاد سره وی۔

❸ الرجل یصیب الذنب فیلقی بیدیه ویقول قد بالغت فی المعاصی ولا فائدة فی التوبة فییأس من الله فینهمك بعد ذلك فی المعاصی فالهلاك الیأس من الله (قرطبی) علامه آلوسی رحمه الله په روح المعانی کښې دامعنی لرے گنړلے ده۔ والله تعالیٰ اعلم۔ دا ټول پنځه اقوال شو۔

مماثل آیتونه

جهاد فی سبیل الله کښې د مال خرچ کولو فضیلت او په نۀ خرچ کولو باندے وعید لاندے لیکلے شوے آیتونو کښې هم ذکر دے۔

البقره (۲۱۵۔۲۴۵۔۲۶۱۔۲۶۲۔۲۷۳۔۲۷۴) التوبه (۳۴۔۳۵) محمد ﷺ (۳۸) الحدید (۱۰)۔

دعاء

یا الله ؛ مونږ ته دخپلے رضا په خاطر په جهاد کښې د مال خرچ کولو توفیق راکړے۔ اومونږه دجهاد د پریښودلو دعذاب نه اوساتے او مونږ ته مقام احسان راکړے۔ آمین یا رب العلمین۔



سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۰۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ

او په خلقو کښې بعضے هغه دی چه د الله د رضا دپاره خپل ځان خرڅوی۔ او الله تعالیٰ

رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾

په بندیګانو باندے ډیر مهربانه دے۔

نچوړ

بعض خلق داسے هم دی چه د الله د رضا دپاره خپل ځان هم خرڅوی یعنی دمالک د رضا دپاره قربانیږی۔ او الله تعالیٰ د داسے بندیګانو په حال باندے مهربانه دے۔ (چه دوی ته ئے د جهاد توفیق ورکړو۔ او دوی ئے قبول کړل۔ او د شهیدانو مقام ئے ورته ورکړو)

تفسیر

يَشْرِيْ نَفْسَهُ خرڅوی خپل ځان۔

❶ أی يبيعها ببذلها فی الجهاد علیٰ ما روی عن ابن عباس والضحاک رضی الله تعالیٰ عنهما ان آلاية نزلت فی سرية الرجيع. (روح المعانی)

یعنی خپل ځان په جهاد کښې خرچ کوی او په الله تعالیٰ باندے ئے خرڅوی۔ د دے قول بنیاد په دے خبره دے چه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه او د ضحاک رحمه الله په نیز دا آیت د رجیع په سریه کښې نازل شوے دے۔

❷ واما الاکثرون فحملوا ذلک علیٰ انها نزلت فی کل مجاهد فی سبيل الله الخ. یعنی ډیرو مفسرینو په نیز دا آیت دهر مجاهد فی سبیل الله په باره کښې نازل شوے دے۔ څنګه چه ددے مضمون یو بل آیت هم دے۔

ان الله اشتریٰ من المؤمنين انفسهم واموالهم بان لهم الجنة يقاتلو ن فی سبيل الله فيقتلون ويقتلون وعدا عليه حقا فی التوراة والانجيل والقرآن ومن اوفیٰ بعهده من الله فاستبشروا ببيعكم الذی بايعتم به وذلک هو الفوز العظيم (التوبه ـ ۱۱۱)

ترجمه:

بے شکه الله تعالیٰ د مسلمانانو نه د هغوی سر او مال په دے قیمت اخستے دے

چه د دوی دپاره جنت دے۔ دوی د الله تعالیٰ په لاره کښې جنګ کوی۔ بیا قتلول هم کوی او قتلیږی هم۔دا خو په تورات۔انجیل او قرآن کښې رشتنے وعده ده چه دهغے پوره کول هغهٔ دپاره ضروری دی۔او د الله تعالیٰ نه زیات وعده پوره کونکے څوک دی ؟ او کومه سودا چه تاسو اوکړه په دے باندے خوشحاله اوسئی او د الویه کامیابی ده۔ (تفسیرابن کثیر)

۳ ولما حمل هشام بن عامر رضی الله تعالیٰ عنه بین الصفین انکر علیه بعض الناس فرد علیهم عمر بن الخطاب وابو هریرة وغیرهما وتلوا هذه الایة وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَاۗءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ (البقره ۲۰۷)

او چه کله حضرت هشام بن عامر رضی الله عنه د دشمن په صفونو باندے یوازے حمله اوکړه نو بعض خلقو په دوی باندے اعتراض اوکړو۔نو حضرت عمر بن خطاب او حضرت ابو هریره وغیرهما رضی الله عنهم د دے خلقو تردید اوکړو او هم دا آیت ئے تلاوت کړو۔

ترجمه:اوپه خلقو کښې بعض داسے دی چه د الله تعالیٰ د رضا دپاره خپل ځان خرڅوی۔اوالله تعالیٰ په خپلو بندیګانو ډیر مهربانه دے۔(تفسیر ابن کثیر)

یعنی دا ئے ښکاره کړه چه حضرت هشام بن عامر رضی الله عنه په دے آیت باندے عمل کوی۔

۴ یبیعها ای یبذ لها فی الجها د

یعنی خپل ځان خرڅوی یعنی جهاد کښې ئے خرچ کوی۔(کشاف)

۵ دا حال د ایمان د صاحب دے چه د الله تعالیٰ په رضا باندے ځان ورکوی۔(موضح القرآن)

شان نزول

دآیت په شان نزول کښې د متقدمینو حضراتو ګنړ اقوال دی۔یو څو په کښې اوګورئ۔

۱ نزلت فی صهیب رضی الله تعالیٰ عنه یعنی دا آیت دحضرت صهیب رومی رضی الله عنه په باره کښې نازل شوے دے۔(قرطبی۔روح المعانی۔کبیر۔ البحرالمحیط وغیره) دادحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه او د حضرت سعیدبن مسیب رحمه الله قول دے۔

۲ وقیل نزلت فیمن یقتحم القتال، حمل هشام بن عامر علیٰ الصف فی القسطنطنیة فقاتل حتی قتل فقرأ ابو هریرة وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَاۗءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ

ومثله عن ابی ایوب۔

یعنی یو قول دادے چه دا آیت دهغے مجاهد په باره کښ دے چه (ځان له) په دشمنانو کښ ورننوزی او جنگ کوی۔ د دے وجهے نه چه حضرت هشام بن عامر رضی الله عنه په قسطنطنیه کښ چه کله د دشمنانو په لښکر باندے ځان له په ځان له حمله اوکړه او په جنگ جنگ کښ شهید شو نو حضرت ابو هریره رضی الله عنه دا آیت تلاوت اوفرمائیلو ۔ او دغه شان د ابو ایوب انصاری نه هم نقل دی ۔ (قرطبی)

❸ وفی الکواشی انها نزلت فی الزبیر بن العوام و صاحبه المقداد بن الاسود لما قال علیه الصلوٰة والسلام من ینزل خبیبا عن خشبته فله الجنة فقال انا وصاحبی المقداد وکان خبیبؓ قد صلبه اهل مکة یعنی کواشی کښ دی چه دا آیت د حضرت زبیر بن عوام او دهغهٔ دملگری مقداد بن اسود په باره کښ نازل شو۔ کله چه حضور ﷺ اعلان اوفرمائیلو چه څوک خبیب د سولۍ نه راکوز کړی۔ نو دهغهٔ دپاره جنت دے۔ نو په دے باندے زبیر بن عوام رضی الله عنه اووے چه زهٔ او زما ملگرے مقداد به دا کار اوکړو۔ حضرت خبیب رضی الله عنه د مکے خلقو په سولۍ کړے وو۔ (روح المعانی)

❹ نزلت فی سریة الرجیع (روح المعانی) دا مخکښے تیر شوے دی۔

❺ وقیل نزلت فیمن امر بالمعروف ونهی عن المنکر یعنی دا آیت دهغے مسلمان په باره کښ نازل شوے چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی او د مفسدینو د لاسه شهید شی۔ (قرطبی)

❻ وقال الحسن: اتدرون فیمن نزلت هذه الایة نزلت فی المسلم لقی الکافر الی آخره

یعنی حسن بصری رحمه الله اوفرمائیل چه تاسو پو هیږئ۔ چه دا آیت دچا په باره کښ نازل شوے دے ؟ دا د هغه مسلمان په باره کښ دے چه دهغهٔ د یو کافر سره مقابله اوشوه۔ ده کافر ته اووے چه دلا اله الا الله اقرار اوکړه او خپل ځان او مال زمانه محفوظ کړه۔ کافر انکار اوکړو نو بیا دے مسلمان اووے چه په الله تعالیٰ قسم څهٔ اوس خپل ځان په الله تعالیٰ باندے خرخوم او بیا دے دهغه کافر سره په جنگ کولو کښ شهید شو۔ (البحر المحیط)

وَاللّٰهُ رَءُوفٌۢ بِالۡعِبَادِ او الله تعالیٰ بندیگانو باندے ډیر مهربانه دے۔

❶ حیث کلفهم الجهاد فعرضهم لثواب الشهداء یعنی چه بندیگان ئے د جهاد مکلف

جوړ کړل۔ او د دے په ذریعه ئے دوی دشهیدانو داجر اوثواب مستحق جوړ کړل۔ (کشاف)

د صحابه کرامو رضی الله عنهم شان

قال قتادة اما والله ماهم باهل حروراء المراق من الدين ولكنهم اصحاب رسول الله صلى الله تعالىٰ عليه وسلم من المهاجرين والانصار لما رأوا المشركين يدعون مع الله الها اخرقاتلوا على دين الله وشروا انفسهم غضباً لله وجهاداً في سبيله.

حضرت قتاده رضی الله عنه د دے آیت په باره کښ اوفرمائیل چه په الله تعالیٰ قسم په دے آیت کښ د اهل حرورا ذکر نیشته چه د دین نه ووتے دی۔ بلکه دا د رسول الله ﷺ مهاجرین او انصار صحابه کرام وو۔ دوی چه کله مشرکان اولیدل چه دوی د الله تعالیٰ سره شرک کوی نو دوی د الله تعالیٰ ددین دخاطره جنګ اوکړو۔ اوخپل ځانونه ئے دالله تعالیٰ دپاره په غیرت او د الله په لاره کښ په جهاد کولو کښ خرچ کړل۔ (التفسیر الکبیر)

مماثل آیتونه

التوبه (۱۱۱)۔

دعاء

الله تعالی دے مونږ تولو ته داسے غیرت رانصیب کړی او مونږ ته دے توفیق راکړی چه مونږ هم دهغهٔ د رضاء دپاره خپل ځانونه خرچ کړو او هغه بیامومو۔ (آمین یا ارحم الراحمین)۔



سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّة آیت ۲۱۴

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا

آیا تاسو خیال کوئ چه جنت ته به داخل شئ حالانکه تاسو ته هغه حالات مخے ته نۀ دی راغلی۔ کوم چه دهغه

مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ

خلقو مخے ته راغلی وو چه تاسو نه مخکښے تیر شوے دی۔ هغوی ته سختئ اوتکلیفونه اورسیدل او ووجړولے

الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ

شو۔ تر دے چه وویه وئیل پیغمبر اوچا چه به ده سره ایمان راوړے وو۔ چه د الله تعالیٰ مدد به کله وی۔ واورئ

اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿۲۱۴﴾

بے شکه د الله تعالیٰ مدد نژدے دے۔

نچوړ

که چرے کامیابی او جنت غواړئ۔نو د امتحانونو د پاره تیا ر ووسئ اود دے امتحانونو په وجه باندے مۀ بے همته کیږئ

شان نزول

❶ نزلت فی غزوة الخندق حین اصاب المسلمین مااصابهم من الجهدوالشدة والخوف والبرد وسوء العیش وانواع الاذیٰ حتی بلغت القلوب الحناجر.

دا آیت د خندق دغزا په موقعه نازل شو چه کله مسلمانانو ته ډیر تکلیف۔ مشقت۔ ویره۔ یخنی۔ معاشی پریشانی او داسے قسم قسم تکلیفونه مخے ته راتلل شروع شو چه زړونه خلے ته راغلل۔(روح المعانی)

وقال قتاده والسدی:نزلت فی غزوة الخندق حین اصاب المسلمین مااصابهم من الجهد والحزن.

یعنی امام قتاده او امام سدی رحمهما الله فرمائی چه دا آیت د خندق د غزا په موقعه باندے نازل شوے دے۔کله چه مسلمانان په سخت تکلیف او غم کښې راګیرشول۔(تفسیر کبیر)

❷ وقیل نزلت فی حرب احد لماقال عبد الله بن ابی لاصحاب محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم الیٰ متیٰ تقتلون انفسکم وتر جون الباطل ولو کان محمد نبیا لما سلط الله علیکم الاسر والقتل ،فانزل الله تعالیٰ هذه الایة.

یو قول دادے چه دا آیت د احد د غزا په باره کښې نازل شو۔ چه کله عبدالله بن

ابی (منافق) دحضور ﷺ صحابهٔ کرامو ته اووے چه تاسو خلق به ترځو پورے خپل ځانونه وژنئ او باطل به غواړئ. که محمد ﷺ نبی وے نو الله تعالیٰ به په تاسو باندے د قیدو بند او دقتل وغارت تکلیفونه نهٔ وے اچولے. نو په دے باندے الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو. (التفسیر الکبیر)

وقیل فی غزوة احد: یعنی یو قول دادے چه دا آیت د احد د غزا په باره کښ نازل شوے دے. (روح المعانی)

❸ قال ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه لما دخل رسول الله صلی الله علیه وسلم المدینة، اشتد الضر علیهم، لانهم خرجوا بلا مال، وترکوا دیارهم واموالهم فی ایدی المشرکین واظهرت الیهود العداوة لرسول الله صلی الله علیه وسلم فانزل الله تعالیٰ تطییباً لقلوبهم:

یعنی حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه کله رسول الله ﷺ مدینے منورے ته تشریف راوړو. نو په دوی او د دوی په ملګرو ډیر تکلیفونه راغلل ځکه چه دا حضرات د خپل ښار مکے نه بغیر ماله ویستلے شوے وو. او خپل مالونه اوکورونه ئے د مشرکانو په لاس کښ پریښودلے وو. او مدینه منوره کښ یهودیانو د نبی علیه السلام سره د دشمنئ اعلان کړے وو. الله تعالیٰ د مسلمانانو د تسلئ او د اطمینان دپاره دا آیت نازل کړو. (التفسیر الکبیر) (وکذافی روح المعانی بزیادة)

دآیت مقصد

امام رازی رحمه الله فرمائی. والمقصود من هذه الایة ماذکرنا ان اصحاب الرسول علیه الصلوٰة والسلام کان ینالهم الامر العظیم من البأساء والضراء من المشرکین والمنافقین والیهود ولما اذن لهم فی القتال نالهم من الجراح وذهاب الاموال والنفوس الخ.

یعنی د دے آیت مقصد هم هغه دے کوم چه مونږه بیان کړو چه د رسول ﷺ صحابهٔ کرامو ته د مشرکانو اومنافقانو نه ډیر لوئے تکلیفونه اورسیدل. اوچه کله الله تعالیٰ دوی ته د قتال فی سبیل الله اجازت ورکړو نو په دے کښ به هم دوی باندے دمال او ځان قربانی راتلله اوزخمونه ورته پیښیدل. نو الله تعالیٰ دوی ته تسلی ورکړه او بیان ئے اوفرمائیلو چه د دے نه مخکښے خلقو باندے د دین دپاره دغسے حالات راغلے دی او دا عام قاعده ده چه مصیبت کله عام شی نو اسانیږی. (التفسیر الکبیر)

داووهٔ آیتونو جهادی ربط

د دے آیت او د دے نه پس دځلورو آیتونو د ووچت جهادی شان دمعلومولو دپاره لږشان شا طرف ته لاړ شئ آیت (۲۱۲) (زین للذین کفروا) کښې اوونیلے شو چه ماده پرست کافران د دنیا خلقو لره دمال او دولت په محبت پسے اوتش د ترقئ په نوم پسے راکاږی ځکه چه د دوی په نظر کښې هم دغه کامیابی ده۔ او دوی دد ے خپلے کامیابئ په لاره کښې مسلمانان رکاوټ ګڼړی او دوی پسے توقے کوی او د دوی د شان او دحیثیت رسوا کولو کوشش کوی چه د اسلام دعوت کمزورے شی۔او دوی نه هغه آخرت هیر دے۔ چه په هغے کښې به د مسلمانانو درجه ډیره اوچته وی۔غرض دا چه دولت پسنده کافران به مسلمانان رسوا کوی۔او مسلمانان به ددے دعوت د ښوورولو دپاره د دے رسوائ سره مقابله کوی۔نو لکه چه جنګ یقینی شو۔په آیت (۲۱۳) کښې بیان شو چه ټول انسانان په توحید باندے قائم وو۔الله تعالیٰ کتابونه او پیغمبران راؤ لیږل۔بیا باطل پرسته خلقو دحق سره اختلاف اوکړو او زمکه ئے دضد او اختلاف نه ډکه کړه۔ اوس الله تعالیٰ دا امت رالیږلے دے او دوی ته ئے د حق هدایت ورکړے دے۔اوس به دا امت د زمکے نه دضد او داختلاف ختمولو دپاره محنت کوی او ټول خلق به د هدایت په لاره باندے راولی۔ ښکاره خبره ده چه دضدیانو او اختلاف خوښوونکو خلقو مشران او سرداران به دا خبره چرته برداشت کړی۔ نولکه چه جنګ یقینی شو۔ځکه چه مسلمانان به د سرمایه دارو اوماده پرستو سره هم او د ټولے دنیا د باطلو فرقو سره هم مقابله خامخا کوی۔۔آیت (۲۱۴) کښې اوښودلے شوه چه دجهاد او مقابلے اولنے صفت صبر او استقامت دے۔دے وجهے نه دتیر وخت دکامیابو خلقو واقعات یادکړئ۔او خپل ځان د بزدلئ اوکم همتئ نه بچ کړئ۔او کامیابئ ته رسیدو دپاره داسے عزم نه ډک شئ چه دهر څیز قربانی ورکول آسان شی۔ آیت (۲۱۵) کښې اوښودلے شوه۔چه د ټولے دنیا سره مقابله کول دی او ټولے دنیا کښې دایمان نور خورول دی۔نو دے دپاره دوئم صفت د مالی قربانئ جذبه خپل ځان کښې پیدا کړئ او داحقیقت په زړه کښې کښینوئ۔ چه مال دجمع کولو د پاره نهٔ دے۔ بلکه دخرچ کولو څیز دے۔ په آیت (۲۱٦) سره عزم او همت پیداشو او دځان او دمال د قربانئ جذبه پیدا شوه۔اوس تاسو دقتال د فریضے قابل شوئ۔دے وجهے نه تاسو ته دا نعمت ملاؤ شو چه جهاد فرض شو۔(اوس ټوله دنیا ستاسو ده۔) آیت (۲۱۷) دا جهاد به همیشه جاری وی ځکه چه ستاسو دشمن به هروخت ستاسو

دمرتد جوړولو په کوشش کښ لګیا وی او تاسو سره به جنګ کوی۔ دے وجهے نه تاسو هم د الله د دین دسر بلندئ د پاره جنګ کوئ۔ چه د انفرادی او اجتماعی مرتدکیدو نه بچ شئ۔ یادساتئ چه څوک مرتد شو۔ هغه به په دنیا او په آخرت کښ برباد شی۔ آیت (٢١٨) آزمائش منظور۔ دمال قربانی حاضره۔ هروخت په جهاد کښ مشغول۔ اے زمونږه ربه! مونږ ته به څۀ ملاویږی؟ وے فرمائیل د الله تعالیٰ رحمت او بخشش۔ د الله تعالیٰ د رحمت نه به په دنیا او په آخرت کښ لویه کامیابی نوره څۀ کیدے شی۔

تائیدی عبارت

"پورته چه د آیتونو کوم ربط ذکر شوے دے د هغے په تائید کښ دا عبارت اوګورئ۔"

ړومبے مقصد خودا وو۔ چه توقے کونکے دے بند کړے شی۔ اودوئم دا وو۔ چه د (ګمراه) اهل کتابونه کتاب بچ کړے شی چه خرابول ئے غواړی۔ اوس نتیجه دا را ووته چه دټولو فرقو سره به جنګ کوئ۔ ځکه چه نورے فرقے به د اهل کتابو نه کم دشمنان نۀ وی۔ نو په یو لحاظ سره مسلمانان دټولے دنیا دمقابلے دپاره تیار ولے شی۔ کیدے شی دے خیال سره د مسلمانانو په زړونو باندے بد اثر پیدا شی چه دهغے اصلاح په راتلونکی آیت اَمْ حَسِبْتُمْ والا کښ شوے ده" (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

وزلزلوا او دوی اوجړقولے شو۔

❶ خوفاً من الاعداء زلزالاً شدیدًا وامتحنوا امتحاناً عظیما یعنی د دشمنانو د ویرے نه سخت اوجړقولے شو او لوئے امتحان کښ واچولے شو۔ (تفسیر ابن کثیر)

❷ والمراد خوفوا: یعنی جړقولو نه مراد دادے چه ښۀ اوویرولے شو (چه دخپل دین د نظریئے اوکارنه اوښویږی (تفسیر ابن کثیر)

❸ بأسآء اوضرآء بهرنی تکلیفونه دی او زلزال دهمتونو او د ارادو کمزوروالی او سستیدوته وائی۔ کم همته خلق د پریشانئ په وخت کښ خوږیږی۔ (حاشیه حضرت لاهوری رحمه الله)

مَتٰی نَصْرُ اللّٰهِ ای یستفتحون علی اعدائهم ویدعون بقرب الفرج و المخرج عند ضیق الحال والشدة یعنی رسول (علیه السلام) او دهغۀ ملګرو به د الله تعالیٰ نه دخپلو دشمنانو په مقابله کښ فتحه غوښتله او په سخته تنګئ او سختئ کښ ئے د فراخئ او د خلاصی دعاء کوله۔ (ابن کثیر)

فائده

په دے آیت کښ الله تعالیٰ دوه جدا جدا اصول بیان کړے دی۔ ړومبئ قاعده داده

چه دحق په لاره کښې تکلیفونه راتلل ضروری شے دے۔ ددے نه بغیر کامیابی نهٔ شی کیدے۔ سوره عنکبوت کښې الله تعالیٰ اوفرمایل۔ ترجمه: "آیا خلق گمان کوی چه دوی به صرف په دے وینا پریښودے شی چه مونږه ایمان راوړے دے۔ او د دوی امتحان به نهٔ کیږی۔ اوچه کوم خلق دوی نه مخکښې تیر شوے دی مونږه د هغوی هم امتحان کړے وو۔ پس الله تعالیٰ هغه خلق ضرور معلوموی چه رشتنے دی او هغه خلق هم چه دروغ ژن دی۔ (عنکبوت ۲،۳)۔ یو بل ځائے کښې راغلے دی ان الله اشتریٰ الآیة" ترجمه: "بے شکه الله تعالیٰ د مسلمانانو نه د دوی ځانونه اومالونه په دے قیمت اخستے دی چه د دوی دپاره جنت دے۔ د الله تعالیٰ په لار کښې جنگ کوی بیا قتلول کوی او قتلیږی۔ (التوبه ۱۱۱)۔ بل ئیے دا حقیقت واضح کړو چه د الله تعالیٰ مدد څهٔ وخت نازلیږی ؟ چه ترڅو پورے یو کس خپل ټول قوتونه دهغهٔ په لاره کښې وقف نهٔ کړی مدد به نهٔ رازی۔ هم دے قانون طرفته یئے په سوره یوسف کښې اشاره اوکړه حتی اذا استیاس الرسل وظنوا انهم قد کذبوا جآء هم نصرنا (ترجمه) تر دے چه کله رسولان نا امیده شو او گمان ئے ووکړو لکه چه دوی تیر وتلے دی نو دغه وخت دوی ته زمونږه مدد راغلے۔ (یوسف ۱۱۰) دسوره آل عمران په آخر کښې ئے دگناهونو دکفارے په باره کښې اوفرمائیل چه دا (د گناهونو کفاره) هغه وخت کښې وی چه کله دوی هر څیز په حق لاره کښې قربانوی۔

فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا الآیة: ترجمه : پس چه کومو خلقو هجرت اوکړو۔ او دخپلو کورونو نه اوویستلے شو او زما په لاره کښې ورته تکلیف اورسولے شو۔ او دوی قتلول اوکړل او پخپله هم قتل شو یقیناً زهٔ به د دوی نه د دوی گناهونه ختم کړم۔ (آل عمران:۱۹۵)

پس د اسلام د بچو دپاره ضروری دی چه دوی دے صرف په دعاء باندے بس والے نهٔ کوی بلکه د دعاء سره سره دے د متهود زور نه هم کار اخلی۔ د خلقو د دروغو په وعده دے نهٔ دهوکه کیږی۔ دخپل قوت اظهار دے اوکړی۔ ځکه چه په دنیا کښې صرف هغه قوم همیشه زندگی حاصله کړے ده۔ چاچه د خپلو خپولاسونه کاراخستے دے۔ قدرت هم صرف هغه کس ژوندے ساتی چه ډیر صالح او ډیر تابعدار وی۔ (تفسیر الفرقان)

دعاء

یا الله یا حافظ یا حفیظ یا ناصر یا کریم زمونږه او دټولو مسلمانانو امداد اوکړے۔

آمین یا ارحم الراحمین ☆☆☆

سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ٢١٥

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ

ستا سونه تپوس کوی چه دوی څهٔ شے خیرات کړی اووایه؛ چه کوم مال هم تاسو خیرات کوئ

وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَمَا تَفْعَلُوْا

هغه دمورپلار او د رشتدارو او یتیمانو او محتاجو او د مسافرو د پاره دے او چه کومه نیکی تاسو

مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾

کوئ. بے شکه الله تعالیٰ ته هغه ښهٔ معلومه ده.

نچوړ

مال خیرات کولووالا جوړشئ. او د دے شروع د خپلو رشتدارو نه اوکړئ (چه دوی هم جهاد کښ شریک شی) او مال خیرات کولو کښ د اخلاص خیال اوساتئ چه دچا د رضاء دپاره تاسو خرچ کوئ. هغه ښهٔ خبر دے.

تشریح

یعنی که مال د الله تعالیٰ دپاره خیرات کړو نو چرته او په چا ئے خیرات کړو؟ (فللوالدین الخ) چه کوم خلق ستاسو خواؤشا کښ دی او هغوی ته دجهاد دپاره دتیارئ ضرورت وی. نو هغوی ته ئے ورکړئ. تاسو چه کوم کار دپاره چاته روپئ ورکړے وی که هغهٔ په هغه کار باندے خرچ نهٔ کړے نو په دے به تاسو نهٔ شئ نیولے بلکه تاسو خپل فرض اداکړل.

جمله معترضه

عمروبن جموح رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه څومره خرچ کړو او چا باندے خرچ کړو. په دے باندے جواب ملاؤشو چه کوم مال هم خرچ کوئ. نو دهغے ځایونه دادی. (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

نکته

دجهاد جذبه او دصبر صفت هغه وخت پیداکیږی چه کله زړه دمال دمحبت نه

محفوظ وی او د مال محبت کمیږی دالله تعالیٰ په لاره کښی خرچ کولو سره۔(والله تعالیٰ اعلم)۔

دعاء

یا اول یا آخر! د دنیا دمحبت نه مونږ محفوظ کړه او مونږ ته دآخرت فکر رانصیب کړه۔ آمین یا رب العلمین۔



سُوۡرَةُ الۡبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ | آیت ٢١٦

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٌ لَّكُمۡ ۚ وَعَسٰٓى اَنۡ تَكۡرَهُوۡا شَيۡـئًا

تاسو باندے جهاد فرض شوے دے او هغه تاسو ته ناخوښه دے۔ او کیدے شی چه تاسو یو شے ناخوښه

وَّهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ ۚ وَعَسٰٓى اَنۡ تُحِبُّوۡا شَيۡـئًا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمۡ ؕ

ګنړئ۔ او هغه ستاسو دپاره بهتر وی او کیدے شی چه تاسو خوښوئ یو شے او هغه ستاسو دپاره مضر

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ۝٢١٦

وی او صرف الله تعالیٰ پوهیږی او تاسو نۀ پوهیږئ۔

نچوړ

جهاد یعنی قتال فی سبیل الله مسلمانانو باندے فرض دے۔ چونکه دا فریضه مشکله ده۔ د دے وجهے نه په نفس باندے ګرانه اودرنه معلومیږی۔ خو الله تعالیٰ هم په دے کښں خیر ایښے دے۔ او الله تعالیٰ پوهیږی او تاسو نۀ پوهیږئ چه کوم څیز کښں خیر دے او کوم څیز کښں شر۔

د امام رازی رحمه الله عجیبه تقریر

ومعنی الآیة انه ربما کان الشی شاقا علیکم فی الحال الخ د آیت معنی داده چه ډیر ځلے یو څیز تاسو ته دے وخت کښں درون او ګران معلومیږی حالانکه راتلونکے وخت کښں هغه دعظیم الشانو فائدو ذریعه جوړه شی۔ د مثال په طور تراخهٔ دارو څکل یو ښهٔ کار دے ځکه چه په راتلونکی وخت کښں په دے سره د صحت د ملاویدو امید وی۔ د تجارتی سفرونو خطرے برداشت کول ښهٔ ګڼړلے کیږی ځکه چه په دے سره په مستقبل کښں د نفعے د ملاویدو امید وی۔ د علم حاصلولو مشقت برداشت کول ښهٔ دی ځکه چه د دے سره په مستقبل کښں د دنیا او د آخرت عظیمے نیک بختئ نصیب کیږی۔ په دے آیت کښں بالکل هم دغه منظر دے او هغه داسے چه دجهاد په پریښودو کښں په دے وخت کښں دا فائده په نظر رازی چه بنده په خطره کښں نۀ پریوزی او مال هم دخرچ کیدو نه بچ کیږی۔ خو ورستو په دے کښں ډیر زیات نقصانات دی۔ مثلاً دشمن ته چه کله پته اولګی چه تاسو خلق د عیش او دسکون په شوق کښں پریوتے

یئ۔نو دوی به ستا سو په ښارونو حمله اوکړی او ستاسو دختمولو کوشش به اوکړی۔ بیا یاخو به په تاسو غالب شی اوتاسو به قتل کړی اوستاسو مالونه به په زور واخلی۔یا به تاسو مجبوراً بغیر د سامان او تیارئ د هغهٔ مقابله کوئ۔دابس هم داسے خبره ده۔ لکه څنګه چه یو کس دمرض په شروع کښی د ترخو دارو نه ځان بچ کولو دپاره علاج نهٔ کوی او بیا دغه مرض دومره زیات شی چه د هغے په وجه دا بیمار بیا د ترخو دارو دڅکلونه څو چنده زیات تکلیف زغمی۔ حاصل دکلام دادے چه قتال فی سبیل الله دامن موندلو ذریعه ده۔ او دا دیو وخت د عارضی سلامتیا د مزو حاصلولو نه ډیر بهتر شے دے۔ددے یو څو فائدے دا دی۔

❶ دمال غنیمت ملاویدل۔❷ په دشمنانو باندے دغلبے عظیم الشانه خوشحالی ملاویدل۔او د دے دینی فائدے خو ډیرے زیاتے دی۔ ❶ که جهاد عبادت وګڼړلے شی او خالص د الله تعالیٰ دپاره اوکړے شی اوځهٔ داسے کار اونهٔ کړے شی چه دا خراب کړی نو دا دډیر لوئے اجر اوثواب ذریعه ده۔ ❷ دجهاد دوجهے نه به ستاسو دشمن د دے خبرے نه ویریږی۔ چه په تاسو باندے حمله اوکړی دغه شان به تاسو دمرتد کیدو او د تکلیف اوچتولو نه بچ شئ۔ ❸ دشمن چه کله اووینی چه تاسو د خپل دین دپاره جهاد کوئ او تاسو خپل دین څومره اوچت ګڼړئ او څرنګے د دے دخاطره خپل ځان اومال قربانوئ۔ نود هغهٔ په زړکښی به ستاسو د دین عظمت کښینی۔ او دے به ستاسو دین طرفته مائل شی او مسلمان به شی نو په دے به تاسو د الله تعالیٰ دطرف نه د اجر عظیم حقدار جوړ شئ۔ ❹ چه ترڅو پورے یو انسان ته دالله تعالیٰ د فضل او درحمت یقین نهٔ وی۔او د دے خبرے یقین نهٔ وی چه الله تعالیٰ د محسنینو عمل نهٔ ضائع کوی او د دے خبرے یقین نهٔ وی چه د دنیا لذتونه فانی اوباطل دی نودغه وخته پورے هغه خپل ځان دجهاد میدان ته د شهادت دپاره نهٔ پیش کوی۔نو چه کله یو کس خپل ځان د الله تعالیٰ د رضا دپاره د جهاد میدان ته د شهادت دپاره پیش کړی نو داکس دیقین هغه اعلیٰ درجے ته رسیدلے دے۔او هم دغه دانسان دپاره دتولو نه لوئے سعادت دے۔پس څمونږ د دے تقریر نه داخبره ثابته شوه چه د الله تعالیٰ د دشمنانو سره قتال کول اګرچه په طبیعت باندے درونډ معلومیږی خو په دے کښی ډیر زیات خیر دے۔(التفسیر الکبیر)

اقوال او حوالے

مستندو مفسرینو حضراتو چه د دے آیت په تفسیر کښی څهٔ لیکلے دی په هغے

کښې څو اقوال او حوالې اوګورئ۔

❶ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ تاسو باندې قتال فی سبيل الله فرض شوې دې۔ ای قتال الكفار وهو فرض عين ان دخلوا بلادنا و فرض كفاية ان كانوا ببلادهم يعنى كافرانو سره جنګ کول۔ دا فرض عين دې که کافران څمونږه ښارونو ته داخل شی اوفرض کفايه دې که خپلو ښارونو کښې وی۔(روح المعانی)

❷ وهذا ايجاب من الله تعالىٰ للجهاد على المسلمين ان يكفوا شر الاعداء عن حوزة الاسلام وقال الزهرى الجهاد واجب على كل احد غزا او قعد فالقاعد عليه اذا استعين ان يعين واذا استغيث ان يغيث واذا استنفر ان ينفر وان لم يحتج اليه قعد وقلت ولهذا ثبت فى الصحيح من مات ولم يغز ولم يحدث به نفسه بالغزومات ميتة جاهلية.

يعنى دې آيت کښې دالله تعالىٰ دطرف نه په مسلمانانو باندې جهاد فرض کيږی چه دوی دې اسلام د دشمنانو د شر نه بچ ووساتی۔او امام زهری رحمه الله فرمائی چه جهاد په هريو مسلمان باندې فرض دې که په جنګ کښې مشغول وی اوکه کور ناست وی۔کور کښې ناست کس باندې داسې فرض دې چه کله دې جهاد ته دتعاون دپاره راوبللې شی نو چه تعاون اوکړی چه کله ده ته دمدد فرياد اوکړې شی نو چه سمدستی د فرياد ځائې ته راورسی۔ اوچه کله د مسلمانانو خليفه يا امير ده ته د جهاد دپاره د وتلو ووائی نو چه سمدستی ووزی۔او که د ده ضرورت نۀ وی نو کور کښې ناست وی۔زه وايم چه د دې وجهې نه په صحيح حديث کښې راغلې دی (رسول الله ﷺ اوفرمائيل) چه کوم سړې داسې حال کښې مړشو چه نۀ ده د الله تعالىٰ په لاره کښې جهاد اوکړو اونۀ د ده په زړه کښې ددې شوق راواوچت شو نو دې به دجاهليت په مرګ باندې مړشی۔(تفسير ابن كثير)

❸ فقال قوم انها تقتضى وجوب القتال على الكل وعن مكحول انه كان يحلف عند البيت بالله ان الغزو واجب.

يعنى ديو جماعت وينا ده چه دا آيت تولو مسلمانانو باندې دجهاد فرضيت ثابتوی۔ د مكحول رحمه الله په باره کښې رازی چه دوی به د کعبې په خوا کښې په الله تعالىٰ قسم خوړلو چه جهاد فرض دې۔(التفسير الكبير)

❹ كُتِبَ فرض عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ للكفار كتب يعنى تاسو باندې فرض شوې دی القتال

للکفار کافرانو سره جنگ کول۔(تفسیر جلالین)

❺ وظاهر قوله كُتِبَ انه فرض على الاعيان كقوله كتب عليكم الصيام و كتب عليكم القصاص ان الصلوٰة كانت على المومنين كتا باً موقوتاً وبه قال عطاء قال فرض القتال على اعيان اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم فلما استقر الشرع وقيم به صار على الكفا ية.

یعنی دالله تعالیٰ دفرمان كُتِبَ نه ظاهري طور باندے دجهاد فرض عین کیدل معلومیږی لکه كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ وغیره آیتونو کښ چه دی۔ او هم دغه د عطاء رحمه الله مسلک دے چه قتال دحضور اکرم ﷺ په صحابه کرامو باندے فرض عین وو بیا چه کله اسلامی شریعت ته قوت ملاؤ شونو جهاد فرض کفایه شو (البحر المحیط)

د دے نه پس علامه ابو حیان رحمه الله لیکی

ثم استقر الاجماع على انه فرض كفاية الى ان نزل بساحة الاسلام فيكون فرض عين.

یعنی په دے خبرے اجماع شوے ده چه جهاد فرض کفایه دے تر دے چه اسلامی علاقو ته دشمن راشی نو بیا دا فرض عین شی۔ (البحر المحیط)

❻ هذا هو فرض الجهاد بين سبحانه ان هذا ممامتحنوا به وجعل وصلة الى الجنة والمراد بالقتال قتال الاعداء من الكفار(القرطبی)

یعنی دا د جهاد هغه فریضه ده چه الله سبحانه وتعالیٰ (په دے آیت کښ) بیان فرمایلے ده۔ اوهم دا هغه شے دے چه په دے سره د مسلمانانو (دایمان) امتحان واخستلے شو او دا جنت ته درسیدو ذریعه ووګرزولے شوه او الْقِتَالُ نه مراد کافر دشمن سره جنگ کول دی۔

❼ وقال سعيد بن المسيب ان الجهاد فرض علىٰ كل مسلم فى عينه ابدا حكاه الماوردى قال ابن عطيه :والذى استمر عليه الاجماع ان الجهاد على كل امة محمد صلى الله عليه وسلم فرض كفاية.(تفسیر الامام القرطبی)

یعنی حضرت سعید بن المسیب فرمائی چه جهاد همیشه په هر مسلمان فرض عین دے۔دا قول ماوردی رحمه الله ذکر کړے دے۔ابن عطیه فرمائی چه په دے خبره اجماع را روانه ده چه جهاد دمحمد ﷺ دامت دپاره فرض کفایه دے۔

❽ جهاد فرض دے چه کله د دے شرائط وموندلے شی چه د فقهے په کتابونو کښ ذکر دی۔ اوفرض دوه قسمه دے "فرض عین" او"فرض کفایه" نوکله چه د دین

دشمنان په مسلمانانو باندے را اوخيژی نو بیا فرض عین دے۔ گنی فرض کفایه۔(بیان القرآن)

❾ یعنی ددین د دشمنانو سره جهاد فرض شو(فائده) ترڅو چه حضور پاک ﷺ په مکه کښې وو۔ نو دجنګ اجازت نهٔ وو۔ نو کله چه ئے مدینے ته هجرت اوفرمائیلونو دجنګ اجازت اوشو خو صرف دهغے کفارو سره چه هغوی په خپله د مسلمانانوسره جنګ کولو۔د دے نه پس دټولو کافرانو سره د جنګ کولو اجازت اوشو او جهاد فرض شو۔(تفسیر عثمانی)

❿ سوال پیدا شوے وو چه جهاد به ترڅو پورے وی۔ جواب اوشو چه امن به ستاسو دپاره خرابے نتیجے پیدا کړی۔ د دے وجهے نه دجهاد حکم همیشه دے۔که حیله ګر سړے د جهاد نه د بچ کیدو دحیلے سوچ کوی۔نو د هغهٔ دپاره جواب دے چه جهاد همیشه دپاره او ټولو دپاره لازم دے اګرچه امن خورول ضروری دی۔ خو که د قتال دپاره همیشه تیار نه اوسیدئ نو بدنظمی به خوره شی۔(حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

⓫ چه کله تیاری داسے زور اوشورسره وی نو خودبخود سوال پیداکیږی چه جنګ به څو پورے جاری وی او دا قتل وقتال به کله ختمیږی؟ددے په جواب کښې ئے اوفرمائیل چه جنګ جګړو کښې خوتکلیف ضرور وی۔ دبال بچ نه لرے کیدل وی۔اوآرام سره کیناستل نهٔ نصیب کیږی۔ خو یاد ساتئ چه کوم شے تاسو دخپل نظر دکوتاهئ د وجهے نه دتکلیف ذریعه ګڼړئ هم دغه ستاسو دپاره دخیر اوبرکت ذریعه ده۔ د دے وجهے نه چه تاسو به ژوندی اوسئ اوستاسو قوم ته به همیشه ژندګی نصیب شی۔آرام طلبی او عیش پرستی په ظاهر کښې زړه ته ښه لګی خو ددے انجام دتباهئی او بربادئی نه سوا نور څهٔ نهٔ دی څکه چه ستاسو دانفرادی او اجتماعی ژوند راز هم په دے کښې پټ دے۔سوره انفال کښې ئیے هم ددے باره کښې فرما ئیلی دی ۔

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا يُحۡيِيكُمۡ(الانفال ۲۴)

ترجمه : اے ایمان دارو! د الله او د رسول حکم اومنئ چه کله تاسو هغه کار طرف ته راوبلی چه په هغے کښې ستاسو ژوند دے۔(تفسیر الفرقان)

د جهاد د فرضیت مسئله لاندے لیکلے شوے آیتونو کښې هم ذکر ده۔

البقره (۱۹۰_۲۴۴_۲۵۱) التوبه (۵_۲۹_۳۶_۳۸_۴۱) الحج (۴۰) محمد (۴)۔

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّة — آیت ۲۱۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ؕ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ؕ

دوی ستاسو نه تپوس کوی په عزتمندو میاشتو کښې د جنګ۔ اووایه ؛ په دے کښې جنګ

وَ صَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ كُفْرٌۢ بِهٖ وَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ

لویه (ګناه) ده۔او د الله دلارے منعه کول او دهغهٔ (الله) نه انکار کول او دمسجد حرام

وَ اِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَ الْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ

نه بندول او د دے اوسیدونکی ددے نه ویستل دالله تعالیٰ په نیز ددے نه لویه ګناه ده۔ او فتنه

الْقَتْلِ ؕ وَ لَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ

خود قتل نه هم لوئے جرم دے او دوی به همیشه تاسو سره جنګ کوی تر دے چه

اسْتَطَاعُوْا ؕ وَ مَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَ هُوَ

تاسو دخپل دین نه واړوی که د دوی وس بر شی۔او څوک چه په تاسو کښې دخپل دین نه

كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ۚ

واوړی۔اوبیا دے کافر مړ شی هم داهغه خلق دی چه دچا عمل په دنیا او په آخرت کښې ضائع

وَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾

شو او هم دا دوزخیان دی چه همیشه به په دے کښې اوسی۔

نچوړ

د مکے مشرکانو په دے شور جوړ کړے وو چه حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم په عزتمنده میاشت کښې جهاد کړے دے۔ نو دوی ته اوښودلے شوه چه لږ په خپلو جرمونو باندے نظر واچوئ۔ ❶ خلق دحق دین نه منعه کول ❷ کفر او شرک کښې اخته کیدل ❸ د مسجد حرام نه منعه کول او دا دکفر اوشرک اډه جوړول ❹ حضور پاک ﷺ او صحابه کرام رضی الله عنهم د مسجد حرام نه ویستل حالانکه دوی د دے اصلی وارثان دی۔ ❺ د دین اسلام او مسلمانانو خلاف فتنے جوړول اودطاقت او تشدد په ذریعه خلق مشرکان جوړول۔ دالله په نیز دا جرمونه ډیر زیات

سخت دي۔ او اے مسلمانانو یاد ساتئ ؛ چه دا کافران به تاسو د دین اسلام نه د اړولو دپاره تاسوسره همیشه جنګ کوی ۔که دوی کښې طاقت او قوت وی نو فوراً به تاسو کافر جوړ کړی۔اوس چه په تاسو کښې څوک د دوی اومنی یا د دوی نه اوېرېږی یا دباؤ شي او مرتد شي او بیا ددے کفر او مرتد کیدو په حالت کښې مړشي نو همیشه همیشه به جهنم کښې اوسی۔

تپوس کونکے څوک وو ؟

یَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِیْهِ دوی ستاسنه په عزتمنده میاشت کښې د جنګ په باره کښې تپوس کوی۔ دا تپوس کونکی څوک وو ؟ یو څو اقوال اوګورئ ؟

❶ اختلفوا فی ان هذاالسائل اکان من المسلمین او من الکافرین: یعنی د دے په باره کښې اختلاف دے چه سوال کونکی مسلمانان وو او که کافران۔نو دے کښې دوه قولونه دی۔ړومبے داچه کله دجهاد د فرضیت حکم نازل شو نو صحابه کرامو چونکه مخکښې نه په مسجد حرام کښې او په عزتمنده میاشت کښې جنګ بد ګڼړلو۔نو د دوی په ذهن کښې داسوال پیدا شو۔ چه اوس دا قتال فرض شونو آیا هر ځائے او هر وخت کښې به وی یا څۀ ځایونه او میاشتے د دے نه باهر دی۔بیا دوی درسول اکرم ﷺ نه تپوس اوکړو نو دا آیت نازل شو۔ (تفسیر کبیر) او مسلمانان پوهه کړے شو چه دجهاد حکم دڅومره لویو جرمونو اوڅومره لویو مجرمانو خلاف دے۔داسے مجرمان چه هروخت ستاسو د دین نه د اړولو دپاره ستاسو خلاف جنګ کوی۔

❷ الفریق الثانی وهم اکثرون الخ:یعنی د اکثرو حضراتو رائے داده چه دا آیت د سریۀ عبدالله بن جحش رضی الله عنه په باره کښې نازل شوے دے۔ څنګه چه دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه روایت دے۔حضوراکرم ﷺ دحضرت عبدالله بن جحش رضی الله عنه او دهغۀ ملګروته د ناخوښئ اظهار اوکړو چه تاسو خلقو رجب کښې ولے جنګ اوکړو۔ داحضرات ډیر زیات پریشان او غمګین وو۔ او حضور پاک ﷺ مال غنیمت هم نۀ ووقبول کړے۔نو په دے باندے دا آیت نازل شو۔او د دے حضراتو غم هم لرے شو اوحضور ﷺ مال د غنیمت هم قبول کړو۔(ملخص ازتفسیر کبیر وغیره)

❸ والقول الثانی ان هذا السؤال کان من الکفار...... الخ یو بل قول دادے چه داتپوس

دکفارو دطرف نه وو۔ دوی غوښتله چه که حضور ﷺ دوی ته اووائی چه په عزتمندو میاشتو کښې قتال حلال د ۔نو دوی به په مسلمانانو باندے حمله اوکړی او دوی ته به نقصان اورسوی چونکه وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ کښې دے طرف ته اشاره ده نو دغه وخت الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ کښې اوفرمائیلے شو چه که دوی جنګ کولو نو دمسلمانانو دطرف نه به پوره جواب ورکولے شی۔ (ملخص از تفسیر کبیر)

غوره قول

ټول مفسرین حضرات دا خبره غوره ګڼړی چه دا سوال مسلمانانو وړاندے کړے وو۔ په دے باندے دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه یو صریح روایت هم موجود دے۔

عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما :قال مارایت قو ما خیرا من اصحاب محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم ماسئلوه الاعن ثلاث عشره مسئلة کلهن فی القرآن (قرطبی)

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ما دحضرت محمد ﷺ نه صرف د دیارلسو خبرو په باره کښې سوال کړے وو۔ او هغه ټول په قرآن پاک کښې دی۔په هغے کښې یو يَسْئَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ هم دے۔

داآیت منسوخ دے یانهٔ دے

قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ (تاسو اوفرمایئ چه عزتمندو میاشتو کښې جهاد کول لویه ګناه ده)۔داحکم باقی دے یا منسوخ ؟ په دے باره کښې مشهور قولونه درے دی۔

ړومبے قول

فا لجمهور علی نسخها وان قتال المشر کین فی الاشهرالحرم مباح. (قرطبی)

یعنی دجمهور قول دادے چه دا آیت منسوخ دے او عزت مندومیاشتو کښې دجهاد شروع کول جائزدی۔ بیان القرآن کښې حضرت تهانوی رحمه الله لیکی۔ په روح المعانی او کبیر کښې ئے د دے آیت لاندے او په بیضاوی کښې ئے د سورة براءة د ړومبئ رکوع په تفسیر کښې په دے اجماع نقل کړے ده چه په عزتمندو میاشتو کښې د جنګ حرمت منسوخ دے۔ (بیان القرآن)

یعنی د امت په دے باندے اجماع شوے ده چه اوس په دے میاشتو کښې د اقدامی جهاد حرمت باقی نشته خود دفاعی جهاد په جائز کیدو کښې خو دهیڅ چا اختلاف نشته۔پخپله حضورپاک ﷺ دصلح حدیبیه په موقعه باندے د ذوالقعدے په عزت

مندہ میاشت کښې دخپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه په جهاد اومرګ باندے بیعت اخستے وو۔

قال ابوعبید والناس بالثغور الیوم جمیعاً علیٰ هذا القول یرون الغزو مباحافی الشهور کلها ولم اراحدامن علماء الشام والعراق ینکره علیهم کذلک احسب قول اهل الحجاز والحجةفی اباحته قوله تعالیٰ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ یعني ابو عبیده رضي الله عنه فرمائي چه په جهادي محاذونو او سرحدونو باندے په جنګ کښې اخته تول مسلمانان په دے خبره باندے متفق دي چه جهاد په تولو میاشتو کښې جائز دے اوما دشام او د عراق په عالمانو کښې هیڅ څوک داسے نهٔ دي لیدلے چه په دوی باندے ئے اعتراض کړے وی۔ او زما خیال دے چه د اهل حجا زوهم دغه مسلک دے۔او په تولو میاشتو کښې دجهاد په جائز کیدو باندے دلیل د الله تعالیٰ دا فرمان دے۔ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ (تفسیر کبیر)

دوئم قول

وکان عطاء رحمه الله یقول الآیة محکمة ولایجوز القتال فی الاشهر الحرم فرمائي چه دا آیت محکم دے او عزت مندو میاشتو کښې (اقدامی) قتال جائز نهٔ دے۔(قرطبی)علامه آلوسی رحمه الله دحضرت عطاء رحمه الله د دے قول نقل کولو نه پس لیکی۔ والامةعلیٰ خلافه فی سائر الامصار یعني دامت عمل په تولو ښارونو کښې نن د دے خلاف دے۔(یعني په دے قول باندے څوک عمل نهٔ کوی) (روح المعانی)

د دے قول دلیل

روی جابر قال لم یکن رسول الله صلی الله علیه وسلم یغزو فی الشهرالحرام الاان یغزی: یعني حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په عزت مندو میاشتو کښې جهاد نهٔ کولو سوا د هغے وخت نه چه کله به په دوی باندے حمله اوکړے شوه۔(تفسیر کبیر)

دریم قول

دریم قول د امام رازی رحمه الله دے۔ هغوی فرمائي چه جهاد په تولو میاشتو کښې جائز دے۔او په هیڅ یوه میاشت کښې د دے عام حرمت نهٔ دے نازل شوے۔د دے وجهے نه د آیت منسوخ ګڼړلو ضرورت نشته دے۔او ترڅو چه د دے آیت تعلق دے نو

په دے کښې د يو ے مخصوصے واقعے بيان دے۔ ددے وجهے نه چه قِتَالٍ نکره په سياق داثبات کښې دے۔ په دے وجه په دے کښې يو فرد راتلے شي۔ ټول افراد نۀ شي راتلے۔ والذی عندی ان قوله تعالیٰ قل قتال فيه کبيرهذه نکرة فی سياق الاثبات فيتناول فرداًواحداً ولا يتناول کل الافراد فهذه الآية لادلالة فيهاعلی تحريم القتال مطلقا فی الشهرالحرام فلا حاجةالی تقدير النسخ فيه(التفسيرالکبير) بيان القرآن کښې هم دامام رازی رحمه الله دا قول اخستے شوے دے اوترجمه کښې هم ددے لحاظ ساتلے شوے دے۔ (بيان القرآن)

اعراب

قِتَالٍ فِيْهِ بدل اشتمال دے د "الشهر" نه لکه اعجبنی زيد علمه۔او د وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ عطف په سَبِيْلِ اللهِ باندے دے۔ اوهغه مجروردے دعن دمدخول کيدو د وجهے نه۔خودبعضو په نزد د دے عطف د بِهٖ په ضمير مجرور باندے دے۔ په ړومبی صورت کښې به تقدير داسے شي۔وَصَدٌّ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ او په دويم صورت کښې به داسے شي چه وَكُفْرٌ بِالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ۔

وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ دالله تعالیٰ دلارے نه منعه کول يعنی:

❶ صد عن الايمان بالله وبمحمدعليه السلام يعنی په ا لله تعالیٰ باندے اوپه محمد ﷺ باندے دايمان راوړلو نه بندول۔

❷ صد للمسلمين من أن يهاجروا الیٰ الرسول عليه السلام يعنی مسلمانان د رسول الله ﷺ طرف ته دهجرت نه منعه کول۔

❸ صد المسلمين عام الحديبية عن عمرة البيت: يعنی دحديبيے په کال باندے مسلمانان دعمرے نه بندول۔ په دے باندے دا اشکال دے چه داآيت د بدر د غزا نه مخکښې سريۀ عبدالله بن جحش په موقعه باندےنازل شوے دے۔ حالانکه د حديبيے واقعه ډيره ورستو يعنی شپږمه ٦ هجرئ کښې شوے ده ۔د دے جواب داکيدے شي چه چونکه دا واقعه دالله تعالیٰ دعلم مطابق کيدو والا وه۔ د دے وجهے نه دا داسے حساب شوه لکه چه شوے ده۔ (التفسيرکبير) صاحب دبيان القرآن ليکی

دصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ مطلب دے ددين نه منعه کول او بندول۔ ولم يحمل علی صدالمسلمين عام الحديبية لان الحديبية بعد بدر وهذه الايةقبل بدر.يعنی د دے نه د حديبيے واقعه مراد کول نۀ شي کيدے (په هغے کښې مشرکانو مسلمانان د بيت الله نه منعه کړے وو) ځکه چه حديبيه دبدر نه ورستو وه۔ او دا آيت د بدر نه مخکښې نازل شوے دے۔(بيان القرآن)

علامه آلوسی رحمه الله په دے آیت کښې د سبیل الله په معنی کښې څلور اقوال ذکر کړے دی۔ ❶ اسلام۔ دا دمقاتل رحمه الله قول دے۔ ❷ حج۔ دا دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه او د سدی رحمه الله قول دے۔ ❸ هجرت۔ ❹ هر هغه طاعت اونیکی چه بنده الله تعالیٰ سره یو ځائے کوی۔

د مکے مشرکانو مسلمانان د دے څلورو واړو نه منعه کول۔(روح المعانی)

وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ او خلق د دین نه گمراه کول د قتل نه ډیر زیات لوئے جرم دے۔ که دا گمراه کول په زور۔ زبردستئ۔ اوظلم او تشدد سره وی۔ یا په قوت۔ شوکت او د مال په ذریعے سره وی۔ یا که د فحاشئ۔ د بے حیائی او د ثقافت په حملے سره وی۔ حضرت امام رازی رحمه الله د دے آیت په تفسیر کښې د فتنے د لفظ مکمل تحقیق پیش کړے دے۔ د علم خاوندان دے په تفسیر کبیر کښې اوگوری۔

مسلمانانو ته ضروری یاد گیرنه

ارشاد ووشو ولا یزالون یقاتلونکم حتی یردو کم عن دینکم ان استطاعوا.دا کافران به تاسو مسلمانانو سره همیشه جنگیږی تردے چه تاسو دخپل دین نه واړوی که د دوی وس برشی۔

❶ والمقصود الاخبار بدوام عداوة الکفار بطریق الکنایة تحذیر اللمومنین عنهم وایقاظالهم الی عدم المبالاة بموافقتهم فی بعض الامور (روح المعانی)

یعنی ددے جملے مقصد مسلمانانو ته ددے خبرے خبر ورکول دی چه کافران د دوی سره همیشه د شمنی ساتی۔اوپه دے اشارے سره مسلمانان هوښیار او بیدار ولے شی چه که کافران بعضے څیزونو کښې د دوی سره موافقت هم اوکړی۔نو مسلمانان دے ورته اهمیت نۀ ورکوی۔ او دکافرانو د دشمنئی نه دے نۀ غافله کیږی۔

❷ ونظیره قوله تعالیٰ وَلَنْ تَرْضَىٰ عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ (کبیر) د دے آیت په مثال دا آیت دے۔

ترجمه :اوستاسو نه به چرے هم نۀ یهودیان راضی شی اونۀ عیسایان۔ ترڅو چه تاسو د دوی په مذهب پسے روان نۀ شئ۔

إِنِ اسْتَطَاعُوا کښې استبعاد دے۔یعنی مسلمانان دخپل دین نه لرے کول څۀ آسان کار نۀ دے۔استبعاد لاستطاعتهم (تفسیر کبیر)

دارتداد بحث

د دے آیت دلاندے تولو لویو مفسرینو دمرتد کیدو بحث فرمایلے دے۔او دمرتد

حکمونه ئې ذکر کړې دي۔شوق مند حضرات دې رجوع اوفرمائي۔

فائده

په دې آيتونو کښې ووښودلې شوه۔چه د اسلام مخالفين به هميشه بغض او دشمني ښکاره کوي۔او د دوی به په هر وخت کښې داکوشش وی چه تاسو دحق دين نه واړوي۔د دې وجهې نه مسلمانانو له هم هميشه دجنګ دپاره تيار اوسيدل ضروري دي۔پس معلومه شوه چه جنګ به هميشه وی۔نو هم د دې دپاره رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه جهاد به د قيامته پورې جاري وی۔ (او کما قال)

قرآن حکيم کښې بل ځائې کښې راغلي دي چه دجنګ د ختميدو وخت دا دې چه حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا (سورةمحمد۴)
جنګ اوکړئ تر دې چه جنګ ختم شي يعني ترڅو چه جنګ کولو والا ظالمان حرصناک قومونه باقي دي۔ نو په ټوله دنيا کښې د صلحې او د امن د حاصليدو څه اميد نيشته دې۔په دې وجه اول په دې قومونو باندې ګزرا کاړئ۔ اوبل ځائې راغلي دي حَتّٰى اِذَاۤ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ (سورة محمد۴) تر دې اوجنګيږئ چه جنګي د شمنان چوري چوري شي۔ د قاتلانو وينه چه ترڅو نۀ وی بيهولې شوې نو د مقتولانو وينې نۀ شي بنديدلې۔نوترڅو چه دنيا د جنګ نه او دجنګ د اسبابو نه بنده نۀ شي نو مسلمانان به هم جنګ ضرور کوي۔جنګ صرف هغه وخت ختميدې شي چه ټوله دنيا د امن او د وروروليئ اسلامي دعوت ته سر ښکته کړي۔

هُوَ الَّذِيْۤ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَ دِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَ لَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ (الصف۔۹)
ترجمه: هم دغه ذات دې چه خپل رسول ئې هدايت او ريشتينې دين سره راوليږه۔ د دې دپاره چه دا په ټولو دينونو باندې غالب کړي اګرچه مشرکين ئې نۀ خوښوي۔ (تفسير الفرقان)

نکته

په دې آيت کښې ارشاد اوشو چه کافران به هميشه تاسوسره څکه جنګ کوي چه تاسو د دين نه واړوي اومرتد موکړي۔ د دې نه پس ئې سمدستي اوفرمائيل چه څوک په تاسو کښې مرتد شواو دکفر په حالت کښې مړشو۔نو د ده ټول اعمال به په دنيا او په آخرت کښې ضائع شي۔او دې به هميشه دپاره جهنم ته لاړشي۔په دې کښې دې خبرې طرف ته واضحه اشاره ده چه کـه دکافرانو دجنګ جواب په جهاد سره ورنۀ

کړے شی۔نو په مسلمانانو کښ ارتداد خوریدے شی۔ دغه جه ده چه مسلمانانو کله د جهاد نه مخ اړولے دے۔نو په دوی کښ کفر او مرتدوالے په تیزی خور شوے دے۔ د افریقے نه واخلے ترسویت یونین پورے او د برصغیر نه ترسپین پورے یودغم او درد تاریخ دے۔بل طرف ته د بعضے مفسرینو داخیال هم دے چه مسلمانان که جهاد پریږدی نو دوی به په بزدلۍ او دنیا پرستۍ کښ دومره وړاندے لاړ شی چه دکفر د حده پورے به اورسی او د عیش پرستۍ او د بے دینۍ د فتنو به ښکار شی۔ او مرتد کیدو طرفته به روان شی۔العیاذبالله . .العیاذبالله۔(والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم)

دعاء

یا حی یا قیوم !مونږه ټولو مسلمانانو ته په دین اسلام باندے استقامت راکړے۔او مونږه د دے دین نه یو شړ شئی برابر هم دکږیدو نه بچ کړے۔

الهم یا مقلب ا لقلوب ثبت قلوبنا علیٰ دینک (آمین یا ارحم الراحمین)



د حضرت عبدالله بن جحش رضی اللہ عنہ سریه

تعارف

د سورۀ بقرے ۲۱۷ او ۲۱۸ رقم آیتونه د سریۀ عبدالله بن جحش رضی الله عنه په باره کښی نازل شوے دی۔ د دے مبارک جهادی جنګ څۀ تفصیل ستاسو خدمت کښی حاضر دے۔
(ماخوز از سیرت مصطفی صلی اللہ علیہ وسلم۔ حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمہ اللہ)

د سنوان د غزا نه دواپسۍ نه پس د رجب په میاشت کښی په دوئمه هجرۍ کښی رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم عبدالله بن جحش رضی الله عنه د نخلے مقام طرف ته وولیږلو او یوولس(۱۱) مهاجرین ئے ورسره کړل چه د هغوی نومونه دا لاندے دی

1. ابو حذیفه بن عتبه رضی اللہ عنہ
2. عکاشه بن محصن رضی اللہ عنہ
3. عتبه بن غزوان رضی اللہ عنہ
4. سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ
5. عامر بن ربیعه رضی اللہ عنہ
6. واقد بن عبدالله رضی اللہ عنہ
7. خالد بن بکیر رضی اللہ عنہ
8. سهیل بن بیضاء رضی اللہ عنہ
9. عامر بن ایاس رضی اللہ عنہ
10. مقداد بن عمرو رضی اللہ عنہ
11. صفوان بن بیضاء رضی اللہ عنہ

دا یوولس (۱۱) مهاجرین دوی سره وو او دولسم پخپله د قافلے امیر عبدالله بن جحش رضی الله عنه وو۔ د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په یوه سریه کښ زمونږ دلیږلو اراده اوکړه او وے فرمایل چه تاسو باندے به داسے کس امیر جوړووم چه تاسو ټولو کښ په لوږه اوتنده ډیر صابره وی۔ د دے نه پس ئے عبدالله بن جحش رضی الله عنه زمونږه امیر جوړ کړو۔ دا په اسلام کښ رومبے امیر وو۔ په معجم طبرانی کښ په حسن سند سره د جندب بجلی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ کله عبدالله بن جحش رضی الله عنه روان کړو۔ نویو لیکلے شوے خط ئے ورکړو او دا حکم ئے ورته ورکړو چه ترڅو تاسو د دواؤ ورځو فاصله نهٔ وی وهلے نو هغے وخته پورے به خط نه پرانزئی او نهٔ به ئے ګورئ۔ د دواؤ ورځو مزل کولو نه پس دا خط اوګورئ اوچه په دے کښ څهٔ لیکلے وی۔ په هغے عمل اوکړئ۔ اوخپلو ملګرو کښ څوک مهٔ مجبوره کوئ۔

د دواؤ ورځو مزل کولو نه پس عبدالله بن جحش رضی الله عنه د دوی خط مبارک پرانستو۔ او وے کتلو نو په هغے کښ دا لیکلے شوے وو چه تاسو روان اوسئی۔ تر دے چه دمکے اوطائف په مینځ کښ مقام نخله ته وورسیږئ۔ نو کوز شئ۔ او د قریشو انتظار کوئ۔ او د دوی د خبرونو نه ځان خبروئ۔

عبدالله بن جحش رضی الله عنه چه دا خط اولوستهٔ نو وے وئیل سمعاً وطاعةً ما ستاسو حکم واؤریدلو او وومے منلو او ټول ملګری ئے د دے مضمون نه خبر کړل۔ او دا ئے هم اووئیل چه څهٔ په تاسو کښ څوک نه مجبوره کوومه۔ دچا چه شهادت خوښ وی۔ ماسره دے لاړشی۔ نو ټولو د زړه په خوشحالئ د دوی ملګرتیا منظوره کړه۔ او دوی سره شول۔

لاره کښ د سعد او د عتبه اوښ ورک شو۔ چرته لاړو۔ د دے وجهے نه دا حضرات د اوښ په تلاش کښ ورستو پاتے شول۔ او ورک شول۔ اوباقی حضرات مقام نخلے ته اورسیدل اوقیام ئے اوکړو۔ (فتح الباری ص ۱۴۳، ج ۱ باب مایذکرفی المنا ولة وکتاب اهل العلم الی البلدان ۱۲ وعیون الاثر و زر قانی ص ۳۹۷، ج ۱)

په اسلام کښ رومبے غنیمت

د قریشو یوه تجارتی قافله د شام نه مکے ته واپس راتلله۔ په دغه ورځ د رجب الحرام آخری تاریخ وو۔ (په دے میاشت کښ قتل و قتال حرام وو) مسلمانانو په دے

شک چه دا د شعبان وروستۍ ورځ ده. نو په دغه قافله باندے حمله ئے ووکړه. واقد بن عبدالله رضی الله عنه د قافلے په مشر په عمرو بن الحضرمی باندے یو غشے ورخطا کړو چه هغے سره هغه مړ شو. او مسلمانانو د قافلے په ټول مال اواسباب باندے قبضه ووکړه. اوعثمان بن عبدالله اوحکم بن کیسان ئے گرفتار کړل. دغه وخته پورے دَغنیمت دَتقسیم په سلسله کښې څه حکم نۀ وونازل شوے. عبدالله بن جحش رضی الله عنه صرف په خپل اجتهاد سره څلورخمسه په مجاهدینو کښې تقسیم کړل او پنځمه حصه ئے حضورپاک ﷺ دپاره پریښودله. چه کله مدینے ته راوورسیدل اوحضوراکرم ﷺ ته ئے اطلاع ورکړه. نو هغوی ووفرمائیل چه ماخوتاسو ته په عزتمنده میاشت کښې د جنگ کولو حکم نۀ ووکړے. خیر چه ترکومے وحی نۀ وی راغلے نو مال غنیمت اوقیدیان په حفاظت کښې ووساتئ. په دے باندے عبدالله بن جحش رضی الله عنه او د دۀ ملگری ډیر پښیمانه شول. دے خوا مشرکانو اویهودیانو دا وئیل شروع کړل چه محمد(ﷺ) او د دۀ ملگرو په عزتمنده میاشت کښې جنگ رواکړو. په دے باندے دا آیت نازل شو(سورة البقره ۲۱۷)

د ترجمے مفهوم

"تاسو نه په عزتمنده میاشت کښې دجنگ په باره کښې دوی تپوس کوی. نو تۀ جواب کښې ووایه چه بے شکه په عزتمنده میاشت کښې په قصد سره قتال کول لویه گناه ده. خودخدائے پاک دلارے نه خوک بندول او په خدائے پاک باندے کافر کیدل او د مسجد حرام نه خلق بندول او دَحرم اهل خلق دحرم نه ویستل د الله تعالیٰ په نیز دټولو نه زیات سخت اولوے جرم دے. او دکفر اوشرک فتنه دټولو نه لویه ده. او دا کافران به تاسو سره جنگ کوی چه تاسو دخپل دین نه واړوی په دے شرط چه که په دوی کښې طاقت وی."

خلاصه دا شوه چه که په خطا سره او په ورځو کښې په تیروتو سره په عزتمنده میاشت کښې قتل ووشو نو داخه دومره لویه خبره نۀ ده. خو کفر اوشرک او مسلمانان د مسجد حرام نه بندول خوامخواه یوه لویه فتنه ده. چه دے نه لوے جرم نشته دے. عبدالله بن جحش رضی الله عنه اودهغۀ ملگرو چه دا آیت واوریدلو. نو خوشحاله شو. اوس د دے نه پس عبدالله بن جحش رضی الله عنه او ددۀ ملگرو ته د ثواب طمعه پیدا شوه. نو عرض ئے ووکړو چه یارسول الله ! آیا مونږه په دے غزا

باندے څۀ داجر امید ساتلے شو۔ په دے باندے داآیت نازل شو۔(سورة البقره ۲۱۸)

چه د ترجمے مفهوم ئے داسے دے۔یقیناً چه کومو خلقو ایمان راوړے دے اوهجرت ئے ووکړو اوداللہ تعالیٰ په لاره کښ ئے جهاد ووکړو۔ داسے خلق یقیناً دالله تعالیٰ درحمت امید کولے شی۔

دا په اسلام کښ رومنے غنیمت وو۔ او عمرو بن حضرمی رومبے مقتول وو۔ چه د مسلمانانو دلاسه قتل شو۔قریشو دَعثمان بن عبدالله او دَحکم بن کیسان فدیه ووليږله۔خو حضور پاک ﷺ ووفرمائیل چه ترکومے ځما دوه ملگری سعد او عتبه واپس رانۀ شی۔ هغے وخته پورے څه ستاسو قیدیان نۀ شم پریښودے۔ ځکه چه ماته ویره ده۔چه تاسو چرته هغه قتل نه کړئ۔ او که تاسو هغه قتل کړل نو زه به هم ستاسو قیدیان قتلوم۔ دے نه لږے ورځے پس سعد اوعتبه واپس راغلل۔نو حضورپاک ﷺ فدیه واخیستله او قیدیان ئے پریښودل۔عثمان چه څنگه آزاد شو نومکے ته واپس لاړو اوهم هلته په مکه کښ کافر مړشو۔ اوحکم بن کیسان مسلمان شو او بس په مدینه کښ پاتے شو تردے چه د بیر معونه په غزا کښ شهید شو۔

او په دے باره کښ عبدالله بن جحش رضی الله عنه دا اشعار وویل۔

تَعُدُّوْنَ قَتْلاً فِي الْحَرَامِ عَظِيْمَةً

وَاَعْظَمُ مِنْهُ لَوْ يَرَىٰ الرشدرَا شِدُ

صدودُكُمْ عَمَّا يقول مُحَمَّدُ

وَكُفرٌبه والله رَاءٍ وشَاهدُ

تاسو خلق په عزتمنده میاشت یعنی په رجب کښ قتل وقتال لویه خبره گنړئ۔حالانکه محمد ﷺ چه کوم ارشاد فرمائی دهغے نه بندول اوپه هغے باندے کافر کیدل د دے نه ډیره لویه خبره ده۔کاش چه چا هوښیا رو دے ته لږ خیال کولے او الله تعالیٰ ښۀ لیدولو والا دے اوښۀ کتلو والا دے۔

واخراجكم من مسجد الله آ هْلَهٗ

لِئَلَّا يُرىٰ فِي الْبَيْتِ لِلّٰهِ سَاجِدُ

اوتاسو چه الله والا دَالله دکور نه وویاسئی چه الله تعالیٰ ته سجدے کولو والا په نظر رانۀ شی۔داهم په عزتمنده میاشت کښ د قتال کولو نه ډیره لویه خبره ده۔

فانا وان عيرتُمُوْنَا بِقَتْلِه

وَاَرْجَفَ بِالاسلام باغٍ وحاسدٌ
سَقَيْنَا مِنِ ابْنِ الحضرمی رِمَاحَنَا
بِنَخْلَةَ لما اوقد الحربَ وَاقِدٌ
دماوا بن عبد الله عثمان بيننا
ينازعه غُلٌّ من القيد عَانِدٌ

تاسو اگر که مونږ ته په دے قتل پیغور راکوئی اوحاسدان خلق داسلام متعلق هر څومره دروغ خبرے خورے کړی۔ خو زمونږه په دے پرواه نشته۔یقیناً مونږ د عمرو بن حضرمی په وینو باندے خپلے نیزے په مقام نخله کښې مرے کړلے۔او واقد بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنه دجنګ اُور بل کړو۔اوعثمان بن عبدالله څمونږ سره قید وو چه بیړو او زولنو ځان ته رابنکلو۔

الحاق

مصنف رحمه الله دا خبره غوره کړے ده چه داجنګ د رجب په آخری تاریخ باندے ووشو۔خود نورو مفسرینو او مورخینو په نیز باندے دا سریه په جمادی الاخریٰ کښې روانه شوے وه۔ او دوی ته شک دا وو چه د رجب شروع شوے ده که نۀ ده شوے۔ والله اعلم بالصواب



سُورَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۱۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ

بے شکه چه کومو خلقو ایمان راوړو۔ او کومو خلقو چه هجرت اوکړو۔ او د الله تعالیٰ په لاره کښې ئے جهاد

اللّٰهِ أُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۱۸﴾

اوکړو۔ هم دغه د الله تعالیٰ د رحمت امیدوار دی او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے بے حده مهربان دے۔

نچوړ

دایمان نه پس هجرت او جهاد ډیر اوچت نعمتونه دی چا ته چه دا نعمتونه نصیب شی۔ هغوی د الله تعالیٰ د رحمت امید واروی او دهغوی دپاره دغفور رب دطرفنه بخښنه او غټ رحمت دے۔ په دے وجه د عبدالله بن جحش رضی الله تعالیٰ عنه د قافلے مجاهدین دے خوشحاله شی چه دوی ته د جهاد سعادت حاصل شو۔ او ناامیده کیدل نۀ دی پکار۔

شان نزول او اقوال

❶ اخرج ابن ابی حاتم والطبرانی فی الکبیر من حدیث جندب بن عبدالله انها نزلت فی السریة لما ظن بهم انهم ان سلموا من الاثم فلیس لهم اجر (روح المعانی)

یعنی دا آیت هم د سریۀ عبدالله بن جحش رضی الله تعالیٰ عنه په باره کښې نازل شو کله چه ددغه مجاهدینو په باره کښې دا گمان اوکړے شو چه دوی د گناه نه خو بچ شو خو دوی ته به اجر نۀ ملاویږی۔ (په دے باندے دا آیت نازل شو او د اجر وعده ورسره ووشوه)۔

❷ ان عبدالله بن جحش رضی الله تعالیٰ عنه قال یا رسول الله هب انه لاعقاب علینا فیما فعلنافهل نطمع منه اجرًا وثوابا فنزلت هذه الآیة لان عبد الله کان مومنا وکان مهاجرا وکان بسبب هذه المقاتلة مجاهداً (التفسیر الکبیر) یعنی عبدالله بن جحش رضی الله تعالیٰ عنه عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ:

دا خبره خو اوشوه چه په مونږ باندے د دے جنگ په باره کښې څه گناه نیشته۔ خو مونږ د دے نه د جهاد دَاجر او ثواب طمعه لرلے شو؟ په دے باندے دا آیت نازل شو۔ ځکه چه عبدالله بن جحش رضی الله تعالیٰ عنه مومن هم وو۔ او مهاجر

هم وو۔ او د دے جنگ په برکت سره مجاهد هم شو۔

❸ انه تعالیٰ لما اوجب الجهاد الخ یعنی چه کله الله تعالیٰ کتب علیکم القتال فرمائیلو سره قتال فرض کړو۔ اوبیان ئے اوکړو چه ددے پریخودل دسزا سبب دے۔ نو د دغے نه ئے فوراً وروستو په دے آیت کښ دهغه خلقو اجر اوخودلو کوم چه به د جهاد حکم منی اوپه دے باندے به عمل کوی۔په قرآن پاک کښ چه چرته هم وعید راځی۔نودهغے نه پس فوراً وعده هم بیانولے شی (تفسیر کبیر)

❹ واخبران لهم ثواب من هاجرو غزا۔ (القرطبی)

یعنی سریه عبدالله بن جحش رضی الله تعالیٰ عنه کښ شرکت کولو والا حضرات ډیر زیات خفه وو۔الله تعالیٰ ددے آیت په ذریعه دهغوی غم لرے کړو اوښکاره ئے کړه چه دوی ته به دهجرت او دجهاد ثواب ملاویږی۔

نکته

په دے دواړو آیتونو کښ دهجرت او دجهاد معنیٰ بالکل واضحه ده۔سیاق وسباق اوشان نزول مکمل طور باندے هم دغه معنی ښائی۔ او که چرے دجهاد نه صرف جهد محنت اومشقت مراد واغشتے شی۔نو هغه په اٰمَنُوْا او هَاجَرُوْا کښ هم راغے په ایمان اوهجرت دواړو کښ سخت محنت اومشقت وو۔نو بیا دبیل وَجٰهَدُوْا وئیلو څه حاجت پاتے شو۔(نود تفسیر ماجدی د تقریر سره اتفاق ممکن نه دے) (والله اعلم بالصواب)

د قرآن مجید په مماثل آیتونو کښ په دے آیتونو کښ هم هجرت اوجهاد یو ځائے بیان کړے شوے دے۔

آل عمران (۱۹۵) الانفال (۷۲۔۷۴۔۷۵) التوبه (۲۰۔۱۱۷) النحل (۱۱۰) الحج (۵۸)



دا دریواړه قولونه امام رازی رحمه الله په تفسیر کبیر کښی نقل کړے دی۔

فائده

نۀ د جهاد په وجه مونځ معاف دے۔او نۀ دَ مونځ په وجه جهاد معاف دے۔ دواړه ادا کول دی او دواړه جوړه کول دی۔ هم په دے وجه د "صلوٰة الخوف " تفصیلی احکامات په قرآن پاک کښی بیان شوی دی۔ دسورة النساء آیت (۱۰۱ نه ۱۰۳) پورے اوګورئ۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

د خندق د غزا په موقعه باندے دپیغمبر علیه السلام او د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم څو مونځونه پاتے شوے وؤ چه پیغمبر علیه السلام د شپے دآذان او اقامت سره په جمعه باندے اداکړل۔(تفسیر روح المعانی)

امام قرطبی رحمه الله فرمائی

الصلوٰة اصلها الدعاء وحالة الخوف اولیٰ بالدعاء فلهذا لم تسقط الصلوٰة بالخوف الخ(قرطبی)

یعنی مونځ په حقیقت کښی دعاء ده۔ او د ویرے حالت خو د دعاء دپاره ډیر موزون دے۔ په دے وجه د ویرے په وجه مونځ نۀ معاف کیږی۔ اوچه د ویرے په وجه نۀ ساقطیږی نو دمرض په وجه خو خا مخا نۀ ساقطیږی۔



سُوۡرَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۴۳

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ خَرَجُوۡا مِنۡ دِيَارِهِمۡ وَهُمۡ اُلُوۡفٌ حَذَرَ

آیا تاسو هغه خلق نهٔ دی لیدلے چه دمرګ د ویرے نه دخپلو کورونو نه راووتل۔ حالانکه

الۡمَوۡتِ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوۡتُوۡا ثُمَّ اَحۡيَاهُمۡ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوۡ

هغوی په زګونو وو۔ بیا الله تعالیٰ دوی ته اوفرمایل چه مړهٔ شئ۔ بیا ئے ژوندی کړل۔ بے

فَضۡلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَشۡكُرُوۡنَ ﴿۲۴۳﴾

شکه الله تعالی په خلقو باندے فضل والا دے۔ خو ډیر خلق شکر نهٔ کوی۔

نچوړ

مسلمانو ته دجهاد یعنی قتال فی سبیل الله حکم ورکولو نه وړاندے یو وا قعه واوروله شوه۔ چه پخوا څه خلق دځان بچ کولو دپاره اوتختیدل۔ خو ټول مړهٔ شول۔ بیا الله تعالیٰ هغوی ژوندی کړل۔ نو معلومه شوه چه دمرګ نه دتیښتے څه فائده نیشته دے۔ الله پاک که اوغواړی نو دبچ کیدو په ځائے به دے مړکړی۔ او د مړکیدو په ځائے به دے بچ کړی۔ بندیګانو له پکاردی چه که د ځان د بچ کولوفکر کوی نو د دے په ځائے دے د الله پاک د جهاد حکم پوره کړی۔ دے دپاره چه ددے په ذریعه دَالله تعالیٰ فضل حاصل کړی۔ خو ډیر خلق شکر ګذاره نهٔ دی۔

مختصره قصه

حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله تعالیٰ لیکی دا قصه په وړاندینی امت کښی شوے وه چه څو زره کسانو بال بچ سره خپل وطن پریخودو او لاړل۔ دوی باندے د دشمن دَحملے ویره وه۔ او دوی د جهاد نه دبچ کیدو دپاره اوتختیدل۔ یا د وبا نه ویریدل او په تقدیر ئے یقین نهٔ وؤ۔ نو یو ځائے ته چه اورسیدل ټول مړهٔ شو۔ بیا اووه ورځے پس دپیغمبر په دعا باندے ژوندی شو۔ دپاره ددے چه بیا دپاره توبه کړی۔ دلته ئے د دغے وجے نه اوفرمائیل چه جهاد نه تختیدل بے کاره دی۔ مرګ څوک نهٔ پریږدی۔ (موضح القرآن)

اقوال او حوالے

امام رازی رحمه الله فرمائی چه د دے واقعے په باره کښی ډیر روایتونه دی۔

❶ قال السدی رحمه الله کانت قریة وقع فیها الطاعون الخ:

ددے روایت نـچوړ دادے چه یو کلی کښې یوه پیره دطاعون وبا راغله څه خلق ووتختیدل او څه پاتے شو کله چه وبا ختمه شوه او تختیدلی خلق واپس راغلل نو پاتے شوے ناجوړه خلقو او وے چه ارمان دے چه مونږه هم تختیدلے وو نو ناجوړه شوے به نهٔ وو۔ بلے پیرے له چه کله طاعون راغے نو زیات خلق ووتختیدل چه دهغوی تعداد ډیر شو زرو نه زیات وو۔ الله پاک دوه فرشتے راولیږلے چه هغوی د موتوا (مړه شئ) اعلان اوکړو۔ نو ټول مړهٔ شو او بدنونه ئے سخا شو۔ د الله تعالیٰ یو پیغمبر چه نوم ئے حزقیل علیه السلام ښودلے کیږی۔ په دغه ځائے تیر شو۔ نو الله تعالیٰ هغهٔ ته اوفرمائیل چه که تهٔ غواړے نو څه به تاته اوښائم چه څهٔ څنګه مړی ژوندی کوم هغهٔ عرض اوکړو چه زهٔ غواړم نو الله تعالیٰ ددغه خلقو هډوکی دوباره یو ځائے کړل او ژوندی ئے کړل۔ بیا دے خلقو دخپل ژوند موده پوره کړه۔ (تفسیر کبیر)

❷ قال ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ان ملکا من ملوک بنی اسرائیل امر عسکره بالقتال فخافو االقتال الخ.

د دویم روایت نـچوړ دادے چه حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه د بنی اسرائیلو یو بادشاه خپل لښکر ته د جهاد حکم اوکړو نو هغه خلق د جنګ نه اوویریدل او په وئیلو سر شو۔ چه داکوم ځائے ته به مونږ جهاد له ځو۔ هلته خو وبا خوره ده تر کومے چه وبا ختمه شوے نهٔ وی۔ مونږه نه ځو نو الله تعالیٰ دے ټولو ته مرګ راوستهٔ۔ دوی اتهٔ ورځو پورے مړهٔ پراته وؤ۔ تردے چه بدنونه ئے اوپړسیدل۔ بیا اتهٔ ورځے پس الله پاک دوی ژوندی کړل۔ خو د دوی په بدنونو کښې دبوئی اثر پاتے شو او هغه تر نن ورځے پورے د دوی په اولاد کښې شته۔

❸ ان حزقیل النبی علیه السلام ندب قومه الی الجهاد فکرهوا وجبنوا فارسل الله علیهم الموت الخ.

یعنی حضرت حز قیل علیه السلام خپل قوم (بنی اسرائیلو) ته دجهاد دعوت ورکړو۔ دے خلقو دا خبره خوښه نهٔ کړه او بزدلی ئے ووکړه۔ الله پاک دوی ته مرګ راولیږهٔ۔ کله چه دوی ډیر زیات مړه کیدل شروع شو نو دمرګ د ویرے ئے خپله علاقه پریخوه او تښتیدل ئے شروع کړل

کله چه حضرت خرقیل علیه السلام دا صورت حال اولیدهٔ نو داسے دعاء ئے

اوفرمائیله۔اے زمونږ پروردګاره ؛ اے دیعقوب علیه السلام او دموسیٰ علیه السلام ربه ؛تا د دے خپلو بندیګانو نافرمانی اولیده۔نو ته دوی ته هم د دوی په بدنونو کښ خپله داسے څۀ نشانی اوښایه چه هغے سره دوی پوه شی۔چه ستا قدرت خامخا نا فذ کیږی۔او دا خلق ستا د قدرت د قبضے نه تښتیدے نۀ شی (دا دعاء قبوله شوه)

الله تعالیٰ دوی ته مرګ راوستۀ۔بیا حضرت حزقیل علیه السلام ته د دوی په مرګ باندے خفګان اورسیدۀ ۔ نو هغوی بیا دعاء اوکړه نو الله تعالیٰ دوی ژوندی کړل۔(تفسیر کبیر)

جامع قول

امام قرطبی رحمه الله د دے آیت په باره کښ د ډیرو قولونو د ذکر کولو نه پس لیکی۔ وانما اللازم من الآیة ان الله تعالیٰ أخبر نبیه محمدًا صلی الله علیه وسلم اخبارًا فی عبارة التنبیه الخ یعنی په آیت کښ چه کومه اصل او ضروری خبره ده نو هغه داده چه الله تعالیٰ خپل نبی حضرت محمد ﷺ ته د یو داسے قوم د کسانو خبرورکړے دے ۔ چه هغوی دخپلو کورونونه دمرګ د ویرے نه اووتل۔نو الله تعالیٰ هغوی مړۀ کړل۔او بیا ئے ژوندی کړل۔دپاره د دے چه دا خلق او د دوی نه پس نور خلق په دے خبره پوهه شی چه هر کس له مرګ راوستل صرف دالله تعالیٰ په لاس کښ دی۔نو بیا د یو ویرونکی ویره او دیو دهوکه باز دهوکه څه معنیٰ لری ؟

او الله تعالیٰ دا آیت د خپل نبی حضرت محمد ﷺ امت ته د جهاد د حکم ورکولو نه وړاندے د مقدمے په طور ذکر کړے دے۔ دا د طبری قول دے او هم دا د دے آیت محکم مفهوم دے۔(تفسیر قرطبی)

علامه سیوطی رحمه الله لیکی ۔والقصدمن ذکر هولآء تشجیع المومنین علی القتال (جلالین)

د دے خلقو د قصے د ذکر کولو مقصد مسلمانان په قتال فی سبیل الله باندے راپا رؤل او مضبوطول دی۔

"یعنی خلق دجهاد نه په دے وجه تختی چه په دے کښ ورته مرګ ښکاری۔نو یوه داسے قصه دوی ته وا وروله شوه۔ چه په عربو کښ مشهوره وه۔او اهل کتاب هم دهغے نه خبر وو۔او داخبره په زړه کښ کښینوله شوه۔ چه وژل او ژوندی کول د الله تعالیٰ په لاس کښ دی۔او د مرګ نه څوک هم نۀ شی بچ کیدے۔

دا په خپل وخت خامخا راځي. په دې وجه دجهاد غونډې اهمه فريضه اوعبادت دمرګ د ويرې پريخودل کومه عقلمندي ده ؟"

"حاصل دا چه مسلمانانو له دمرګ اوژوند په سوال کښې انختل نه دي پکار بلکه کار کول پکار دي. مرګ او ژوند خو دالله تعالیٰ په اختيار کښې دې. کله چه غواړي مړ به دې کړي. کومې پورې چه غواړي ژوندې به دې ساتي" (حاشيه دحضرت احمد علي لاهوري رحمه الله)

دکلي نوم

دکوم کلي نه چه داخلق تښتيدلي وو. دهغې په باره کښې امام قرطبي فرمائي. چه دهغې نوم داوردان وو. (قرطبي) بل طرفته ابن کثير رحمه الله ليکي. وقال سعد بن عبدالعزيز کانو امن اهل اذرعات .يعني داخلق د"اذرعات" اوسيدونکي وو. (تفسير ابن کثير)

هُمْ اُلُوْفٌ دوی په زرګونو تعداد کښې وو. د دوی د اصل شمير په باره کښې د مفسرينو ډير قولونه دي. ځلور زره. اتۀ زره. نهۀ زره. څلويښت زره. ديرشو زرو نه لړزيات. اويا زره. لس زره وغيره. ليکن مستند مفسرين فرمائي چه الوف جمع کثرته ده. او د دې اطلاق صرف د لسو نه په زياتو باندې کيدې شي.

وهو جمع الکثرة ولايقال في عشرة فمادونهاألوف(قرطبي)

ددې آيت دتيرو شوؤ آيتونو سره عجيبه ربط

مخکښې الله تعالیٰ دجهاد حکم ورکړو. (لکه څنګه چه تيرو شوؤ آيتونو کښې تير شو) او دا ښکاره خبره ده چه د الله تعالیٰ جماعت جوړيدونه پس د مخالف سره د جهاد کولودپاره د مسلمانانو په خپلو کښې اتفاق ډير ضروري دې. او په اتفاق کښې چه کوم څيزونه خلل اچوي د هغې زيات تعلق د نکاح او دطلاق دجګړو سره وي. او د ميراث او د وصيت د معاملاتو سره وي. په دې وجه څه احکام د دغه جګړو د ختمولودپاره بيان کړې شو. نوبيا د جهاد ترغيب شروع کړې شو. او د بني اسرائيلو د يوې واقعې نه د عبرت ورکولو په غرض شروع کولې شي. (ملخص ازتفسيرعثماني)

❷ امام ابوحيان رحمه الله د دې آيت د وړاندې سره د مناسبت په باره کښې دا قول هم نقل کړې دې. لمابين اللّٰہ تعالیٰ حکم النکاح بين حکم القتال لان النکاح تحصين

للدين والقتال تحصين للدين والمال والروح. يعنى الله تعالىٰ چه كله دنكاح حكم اوفرمائيلو چه په هغے كښ ددين حفاظت دے۔ نو دهغے نه پس ئے دقتال حكم بيان كړو۔ چه په هغے كښ د دين او د مال او د روح د تولو حفاظت دے۔(البحر المحيط)

په دے واقعه كښ درے سبقونه

❶ دمرگ وخت مقرر دے كه هر څنگه بهانے اوكړے۔ دانۀ لرے كيږى۔ نو بيا نامردى اوبزدلى كول عبث دى۔

❷ بزدلى خونور هم بنده په هلاكت كښ اچوى۔ سړے داګڼړى چه څۀ به د بزدلئى په وجه بچ شم۔ خو دے سره دشمن ته نورهم د قتل كولو جرأت ملاؤ شى۔

❸ د الله تعالىٰ قدرت كامله ډير زيات دے۔ هغۀ ته خو رڼړيدلے مړى ژوندى كول هم څه خبره نه ده۔ نو اے مسلمانانو ؛ تاسو ولے د الله تعالىٰ په توكل باندے دمخالفو سره جنگ نۀ كوئ۔ او په ظاهرى اسبابو باندے ولے ډېره وهئ۔(ملخص از تفسير حقانى)

نكته

كوم خوش نصيبه مسلمان چه خپلو نورو مسلمانانو رونړو ته دجهاد دعوت وركول غواړى نو هغه دے په دے قرآنى طريقے سره دعوت وركول ايزده كړى۔ دسوره بقره آيت ۲۴۳ نه تر آيت ۲۵۲ پورے دے غور اوكړى نو ان شآء الله تعالىٰ داټول اسلوب به پوره ذهن ته راشى۔ علامه ابو حيان رحمه الله د بنى اسرائيلو د دے واقعے په باره كښ ليكى۔

وأتت هذه القصة بين يدى الامر بالقتال تشجيعاً للمومنين وحثاً على الجهاد والتعريض للشهادة واعلاماًان لامفر مماقضى اللّٰه تعالىٰ (تفسير البحر المحيط)

دعاء

يا الله يا لطيف يا ودود ؛ مونږ ته دخپل ملاقات شوق رانصيب كړے۔ او مونږ دبزدلئى نه اوساتے۔ او مونږ ته د دے حقيقت يقين راكړے چه دمرگ وخت مقرر دے۔ او زمونږ په زړه كښ دا خبره پخه كړے چه په قرآن پاک كښ او په جهاد فى سبيل الله كښ زمونږ ژوند دے۔ (آمين يا رب الغلمين)



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۴۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ (۲۴۴)

او د الله تعالیٰ په لاره کښې اوجنګیږئ۔ او پوهه شئ چه بے شکه الله تعالیٰ ښۀ اوریدونکے او دانا دے۔

نچوړ

اے مسلمانانو په مخکښینئ قصه باندے غور اوکړئ۔ د الله تعالیٰ په لار کښې قتال اوکړئ۔ او ښۀ پوهه شئ۔ چه الله تعالیٰ اوریدونکے او خبردار دے۔ یعنی دمرګ نه مۀ ویریږی۔ او بے ویرے دجهاد فی سبیل الله حکم پوره کړئ۔

اقوال او حوالے

❶ هذا خطاب لهذه الامة بالجهاد في سبيل الله وتقدمت تلك القصة كما قلنا تنبيها لهذه الامة ان لا تفرمن الموت كفرار هولاء وتشجيعالها وتثبيتاً.

په دے آیت کښې د محمد ﷺ امت ته د جهاد فی سبیل الله حکم ورکولے شی۔ او په تیره شوے قصه کښې د دے امت دپاره خبردارے وو۔ چه دوی دے د بنی اسرائیلو دغه خلقو پشان دمرګ نه نۀ تختی او په جهاد کښې دے د تینګیدو او د بهادرئ ثبوت ورکړی (تفسیر البحر المحیط)

❷ هذا خطاب لامة محمد صلى الله عليه وسلم بالقتال في سبيل الله في قول الجمهور وهو الذی ینویٔ به ان تكون كلمة الله هي العليا.

دجمهورو علمانو په نیز په دے آیت کښې د محمد ﷺ امت ته د قتال فی سبیل الله حکم ورکولے کیږی۔ هغه قتال کوم چه د الله تعالیٰ دکلمے د اوچتولو دپاره اوکړے شی (القرطبی)

❸ أن هذا الخطاب للذين أحيوا قال الضحاک رحمه الله احيا هم ثم امر هم بان يذهبوا الى الجهاد لانه تعالیٰ انما اماتهم بسبب ان کر هوا الجهاد.

په دے آیت کښې د قَاتِلُوْا (قتال اوکړی) خطاب د بنی اسرائیلو هغه خلقو ته دے کوم چه ژوندی کړے شوے وو۔ ضحاک رحمه الله فرمائی۔ الله تعالیٰ دوی ژوندے کړل بیا ئے دوی ته حکم اوکړو۔ چه جهاد دپاره لاړ شئ۔ ځکه چه الله تعالیٰ دوی مړۀ

کړے د جهاد نۀ کولو په وجه وو۔ (تفسیر کبیر)

حضراتو مفسرینو داقول ضعیف ګنړلے دے (قرطبی۔البحر المحیط)

دآیت په تفسیر کښې دوه خشته عبارتونه

علامه ابن کثیر رحمه الله د دے آیت په تفسیر کښې لیکی.

ای کما ان الحذر لایغنی من القدر کذلک الفرار من الجهاد و تجنبه لا یقرب اجلاً ولا یبعده الخ.

یعنی څنګه چه د مرګ نه په تیښتے سره تقدیر نۀ شی ورو ستو کیدے۔دغه شان د جهاد نه په تیښته او د جهاد په پریخودلو سره هم مرګ وورو ستو کیدے یا نیزدے کیدے نشی۔بلکه دمرګ مقرر وخت۔ او۔ لیکلے شوے روزی۔ دا هغه مقدرات دی چه په دے کښې کمے زیاتے نشی کیدے لکه چه دالله تعالیٰ فرمان دے۔

ترجمه

دا (منافقان) هغه خلق دی چه خپلو (مجاهدینو) وروڼړو ته به ئے وئیل حالانکه په خپله (دَجهاد نه) ناست وو۔ چه که چرے دوی زمونږ خبره منلے وه نو نۀ به قتلیدل (دوی ته) اووایه که چرے تاسو ریشتونے یئ ۔ نو د خپلو ځانونو نه مرګ لرے کړئ۔ (آل عمران :١٦٨) او دا الله تعالیٰ فرمان دے۔ترجمه: بیا چه کله دوی ته د جنګیدو حکم اوکړے شو نو هغه وخت په دوی کښې یوے ډلے دخلقو نه داسے ویریدل شروع کړل۔ لکه څنګه چه دا الله تعالیٰ نه ویریدل پکار وی۔ یا د دے نه هم زیات ویریدل۔ او لګیا شو چه وئیل ئے۔اے زمونږه ربه ؛ تا په مونږه باندے جنګ کول ولے فرض کړل۔ ولے دے مونږ له څه موده مهلت رانۀ کړو۔دوی ته اووایه ؛ د دنیا فائده لږه ده۔ او آخرت د پرهیزګارو دپاره ډیر ښۀ دے۔او دیوتار برابر به هم تاسو سره بے انصافی نشی کولے۔تاسو چه چرته هم یئ مرګ به تاسو له خامخا راځی که تاسو په مضبوطو قلعه ګانو کښې هم یئ۔ (النساء ۷۷ ۷۸)

او مونږ داسلامی لښکر دامیر۔سپه سالار۔ داسلامی سرحدونو دَمحافظ۔ دالله تعالیٰ په دشمنانو باندے د وتلے شوے تورے د ابو سلیمان حضرت خالد بن ولید رضی الله تعالیٰ عنه نه دا روایت بیان کړے دے۔ چه هغوی دخپل مرګ په وخت باندے ووفرمائیل چه ما په دومره محاذونو باندے جنګ اوکړو او زما د بدن یو اندام هم داسے نیشته چه په هغے باندے دغشی۔ دتورے یا د نیزے زخم نۀ وی۔او هائے

افسوس څه داوښ په شان په بستره باندے ساه ورکوم۔ نود بزدلانو سترګو له دے خوب را نهٔ شی۔ یعنی هغهٔ په دے باندے خوږ۔ درد او افسوس ښکاره کولو۔ چه هغه په جهاد کښې شهید نهٔ شو اوپه بستره باندے وفات کیدهٔ۔(تفسیر ابن کثیر)

❷ ددے تولو مسئلو نه پس بیا د الله تعالیٰ په لار کښې دجان اومال ورکولو تاکید شروع کیږی۔ ځکه چه دنیا کښې یوقوم هم "قوم" نشی پاتے کیدے ترکومے پورے چه په هغه قوم کښې د خپل عزت اومذهب محفوظ ساتلو طاقت نهٔ وی۔ او بیا هغه مذهب چه په ټوله دنیا باندے خوریدونکے وی۔ چه دهغے توحید او روښانه حکمونه دټولے دنیا د خرابو خلقو خلاف وی چه په هغے سره صرف احتمال نه بلکه دا یقین وی چه د دے مذهب دپاره به په خپل کور او وطن کښې هم سخت رکاوټونه پیښیږی بلکه پیښ شو۔ نو د دے نه وروستو به څه څه نهٔ پیښیږی۔ په دے وجه حکم ووشو چه د الله تعالیٰ په لار کښې اوجنګیږئ۔ اوچه کوم رکاوټونه مخے ته رازی نو هغه د تورے په زور باندے ختم کړئ۔ خو نیک نیت او دزړه اخلاص ته هم ګوره۔ صرف وینے توئیول او دانسانانو قتلول مقصود نهٔ دی بلکه داجهاد داسے (شے) دے لکه مریض دپاره رګ وهل او د ناکاره ما دے خارجول اواپریشن کول۔ داسے معاملاتوکښې د زړه اخلاص اونیک نیتی ډیره ضروری ده۔ په دے وجه ئے اوفرمائیل چه الله اوری او پو هیږی۔(تفسیر حقانی)

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ښه پو هه شئ چه الله تعالیٰ اوریدونکے او خبردار دے۔

❶ ای هو یسمع کلامکم فی ترغیب الغیر فی الجهاد وفی تنفیر الغیر عنه وعلیم بمافی صدور کم من البواعث والاغراض وان ذلک الجهاد لغرض الدین او لعاجل الدنیا.

یعنی هغه ستاسو هغه خبرے اوری کومے چه تاسو نوروخلقو ته دجهاد د ترغیب ورکولو دپاره یادجهاد نه لرے کولو دپاره کوئ اوستاسو په زړونو کښې چه کوم غرضونه اومقصدونه دی (الله) دهغے نه خبردار دے چه ستاسو جهاد د دین دپاره دے یا د دنیا د یو وخت د فائدے دپاره دے ۔(تفسیر کبیر)

❷ نو هر کله چه مرګ او ژوند د یو انسان په قبضه کښې نهٔ دے او په جنګ کښې مرهٔ کیدل یقینی نهٔ دی۔ نو پاسئ د الله تعالیٰ د قانون اوچتولو دپاره قتال اوکړئ۔ د پاره د دے چه اسلام ته غلبه اواقتدار حاصل شی۔ زمکه د امن نه ډکه شی۔ اوتاسو خو به صرف د الله تعالیٰ د رضا کولو دپاره جنګ کوئ۔ په دے

وجه د احسان په توګه ضروری ده چه هغه ستاسو هره دعاء واوړی۔ هغه قبوله کړی او تاسو ته دمخالفینو په مقابله کښې کامیابی درکړی۔(تفسیر الفرقان)

ربط

علامه آلوسی رحمه الله فرمائی۔

والجهاد لما کان ذروة سنام الدین و کان من اشق التکالیف حرضهم علیه من طرق شتیٰ مبتدئاً من قوله سبحانه وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ (البقرة ۱۵۴) منتهیا الی هذا المقال الکریم مختتماً بذکر انفاق فی سبیله للتتمیم.

یعنی جهاد خو داسلام دخوکے اوچت والے دے۔ او په حکمونو کښې د تولونه ګران حکم دے۔ په دے وجه الله تعالیٰ په مختلفو طریقو سره په دے باندے مسلمانان په سورهٔ بقره کښې راپارولے دی۔ ددے ترغیب شروع د وَلَا تَقُوْلُوْا نه شوے ده۔ او د دے ختمیدل په دے آیت چه وَقَاتِلُوْا باندے اوشوه۔ او بیا د دے ترغیبی نصاب دمکمل کولو دپاره د دے اختتام په جهاد کښې دخرچ کولو په حکم باندے اوشو۔(کوم چه په راتلونکی آیت کښې دی)(روح المعانی)

دعاء

اے الله؛ تامونږ ته په خپله لار کښې دقتال حکم کړے دے۔ اے الله؛ مونږ په دے باندے یقین ساتو۔ اے الله؛ تهٔ مونږ ته د دے خپل حکم د پوره کولو توفیق راکړے۔ (آمین یا رب العالمین)



سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۴۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا

داسے کوم کس دے چه الله تعالیٰ ته ښهٔ قرض ورکړي۔ چه الله تعالیٰ ورته هغه په ډیرو دوچندو سره زیات

كَثِيْرَةً ؕ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾

ورکړي او صرف الله تعالیٰ تنګی راولي او فراخي پیدا کوی او تاسو ټول به هغهٔ (الله) ته واپس کولے شئ۔

نچوړ

جهاد کښ مال خرچ کولو سره الله تعالیٰ ته خشته قرضه ورکړئ۔ هغه به دا (قرضه) څو چنده زیاته کړي۔ د رزق تنګی او فراخي تول ه دهغهٔ د قدرت په قبضه کښ دی۔ او تاسو خو به هغهٔ ته واپس ځئ۔ نو چه تاسو څه هم هغه له ورکوئ۔ نو چه هغه له لاړ شئ نو دهغے نه به په څو چنده زیات بیا مومئ۔

ربط

❶ په دے ځائے کښ اصل مقصد د قتال فی سبیل الله زیات نه زیات ترغیب دے۔ دبنی اسرائیلو قصه هم د دے سریزه ده۔ دَلګان مضمون هم د دے مرسته کوی۔ وړاندے دطالوت اوجالوت قصه هم د دے تاکید دے۔ (ملخص از بیان القرآن)

❷ د جهاد او قتال حکم اوس ملاؤ شوے دے نو قدرتی خبره ده چه د جنګ د سامان دپاره به اسلامی امت ته دغتے سرمائے ضرورت وی۔ په دے وجه په اولنی نمبر کښ د امت مالدارو ته په دے کښ دحصے اغیشتو ترغیب ورکړے کیږی۔ قَرْضًا حَسَنًا دَقرآن په اصطلاح کښ د دے لفظ نه مراد د جهاد خرچونه دی۔ (تفسیر ماجدی)

❸ لما امر الله تعالیٰ بالجهاد والقتال علی الحق۔حرض علی الانفاق فی ذلك یعنی هر کله چه الله تعالیٰ د حق دخاطره د جهاد اوقتال حکم ورکړو نو بیا ئے (په دے آیت کښ) په جهاد باندے دخرچ کولو ترغیب ورکړو۔ (القرطبی)

❹ أن هذه الآية متعلقة بما قبلها والمراد منها القرض فی الجهاد خاصة فندب العاجز للجهاد ان ينفق علی الفقير القادر علی الجهاد وامر القادر علی الجهاد ان ينفق علی نفسه فی طريق الجهاد۔

یعنی یو قول دادے چه ددے آیت تعلق د تیرشوی آیت سره دے۔ او دلته د قرض نه مراد خاص په جهاد کښې مال خرچ کول دی نو هغه کس چه د عملی جهاد نه عاجز وی هغهٔ ته ترغیب ورکړے شو ۔ چه هغه خپل مال په هغه فقیرانو باندے خرچ کړی کوم چه د جهاد طاقت لری۔ او دَجهاد طاقت لرونکو ته ترغیب ورکړے شو چه هغوی په جهاد کښې خپله خرچه پخپله ووکړی۔ یعنی خپل سر او مال دواړو په جهاد کښې ورکړی۔(تفسیر کبیر)

وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ الله تعالیٰ روزی تنګوی او روزی فراخوی۔

❶ ددے نه پس ئے دا هم واؤروله چه دلاس تنګی او فراخی توله زمونږ په قدرت کښې ده۔ څوک چه زمونږ په لار کښې لګان نهٔ کوی هغوی دے په دے خبره باندے لوئی نهٔ کوی چه د دوی دولت به همیشه باقی پاتے وی۔ الله تعالیٰ د تنګ دستئ راوستو دپاره په زرګونو مصیبتونه رالیږلے شی۔ په هغه تولو کښې به یو مصیبت داوی چه مخالفین به غالب شی۔ اوټول ملک او دولت به په زور باندے واخلی۔ او چه څوک (دالله تعالیٰ په لار کښې) خرچ کوی هغه دے د تنګدستئ نه نهٔ ویریږی۔ د دنیا غنیمتونه او د ملکونو فتحے به دهغوی په حصه کښې راځی۔ کوم آخرت چه مخامخ دے او په اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ سره یادیږی۔ په هغے کښې به ورته بے شمیره نعمتونه ملاویږی لکه څنګه چه صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم ته ملاؤ شو۔(تفسیر حقانی)

❷ صرف ځان قربانول کافی نهٔ دی بلکه د روپو خرچ کولو هم سخت ضرورت دے۔ د جنګ سامان واخلئ۔ نورو له په تیارئ کښې مدد ورکړئ۔ نو دجنګ میدان ته په وتلو سره به تاسو ته فتحه او کامیابی ملاؤ شی۔ دومره مال غنیمت به ملاؤ شی چه راغونډولے به ئے نشئ۔ اوچه څومره مال تاسو دَاسلام دسلامتیا او قائمولو دپاره خرچ کړے وی۔ دهغے نه څو چنده زیات به ملاؤ شی۔ په ملکونو ملکونو به هلالی جنډه الوزی او په زرګونو مشرکان به داسلام په دائره کښې داخل شی۔ تاسو دغریبئ او تش لاسئ پرواه مه کوئ ځکه چه تنګی او فراخی د الله تعالیٰ په لاس کښې ده۔ دا بالکل کیدے شی۔ چه تاسره په لکهونو روپئ وی خو الله تعالی داسے اسباب پیدا کړی چه ټول دولت ستا دپاره بے کاره ثابت شی۔ او بیا دغریبئ او تش لاسئ ژوند لا زیاتی۔ او دا هم دهغهٔ په اختیار

کښې دي چه دغريبۍ په ورځو کښې په تاباندې داسې خوشحالي راولي چه هغه لوئې لوئې دولت مندو ته نهٔ نصيب کيږي۔ (تفسير الفرقان)

د برکت کلام

حضرت شاه عبدالقادر صاحب رحمه الله ددې آيت په تفسير کښې ليکي۔

الله تعالىٰ له دې قرض ورکړي۔ يعني په جهاد کښې دې خرچ اوکړي۔ داسې ئې دمهربانۍ دوجې نه اوفرمائيل۔ او د تنگ دستۍ انديښنه دې نهٔ ساتي۔ فراخي د الله تعالىٰ په لاس کښې ده۔ (موضح القرآن)

دعاء

يا الله يا غني يا مغني؛ مونږ ته خپل مال په جهاد في سبيل الله کښې د خرچ کولو همت اوتوفيق راکړې۔ او بيا دا قبول کړې۔ (آمين يا ارحم الرحمين)



سُورَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ — آیت ۲۴۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ اِذْ

آیا تاسو دبنی اسرائیلو یوه ډله دموسیٰ علیه سلام نه پس او نهٔ لیدله چه کله دوی خپل یو پیغمبر ته

قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

اوونیل چه زمونږ دپاره یو بادشاه مقرر کړه۔ چه مونږه د الله تعالیٰ په لار کښ جنګ اوکړو۔ پیغمبر

قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا

اوونیل چه دا هم کیدے شی که تاسو ته دجنګ حکم ووشو نو دغه وخت به جنګ اونهٔ کړئ۔ دوی

وَمَا لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَ

اوونیل چه مونږ به د الله تعالیٰ په لار کښ ولے جنګ نهٔ کوو۔ حالانکه مونږه دخپلو کورونو او ځامنو

اَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ

نه بے دخله کړے شوے یو۔ بیا چه کله دوی ته د جنګ حکم ووشو۔نو سوا د لږ و کسانو نه تول واپس

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۴۶﴾

شو۔او الله تعالیٰ ظالمان ښهٔ پیژنی۔

نچوړ

(د جهاد د فائدو۔ د دے د شرطونو۔او د دے د آدابو د پیژندلو دپاره) د بنی اسرائیلو هغه واقعے ته تاسو کتلے دی۔کله چه دوی د جالوت د ظلمونو نه ځان خلاصولو دپاره او د آزادئ حاصلولو دپاره دهغوی سره د قتال کولو اراده اوکړه۔او د وخت نبی ته ئے د داسے امیر مقررولو درخواست اوکړو چه د هغهٔ په مشرئ کښ دوی جهاد اوکړے شی۔نبی ورته اوفرمائیل هسے نه چه داسے اوشی چه تاسو دجهاد نه مخ واړوئ۔دوی اووے چه داځنګه کیدے شی۔ زمونږ کورونه اوبچی د دشمن په قبضه کښ دی په داسے حالاتو کښ به مونږ دجهاد نه مخ اړوو؟۔داسے نه شی کیدے۔خو د نبی دا ویره صحیح ښکاره شوه۔کله چه دوی ته دجهاد حکم اوشو نو په دوی کښ زیات خلق دجهاد نه محروم پاتے شو۔الله تعالیٰ داسے ظالمان ښه پیژنی۔

ربط

ذکر فی التحریض علی القتال قصةً اُخریٰ جرت فی بنی اسرائیل (تفسیر قرطبی)

د جهاد دپاره د راپارولو دپاره الله تعالیٰ دبنی اسرائیلو یوه بله قصه بیان کړې ده۔

زمانه

قرآن پاک واضحه کړې ده "مِنۡۢ بَعۡدِ مُوۡسٰی" چه داواقعه دموسیٰ علیه السلام نه د وروستو زمانې ده۔ د دې زمانې په ښکاره کولو کښې د مفسرینو څو اقوال وړاندې کوؤ۔

❶ دحضرت موسی علیه السلام نه څه درې صدئ پس او دحضرت داؤد علیه السلام نه دلږې شان د وړاندې زمانې ده۔ د مسیحی سن په شروع کیدو کښې لا زر۔یولس کاله پاتې وؤ۔ (تفسیر ماجدی)

❷ په دې آیتونو کښې الله تعالیٰ د بنی اسرائیلو بله قصه بیانوی۔ چه دعیسیٰ علیه السلام نه څه یؤلس سوه کاله وړاندې تیره شوې ده۔ په دې قصې سره الله تعالیٰ په مسلمانانو کښې په جهاد کښې د ټینګ اوسیدو او د مصیبتونو د زغملو شوق پیدا کوی۔ (تفسیر حقانی)

❸ صاحب د بحرمحیط د دې زمانې د تعین په باره کښې چه څه لیکلې دی۔ دهغې خلاصه داده چه دحضرت موسیٰ علیه السلام نه پس حضرت یوشع علیه السلام په بنی اسرائیلو کښې دهغهٔ خلیفه جوړشو نوهغهٔ تورات نا فذ اوساتهٔ۔ دهغهٔ د انتقال نه پس حضرت حزقیل علیه السلام دهغهٔ جانشین شو۔ دهغهٔ دانتقال نه پس بنی اسرائیلو کښې بدعات او بت پرستی خوره شوه۔نو الله تعالیٰ دوی ته حضرت الیاس علیه السلام راولیږلو۔ د حضرت الیاس علیه السلام نه پس حضرت یسع علیه السلام پیغمبر شو۔ دهغوی دانتقال نه پس بنی اسرائیلو کښې ډیرې زیاتې خرابئ پیدا شوې۔نو د دوی دشمن د عمالقه قوم جالوت په دوی باندې غالب شو۔داخلق د بحر روم په غاړه باندې دمصر اوفلسطین په مینځ کښې اوسیدل۔دوی دَبنی اسرائیلو په ښارونو باندې قبضه واچوله او د دوی د مشرانو څامن ئې قید کړل۔او د بنی اسرائیلو نه ئې تورات په زور واغیشتلو۔ او په دوی باندې ئې جزیه مقرر کړه۔په دغه وخت کښې دوی الله تعالیٰ ته دعاء اوکړه چه هغه دوی دپاره نبی راولیږی چه د هغهٔ په ملګرتیا کښې دوی جهاد اوکړی۔ نو حضرت شموئیل علیه السلام پیدا شو۔کله چه هغوی ته

نبوت ملاؤ شو۔ نو هغوی بنی اسرائیلو ته دعوت ورکړو۔ بنی اسرائیلو ورته اووئیل چه که تهٔ په ریشتیا پیغمبر یئے۔ نو زمونږ دپاره یو امیر مقرر کړه۔ دبنی اسرائیلو هم دغه طریقه وه۔ چه هغوی به د بادشاه د لاندے جمع کیدل او جنګ به ئے کوؤ۔ او بادشاه به د نبی تابع وو۔ نبی به بادشاه چلولو او بادشاه به قوم چلولو۔ (البحر المحیط)

دپیغمبر نوم

په دے آیت کښې چه دکوم نبی ذکر دے۔ زیات تر غتو مفسرینو حضراتو شموئیل علیه السلام لیکلے دے۔ اوګورئ (تفسیر قرطبی۔ تفسیر کبیر۔ تفسیر بحر محیط وغیره)

تَوَلَّوۡا اِلَّا قَلِیۡلًا مِّنۡهُمۡ کله چه دجهاد حکم راغے نو د لږ شان خلقو نه علاوه باقی تولو شا کړه۔

❶ هذا شان المترف المنعم متی کان متلبسابالنعمة قوی عزمه وانف فاذاابتلی بشئی من الخطوب رکع وذل.

د مالدارو اوعیش پرستو خلقو هم دغه طریقه وی چه تر کومے نعمتونه ملاویږی۔ دهغوی ارادے اوغیرت اوچت وی۔ خو چه کله څه تکلیفونو سره د دوی ازمیښت اوشی نو په کمزورئ او پشا کیدو کښې پریوځی۔ (البحر المحیط)

❷ اِلَّا قَلِیۡلًا مِّنۡهُمۡ مګر لږ شان خلق کلک شو فهم الذین عبروا النهروسیاتی ذکر هم وقیل کان عدد هذا القلیل ثلاثمائةوثلاثة عشر علیٰ عدد أهل بدر.

دا هغه خلق وو۔ چه په دریاب پورے وتلے وؤ۔ یو قول دادے چه د دوی تعداد دبدر د اصحابو پشان درے سوه او دیارلس وو۔ (تفسیر کبیر)

وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌۢ بِالظّٰلِمِیۡنَ او الله تعالیٰ ظلمان ښه پیژنی۔

❶ فیه وعید وتهدیدلمن تقاعد عن القتال بعد أن فرض علیه بسؤاله ورغبته.

په دے کښې دهغه چا دپاره چه دجهاد نه کښینی سخت وعید دے او زورنه ده۔ حلانکه الله تعالیٰ پخپله د دهٔ په غوښتو باندے جهاد فرض کړے وی۔ (تفسیر البحر المحیط)

❷ وهذا هو الذی یدل علیٰ تعلق هذه الآیة بقوله قبل ذلک

وَقَاتِلُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ ...... الخ دآیت دا حصه یعنی وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌۢ بِالظّٰلِمِیۡنَ په دے خبره باندے

دلالت کوی چه د دے آیت دتیر شوی آیت وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ سره تعلق دے۔لکه چه الله تعالیٰ د بنی اسرائیلو دجهاد قصه ددے دپاره ذکر کړه چه د جهاد په فرضیت باندے د پوهولو دپاره نور هم زیات تاکید ووشی۔او دهغے په آخر کښ ئے د جهاد پریخودلو والا ظالمان ښکاره کړل۔ او دا خبره ئے واضحه کړه چه آئنده څوک هم جهادپریږدی۔ نو هغه به ددے وعید حقدار وی۔ نو په دے آیت کښ د جهاد ترغیب هم راغے۔ او دا خبره هم چه مسلمان دے همیشه دپاره جهاد قائم ساتی۔والله اعلم (تفسیر کبیر)

اسباق

❶ ثابته شوه چه دَمظلومانو دپاره دظلم او د ظالمانو نه د خلاصی لار جهاد فی سبیل الله ده۔

❷ جهاد چه دامیر په اطاعت کښ وی نو کامیابی ملاویږی۔

❸ جهاد نه په شا کیدل ظلم دے۔(والله اعلم)

دعاء

اے الله مونږ ستا پناه غواړو ددے خبرے نه چه مونږ په ظالمانو کښ شمار شو۔(آمین یا اکرم الاکرمین)



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۴۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْٓا

او وو فرمائیل دوی ته خپل پیغمبر چه بے شکه الله تعالیٰ طالوت ستاسو دپاره بادشاه مقرر کړے دے۔ دوی

اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَ نَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ

اوویل چه دده حکومت په مونږه باندے څه رنګے کیدے شی۔ دده نه خو مونږه د حکومت ډیر حقدار

يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَ

یو۔ او دده ته په مال کښ فراخی نۀ ده ورکړے شوے۔ پیغمبر اوویل بے شکه الله تعالیٰ دے په تاسو باندے

زَادَهٗ بَسْطَةً فِى الْعِلْمِ وَ الْجِسْمِ ؕ وَ اللّٰهُ يُؤْتِىْ مُلْكَهٗ مَنْ

غوره کړے دے۔ او دده ته ئے په علم او بدن کښ ډیره فراخی ورکړے ده او الله تعالیٰ چه خپل حکومت چاته

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۷﴾

اوغواړی ورکوی یے۔ اوالله تعالیٰ فراخیٔ والا علم والا دے۔

نچوړ

بنی اسرائیلو دَجهاد دَپاره دَامیر مقررکولو دپاره درخواست اوکړو۔ نو نبی علیه السلام او فرمائیل۔ الله تعالیٰ طالوت ستاسو امیر اوحکمران مقرر کړو۔ په دے باندے د بنی اسرائیلو سرداران وران شول۔ او وے وئیل چه طالوت زمونږ امیر څنګه کیدے شی؟ د دۀ نه خو زیات مونږ د دے زمه داریٔ او منصب حقدار یو۔ او طالوت خو غریب او تش لاسے سړے دے۔ نبی علیه السلام اوفرمائیل دا دَالله تعالیٰ خوښه ده۔ الله تعالیٰ طالوت پخپله خوښ کړے دے او هغوی ئے دَعلم او دجسم په لحاظ ددے عهدے اهل جوړ کړے دے۔ او دَالله تعالیٰ خوښه ده چه چاته حکومت ورکوی الله تعالیٰ دعلم او وسعت مالک دے۔

طالوت

❶ طالوت بن کش په تاریخ کښے د اسرائیلی قوم اولنے بادشاه تسلیم کړے شوے دے۔ دهغوی دحکومت زمانه ۱۰۲۸ ق م نه تر ۱۰۱۲ ق م پورے ده۔ داهم هغه کس دے چه ذکرئے په تورات کښے دساؤل په نوم سره راغلے دے۔ (تفسیر ماجدی)

❷ بنی اسرائیل دَحضرت یعقوب علیه السلام دَ دولسو اولادو نسل دے۔ د نسل په بنیاد باندے دوی په دولس فرقو یا قبیلو کښے تقسیم شوے وو۔ په دوی کښے د ټولو نه وړه قبیله د بنی یامین وه۔ او په تورات کښې واضحه ده چه طالوت هم د دے قبیلے وو۔ (تفسیر ماجدی)

❸ کان طالوت اسمه بالعبرانیة ساؤل فسمي طالوت لطوله (معالم. ماجدی) دَطالوت نوم په عبرانئ کښے ساؤل وو۔ هغوی ته طالوت دهغوی د قد د اوږد والی د وجے نه وئیلے کیږی۔

❹ دَطالوت په قوم کښے د مخکښے نه سلطنت نۀ وو۔ او محنت مزدوری به ئے کوله۔ د دوی په نظر کښے کمزورے ښکاره شو۔ او نبی اوفرمائیل چه سلطنت دهیڅ چا حق نۀ دے۔ او لوئے لیاقت عقل دے او د بدن فراخی ده۔ او داوه چه الله تعالیٰ هغه پیغمبر ته یوه همسا ښودلے وه۔ چه دچاقد ددے برابر وی سلطنت به دهغۀ وی۔ هم د دۀ قد د هغے برابر وو۔ (موضح القرآن)

❺ کان دباغاأو راعیا یعنی طالوت دچمړے کار کولو۔ یا شپون وو۔ (جلالین)

❻ وکان طالوت سقاء (قرطبی) وکان عالماًفلذلک رفعه الله یعنی هغه عالم وو ځکه ورته الله تعالیٰ دا لوئے مقام ورکړو۔ (قرطبی)

دبنی اسرائیلو اعتراض

❶ وکان من سبط بنیامین ولم یکن من سبط النبوة ولا من سبط الملك وکانت النبوة فی بنی لاوی والملك فی سبط یهودا فلذلك انکروا (قرطبی)

یعنی طالوت د بنیامین دخاندان نه وو۔ دنبوت او حکومت والا خاندان نه نۀ وؤ۔ په اسرائیلو کښے به نبوت دبنی لاوی په قبیله کښې او حکومت به د یهودا په قبیله کښې وو۔

❷ فأتت عظماء بنی اسرائیل نبیهم مستغر بین ذلک حیث لم یکن من بیت النبوة ولا الملک (روح المعانی)

نبی چه کله دطالوت دامارت اعلان اوکړو نودبنی اسرائیلو لوئے خلق په دے انتخاب باندے په حیرت او تعجب کښې ډوب د خپل نبی خوا ته راغلل ځکه چه طالوت نۀ د نبوت د خاندان نه وو۔ او نۀ دحکومت خاندان نه وو۔

❸ دنسل اوخاندان اهمیت چه کله دجائز حدود نه زیات شی نو دهندوانو په شان د ذاتونو حیثیت اختیار کړی۔ داسرائیلیانو هم اوس دا عقیده جوړه شوے وه۔ چه نبوت د بنی لاوی د قبیلے مخصوص حق دے او حکومت د بنی یهودا د قبیلے مخصوص حق دے (تفسیر ماجدی)

❷ دنیا همیشه دخپل خاندان او نسلی امتیازاتو بندګی کړے ده۔ د نسل او د قوم بت ته ئے یو شان سر په سجده ایخے دے ۔ اسلام دراتلو سره دا نسلی او قومی فرقونه ختم کړل۔ او همیشه دپاره ئے صرف د انسانیت باقاعده عام عظمت قائم کړو او دعمل په الهی قانون باندے ئے زور ورکړو۔ اسلام دخپل دعوت دټولو نه وړومبنے او سخت ګذار هم د دے نسلی اوقومی غرور په بت باندے اوکړو۔ او اعلان ئے اوکړو چه يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ (الحجرات ۱۳) یعنی د هر قسمه د فضیلت او د بزرګئ بنیاد صرف عمل دے۔ بل هیڅ شے نهٔ دے۔ دا قومونه او خاندانونه صرف د دے دپاره دی چه په خپل مینځ کښے د یو بل دپیژندګلو او تمیز ذریعه ده۔ د ټولو نه لوئے انسان هغه دے چه دټولو نه زیات متقی وی۔ (تفسیر الفرقان) بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ الله تعالیٰ طالوت ته په علم اوجسم کښے فوقیت او وسعت ورکړے وو۔

❶ دعلم نه مراد دلته کښے هم هغه علمونه اوفنون دی چه دهغے تعلق دجهاد او دینی سیاست سره دے۔ ای علم الحرب یعنی دجنګ علم (ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما) (تفسیر ماجدی)

❷ دجسمانی وسعت نه مراد بهادری ده (تفسیر کبیر)

اګرچه په قد کښے ډیر اوږد والے څه کمال نهٔ دے۔ ګنی نو حضور ﷺ ته به داکمال ورکړے شوے وو۔ خو دبنی اسرائیلو مقابله چونکه دعمالقه دقوم سره وه چه ډیر لوړاو غټ وو ځکه د داسے امیر ضرورت وو۔ چه په ظاهر کښے هم بنهٔ کافی لوړوی۔ (روح المعانی)

اسباق

❶ دامیرپه انتخاب کښے دے دخاندان مال اودولت اوقوم قبیلے ته نهٔ شی کتلے بلکه اهلیت ته دے اوکتے شی۔

❷ په جهاد کښے دکامیابئ دپاره زیات نه زیات علمی اوجسمانی صلاحیتونه حاصلول پکار دی۔

❸ دایمان والا دکامیابئ اومضبوطیا دپاره ضروری ده چه هغوی د نسل۔ دخاندان او د ژبے نفرتونه دخپل مینځ نه اوباسی او یو "امت" او یو "جماعت" جوړ شی۔ ☆☆☆

سُوۡرَةُ الۡبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۴۸

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ إِنَّ اٰيَةَ مُلۡكِهٖۤ أَنۡ يَّأۡتِيَكُمُ التَّابُوۡتُ فِيۡهِ

او ووی ته خپل نبی اوویل چه دطالوت دباداشاهۍ نښه داده چه تاسو ته به هغه صندوق واپس راشی چه په هغې

سَكِيۡنَةٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوۡسٰى وَاٰلُ هٰرُوۡنَ

کښې ستاسو درب دطرف نه اطمینان دے۔ او بعضے تبرکات دی کوم چه دموسٰی او هارون علیهما السلام اولاد

تَحۡمِلُهُ الۡمَلٰٓئِكَةُ ؕ إِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمۡ إِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۴۸﴾

پریښے دی۔ چه راوړی به ئے فرښتے۔ بے شکه په دے کښې ستاسو دپاره پوره نښه ده۔ که تاسو ایمان والا ئیے۔

نچوړ

نبی ورته اوفرمائیل چه دطالوت په حقه دامیرکیدو علامه دا ده چه تاسو ته به ستاسو هغه وروک شوے تابوت واپس ملاؤ شی چه په هغے کښے ستاسو دپاره دتسکین او اطمینان سامان دے۔ او د لویو انبیاؤ پریښودے شوے څیزونه دی۔ دالله تعالیٰ فرښتے به دا تابوت تاسو ته رارسوی۔ په دے کښے دایمان د خاوندانو دپاره لوئیے نشانئ دی۔

التابوت:

د دے خاص صندوق اصطلاحی نوم تابوت"سکینه" دے۔ دا دبنی اسرائیلو زیاته اهمه ملی او قومی ورثه وه۔ په دے کښے دننه د تورات اصل نسخه او د انبیاء کرامو تبرکات محفوظ وو۔ اسرائیلیانو به دا ډیر زیات برکت او تقدس والا څیز ګنړلو۔ او ددے به ئے ډیر زیات احترام کولو۔ په سفر او حضر کښ۔ په جنګ او په امن کښ۔ په هر حال کښے به ئے دا ډیر په حفاظت سره دخپل ځان سره ساتلو۔ (تفسیر ماجدی)

پورتنے عبارت دهغے ټولو اقوالو نچوړ دے۔ چه د دے په باره کښے مفسرینو حضراتو لیکلے دی۔

حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله لیکی:

"په بنی اسرائیلو کښے یو صندوق چلیدو۔ په دے کښے دحضرت موسیٰ

علیه السلام او دحضرت هارون علیه السلام تبرکات وو۔ دجنگ په وخت کښے به ئے دسردار مخښے ته اوړلو۔ او چه په دشمن باندے به ئے حمله کوله۔نودا به ئے مخکښے ساتلو۔ بیا به الله تعالیٰ فتحه ورکوله۔کله چه دوی بدنیته شو۔نو دا صندوق واخستلے شو۔او دښمن ته ملاؤ شو۔اوس چه کله طالوت بادشاه شو نو هغه صندوق پخپله دهغهٔ دکور مخښے ته را وورسیدو۔ او سبب ئے دا اوګرځیدو۔ چه د دښمن په کوم ښار کښے دا پروت وو۔ هلته څه آفت راغے۔ پنځه ښارونه وران شول۔ هغوی په دواؤ غویانو باندے اوتړلو۔ او وے شړل۔نوبیا فرشتو دے ځائے پورے راؤ شړل"۔ (موضح القرآن)

وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ علامه آلوسی رحمه الله لیکی چه په دے تابوت کښے داځیزونه وو۔ د تورات دتختو بوره۔دحضرت موسیٰ علیه السلام کپړے۔ دحضرت هارون علیه السلام پټکے۔ هغه د سرو زرو تهالے چه د پیغمبرانو علیهم السلامو زړونه به پکښے وینځلے کیدل۔او دتنګئ اوپریشانئ لرے کولو والا دا کلمه

لا اله الا الله الحلیم الکریم وسبحان الله رب السموت السبع ورب العرش العظیم والحمد لله رب العلمین.(روح المعانی)

فائده

په امیر باندے دعوامو او دلښکرو مطمئن کیدل او متفق کیدل ضروری دی۔ بنی اسرائیلو چه کله دګناهونونه توبه کړه۔ اوپه رښتینے زړه سره ئے دجهاد نیت اوکړو۔نوالله پاک په هغوی باندے خپل نعمتونه بحال کول شروع کړل۔وړومبے نعمت ورته داملاؤ شو۔ چه یوامیر اوشرعی حکمران ورته نصیب شو۔ چه قوم راغونډ کړی۔په خپلو خپوئے اودروی او مخکښے ئے بوزی۔ د لکهونو نعمتونو نه لوئے نعمت او دالله تعالیٰ لوئے احسان د امیر ملاویدل وی۔ د بنی اسرائیلو مظلوم او بے وره۔بے دره خلقو ته امیر ملاؤ شو۔ نو دغلام قومونو پشان په کښے دخاندان او د ژبے عصبیت پیدا شو۔ الله تعالیٰ د دے لرے کولودپاره یوه داسے نشانی اوښودله چه تول قوم په امیر باندے متفق شو۔

فائده

چه څنګه ورته امیر ملاؤشو۔نو دآسمانی برکاتو نزول هم شروع شو۔اوهغه نعمتونه چه تلے وو۔ واپس ملاویدل شروع شو۔تر دے چه دآسمان نه نازله شوے

دِ تورات نسخه هم واپس راغله۔او د اتفاق او اتحاد او اجتماعیت برکات او قوت ظاهر شو۔

اسباق

❶ په جهاد کښے دکامیابئ دپاره د جهاد په امیر باندے متفق کیدل اومطمئن کیدل ضروری دی۔

❷ پـه جهاد کښے دکامیابی دپاره پـه زړونـو کښے اطـمینان اوسکون او دجذبے موجودگی ضروری ده۔ د دے دپاره پکار دی چه دالله تعالیٰ په کتاب سره زړونه مضبوط کړے شی۔

❸ د الله تعالیٰ دغیبی امداد دعاء دے اوکړے شی۔ چه مظلومانو ته په جهاد کښے په ظالمانو باندے کامیابی ملاؤ شی۔او دا دالله تعالیٰ د نصرت نه بغیر نۀ کیږی۔



سُوۡرَةُ الۡبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۴۹

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوۡتُ بِالۡجُنُوۡدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبۡتَلِيۡكُمۡ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنۡ

بیا چه کله طالوت فوجونه واخستل او ووتلو نو وے وئیل چه بے شکه الله تعالیٰ په یو نهر سره ستاسو

شَرِبَ مِنۡهُ فَلَيۡسَ مِنِّىۡ ۚ وَمَنۡ لَّمۡ يَطۡعَمۡهُ فَاِنَّهٗ مِنِّىۡۤ اِلَّا مَنِ

امتحان کونکے دے چاچه ددے نهر اوبه اوڅکلے نو هغه ځما نه دے اوچاچه دا اونه څکلے نو هغه بے شکه

اغۡتَرَفَ غُرۡفَةًۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوۡا مِنۡهُ اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡهُمۡ ؕ

ځما دے۔ سیوا د هغه کس نه چه یوه لپه په خپل لاس راواخلی۔ بیا په دوی کښں سوا دیو څو کسانو تولو

فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ ۙ قَالُوۡا لَا طَاقَةَ لَنَا

دهغے اوبه اوڅکلے۔ بیا چه کله طالوت او ایمان والا دهغه سره پورے وتل نو وے وئیل چه نن زمونږه

الۡيَوۡمَ بِجَالُوۡتَ وَجُنُوۡدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيۡنَ يَظُنُّوۡنَ اَنَّهُمۡ مُّلٰقُوا

دجالوت او دهغه د لښکرو سره دجنګ طاقت نشته۔ چه دکومو خلقو یقین ووچه دوی به الله تعالیٰ سره

اللّٰهِ ۙ كَمۡ مِّنۡ فِئَةٍ قَلِيۡلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةً كَثِيۡرَةًۢ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ

ملاویږی نو هغوی ووئیل۔ ډیرے ورے ورے ډلے په لویو لویو ډلو باندے د الله په حکم سره بریالی شوے

وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ ﴿۲۴۹﴾

دی او الله تعالیٰ صبر کونکو سره دے۔

نچوړ

بیا چه کله بنی اسرائیلو طالوت بادشاه اومنلو او دجالوت دمقابلے دپاره خلق راجمع شول۔ او طالوت فوجونه واخیستل اوخپل مقام یعنی بیت المقدس نه دعمالقه طرف ته لاړو نو هغوی خپلو مجاهدینو ته اووئیل چه الله تعالیٰ به ستاسو امتحان کوی دیو دریاب په ذریعه سره۔ پس چه چا دهغے نه او به اوڅښلے هغه به ماسره جهاد ته نشی تلے۔ اوچه کوم بالکل نه څښی یا صرف یو لپه اوڅښی نو هغه به ماسره په دے معرکه کښے شریک وی۔ کله چه دا لښکر په دریاب باندے وراورسیدو نو دلږو شان کسانو نه علاوه باقی ټولو کسانو اوبۀ اوڅښلے۔ نو په دے

وجه هغه کسان ورستو پاتے شول او طالوت او د هغهٔ پوخ ایمان والا هغه ملګری چه هغوی داشرط نهٔ وومات کړے د دریاب پورے غاړه دجهاد میدان ته اورسیدل۔ چه کله هغوی د طالوت لوئے لښکر اوخپل لږ تعداد ته اوکتل نو وے وئیل چه نن مونږ دجالوت او د هغهٔ د لښکر دمقابلے قوت خپل ځان کښے نهٔ وینو۔ نو هغه مجاهدینو چه هغوی ته دالله تعالیٰ دملاقات یقین وو۔ هغوی ووئیل چه ډیر کرته داسے شوے دی چه واړهٔ واړهٔ جماعتونه دَالله تعالیٰ په حکم باندے په لویو لویو لښکرونو باندے غالب شوے دی۔ اوچه کوم خلق ثابت قدمه اوسی الله پاک د هغوی سره وی۔

اقوال

اَلْجُنُوْدِ یعنی لښکر

❶ ددے لښکر تعداد مفسرینو اتیا زره لیکلی دے۔ وکان عدد الجنود فی قول السدی ثمانین الفاً (قرطبی)

❷ قال وهب بن منبه لم یخلف عنه الاذو عذرمن صغر او کبراومرض. یعنی وهب رحمه الله فرمائی چه د وړوکی او د بوډا او د مریض نه علاوه ټول خلق د هغوی سره اووتل (قرطبی)

❸ بعضے روایاتو کښے دی چه خلق ډیر په جوش اوشوق کښے وو۔ ځکه ډیر زیات خلق وتلو ته تیار شو۔ بیا طالوت اعلان اوکړو چه صرف ځوانان، چست او فارغ کسان ماسره لاړشئ۔نو بیا اتیا زره (۸۰۰۰۰)کسان هغوی سره لاړل۔امام رازی رحمه الله لیکی ولا ابغی الاالشاب النشیط الفارغ فاجتمع الیه ممن اختار ثمانون الفاً (تفسیر کبیر)

حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی :

دطالوت سره ټول په هوس سره تیار شول او هغوی شرط اولګاؤ۔ چه کوم سړے ځوان او بے فکره وی هم هغه دے اوځی۔داسے هم اتیا زره راووتل۔ هغهٔ اوغوښتل چه په دوی ازمینښت اوکړی۔په یو ځائے کښے اوبه ملاؤ نهٔ شوے پس د هغے نه یو نهر ملاؤ شو۔ هغهٔ شرط اولګولو چه دیوے لپے نه زیاتے چا اوڅښلے هغه دے ما سره نهٔ راځی۔ درے سوه او دیارلس سړی پاتے شو۔باقی ټول وروستو ایسار شو۔(موضح القرآن)

اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِیْكُمْ بے شکه الله تعالیٰ به ستا سو امتحان اخلی۔دا امتحان په کوم مقصد باندے وو۔ یو څو اقوال اوګورئی:

❶ ددے امتحان حکمت اوتوجیه د احقر په ذوق کښے دا معلومیږی چه په داسے

موقعو باندے جوش وخروش او درز دروز ډیر زیات کیږی۔ خو په وخت باندے تینګیدو والا کم وی او په هغه وخت کښے د داسے خلقو په خوید لوسره باقی خلق هم خوئیږی۔ الله تعالیٰ داسے خلق بیلول غوښتل۔ د دے دپاره ئے دا امتحان مقرر کړو چه ډیر مناسب دے۔ ځکه چه په قتال کښے ضرورت د کلکوالی او د سختیدو وی۔ نو دسختے تندے په وخت کښے بغیر منته ملاویدونکی اوبو ته زړه تینګول د کلکوالی دلیل دے او د ړندو لیونو پشان پکښے ورغورزیدل د کچه والی دلیل دے۔ (بیان القرآن)

❷ فی حکمة هذا الابتلاء وجهان نچوړ دا دے چه په دے امتحان کښ څه حکمت وو۔ په دے کښے دوه قوله دی۔ وړومبے دا چه بنی اسرائیل د انبیاء کرامو علیهم السلام او دخپلو امیرانو د نافرمانئ کولو اموخته وو۔ او د لوئے لوئے علاماتو په لیدو باندے به هم نۀ منعه کیدل۔ په دے وجه د دے عظیم جهادی معرکے نه مخکښے دهغوی ازمیښت ضروری وو۔ چه د اطاعت کونکو اوتختیدونکو په مینځ کښے دجهاد نه مخکښے مخکښے جدائی راشی۔ دویم قول دادے چه دا امتحان د تربیت په طور وو۔ چه مشکلاتو باندے دصبر کولو صلاحیت په هغوی کښے پیدا شی۔ (تفسیر کبیر)

النهر دا کوم یو دریاب وو۔؟

❶ انه نهر بین الاردن وفلسطین وهو قول قتاده والربیع یعنی دا دریاب داردن او د فلسطین په مینځ کښے دے (تفسیر کبیر)۔

❷ انه نهر فلسطین یعنی دا د فلسطین دریاب دے۔ دا قول دحضرت ابن عباس طرف ته منسوب دے۔ (تفسیر کبیر)

❸ د دے نه مراد د اردن دریاب دے۔ (تفسیر ماجدی)

فَلَيْسَ مِنِّیْ چه څوک اوبه اوڅښی هغه به ماسره نه شی تلے۔

علامه آلوسی رحمه الله لیکی:

عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما: ان من شرب لم یزده الاعطشا وفی روایة ان الذین شربوا اسودت شفاههم وغلبهم العطش یعنی دحضرت ابن عبا س رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه چا به هم اوبه څښلے دهغۀ تنده به زیاتیده۔ او په یو روایت کښے دی چه چا اوبه اوڅښلے (حکم ئے وونۀ منلو) دهغوی شونډے تورے شوے او د تندے نه

بے حاله اومغلو به شول۔ (تفسیر روح المعانی)

اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ په دوی کښې لږ شان خلقو حکم اومنلو او به ئے اونهٔ څښلے۔

❶ وكانو ثلثمائة وثلاثة عشر عدة اهل بدر على ما اخرجه البخارى عن البراء رضى الله تعالىٰ عنه (روح المعانى)

دا درے سوه او دیارلس حضرات وو۔ دا اهل بدر په شمار وو۔ دهغه روایت مطابق چه امام بخاری رحمه الله دحضرت براء رضی الله تعالی عنه نه بیان کړے دے۔

❷ القليل الذى لم يشرب قيل انه اربعة آلاف والمشهور وهوقول الحسن انهم كانوا علىٰ عدد اهل بدر ......الخ یعنی یو قول پکښے دادے چه دَهغوی تعدا د څلور زره (۴۰۰۰) وو۔ خو مشهورقول پکښے دحضرت حسن بصری رحمه الله دے چه دهغوی تعداد داصحاب بدر برابر وو۔ یعنی د درے سوه اولسو نه لږ زیات۔ اوهغوی ټول ایمان والا وو۔ او د دے قول دلیل دا دے چه حضور اکرم ﷺ د بدر په ورځ خپلو اصحابو ته اوفرمائیل۔ نن ستاسو تعداد دطالوت دهغه ملګرو برابر دے چه د دریاب پورے وتلے وو۔ اوهغوی سره صرف ایمان والا ددریاب نه پورے وتلے وو۔ حضرت براء بن عازب رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه مونږ (دبدر) په هغه ورځ درے سوه او دیارلس سړی وو۔ (تفسیر کبیر)

فدائی حضرات

چه کله بعضے خلقو اووے چه نن په مونږ کښے دجالوت او دهغهٔ د دومره لوئے لښکر سره د جنګیدو طاقت نشته۔ نو هغه خلقو چه هغوی د الله تعالیٰ سره د ملاقات یقین لرلو۔ ټول لښکر ئے راغونډ کړو اوتسلی ئے ورته ورکړه۔ قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ يظنون د يوقنون په معنی باندے دے چه هغوی ته "یقین" وو (تفسیر کبیر) ان المراد من لقاء الله الموت. لقاء الله نه مراد "مرګ" دے۔ یعنی هغوی د الله تعالیٰ دپاره دځان قربانولو پوخ عزم کړے وو۔ (تفسیر کبیر) نو په داسے خلقو باندے د الله تعالیٰ رحمت نازلیږی۔ علامه آلوسی رحمه الله لیکی۔ ويحتمل ابقاء الظن على معناه والمراد يظنون انهم يستشهدون عما قريب ويلقون الله تعالىٰ یعنی دا هم ممکنه ده چه "ظن" پخپله اصلی معنی "ګمان غالب" باندے اوساتلے شی۔ اومراد دادے چه هغوی ته "غالب ګمان" وو چه هغوی به ډیر زر شهیدان شی اوالله تعالیٰ سره به ملاؤ شی۔ (روح المعانی)

كَمْ مِّنْ فِئَةٍ هغه خلق چه هغوی ته یقین وو۔ چه الله تعالیٰ د مرګ نه پس په ژوندی کولو باندے قادر دے۔نو هغوی ته د دے خبرے هم یقین وو۔ چه هغۀ ته دکمزورو غالب کول څه ګران دی ؟ لهذا هغوی دَټول لښکر همت مضبوط کړو۔ (مستفاد من روح المعانی)

وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ المراد منه المعية بالنصر والاحسان یعنی الله تعالیٰ په خپل نصرت او په خپل احسان سره د تینګیدو نکو ملګرے دے۔ (روح المعانی)

اسباق

١ دجهاد دپاره تربیت او تیارے ضروری دے۔

٢ د دنیا محبت او د نفس غلامی دجهاد دپاره زهر قاتل دے۔

٣ د نفس په خواهشاتو باندے خپه ایښودو والا او د مقصد په خاطر تکلیف برداشت کولو والا مجاهدین کامیابیږی۔

٤ فتحه د تعداد په کم والی زیاتوالی نۀ ده۔ بلکه دالله تعالیٰ په مدد سره ملاویږی۔

٥ دالله تعالیٰ سره دملاقات شوق یعنی دځان قربانولو جذبه او د شهادت شوق سره مجاهدین ډیر طاقتور کیږی۔

٦ دلښکر امیر ته پکار دی چه دجنګ نه مخکښے چاڼ اوکړی او هغه کسان وویاسی چه د جنګ په دوران کښے خلق بے زړه کوی۔او څه دے داسے خلق مقرر کړی چه دجنګ دسفر په دوران کښے او عین د جنګ په وخت دلښکر حوصله۔ همت او د شهادت شوق زیاتوی۔

٧ چه کله اهل ایمان دجهاد دپاره اوځی نو په لار کښے ورته ډیرے دکشش نه ډکے فتنے راځی۔ مجاهدینو له پکار دی چه په دے خوږو دریابونو کښے خولۀ نه وخی او منزل طرفته مخکښے ځی۔



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّة آیت ۲۵۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا

او هر کله چه دوی لوتل د جالوت او د هغهٔ د فوج مقابلے ته۔نو دوی ووئیل چه اے زمونږه ربه! راووروه په مونږ

وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾

باندے صبر۔او کلکے کړے زمونږه خپے۔او د کافر قوم په مقابله کښں زمونږ مدد ووکړے۔

نچوړ

چه کله د تولو زړه کلک شو۔او د جالوت او د هغهٔ د لښکر مخکښے په صفونو کښں اودریدل۔نو دعاء ئے شروع کړه۔ چه اے زمونږه ربه! زمونږ په زړونو باندے د صبر او د مضبوطیا باران راؤوروه۔ او مونږ ته په جنگ کښے صبر او ټینګیدل رانصیب کړه۔ او په کافرانو باندے مونږ له غلبه راکړه۔

تفسیری قولونه

وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ او کله چه طالوت او د هغهٔ مجاهدین د جالوت او د هغهٔ د فوجونو مخے ته راتلل

ای ظهروا لقتالهم وتصافوا یعنی کله چه د قتال د پاره مخے ته راغلل او هغوی صف بندی اوکړه۔(جلالین)

المبارزة فی الحروب هی ان یبرز کل واحد منهم لصاحبه وقت القتال یعنی په جنګونو کښں د مبارزے مطلب د قتال په وخت کښں د مقابله کونکی مخے ته راتلل دی۔ (تفسیر کبیر)

نکته

احادیثو مبارکو نه ثابته ده۔چه دا وخت خاص طور باندے د دعاء د قبولیت وخت دے۔

دَ دعاء درے حصے

د دے دعاء درے حصے دی۔اصل کښں جنګ کښں د کامیابئ د پاره د خپو د کلکیدو ضرورت وی۔او خپے هله کلکیږی چه کله زړهٔ کلک وی۔ په دے وجه هغوی اول د زړهٔ د مضبوطتیا دعاء اوغوښتله۔بیا ئے د خپو د

مظبوطتیا دعاء اوغوښتله چه دا په حقیقت کښې په مضبوطتیا سره او بهادرئ سره د جنګیدو توفیق دے۔ دا مطلب ئې نهٔ دے۔ چه کنې خپے دخپل ځائي نه اونهٔ خوزي ۔بیا ئې په آخر کښې د الله تعالیٰ نه نصرت یعنی مدد ووغوښتلو۔ ځکه د زړهٔ په مضبوطتیا اوپه جنګ کښې په بهادرئ هم کار نهٔ کیږي۔کله چه د الله تعالیٰ دطرفنه نصرت نهٔ وي نو غلبه نهٔ ملاویږي۔دے وجهے نه ئې د الله تعالیٰ نه دنصرت اود غلبے دعاء اوغوښتله (المستفاد من التفاسیر)

نکته

زړه دشهادت دشوق نه ډک وو۔الله تعالیٰ سره دملاقات شوق د دوی د زړهٔ نه هره کمزوري لرے کړے وه۔ په دے دنیا کښې داوسیدو جذبه لرل د انسان کمزوري ده۔ دے کمزورئ کښې بے شمیره کمزورئ پټے دي۔ بیا چه د دشمن مخے ته ئې صفونه جوړ کړل او اودریدل۔نو دا وخت د دعاء د قبلیدو خاص وخت دے۔ د پاک او شوقمند زړهٔ سره د قبولیت په وخت کښې دعاء دپاره اووتل نو فوراً قبوله شوه او الله پاک ورله فتحه ورکړه۔(والله اعلم باالصواب)

سبقونه

❶ مجاهدینو له الله طرفته رجوع کول پکار دي۔

❷ د جنګ شروع کولو نه مخکښے دعاء کول پکار دي۔

❸ کله چه دشمن مخے ته راشي نو دهغهٔ دطاقت نه د یریدو یا دمرعوبه کیدو په ځائے دالله تعالیٰ په طاقت باندے نظر اچول پکار دي اودهغهٔ مخکښے فریاد او دعاء کول پکار دي۔

❹ جهادي تربیت کښې د دریو خبرو خیال ساتل پکار دي۔

(الف) همت چه داسے اوچت وي چه د زړهٔ مضبوطتیا ورته نصیب شي۔

(ب) بهادري داسے پیدا شي چه ثابت قدمي ورته حاصله شي۔

(ج) داسے نیت اوداسے عمل لازمول پکار دي چه دالله تعالیٰ نصرت اومدد نازلیږي۔



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۵۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۙ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ

نو د الله تعالیٰ په حکم سره دوی هغو ته شکست ورکړو۔ او داؤد (علیه السلام) قتل کړو جالوت

الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ

لره۔ او الله تعالیٰ دهٔ ته سلطنت او حکمت ورکړو۔ او څه چه یے غوښتل هغه ئے ورته اوښودل۔ او که الله

النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ

تعالیٰ نهٔ دباؤ کولے بعضے په بعضو باندے۔ نو زمکه به د فساد نه ډکه شوے وه۔ خو الله تعالیٰ د جهان

فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾

په خلقو باندے فضل والا دے۔

نچوړ

(د حضرت شاه عبد القادر رحمه الله)

په درے سوه لس و کسانو کښ حضرت داؤد علیه السلام او د هغهٔ پلار او شپږ ورونړه هم وو۔ دوی ته په لار کښ درے کاڼړی ملاؤ شو۔ هغوی دهٔ ته اووے چه مونږ اوچت کړه۔ جالوت به مونړه وژنو۔ کله چه مقابله شروع شوه۔ نو جالوت پخپله مقابلے ته راؤوتهٔ او وے وئیل چه تاسو ټولو له څهٔ یو اځے بس یم ۔ راوړاندے کیږئ۔ پیغمبر د حضرت داؤد علیه السلام پلار را اوبلهٔ چه خپل ځامن ماته اوښایه۔ هغه ورته شپږ ځامن اوښودل چه لوړ قد والا وو۔ حضرت داؤد علیه السلام ئے او نهٔ ښودلو۔ د هغهٔ قد لوړ نهٔ وو۔ او چیلۍ به ئے څرولے۔ پیغمبر هغه را اوغوښتو او تپوس ئے ترینه اوکړو چه جالوت وژل غواړے۔ هغهٔ اووے چه "او" وژل ئے غواړم۔ بیا جالوت ته مخامخ ورغے۔ او هغه درے کاڼړی ئے په مچوغنه کښ کیښودل او ورګذارئے کړل۔ د جالوت تندے خالی وو۔ اونور ټول بدن ئے په اوسپنه کښ پټ وو۔ کاڼړی د هغهٔ په تندی اولګیدل او شاته ترینه اووتل۔ (موضح القرآن)

فائده

د دے نه پس طالوت خپله لور هغوی ته په نکاح ورکړه۔ او د طالوت نه پس بادشاه شو۔ (موضح القرآن)

فائده

تاپویه خلق وائی جنگ دنبیانو کار نه دے۔ ددے قصے نه معلومه شوه چه جهاد دهمیشه راسے دے او که چرے جهاد نه وی نو خراب خلق به ملک روان ویجاړ کړی۔ (موضح القرآن)

تفسیری اقوال

فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ اللَّهِ د ایمان خاوندانو جالوت ته او دهغهٔ لښکر ته دالله تعالیٰ په حکم شکست ورکړو۔

المعنی ان الله تعالی استجاب دعاء هم وافرغ الصبر علیهم وثبت اقدامهم ونصرهم علی القوم الکافرین جالوت وجنوده وحقق بفضله ورحمته ظن من قال كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ الخ

یعنی مطلب دادے۔ چه الله تعالیٰ د ایمان د خاوندانو دعاء قبوله کړه۔ او دوی له ئے صبر اواستقامت ډیر زیات ورکړو۔ او بهادری او مضبوطتیا ئے ورله ورکړه۔ اودوی له ئے په جالوت اودهغه په کافرو لښکریانو باندے غلبه ورکړه۔ او هغهٔ په خپل فضل اورحمت سره دهغه خلقو ګمان ریشتیا کړو چا چه وئیلے وو۔ كَم مِّن فِئَةٍ الخ (تفسیر کبیر)

❶ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ او حضرت داؤد علیه السلام جالوت لره قتل کړو۔

قال ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ان داؤد علیه السلام کان راعیاً وله سبعة اخوة مع طالوت یعنی حضرت ابن عباسؓ فرمائی چه حضرت داؤد علیه اسلام به ګډے بیزے ساتلے او دهغهٔ اووهٔ رونړه دطالوت په لښکرکښ شامل وو۔ (تفسیر کبیر)

❷ هوابن ایشا یعنی دهغهٔ دپلار نوم ایشا وو (القرطبی)

❸ عن وهب بن منبه قال لما برز طالوت لجالوت الخ یعنی وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چه کله طالوت اوجالوت یو بل سره مخامخ شو۔ نوجالوت اووے چه هغه کس راوباسئ چه ماسره جنګ اوکړی که چرے هغهٔ څه قتل کړم۔ نو څما ملک ستاسو۔ اوکه ما قتل کړو نو ستا سو ملک څما۔ طالوت له حضرت داؤد علیه السلام راوستے شو۔ طالوت هغهٔ سره معاهده اوکړه چه که هغهٔ جالوت قتل کړو نوطالوت به خپله لور ده له په نکاح ورکړی۔ اوخپل مال کښ به ده له اختیار ورکړی۔ بیا طالوت داؤد علیه السلام ته وسله اچوله نو هغوی خوښه نهٔ کړه۔ او وے فرمائیل چه که الله تعالیٰ دَهغوی په مقابله کښ زما نصرت یعنی امداد اونهٔ فرمائیلو نو دا وسله به زما هیڅ هم پکار رانشی۔ بیا حضرت داؤد

علیه السلام خپله مچوغنه۔لرگے او څه کانړي واخستل او د جالوت مقابلے ته اووتۀ۔ نو جالوت ورته اووے آیا ته ما سره جنگ کوے؟ حضرت داؤد علیه السلام اوفرمائیل چه "او" نو جالوت اووے۔ هلاک شے۔ تۀ زما مقابلے ته د یو څو مچوغنو او کانړو سره راوتے ئے۔ څنگه چه سړے دَسپی مقابلے دپاره راوځی۔ زه به ستا تکړے تکړے کړم اوستا غوښه به په مرغانو او درندګانو باندے ووخروم۔ حضرت داؤد علیه السلام اوفرمائیل تۀ د الله تعالیٰ د ښمن د سپی نه هم خراب ئے۔(دے نه پس مقابله اوشوه او حضرت داؤد علیه السلام جالوت لره په کانړو باندے مړ کړو) (روح المعانی)

دا واقعه دغه شان نورو اسرائیلی راوایاتو کښې څۀ کمی او زیاتی سره راغلے ده۔

❷ داؤد بن ایسی بن عوبید (۱۰۲۴ ق م تا ۹٦۳ ق م) یو حق پیغمبر وو۔ قرآن مجید کښې دَهغوی ذکر شپاړس ځایه راغلے دے۔ دَ طالوت په فوج کښې هغه صرف د یو زلمی په حیثیت سره شامل وو۔دغه وخته پورے ورته نبوت نۀ وو ورکړے شوے۔او نۀ ورته بادشاهی او سلطنت ورکړے شوے وو۔ (ماجدی)

وَ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ او الله تعالیٰ داؤد علیه السلام نه بادشاهی اوحکمت ورکړو۔ جامع خلاصه په دے عبارت کښې ده۔

حضرت داؤد علیه السلام دَاسرائیلی نسل دویم بادشاه دے۔ړومبے تاجدار ئے طالوت وو۔ داؤد علیه السلام دَهغۀ زوم وو۔ طالوت چه کله دخپل مشر ځوی سره دَجنگ په میدان کښې شهید شو۔نو یهودا قبیلے داؤد علیه السلام خپل بادشاه منتخب کړو۔او دَ دواؤ کالو د اګړم بګړم نه پس باقی قبیلو هم په هغوی باندے اتفاق اوکړو۔ اووۀ کالو پورے هغوی خپل پایه تخت یعنی دارالخلافه جبرون (یعنی الخلیل) کښې اوساتله۔اودَ هغے نه پس ئے یروشلم د دښمنانو دَقبضے نه آزاد کړو او دارالحکومت ئے جوړ کړو۔ هغوی خپلو ګیر چاپیره حکمرانانو باندے غلبه حاصله کړه او د خپل سلطنت حدود ئے نورهم فراخه کړل۔ دَهغوی دَحکومت زمانه دَاسرائیلو په تاریخ کښې د فتوحاتو او دښکلے انتظام په لحاظ یو یادگار دے۔ (تفسیر ماجدی)

(روح المعانی) کښې دی چه طالوت خپل ځان سره لس ځامن جهاد ته بوتلے وو۔او په جنګ کولو کښې سره د دوی ټول شهیدان شول

وَالْحِكْمَةَ: حکمت نه مراد نبوت دے چه دَحکمت دَ ټولو نه اوچت مقام دے۔(تفسیر ماجدی)

❷ فاجتمع الملک والنبوة فیه یعنی په حضرت داؤد علیه السلام کښې بادشاهت او نبوت دواړه جمع شو حالانکه د دوی نه وړاندے به بنی اسرائیلو کښې دا دواړه بیل بیل وو۔ (تفسیر کبیر)

ولم یجتمع الملک والنبوة لا حد قبله بل کانت النبوة فی سبط والملک فی سبط(روح المعانی)

وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ او الله تعالی چه څه غوښتل نو هغۀ ته ئے وو ښودل ۔

❶ کصنعة اللبوس ومنطق الطیر وکلام الدواب یعنی د زغرو جوړولو چل۔ دمرغو خبرے۔اود څناورو ژبه وغیره۔ (روح المعانی)

❷ ففیه وجوه الخ په دے کښې ډیر قولونه دی۔ زغرے وغیره جوړول ئے ورته وو ښودل۔ لکه چه د قرآن په څو آیاتونو کښې دی۔ د مرغو او دمیږو په خبرو باندے ئے پوهه کړو۔ دَ دنیاوی او حکومتی معاملاتو پوهه ئے ورله ورکړه۔ څکه چه خاندانی طور هغه بادشاه نۀ وو۔ بلکه شاروی به ئے څرول۔ددین علم ئے ورته اوښودلو۔ څکه چه هغه په خلقو باندے حاکم وو۔ نو د فیصلو دکولو چل ورته ښودل ضروری وو۔ خشته آواز ئے ورله ورکړو۔ او زړۀ راخکونکے لهجے ئے ورته اوښودلے۔امام رازی رحمه الله د دے پینځو قولونو ذکر کولو نه پس فرمائی۔ ولا یبعد حمل اللفظ علی الکل۔یعنی د دے الفاظو وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ نه دا ټولے معنے مراد اغستلے شی۔ (تفسیر کبیر)

وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ او که چرے الله تعالیٰ بعض خلق دبعضے خلقو په ذریعے سره نۀ دفعه کول نو زمکه به د فساد نه ډکه شوے وه۔

❶ وقال ابن عباس ولولا دفع الله العدو بجنود المسلمین لغلب المشرکون فقتلوا المومنین و خربوا البلاد والمساجد یعنی حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی (د آیت مطلب دا دے چه) که چرے الله تعالیٰ دمسلمانانو دلښکرو په زریعه دشمن نۀ دفعه کوی نو مشرکان به غالب شی او مسلمانان به قتل کړی او د دوی ښارونه او جماتونه به تباه او وران ویجاړ کړی۔ (القرطبی)

❷ ای لولا یدفع عن قوم بآخرین کما دفع عن بنی اسرائیل لمقاتلة طالوت وشجاعة داؤد

لهلكوا يعني كه الله تعالىٰ د بعضے قومونو نه بعضے نهٔ دفعه كوى لكه څنګه چه هغهٔ د بني اسرائيلونه دطالوت په جهاد او دحضرت داؤد عليه السلام په بهادرئ سره د شمن دفعه کړو۔ نو خلق به هلاک شي۔ (تفسير كبير)

❸ لَفَسَدَتِ الْاَرْضُ بغلبة المشركين وقتل المسلمين وتخريب المساجد۔ يعني كه دجهاد سلسله نهٔ وی نو زمکه به د فساد نه ډکه شي۔ او هغه داسے چه مشرکان به غالب شي۔ مسلمانان به شهیدان کړے شي۔ اوجماتونه به وران وبجاړ کړے شي۔(جلالين) ثابته شوه چه زمکه باندے دکفر او دشرک مشري هم اصل فساد دے۔

❹ د دے نه معلومه شوه چه دجهاد حکم دهمیشه نه راروان دے۔ او په دے کښ لوئے رحمت او احسان دے۔ ناپوهه خلق وائي چه جنګ کول د نبيانو کارنهٔ دے۔ (تفسير عثماني)

❺ که په دنيا کښ دجنګونو سلسله بنده شوے وه۔ نو ټوله زمکه به دشر او د فساد نه ډکه شوے وه۔ خو الله تعالىٰ ته لا ددے باقي ساتل منظور دی په دے۔ وجه سر تيري راپورته کولے شي چه هغوی کفر او دکفر د خاوندانو هغه کوششونه ختم کړي چه هغوی ئے د باطل په مرسته کښ کوی۔ (تفسير الفرقان)

وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ليكن الله تعالىٰ خو د دنيا په خلقو باندے لوئے فضل كولو والا دے۔

❶ يدفع عنهم بعضهم بعضاً چه د بعضو په بعضو باندے دفعه کولو سره خپل فضل فرمائي۔ (ابن كثير)

فائده

بني اسرائيل دهلاكت او د تباهئ آخري حد ته رسيدلے وو۔ الله پاک دجهاد په ذريعے سره دشنمن له شکست ورکړو۔ او په بني اسرائيلو کښ ئے نبوت۔ حکومت۔ علم او دترقئ برکتونه جاري کړل۔ نو دجها د داسلسله الله تعالىٰ په خپل فضل سره په دے وجه جاري کړے ده چه زمکه د فساد نه بچ شي۔ نو معلومه شوه چه جهاد رحمت دے او فساد نهٔ دے۔ او دا دالله تعالىٰ په خپلو بندګانو باندے خاص فضل دے۔ نور تفصيل په "جهاد رحمت يا فساد" نومے رساله کښ اوګورئ۔

نکته

کیدے شي چه څوک حيران شي چه دومره طاقتور دشمن په دومره معمولي

جنگ سره ځنګه ختم شو۔ نو جواب دا دے چه کله دایمان خاوندان دسر ورکولو دجذبے نه ډک وی نو دهغوی قوت ډیر زیات شی۔ او دهغوی دحوصلو دا وچتوالی نفسیاتی اثر په د شمن باندے پریوځی۔ او په دشمن باندے ویره راولی۔ حضور اکرم ﷺ چه کله دحدیبیه په موقعه باندے دخپلو صحابه کرامو ؓ نه دمرګ بیعت واغستۀ۔ او دا ورو کے غوندے لښکر الله تعالیٰ ته دسر ورکولو دپخے جذبے نه ډک شو۔ نو دمکے په مشرکانو باندے رعب پریوتو۔ او د دے باوجود چه علاقه ئے خپله وه خو بیا هم د مسلمانانو ئے هیڅ اونۀ کړے شو۔ بلکه روغے ته ئے غاړه کیښوه۔ دمکے دفتحے په موقع باندے دمسلمانانو جذبے او حوصلے دومره اوچتے وے چه دعربو جنګجو مشرکان چه دجنګ شوقیان اوماهران وو۔ خو مقابلے ته رانغلے شو۔ اصل خبره داوه چه دمسلمانانو د سر ورکولو جذبو د مشرکانو حوصلے بیخی ختمے کړے وے۔ هم دغه صورت حال په دے جنګ کښ هم ښکاری۔ دطالوت د درے سوه دیارلسو کسانو لښکر د ازمیښتونو نه تیریدو سره خالص شوے وو۔ او د الله تعالیٰ سره دملاقات ریښتونی شوق د دوی نه داسے قوت جوړ کړے وو۔ چه دهغے په مقابله کښ اودریدل خویو اړخ ته کړه۔ بلکه د دشمنانو هغے پاتے شوے همت هم جواب ورکړو۔

اصل خبره هم داده چه جنګ په ایمان اوحوصلے سره کولے شی۔ باقی څیزونه په دویمه درجه کښ دی۔ والله اعلم بالصواب

سبقونه

1. په دشمنانو باندے فتحه زر موندلو دپاره دکفر سرداران نښه کول پکار دی۔
2. جهاد ته د راتلونکو ځوانانو قدر اوحوصله افزائی دے اوکړے شی۔
3. جهاد دے د الله تعالیٰ رحمت او دهغۀ فضل اوګڼړلے شی۔
4. دجهاد امیر دے بهادرو مجاهدینو له انعامونه ورکوی اوځان ته دے نیزدے کړی۔



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۵۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۲۵۲

دا د الله تعالیٰ آیتونه دي. مونږ ئې تا ته ټیک ټیک لولو او بې شکه ته زمونږ په رسولانو کښې یې.

نچوړ

دا ټول واقعات د الله تعالیٰ په محکمو آیتونو کښې تاسو ته ټیک ټیک وئیلے کیږي او اوروله کیږي. او تاسو یقینا د الله تعالیٰ په رسولانو کښې ئې. (بس تاسو ته به هم دجهاد په ذریعه هم دغه شان په خپلو طاقتورو دښمنانو باندې غلبه ملاؤ شي. او دَټولې دنیا خلق به د قرآن پاک په حقانیت او ستاسو په رسالت ایمان راوړي.)

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ دا د الله تعالیٰ آیتونه دي.

اشارة الی ماسلف من حدیث الالوف وموتهم واحیائهم وتملیک طالوت واظهاره بالاٰیة واهلاک الجبابرة علی ید صبی: تِلْكَ په کښې هغه واقعا تو طرفته اشاره ده چه روستو تیر شو. دَ زرګونو کسانو دَمرګ نه دَبچ کیدو دپاره راوتل. دَهغوی مړه کیدل. بیا ژوندي کیدل. دطالوت بادشاه جوړیدل. دهغهٔ د بادشاهئ دپاره د نخښې ښکاره کیدل. او د طاقتور دښمن د ماشوم د لاسه هلاکیدل. (روح المعاني)

ربط

❶ (اے نبی ﷺ) ستاسو دضرورتونو پوره کولو دپاره دا قصه اوروله کیږي. ستاسو دپاره به هم دغه شان بادشاهي قائمه کړې شي. څنګه چه د بنی اسرائیلو دپاره قائم کړې شوې وه. ګویا دې آیت کښې دسلطنت د ورکولو وعده ده. (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

❷ دا ټوله قصه دې دپاره بیان کړې شوې وه چه څنګه بنی اسرائیلو خپل حکومت قائم کړه. دغه شان د رسول الله ﷺ په حق کښې هم پیشن ګوئی کړې شوې ده. چه هغوی هم د اسلام د مخالفینو سره جنګ کوي او آخر به په هغوی غالب کیږي هغوی ته به د مسلمان امت د بقا او د قیام دپاره د سلطنت قائمولو ضرورت محسوسیږي. په دې وجه دهغوی د راتلونکو ضروریاتو د

مصلحت په غرض باندے اوس دا قصه بیانیږی۔ او په دے قصه کښ د هغه تولو سیاسی کارونو تعلیم ورکړے شوے دے چه د حکومت په قائمولو کښ مخے ته راځی۔ او هغوی په اسانئ سره دهغے په بنیاد باندے د مملکت انتظام برابر کړے شی۔

حضرت داؤد علیه السلام پیغمبرانو رسولانو کښ وو۔ هغوی ته په دنیا باندے د قبضے اچولو او د دنیا د سنبالولو علوم ورکړے شوے وو۔ تاسو هم را لیږے شوے رسول ئے نو ضروری دی چه په تاسو هم قسما قسم مهربانئ ووشی (تفسیر الفرقان)

نکته

د بدر په غزا کښ د طالوت د جهاد پشان واقعات څه موده پس مخے ته راغلل۔ د لږ شمیر او بے سروسامانه مسلمانانو دَ مشرکینو وسله بند لښکر له شکست ورکړو۔ او ابوجهل پشان جنگ کونکے بهادر د ماشومانو د لاسه را اوغورزولے شو۔ (والله اعلم بالصواب)

دعاء

یا الله! مونږ مسلمانانو له توفیق راکړے چه د دے قصے نه دَیو ځائی کیدو او د جهاد کولو سبق واخلو۔ مونږ ته هم دَجهاد اهل شرعی امیر راکړے۔ زمونږ تس نس طاقت راجمع کړے۔ او مونږ ته فتحه او برکتونه راکړے۔ (آمین یا رب المستضعفین)



سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّة آیت ۲۶۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ

دهغې خلقو مثال چه د الله تعالیٰ په لاره کښې مال خرچ کوی داسې دې چه لکه یوه دانه را

اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ

اوټوکوی اووۀ وږی۔ چه په هر وږی کښې سل سل دانې وی۔ او الله تعالیٰ چه دچا دپاره اوغواړی

يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۶۱﴾

نوزیاتوی۔ او الله تعالیٰ ډیرې فراخۍ والا او د علم خاوند دې۔

نچوړ

❶ په جهاد کښې مال خیرات کول ډیر داجر او د ثواب او د برکت ذریعه ده۔

❷ جهاد کښې لګولې شوې مال الله تعالیٰ زیاتوی او دَ حد نه زیات اجر پرې ورکوی۔

ربط

لماقص الله سبحانه مافيه من البراهين حث على الجهاد واعلم ان من جاهد بعد هذا البرهان الذى لايأتى به الا نبى فله فى جهاده الثواب العظيم.

په تیرو شوؤ آیتونو کښې چه کله الله تعالیٰ هغه قصې ذکر کړې چه په هغې کښې دلائل دی (دمړو په دوباره ژوندی کیدو باندې) نو اوس په دې آیتونو کښې ئې دجهاد ترغیب ورکړو۔ ځوک چه دا دلائل واوری کوم چه د پیغمبر نه سوا بل ځوک نۀ شی بیانولې او جهاد ته لاړ شی نو هغۀ ته به په خپل جهاد باندې غټ ثواب ملاویږی۔ (القرطبی)

یعنی تیرو شوؤ آیتونو کښې دا بیان اوشو چه الله تعالیٰ د مړو په ژوندی کولو باندې قادر دې نو د هغې نه پس سمدستی دجهاد ترغیب ورکړې شو او په دې کښې دخیرات کولو لوئې اجراوښودلې شو۔ دپاره د دې چه د جهاد په ذریعې سره انسان خپل راتلونکې ژوند کامیاب جوړ کړې شی۔ او په جهاد کښې دخرچې کولو په ذریعه دآخرت د ژوند دپاره ذخیره جمع کړې شی۔ په دې کښې دې طرف ته هم اشاره ده۔ چه په جهاد کښې خو په ښکاره باندې مرګ او هلاکت ښکاری۔ خو حقیقت دادې چه الله

تعالیٰ په دے کښې ژوند ایښے دے۔ بیشکه د ژوند او د مرګ مالک هم الله تعالیٰ دے۔ په جهاد کښې لګولے شوے مال په ظاهره خرچ شی خو په حقیقت کښې هغه محفوظ شی۔ والله اعلم بالصواب

شان نزول

❶ روی ان هذه الایة نزلت فی شان عثمان بن عفان وعبدالرحمن بن عوف وذلک الخ:

روایت شوے دے چه دا آیت دعثمان بن عفان او دعبدالرحمان بن عوف رضی الله تعالی عنهما په باره کښې نازل شوے دے۔ اوهغه دا چه کله پیغمبرعلیه السلام د تبوک د غزا دپاره تلو۔ نو مسلمانانو ته ئے د خرچ کولو ترغیب ورکړو۔ حضرت عبد الرحمٰن بن عوف رضی الله تعالیٰ عنه څلور زره درهمه راوړل او عرض ئے اوکړو۔ اے دالله رسوله؛ ماسره ټول اته زره درهمه (۸۰۰۰) وو۔ څلور زره ما دخپل ځان اوکور والا دپاره کیښودل او څلور زره خپل رب له قرضه ورکوم۔

پیغمبر علیه السلام اوفرمائیل۔ الله تعالیٰ دے تاته په هغے کښې برکت درکړی چه تا کیښودل۔ او په هغے کښې چه تاورکړل۔ او حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه عرض اوکړو "اے دالله رسوله؛ دهر هغه مجاهد سامان څما په ذمه دے چه چا سره سامان نۀ وی" په دے باندے دا آیت نازل شو۔ (القرطبی)

❷ وقال مکحول :یعنی به الانفاق فی الجهاد من رباط الخیل واعداد السلاح وغیر ذلک.

په دے آیت کښې هغه مال مراد دے چه په جهاد کښې د اسونو او د وسلے وغیره د برابرولو دپاره خرچ شی۔ (ابن کثیر)

❸ عن ابن عباس الجهاد والحج یضعف الدرهم فیهما الی سبعما ئة ضعف ولهذاقال تعالیٰ كَمَثَلِ حَبَّةٍ الآیة.

حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه په جهاد او په حج کښې خرچ شوے درهم اووه سوه چنده زیاتیږی۔ په دے وجه دالله تعالیٰ فرمان دے۔ كَمَثَلِ حَبَّةٍ (یعنی هم دا آیت ئے تلاوت کړو۔ (تفسیر ابن کثیر)

❹ بعض مفسرینو په دے آیت کښې د فی سبیل الله نه د الله تعالیٰ اطاعت والا هر کار کښې خرچ کول مرا د اغشتے دے۔ په دے باره کښې علامه قرطبی فرمائی۔

وسبل الله کثیرة واعظمها الجهاد لتکون کلمة الله هی العلیا یعنی د الله تعالیٰ لارے

گنړے دی۔ او په دے کښې د ټولو نه غټه (لار) جهاد دے چه د دے د پاره کولے شي چه دالله تعالیٰ کلمه اوچته شي۔ (القرطبی)

واعظمها واعناها الجهاد لاعلاء کلمة الله وقیل المراد بسبیل الله هنا الجهاد خاصة (البحر المحیط)

فائده

علامه ابن کثیر رحمه الله د دے آیت په تفسیر کښې هغه حدیثونه راجمع کړی دی۔ په کومو کښې چه په جهاد کښې په خرچ کولو باندے په اووه سوه چنده د زیاتوالی بیان دے۔ د دے حدیثونونه هم د دے خبرے غوره والے معلومیږی چه د دے آیت زیات تعلق هم د جهاد سره دے۔ (والله تعالیٰ اعلم)

فائده

مګر قرآن حکیم دا ښکاره کوی چه یو حکم منونکے مسلمان د جهاد فی سبیل الله دپاره ورکړه کوی نو هغه اوۀ سوه چنده زیاتیږی۔ او د دے نه زیات څه حد نیشته۔ صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم دا وعده اولیدله چه سلګونه ئے خرچ کړل او د کروړونو مالکان شو۔ (تفسیر الفرقان)

فائده

ددے آیت په تفسیر کښې علامه آلوسی رحمه الله لیکی وعن معاذ بن جبل رضی الله عنه ان الغزاة المنفقین قد خبأالله تعالیٰ لهم من خزائن رحمته ماینقطع عنه علم العباد(روح المعانی)

دحضرت معاذبن جبل رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے۔ چه کوم مجاهدین په جهاد کښې خپل مال خرچ کوی۔ الله تعالیٰ د هغوی دپاره دخپل رحمت داسے خزانے پټے ساتلے دی چه هغه د بندیګانو په علم کښې نۀ شی راتلے۔

دعاء

اے الله! تا حضراتو صحابه کرامو له توفیق ورکړو۔ رضی الله عنهم۔ نو هغوی په جهاد فی سبیل الله کښې په آزاد مټ باندے مال خرچ کړو۔ او ته ئے راضی کړے۔ اے الله ؛ مونږه هم د شومتیا او په ناروا طریقه باندے دمال د ساتلو نه اوساتے او توفیق راکړے چه زیات نه زیات خپل مال په جهاد فی سبیل الله کښې خرچ کړو۔

(آمین یا ذاالقوة المتین)

☆☆☆

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ — آیت ۲۶۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ

کوم خلق چه مال داللہ تعالیٰ په لار کښې خرچ کوی۔ بیا دخرچ کولو نه پس احسان نه ز باتی

مَا اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ

او نهٔ تکلیف رسوی۔ نو هم دوی دپاره د خپل رب سره اجر دے۔ او نهٔ په دوی باندے څهٔ ویره

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٦٢﴾

شته اونهٔ به دوی غمګین شی۔

نچوړ

کوم خلق چه د اللہ تعالیٰ په لار کښې د زړه نه په اخلاص سره مال خرچ کوی اودخرچ کولو نه پس نهٔ احسان زباتی اونهٔ تکلیف رسوی۔ دوی د اجر اوثواب حقدار او د ویرے او دغم نه محفوظ دی۔

شان نزول

قيل انها نزلت فى عثما ن بن عفان رضى الله تعالىٰ عنه الخ

روایت دے چه دا آیت دحضرت عثمان بن عفان رضی اللہ تعالیٰ عنه په باره کښې نازل شوے دے۔ حضرت عبدالرحمٰن بن سمره رضی اللہ تعالیٰ عنه فرمائی چه حضرت عثمان رضی اللہ تعالیٰ عنه د تبوک د غزا په وخت زر (۱۰۰۰) دیناره راوړل۔ او د حضوراکرم ﷺ په جولئ کښې ئے واچول۔ ما اولیدل چه حضور اکرم ﷺ به په هغے کښې لاسونه ورکول او اړول راړول به ئے اوفرمائیل به ئے " د نن نه پس ابن عفان ته یو عمل هم نقصان نهٔ شی رسولے۔ اے څما پروردګاره؛ دا نن ورځ د عثمان دپاره یادساته او حضرت ابو سعید خدری رضی اللہ تعالیٰ عنه فرمائی۔ ما اولیدل چه حضوراکرم ﷺ خپل لاسونه اوچت کړے وو۔ دعثمان رضی اللہ تعالیٰ عنه دپاره ئے دعاء اوفرمائیله۔ او فرمائیل ئے۔ اے څما ربه؛ زهٔ دعثمان نه راضی یم۔ تهٔ هم دهغهٔ نه راضی شه پیغمبر علیه السلام لګیا وو۔ هم دادعا ئے کوله تر دے چه صبا را اوختهٔ نو دا آیت نازل شو۔ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ الآ یة (تفسیر القرطبی)

تفسیر روح المعانی کښې هم دحضرت ابو سعید خدری رضی اللہ تعالیٰ عنه دا روایت هم د دے آیت په تفسیر کښې د شان نزول په طور مذکور دے۔ ☆☆☆

سُورَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۷۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا

خیرات دهغے حاجت مندو خلقو دپاره دے چه د الله تعالیٰ په لاره کښې بند شوے دی۔ دوی په ملک کښې

فِي الْاَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ

گرځیدے نۀ شی۔ ناوافقه په دوی باندے د سوال نۀ کولو په وجه د مالدارو گمان کوی۔ تۀ به دوی پیژنے د

بِسِيْمٰهُمْ لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ

علامونه شی۔ دوی داسے سوال نۀ کوی چه په خلقو پورے انخلی۔ اوکوم دکار څیز چه تاسو خرچ

فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۷۳﴾

کوئ بے شکه هغه الله تعالیٰ تۀ معلوم دے۔

نچوړ

او خپل مال خرچ کړئ۔ په هغه ضرورت مندو خلقو باندے کوم چه به جهاد وغیره کښې مشغوله دی۔ او دمال دگټلو دپاره تگ راتگ نۀ شی کولے۔ چونکه دوی دخلقونه سوال نه کوی۔ نو په دے وجه ناپوهه خلق دوی مالدار گڼړی۔ اے مسلمانانو تاسو به دوی د خپلو مخونو نه اوپیژنئ۔ دوی په خیر پسے نۀ گرځی۔ او ته چه څه هم خرچ کوے۔ الله تعالیٰ ته هغه معلوم دی۔

تفسیری اقوال

① وهم اهل الصفة رضی الله تعالیٰ عنهم قاله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ومحمد بن کعب القرظی۔ وکانوانحوامن ثلثمائةویزیدون وینقصون من فقراء المهاجرین یسکنون ثقیفةالمسجد یستغرقون اوقاتهم بالتعلم والجهاد وکانو ایخرجون فی کل سریة یبعثها رسول الله صلی الله علیه وسلم۔ یعنی دا حضرات اهل صفه وو۔ دا د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه او د محمد بن کعب قول دے۔ دا حضرات چه مهاجرین او فقیران وو۔ څه درے سوه پورے کسان وو۔ د دوی شمیر به کله کمیدلو او کله به زیاتیدلو۔ دوی به دجمات په چبوتره باندے اوسیدل۔ او د دوی تول وخت به د علم په زده کولو او په جهاد کولو کښې تیریدۀ۔ او دوی به د رسول الله ﷺ په لیږلے

شوے هره سریه کښې وتل۔ (روح المعانی)

حبسوا انفسهم علی الجهاد (جلالین)

❷ وعن سعید بن جبیر هم قوم اصابتهم الجراحات فی سبیل الله تعالیٰ فصاروا زمنیٰ۔ د حضرت سعید بن جبیر رحمه الله نه روایت دے۔ چه دا هغه خلق وو۔ چه په جهاد کښې د زخمی کیدو په وجه معذوره شوے وو۔ (روح المعانی)

❸ حبسوا انفسهم عن التصرف فی معایشهم خوف العدو دوی نه هغه خلق مراد دی چه د دشمن د ویرے نه روزی وغیره نه شی گټلے۔ (القرطبی)

❹ وکانوا من المهاجرین الذین یقاتلون مع رسول الله غیر مرضٰی ولا عمیان داهغه مهاجرین وو۔ کوم چه به د رسول ﷺ سره یو ځائے جهاد کؤلو۔ دوی ته دبیمارئ یا د ړوندوالی وغیره څه عذر نۀ وو۔ (قرطبی)

یعنی روغ جوړ وو۔ پخپله ئے گټه کولے شوه۔ خو په جهاد کښې دمشغولتیا په وجه ئے گټه نۀشوه کولے۔ داسے کسانو باندے مال خرچ کول دډیر غټ اجر او ثواب ذریعه ده۔

❺ وقال قتادة حبسوا انفسهم للغزو و منعهم الفقرمن الغزو قتاده رحمه الله فرمائی۔ دا هغه خلق دی چه هغوی خپل ځان دجهاد دپاره وقف کړے وو۔ او بیا غریبئ او لوگو تندو دجهاد نه بند کړل۔ (البحر المحیط)

فائده

دجهاد غوندے اهم او ضروری کار جاری ساتلو دپاره دے څه کسان خپل ځان بیخی وقف کړی۔ او باقی مسلمانان دے د دوی دغوستلو نه بغیر د دوی خیال اوساتی۔ او د دوی د ضرورتونو پوره کولو دپاره دے خپل مال خرچ کوی۔ دغسے به جهاد ته قوت هم ملاویږی او مسلمانان به هم مضبوطیږی۔ (والله تعالیٰ اعلم بالصواب)

دعاء

اے الله! مسلمان امت باندے رحم اوکړے۔ او په دوی کښې د قرآن پاک احکامات ژوندی کړے۔ او دجهاد قرآنی ترتیب په مسلمان امت کښې جاری کړے۔ (آمین یا راحم المساکین)



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۸۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا

الله تعالیٰ چا ته دهغهٔ دطاقت نه سوا تکلیف نهٔ ورکوی۔ دنیکئ فائده به هم دهٔ ته وی۔ او دبدئ نقصان به هم

اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا رَبَّنَا وَلَا

په ده رازی اے زمونږه ربه ؛ که زمونږ نه هیره اوشی یا غلطی اوکړو۔ نو مونږه مهٔ نیسه۔اے زمونږه ربه ؛ او په

تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا

مونږه باندے دراندۀ بوجونه مهٔ ایږده څنګه چه تا زمونږ نه مخکښے خلقو باندے ایښے وو۔ اے زمونږ ربه ؛ او په

رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا

مونږه باندے هغه بوجونه مهٔ اوچته وه چه زمونږه دهغے طاقت نشته۔ اومونږه معاف کړه۔ او مونږ ته

وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸۶﴾

بخښنه اوکړه۔او په مونږ باندے رحم اوکړه۔ هم تهٔ زمونږه کارساز یے دکافرانو په مقابله کښں تهٔ زمونږه مدد اوکړے۔

نچوړ

اے زمونږ مولیٰ ؛ مونږ له په کافرانو باندے غلبه راکړے۔اے الله هم ته زمونږ یار او مددګار ئے۔

تفسیری اقوال

❶ ای الاعداء فی الدین المحاربین لنا یعنی مونږ له دخپل دین په هغه دشمنانو باندے غلبه راکړے کوم چه مونږ سره جنګیږی۔ (روح المعانی)

❷ فمن حق المولیٰ ان ینصر عبیده یعنی د مولیٰ حق دے چه هغه دخپلو غلامانو مدد اوکړی (نو ته مولیٰ ئے او مونږ غلامان۔نو زمونږ مدد اوکړے۔(کشاف)

❸ بـاقامۃ الحجۃ والغلبۃ فی قتالهم فان من شان المولی ان ینصر موالیه علی الأعداء۔ زمونږ مدد اوکړے په کافرانو باندے۔ زمونږ د دلیل په مضبوطولو او په جهاد کښں په هغوی باندے غالب کولو سره۔ بے شکه دمولیٰ شان دا دے۔ چه هغه خپلو غلامانو له په دشمنانو باندے غلبه ورکوی۔ (جلالین)

❹ ای اظهر نا علیهم بما تحدث فی قلو بنا من الجرأة والقوۃ فی قلوبهم من الخور والجبن یعنی

مونږ په کافرانو باندے غالب کړے۔ داسے چه زمونږ په زړونو کښې جرأت او قوت واچوے او دهغوی په زړونو کښې کمزوری او بزدلی واچوے۔ (البحر المحیط)

فائده

سوره البقره سنام القرآن دے په دے کښې داسلام تول اهم عقائد او احکامات په تفصیل سره بیان کړے شوے دی۔ اوس مسلمانانو دپاره په دے تولو احکاماتو باندے پوره عمل کول هغه وخت ممکن دی چه کله دوی ته په خپلو دشمنانو باندے غلبه نصیب شی۔دغه وجه ده چه دسورة اختتام په دےجامع دعاء باندےشوے دے۔ (والله تعالیٰ اعلم بالصواب)

فائده

په دے جامع سورة کښې په مسلمانانو باندے دالله تعالیٰ دښکاره اوپټو انعاموتو ذکر دے او دَنعمتونو دباقی پاتے کیدو صورت په کافرانو غلبه ده ګنی هغوی خو دَمسلمانانومرتدکولو پسے انختے وی او په کافرانو باندے غلبه دجهادپه ذریعه راځی لکه دسورة په آخر کښې بیا دجهاد طرف ته(مسلمانان)متوجه کړے شو۔ (والله تعالیٰ اعلم)

فائده

د دے خشته خاتمے نه قربان شم۔ چه په دے کښې ئے بالکل د اسلام هغه نصب العین او د مقصدونو مقصد ډیر په واضحه او روښانه الفاظو کښې بیان کړو۔او هغه داچه د توحید بچی د دنیا په تولو قومونو۔ ملتونو او مذهبونو او دینونو باندے حاکمان رالیږلے شوے دی۔ او شهداء علی الناس (ګواه په خلقو باندے) هم په دے صورت کښې جوړیدے شی چه کله په دے قانون باندے عمل اوکړی۔ کوم چه د رسول عربی ﷺ په واسطه دوی ته ورکړے شوے دے۔صبر او استقامت۔عزم او استقلال۔دینی جوش او مذهبی مینه په خپل ځان کښې پیدا کړی۔ جهاد فی سبیل الله ته همیشه تیار اوسی۔او د الله تعالیٰ نه د فتحے او کامیابئ دعاء غواړی۔ (تفسیر الفرقان)

نکته

د دے دعاء په ښودلو سره د دے خبرے ته پام کولے شی چه د دے خبرے محنت کول دتولو مسلمانانو ذمه داری ده چه په توله دنیا کښې د الله تعالیٰ دین اوکلمه اوچته شی او دکفر او د شرک طاقت مغلوبه شی۔ ظاهره خبره ده چه دا کار آسان نهٔ دے ډیر ګران دے نو د دے دپاره ئے دمدد غوښتو او دغلبے موندلودعاء اوښودله۔د قرآن پاک د دومره اهم سورة په دومره اهم آخری آیت کښې دا دعاء یاده کړے شوه چه الله

تعالیٰ مونږ ته په جهاد کښې د فتحې او د نصرت په راکولو سره په کافرانو باندې غلبه راکړی۔ (واللہ تعالیٰ اعلم)

دعاء

واعف عنا، واغفرلنا ،وارحمنا ،انت مولانافانصرنا على القوم الكافرين .

آمین یا ارحم الراحمین

۲۶/ذوالحجه ۱۴۲۶ھ بمطابق ۲۷/جنوری ۲۰۰۶ء یوم الجمعة بعد صلوٰة الظهر.



سورة

آل عمران

مدنية

ابتدائیه

په دے تالیف کښں د سورۂ آل عمران د لاندینو دوۀ شپیتو
آیتونو جهادی مضمونونه بیان کړے شوے دی

آیت ۱۲ | آیت ۱۳ | آیت ۲۸


آیات ۱۱۰تا۱۱۲ | آیات ۱۱۸تا۱۲۹ | آیات ۱۳۹تا۱۷۵ | آیات ۱۹۴تا۲۰۰

او په لاندینو اتلسو آیتونو کښں
جهادی مضمونونو طرف ته اشارے دی۔

۱۴ ۱۵ ۱۹ ۲۶ ۲۷ ۵۵ ۵۶ ۸۱

۱۰۰تا۱۰۴ ۱۳۰تا۱۳۴

(والله تعالیٰ اعلم بالصواب)



په دوه شپیتو آیتو کښ د جهاد د مضامینو خلاصه

آیت ۱۲ د اسلام دښمنانو کافرانو ته دے ووئیلے شی چه تاسو به ډیر زر په دنیا کښ مغلوبه شئ او په آخرت کښ به جهنم طرف ته ووشړلے شئ۔

آیت ۱۳ فتحه په ډیر والی نۀ ده- بلکه د الله تعالی په نصرت سره ملاویږی لکه څنګه چه د بدر په غزا کښ ووشوه-د بدر په غزا کښ غټه رهنمائی ده

آیت ۲۸ مسلمانان دے کافران خپل دوستان نۀ جوړوی -څوک چه د کافرانو سره یاری کوی۔ د هغۀ د الله تعالی سره هیڅ تعلق نشته

آیت ۱۱۰ دا امت "خیر امت" دے - ځکه چه دوی به جهاد کوی۔

آیت ۱۱۱ مسلمانانو که چرے د"خیر امت" کیدو شرط پوره کړو ۔ نو یهودیان او نصرانیان به د دوی مقابله کښ ټینګ نۀ شی۔

آیت ۱۱۲ په یهودیانو باندے ذلت او نیستی مقرر کړے شوے ده۔

آیت ۱۱۸ اے ایمان والاؤ- کافران خپل راز دار او نزدے دوستان مۀ جوړوئ دوی بیخی د مسلمانانو خیر خواه نۀ دی-

آیت ۱۱۹ تاسو خو هغوی سره یاری کوئ- خو هغوی چرته هم تاسو د زړۀ نه دوستان نۀ ګنړی۔

آیت ۱۲۰ دکافرانو خوشحالی په دے کښ ده چه ستاسو نقصان ووشی- د دوی د شر نه د بچ کیدو طریقه په جهاد کښ کلکیدل دی او تقوا ده۔ نۀ چه د دوی سره یاری کول دی۔

آیت ۱۲۱ د احد په غزا کښ د مسلمانانو کمان پخپله نبی علیه السلام فرما ئیلے وو۔

آیت ۱۲۲ د مدینے دَ انصارو دوه قبیلے الله تعالی د بزدلئ او پسپا یئ نه وو ساتلے۔

آیت ۱۲۳ د بدر د غزا په ورځ تاسو کمزوری وئ خو الله تعالی (ستاسو) نصرت ووفرمائیلو نو (تاسو ته) فتحه ملاؤ شوه- په دے وجه الله تعالی سره معامله سمه ساتئ۔

آیت ۱۲۴ د بدر په غزا کښې پیغمبر ﷺ خپلو مجاهدینو ته د الله تعالی د مدد خوشخبری واؤروله۔ یعنی چه درے زره فرشتے به رازی۔

آیت ۱۲۵ بیا د پینځو زرو فرشتو خوشخبری راغله۔ په دے شرط که چرے دښمن ته کمک راوورسیدۀ۔

آیت ۱۲۶ د فرشتو راتلل د زیری په توګه وو اصل خو د الله تعالی غیبی مدد دے۔ ځکه چه صرف په دغے سره غلبه نصیب کیږی۔

آیت ۱۲۷ دا هر څۀ دے د پاره دی چه د کفر او د باطل زور ختم شی۔

آیت ۱۲۸ د مسلمانانو خلاف د جنګیدو نکو کافرانو توبه قبلول یا دوی له عذاب ورکول دا صرف او صرف د الله تعالی په اختیار کښې دی۔

آیت ۱۲۹ تاسو جهاد کوئ او د مخالفینو توبے اود عذاب معامله الله تعالی ته پریږدئ۔

آیت ۱۳۹ که ستاسو ایمان محفوظ وی نو غالب هم تاسو یئ۔

آیت ۱۴۰ د احد په غزا کښې چه څۀ وو شو په هغے کښې ډیر حکمتو نه وو۔ مثلاً ایمان والا په فرق شو۔ او ډیر شے کسانو ته شهادت نصیب شو۔

آیت ۱۴۱ د احد په غزا کښې چه څۀ وو شو۔ د هغے مقصد د مسلمانانو پاکول او دکافرانو ختمول وو۔

آیت ۱۴۲ که د جنت اوچت مقامات غواړے نو جهاد او صبر کلک اونیسه۔

آیت ۱۴۳ تاسو خو د شهادت ارمان کؤلو۔ اوس دا خپے ولے خوئیږی ؟

آیت ۱۴۴ که غتے نه غته حادثه هم ووشی ۔نودین او جهاد مۀ پریږدئ

آیت ۱۴۵ د مرګ وخت مقرر دے جهاد ته د تلو او نۀ تلو سره د دے څۀ تعلق نشته۔

آیت ۱۴۶ د پیغمبرانو علیهم السلام سره یوځائے ډیرو الله والاؤ په جهاد کښې ښۀ استقامت ښکاره کړے دے۔ اے "غوره امته!" تاسو د هغوی نه سبق واخلئ۔

آیت ۱۴۷ هغوی به د جنګ په سختو حالا تو کښې هم الله تعالی ته په استغفار اوپه دعاء کښې انختے وو۔

آیت ۱۴۸ هغوی ته الله تعالی د دنیا او دَ آخرت بدله هم ورکړه او خپل محبت ئے هم ورکړو۔

آیت ۱۴۹ تاسو که چرے د دین او دجهاد خلاف د کافرانو خبرے وومنلے نو ډیر نقصان به درته وورسی۔

آیت ۱۵۰ دکافرانو په ځائے د الله تعالی په مدد باندے بهروسه ساتئ۔ هغه د ایمان والاؤ مولی او د ټولو نه ښهٔ مددګار دے۔

آیت ۱۵۱ الله تعالی د کافرانو په زړونو کښ د ایمان والاؤ رعب اچوی۔

آیت ۱۵۲ د احد په غزا کښ هم الله تعالی تاسو سره د خپل نصرت وعده پوره کړه۔ خو بیا ستاسو نه غلطی ووشوه چه د هغے په وجه تاسو ته شکست ووشو۔اوس الله تعالی تاسو معاف کړے یئ۔

آیت ۱۵۳ په تاسو باندے په دغه ورځ د غمونو باران ووشو۔ د پاره د دے چه د بیا د پاره مضبوط شئ۔

آیت ۱۵۴ د احد په سختو وختونو کښ ایمان والا پر کاله کیدل او آرام ورته ملاویدۀ۔ ولے منافقان وار خطا وو۔ او چغے سورے ئے وهلے۔

آیت ۱۵۵ د احد په ورځ چه د کومو مسلمانانو نه غلطی ووشوه الله تعالی هغوی معاف کړے دی۔

آیت ۱۵٦ اے مسلمانانو؛ دکافرانو او منافقانو په شان دا خبرے مۀ کوئ چه په جهاد کښ مرګ دے او که فلانکی خلق جهاد له نۀ وو تلے نو بچ شوے به وو۔

آیت ۱۵۷ په جهاد کښ په شهید کیدو یا مړ کیدو سره انسان د الله تعالی د مغفرت او د رحمت حقدار جوړیږی۔

آیت ۱۵۸ ټول خلق به الله تعالی ته خا مخا پیش کیږی۔

آیت ۱۵۹ په پیغمبر ﷺ باندے دَ الله تعالی رحمت دے۔ چه هغه د خپلو ملګرو د پاره نرم دله او نرم مزاجه دے۔ د احد نه پس هم د پیغمبر ﷺ دا شفقت په دوی باندے د مخکښ په شان جاری دے۔

آیت ۱٦۰ صرف په الله تعالی باندے توکل کوئ۔فتحه صرف د هغۀ په نصرت سره ملاویدے شی۔

آیت ۱۶۱ پیغمبر ﷺ "امین" دے او د غنیمت په مال کښې خیانت غټه گناه ده۔

آیت ۱۶۲ هغه سړے د اسلامی خدمت کولو قابل دے۔ چه د الهی قانون پوره کولو د پاره خپل ذاتی مقاصد وروستو کولے شی۔

آیت ۱۶۳ د الله تعالی په نزد د خلقو مختلفے درجے دی۔

آیت ۱۶۴ د جماعت او د مجاهدینو د پاره څلور نکاتیز نصاب تلاوت – تزکیه – د کتاب تعلیم – د حکمت تعلیم –

آیت ۱۶۵ د احد په غزا کښې چه کوم تکلیف راغے هغه ستاسو په وجه راغے۔

آیت ۱۶۶ د احد په غزا کښې چه څۀ وو شو۔ هغه مقدر وو – او د ایمان والاؤ د جُدا کولو د پاره وو۔

آیت ۱۶۷ د احد د غزا په ورځ د پټو منافقانو هم پته وولگیده چه کله دوی جهاد ته راؤبللے شو نو دوی رانغلل۔

آیت ۱۶۸ دغه منافقانو نور خلق هم د جهاد نه منعه کول او ویریدل چه په جهاد کښې مرگ دے۔ دوی ته دے ووئیلے شی چه تاسو به هم مړۀ شئ۔

آیت ۱۶۹ شهیدانو بانديے د مړو گمان مۀ کوئ۔ هغوی ژوندی دی۔ خوراک څکاک کوی۔

آیت ۱۷۰ دوی ډیر خوشحاله دی په خپل حالت باندے هم او د هغے خلقو په مستقبل باندے هم چه د دوی نه وروستو پاتے شوے دی او جهاد کوی –

آیت ۱۷۱ دوی ته اجر هم ملاویږی – او د زیاتی مهربانو مزے هم اخلی۔

آیت ۱۷۲ کوم حضراتو چه په زخمی حالت کښې د رسول الله ﷺ حکم وومنلو۔او جهاد ته ووتل۔د هغوی د پاره لوئے اجر دے۔ (غزوۀ حمرآء الاسد)

آیت ۱۷۳ داحضرات د دښمن د طاقت نه وویرولے شو۔ نو دوی ځان الله تعالی ته ووسپارلو۔ او ووئۀ ویریدل۔

آیت ۱۷۴ دے مجاهدینو د الله تعالی فضل او د هغۀ نعمتونه حاصل کړل او روغ رمټ واپس راغلل۔

آیت ۱۷۵ څوک چه مسلمانان د کافرانو نه ویروی – هغه شیطان دے تاسو د هغهٔ مهٔ اورئ۔

آیت ۱۹۴ دَ دښمن په مقابله کښ د نصرت او په آخرت کښ دَ جنّت دُعاء۔

آیت ۱۹۵ دُعاء قبوله شوه خودکور – د بال بچ او د خپل سر او مال قربانی به ورکول پکاروی۔


آیت ۱۹۶ د کافرانو په ظاهری ترقئ مهٔ تیروځئ۔

آیت ۱۹۷ دا دَیو څو ورځو سپرلے دے۔ بیا د دوی د پاره جهنم دے۔

آیت ۱۹۸ اصلی نعمتونه د آخرت نعمتونه دی۔

آیت ۱۹۹ د اهلِ کتابو د کامیابئ او د فتحے صفات۔

آیت ۲۰۰ اے ایمان والؤ په دین باندے پاخهٔ ووسئ۔ په جهاد کښ کلک ووسئ۔ د دښمنانو مقابله کښ هر وخت ویخ ووسئ۔ او د الله تعالی نه ویره کوئ نو کامیابی به درته ملاؤشی۔



په اتلسو آیتونو کښې د جهاد د اشارو نچوړ

آیت ۱۴ کافران د دنیا د محبت په وجه مغلوبه کیږي.

آیت ۱۵ د مسلمانانو د غالب کیدو وجه د آخرت د نعمتونو شوق دے۔

آیت ۱۹ د اسلام نه علاوه بل یو دین هم قبول نۀ دے دا دَ جهاد وجه ده۔

آیت ۲۶، ۲۷ د مسلمانانو د پاره د غلبے -د عزت او دخلافت دعاء او پیشن گوئي۔

آیت ۵۵، ۵۶ د کافرانو مغلوب کیدل۔ د مسلمانانو غالب کیدل۔

آیت ۸۱ د پیغمبر ﷺ د پاره د نصرت وعده اخیستل ۔

آیت ۱۰۰ تا ۱۰۴ کافران مسلمانان مرتد کول غواړي- مسلمانانو له خپل ایمان او خپل جماعت مضبوطول پکار دي او جهاد کول پکار دي۔ حضرت شاه صاحب رحمه الله ۱۰۴- نمبر آیت مکمل جهادی مضمون گنړلے دے۔(موضح القرآن ووگورئ)

آیت ۱۳۰ تا ۱۳۴ سود سره په جهاد کښې کمزوري راځي۔ او په اطاعت- تقوی او د الله تعالی په لاره کښې په خرچ کولو سره په کښې مضبوطیا راځي۔ (والله اعلم با لصواب)

نور آیتونه

- د حضرت شاه عبدالقادر صاحب رحمه الله په نیز د (۱۰۴) نه تر (۱۰۹) پورے آیتونو کښې هم جهادی مضمون دے۔ (ووگورئ موضح القرآن)
- د حضرت شاه صاحب رحمه الله او د حضرت تهانوی رحمه الله په نیز د باندے د (۱۳۷-۱۳۸) آیتونو تعلق هم دجهاد سره دے۔ (ووگورئ موضح القرآن - بیان القرآن)
- د امام رازی رحمه الله په نیز د په آیت (۱۷٦) او د دے نه ورستو آیتونو کښې هم د جهاد مضمون دے (ووگورئ تفسیر کبیر)

اختتام ابتدائیہ وآغاز معارف آیات الجہاد

سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَ تُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ وَ

کافرانو ته ووایه چه اوس به تاسو مغلوبه کیږئ- او جهنم طرف ته به راجمع کړے شئ۔ او دغه د

بِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۲﴾

استوږنے ډیر خراب ځائے دے۔

نچوړ

د اسلام د ښمنانو کافرانو ته دے صفا ووئیلے شی چه بس ډیر زر به دوی په دنیا کښې مغلوبه شی او آخرت کښې به جهنم طرف ته وو شړلے شی۔ اسلام په دنیا کښې غالب کیدو والا دے۔ او په آخرت کښې د کامیابۍ ضمانت دے نو د اسلام په مبارک سوری کښې پناه واخلئ۔

عجیبه پیشن ګوئی:

په ظاهره دا ډیره ناممکنه کار پیشن ګوئی وه- ځکه چه په مدینه منوره کښې د مسلمانانو ډله ډیره وړه وه - د دے ډلے غلبه د مکے په قریشو باندے او د عربو په نورو قبیلو باندے هم ناممکنه وه کوم چه ډیر بهادر او جنګیالی وو - (او په مدینه کښې د یهودو درے طاقتورے قبیلے هم موجودے وے) د دے نه علاوه دوه حکومتونه کوم چه داسے زورآور او زبردست وو۔ چه په ټوله دنیا باندے ښوارۀ وو۔ یو دَ " کسری حکومت وو" کوم چه د ایران د مجوسی بادشاهانو (حکومت) وو۔ چه د هندوستان او ترکستان ملکونه ئے د لاندے وو- او دوئم دَ "قیصر حکومت" چه د عیسایانو حکومت وو۔ او د دوی په حکومت کښې ټول یورپ - ایشیائے کوچک - شام او د افریقے بعضے ملکونه شامل وو۔ په داسے وخت کښې د آسمانی مرستے په باور باندے ټولو خلقو ته په اوچت آواز سره ووئیلے شو۔ ستغلبون چه تاسو به ډیر زر مغلوبه کړے شئ۔ یوه صدئ لا پوره شوے نۀ وه -چه دا پیشین ګوئی پوره شوه۔ که چرے دا د الله تعالی د طرف نه د پیغمبر ﷺ د پیغمبرۍ د حق کیدو علامه نۀ ده نو نور څۀ دی -؟ (محصله تفسیر حقانی)

شان نزول

❶ عن ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنهما ان يهود اهل المدينة قالوا لما هزم الله تعالىٰ المشركين الخ. يعنى د حضرت عبدالله بن عباس رضى الله تعالى عنهما نه روايت دے چه کله الله تعالى د بدر په ورځ د مکے مشرکان د بائيلات سره مخا مخ کړل نو د مدينے يهوديانو ووئيل - چه په الله تعالى قسم دا (حضرت محمد ﷺ) هم هغه امى نبى دے۔ د کوم چه مونږه ته حضرت موسیٰ عليه السلام زيرے راکړے وو۔ او د چا ذکر چه مونږ په خپل کتاب کښ د تعريفونو او صفتونو سره وينو۔ او يقينا د دوى جهنډا به هميشه ووچته وى۔ يهوديانو خو بس د پيغمبر ﷺ اتباع او تصديق کولو۔ چه په دوى کښ بعضے کسانو ووئيل چه تادى مهٔ کوئ - تردے چه بله واقعه ووينئ چه کله د احد غزا ووشوه۔ اود رسول الله ﷺ اصحابو کرامو رضى الله عنهم ته په هغے کښ غلبه ملاؤ نهٔ شوه نو يهوديان بيا په شک کښ شو او وئيل ئے شروع کړل چه په الله تعالى قسم دا هغه نبى نهٔ دے۔ نو په دوى باندے بد بختى غالبه راغله او اسلام ئے راؤ نهٔ ړو۔ او دوى هغه عهد هم مات کړو کوم چه د دوى او د پيغمبر ﷺ په مينځ کښ وو۔ او کعب بن اشرف (يهودى) ځان سره شپيتهٔ سوارهٔ واخيستل او د مکے مشرکانو له لاړهٔ او ابوسفيان وغيره سره ملاؤ شو او د هغوى سره ئے دا معاهده او اتفاق ووکړو چه مونږه او تاسو يَو يُو۔ په دے باندے دا آيت نازل شو۔ او ووئيلے شو چه تاسو ټول به مغلوبه شئ۔ (روح المعانى – البحر المحيط)

❷ عن عمرو بن قتادة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم لما اصاب من اهل بدر ما أصاب ورجع الى المدينة جمع اليهود في سوق بنى قينقاع الخ. يعنى چه کله پيغمبر ﷺ ته د بدر په غزا کښ فتحه او غنيمت ملاؤ شو۔ او پيغمبر ﷺ مدينے منوّرے ته تشريف راوړو۔ نود بنو قينقاع په بازار کښ ئے يهوديان راجمع کړل۔ او ارشاد ئے ووفرمائيلو۔ اے يهوديانو ! د دے نه مخکښ چه الله تعالى په تاسو هم د مکے د قريشو په شان حالات راولى تاسو اسلام قبول کړئ۔ نو په دے خبره يهوديانوا ووے چه اے محمّد؛ (ﷺ) دا خبره دے تا په دهوکه کښ وا نهٔ چوى۔ چه تا قريشو له ماتے ورکړو - هغه جاهل خلق وو۔ په جنگ باندے نهٔ پوهيدل۔ په خدائے قسم که چرے تا مونږه سره جنګ اوکړو نو تاته به پته وولګى۔ چه مونږه څنګه جنګيالى خلق يُو۔

او ستاسو چرته زمونږ غونډے خلقو سره ډغره نۀ ده راغلے۔ په دے باندے دا آیت نازل شو۔ او دوی ته ووئیلے شو چه ستاسو وخت هم را نزدے دے۔ (ابنِ کثیر)

صاحب د روح المعانی هم دا روایت د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه بیان کړے دے۔ هغوی د دے روایت د ذکر کولو نه پس لیکی:

وقد صدق الله تعالیٰ وعده رسوله صلی الله علیه وسلم فقتل. کما قیل. من بنی قریظة فی یوم واحد ستمائة جمعهم فی سوق بنی قینقاع وامر السیاف بضرب اعناقهم وامر بحفر حفیرة ورمیهم فیها واجلیٰ بنی نضیر وفتح خیبر وضرب الجزیة علیهم. وهذا من اوضح شواهدالنبوة.

بے شکه الله تعالی د خپل پیغمبر ﷺ سره کړے وعده رښتیا کړله۔ لکه څنګه چه وئیلے کیږی چه پیغمبر ﷺ د بنو قریظه شپږ سوه یهودیان په یوه ورځ قتل کړل۔ او جلاد ته ئے د دوی د څټونو الوزولو حکم ورکړو۔ او کنده ئے ورله وویستله او په هغے کښ ئے خخ کړل۔ او بنو نضیرئے د وطن نه ووشړل۔ او خیبرئے فتحه کړو۔ او یهودیانو باندے ئے جزیه مقرر کړه او دا ټول د نبی ﷺ د حق پیغمبر کیدو ښکاره ثبوتونه وو۔ (روح المعانی)

❸ وفی روایة ابی صالح عنه ان الیهود لما فرحوا بما اصاب المسلمین یوم أحد نزلت یعنی ابو صالح د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کوی چه مسلمانانو ته چه د احد په ورځ کوم حالات پیښ شو۔ په هغے باندے یهودیانو خوشحالئ ووکړے۔ نو دا آیت نازل شو۔ چه خوشحالئ مۀ کوئ۔ ستاسو وخت راروان دے۔ (قرطبی)

❹ وقیل نزلت فی قریش قبل بدر بسنتین فحقق الله ذلك یعنی یو قول دا دے چه دا آیت د بدر دغزا نه دوه کاله وړاندے د قریشو په باره کښ نازل شوے دے۔ نو د دے په نتیجه کښ الله تعالی دا وعده (د بدر په ورځ) پوره کړه۔ (البحر المحیط)

❺ وقیل فی ابی سفیان وقومه جمعوا لرسول الله صلی الله علیه وسلم بعد بدر فنزلت: یعنی یو قول دا دے چه د بدر د غزا نه پس ابو سفیان او د هغۀ دَ قوم خلقو د حضور اکرم ﷺ خلاف تیاری شروع کړه۔ نو دا آیت نازل شو۔ (البحر المحیط)

اقوال او حوالے:

❶ بنۂ به داوی چه د لفظ استعمال عام ووگرزولے شي۔ اوپه یهودیانو او مشرکانو کښې چه څوک هم د پیغمبر ﷺ په وخت کښې د مسلمانانو د لاسه خوار او مغلوب شوی دی۔ هغه ټول د دے آیت یوشان مصداق ووګڼړلے شي۔ (تفسیر ماجدی)

❷ کومو خلقو چه د "الکتاب" یعنی د قرآن پاک سره په دښمنئ مقابله کړے ده۔ نو هغوی د سرکشئ او د انکار هم هغه طریقه خپله کړے ده کومه چه د حضرت موسیٰ علیه السلام په مقابله کښې فرعونیانو خپله کړے وه۔ او هغه وخت لرے نهٔ دے۔ کله چه به د دوی سره هم هغه څهٔ ووشي۔ کوم چه د فرعونیانو سره شوے وو۔ او د نیا به ووینی چه آخره کښې برے د چا ملګرے کیږی۔ (ترجمان القران)

❸ یعنی وخت راغلے دے چه تاسو ټول که یهودیان ئې – که عیسایان ئې او که مشرکان ئې–د خدائی لښکر په وړاندے به مغلوبه شئ۔ او وسله به ووغورزوئ – دا خو د دنیا ذلت شو۔او په آخرت کښې چه کوم تود ځائے تیار دے– هغه په کښې لا د پاسه– بعضے روایتونو کښې دی چه د بدر نه د فتحے سره واپسئ نه پس پیغمبر ﷺ یهودیانو ته ووفرمائیل۔ چه تاسو حق قبول کړئ۔ګنی کوم حال چه د قریشو شو۔ هغه به ستاسو هم وی۔ دوی اووے اے محمّد! ﷺ په دے دهوکه کښې مهٔ غورزیږه چه تا د قریشو یو څوناتجربه کارو باندے فتحه حاصله کړه–مونږ سره که دے مقابله ووشوه– نو پته به درته وولګی چه مونږه جنګیالی او بهادران یو۔ په دے باندے دا آیتونه نازل شو۔ بعضے وائی چه د بدر فتحه ئے وولیده نو یهودیان تصدیق طرف ته مائل کیدل –خو بیائے اووے چه تادی مهٔ کوئ۔ ګورئ چه بیا څهٔ کیږی۔ په دوئم کال د احد عارضی پسپائی چه ئے وولیده نو د دوی زړونه سخت شو۔ او حوصلے ئے زیاتے شوے– تر دے چه عهد ئے مات کړو۔ او مسلمانانو سره ئے د جنګ حالات پیدا کړل۔ کعب بن اشرف د شپیتو سورو سره مکے معظمے ته لاړهٔ او ابو سفیان وغیره د قریشو سردارانو سره ملاؤشو۔ او وے وئیل چه مونږاو تاسو یو یُو۔ یو محاذ جوړول او د محمّد (ﷺ) مقابله کول پکار دی۔ په دے باندے دا آیتونه نازل شو (والله اعلم) بهر حال لږے ورځے پس خدائے پاک ووخودل۔ چه په جزیرۂ عرب کښې د مشرک نوم پاتے نهٔ شو– بد عهده قریظه په تورو ووهلے شو۔ بنو نضیر د وطن

نه ووشړلے شو۔ د نجران عیسایانو په سپکاوی سره کال په کال جزیه ورکول قبول کړل۔ او تقریبا زرو(۱۰۰۰) کالو پورے د دنیا غټو غټو او مغرورو او متکبرو قومونو د مسلمانانو ووچتوالے او برتری منله۔ فالحمد لله علی ذالک (تفسیر عثمانی)

۴ یهودیانو او نصرانیانو او تولو د اسلام مخالفو ته وئیل پکار دی چه تاسو حق تعلیمات پریخے دی۔ په دے وجه ستاسو حکومت باقی نۀ شی پاتے کیدے۔ تاسو به ډیر زر مغلوبه شئ۔ او د مسلمانانو د حکومت لاندے به تاسو په ژوند تیرولو مجبوره شئ۔ او بیا د مرګ نه پس به تاسو په جهنم کښې داخل شئ۔ (تفسیر الفرقان)

فائده

د دے آیت نه وړاندے او وروستو آیتونو باندے غور کولو سره پوره خبره او مکمل ترتیب ذهن کښې راځی۔ او دا اشکال باقی نۀ پاتے کیږی چه زمونږ په وخت کښې خو کافران مغلوب نۀ دی۔ بلکه غالب دی– په تیرو شوؤ آیتونو کښې ذکر دی چه قران پاک محکم کتاب دے او ایمان والاؤ دا پوره په پوره قبول کړے دے۔ د هغوی عقیده هم د دے کتاب مطابق جوړه شوے ده او عمل هم– او هغوی په دے باندے د استقامت په فکر کښې دی–او لګیا دی دعاګانے غواړی–او د دے کتاب نۀ منولو والا کافران بس د دنیا او د خپل مال او د اولاد په فکر کښې دی۔ خو د دوی مال او اولاد به د دوی پکار نۀ راځی۔ ځنګه چه د فرعونیانو په کار رانغے۔ اوس به د قرآنی جماعت د دے دنیا پرسته کافرانو سره مقابله وی۔ نو ایمان والا به غالب راشی۔ او کافران به مغلوبه شی۔ په دے باندے سوال ووشو۔ چه ایمان والا خو کم او کمزورے دی۔ جواب ورکړے شو چه د بدر غزا ته ووګورئ۔ الله پاک به دغه شان د ایمان والاؤ حفاظت ووفرمائی۔ په دے باندے سوال ووشو۔چه کافران به د دومره لوے تعداد او د دومره ډیر جنګی سامان سره ځنګه ماتے خوری او مسلمانان به ځنګه بریالی کیږی۔ نو ووفرمائیلے شو چه د کافر مقصد د دنیا خوندونه د دنیا ترقی او د دنیا سامان دے۔ خو مسلمان د آخرت کامیابی او جنت غواړی۔ نو د دنیا طالب چرے هم د آخرت طالب ته نۀ شی ټینګیدے۔ د سوره آل عمران د اوؤم ۷ آیت نه تر د پنځلسم ۱۵ آیت پورے ترجمه یوه پیره وو لو لئ۔ په دے تول ترون به انشاء الله پوهه شئ۔ او د غلبے او د ماتے راز به هم درته معلوم شی۔ نن اکثرو مسلمانانو قرآن پریخے دے –او

مال او اولاد او د دنیا رنګه ډنګه ئے خپل مقصد جوړ کړے دے۔ د دغے وجے نه دوی د غلبے نه محروم دی۔ نن هم مسلمان دے د قرآن پاک مطابق عقیده او عمل جوړ کړی او د دنیا محبت دے د زړهٔ نه ووباسی۔ بیا دے ووګوری چه د دے آیت پوره منظر څومره زر مخے ته راځی۔ چه سوچ او فکر او عمل د کافرانو غوندے وی۔ نو بیا خو به ذلت خا مخا راځی۔ (العیاذ بالله)

ګڼړو مفسرینو حضراتو هم د دے تړون په بنیاد باندے د دے آیت نه وړاندے او وروستو والا آیتونه هم د جهاد د مضمونونو سره تړلی دی۔ (والله تعالی اعلم بالصواب)

دُعاء

اے الله: مونږه ته د قرآن د منلو او دخپلولو توفیق راکړے۔ مونږه قرآنی جماعت جوړ کړے او د اسلام د ښمنان کافران مغلوبه کړے۔ (آمین یا اول الاولین)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ

یقیناً شته دی ستاسو د پاره نښانی په دواو ډلو کښې چه مخامخ شوې - یوه ډله وه چه جنګ ئې کولو د الله تعالی په

اللّٰهِ وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَاْيَ الْعَيْنِ ؕ وَاللّٰهُ

لاره کښې او بله کافره وه چه لیدل ئې مسلمان په دوه چنده د خپل ځان نه په ښکاره نظر سره. او الله تعالی کلکوی

يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۱۳﴾

په خپل مدد سره هغه چا له چه خوښه ئې شی. بے شکه په دے کښې خامخا عبرت دے دسترګود خاوندانو د پاره.

نچوړ

د بدر په غزا کښې د عقل والاؤ د پاره غټه نخښه ده. په دغه ورځ یو جماعت خالص د الله د پاره جهاد کولو. او د دغے جماعت په مقابله کښې د کافرانو لښکر وو. په دغه ورځ د الله تعالی د نصرت عجیبه واقعات پیښ شو. چه په هغے کښې یوه دا وه چه هرے ډلے خپله مخالفه ډله په غرېدلے سترګو د ځان نه دوه چنده لیدله. بے شکه قوت او غلبه صرف هغه چا ته ملاویږی چا ته چه د الله تعالی مدد حاصل شی. په دے هر څۀ هغه څوک پوهیږی چه د زړۀ سترګے ئې پرانستے وی.

لنډه قصه:

د بدر په جنګ کښې کافران تقریبا زر کسان (۱۰۰۰) وو (پینځه کم زر وو- تفسیر ماجدی) چه د هغوی سره اووۀ سوه اوښان او سل اسونه وو. بل خوا مسلمانان مجاهدین څۀ لږ د پاسه درے سوه وو (۳۱۳) چه ورسره ټول اویا اوښان دوه اسونه شپږ زغرے او اتۀ تورے وے. (اتیا کسانو سره تورے وے نورو کانړی راغشتے وو - حقانی) او تماشه دا وه چه هرے ډلے ته بله ډله د ځان نه دوه چنده ښکاریده. چه د هغے نتیجه دا وه چه کافرانو به چه د مسلمانانو د زیاتوالی خیال کولو نو زړونه به ئې ویریدل. او مسلمانانو چه به د ځان نه دوه چنده تعداد لیدلو نو نور به هم الله تعالی ته متوجه شول. او د الله تعالی په وعده ان یکن منکم مائة صابرة یغلبوا مائتین. (چه په تاسو کښې

به سل په دوؤ سوؤ غالب راشي) باندے ئے پوره توکل او کلک والے اختیار کړے وو۔ او د هغے په اعتماد باندے ئے د فتحے او د نصرت امید ساتلو-که چرے د هغوی پوره تعداد پرے ښکاره شوے وو چه درے چنده وو نو کیدے شی چه ویره پرے راغلے وه۔ او دا دیو بل دوه چنده تعداد لیدل په بعضے وختونو کښ وو۔ کنی بعضے وختونه هغه وو چه هریو ته بل کم ښکاریدلو۔ لکه چه په سوره انفال کښ به راشي۔ بهر حال چه الله تعالی یوه وړه او بے لاسوخپو ډله د داسے مظبوطے ډلے په مقابله کښ د هغه پیشن گویو موافق کومے چه په مکه کښ شوے وے۔په داسے شان سره کامیابه او بریالی کړله -نو دا د سترگو لرونکو دپاره ډیره غټه عبرتناکه واقعه ده۔ (تفسیر عثمانی)

دبرکت کلام:

حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی۔

یعنی د بدر جنگ چه قصه ئے په سوره انفال کښ ده۔ مسلمانانو سره کافران درے (دیو) برابر وو۔ خو الله تعالی صرف دوه (دیو) برابر ښودل۔ چه وونۀ ویریږی۔ بیا الله تعالی مسلمانانو ته فتحه ورکړه- د دے نه پکار ده چه ټول کافران عبرت واخلی۔ (موضح القران)

زیرے په مکه کښ ملاؤ شوے وو:

په مکی سورتونو کښ دیو داسے جنگ خبر ورکړے شوے وو- چه په هغے کښ به مسلمانان بریالی کیږی او کافران به ماتے خوری۔ او نقصان به مومی۔

د اللّٰدتعالی ارشاد دے: ام یقولون نحن جمیع منتصر سیهزم الجمع ویولون الدبر بل الساعة موعدهم والساعة ادهیٰ وامرٰ (القمر ۴۴ تا ۴۶)

ترجمه:

آیا دوی دا وائی چه مونږ زبردست ټولگے یُو-؟ ډیر زر به دا ټولگے ماتے ووخوری۔ او په شا به وو تختی بلکه قیامت د دوی د وعدے وخت دے۔ او قیامت ډیر زیات د ویرے نه ډک او ډیر زیات تریخ دے

دلته کښ د "ساعت" نه مراد د شکست او د ماتے وخت هم کیدے شی۔ ځکه

چه پیغمبر ﷺ چه کله د بدر په میدان کښی د مسلمانانو د فتحے او د بری دعاء غوښتله او الله تعالی هغه دعاء قبوله کړله نو پیغمبر ﷺ هم دا آیت تلاوت کولو۔ او د خیمے نه را ووتلو سیهزم الجمع ویو لون الدبر الخ (تفسیر الفرقان)

تفسیری اقوال:

یرونهم مثلیهم رأی العین کښی د مفسرینو ډیر قولونه دی۔ چه چا ته به څوک دوه چنده ښکاریدل ۔ یو قول خو بره بیان شو یو څو نور قولونه وړاندے کوؤ ۔

❶ والجمهور من الناس علی ان الفاعل یرون هم المومنون والضمیر المتصل هوللکفار (قرطبی)

یعنی مسلمانانو کافران د خپل ځان نه دوه چنده یعنی (شپږ سوه خواؤ شا) لیدل۔

❷ ویحتمل ان یکون الضمیر فی مثلیهم للمسلمین ای ترون ایها المسلمون المسلمین مثلی ما انتم علیه من العدد (قرطبی)

یعنی مسلمانانو ځان د خپل اصل تعداد نه دوه چنده زیات لیدلو۔

❸ کافرانو ځان د مسلمانانو نه څو چنده زیات لیدلو (په غرپدلو سترګو (او هغوی په حقیقت کښی هم څو چنده زیات وو) (بیان القرآن)

❹ کافرانو مسلمانان د خپل ځان نه څو چنده زیات لیدل۔

علامه آلوسی رحمه الله هم دا خبره د سدی تابعی رحمه الله په حوالے سره خپله کړے ده والمراد کما قال السدی تری الفئة الاخیرة الکافرة الفئة الاولیٰ المو منة مثلی عدد الرائین (روح المعانی)

فائده

د مثلین نه دوه چنده هم مراد کړے شوے دی او درے چنده هم- او د څۀ خاص شمیرے نه بغیر ډیر والے ترے نه هم مراد اخیستے شوے دے- زعم الفراء ان معنیٰ یرو نهم مثلیهم ثلاثة امثالهم (بحر) المراد بالمثلین مطلق الکثرة لا خصوص المثلین (جمل-تفسیر ماجدی)

فائده

د جنګ په وخت کښی حالات بدلیږی را بدلیږی -په دے وجه په جدا جدا

وختونو کښې جدا جدا نصرت پکار وي۔ الله تعالی د حالاتو مطابق د ایمان والاؤ نصرت فرمائي۔ په دے وجه ټول توجیهات ممکن دی۔ (والله تعالی اعلم)

نکته

که چرے ایمان سالم وي او د الله تعالی په نصرت باندے نظر وي نو د الله تعالی په نصرت سره مسلمانانو ته د کافرانو طاقت همیشه کم ښکاري۔ په دے وجه هغوی بے ویرے بے ډرے مقابلے ته راځي۔ دا سبق هم په دے آیت کښې ښودلے شوے دے۔ خو که ایمان سالم نهٔ وي او نیت ټیک نهٔ وي او زړهٔ د دنیا د محبت نه ډک وي نو د کفر طاقت بیا د خپل اصل طاقت نه هم زیات ښکاره کیږي (والله اعلم با الصواب)

نکته

فئة تقاتل فی سبیل الله واُخریٰ کافرة (یوه ډله د الله تعالی د پاره جنګیده او بله کافره وه) په ظاهره باندے دا جمله عجیبه غوندے لګي۔ یا به داسے وئیلے شوے وو چه یوه ډله مسلمانه وه او بله کافره۔ یا به داسے وئیلے شوے وو چه یوه ډله د الله تعالی په لاره کښې جنګیدله او دوئمه د کفر او د شیطان په لاره کښې۔

علامه ابو حیان صاحب رحمه الله د دے سوال جواب داسے ورکوي۔

فذکر فی الاولیٰ لازم الایمان وهو القتال فی سبیل الله وذکر فی الثانیة ملزوم القتال فی سبیل الشیطان وهو الکفر.

یعنی فئة تقاتل فی سبیل الله کښې هغه څیز ذکر کړے شوے دے کوم چه د ایمان سره لازم څیزونو کښې دے یعنی قتال فی سبیل الله او دوئمے ډلے د پاره هغه څیز ذکر کړے شوے دے کوم چه د شیطان په لاره کښې قتال سره ملزوم دے یعنی کفر (البحر المحیط)

فائده

د بدر د غزا واقعات الله تعالی تر د قیامته پورے راتلونکو ټولو مسلمانانو د پاره بیا بیا بیان فرمائیلے دی او دا واقعه ئے د مسلمانانو د کامیابئ د پاره د مثال او د نمونے په توګه پیش کړے ده۔ نو چه کله هم د مسلمانانو ایمان ویخ شي او هغوی د آسماني نصرت د ځان سره کولو او د فتحے موندلو خواهش لري۔نو دوی له پکار دی چه د بدر د غزا نه پوره په پوره زده کړه ووکړي۔(والله اعلم بالصواب)


شعر: فضا د بدر جوړه کړه بیا ګوره فریشتو ته
مدد لـه به راځی تاله اوس هم قطار قطار

د دے ټولو دلائلو نه دا خبره په ډاګه شوه چه په دے آیت کښې د جنګ بدر ذکر دے۔ نو کوم هوښیار خلق چه د قومونو د ترقئ او د تنزل - د عروج او زوال- او د ووچتوالی او لاندے والی په اسبابو او علتونو کښې لګیا وی غور کوی۔ هغوی ته صرف دا د بدر غزا د عبرتونو او هوښیار توب په سلګونو لارے ورښکاره کوی۔ چه هغوی د بصیرت او د حکمت دا خبرے ښے واوری او ځان پرے پوهه کړی۔

(تفسیر الفرقان)

دعاء

اے الله مونږ مسلمان امت ته د بدر غوندے منظرونه بیا بیا ووښایه۔او مونږ ټول مسلمانان د خپل غیبی نصرت او مدد اهل جوړ کړے۔ (آمین یا آخر الاٰخرین)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ

مؤمنان دے د مؤمنانو په ځائے کافران دوستان نۀ جوړوی۔ او چا چه دا کار ووکړو نو د هغۀ د

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا

الله تعالی سره هیڅ تعلق نشته۔ سوا د دے نه که تاسو ځان بچ کول غواړئ د هغوی نه په

مِنْهُمْ تُقٰىةً ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸﴾

څۀ درجه کښې۔ او الله تعالی تاسو د خپل ځان نه ویروی۔ او هم الله تعالی طرف ته واپسی ده۔

نچوړ

مسلمانان دے د مسلمانانو ورنړو په ځائے کافران نۀ یاران کوی که چرے دوی دا ظلم ووکړو۔ نو دوی به د الله تعالی د محبت، نصرت او تعلق نه محرومه شی۔ بعضے وختونو او بعضے ځایونو کښې د ظاهری خوش اخلاقئ په ذریعه خپله دفاع جائز ده۔ چه کله د ډیر لوئے نقصان اندیښنه وی۔ اے د کافرانو سره یاری کونکو؛ تاسو ټول به واپس صرف الله تعالی طرف ته ځئ۔ نو صرف د هغۀ نه وویریږئ او د هغۀ سره جوړ ساتئ۔

تفسیری اقوال:

(۱) چونکه اوس د فیصلے وخت راغلے دے په دے وجه د اسلام پیروکارو ته خطاب دے۔ چه د عمل لاره خپله کړی۔ او کمزوری نۀ ښائی۔ په دے سلسله کښې د تولو نه زیاته ضروری خبره داده۔ چه خپل تعلقات دے د جماعتی تعلقاتو نه نۀ وړاندے کوی۔ او دښمنان دے خپل مددګاران او دوستان نۀ جوړوی دجنګ میدان ګرم شوے دے۔ د دوست او دښمن دوه صفونه بیل بیل وودریدلے دی۔ نو د هر کس د پاره ضروری ده چه د ځان د پاره یو صف خوښ کړی۔ او چه کوم صف خوښ کړی نو صرف په هغے کښې دے شی۔ داسے نۀ وی چه وی په یو کښې او د بل سره هم تعلق ساتی۔ (ترجمان القرآن)

(۲) د کافرانو سره درے قسمه معاملات وی۔ " موالات "یعنی دوستی او د

زړهٔ تعلق "مدارات" یعني ظاهري خوش اخلاقي ، او ظاهري تعلق "مواسات" یعني احسان او فائده رسول۔ د دے معاملاتو تفصیل دا دے۔ چه موالات یعني د زړهٔ محبت او دوستي خو په یو حال کښې هم جائز نهٔ ده۔ او آیت لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ (یهودیان او عیسایان دوستان مهٔ جوړوئ دوی په خپلو کښې دوستان دي۔ او څوک چه په تاسو کښې دوی سره دوستي کوي۔ هغه به هم په دوی کښې شمار وي) او آیت لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ (مهٔ جوړوئ څما دښمنان او خپل دښمنان یاران) دواړو کښې هم دا مراد دے۔ او مدارات یعني ظاهري تعلق او خوش اخلاقي۔ په دریو حالتونو کښې تیک دي ❶ د نقصان دفعه کولو دپاره (یعني چه کافران طاقتور او مسلمان کمزورے وي۔ او مسلمانانو ته د دوی نه د لوئے نقصان خطره وي۔ نو په ظاهري خوش اخلاقئ سره خپله دفاع جائز ده۔ ❷ دکافر د دیني مصلحت د وجے یعني د هدایت په امید باندے (یعني که د هغهٔ د ایمان راوړلو امید وي۔ ❸ دمیلمه د عزت د پاره۔ او مواسات یعني احسان او فائده رسوَل : مواسات هغه کافرانو سره جائز دے چه هغوی حربیان نهٔ وي او که حربیان وي نو بیا جائز نهٔ دے" مدارات" په برنو دریو صورتونو کښې خو جائز دے خو په لاندینو صورتونو کښې جائز نهٔ دے

❶ د ذاتي مصلحت د پاره ❷ مالي نفع حاصلولو د پاره ❸ د خپل عزت او نوم د پاره۔ او که چرے د دیني نقصان ویره پکښې وي نو بیا خو خامخا حرام دے۔ (محصله بیان القرآن)

❸ یعني هر کله چه د حکومت او سلطنت –د مرتبے او د عزت او د هر قسمه کارونو واګے د الله تعالی په لاس کښې شوے۔ نو بیا مسلمانانو سره کوم چه په صحیح معنی کښې په دے باندے یقین لري۔دا نهٔ ښائي چه د خپلو اسلامي ورونړو وررورولي او دوستي کافي نهٔ ګڼري۔ او بے فائدے دالله تعالی او د هغهٔ د دښمنانو په موالاتو او مداراتو پسے ګرځي۔د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول ﷺ دښمنان چرے هم د دوی دوستان کیدے نهٔ شي۔ څوک چه په دے لیونتوب کښې پریوځي نو پوهه شه چه د الله تعالی د محبت او موالات سره د دهٔ هیڅ څهٔ کار نشته۔ پکار دي چه د یو مسلمان د ټولو امیدونو او د ویرے تعلق صرف الله تعالی سره وي۔ او چه ددهٔ باور او

یقین په هغه خلقو وی او د دۀ مینه او مدد صرف د هغه خلقو سره وی کوم چه د الله تعالی سره هم دا قسم تعلق لری۔ خو دومره ده چه د تدبیر اود انتظام په درجه کښ د کافرانو د غټ نقصان نه د خپل ځان د ضروری بچاؤ اړخونه او دخپل حفاظت صورتونه په معقوله او جائزه طریقه باندے خپلول؛ د دے حکم نه داسے بهر دی لکه څنګه چه په سورۀ انفال کښ وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ "نه" مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ بهر کړے شوے دے۔ څنګه چه هلته کښ چال اختیارول یا پناه اخیستل په حقیقت کښ د جنګ نه تیښته نۀ حسابیږی- بلکه صرف شکل د تیښتے وی- دغه شان دلته هم إِلَّا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً په حقیقت کښ موالات نۀ دی ګنړل پکار -بلکه صرف شکل د موالاتو دے۔ چه دے ته مونږ مدارات وایو۔ (تفسیر عثمانی)

فائده

دا مسئله ډیره اهمه ده او تفصیل غواړی- د عربیٔ په تفسیر کښ چه په دے باندے څۀ لیکلے شوے دی۔ د هغے خلاصه د مشرانو حضراتو په ذکر شوے برنو دریو عبارتونو کښ تقریبا راغله۔ البته په تفسیر روح المعانی کښ د دے آیت د لاندے ډیر لوئے تفصیل دے۔ او په تفسیر انوارالبیان کښ ډیر د فکر او درد نه ډک نصیحت والا تقریر په دے ځائے کښ ذکر دے۔ بل خوا په تفسیر ابن کثیر کښ د دے آیت مماثل آیتونه جمع کړے شوے دی۔ او په تفسیر الفرقان کښ په دے آیت باندے ډیر مدلل کلام شوے دے۔ طالب علمان دے دغه تفسیرونو ته رجوع ووکړی۔ ان شآء الله د سورۀ مائدے د آیت ۵۱ په تشریح کښ به دا مسئله نوره هم په ډاګه شی۔

فلیس من الله فی شئ څوک چه د کافرانو سره یاری کوی۔نو د هغۀ د الله تعالی سره هیڅ تعلق نشته۔

❶ ای فلیس من حزب الله ولا من اولیائه فی شئ یعنی نۀ خو هغه د الله تعالی په ډله کښ دے۔ او نۀ د الله تعالی په دوستانو کښ (العیاذ بالله) (قرطبی)

❷ ای من ولایته او من دینه یعنی د هغۀ د الله تعالی دوستئ سره او د الله تعالی د دین سره هیڅ تعلق نشته۔ (روح المعانی)

❸ یعنی انه منسلخ من ولا یةالله رأساً یعنی د کافرانو سره د یاریٔ کولو والا به د سره د الله تعالی سره څۀ تعلق نۀ وی۔ والمحبة فی الله والبغض فی الله باب عظیم واصل من اصول

الایمان ځکه چه د الله تعالی د پاره محبت ساتل او د الله تعالی د پاره بغض ساتل د اسلام یو بنیادی اصول او غټ باب دے۔(کشاف)

❷ فلیس من دین الله فی شئی ۔ یعنی د هغهٔ د الله تعالی د دین سره هیڅ قسمه تعلق نشته۔ (العیاذبالله)۔(جلالین)

شان نزول

❶ د معالم التنزیل صفحه ۲۹۱ ج ۱ کښې ئے د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے دی۔ چه بره ذکر شوے آیت د عبدالله بن ابی او د هغهٔ د ملګرو په باره کښې نازل شوے دے۔ دے کسانو به په ظاهره د مسلمانئ دعوی کوله او په زړهٔ کښې کافران وو۔ د یهودیانو او مشرکانو سره ئے دوستی لرله او هغوی ته به ئے د مسلمانانو خبرونه رسول۔ او دا امید به ئے ساتلو چه د رسول الله ﷺ په مقابله کښې به یهودیان او مشرکان غلبه بیا مومی۔ او بریالی به شی۔ په دے باندے الله تعالی دا آیت نازل کړو او مومنان ئے منعه کړل۔ چه د دے خلقو په شان کار مهٔ کوئ۔ او د کافرانو د دوستئ نه پرهیز ووکړئ۔ خپله دوستی صرف مسلمانانو سره ساتئ۔ د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه ئے دا هم نقل کړی دی چه څو یهودیانو د بعضے انصارو سره تعلق جوړ کړے وو۔ او د ننه مقصد ئے دا وو چه دوی د اسلام نه واړوی۔ بعضے صحابؤ رضی الله عنهم دغه انصار د یهودیانو د دے دوستئ نه منعه کړل خو دوی ووساتله۔ الله جل شانه دا آیت نازل کړو۔ او د دین د دښمنانو د دوستئ نه ئے منعه وو فرمائیله۔ (انوار البیان)

❷ عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما انها نزلت فی عبادة بن الصامت الانصاری وکان بدریا نقیباًوکان له حلفاء من الیهود فلما خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم یوم الاحزاب قال عبادة ! یا نبی الله ان معی خمسمائة من الیهود وقد رأیت ان یخرجوامعی فاستظهر بهم علی العدو فانزل الله تعالیٰ لَا يَتَّخِذِ الآیة.

د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه دا آیت د حضرت عباده بن صامت انصاری رضی الله عنه په باره کښې نازل شوے دے۔ هغه بدری صحابی وو– او په سردارانو کښې وو– څهٔ یهودیانو د دهٔ مرسته کوله۔ کله چه رسول الله ﷺ د احزاب د غزا د پاره ووتلو۔نو حضرت عباده بن صامت رضی الله

عنه عرض ووکړو۔ اے د الله پیغمبره ﷺ ما سره پینځه سوه یهودیان دی۔ ځهٔ ګنړم چه هغوی به هم ما سره ووځی۔ ځهٔ به د د ښمن خلاف د هغوی نه مدد واخلم۔ په دے باندے دا آیت نازل شو (روح المعانی) او د کافرانو د دوستئ نه منعه وو شوه۔

عجیبه نکته:

د دے آیت نه وړاندے دوه آیتونه ووګورئ آیت ۲۶ او آیت ۲۷ په دے دواړو آیتونو باندے غور کولو سره د دے آیت مفهوم پوره زړهٔ ته کوز شی۔ او دا د مسلمان پخه عقیده جوړه شی۔ مفسرینو حضراتو لیکلے دی چه هر کله د غزوهٔ احزاب په موقعه باندے پیغمبر ﷺ یو سخت ګټ ماتولو د پاره په هغے باندے ګذارونه ووکړل او د هغے ګټ نه بسری ووتل۔ نو پیغمبر ﷺ خپلو جانثارو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د روم او فارس د فتحه کیدو زیرے ورکړو۔ په دے پورے د کافرانو د طرفه ښهٔ توقے ووشوے۔ چه د خوراک د پاره ورسره څهٔ نیشته دے – په خیتو باندے ئے کاڼړی تړلی دی۔ او خبرے د روم او د فارس د سلطنت او د خزانو کوی۔ قرآن مجید د یو دعاء په شکل کښ د دوی د توقو جواب ورکړو قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ .الآیة. :ترجمه تاسو ووایئ اے الله! د سلطنت مالکه ؛ چا ته چه غواړے نو سلطنت ورکوے –او چا نه چه غواړے نو سلطنت ترے نه اخلے –او عزت ورکوے چاته چه ستا خوښه وی– او ذلیل کوے هغه څوک چه تهٔ ئے غواړے– ټول خیر صرف ستا په لاس کښ دے۔ بیشکه تهٔ په هرڅیز باندے قادر ئے۔ تهٔ شپه په ورځ کښ او ورځ په شپه کښ داخلوے۔او ژوندے د مړ نه راؤباسے او مړ د ژوندی نه راؤباسے۔ او چا ته چه تهٔ غواړے بے حسابه رزق ورکوے۔ (آل عمران ۲۶، ۲۷)

په دے آیت پسے سمدستی د کافرانو د یارئ نه منعه کولو والا آیت دے۔ ځکه چه په مسلمانانو کښ بعضے کسان د کافرانو سره یاری د دے د پاره کوی چه د کافرانو سره طاقت او سلطنت وی۔ او د هغوی سره په لاس ملاوؤلو کښ عزت ښکاری– نو د مخکښ نه ئے پوهه کړل۔ چه حکومت ورکوُل او اغیشتل د الله تعالی په لاس کښ دی۔ په دے وجه کافرانو ته مهٔ تیتیګئ چه تاسو دا ګنړئ چه اوس د کافرانو طاقت او حکومت د قابو نه بهر دے۔ داسے نهٔ ده– بلکه الله تعالی چه کله ووغواړی دوی به ذلیل او رسوا کړی۔ باقی پاتے شوه د عزت او ذلت مسئله نو

هغه هم د کفر په یاریٔ کښې نهٔ ده. د الله تعالی په اختیار کښې ده. بیا که چرے تاسو ته د کفر تیارے په هر طرف ښورے په نظر راځي نو مهٔ مایوسه کیږئ. شپه لرے کول او ورځ راوستل د الله تعالی په قدرت کښې دي. نن که تاسو په قومي توګه باندے مړهٔ په نظر راځئ- نو هم د مړو ژوندي کول د الله تعالی په اختیار کښې دي. باقي ورځے شپے ځي راځي. ژوند او مرګ ځي راځي. خکته والے پورته والے کیږي. د دے ځیزونو دا مطلب نهٔ دے چه تاسو د ختونکي نمر بندیګان جوړ شئ. او د کافرانو سره یاریٔ کولو پسے ګرځئ. د الله پاک نه ویریږئ. او صرف د هغهٔ سره خپل تعلق په هر حال کښې مضبوط ساتئ. (و الله اعلم با لصواب)

نکته

د دے آیت نه وړاندے آیت کښې مسلمانانو د الله تعالی نه د سلطنت – د عزت او د ژوند دعاء ووغوښتله. نو په دے آیت کښې جواب ملاؤ شو چه کافرانو سره یاري پریږدئ. او د الله تعالی سره پخه یاري ووکړئ ستاسو دعاء به قبوله شي.

د مخکښنئ دعاء د قبلیدو د پاره یو شرط ښودلے کیږي چه زمونږه د ښمنانو سره یاري مهٔ ساتئ. ځکه چه د دښمن دوست هم دښمن وي.(ویحذرکم الله نفسه) خومره چه تاسو ته د ملاویدو ضرورت دے که د هغے نه لږ هم وړاندے شوئ نو الله تعالی به درنه حساب اخلي. څنګه چه د ژوند د بچ کولو د پاره د مردارے د خوړلو د ضرورت په اندازه اجازت دے او خیته ډکول حرام دي. هم دغه شان حال دلته د کافرانو سره د دوستئ هم دے. د کافرانو سره د دوستئ د پاره که تاسو نمائشي بهانے جوړوئ. نو الله تعالی ستاسو په زړونو باندے خبر دے. (حاشیه حضرت لاهوری رحمه الله)

دعاء

یا غفور یا غفار یا تواب یا مالک الملک یا محیی یا ممیت! مسلمان امت له په زمکه باندے مضبوطیا او اختیار ورکړے. یا معز یا مذل. امت له عزت ورکړے. یا ولي؛ مونږ ټول مسلمانان صرف خپل دوستان جوړ کړے. او د کافرانو سره د یاریٔ کولو په باره کښې چه کومه غټه کوتاهي په اجتماعي توګه باندے د مسلمان امت نه کیږي هغه معاف کړے. او د دے نه زمونږ د ټولو حفاظت ووکړے. (آمین یا ذالقوة المتین) ●●

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۱۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ

تاسو په ټولو امتونو کښې غوره يئ – چه د خلقو د پاره راويستلے شوے يئ. تاسو د ښو کارونو حکم

تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ

کوئ. او د بدو کارونو نه منعه کوئ. او الله تعالی باندے ايمان لرئ – او که چرے اهل کتابو ايمان

الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۱۰﴾

راوړلے وو. نو د دوی د پاره ښۀ وه. څۀ په دوی کښې ايماندار دی. او زيات په دوی کښې نافرمانه دی.

نچوړ

د حضرت محمد ﷺ امت په ټولو امتونو کښې غوره دے. د دے امت کار دا دے چه دے خير نافذ کوی او بدی ختموی. د ټولونه لوئے خير "اسلام" دے. او د ټولونه لويه بدی "کفر" دے. او د دے امت ايمان مقبول ايمان دے. که چرے اهل کتابو هم دغسے ايمان راوړے وے نو د هغوی د پاره به ښۀ وه. په هغوی کښې چاخو ايمان راوړے دے خو زيات تر په کفر باندے ټينګ دی.

تفسيری اقوال:

❶ وقال ابوهريرة رضی الله تعالیٰ عنه نحن خير الناس للناس نسوقهم بالسلاسل الی الاسلام.

حضرت ابو هريره رضی الله عنه فرمائی چه مونږ بهترين خلق يو د ټولو خلقو د پاره ځکه چه مونږه دوی په زنځيرونو کښې تړلے اسلام طرف ته راولو (القرطبی)

(يعنی د امت د بهترين کيدو او افضل کيدو وجه جهاد فی سبيل الله ده. د دے قول تشريح مخکښې راروانه ده)

❷ روی عن ابن عباس انه قال فی تفسير هذه الاية قوله كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تامرونهم ان يشهدوا ان لا اله الاالله ويقروا بماانزل الله وتقاتلونهم عليه ولااله الاالله اعظم المعروف والتكذيب هوا نكر المنكر حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما د دے آيت په تفسير کښې فرمائی كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تاسو بهترين امت يئ کوم چه

د خلقو دپاره ویستلے شوے دے۔ تاسو خلقو ته حکم کوئ چه هغوی د لااله الاالله گواهی ورکړی او څه چه الله پاک نازل کړی دی چه د هغے اقرار اوکړی۔ او تاسو په دے دعوت باندے د خلقو یعنی منکرو سره قتال کوئ۔ لا اله الاالله د ټولو نه غټ معروف یعنی نیکی ده۔ او د دے نه انکار کول د ټولو نه غټ منکر دے (تفسیر کبیر)

یعنی د دے امت دخیر امت کیدو وجه دا ده چه دا امت ټولے دنیاته د ایمان دعوت ورکوی۔ او د نهٔ قبلوونکو سره قتال کوی نو دے سره د دوی دعوت څوک نهٔ شی بندولے او دا دعوت په ټوله دنیا کښ خوریږی۔

❸ وأخرج ابن المنذر وغيره عن ابن عباس رضي الله تعالىٰ عنهما في الاية أن المعنىٰ تامرونهم ان يشهدوا ان لا اله الا الله ويقروا بما انزل الله تعالىٰ وتقاتلونهم عليه ولااله الاالله هو اعظم المعروف وتنهونهم عن المنكر والمنكر هو التكذيب وهوانكر المنكر. (ترجمه ئے تیره شوے ده) (روح المعاني)

❹ وقال ابن عباس رضي الله تعالىٰ عنهما هم الذين هاجروا من مكة الى المدينة وشهدوا بدر او الحديبية وقال عمر بن الخطاب رضي الله تعالىٰ عنه من فعل فعلهم كان مثلهم.

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه دا (بهترین امت) هغه خلق دی کومو چه دمکے نه مدینے طرف ته هجرت اوکړواو دبدر غزا او حدیبیه کښ ئے حصه اغیشتے وه۔ حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمائی چه څوک هم د هغوی په شان کار (یعنی هجرت او جهاد) اوکړی هغه به هم د هغوی پشان (یعنی بهترین امت) وی۔ (القرطبی)

❺ او په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښ ئے چه کوم د زیات اهتمام قید لګولے دے نو د هغے نه مراد په لاس او په قوت سره امر بالمعروف او نهی عن المنکر دے۔ کومه چه د دے اعلی درجه ده۔ دا درجه په دے امت کښ د نورو امتونو نه په دوؤ وجو سره زیاته ده۔

اول د جهاد جاری کیدل چه د هغے مقصد د کفر او د فساد دفع کول دی۔

دویم د دعوت محمدیه د عموم په وجه۔ د دے د ټولو قومونو دپاره عام کیدل لکه څنګه چه للناس کښ د عام لفظ لګولے شوے دے۔ په خلاف د مخکښنو

شریعتونو چه په بعضو کښې جهاد نۀ وو او په بعضو کښې د مخکښنو پیغمبرانو د خصوصي راتګ په وجه د ټولو دپاره عام نۀ وو۔ (بيان القرآن)

یعنی د امت د افضل کیدو دوه وجې دی۔ (الف)جهاد او(ب) د دعوت د ټولې دنیا دپاره عام کیدل۔ بیا ټولې دنیا ته دعوت رسول بغیر د جهاد نه ممکن نۀ دی۔ ځکه چه منکرین به رکاوټونه اچوی۔ او دا رکاوټونه به صرف د جهاد په ذریعې سره لرې کولې شي۔

❻ عن ابی حازم عن ابی هریرة كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ قال تجرون الناس بالسلاسل الی الاسلام

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه " تاسو بهترین امت یئ چه د خلقو دپاره ویستلے شوے یئ "مطلب دا دے چه تاسو د زنځیرونو په ذریعه خلق اسلام طرف ته راکاږئ (قرطبی)

یعنی تاسو د جهاد په ذریعه خلق اسلام طرف ته راولئ۔ او د دے دا مطلب بیخی نۀ دے چه ګنی تاسو د چا په څټ باندے توره ایږدئ او هغه مسلمانوئ۔ ځکه چه په زور اسلام قبلولو والا چا چه د زړۀ نه اسلام نۀ وی منلے هغه خو د سره مسلمانیدے نۀ شي بلکه مطلب دا دے چه تاسو د جهاد په ذریعه د کفر طاقت ماتوئ۔ او اسلام غالب کوئ او د دے د عدل او انصاف نه ډک نظام نافذ کوئ (نو چه کله تاسو دا کار اوکړئ) نو بیا به خلق ډلے ډلے مسلمانیږی۔دغه شان چه د مسلمانانو بهادری او سرورکول وینی۔ نو هم ډیر کافران اسلام قبلوی۔ او چه کله په دنیا کښې د کفر طاقت او رعب مات شي اوکفر د ذلت علامه جوړه شي نو خلق ډیر زر دا پریږدی۔ ځکه چه کفر غیر فطری څیز دے۔ او خلق د حکومت او دطاقت او دغفلت په وجه دے پورے انختے وی۔ د جهاد په ذریعه چه کله د کفر طاقت او رعب داب ختم شي۔ نو بیا خلق خپل فطری دین طرف ته راتلو کښې وخت نۀ اخلی۔ دا ټوله خلاصه شوه د دے خبرے چه دوی خلق د زنځیرونو په ذریعه اسلام طرف ته راکاږی۔ (والله اعلم بالصواب)

دیو اشکال جواب

اشكال

من ای وجه یقتضی الامر بالمعروف والنهی عن المنکر والایمان بالله کو ن هذه الامة خیر الامم مع أن هذه الصفات کانت حاصلة فی سائر الامم.

یعنی څه وجه ده "امر بالمعروف "او "نهی عن المنکر "او په " الله باندے ایمان راوړل " د دے امت د غوره والی سبب ګرزولے شوے دے۔ حالانکه دا ټول صفات په مخکښنینو امتونو کښې هم وو (تفسیر کبیر)

یعنی دمخکښنینو امتونو خلقو هم ایمان راوړے وو۔ او په هغوی کښې نو خلقو امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم کولو۔ لکه څنګه چه د قرآن پاک د ګڼړو آیتونو نه ثابته ده۔ نو بیا دا امت د نورو امتونو نه څنګه غوره شو۔؟

جواب

قال القفال رحمه الله تفضیلهم علی الامم الذین کانوا قبلهم انما حصل لاجل انهم یامرون بالمعروف وینهون من المنکر باٰکد الوجوه وهو القتال لان الامر بالمعروف قد یکون بالقلب وباللسان وبالید واقواها ما یکون بالقتال.

یعنی امام قفال رحمه الله فرمائی چه د دے امت غوره والے په نورو امتونو باندے په دے وجه دے چه دوی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د ټولو نه مضبوطه او تاکیدی طریقه باندے عمل کوی۔او دا تاکیدی طریقه د "قتال فی سبیل الله" ده۔ ځکه چه امر بالمعروف کله په زړۀ سره کیږی او کله په ژبے سره او کله په لاس سره او د ټولو نه زیات مضبوط اوقوی امر بالمعروف د قتال په ذریعه کیږی۔
لانه القاء النفس فی خطر القتل ځکه چه په دے کښې خپل ځان په خطره کښې اچولے کیږی۔ واعرف المعروفات الدین الحق والایمان بالتوحید والنبوة وانکر المنکرات الکفر بالله او د ټولو نه غټه نیکی په حق دین او په توحید او رسالت باندے ایمان راوړل دی۔ او د ټولو نه لوئې منکر کفر دے۔ فکان الجهاد فی الدین محملا لاعظم المضارات لغرض ایصال الغیر الی اعظم المنافع وتخلیصه من اعظم المضار. نو د دین د خاطره جهاد کول نورو خلقو ته د ټولو نه لویه ګټه (اسلام) ور رسول او هغوی د ټولو نه د لوئې نقصان نه د بچ کولو دپاره خپل ځان د غټ نقصان (یعنی قتل) دپاره پیش کول دی۔ فوجب ان یکون الجهاد اعظم العبادات نو دا خبره لازمه شوه چه جهاد د ټولو نه اوچت او لوئې عبادت دے -

(اوس سوال دا پیدا شو چه په مخکښنو امتونو کښې خو هم جهاد وو؟ نو د دے جواب ورکوی اوفرمائی)

ولما كان امر الجهاد في شرعنا اقویٰ منه في سائر الشرائع لاجرم صار ذلک موجبا لفضل هذه الامة على سائر الامم.

یعنی جهاد زمونږ په شریعت کښې د نورو ټولو شریعتونو نه زیات مضبوط (او ضروري) دے۔ نو بیشکه صرف جهاد د دے امت دپاره په نورو امتونو باندے د غوره والي سبب دے۔ د دے نه پس هغوی د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما هغه روایت ذکر کړے دے کوم چه مخکښې ذکر شو۔ (التفسیر الکبیر)

یعنی مخکښنو امتونو کښې هم جهاد وو۔ خو کوم شان او اهمیت والا جهاد چه د دے امت په ذمه دے۔ او حضور پاک ﷺ چه پخپله کړے دے۔ داسے په یو امت کښې هم نۀ وو۔ نو ددے امت خلق ټولے دنیا ته خیر یعنی اسلام رسولو دپاره خپل ځانونه قربانوی۔ په دے وجه دا امت "خیر امت" (د ټولو نه غوره امت) دے

د برکت کلام:

د حضرت شاه عبد القادر رحمه الله غوندے د تفسیر د امام په نیز صرف د دے یو آیت تعلق د جهاد دمضمون سره نۀ دے۔ بلکه د هغوی په نیز د جهاد دا مضمون د آیت ۱۰۲ نه شروع کیږی او ډیر لرے پورے ځی نو په آیت ۱۰۴ کښې د الله تعالی ارشاد دے۔ وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ الآية:

ترجمه:۔ او پکار ده چه په تاسو کښې یو جماعت داسے وی چه خیر طرف ته رابلل کوی او د ښو کارونو حکم کوی او دخرابو کارونو نه منعه کول کوی او هم دغه خلق نجات موندونکی دی۔ (آل عمران ۱۰۴)

حضرت شاه صاحب رحمه الله د دے په تفسیر کښې لیکی۔ معلومه شوه۔ چه په مسلمانانو کښې یوه ډله د جهاد دپاره او د دین دپابندۍ ساتلو دپاره ضروری ده۔ چه څوک د دین خلاف څه کار اونۀ کړی او څوک چه دا کار کوی نو هم هغوی کامیاب دی او دا (نظریه ساتل) چه څوک دے په چا غرض نۀ ساتی۔ (یعنی هر څوک دے په خپل خپل دین اوسی۔) موسی دے په خپل دین وی او عیسیٰ دے په خپل دین وی (او څوک دے چاله دعوت نۀ ورکوی او نۀ دے د اسلام د خاطره جهاد کوی) نو دا لاره د مسلمانۍ نۀ ده (یعنی دا د اسلام نظریه او طریقه نۀ ده) (تفسیر موضح القرآن)

د دے نه پس په آیت ۱۰۸ کښې ارشاد پاک دے

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ (آل عمران۱۰۸)

ترجمه: دا د الله پاک آیتونه دی مونږه ئے تاته تیک تیک لولو. او الله پاک په دنیا والاؤ باندے ظلم کول نۀ غواړی.

د دے آیت په تفسیر کښې حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی "یعنی د جهاد او دامر بالمعروف چه ئے کوم حکم اوفرمائیلو نو دا په مخلوق باندے ظلم نۀ دے بلکه د دوی تربیت دے. (موضح القرآن)

د دے نه پس په آیت ۱۰۹ کښې الله تعالی فرمائی

وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ (آل عمران ۱۰۹)

ترجمه: او څه چه په اسمانونو کښې دی او څه چه په زمکه کښې دی. تول صرف د الله تعالی دی او تول کارونه صرف الله تعالی طرف ته واپس کیږی .

د دے آیت په تفسیر کښې حضرت شاه رحمه الله لیکی. یعنی که په جهاد کښې د مخلوق سر او مال ختم شی نو دا د مالک په حکم سره وی. هر څیز د الله تعالی مال دے . (موضح القرآن)

بیا د آیت ۱۱۰ د کوم تفسیر چه دلته روان دے په حاشیه باندے لیکی. یعنی دا امت د هر امت نه غوره دے صرف په دے دواؤ صفتونو باندے. وړومبے دمعروف امر یعنی جهاد او دویم ایمان یعنی د توحید پابندی. دا دواړه صفتونه دومره په بل دین کښې نیشته . (موضح القرآن)

نکته

په آیت مبارک کښې د امر او د نهی لفظ استعمال شوے دے. چه په دے سره دا اشاره هم کیدے شی. چه دا امت دے زور او قوت حاصل کړی او په زمکه کښې دے ورته اختیار وی چه دوی امر یعنی حکم کولے شی نو که چرے مسلمانان مغلوب وی نو حکم به څنګه کوی ؟ والامر هو قول القائل لغیره علی سبیل الاستعلاء افعل(والله اعلم با لصواب)

نکته

د الله پاک هر حکم خیر دے او دالله پاک هره نافرمانی منکر دے. غوره امت صرف

هغه کیدے شي چه هغه خیر پوره دنیا ته اورسوی۔ او دمنکر په توله دنیا کښ ملا ماته کړی۔ کله چه دا امت د خیر سره مخکښ ځی نو د منکر حفاظت کوونکی به دوی منعه کوی۔ نو که چرے دا امت منعه شو۔ نو د دین دعوت به بند شی او یو څو علاقو پورے به محدود پاتے شی اوکه چرے مخکښ ځی نو د جنګ نه بغیر چاره نیشته۔ نو بغیر د جهاد نه او بغیر د قوت نه به خیر او نفعه څنګه تول عالم ته اورسی؟ (و الله اعلم بالصواب)

فائده

د آیت په دے حصه کښ د مسلمان امت د اعتقادی 'اخلاقی 'او عملی ژوند د کامل والی او پوره والی پوره نقشه راغله۔ مطلب دا شو چه اے مسلمانانو؛ تاسو خپله ذمه داری پوره محسوس کړئ۔ تاسو د توحید امانت داریئ۔ په زمکه باندے د الله تعالی نائبان او خلیفګان یئ۔ د هغهٔ دپولیس غوندے یئ۔تاسو د الله تعالی د قانون د نافذولو او د هغے د حفاظت دپاره رالیږلے شوے یئ۔ ستاسو د ژوند مقصد هم دا دے۔ چه تاسو الهی حکومت اوچلوئ۔ او د حق د نظام یوه یوه پرزه تیک کړئ۔ او چه د باطل نظام زور در نه اونهٔ چلیږی۔ که چرے د مسلمانانو دے ذمه دارے کار کوونکے ډلے ته د جنګ جګړے ازادی په یو وخت کښ هم، نهٔ وه ملاؤ شوے۔ نو ظلم به وو۔ د جهاد د اجازت نه بغیر او دحدودو او تعزیراتو د جاری کولو د اجازت نه بغیر په دے قوم باندے د ذمه دارو اچولو مطلب به دا وو چه لکه خپے او لاسونه تړلے شوے وی او په درياب کښ د لامبو وهلو حکم ورکولے کیږی۔ (تفسیر ماجدی)

فائده

امام سرخسی رحمه الله په خپل مشهور کتاب مبسوط کښ د جهاد او سیر باب هم د دے مبارک آیت نه شروع کړے دے نو معلومه شوه چه د دے آیت د جهاد سره ډیر مضبوط تړون دے۔

أُخْرِجَتْ د اخرجت په لفظ کښ چه د کوم خروج او ظهور ذکر دے د هغے اشاره هم جهاد طرف ته ده۔ (والله اعلم بالصواب)

دحضرت عمر رضی الله عنه قول:

د حضرت عمر رضی الله عنه دا فرمان اکثرو مفسرینو حضراتو نقل کړے دے۔

من سره ان یکون من تلکم الامة فلیحقق شرط الله منها چه د چا زړهٔ غواړی چه په دے غوره امت کښې شامل شی نو هغهٔ له پکار دی چه په دے باره کښې د الله تعالی شرط پوره کړی۔ (جلالین وغیره)


یعنی په آیت کښې چه کوم درے صفات بیان شوے دی هغه دے خپل کړی۔

وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ

که چرے اهل کتابو دا درے شرطونه د الله تعالی د حکم مطابق پوره کړے وو نو هغوی به هم لوئے خیر موندلے وو خو په هغوی کښې ډیرو کمو خلقو ایمان راوړلے دے۔ ولے اکثرو د کفر او نافرمانئ لار غوره کړے ده۔

دعاء

اے الله مونږ ټولو مسلمانانو ته د دے خبرے قبول شوے فکر رانصیب کړے چه پوره عالم ته اسلام اورسی۔ انسانانو ته د کفر نه نجات ملاؤ شی او هغوی د لا اله الا الله محمد رسول الله اقرار اوکړی او جنت والا جوړ شی۔ اے الله مونږ ته د دعوت او د جهاد توفیق رانصیب کړه۔ او اسلام ته داسے غلبه ورنصیب کړه چه خلق ډلے ډلے په اسلام کښې داخل شی۔ (آمین یا ارحم الراحمین)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۱۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ اِلَّآ اَذًى ؕ وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ قف

دوی هیڅ کله ستاسو نقصان نۀ شی کولے سوا د ړپے د تکلیف نه. او که دوی جنګ کوی تاسو سره نو

ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

تاسو ته به شا کړی. بیا به دوی سره مدد نۀ کیږی.

نچوړ

اګر چه په اهل کتابو کښې خودیرو کمو خلقو ایمان راوړے دے - او ډیر ستاسو دښمنان او مخالف دی خو دوی تاسو ته د ژبے د تکلیف نه علاوه څۀ زیات نقصان نۀ شی در رسولے. (اونۀ ستاسو دین تولے دنیا ته د رسیدلو نه بندولے شی) او که چرے دا خلق د ژبے د تکلیف او دهمکو سره سره د جنګ دپاره میدان ته را ووتل نو شکست به خوری او تښتی به. او څوک به هم د دوی مدد له نۀ راځی.

شان نزول

قال مقاتل ان رؤوس اليهود : كعب وعدى والنعمان وابو رافع و ابو ياسر وكنانة و ابن صوريا عمدوا الى مؤمنيهم عبد الله بن سلام واصحابه فاذوهم لاسلامهم فانزل الله تعالىٰ لن يضروكم الاية. یعنی حضرت امام مقاتل رحمه الله تعالی فرمائی چه د یهودیانو سردارانو خپل هغه خلق تنګول شروع کړل چا چه یهودیت پر یښودلے وو. او مسلمانان شوے وو. لکه حضرت عبد الله بن سلام او د هغۀ ملګری رضی الله تعالیٰ عنهم. په دے باندے دا آیت نازل شو - چه دا خلق به تاسو ته زبانی تکلیف خورسوی خو ددے نه اخوا نور نقصان تاسو ته نۀ شی رسولے. (قرطبی)

اذی. لږ ډیر تنګولو ته وائی. صاحب د روح المعانی لیکی. الضرر اليسير یعنی لږ غوندے تکلیف. قرطبی کښې دی باللسان یعنی زبانی تکلیف در رسولے شی. او نورو مفسرینو لیکلے دی بقول من طعن فی الدين او تهديد او نحو ذلک (کشاف) یعنی په دین باندے اعتراض کولو سره یا دهمکئی درکولو سره به تاسو ته تکلیف درکولے شی.

تفسیری اقوال:

❶ علامه ابن کثیر رحمه الله تعالی لیکی۔ وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ۔ یعنی که چرې دوی تاسو سره جنګ کوی نو شکست به خوری او تښتی به وهکذاوقع فانهم یوم خیبر اذلهم الله وارغم انوفهم وکذلک من قبلهم من یهود المدینة بنی قینقاع وبنی النضیر کلهم اذلهم الله ،وکذلک النصاری بالشام کسرهم الصحابة فی غیر ماموطن، وسلبوهم ملک الشام أبد الابدین و دهرا الداهرین، ولا تزال عصابة الاسلام قائمة بالشام حتی ینزل عیسٰی ابن مریم وهم کذلک ویحکم بملّة الاسلام وشرع محمد علیه افضل الصلوٰة والسلام فیکسر الصلیب ویقتل الخنزیر ویضع الجزیة ولا یقبل الاالاسلام.

یعنی هم دا سې ووشوه۔ د خیبر په ورځ الله تعالیٰ هغوی ذلیله او رسوا کړل او د دوی پوزې ئې په خاؤرو ککړې کړې۔او د دېنه مخکښې ئې په مدینه منوره کښې بنوقینقاع او بنونضیرغونډ رسوا کړل۔ او دغه حال په شام کښې د نصاراؤ هم شو چه صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دوی ټکړې ټکړې کړل۔او د دوی نه ئې همیشه دپاره ملکِ شام واغشتۀ۔اوس به همیشه دپاره په ملکِ شام کښې د اسلام قوت موجود وی۔تر دې چه حضرت عیسیٰ علیه السلام به راکوزشی او هغوی به اسلام او محمدی شریعت جاری کړی۔ او صلیب به مات کړی۔ خنزیران به قتل کړی۔او جزیه به ختمه کړی او د اسلام نه سوا به بل څۀ نۀ شی قبلولې۔(تفسیر ابن کثیر)

(۲) یعنی که چرې ډیر اهل کتاب نافرمانه دی نو وی دې۔تاسوله د دوی د ډیروالی نه یا د مادی سازوسامان نه ویره نۀ ده پکار۔ اې بهترین امته ! د خدائې تعالیٰ وعده ده چه دا شیطانی لښکر به ستاسو هیڅ نقصان وونۀ کړې شی۔خو په دې شرط چه تاسو خپل ځان بهترین امت ثابت کړئ۔دوی خو صرف دومره کولې شی چه زبانی کنځلې به در ته ووکړی۔او د یې سړیتو بو په شان رد بد به در پسې ووائی۔یا څۀ لږ ډیر عارضی تکلیف به در وورسوی۔پاتې شوه دا خبره چه دوی به په تاسو غالب او مسلط شی یا به در ته څۀ غټ قومی نقصان در وورسوی۔داسې چرې هم نۀ شی کیدې۔که چرې ستاسود مقابلې دپاره جنګ ته راووتل نو تښتی به۔او د چرته نه به هم دوی ته مدد راوونۀ رسی چه د دوی شکست بند کړی۔دا پیشن ګوئی ټکې


په تکے پوره شوه۔ د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم په زمانه کښې خود اهل کتابو هم دغه حشر ووشو۔ د اسلام او د مسلمانانو د تباهئ دپاره هغوی ښۀ پوره زور لګولے وو۔ خو یو ویختۀ ئے هم د چا ازار نۀ کړے شو۔ چه چرته کښې به هم مقابله ووشوه نو د حمر مستنفرة (د اوترو خرو) په شان به ووتښتیدل۔ په هره موقعه باندے د خدائے پاک نصرت او مدد د خیر الامم سره ملګرے شو۔ او دښمن په وار خطائ سره داسے مغلوبه او دباؤ شوے ووتښتیدلو چه د تپوس ئے هم څوک نۀ وو۔ څوک تړے نه قید شو او چا د مسلمانانو ما تحتی اختیارکړه او څوک جهنم ته وورسیدل "فلله الحمدو المنة" (تفسیر عثمانی)

فائده

دا آیت مبارک نن هم په لوئے شان سره موجود دے۔ یهود او نصارٰی مسلمانانو ته د ژبے تکلیف رسوی خو هغوی د مسلمانانو د جهاد نه سخت په ویره کښې دی –په دے وجه هغوی د مجاهدینو د بندولو دپاره د مسلمانانو حکمرانانو نه کار اخلی۔نن هم که چرے مسلمان امت مجموعی طور د خیر امت کیدو ثبوت ور کړی او غونډے د نیا ته د اسلام او د خیر د رسولو او د اسلام د نافذ کولو خپله ذمه داری ووپیژنی او غونډے دنیا ته د لا اله الا الله هغه دعوت ورکړی چه په هغے پسے شاته د جهاد قوت وی نو د دے آیت منظر به نن هم په غریدلو سترګو اووینو۔ مونږ د خپل ځان د خیر امت جوړیدو شرط نۀ پوره کوؤ او بیا په قرآن باندے اعتراض کوؤ چه کافر ولے د میدان نه ورو نۀ تښتیدلو نو دا د ګمراهئ خبره ده۔ (واللّٰہ تعالیٰ اعلم بالصواب)

دعاء

یا الله مونږ ټولو ته د خیر امت د شرطونو پوره کولو توفیق او همت راکړے۔ (آمین یا اکرم الاکرمین)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۱۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَ مَا ثُقِفُوْٓا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ

ووتپلے شو په دوی پورے ذلت چه کوم ځائے هم دوی موندے کیږي بغیرد الله د

حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ

رسئ نه او دخلقو د رسئ نه – او دوی اخته شو په غضب د الله باندے –او ووتپلے

الْمَسْكَنَةُ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ

شوه په دوی پورے محتاجي – دا ځکه چه دوی به کفر کولو د الله په آیتونو او دوی

الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

به وژل پیغمبران په نا حقه – دا ځکه چه دوی نافرمانی ووکړه او دحد نه به تیریدل۔

نچوړ

یهودیانو پیغمبران شهیدان کړے دی۔ دے خلقو د اللّٰه تعالیٰ نافرمانۍ ته کار ویلے دے۔دا خلق د دیني ، اخلاقي او انساني حدودو نه اوړي۔ او د تولونه لویه خبره داده چه دا خلق د الله تعالیٰ دکتاب پاخهٔ منکر دی۔د دوی هم ددے جرمونو په وجه باندے اللّٰه تعالیٰ په دوی باندے ذلت ، محتاجي او کم همتي راغورزولے ده۔ دوی د ذلت نه صرف هغه وخت بچ کیدے شي چه دوی د اللّٰه تعالیٰ په پناهۍ کښې راشي۔یا بل یو طاقتور قوم سره معاهده ووکړي۔ داخلق د اللّٰه تعالیٰ د غضب حقدار دی۔

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ دوی پورے ذلت ورتپلے شوے دے۔

❶ بے قدري یعني د سر امن نهٔ ملاویدل (بیان القرآن)

❷ هدر النفس والمال والاهل یعني: یعني د دوی د سر ومال او د بال بچ د وینے څهٔ قدر وقیمت نشته دے۔(هر هرځائے وهلے شي او لوټلے شي) (روح المعاني)

❸ ذلة التمسک بالباطل واعطاء الجزیة: باطل پورے دکلک اینختواو د جزیے د ورکولو ذلت (روح المعاني)

❹ ذلت یعنی د دوی د سراو د مال او د دوی د عزتونو او دهرڅهٔ ناقدري او سپکاوے د الله دمخلوق په زړهٔ کښې پیدا شوے دے۔ او تاریخ ګواه دے چه د یهودو دا خراب حال او شکست صرف د آیت د نزول د زمانے پورے نهٔ وو- بلکه دهغے نه وروستو هم د سوؤنو کالو پورے دوی په دے خراب حال باقي وو این ماثقفوا د عیسوی سن د شلمے صدئ تقریبا په وړومبی دیرشو کلونو کښې چه په جرمنی کښې- هنګری کښې- اټلی کښې- چیکوسلواکیا او په نورو ملکونو کښې یهودیان دمالدارئ باوجود چه څومره په بده ورځ وو- هغه په خپله د دے آیت تفسیر دے۔

(تفسیر ماجدی)

❺ ان المراد ان یحاربوا ویقتلوا وتغنم اموالهم وتسبیٰ ذراریهم وتملک اراضیهم یعنی دذلت نه مراد دادے چه په دوی باندے به حملے کیږی او قتلیږی به او ددوی مالونه به غنیمت ګرزی او د دوی بچی به قیدیان کیږی اود دوی نه به د دوی زمکے اخیستلے کیږی۔ (تفسیر کبیر)

الْمَسْكَنَةُ: دوی خوارکړے شوے دی۔ دمسکنت په تفسیر کښې دمفسرینو حضراتو یو څو اقوال دی۔ مختصر طور باندے درے قولونو باندے نظروا چوئ۔

❶ دے نه مراد جزیه ده۔

❷ یهودیان چه هر څومره مالدارشی د دوی زړهٔ او نفس به خواه مخواه محتاج وی۔ او دوی به خپله محتاجی اوغریبی خلقوته ښکاره کوی (د بخیلئ اودحرص دوجهے نه)

❸ په دے کښې د جهاد خبرورکړے شویدے چه د یهودیانو مالونه الله تعالیٰ د مسلمانانو رزق ګرزولے دے۔نو یهودیان به خوار پاتے شی۔ (التفسیر الکبیر)

نکته

د ذلت تعلق د ښکاره حال سره دے چه د نورو په نظر کښې به بے قدره اورسوا وی۔او د خوارے اروا تعلق د دننه سره دے۔ چه په زړهٔ به کم همته اولالچیان وی۔ (و الله تعالیٰ اعلم بالصواب)

حَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ خو چه د الله تعالیٰ په پناه کښې راشی یا د خلقو په پناه

کښې راشي. په دې باندې مفسرينو ډېره خبره کړې ده. دلته کښې صرف د درې محققينو مفسرينو په حوالو باندې نظر واچوئ.

❶ د خدائې پاک د رسۍ نه مراد د خدائې پاک د طرف نه امن دے چه د اسلام د جهنډے لاندے راتلونکو ته ملاوېږي او د خلقو د رسۍ نه مراد هغه معاهدے دي چه خلق ئې د خپلو ماتحتو سره کوي. (تفسير حقاني)

❷ حَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ نه مراد د دوي داسے کسان کيدے شي چه هغوي الهي شريعت د قتل، هلاکت، تعزير او انتقام نه بچ کړے دي. مثلاً د دوي ماشومان، ښځے، په کوټ کښې ناست زاهدان او د رويشان وغيره. او د حَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ نه مراد د دوي هغه ډلے کيدے شي چه د معاهدو په ذريعه امن حاصلوي. (تفسير ماجدي)

❸ يعني په يهوديانو باندے هميشه د رسوايئ مهر لګولے شوے دے. دا بد بخته چه کوم ځائے وي د ذلت نښے د دوي نه نۀ ورانيږي. لوئے لوئے کروړپتيان يهوديان په آزادئ او خپل اختيار سره د خپل سر او مال حفاظت نۀ شي کولے. ولے چه د دوي آزاد حکومت چرته کښې هم نيشته دے. ' دالله تعالیٰ د دستاويز نه سوا ' يعني د تورات ځۀ اخوا ديخوا پاتے رسمونو باندے عمل کوي. د هغے په برکت سره بچ دي. "او د خلقو د دستاويز نه سوا " يعني چه د چا رعيت شي او د هغوي په پناه کښې راشي (کذافي الموضح)

د بعضے مفسرينو دا خيال دے چه د. حَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ حَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ نه مراد د الله تعالی ذمه او د مسلمانانو عهد دے. يعني سوا د دے نه چه د مسلمانانو سره عهد ووکړي او د الله تعالی په ذمه کښې راشي – بعضے وائي چه د " حَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ " نه مراد اسلام دے. يعني چه اسلام راوړي نو د دے ذلت نه به خلاص شي – يا چه معاهد جوړ شي ځکه چه معاهدے سره هم د سر او مال امن ملاوېږي. (والله اعلم) (تفسير عثماني)

د اشكال جواب

اشکال

په ذلت کښې د اخته کيدو نه معلوميږي چه ديهوديانو به خپل آزاد، خودمختار او پر امن رياست نۀ جوړيږي خو اوس خو اسرائيل جوړ شوے دے او ښۀ طاقتور ملک دے.

جواب

❶ حضرت مولانا مفتی ولی حسن صاحب رحمه الله فرمائیلے دی چه ووسنئ زمانه د قیامت سره نزدے ده۔او حضور پاک ﷺ د یهودیانو سره د مسلمانانو د فیصله کن جنگ خبر ورکړے دے۔ د د غه جنگ دپاره الله تعالیٰ د یهودیانو یو ځائے ته د راجمع کیدو انتظام کړیدے او د فیصله کن جنگ ځائے هم دغه دے کوم چه نن اسرائیل جوړ شوے دے۔

❷ داځۀ خوږ مختاره حکومت نۀ دے- بلکه حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ یعنی دنورو خلقو په پناه او حفاظت کښ جوړه شوے عارضی کالونی ده۔نن که عیسا ئی ملکونو د دوی نه خپل لاس پورته کړو۔ نو اسرائیل به په یو څو ورځو کښ په لړزیدو شی۔

❸ د جهاد په برکت سره تر او سه پورے اسرائیل د امن په حالت کښ نۀ دی۔د حماس ویره او ذلت هر ساعت د هر اسرائیلی په سر باندے سور وی۔ (والله علم بالصواب) بهر حال هر څۀ چه وی خود قرآن پاک منلو والامسلمانانو د پاره د اسرائیلو وجود د پیغور خبره ده۔ الله تعالیٰ دے مونږ ه تولو مسلمانانو ته د دے پیغور نه خلاصے را نصیب کړی آمین یا رب العالمین۔

نکته

مخکښے فرمائیلے شوے وو چه تاسو بهترین امت یئ۔ تولو خلقو ته د ایمان خیر رسول اوتول انسانان د کفر نه بچ کول ستاسو کار دے۔ په بل آیت کښ ووښودلے شو چه ستاسو د دعوت په لار کښ به لوئے بند د اهلِ کتابو کافران اچوی۔ خو چه کله د دوی خلاف جهاد کیږی نو دوی به شکست خوری او تښتی به۔ اوس سوال دادے چه د دوی طاقت خو ډیر زیات دے۔ نو دوی به شکست څنګه خوری نو په دے آیت کښ الله تعالیٰ ښودلے دی چه د دوی د خرابو حرکتونو په وجه الله تعالیٰ په دوی باندے ذلت مقرر کړے دے۔ نو په آیت كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ کښ د فتحے اسباب او په دے آیت کښ د شکست اسباب ذکر شو۔ د کامیابئ او د فتحے اسباب ایمان – جهاد–وغیره دی او د ذلت اسباب کفر –نا فرمانی –او د کتاب الله نه د مخ اړولو غوندے کارونه دی۔(والله اعلم بالصواب)

☆☆☆

سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آيت ۱۱۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ

اے د ایمان خاوندانو : تاسو مۀ جوړوئ څوک رازدار د خپلو نه علاوه. دوی کمے نۀ کوی ستاسو په

خَبَالًا ط وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ج قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ صلے

خرابولو کښ. دوی خوښوی چه تاسو په تکلیف کښ يئ. يقينا بغض راوتلے دے د دوی د خولے نه.

وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ط قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ

اوهغه څه چه د دوی په سينو کښ دننه دی هغه ډير لوے دی. يقينا مونږه بيان کړل تاسو ته خپل آيتونه

تَعْقِلُوْنَ ۱۱۸

که چرے تاسو عقل لرئ.

نچوړ

اے مومنانو ؛ د مسلمانانو نه علاوه څوک کافر يا منافق خپل نزدے رازدار دوست مۀ جوړ وئ. داخلق پوره کوشش کوی چه تاسو په نقصان او فساد کښ اخته کړی. تاسو سره چه د دوی کومه دښمنی ده. هغه څۀ نا څۀ د دوی په خبرو کښ هم ښکاری. خو اصلی او لويه د ښمنی دوی په خپلو زړونو کښ دننه ساتی. الله تعالیٰ تاسو د دوی د دښمنئ او د ارادو نه خبر کړئ. اوس د عقل او پوهے نه کار واخلئ. او د الله تعالیٰ په دے حکم باندے کلک عمل ووکړئ.

د برکت کلام

يعنی مسلمانانو له د کافرانو سره دوستی کول نۀ دی پکار ځکه چه هغوی په هره قسمه د ښمنان دی (موضح القرآن)

ارمانی کلام

امام قرطبی رحمه الله د خپلے زمانے حال په دے الفاظو سره ليکی. وقد انقلبت الأحوال فی هذه الزمان باتخاذ اهل الكتاب كتبةً وأمناء وتسودو بذلک عند الجهلة الاغبياء من الولاة والامراء يعنی څمونږ په دے زمانه کښ حالات بدل شوے دی. کم عقلو حکمرانانو خپل

ځان له اهلِ کتاب منشیان او ناظمان جوړ کړے دی۔ او لو یو عهدو ته ئے رسولے دی۔ (قرطبی) امام قرطبی رحمه الله زر کاله مخکښے د خپلے زمانے دا حالات لیکی " تاریخ ګواه دے چه کله هم مسلمانانو ددے نصیحت خلاف ورزی کړے ده نو وهل ئے خوړلے دی۔ د ښمن هم په دے طریقه باندے بَرے مومی۔ چه هغوی په مسلمانانو کښ څۀ خلقو ته مال یا عهده ورکړی او ځان سره ئے په خپله خبره کښ ملګرے کړی۔دا د مال لالچیان او د عهدو تګی خلق د ښمن ته د مسلمانانو انفرادی او اجتماعی پټ رازونه ښکاره کوی۔دښمنانو د مسلمانانو په ملکونو کښ په مسلمانانو کښ ځانله داسے جاسوسان جوړکړے دی۔ چه هره پټه خبره او پټه مشوره دښمنانو ته رسوی۔ چه د هغے په وجه د مسلمانانو حکومتونه ټکړے کیږی۔قیمتی افراد قتلیږی۔او دا خلق د اسلام کلمه هم وائی او مسلمانانو ته نقصان هم رسوی۔ (انوارالبیان)

دا خو د څو کالو وړاندے خبره ده۔ خو نن چه د الله تعالیٰ د دے حکم په باره کښ د مسلمانانو کومه رویه ده۔ د هغے بیانول ډیر زیات ګران دی۔ بس خو الله تعالیٰ دے رحم ووکړی۔ آمین

لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً اے مومنانو؛ کافران خپل راز دار مۀ جوړوئ۔

(۱) اصفیاء تطلعونهم علی سرّکم ! یعنی داسے خاص دوستان ئے مۀ جوړوئ چه خپل رازونه ورته ښکاره کړئ۔(جلالین)

(۲) بطانة الرجل خاصتهُ الّتی یستبطنون امره ! د سړی بطانه ددۀ هغه خاص خلق وی۔ چه ددۀ د راز د خبرو نه خبر وی۔ (قرطبی)

(۳) نهی الله عزوجل المومنین بهذه الایة ان یتخذوا من الکفار والیهود واهل الهواء دخلاء وولجاء یفاوضونهم فی الاراء ویسندون الیهم امورهم ۔ یعنی الله تعالیٰ ددے آیت په ذریعه ایمان والا ددے خبرے نه منعه کړل چه دوی کافران 'یهودیان او دنفس تابعدار خلق خپل خاص دوستان ووګرزوی او ځان ته ئے داسے نزدے کړی چه په خپلو مشورو کښ ئے شریک کړی او په خپلو معاملاتو کښ په دوی باندے باور ووکړی۔ (قرطبی)

شان نزول

د بعضے مفسرینو په نزد باندے دا آیت دیهودو په باره کښ نازل شوے دے دبعضو په نزد دمنافقینو په باره کښ او دبعضو په نزد دغونډو کفارو په باره کښ نازل شوے

دے۔ (تفسیر کبیر) بهرحال شان نزول خو خاص کیدے شی خو حکم ئے عام دے۔

تفسیر

صاحب دروح المعانی او نورو مفسرینیو حضراتو چه ددے آیت په باره کښں څۀ لیکلے دی دهغے په خلاصه باندے په دے عبارت کښں نظر واچوئ۔ "حق تعالیٰ دلته کښں صفاصفا خبر ورکړو چه مسلمانان دے دخپلے اسلامی رور ولئ نه بهر ځان له څوک رازدار نۀ جوړوی - ولے چه که یهودیان دی یا عیسایان دی یا منافقین یا مشرکین دی- په دوی کښں یوه ډله هم ستاسو رینښتونے خیرخواه نشته دے۔بلکه دا خلق همیشه په دے کوشش کښں وی چه تاسو نه پاګلان جوړکړی اونقصان درته در کړی۔ او په دینی او دنیاوی خرابو کښں تاسو اخته کړی۔ د دوی هم دغه خوښه ده چه تاسو په تکلیف کښں یئ۔ او په څۀ نا څۀ تدبیر سره تاسو ته دینی یا دنیوی نقصان در وورسی۔ چه کومه دښمنی او بغض د دوی په زړونو کښں دے هغه خوډیر زیات دے خو کله کله د دښمنئ اودغصے د جذباتو په وجه بے قابو شی او ښکاره باره داسے خبرے کوی چه هغے سره د دوی د زړه دښمنئ صفاپته لږی۔د دښمنئ او د حسد په وجه سوزی نوژبے ئے قابو کښں نۀ رازی - نو عقل مند سړے داسے کار نۀ کوی چه داسے پلیتوزړونو والا خپل رازدار جوړوی۔ الله تعالیٰ د خپلو د ښمنانو نښے پتے او د دوستانے جوړولو احکام ښکاره ښکاره بیان کړل - اوس که چا کښں عقل وی نو د دے نه به کار واخلی۔ (تفسیرعثمانی)

یوروایت

وقیل لعمر رضی الله تعالیٰ عنه ان ههنا رجلاً = الی آخره

حضرت عمر رضی الله عنه ته وویلے شو چه دلته د"حیره"په عیسایانو کښں یو ډیر ښۀ کاتب دے -نو آیا تاسو به هغه ځان سره کاتب وساتئ ؟ نو په دے باندے هغوی ووفرمائیل چه که ما داسے ووکړل نو زۀ به د مسلمانانود جماعت نه غیر کس لره خپل خاص راز دار جوړونکے شم۔ (دکوم نه چه الله تعالیٰ منعه کړے ده)۔(قرطبی- روح المعانی وغیره)

تنګ نظری

د اسلام د قانون منکروسره او باغیانو سره تعلقات د یو خاص حد نه د زیاتولو

اجازت د یو مسلمان اسلامی حکومت رعیت ته نشته دے –چه دے سره فرد او قوم دواړو ته د نقصان رسیدو اندیښنه او پرانستے خطرے دی۔

دے ښکاره د عقل سره برابر –د مناسب اوضروری انتظام نوم بعضے د عقل دښمنانو تنګ نظری ایښودلے دے۔ سبحان الله ! په وبائی امراضو کښ د پرهیز او احتیاط نوم خو په فخر سره "اصول حفظان صحت"ایښودلے کیږی۔ او چه کوم انتظام د کفر او د سرکشئ نه یعنی د دین دنیا د بربادئ نه د بچ کیدو دپاره ووکړے شی نو دهغے نوم تنګ نظری شی۔ د عقل سره د ډزو کولو هم څۀ حد پکار دے۔(تفسیر ماجدی)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۱۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

هٰٓاَنْتُمْ اُولَآءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ

واورئ ! تاسو دا خلق یئ چه محبت کوئ دوی سره او دوی محبت نهٔ کوی تاسو سره-اوتاسو ایمان لرئ په

كُلِّهٖ ۚ وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ

تولو کتابونو باندے - او چه دوی یو ځائے شی تاسو سره نو دوی وائی چه مونږ مسلمانان یو۔ او چه کله دوی

الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۭ قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ

ځان له شی نو چیچی تاسو ته ګوتے د غصے نه - ووایه ؛ مړهٔ شئ په خپله غصه کښ بے شکه الله تعالی

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾

ښهٔ عالم دے د زړونو په خبرو باندے۔

نچوړ

اے مسلمانانو تاسو دوی سره دوستی کوئ حالانکه دوی ستاسو بدخوا د ښمنان دی او ستاسو او د دوی د نظریاتو دا حال دے چه تاسو خو په تولو آسمانی کتابونو باندے ایمان راوړیئ -خو دوی ستاسو کتاب قرآن پاک نهٔ منی - بیا دوی سره یاری او دوستی څنګه کیږی ؟ باقی د دوی د ظاهرداریئ په وجه دهوکه کښ مهٔ غورزیږیئ۔ ستاسو مخکښ خو د یاریئ او د دوستیئ خبرے کوی خو ستاسو نه ځانله دوی ستاسو د بربادولو تدبیرونه کوی او ستاسو جماعت او ډلے ته چه ګوری نو د حسد او د غم نه ګوتے چیچی - دوی ته دا خبره واضحه کړیئ چه په خپل غم غصه او حسد کښ مړهٔ شئ -اوس تاسود اسلام ترقی نه شئ بندولے۔ الله تعالی د زړونو دحالاتو نه ښهٔ خبردے۔

تفسیری اقوال:

❶ تحبونهم:اے مسلمانانو ! تاسو دوی سره محبت لرئ۔ لقرابتهم منکم وصداقتهم د دوی د زړے رشتے او د مخکښنئ دوستیئ په وجه باندے۔او دوی لَا يُحِبُّوْنَكُمْ تاسو سره محبت نهٔ ساتی۔لمخا لفتهم لکم فی الدین ځکه چه تاسو سره ئے په دین کښ مخالفت دے- (جلالین)

یعنی د دوی نظریه غلطه اونیمگړې ده- بیا هم دوی هغه د دوستۍ او د ښمنۍ بنیاد جوړ کړې دې۔ بل خواه ستاسو نظریه حق او کامله ده خو بیا هم تاسو په دې باندې رشته داری وغیره غوره ګڼړۍ۔ داسې کول صحیح نهٔ دی۔

❷ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ای بکتابکم و کتا بهم وبما مضیٰ من الکتب قبل ذلک وهم یکفرون بکتا بکم فانتم احق بالبغضاء لهم منهم لکم: یعنی تاسو په ټولو آسمانی کتابونو باندې ایمان لرئ۔ په خپل کتاب هم او د دوی په کتاب هم - او چه کوم کتابونه مخکښې نازل شوې دی په هغې باندې هم۔ بل خوا هغوی ستاسو د کتاب او قرآن منکر دی۔ نو تاسو زیات حق دارئ چه د دوی سره بغض ووساتئ۔ په ځائې د دې چه دوی تاسو سره بغض ووساتی۔ (تفسیر ابن کثیر)

❸ قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ای مهما کنتم تحسدون علیه المومنین ویغیظکم ذلک منهم فاعلموا ان الله متم نعمته علی عباده المومنین ومکمل دینه ومعل کلمته ومظهر دینه فموتوا انتم بغیظکم: یعنی تاسو ورته ووفرمائیی چه اې کافرانو! منافقانو! د غم نه موساه بنده شه او مړهٔ شئ۔ تاسو چه مسلمانانو سره هر څومره حسد کوئ۔ څومره چه د هغوی خلاف غم او غصه ښکاره کوئ۔ خو الله پاک به خپل نعمت په خپلو مؤمنانو بندیګانو باندې پوره کوی۔ او خپل دین به مکمل کوی او خپله کلمه به پورته کوی۔ اوخپل دین به غالب کوی۔ او بس تاسو په خپل غم او غصه کښې مړهٔ شئ۔ (ابن کثیر)

❹ قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ تاسو ووفرمائیی ! چه تاسو په خپله غصه کښې مړهٔ شی ۔ أمراً لرسول الله بطیب النفس وقوة الرجا والا ستبشار بوعدالله ان یهلکوغیظاً باعزاز الدین واذ لالهم کانه قیل حدث نفسک بذلک: یعنی دا حکم حضور اقدس ﷺ ته دې۔ چه د هغوی زړهٔ خوشحاله شی او حوصله ئې پورته شی۔ او چه د الله تعالیٰ د وعدې زیرې ورته ملاؤ شی۔ چه دا د ښمنان به د اسلام د غلبې او د خپل ځان د ذلت په لیدو سره د غم او د غصې نه هلاک شی۔ داسې شوه لکه چه حضور اقدس ﷺ ته وویلې شو چه تاسو خپل ځان سره په زړهٔ کښې دا ووایئ چه اې کافرانو ! په خپل غم او غصه کښې مړهٔ شئ۔ (کشاف)

❺ قل موتوا بغیظکم هو دعاء علیهم ای قل یا محمد (صلی الله علیه وسلم) ادام الله غیظکم الی أن تموتوا یعنی دا د دوی دپاره خیرې دی چه اې محمده !(ﷺ) ووفرمایه چه الله تعالیٰ دې تاسو همیشه په دې غم کښې ووساتی۔ چه پکښې مړهٔ شئ۔ (قرطبی)

❻ یعنی دا ښکه بے موقعے خبره ده چه دوی سره خوتاسو په دوستئ کښې ګرم یئ او دوی تاسو سره دوستان نهٔ دی۔ بلکه داسے د شمن دے چه ستاسو جړے ووکاږی اودے ته ګوره چه ستاسو په ټولو آسمانی کتابونو باندے ایمان دے که هغه کتاب د هرقوم وی اود هرے زمانے وی۔ اوچه په کوم پیغمبر باندے هم نازل شوے وی۔ هغه پیغمبران چه الله تعالیٰ ئے نومونه ذکر کړے دی۔ هغه خو معلوم دی خو چه د کومو پیغمبرانو نومونه الله تعالیٰ نهٔ دی ذکر کړے د هغے پیغمبرانو په کتابونو باندے ستاسو اجمالا ایمان دے۔ خو د دے په مقابله کښې داخلق ستاسو کتاب او پیغمبر نهٔ منی۔ بلکه د دوی خو په خپل کتاب باندے هم صحیح ایمان نشته دے نو په دے لحاظ سره خو پکار داوه چه دوی تاسو سره څهٔ قدرے محبت ساتلے۔ او تاسو د دوی نه سخته کرکه کولے۔ خو دلته معامله الاؤړے روانه ده۔ (عثمانی)

❼ د ملاقات په وخت کښې په قومی جلسو کښې او عامو ملی محفلونو کښې دوی داسے تقریرونه او خبرے کوی چه ساده مزاجه مسلمانان دوی خپل خیر خواه ګڼړی خو یاد ساتئ چه دا ټول زبانی جمع خرچ دے۔ (تفسیر الفرقان)

فائده

په موجوده وخت کښې د کافرانو طاقت ته چه ووګوری نو بعضے خلقو ته د قرآن حکیم دا قسمه احکامات نا اشنا لګی داسے خلقو ته دا خبره یاد ساتل پکار دی چه کله دا احکامات نازلیدل نو هغه وخت مسلمانان ډیر لږ او ډیر کمزوری وو او تقریبا په ټوله دنیا کښې د کفر حکومت وو۔ خو د هغے زمانے مسلمانانو خپل لږ والے او د کافرانو طاقت خپل ځان د پاره عذر نهٔ دے جوړ کړے– بلکه په دغه احکاماتو ئے سمدستی عمل ووکړو چه د هغے په برکت سره اسلام مضبوط شو او په ټوله دنیا کښې خور شو او مونږ او تاسو ته هم الحمد الله راؤرسیدلو– په دے نکته کښې د عقل والاؤ د پاره ډیر لوئے سبق دے (و الله اعلم بالصواب)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا ط

که چیرې رسي په تاسو باندې ښه ورځ نو دوی وربانديې خفه شي. او که چيرې رسي په تاسو باندې تکليف نو دوی خوشحاله شي په هغې باندې.

وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ط إِنَّ اللّٰهَ

او که تاسو صبر ووکړئ او پرهيزګاري ووکړئ. نو نقصان به ونه کړي تاسو ته د دوی منصوبه هيڅ قسمه. بې شکه الله تعالی د هغې څه نه چه

بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿۱۲۰﴾

دوی ئې کوی خپله کرخه راګير کړې ده.

نچوړ

دا خلق تاسو سره دومره بغض او دشمنی ساتی چه کله هم تاسو ته څۀ خير در وورسي نو دوی د تکليف نه سوزی او که ستاسو څۀ نقصان ووشي نو په دوی اختر شي- نو د داسې شريرانو او بد خوا دښمنانو د شر نه د بچ کيدو دا طريقه نۀ ده چه تاسو د هغوی سره ياری او دوستی ووکړئ بلکه د دوی نه د بچ کيدو طريقه داده چه تاسو په خپل دين او نظرياتو باندې پاخۀ شئ او دالله تعالی د نا فرمانئ نه ځان بچ کړئ او د هغۀ مدد ځان سره ملګرې کړئ دوی چه هرڅو مره طاقتوروی خو د الله تعالی نه نۀ شي پټيدې -

تفسيری اقوال:

❶ ممکن وه چه د چا په زړۀ کښې دا خيال ووچه که مونږ دوی سره تعلقات وونۀ ساتو نو د دوی غصه او بغض به نور هم زيات شي او زمونږ خلاف به تدبيرونه جوړوی او زيات نه زيات نقصان به راوورسوی- ددې جواب ووشو چه تاسو صبر او استقلال سره په تقویٰ باندې اوپه ظاهري اوباطني پاکوالي باندې پوره پوره کلک پاتې شئ نو د دوی هيڅ داؤبه په تاسو نۀ چليږی -کومې کارروايئ چه دوی کوی - ټولې د الله تعالی په علم کښې دی او هغه هر وخت په دې قادر دې چه د دوی مزې ترمې ترمې کړی -تاسو خپله معامله د الله تعالیٰ سره صفا کړئ نو هغه به ستاسو دلارې نه تول ازغی ختم کړی. (تفسير عثمانی)

❷ تاسو دکافرانو سره دجنګ خپلے قصے یادے کړئ کوم ځائے چه تاسو د صبر او تقوی نه پوره پوره کار اخیستے دے لکه بدر- نو هلته دکافرانو سازشونو او تدبیرونو تاسو ته هیڅ نقصان نهٔ دے در کړے- او کوم ځائے چه په دے خبره کښ څهٔ قدرے کمے راغلے دے نو هلته نقصان شوے دے لکه احد کښ چه تاسو مغلوبه شوئ. بیا په حمرآء الاسد کښ چه تاسو استقلال او تقویٰ اختیار کړه نو سره د دے چه تاسو تازه تازه زخمی وئ خو بیا هم تاسو کامیاب شوئ. دے سره دپورته ذکر شوے مضمون پوره تائید ووشو. (بیان القرآن)

❸ اِنْ تَصْبِرُوْا که تاسو کلک پاتے شوئ علی عداوتهم دوی سره په دشمنئ باندے وتتقوا اوبچ شوئ ما نهیتم عنه من موالاتهم د دوی د دوستئ نه چه تاسو دهغے نه منعه کړے شوے یئ. نو بیا به د دوی سازشونه تاسو ته هیڅ نقصان درنهٔ کړی (کشاف)

❹ اِنْ تَصْبِرُوْا که چرے تاسو کلک شوئ علیٰ اذا هم د دوی دطرف نه په تکلیف رسیدو باندے او علیٰ طاعة الله ومضض الجهاد فی سبیله یاد الله تعالیٰ په اطاعت باندے او دهغهٔ په لاره کښ په جهاد باندے (نو بیا د دوی سازشونه تاسو ته نقصان نهٔ شی درکولے. (روح المعانی)

❺ اِنْ تَصْبِرُوْا علی اذاهم وَتَتَّقُوا اللّٰهَ فی موالاتهم وغیرها. که چرے تاسو صبر ووکړو د دوی نه په تکلیف رسیدو باندے او الله تعالیٰ نه دکافرانو سره د دوستئ په باره کښ وویریدئ نو بیابه دوی تاسو ته هیڅ نقصان درنهٔ کړے شی. (جلالین)

قرآنی نسخه

د ټولے دنیا دکافرانو نه د بچ کیدو قرآنی نسخه "استقلال اوتقویٰ" ده - یعنی په ایمان او جهاد باندے کلک پاتے کیدل او دکافرانو سره د دوستئ کولو نه پرهیز کول دی. کاش چه مسلمان امت په دے خبره پوهه شی او دخپلے ترقئ او حفاظت دپاره داشرمیدلے منصوبے پریږدی او په قرآنی نسخه باندے عمل ووکړی. یعنی چه دکومے نسخے په برکت اسلام مونږ ته رارسیدلے دے. (والله اعلم بالصواب)

دعاء

یا الله ! یا اهل التقوی ! یا اهل المغفرة! مونږ ته استقلال اوتقویٰ رانصیب کړے

آمین یا رب العالمین

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ؕ

اوهرکله چه ته په صبا کښې ووتلے دخپله کوره- چه په ځائے ځائے کول دے مومنان دجنګ په ځایونو کښې

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾

اوالله تعالی ښه اوریدونکے اوښه عالم دے

نچوړ

اوهغه وخت دیادولو دے چه کله حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم دجهاد دپاره دخپله کوره ووتلو اوهغوی خپل مجاهدین صحابه دجنګی ترتیب مطابق دجهاد په میدان کښې په مختلفو ځایونو باندے مقررکول اوالله تعالی هرڅۀ اوریدل اوپه هرڅۀ باندے پو هیدۀ۔

شان نزول

والجمهور علی انها غزوة احد د جمهورو رائے داده چه دا آیت د احد د غزا په باره کښې نازل شوے دے- (قرطبی ، روح المعانی)

تفسیری اقوال

من اهلک ته د صبا په وخت کښې دخپل کور دخلقونه ووتلے یعنی خرجت بالصباح من منزلک من عندعائشة رضیٰ الله تعالیٰ عنها۔ یعنی تۀ د صبا په وخت کښې دخپله کوره دعائشے بی بی رضی الله تعالیٰ عنها دخوا نه ووتلے- مِن بمعنی عند (روح المعانی)

مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ تا خپل ایمان والا مجاهدین دجنګ په ځایونو کښې په ځائے ځائے کول۔

❶ فمشیٰ علی رجلیه فجعل یصف اصحابه للقتال کانما یقوم بهم القدح ان رأ ی صدرا خارجا قال تاخر۔ یعنی حضور صلی اللہ علیہ وسلم پیدل لاړو اوخپل صحابه ئے دجنګ دپاره دغشی په شان نیغ صفونو کښې ودرول۔ اوکه دچا سینه به ئے دصف نه بهر راوتلے لیدله نو ویل به ئے روستو شه (کشاف)

❷ دصفونو ترتیب او د مورچو په مناسبو ځایونو باندے جوړول چه څنګه د سکندر او د دارا په وخت کښې اهمیت لرلو-نن د جنګونو په جدید فن کښې هم منلے

شی۔ د امت مسلمه کامل رهبر ﷺ یو مقدس نبی خووو خودے سره سره سپه سالار اعظم هم وو- او په دے حیثیت سره هم دهغوی نظیر نشته دے (تفسیر ماجدی)

نا اشنا استدلال

امام رازی رحمه الله لیکی۔

ویروی انه علیه السلام غدا من منزل عائشة رضی الله تعالیٰ عنها فمشی علی رجلیه الی احد وهذا قول مجاهد والواقدی فدل هذا النص ان عائشة رضی الله تعالیٰ عنها کانت اهلا للنبی صلی الله علیه وسلم وقال تعالیٰ الطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۔ (النور ۲۶) فدل هذا النص علیٰ انها مطهرة مبرأة من کل قبح الاتریٰ ان ولد نوح لما کان کافراً قال اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۔ (هود ۴۶)

یعنی روایت دے چه حضور ﷺ دصبا په وخت دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها دکورنه ووتلو اوپیدل ئے داحد طرف ته تشریف یوړو۔ دا دمجاهد رحمه الله او د واقدی رحمه الله قول دے۔ نو د دے نص نه ثابته شوه چه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها د حضوراقدس ﷺ اهلیه وه۔او د الله تعالیٰ فرمان دے چه ترجمه ئے داسے ده چه پاکے ښځے د پاکو سړو د پاره دی او پاک سړی د پاکو ښځو د پاره دی۔ نو د دے آیت نه معلومه شوه چه حضرت عائشه رضی الله عنها د هرے خرابئ او سپک کار نه پاکه او بری ده۔ ته نۀ ګورے چه د حضرت نوح علیه السلام ځوے چه کافر وو۔ نو الله تعالیٰ ووفرمائیل چه اے نوحه! دے ستا د اهل نه نۀ دے۔ (تفسیر کبیر)

سبق

د مسلمانانو دینی مشران او علماء چه د حضور اقدس ﷺ وارثان دی۔ دوی له پکار دی چه په جنګی امورو کښ مهارت حاصل کړی۔ چه دوی په هر میدان کښ د امت مسلمه قیادت ووکړے شی۔



ماخوذ از : سیرت المصطفیٰ صلی اللہ علیہ وسلم، حضرت مولانا محمد ادریس کاندھلوی رحمہ اللہ

غزوۂ اُحُد

د احد غزا

شوال ۳ هجری

احد دمدینے منورے دیو مشهور غرنوم دے چه د مدینے نه څهٔ کم و زیات دوه میله فاصله باندے پروت دے۔ احد ته احد ځکه وائی چه دنورو غرونو نه ځانله او بیل دے۔ (البدایه والنهایه ص ۹ ج ۴)

قال الله تعالیٰ واذ غدوت من اهلک تبوئ المؤمنین مقاعد للقتال (آل عمران : آیت۱۲۱)

چه کله د مکے قریش دخراب شکست خوړلو نه پس مکے ته واپس شو۔ نودامعلومه شوه چه د تجارت هغه قافله چه ابوسفیان په ساحلی لاره بچ کړے وه او راوستے ئے وه – هغه دخپلے اصل سرمائے او د نفعے د مال سره په دار الندوه کښے د امانت په طور محفوظه ده۔ د بدر د دے خراب او ذلت ورکونکی شکست په وجه هسے خو دهر سړی زړهٔ زخمی وو۔ خو چه دکومو خلقو پلار) ځوئے) ورور) او ورارهٔ او خپل خپلوان په بدر کښے وژلے شوے وو– په هغوی کښ به ساعت په ساعت جوش راتلو او دانتقام د جذبے نه دهر سړی سینه ډکه وه۔ آخرابوسفیان بن حرب) عبد الله بن ابی ربیعه) عکرمه بن ابی جهل) حارث بن هشام) حویطب بن عبدالعزی صفوان بن امیه او د قریشو نور سرداران په یو مجلس کښ راجمع شو –(جنگ بدر کښے دابوسفیان ځوئے حنظله او دحضرت عکرمه پلار او دحارث بن هشام ورور ابوجهل بن هشام او دصفوان بن امیه پلار امیه قتل شوے وو۔ مګر روستو بیا ابوسفیان او عبد الله بن ابی ربیعه او عکرمه بن ابی جهل او حارث بن هشام اوحویطب بن عبدالعزی صفوان بن امیه ټول مسلمانان شوے وو رضی الله عنهم زرقانی ص ۲۰ ج ۲)او مشوره ئے ووکړه چه د تجارت قافله دامانت په طور محفوظه ده۔ په دے کښے به اصل سرمایه په ټولو شریکانو کښے د حصوپه مقداریا په حساب سره تقسیم کړے شی۔ او د نفعے مال به ټول په ټول محمد ﷺ سره د جنګ په

تیاریٔ کښې خرچ کړې شي چه د مسلمانانو نه دخپلو پلارانو –ځامنو–او دخپلو خپلوانو او د عزتمندو خلقو چه په بدر کښې وژلے شوے دي بدله واخلو۔ په یو اواز سره تولو ښځۀ د زړۀ په مینه دا اواز قبول کړو۔ او د نفعے مال چه دهغے مقدار پنځوس زره دیناره وو–هغه تول د دے کار دپاره را جمع کړے شو۔ د دے په باره کښې الله جل شانه دا آیت نازل کړو۔

ان الذین کفرو ینفقون اموالهم لیصدوا عن سبیل الله. فسینفقو نها ثم تکون علیهم حسرة ثم یغلبون (الانفال ۳٦)

ترجمه :

په تحقیق سره کافران خپل مالونه خرچ کوی چه دالله دلارے نه بندول ووکړی ۔ نور به هم خرچ کوی اوبیابه داتول د دوی دپاره غم او افسوس وی بیابه آخر کښې دوی مغلوبه شي۔

د قریشو ځان سره دښځو بوتلل

غرض دا چه قریشو ښځۀ تیاری اوکړه اوښځے ئے هم ځان سره کړے چه دوی به په رجزیه اشعارو سره جنګ کونکو له ډاډ ورکوی او تختیدونکو ته به غیرت ورانده کوی او جنګ کونکی به د ښځو د عزت د خیال ساتلو دپاره په فراخه زړۀ او په پرا نستے سینے سره جنګیږی او د روستو کیدو نوم به نۀ اخلی او قبیلو ته ئے استاذی ورلیږلے وو–چه دے جنګ کښې شریک شي۔ او بهادری ښکاره کړی۔ دغه شان د درے زره سړو لښکر جمع شو چه په هغے کښې اووۀ سوه کسانو زغرے اغوستے وے او دوه سوه اسونه ،درے زره اوښان او پینځلس(۱۵) ښځے ورسره وے۔ دا د درے زرو لښکر ډیر په درز دروز سره دابو سفیان بن حرب په مشریٔ کښې په دریمه هجریٔ کښې د شوال په پینځم تاریخ د مکے نه روان شو (طبقات ابن سعد ص ۲۵ ج ۲ قسم اول زرقانی ص ۲۰ ج۲ تاریخ طبری ص ۹ ج۳)

دحضرت عباس رضی الله عنه پیغمبر علیه السلام ته د قریشو د ارادے اطلاع ورکول

حضرت عباس رضی الله عنه دا تول حالات وولیکل اونبی کریم ﷺ ته ئے د یو تیز استاذی په لاس ور وولیږل او قاصد ته ئے دا په کلکه ووئیل چه په درے ورځو کښې

دننه دننه هر څنګه چه وی پیغمبر علیه السلام ته دا خط وورسوه۔(زرقانی ج۲ ص۲۱)

د حضور اکرم ﷺ د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین

سره مشوره

دے خبر موندلو سره پیغمبر علیه السلام انس او مونس رضی الله عنهما د قریشو د خبر معلومولو دپاره روان کړل۔ هغوی واپس راغلل او دا خبرئ راوړو چه د قریشو لښکر مدینے ته بالکل نزدے رارسیدلے دے۔ د دے نه پس ئے خباب بن منذر رضی الله عنه د هغوی د اندازے لګولو دپاره وولیږلو چه معلومه کړی چه د فوج شمیر څومره دے۔ خباب رضی الله عنه راغے او د صحیح اندازے او د ټیک شمیر خبرئ ورکړو۔ توله شپه سعد بن معاذ -اسید بن حضیر اوسعد بن عبادہ رضی الله عنهم د جمات پیره ووکړه او ښار په طرفونو او اړخونو ئے هم پیرے کښینولے (طبقات ابن سعد ص۲۵ ج۲ قسم اول)

دا د جمعے شپه وه کله چه سحر شو نو رسول الله ﷺ خپل اصحاب رضی الله عنهم راؤبلل او مشوره ئے ووکړه- مشرانو مهاجرو او انصارو مشوره ورکړه چه مدینه کښې به پناه واخلو او مقابله به ووکړو۔ خو چه کوم زلمی د بدر په جنګ کښې نۀ وو شریک شوے او د شهادت په شوق کښې نا قلاره وو د هغوی دا رائے وه چه د مدینے نه بهر په هغوی باندے حمله ووکړے شی - رسول الله ﷺ ووفرمائیل چه ما خوب (داخوب هغوی د دغے جمعے په شپه لیدلے وو [کما فی طبقات ابن سعد ج۲ ص۲۶]) ولیدلو چه څه په یو مضبوطه زغره کښې یم او یوه غوا ده چه حلالیږی چه د هغے تعبیر دادے چه مدینه د مضبوطے زغرے په شان ده او د غوا په حلالیدلو کښې دے طرف ته اشاره ده چه ځما په ملګرو کښې به څۀ خلق شهیدان کیږی- د دے وجے نه ځما رائے دا ده چه په مدینه منوره کښې قلعه بند شو او مقابله ووکړو او خوب کښې مے دا هم ولیدل چه ما توره ووخوزوله نو د هغے مخکښینئ حصه ماته شوه او پریوته۔ بیا مې هغه توره دوباره ووخوزوله۔ نو د مخکښې نه زیاته ښۀ وه۔ چه د هغے تعبیر دا وو چه صحابه کرام په شان د تورے وو۔ چه د هغوی په د ښمنانو به ئے ګذارونه کول۔ صحابه کرام جهاد له بوتلل په شان د تورے د خوزولو وو۔ یو ځل ئے ووخوزوله یعنی په غزوهٔ احد کښې نو د هغے مخکښینئ حصه ماته شوه اوپریوته یعنی څۀ صحابه شهیدان شول- بیا ئے دغه توره په بله غزا کښې استعمال کړه۔نو هغه توره د مخکښې نه زیاته ښۀ او تیزه شوه- او په د ښمنانو باندے ښۀ ووچلیده -

د عبد الله بن ابی (رأس المنافقین یعنی د منافقانو سردار) نه هم د هغهٔ د هوښیارتیا او تجربې په وجه سره مشوره واغشتې شوه – هغهٔ ووئیل چه تجربه داده چه دشمن کله هم په مدینه حمله کړې ده او د مدینې خلقو په ښار دننه د هغوی مقابله کړې ده نو فتحه ئې موندلې ده۔ او چه کله بهر وتلې دی او حمله ئې کړې ده نو ناکامه شوې دی۔ یارسول الله ﷺ تاسو د مدینې نه بهر مهٔ ووځئ – په خدائې قسم چه کله هم مونږ د مدینې نه بهر وتلې یو نو د دښمنانو دلاسه راته تکلیف رسیدلې دې او چه کله هم مونږ په مدینه کښې پاتې شوې یو او دښمن راباندې راختلې دې نو دښمن ته زمونږ دلاسه تکلیف رسیدلې دې –نو تاسو د مدینې ناکه بندی ووکړئ – دښمن که بالفرض مدینې ته راننوځی نو سړی به د هغوی په تورې سره مقابله ووکړی او ماشومان او ښځې به په هغوی د چتونو نه کاڼی راووروی اوکه چرې بهر په بهر نه ناکامه شول نو فهو المراد (تاریخ طبری ج۳ ص۱۱)

خو بعضې مشرانو او زلمو په دې ډیر زور ورکړو چه د مدینې نه بهر وتل او حمله کول پکار دی او عرض ئې ووکړو چه یا رسول الله ﷺ مونږ د دې ورځې په آرزو او شوق کښې وو او د خدائې پاک نه مو دعاګانې غوښتلې –خدائې هغه ورځ راوسته او فاصله هم نزدې ده حضرت حمزه او سعد بن عباده او نعمان بن مالک رضی الله عنهم عرض ووکړو– چه یا رسول الله ﷺ که چرې مونږ په مدینه کښې پاتې شو او دوی نه ځان بچ کړو یعنی مدافعت ووکړو نو زمونږ دښمن به مونږ د الله په لاره کښې بزدله ووګڼړی او حضرت حمزه رضی الله عنه عرض ووکړو –

والذی انزل علیک الکتاب لا اطعم الیوم طعاما حتی اجالدهم بسیفی خارج المدینه.

(البدایه والنهایه ج۴ ص۱۲ زرقانی ج۲ ص۲۳)

ترجمه

ځما دې قسم وی په هغه پاک ذات چه په تاسو باندې ئې کتاب نازل کړې دې– زهٔ به ترهغې ډوډئ اونهٔ خورم چه ترکومې د مدینې نه بهر اونهٔ ځم او دکافرانو سره په خپله توره مقابله وونهٔ کړم ۔

نعمان بن مالک انصاری رضی الله عنه عرض اوکړو۔ : یا رسول الله لا تحر منا الجنة فوالذی بعثک بالحق لادخلن الجنة.

ترجمه

اے د اللہ رسولہ ﷺ مو نړ د جنت نه مۀ محرومه کوه۔ قسم دے په هغه پاک ذات چه هغۀ تاسو په حق سره رالیږلے ئے – زۀ به ضرور جنت ته دا خلیږم۔
هغوی اوفرمائیل ؛ په څۀ بنیاد باندے ؟ ۔نعمان عرض اوکړو۔
لانی اشهد ان لا اله الا الله وانک رسول الله ولا افر یوم الزحف.

ترجمه

په دے وجه چه زه ګواهی ورکوم چه د الله نه سوا بل معبود نشته او بے شکه تاسو د الله په حقه رسول ئے –او په دے چه زۀ د جنګ نه نۀ تختم –
اوپه یو روایت کښې دی–
لانی احب الله ورسوله. د دے وجے نه چه زۀ الله او د هغۀ رسول محبوب ګنړم–
هغوی اوفرمائیل صدقت؛ تا رښتیا اووے۔
رسول الله ﷺ چه کله اوکتل چه په جنت د ځان قربانونکو او دشهادت لیونیان یعنی ځلمی ځوانان خود مخکښې نه لګیادی په دے پسے چه د مدینے نه بهر ووځی اوحمله او کړی۔ خو په مهاجرینو اوانصارو کښې هم بعضے مشران لکه حضرت حمزه رضی الله عنه او سعد بن عباده رضی الله عنه د شهادت په شوق کښې ناقلاره دی۔ اودهغوی هم دا رائے ده۔ نو حضور ﷺ هم دا پخه اراده اوفرمائیله – د جمعے ورځ وه۔ د جمعے د مانځۀ نه چه فارغ شو– نو وعظ ئے اوفرمایۀ اودجهاد او د قتال ترغیب ئے ورکړو- او د تیارئ حکم ئے ورکړو۔دے اوریدو سره په هغه کسانو کښې ساه راغله چه دکومو خلقو دخداوند ذوالجلال سره محبت وو۔او اخلاص مند عاشقان دخدائے پاک په مخکښې زاری کونکے او دهغۀ دملاقات شوقیان وو۔اوپو هه شو چه اوس د دنیا دجیل خانے اود دے پنجرے نه زمونږ دخلاصیدو وخت راغے۔

خرم آن روز کزیں منزل ویران بروم
راحت جان طلبم وزپے جانان بروم

دحضور ﷺ تیاری او وسله اچول

د مازیګر د مانځه نه چه فارغ شو نو هغوی خپلے حجرے شریفے ته تشریف یوړو۔اوصاحبین(یعنی دهغوی هغه دوه ملګری چه دنیاکښې هم دوی سره وو اوعالم

برزخ کښې هم دوی سره دی او میدان حشر) حوض کوثر او جنت کښې به هم دوی سره وی) یعنې ابوبکر او عمر رضی الله تعالیٰ عنهما- هغوی هم دوی سره حجرے ته لاړل.

اوس لا هغوی د حجرے مبارکے نه تشریف نهٔ وو راوړے چه سعد بن معاذ او اسید بن حضیر رضی الله عنهما خلقو ته او وے چه تاسو رسول الله ﷺ د ښار نه بهر په حمله کولو مجبوره کړو- حال دا دے چه هغوی باندے د الله تعالیٰ وحی راځی- مناسب داده چه هغوی خپلے رائے او منشاء باندے پریښودلے شی- په دے کښې هغوی راؤوتل چه دوه زغرے ئے یو بل د پاسه اغوستے وے- او وسله تړلے بهر راؤوتو- اصحابو رضی الله عنهم عرض ووکړو چه یا رسول الله مونږ غلطۍ سره د مرضۍ مبارکے خلاف زور وولګاؤ چه زمونږ دپاره هیڅ قسمه مناسب نهٔ وه- تاسو صرف په خپله رائے باندے عمل ووفرمایئ- هغوی ووفرمائیل چه د یو پیغمبر دپاره دا جائز نهٔ دی چه هغه دے وسله واچوی او هغه دے د الله تعالیٰ د دښمنانو سره جنګ وونهٔ کړی او وسله دے کوزه کړی- (دے نه دا معلومه شوه چه دا حکم د هغوی سره خاص نهٔ وو بلکه هر پیغمبر دپاره هم دا حکم وو- او د دے نه دا هم معلومه شوه چه یو نفل یا مستحب کار شروع کولو نه پس د هغے اهتمام کول او هغه پوره کول واجبیږی-) اوس د الله تعالیٰ په نوم باندے روان شئ- او چه څهٔ حکم درکوم هغه کوئ- او ځان پوه کړئ چه ترڅو تاسو صبر کونکے یئ- او ښے مو کلکے وی نو د الله تعالیٰ فتحه او نصرت به تاسو سره وی.

د حضور اقدس ﷺ روانیدل او د فوځیانو معائنه

د شوال په یوولسم باندے د مازیګر د مانځهٔ نه پس حضور اقدس ﷺ د یو زر ډلے سره د مدینے نه روان شو- هغوی په اس سوارهٔ وو- او سعد بن معاذ او سعد بن عباده رضی الله عنهما زغرے اغوستے وے او د هغوی نه مخکښې مخکښې روان وو- او ټول مسلمانان د هغوی نه ښی او ګس طرفته روان وو- دا ټول تفصیل طبقات ابن سعد او زرقانی کښې ذکر دے- د مدینے نه چه بهر اووتل او مقام شیخین ته وو رسیدل نو د فوج جائزه ئے واخیستله او په هغوی کښې چه کوم کشران وو- هغوی ئے واپس کړل- (شیخین د دواؤ غونډونوم دے چه د مدینے او د احد په مینځ کښې دی هلته یو ړوند یهودی بوډا او یوه ړنده یهودنړه بوډئ ووسیدل -دے وجے نه دا غونډئ د شیخین په نوم سره مشهورے شوے دی- ۱۲ طبری ج ۳) په دغه کسانو کښې د

بعضو نو مونه دادی۔

❶ اسامه بن زید رضی اللہ عنہ ❷ زیدبن ثابت رضی اللہ عنہ

❸ ابوسعیدخدری رضی اللہ عنہ ❹ عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ

❺ اسیدبن ظهیر رضی اللہ عنہ ❻ عرابه بن اوس رضی اللہ عنہ

❼ براء بن عازب رضی اللہ عنہ ❽ زیدبن ارقم رضی اللہ عنہ

امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دهغوی په خدمت کښې اوولس(۱۷)صحابه پیش کړے شو۔ چه دهغوی عمرونه څوارلس کاله وو۔ نبی کریم ﷺ هغوی نابالغه اوګنړل اوواپس ئے کړل هرکله چه یو کال پس دپنځلس کالو په عمرکښې پیش کړے شول –نو هغوی اجازت ورکړو۔ (زرقا نی ص۲۵ ج۲) په دے کشرانو کښې رافع بن خدیج رضی اللّٰدعنه هم وو۔ هغوی دا هوښیار تیا اوکړه چه د خپو په سر وودریدل چه لوړښکاره شی حضور ﷺ هغوی له اجازت ورکړو –او د دۀ په باره کښې ئے وو فرمائیل ؛ دے ښۀ غشی ویشتونکے دے –

عمر بن عبد العزیز رحمه الله یوځل د امام نافع نه معلو مه کړه چه عبد الله بن عمر رضی الله عنهما کومو کومو غزاګانو کښې د رسول الله ﷺ سره شریک شوے وو۔ امام نافع رحمه الله اووے چه ماته پخپله ابن عمر رضی الله عنهما بیان ووکړو چه کله د بدر غزا وه۔نو دغه وخت زۀ د دیار لسو کالو ووم او کله چه د احد غزا وه نو دغه وخت زۀ د څوار لسوکالو ووم۔ د بدر په غزا کښې خو ما د تلو اراده د سره نۀ وه کړے– لیکن داحد په غزا کښې دشریکیدو دپاره م بارګاه نبوی کښې درخواست اوکړو ؛ لیکن هغوی دکم عمرئ په وجه قبول نۀ کړم– اودغه شان زیدبن ثابت او اوس بن عرابه ئے هم د کم عمرئ په وجه واپس کړل۔ مګر رافع بن خدیج ته ئے د لوړ قد په وجه اجازت ورکړو۔ چه کله دخندق غزا پیښه شوه نو دغه وخت زۀ د پنځلسو کالوووم– دغه وخت هغوی ماله اجازت راکړو۔اوهغوی سره په غزا کښې شریک شوم۔ عمر بن عبد العزیز رحمه الله چه دا حدیث واوریدۀ نو سمدستی ئے کاتب ته حکم ووکړو۔ چه ډیر زر دا حدیث وولیکه۔ څکه چه خلق د خپلو ځامنو او رونړو دپاره د بیت المال نه د وظیفے درخواست کوی–تحقیق دے ووکړے شی چه په رښتیا د پنځلسو کالو وی نود مجاهدینو او مقاتلینو په فهرست کښې دهغۀ نوم درج کړئ– او د بیت المال نه دهغۀ وظیفه مقررکړئ۔ اوکوم چه د پنځلسو کالو نه کم وی۔ دهغۀ نوم دے دما شومانو په

فهرست کښې اولیکلے شی۔ (عیون الاثر ص۳۳۳)

سمره بن جندب رضی الله عنه چه د رافع بن خدیج رضی الله عنه همزولے وو هغهٔ ډیر د افسوس نه په ډکو الفاظو کښې خپل علاتی پلار مری بن سنان ته وو یے – اے بابا ؛ رافع ته خو اجازت ملاؤ شو او ځهٔ داسے پاتے شوم حالانکه ځهٔ د هغهٔ نه تکړه یم او هغه راپرزولے شم – مری بن سنان عرض ووکړو– یا رسول اللهﷺ تاسو رافع له اجازت ورکړو او ځما ځوئے مو واپس کړو حالانکه ځما ځوے رافع راپرزولے شی– پیغمبر علیه السلام رافع او سمره رضی الله عنهما په کېډئ ورو ستل نو سمره رافع راؤپرزولو نو پیغمبر علیه السلام سمره له هم اجازت ورکړو (طبری ص۱۲ ج ۳) ماشومان) بوډاګان) ځوانان) نیم زالی یعنی هر عمر والا ته د یو قسم شرابو نشه لګیدلے وه۔ د شهید کیدو نه مخکښې د تسلیم یعنی د اطاعت په خنجر سره شهیدان شوے وو

داسلام د لښکر نه د منافقانو جدا کیدل او واپس کیدل

کله چه رسول اللهﷺ احد ته نزدے شو نو د منافقانو سردار عبد الله بن ابی چه ځان سره ئے د درے سوؤ کسانو ډله راؤستے وه دائے اووے او واپس شو چه رسول اللهﷺ ځما رائے وونهٔ منله مونږ هسے بیسه ولے خپل ځانونه په هلاکت کښې وغورزاؤ۔دا جنګ نهٔ دے۔که مونږ دا جنګ ګڼړلے۔ نو مونږ به دوی سره تلے وو۔ د دے خلقو په باره کښې دا آیت نازل شو–

ولیعلم الذین نافقوا وقیل لهم تعالوا قاتلوا فی سبیل الله اوادفعوا قالوا لو نعلم قتالا لا تبعنکم

هم للکفر یومئذ اقرب منهم للایمان یقولون بافواههم مالیس فی قلوبهم والله اعلم بما یکتمون. (آل عمران، آیت :۱۶۷)

اوس نبی کریمﷺ سره صرف اووهٔ سوه صحابه په میدان کښې پاتے شو۔ چه په هغے کښې صرف سلو کسانو زغرے اغوستے وے۔اوټول لښکر کښې صرف دوه اسونه وو۔یو د حضور پاکﷺ او یو د ابو برده بن نیار حارثی رضی الله عنه(طبری ج۳ص۱۲) د قبیله خزرج نه بنوسلمه او د قبیله اوس نه بنوحارثه هم د ابن ابی په شان ځهٔ د واپسئ اراده کړے وه– او دا دواړه قبیلے د لښکر دواړو طرفو ته وے۔ د الله توفیق هغوی سره مل شو۔ الله پاک هغوی بچ کړل۔ او واپس نهٔ شول– د هغوی

په باره کښې دا آیت نازل شو۔ اذهمت طائفتان منكم ان تفشلا و الله وليهما و على الله فليتوكل المو منون. (آل عمران ،آیت :۱۲۲)

یاد کړه هغه وخت چه همت بائیلو په تا سو کښې دواړ ډلو۔ او الله تعالی د هغوی مدد گار وو۔ د دے وجهے نه هغوی د واپس کیدو نه بچ پاتے شو، او ټولو مسلمانانو له په الله تعالیٰ باندے بهروسه کول پکار دی۔ (آل عمران آیت ۱۲۲)

اوس رسول الله ﷺ لا په مقام شیخین کښې وو۔ چه نمر پریوتو۔ حضرت بلال رضی الله عنه اذان ووکړو۔ حضور پاک ﷺ د ماښام د مانځه جمع ورکړه۔ او دلته ئے د شپے قیام اوفر مائیلو۔ او محمد بن مسلمه رضی الله عنه غونډه شپه څوکۍ ووکړه– او وخت په وخت ئے په لښکریو چکر لګولو۔ او چه وا پس به راغے نو دهغوی د خیمے مبارکے پهره به ئے کوله۔

د شپے په آخری حصه کښې هغوی سفر وو فرمائیلو– چه کله احد ته نز دے وو رسیدۀ۔ نو دسحر د مانځه وخت راغے –بلال رضی الله عنه ته ئے د اذان حکم ووکړو۔ بلال رضی الله عنه اذان او اقا مت وکړو۔ اوحضور پاک ﷺ غونډو اصحابو ته مونځ ورکړو۔

د فوج ترتیب

د مانځۀ نه چه فارغ شو۔ نو لښکر طرفته ئے توجه ووفر مائیله – صفونه ئے دا سے ترتیب سره جوړ کړل چه مدینه منوره ئے مخے ته او احد ئے شاته راغے۔ او چه کوم صفونه څۀ وخت مخکښې د خدا وند ذوالجلال د لویۍ او د جلا ل د پاره لاس په نامه ولاړ وو۔ اوس هغه دهغے لوئے او وو چت ذات په لار کښې د بهادرۍ او د سر ور کولو د پاره او د هغۀ په لار کښې د جهاد او د قتال د پاره و لاړ وو۔ (ابن سعد ج ۲ ص ۲۷)

صحیح بخاری کښې د براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت کړے شوے دے چه رسول الله ﷺ د پنځوس غشی ویشتونکو کسانو یوه ډله د احد د غرشاته کښېنولے وه–چه قریش د شانه حمله او نکړی اوعبد الله بن جبیر رضی الله عنه ئے دهغوی امیر مقرر فرمائیلے وو– او دا حکم ئے ووکړو چه که مونږ تاسو ته په مشرکانو غالب ښکاره شو نو بیا هم دځپل ځائے نه مۀ خوزئ او که مشرکان درته په مونږ باندے غالب ښکاره شول نو هم دځپل ځائے نه مۀ خوزئ۔ اونۀ به زمونږ مدد له راځئ۔

د زهیر په روایت کښې دادی چه که چرے تاسو ووليدل چه مارغان مونږه خوری

نو هم دخپل ځائے نه مهٔ خوزئ۔ مسند احمد او معجم طبرانی وغیره کښ د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول اللهﷺ دا ارشاد ووفرمائیهٔ چه تاسو به په دے ځائے ولاړ ئے او د شا د طرفه به زمونږ حفاظت کوئ۔ که تاسو ووینئ چه مونږ قتلیږو نو هم زمونږ امداد له مهٔ راځئ۔ او که تاسو مونږه ووليدو چه غنيمت کښ لګيا يونو په هغے کښ مهٔ شريک کيږئ۔ (فتح الباری ج۷ص۲۷۰)

د قریشو د لښکر حال

د قریشو لښکر د چار شنبے په ورځ مدینے ته را رسیدلے وو- او د احد په لمن کښ ئے پړاؤ اچولے وو۔ چه د هغوی شمیر درے زره وو۔ چه په هغوی کښ اووهٔ سوه کسانو زغرے اغوستے وے – دوه سوه اسونه او درے زره اوښان ورسره وو۔ او د قریشو د اشرافو پنځلس ښځے هم ورسره وے چه اشعار به ئے وئیل او سرو کښ به ئے جوش پیدا کولو۔ (زرقانی ج۲ص۲۶) د نفسانی شهوانی او شیطانی خلقو هم دا دنده وی (نعوذ بالله منه)

چه په هغے کښ د بعضو نومونه دادی

(۱) هنده بنت عتبه د ابو سفیان ښځه۔

(۲) ام حکیم بنت حارث بن هشام د ابو جهل د ځوی د عکرمه ښځه۔

(۳) فا طمه بنت ولید د حارث بن هشام ښځه۔

(۴) برزه بنت مسعود د صفوان بن امیه ښځه۔

(۵) ریطه بنت شیبه د عمرو بن العاص ښځه۔

(۶) سلافه بنت سعد د طلحه بن ابی طلحه جمحی ښځه۔

(۷) خناس بنت مالک د مصعب بن عمیر مور۔

(۸) عمره بنت علقمه۔

علامه زرقانی فرمائ۔ چه د خناس او د عمره نه علاوه دا غونډے ښځے روستو بیا مسلمانانے شوے وے رضی الله عنهن۔

قریشو د خپل لښکر په میمنه یعنی په ښی اړخ باندے خالد بن ولید۔ او میسره یعنی په ګس اړخ باندے عکرمه بن ابی جهل او پیادو باندے صفوان بن امیه۔ او وئیلے کیږی چه عمرو بن العاص۔ او په غشو ویشتنکو باندے عبد الله بن ابی ربیعه افسران مقرر کړل۔

خو روستو بیا د قریشو دا پنځه واړه امیران په اسلام سره عزتمند شو–یعنی

مسلمانان شو۔ رضی اللہ عنهم۔

دحضور ﷺ مجاهدینو ته یو خطاب

هر کله چه د دواړو ډلو صفونه په ترتیب باندے برابر شو۔ نو رسول اللہ ﷺ یوه توره لاس کښې واخیسته او دا ئے اوفرمائیل۔ (من یأخذ هذا السیف بحقه) څوک دے چه دا توره د خپل حق سره واخلی ؟ چه دا ئے واوریدل نو ډیر لاسونه د دے سعادت د حاصلولو دپاره رامخکښے شو۔ مگر نبی کریم ﷺ خپل لاس مبارک اودرولو -په دے کښې ابودجانه رضی اللہ عنه پاڅیدهٔ او عرض ئے اوکړو یارسول اللہ ﷺ د دے څهٔ حق دے ؟ هغوی ووفرمائیل چه د دے حق دادے چه دے سره د اللہ دشمان اووهلے شی تر دے چه دا راکږه شی۔

دا روایت په مسند احمد او صحیح مسلم کښې دحضرت انس رضی اللہ عنه نه اومعجم طبرانی کښې د قتاده بن نعمان نه اومسند بزار کښې دحضرت زبیر رضی اللہ عنه نه روایت دے۔

حافظ ابوالبشر دولابی داحدیث کتاب الکنیٰ کښې د حضرت زبیر رضی اللہ عنه نه روایت کړے دے۔ هغے کښې دادی چه هغوی اوفرمائیل- ددے تورے حق دادے چه په دے سره چرے هم یو مسلمان قتل نهٔ شی- اوچه دا واخلی نو کله هم د یو کافر د مقابلے نه اونهٔ تښتی۔

ابودجانه رضی اللہ عنه عرض ووکړو-یارسول اللہ ﷺ زهٔ دا توره د دے دحق سره اخلم۔ هغوی دا توره سمدستی ابودجانه رضی اللہ عنه ته ورکړه-غالبه داده چه هغوی ته دالهی وحی په ذریعه معلومه شوے وه چه ابو دجانه رضی اللہ عنه نه بغیر به بل څوک ددے تورے حق ادا نهٔ کړے شی -په دے وجه ئے صرف حضرت ابودجانه رضی اللہ عنه ته ورکړه۔ (و اللہ سبحانه وتعالیٰ اعلم)(الاصابه ج ۴ ص ۵۸۔ زرقانی ج۲ ص ۲۸)

فائده

ابودجانه رضی اللہ عنه لوے زړهٔ آور او بهادر وو۔ د جنگ په وخت کښې به په هغهٔ باندے دخپل یو خاص انداز وجد راغے او د نشے غوندے حالت به ئے وو۔ دجنگ په وخت کښې به ئے سور پټکے وهلے وو- اوپه مزه مزه به ورتلو غالبا په دے وجه حضور اقدس ﷺ داتوره دوی ته ورکړے وه څنګه چه به مخکښې د دوی دجنگ اود قتال نه معلومه شی۔

د جنګ شروع او د قریشو نه د جنګ د مقابلے دپاره دراوتونکو سړو وار په وار قتلیدل

د قریشو د طرفنه رومبے د جنګ میدان ته ابو عامر راؤوتلو چه د جاهلیت په زمانه کښې داوس قبیلے سردار وو- او د زهد او پرهیزګارۍ په وجه ورته راهب وئیلے کیدۀ- چه کله په مدینه منوره کښې د اسلام رنړا وویړقیده- نو دے په سترګو شمکور هغے ته نۀ شو کتلے او د مدینے نه مکے ته راغے- حضور ﷺ دۀ ته د راهب نوم په ځائے د فاسق نوم خوښ کړو- دا فاسق مکے مکرمے ته راغے او قریش ئے د حضور اقدس ﷺ د مقابلے دپاره تیار کړل او د احد په جنګ کښې په خپله هغوی سره راغے- او دوی له ئے دا باور ورکړے وو- چه د اوس قبیلے خلق چه ما ووینی نود محمد ﷺ ملګرتیا به پریږدی او ما سره به شی-

رومبے مقابل

په دے وجه په احد کښې میدان ته رومبے ابو عامر راووتلو- او آواز ئے ووکړو-

یا معشر الاوس انا ابو عامر- اے د اوس ډلے ؛ ځه ابو عامر یم-

الله تعالیٰ دے داوس سترګے یخے کړی- خو هغوی سمدستی جواب ورکړو-

لا انعم الله بک عینا یا فاسق ! اے د خدائے فاسقه نافرمانه ! خدائے دے چرے هم ستا سترګے یخے نۀ کړی-

ابو عامر چه دا سخت جواب واؤریدلو نو نامراده واپس شو- او وے وئیل چه ځما نه پس ځما د قوم حالت بدل شوے دے- (زرقانی ج۲ص۳۰- ابن هشام ج۲ص۷۹- طبری ج۳ص۱٦- عیون الاثر ص۳۳٦- البدایه والنهایه ج۴ ص ۱٦)

دویم مقابل

د هغے نه پس د قریشو د جهنډے خاوند طلحه بن ابی طلحه میدان ته راغے- او آواز ئے ووکړو چه اے د محمد ﷺ ملګرو ! تاسو دا وایئ چه الله تعالیٰ به ستاسو په تورو مونږه زر جهنم ته رسوی او ځمونږ په تورو سره تاسو جنت ته زر رسوی- نو په تاسو کښې داسے څوک شته چه ځما توره ئے زر جنت ته وورسوی یا د هغۀ توره ما زر جهنم ته وورسوی-

دے اوریدو سره حضرت علی رضی الله عنه د مقابلے دپاره ووتلو او توره ئے

ووچلوله چه هغے سره د هغهٔ خپه کټ شوه اوپرمخے پرے وتلو او سترئے ښکاره شو۔ او حضرت علی رضی الله عنه د حیا د وجے را روستو شو۔ نبی کریم ﷺ ورته وو فرمائیل چه علی ولے را روستو شوے۔ هغوی عرض ووکړو چه د ستر د ښکاره کیدو د وجے حیا راغله (زرقانی ص۳۱ ج۲) ابن سعد فرمائی چه حضرت علی کرم الله وجهه د هغهٔ په سر باندے گذار ووکړو چه هغے سره د هغهٔ سر دوه ټکړے شو۔

حضور پاک ﷺ خو شاله شو او د الله اکبر نعره ئے ووهله- او مسلمانانو هم د الله اکبر نعره ووهله-

غالبا دحضرت علی رضی الله عنه رومبے گذار د هغهٔ په خپه را غلے دے چه هغے سره د هغهٔ خپه کټ شوه -او دویم گذارئے په سر راغلے دے چه هغے سره ئے سر دوه ټکړے شو۔ د ابن جریر په روایت کښ د رومبی گذار او د ابن سعد په روایت کښ د دویم گذار ذکر دے- په دے وجه په روایاتو کښ څهٔ تعارض نشته دے۔

دریم مقابل

دهغے نه پس عثمان بن ابی طلحه جهنډه پورته کړه او دا شعرئے ویلو اومیدان ته راغے۔

ان علی اهل اللواء حقا. ان تخضب الصعدة اوتندقا

په جهنډے والا باندے دا فرض دی چه نیزه د دشمن په وینه باندے رنګینه کړی اویانیزه ماته شي۔

حضرت حمزه رضی الله عنه ورمخکښ شو -حمله ئے ور باندے ووکړه اوعثمان ئے د دواړو لاسونو نه او د اوګونه خلاص کړو۔اوجهنډه ترے پرے وتله اوپه لږساعت کښ ئے قصه ختمه شوه۔

څلورم مقابل

د دے نه پس ابو سعد بن ابی طلحه جهنډه په لاس کښ واخیسته۔ حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه سمدستی په یو غشی باندے دګورګورو دپاسه وویشتلو چه هغے سره د هغهٔ ژبه بهر راؤوتله۔ سعد رضی الله ورمخکښ شو او سمدستی ئے مړ کړو۔

پنځم مقابل

د هغې نه پس مسافح بن ابی طلحه جهنډه ووچته کړه -حضرت عاصم بن ثابت رضی الله عنه په یو ګذار کښې قتل کړو.

شپږم مقابل

د هغې نه پس حارث بن طلحه بن ابی طلحه جهنډه په لاس کښې واخسته خو حضرت عاصم رضی الله عنه هغه هم په یو ګذار کښې قتل کړو او دبعضې خلقو په قول باندې حضرت زبیر رضی الله عنه هغه قتل کړو.

اووم مقابل

بیا کلاب بن طلحه بن ابی طلحه جهنډه په لاس کښې واخیستله حضرت زبیر رضی الله عنه ورمخکښې شو-او قتل ئې کړو.

اتم مقابل

د هغې نه پس جلاس بن طلحه بن ابی طلحه جهنډه پورته کړه خو حضرت طلحه رضی الله عنه سمدستی قتل کړو.

نهم مقابل

د هغې نه پس ارطات بن شرجیل جهنډه پورته کړه خو حضرت علی رضی الله عنه د هغهٔ کار ختم کړو.

لسم مقابل

شریح بن قارظ جهنډه ووینوله او مخکښې راغې. ددهٔ کار هم سمدستی ختم شو-خو ددهٔ د قاتل نوم معلوم نهٔ شو. چه څوک وو.؟

یوولسم مقابل

د هغهٔ نه پس د هغهٔ غلام چه نوم ئې صواب وو. جهنډه ئې ووینوله او مخکښې راغې حضرت سعد بن ابی وقاص-حضرت حمزه -حضرت علی -رضی الله عنهم-په دې درې کسانو کښې یو کس د دهٔ قصه ختمه کړه. (زرقانی ج۲ ص۳۱ ـ ابن سعد ج۲ ص۲۸)

په دې طریقه باندې د قریشو دوه ویشت سرداران قتل شو. چه د هغوی نومونه

علامه ابن هشام په تفصیل سره ذکر کړے دی او ورسره، ورسره ئے دا هم ذکر کړے دی چه فلانے فلانے کس د فلانی فلانی صحابی په لاس باندے قتل شوے دے۔ (ابن هشام ج۲ ص۱۰۳ ۔زرقانی ج۲ص ۳۱)

دابو دجانه رضی الله عنه بهادری

ابو دجانه رضی الله عنه چاته چه حضور ﷺ خپله توره ورکړے وه ډیرزړه ور او بهادر وو– اول ئے سور پټکے راوېستو او په سرئے کړو او په مستئ سره میدان ته ووتلو او دا اشعار ئے په ژبه وو۔

انا الذی عاهد نی خلیلی

ونحن بالسفح لدی النخیل

زهٔ هغه یم چانه چه خپل خلیل عهد اخستے دے (چه د هغهٔ محبت څما د زړهٔ مینځ ته ورغلے دے یعنی محمد ﷺ) په داسے وخت کښی چه مونږ د غرهٔ لمن کښی په قجورو کښی وو۔

ان لا اقوم الدهر فی الکبول

اضرب بسیف الله والرسول

هغه وعده داده چه زهٔ به کله هم روستو صف کښی وونهٔ دریږم –او د الله او دَ رسول الله په تورے سره به د الله دښمنان وژنم۔

رسول الله ﷺ چه کله ابو دجانه په تکبرسره تلونکے ولیدهٔ– نو وے فرمائیل داچال الله تعالیٰ ته سخت ناخوښه دے مگر داسے وخت کښی (یعنی هر کله چه صرف د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول ﷺ د دښمنانو په مقابله کښی وی– دخپل ځان دپاره نهٔ وی) ابودجانه رضی الله عنه صفونه شلول او روان وو۔ کوم چه به مخے له راتلو دهغهٔ لاش به په زمکه پریوتهٔ۔ تردے چه د ابو سفیان ښځه هنده بالکل مخامخ راغله –ابودجانه رضی الله عنه په هغے باندے توره اوچته کړه۔ مگر فورا ئے لاس بند کړو چه دا هیڅ قسمه مناسب نهٔ ده چه خاص د رسول الله ﷺ توره په یوه ښځه باندے ووچلیږی۔ یوروایت کښی دی چه کله ابودجانه رضی الله عنه هندے ته نزدے راورسیدو۔ نو هغے خلقوته اواز ورکړو خو هیڅ څوک دهغے مدد له رانغلل۔ ابودجانه رضی الله عنه فرمائی ماته دغه وخت دا ښهٔ خبره معلومه نهٔ شوه

چه د رسول الله ﷺ توره په یوه داسے ښځه باندے ووچلوم چه هغه بے اسرے ده۔(البدایه والنهایه ج۴ص ۱٦)

دحضرت حمزه رضی الله عنه دبهادرئ اود شهادت ذکر

د حمزه رضی الله تعالیٰ عنه د زمرو په شان حملونه کفار سخت پریشانه وو۔ چه په چابه ئے توره اوچتوله دهغۀ لاش به په زمکه ښکاریدۀ۔ وحشی بن حرب چه د جبیربن مطعم حبشی غلام وو۔جنګ بدر کښ د جبیر ترۀ طعیمه بن عدی دحضرت حمزه رضی الله عنه د لاس نه قتل شوے وو۔ جبیرته هغه وخت ډیر غم رسیدلے وو۔ جبیر وحشی ته اووئیل که څما د ترۀ بدله کښ دے حمزه (رضی الله عنه)قتل کړو۔نوته آزاد ئے۔

کله چه قریش داحد جنګ له روان شو–نووحشی هم هغوی سره راروان شو۔ هرکله چه احدکښ د دواړو ډلوصفونه دجنګ دپاره ترتیب کښ شو اوجنګ شروع شو نوسباع بن عبد العزی هل من مبارز(څما د مقابلے څوک شته) نعره ئے ووهله اومیدان ته راغے۔

حضرت حمزه رضی الله هغۀ پسے رامخکښ شو او دا ئے اووئیل چه اے سباعه اے د ښځو سنتوونکے ښځے څویه ؛ تۀ د الله او د هغۀ د رسول ﷺ مقابله کوے –دا ئے اووے او د تورے یو ګذارئے پرے ووکړو او په یو ګذارئے هغه مردار کړو۔

وحشی حضرت حمزه رضی الله عنه ته د یو ګټے شاته پټ ناست وو هر کله چه حضرت حمزه رضی الله عنه په دغه اړخ تیریدلو نووحشی د شا نه د نوم په ځائے باندے په نیزه ووهلو چه پورے راپورے ترے نه ووتله۔

حضرت حمزه رضی الله عنه څوقدمه لاړو خو ګوډ شو او راپریوتۀاو شهید شو انا لله وانا الیه راجعون دارِوایت په صحیح بخاری کښ دے۔ مسند ابی داؤد طیالسی کښ دی چه وحشی وائی چه کله مکے ته راغلم نو ازاد شوم او قریشو سره صرف د حضرت حمزه رضی الله عنه د قتل په اراده راغلے اووم – جنګ جهګړه مے مقصد نۀ وو– (فتح الباری ج۷ ص۲۰۲)

حضرت حمزه رضی الله عنه چه مے قتل کړو نو د لښکر نه اړخ ته لاړم کښیناستم –ځکه چه څما نور څۀ مقصد نۀ وو صرف د ازادیدو دپاره مے حضرت حمزه رضی الله عنه قتل کړو۔

فائده

د مکے د فتحے نه پس وحشی دطائف د وفد سره مدینے منورے ته د پیغمبر علیه

السلام دربارکښ د اسلام قبلولو دپاره حاضر شو- خلقو چه دے وولیدلو نو عرض ئے ووکړو چه اے د الله رسوله ؛ دا وحشي دے یعني ستاسو د عزتمند ترهٔ قاتل دے۔ پیغمبر علیه السلام ووفرمائیل۔

دعوه فلا سلام رجل واحد احب الی من قتل الف کافر

دے پریږدئ یقینا دیو سړی مسلمانیدل ماته د زرو کافرانو دقتل نه زیات خوښ دی۔

دے نه پس هغوی د وحشي رضی الله عنه نه د حضرت حمزه رضی الله عنه د قتل واقعه معلومه کړه – وحشي رضی الله عنه ډیر په شرمندګئ سره صرف دَ حکم پوره کولو په غرض واقعه بیان کړه۔ حضور پاک ﷺ د هغهٔ اسلام قبول کړو- او دا ئے ورته ووفرمائیل چه څو مره درنه کیږی نو څما مخے ته مهٔ راځه –ځکه چه څهٔ تا وینم نو ماته د ترهٔ غم تازه کیږی۔ د وحشي رضی الله عنه مقصد چونکه هغوی ته تکلیف رسول نهٔ وو– په دے وجه چه کله به هغه دحضور ﷺ په خدمت کښ حاضریدهٔ نو شاته به ناست وو۔ اوپه دے فکر کښ به وو چه ددے څهٔ کفاره اداکړم۔ چنانچه دهغهٔ په کفاره کښ ئے مسیلمه کذاب هم په هغه نیزه ووهلو اوجهنم ته ئے وو رسولو۔ ځکه چه هغهٔ د خاتم النبیین ﷺ نه پس د نبوت دعوئ کړے وه۔

څنګه چه ئے حضرت حمزه رضی الله عنه په نوم باندے په نیزه وهلے وو او شهید کړے ئے وو– هغه شان ئے مسیلمه کذاب هم په نوم په نیزه اووهٔ اوقتل ئے کړو۔ دغه شان د یو خیرالناس د قتل کمے ئے د یو شرالناس په قتل سره پوره کړو۔(فتح الباری ج ۷ ص ۲۸۴–۲۸۵)

صحیح بخاری شریف کښ دی چه د مسیلمه کذاب په قتل کښ وحشي رضی الله عنه سره یو انصاری صحابی هم شریک وو۔ واقدی او اسحاق بن راهویه او حاکم وائی چه عبد الله بن زید بن عاصم مازنی وو۔ او بعض عدی بن سهل اوبعض ابودجانه او بعض د زیدبن الخطاب نوم ښائی۔ اوبعض وائی چه شن بن عبد الله وو۔ څنګه چه ددے لاندینو اشعارونه معلومیږی

الم ترانی ور حشیهم ◂ ضربنا مسیلمة المفتن

ولے تاته پته نهٔ لګی چه ما او وحشي دواړو مسیلمه فتنه ګر وژلے دے؟

یسائلنی الناس عن قتله ◂ فقلت ضربت وهذا طعن

خلق ماته د مسیلمه د قتل په باره کښ تپوس کوی چه چا وژلے دے۔ ما جواب ورکړو۔ چه ما په توره وهلے دے او وحشي په نیزه و هلے دے۔

فلست بصاحبه دونه ◄ ولیس بصاحبه دون شن

پس حاصل د خبرے دادے چه د مسیلمه مستقل قاتل نهٔ زهٔ یم - او نهٔ وحشی بغیر د شن د شریک کیدو نه مستقل قاتل کیدے شی۔ (فتح الباری ج ۷ ص ۲۸۴-۲۸۵)

وحشی رضی الله عنه راوی دے چه زهٔ حضور پاک ﷺ ته حاضر شوم نو حضور پاک ﷺ ووفرمائیل تا حمزه قتل کړے وو - ما عرض ووکړو۔

نعم والحمدلله الذی اکرمه ◄ بیدی ولم یهنی بیده

او جی؛ ټول تعریفونه د هغه الله دی چه حضرت حمزه رضی الله عنه له ئے څما په لاس د شهادت عزت او بزرگی ورکړه - او زهٔ ئے د هغهٔ د لاسه ذلیل نهٔ کړم ځکه چه که حضرت وحشی رضی الله عنه دغه وخت د حمزه رضی الله عنه د لاسه وژلے شوے وو نو د کفر په حالت کښ به مړشوے وو - چه د دے نه زیات سپکوالے او ذلت نشته دے - د هغے نه پس هغوی ووفرمائیل اے وحشی؛ څه لاړشه او د خدائے پاک په لار کښ قتال کوه څنګه چه تا د خدائے د لارے نه د منعه کولو د پاره قتال کولو۔ رواه الطبرانی واسناده حسن (مجمع الزوائد ج۶ ص۱۲۱)

د حضرت حنظله رضی الله عنه غسیل الملائکه د شهادت یادګیرنه

ابو عامر فاسق چه د هغهٔ ذکر مخکښے شوے دے - د هغهٔ ځوئے حنظله رضی الله عنه په دے جنګ کښ د رسول الله ﷺ سره وو۔

د ابو سفیان او د حنظله مقابله ووشوه۔ حضرت حنظله رضی الله عنه ورمنډه کړے او په ابو سفیان ئے ګذار کولو چه د شانه شداد بن اسود یو ګذار ووکړو چه هغے سره حضرت حنظله رضی الله عنه شهید شو۔

نبی کریم ﷺ ارشاد او فرمائیلو۔ چه ما فرشتے اولیدے چه حنظله له ئے د وریځے په اوبو یعنی د باران په اوبو باندے د سپینو زرو لوښو کښ غسل ور کولو۔

د هغهٔ بی بی (چه د هغے نوم جمیله وو صحابیه ده - د منافقانو د سردار عبد الله بن ابی خور ده) نه معلومه کړے شوه چه حنظله رضی الله تعالیٰ عنه هم د جنابت په حالت کښ جهاد له روان شوے وو۔ په دے حالت کښ شهید شو (رواه اسحاق والحاکم وصححه وراه ابن سعد وغیره خصائص کبریٰ ج۱ ص ۲۱۶)

په کومه ورځ چه حضرت حنظله رضی الله شهید کیدهٔ - په هغه شپه د هغهٔ

بی بی خوب اولیدۀ چه د آسمان یوه دروازه لرے شوه او دے پکښې داخل شو۔ او د دا خلیدو نه پس دروازه بنده کړے شوه۔ بی بی ئے په دے خوب سره پوهه شوے وه چه حنظله اوس د دے دنیا نه رخصتیدو والا دے۔

د جنګ دختمیدو نه پس د هغۀ لاش تلاش کړے شو نو د سر نه ئے اوبۀ څڅیدے۔ (روض الانف ج۲ ص ۱۳۳) د دے وجے نه حضرت حنظله رضی الله عنه د غسیل الملائکه په نوم سره مشهور شو۔ د حضرت حنظله رضی الله عنه پلار ابوعامرفاسق چونکه د رسول الله ﷺ په مقابله کښې جنګیدۀ۔

نو حضرت حنظله رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د خپل پلار د وژلو اجازت ووغوښتو۔ خو هغوی منعه اوفرمائیله (رواه ابن شاهین واسناده حسن۔ اصابه ترجمه حنظله بن ابی عامر)

د مسلمانانو د دے بهادرانه حملو په وجه د قریشو د میدان جنګ نه خپے خویدلے وے - او اخوادیخوا پتیدل او تختیدل - او ښځے ئے هم پریشانه اوپے حوصلے شوے - او غرونو طرفته ئے منډے وهلے۔ اومسلمانان د مال غنیمت په راجمع کولو کښې مشغول شو۔

د مسلمانانو غشوویشتونکو دخپل ځائ نه اخواکیدل او د جنګ رخ بدلیدل

دغشی ویشتنکو دے ډلے (کوم چه د درے دحفاظت دپاره کښینولی شوی وو) چه کله دا اولیدل چه فتحه اوشوه او مسلمانان مال غنیمت راغونډولو کښې مشغول دی۔ دوی هم دے طرفته ورمخکښې شو - د دوی امیر عبد الله بن جبیر رضی الله عنه دوی ډیر منعه کړل او ورته ئے اووئیل چه رسول الله ﷺ تاکید فرمائیلے دے چه تاسو د دے ځائے نه مۀ خوزیږئ۔ خو هغوی په دے خبره عمل وونۀ کړو او مرکز ئے پرے خودۀ او مال غنیمت راغنډولو والا سره یو ځائے شو۔

دحضرت عبد الله بن جبیر رضی الله عنه اود هغۀ دلسو ملګرو شهادت

مرکز کښې صرف عبد الله بن جبیر رضی الله عنه او د هغۀ لس ملګری پاتے شول۔ د نبی علیه السلام د حکم خلاف ورزی ئے ووکړه - نو سمدستی فتحه په شکست کښې بدله شوه۔ خالد بن ولید چه د غه وخت۔ د مشرکینو میمنه یعنی په ښی اړخ باندے وو۔ چه دره ئے خالی اولیده نو د شا نه ئے حمله ووکړه - عبد الله بن جبیر

رضی الله عنه سره د خپلو ملګرو شهید شو۔

د مصعب بن عمیر رضی الله عنه شهادت

د مشرکانو په دے ناڅاپی د هیر حملے سره د مسلمانانو صفونه تس نس شو۔ او د خدائے د شمنان رسول اللهﷺ ته ډیر نزدے راؤرسیدل۔

د مسلمانانو علمبردار یعنی جنډه نیونکے مصعب بن عمیر رضی الله عنه حضور پاکﷺ سره ډیر نزدے وو۔ نو د کافرانو مقابله ئے ووکړه تردے چه شهید شو۔ دے نه پس هغوی جنډه حضرت علی رضی الله عنه ته ووسپارله چونکه د مصعب بن عمیر رضی الله عنه شکل د حضورﷺ پشان وو۔ یعنی د هغوی سره مشابه وو۔ دے وجے نه شیطان دا افوا خوره کړه۔ چه رسول اللهﷺ شهید شو۔ په دے وجه غونډو مسلمانانو کښ حیرانی پریشانی او بے قراری خوره شوه او د ویرے دے خبرے اوریدو سره غونډ حیران اوپریشان شول۔ او د دے پریشانئ په حالت کښ د دوست او د شمن فرق پاتے نه شو۔ اوخپلو کښ ئے په یو بل تورے چلولے۔

د حضرت حذیفه رضی الله عنه پلار د مسلمانانو د لاسه په غلطئ سره شهید کیدل

د حضرت حذیفه رضی الله عنه پلار یمان هم په دے کشمکش کښ راغے۔ حضرت حذیفه رضی الله عنه د لرے نه اولیدل چه مسلمانان زما پلار وهی نو چغه ئے کړے او وے وئیل چه اے د الله بندګانو دا زما پلار دے۔ مګر په داسے غوبل کښ چا اوریدل آخر حضرت یمان رضی الله عنه شهید شو۔ مسلمانانو ته چه کله پته وولګیده چه دا د حضرت حذیفه رضی الله عنه پلار وو نو هغوی ډیر ملامته شو او وے وئیل چه په خدئے قسم مونږ نهٔ وو پیژندلے ۔ حضرت حذیفه رضی الله عنه ووئیل

یغفر الله لکم وهو ارحم الراحمین

الله دے تاسو معاف کړی هغه ډیر زیات مهربانه دے۔ رسول اللهﷺ د دیت ورکولو اراده ووفرمائیله خو حضرت حذیفه رضی الله عنه قبول نهٔ کړو۔ دے سره د رسول اللهﷺ په زړه کښ د حضرت حذیفه قدر او عزت نور هم زیات شو (طبری ج ۳ ص ۲٦ فتح الباری ج ۷ ص ۲۷۹ زرقانی ج ۲ ص ۳۲ ابن هشام ج ۲ ص ۸۷)

د حضرت خالد بن ولید په ناګهانی حملے سره د اسلام د لښکر بے قراری او د حضور ﷺ بے مثله ثابت قدمی

د خالد بن ولید دے سمدستی حملے سره اګر چه د لوئے لوئے بهادرانو خپے ووخویدے - خود نبی کریم ﷺ دخپو په مظبوطیا او په استقلال کښں لږ هم فرق رانغے یا لږ غوندے رپیدل هم رانغلل. اوڅنګه به راتلل ؟ د الله نبی او دهغهٔ رسول بزدل نشی کیدے. غرونه به ووخوزی - خو د الله پاک پیغمبران به ووښهٔ خوزی- په دوی دے د الله تعالیٰ په زرګونو رحمتونه وی - د یو پیغمبر څانله بهادری د غونډے دنیا د بهادرئ نه زیاته وزن داره او درنه وی. دلائل بیهقی کښں د مقداد رضی الله عنه روایت دے.

فو الذی بعثه بالحق مازالت قدمه شبرا واحد اوانه لقی وجه العد ویفیء الیه طائفة من اصحابه مرة وتفترق مرة فربمارایته قائما یرمی عن قوسه ویرمی بالحجر حتی انحازواعنه (زرقانی ج ۲ ص ۳۴)

قسم م دے وی په هغه ذات چه حضور پاک ﷺ ئے په حق سره را لیږلے دے چه د هغوی قدم مبارک یولویشت هم د خپل ځائے نه اخوا نه شو. او بے شکه هغوی د دښمن مقابله کښے ثابت قدم وو- د اصحابو رضی الله عنهم یوه ډله به کله هغوی له راتله او کله به تله. او ډیر وخت ماهغوی اولیدل چه هغوی څانله ولاړ وو-او په خپله ئے غشی او کانړی ویشتل -ترد ے چه دښمن د هغوی نه اخوا شو.

د حضور ﷺ حفاظت کونکی یعنی محافظین

ابن سعد فرمائی چه په دے تخیدو را تختیدو او بے قرارئ کښے څوارلس صحابه رضی الله عنهم هغوی سره وو- اووهٔ مهاجرین او اووهٔ انصار وو - چه د هغوی نومونه دا دی

د مهاجرینو نومونه

١ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه
٢ حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه
٣ حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه
۴ حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه
۵ حضرت طلحه رضی الله عنه

❻ حضرت زبیر بن عوام رضی اللہ عنہ

❼ حضرت ابو عبیده رضی اللہ عنہ

د انصارو نو مونه

❶ حضرت ابو د جانه رضی اللہ عنہ

❷ حضرت حباب بن منذر رضی اللہ عنہ

❸ حضرت عاصم بن ثابت رضی اللہ عنہ

❹ حضرت حارث بن صمه رضی اللہ عنہ

❺ حضرت سهیل بن حنیف رضی اللہ عنہ

❻ حضرت سعد بن معاذ رضی اللہ عنہ

❼ حضرت اسید بن حضیر رضی اللہ عنہ

په مهاجرینو کښ د حضرت علی رضی الله عنه نوم ددے وجے نه ذکر نه شو- چه د مصعب بن عمیر رضی الله عنه د شهید کیدو نه پس پیغمبر علیه السلام جهنډه حضرت علی رضی الله عنه ته ور کړے وه نو هغوی په جهاد او قتال کښ مشغول وو

دا څوارلس صحابه د پیغمبر علیه السلام سره وو- خو کله کله به دوی کښ بعضے حضرات د څۀ ضرورت دپاره لاړل خو بیا به زر واپس راغلل - په دے وجه کله به د پیغمبر علیه السلام سره دولس کسان پاتے شو- (لکه څنګه چه په بخاری شریف کښ د براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت شوے دے)

او کله یوولس (لکه څنګه چه په نسائی او د بیهقی په دلائلو کښ دحضرت جابر رضی الله عنه نه په جید سند سره روایت شوے دے) او کله اوۀ (څنګه چه په مسلم شریف کښ دانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت شوے دے)

د حالاتو او وختونو د اختلاف په وجه د پیغمبر علیه السلام په دربار کښ د حاضرینو د شمیر په حقله روایتونه مختلف دی د هر راوی بیان دخپل خپل وخت په لحاظ سره په ځائے او صحیح دے -کله به د پیغمبر علیه السلام سره دولس-کله یوولس او کله اوۀ کسان وو - الحمد الله تول روایتونه متفق دی - هیڅ تعارض په کښ نشته (د تفصیل دپاره فتح الباری ج۷ ص۲۷۷ او زرقانی ج۲ ص۳۵ ته رجوع ووکړئ۔

په پیغمبر علیه السلام باندے د قریشو ناسابی حمله او د صحابه کرامو قربانی

په صحیح مسلم کښ د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه کله قریشو

پہ حضور اقدس صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم باندے ناساپی د هیر حمله ووکړه نو حضور پاک صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ووفرمائیل چه څوک به څما نه دا ګنړه ووتنبوی چه په جنت کښ څما ملګرے شی- د انصارو نه اوؤه ملګری په دغه موقعه د هغوی سره وو. او اوؤه واړه وار په وار شهیدان شو.

صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۷ غزوۂ احد و رواه احمد کما فی البدایه والنهایه ج۴ ص۲٦

د ابن اسحاق په روایت کښ دی چه حضور اقدس صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ووفرمائیل

من رجل یشری لنا نفسه

هغه سړے څوک دے چه زمونږ دپاره ځان خرڅ کړی- چه دا ئے واؤریدل نو زیاد بن سکن او پینځه انصار ووډریدل او هریو په خپل خپل وار باندے خپله بهادری ووخودله او شهیدان شول. زیاد بن سکن ته دا عزت حاصل شو چه کله هغه زخمی شو او راوؤغورزیدلو نو حضور اقدس صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ووفرمائیل چه ماله ئے نزدے راوړئ- خلقو هغوی ته نزدے راؤړو نو هغۀ خپل مخ مبارک د حضور اقدس صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په خپه مبارکه باندے کیخودۀ او ساه ئے ورکړه - انا لله وانا الیه راجعون (ابن هشام ج۲ ص ۸۴۹)

د عتبه بن ابی وقاص په حضور پاک ﷺ باندے حمله

د حضرت سعد بن ابی وقاص ورور عتبه بن ابی وقاص ته موقعه ملاؤشوه- نو حضور پاک صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ئے په یو کانړی باندے وویشتلو چه هغے سره د هغوی لاندینے غاښ مبارک شهید شو او لاندینئ شونډه مبارکه ئے زخمی شوه. سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنه فرمائی چه ماته څومره دخپل ورور عتبه د قتل کولو شوق وو- دومره د بل چا په باره کښ نۀ وو- (فتح الباری ج۷ ص۲۸۱ رواه ابن اسحاق)

د عبد اللہ بن قمیه په حضور پاک ﷺ باندے حمله

عبد اللہ بن قمیه چه د قریشو مشهور پهلوان وو- په حضور ﷺ باندے ئے په داسے زورسره حمله ووکړه چه د هغوی مخ مبارک زخمی شو او د خود دوه کړئ د هغوی په مخ مبارک کښ ننوتے- او عبد اللہ بن شهاب زهری جنګ احد ته د کافرانو سره راغلے وو- دۀ یو کانړے د حضور ﷺ په مخ مبارک باندے راؤیشتو چه په هغے سره هغه زخمی شو. (دا سړے روستو مسلمان شو- او په مکه مکرمه کښ وفات

شو- (زرقانی ج ۲ ص۳۸) د حضور ﷺ په مخ مبارک باندے چه وینه راماته شوه نو د حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه پلار حضرت مالک بن سنان رضی الله عنه غونډه وینه په خولے وو چوپله. او مخ مبارک ئے ورله صفا کړو. حضور پاک ﷺ ورته ووفرمائیل لن تمسک النار تا باندے به د جهنم اور چرے هم نهٔ لګی.

په معجم طبرانی کښ د حضرت ابو امامه رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه ابن قمیه د هغوی د زخمی کولو نه پس ووئیل :

خذها وانا ابن قمیة واخله دا ! څه ابن قمیه یم.

نو هغوی ووفرمائیل:

اقماک الله الله تعالیٰ دے تا ذلیله او خوار کړی.

لږے ورځے لا تیرے شوے نهٔ وے چه الله تعالیٰ په هغهٔ باندے یوه غریزه چیلۍ پیښه کړه چه ابن قمیه ئے په خپلو ښکرو باندے ټکړے ټکړے کړو. (فتح الباری ج۷ص۲۸۱ ، زرقانی ج ۲ ص۳۸)

د حضرت علی او حضرت طلحه رضی الله عنهما حضور اقدس ﷺ ته سهاره ورکول

چه په بدن مبارک ئے چونکه د دواؤ زغرو بوج هم وو- په دے وجه حضور اقدس ﷺ په یوه کنده کښ پریوتلو. دغه کنده ابو عامر فاسق د مسلمانانو دپاره جوړه کړے وه. حضرت علی رضی الله عنه ورته لاس ورکړو- او حضرت طلحه رضی الله عنه د ملا نه وونیولو نو هغوی وودریدل -

او وے فرمائیل چه څوک په زمکه باندے ژوندے شهید لیدل غواړی نو طلحه ته دے ووګوری. حضرت عائشه بنت صدیق رضی الله عنها د خپل پلار صدیق اکبر رضی الله عنه نه روایت کوی چه په مخ مبارک کښے ئے د خود کومے دوه کړئ ننوتے وے. هغه حضرت ابو عبیده رضی الله عنه په خپلو غاښونو سره راښکلے چه هغے سره د ابو عبیده رضی الله عنه دوه غاښونه مات شو. رضی الله عنه واضحک سنه یوم القیامة. (آمین) د دے روایت سند صحیح دے. (زرقانی ج۲ص۳۸ ، ابن هشام ج۲ ص۸۴)

رسول الله ﷺ چه کله په غر باندے د ختلو اراده ووکړه نو د کمزورئ او د دواؤ زغرو د بوجه د وجهے نه مجبوره شو نو حضرت طلحه رضی الله عنه ورته لاندے کیناستلو او حضور پاک ﷺ په هغوی باندے خپه کیخودله او غرته ووختلو. او حضرت زبیر رضی

الله عنه فرمائی۔ چه ما دغه وخت د هغوی نه واوریدل چه فرمائیل ئے۔
اوجب طلحة۔ طلحه د ځان د پاره جنت وا جب کړو (رواه ابن اسحاق)
حضرت قیس بن ابی حازم فرمائی چه ما د حضرت طلحه رضی الله عنه هغه لاس وولیدۀ چه کوم هغوی د رسول الله ﷺ د پاره د احد په ورځ غزولے وو۔ هغه بالکل شل شوے وو (رواه البخاری)
حاکم په اکلیل کښې روایت کړے دے چه په هغه ورځ باندے په حضرت طلحه رضی الله عنه باندے پنځه دیرش یا یو کم څلویښت زخمونه جوړشو۔ په ابو داؤد طیا لسی کښې د حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه به چه کله د احد د غزا خبره کوله نو دابه ئے فرمائیل۔
کان ذلک الیوم کله لطلحة.
د غه ورځ غونده د طلحه وه۔
د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه د دشمن دګذارونو په تنبولو سره د حضرت طلحه رضی الله عنه ګتے کټ شوے نو بے اختیاره ئے دڅپے نه ووتل چه حسن (فتح الباری کښې حسن نون سره دے یعنی ښۀ وو شوا وعلامه زرقانی بغیر دنون نه نقل کړیدے یعنی حس څنګه چه زمونږ دڅپے "وای" ووځی۔) حضور پاک ﷺ ورته ووفرمائیل
لو قلت بسم الله لرفعتک الملائکة والناس ینظرون الیک حتی تلج بک فی جو السماء
(رواه النسائی والبیهقی بسند جید) (فتح الباری ج۷ص۲۷۸، زرقانی ج۲ص۳۹)
که چرے تا بسم الله ویلے وے- نو فرشتو به ته اوچت کړے وے- تر دے چه بره فضا ته به ئے خیژولے وے۔ او خلقو به تاته کتل -
داحدیث امام نسائی او بیهقی په ډیر ښکلے او کهره سند سره ذکر کړے دے۔
حضرت عائشه رضی الله عنها د صدیق اکبر رضی الله عنه نه روایت کوی چه مونږ د احد په ورځ دحضرت طلحه رضی الله عنه په بدن باندے د اویاؤنه زیات زخمونه ولیدل۔ (رواه ابوداؤد الطیالسی) (فتح الباری ج۷ ص ۲٦ مناقب طلحه)
د حضرت انس رضی الله عنه میرنه پلار ابو طلحه رضی الله په ډال سره حضور پاک ﷺ پټ کړے وو۔ د غشو ویشتلو ډیر ماهر وو- په د غه ورځ د هغۀ په لاس کښې د وه یا درے کمانئ ماتے شوے وے۔ چه کوم سړے به ترکش په لاس هلته تیریدلو

نو حضور پاک ﷺ بـه هغهٔ ته فرمائیل چه دا ترکش ابو طلحه ته کیږدہ-حضور به چه کله سر ووچت کړو او خلقو ته به ئے کتل نو حضرت ابو طلحه رضی الله عنه به ورته دا عرض کولو!

بابی انت وامی لا تشرف یصبک سهم من سهام القوم نحری دون نحرک.

څما مور پلار دے په تاسو قربان شی- تا سو بره مهٔ ګورئ چرته په غشی به وولګئ څما سینه ستاسو سینے د پاره ډهال ده-

حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د غشو ویشتلو ډیر ماهر وو- داحد په ورځ حضور پاک ﷺ د خپل ترکش غونډ غشی راؤ ویستل او د هغهٔ مخے ته ئے کیخودل او فرمائیل ئے چه؛

ارم فداک ابی وامی

ویشتل کوه څما پلار مور دے په تا قربان شی-

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه ما د حضرت سعد بن ابی وقاص نه علاوه دبل چا په باره کښ د حضور پاک ﷺ نه فداک ابی وامی داسے نه دی اوریدلے چه څما پلار مور په تا قربان شه (بخاری شریف ص۵۸۱) یعنی داحد په ورځ م داسے نهٔ دی اوریدلے دبل چاپه باره کښ- هسے خو د بنوقریظه په غزاکښ د حضرت زبیر رضی الله عنه دپاره هم فداک ابی وامی په صحیح بخاری کښ دحضرت زبیر رضی الله عنه په مناقبو کښ ذکر دی (فتح الباری ج۷ص ۶۲ مناقب سعد بن ابی وقاصؓ)

د حاکم روایت دے چه داحد په ورځ حضرت سعد رضی الله عنه زر غشی ویشتلے وو- (زرقانی ج۲ص۴۲)

دحضرت ابو دجانه رضی اللہ عنہ قربانی

حضرت ابو دجانه رضی الله عنه (حافظ ابن عبد البر فرمائی چه ابو دجانه رضی الله عنه د مسیلمه کذاب په قتل کښ شریک وو-او په دغه جنګ کښ شهید شو-) (استیعاب) دخپل ځان نه ډهال جوړ کړے وو- او دشمن ته ولاړ وو-شاه ئے دشمن طرف ته وه او غشی به پرله پسے راتلل او د ابودجانه په شاه به لګیدل خو هغوی د دے ویرے حرکت نهٔ کولو چه چرته حضور پاک ﷺ باندے غشے وونهٔ لګی- (رواه ابن اسحاق-زرقانی ج۲ص۴۳)

تنبیه

څنګه چه حضوراقدس ﷺ خاتم النبیین دے۔ دنبوت کمالات په هغوی باندے ختم دی- دغه شان محبوبیت هم په هغوی باندے ختم وو۔ او په صحابه کرامو باندے عشق ختم وو۔ په خدائے قسم چه د دوی د فدائی کارنامو مخکښې د لیلی مجنون قصے هیڅ خوند نۀ لری۔

دحضور پاک ﷺ په مشرکینو باندے افسوس کول

حضرت انس رضی الله عنه روایت کوی چه داحد په ورځ حضورپاک ﷺ دخپل مخ مبارک وینه ووچوله - او وئیل به ئے چه هغه قوم څنګه کامیابیدے شی چه دخپل پیغمبر مخ په وینو ککړ کړی اوهغه دوی خپل پروردګار طرفته رابلی۔
(رواه احمد والترمذی و النسائی)

دحضورپاک ﷺ د قریشو بعضو سردارانو ته خیرے کول اودآیت نازلیدل

په صحیح بخاری کښې دحضرت سالم رضی الله عنه نه مرسلا روایت دے چه رسول الله ﷺ صفوان بن امیه او سهیل بن عمرو او دحارث بن هشام په حق کښې خیرے کړے وے- نو الله پاک دا آیت نازل کړو-

لیس لک من الامر شیء او یتوب علیهم او یعذبهم فانهم ظالمون (آل عمران آیت ۱۲۸)
په دے امر کښې تاته څۀ اختیار نشته دے تر دے چه خدائے پاک مهربانی ووفرمائی او دوی ته د توبے توفیق ورکړی یا دوی ته عذاب ورکړی ځکه چه دوی ظالمان دی۔

حافظ عسقلانی فرمائی چه دا درے واړه د مکے په فتحه کښې مسلمانان شو۔ غالبا په دے وجه حق تعالیٰ د دوی په حق کښې د خیرو کولو نه منعه ووفرمائیله- او دا آیت شریف ئے نا زل کړو - (فتح الباری ج۷ص۲۸۱)

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فر مائی چه دا سے ده لکه چه حضور پاک ﷺ ځما د سترګو مخے ته دے او د تندی مبارک نه وینه صفا کوی او دا وائی:

رب اغفرلقومی فانهم لایعلمون.

اے ځما ربه! ځما قوم ته بخښنه ووفرمائے ځکه چه دوی نه پو هیږی۔ (صحیح مسلم غزوۀ احد ج۲ص ۱۰۸)

د زړۀ د مهر بانئ- د نرمئ- د وجهے نه ئے فانهم لایعلمون ووفرمائیل چه دوی بے خبره دی۔ دوی ته پته نۀ لری۔ اوداسے ئے وونۀ فرمائیل چه فانهم یجهلون چه دوی

جاهلان دی۔

د واضحو نشانو دلیدو نه پس جهل او لاعلمی عذر نه دے -خو رحمت عالم نبی پاک ﷺ چه د سر نه تر خپو پورے شفقت وو - د خپل ارحم الراحمین ,اجود الاجودین ,اکرم الاکرمین په بارګاه کښې دوی ئے لا علمه حساب کړل او د دوی د طرف نه ئے معذرت ووکړو په دے طمعه چه شاید چه د خدائے پاک مهربانی دوی د کفر اود شرک د ګرداب نه راووباسی او د ایمان او اسلام دار الامان او دار السلام ته ئے را داخل کړی- او د اخلاص او د احسان مهر شده شراب پرے ووڅښی -او دخپل محبت په نشه کښې ئے داسے مد هوشه کړی چه ددے سپکے دنیا سپکاوے او د آخرت عزت او دروندوالے دوی ووینی او د کفر او معصیت د جیل خانے نه دوی راووځی او د ایمان اسلام اخلاص او احسان د امن په حرم کښې دیره شی او بیا تر ابد الاباد پورے ددے نه بهر نه شی۔

فائده

چه تر کومے پورے د کافر خاتمه په کفر باندے نۀ وی شوے نو د هغۀ دپاره د مغفرت دعاء په دے معنی باندے صحیح ده چه الله تعالی دۀ ته د کفر او شرک نه توبه ور نصیب کړی او د ایمان هدایت ورته ورکړی - چه دے د خداوند ذو الجلال د عفوے او مغفرت جوګه شی۔ خو کۀ د چا خاتمه په کفر او شرک باندے ووشی نو بیا د هغۀ دپاره د مغفرت دعاء جائز نۀ ده- کماقال تعالیٰ:

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ (توبه آیت ۱۱۳)

د پیغمبر دپاره او دایمان والؤ دپاره دا روا نۀ دی چه د مشرکینو دپاره د مغفرت دعاء ووغواړی اګر که دا د دوی رشته دار ولے نۀ وی چه کله دوی ته ښکاره شوه چه دوی دوزخیان دی یعنی کافر دی -

حضرت قتاده بن نعمان رضی الله عنه فرمائی چه د احد په ورځ دحضور پاک ﷺ مخے ته وودریدم او خپل مخ مے دشمن طرف ته کړو- دپاره ددے چه د دشمن غشی ځما په مخ باندے راتمبیږی خو چه د حضور پاک ﷺ مخ مبارک بچ شی- د دشمن یو غشے ځما په مخ باندے داسے وولګیدو چه غونده سترګه مے بهر راووتله- ما هغه سترګه په لاس کښې وونیوله -او حضور پاک ﷺ ته راغلم حضور پاک ﷺ چه دا وولیدل نو سترګو مبارکو کښې ئے اوښکے راغلے اوځما دپاره ئے دعاء

ووغوښتله- چه یا الله؛ څنګه چه قتاده ستا د نبی د مخ حفاظت ووکړو نو دغه رنګے ته د دهٔ مخ بچ ووساتے- او د دهٔ دا سترګه د بلے سترګے نه زیاته ښکلے او تیز نظر والا کړے۔ او سترګه ئے راله په خپل ځائے کیښوده- نو هم په هغه وخت څما سترګه روغه جوړه شوه - بلکه د مخکښ نه ډیره ښهٔ او تیز نظر والا شوه۔

(رواه الطبرانی وابو نعیم والدار قطنی بنحوه) (الاصابه ج۳ص۲۲۵)

په یو روایت کښ دی چه قتاده رضی الله عنه خپله سترګه په لاس کښ نیولے حضور پاک ﷺ ته راغے -هغوی ورته ووفرمائیل چه که چرے ته صبر ووکړے نو ستا دپاره جنت دے - او که ته غواړے نو هم په دغه ځائے به درله سترګه کیږدم او دعاء به درته ووکړم- قتاده رضی الله عنه عرض ووکړو- یا رسول الله ﷺ څما یوه ښځه ده چه د هغے سره څما ډیر محبت دے ماته ویره ده چه که څهٔ بے سترګے پاتے شم نو هسے نه چه هغه ښځه څمانه کرکه ووکړی - نو حضور پاک ﷺ ورله هغه سترګه په هغه خپل ځائے باندے کیښودله او دعاء ئے ورته ووکړه۔

اللهم اعطه جمالاً اے الله ته دهٔ له حسن او جمال ورکړے (زرقانی ج۲ ص۴۲)

د حضور اقدس ﷺ د شهید کیدو غلط خبر خوریدل

چه کله دا خبره مشهوره شوه چه حضور پاک ﷺ شهید شو نو بعضے مسلمانانو همت بائللو او کښیناستل او دائے وئیل چه رسول الله ﷺ خو شهید شو نو اوس جنګ څهٔ دپاره کوؤ- نو د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه ترهٔ حضرت انس بن نضر رضی الله عنه ووئیل چه اے خلقو که چرے محمد ﷺ قتل شو نو د هغوی رب خو قتل شوے نهٔ دے۔ په کومه خبره چه محمد ﷺ جهاد او قتال کولو هم په هغه خبره باندے تاسو هم جهاد او قتال ووکړئ -او هم په دغے باندے مړهٔ شئ -د رسول الله ﷺ نه پس که ژوندی پاتے شئ نو څهٔ به ووکړئ - دائے ووئیل او د دشمنانو په فوج کښ ور داخل شو او مقابله ئے ووکړه تردے چه شهید شو

(رواه ابن اسحاق والطبرانی ,زرقانی ج۲ ص۳۴)

د حضرت انس رضی الله عنه د شهادت واقعه

په صحیح بخاری کښ د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه څما ترهٔ انس بن نضر به په دے ډیر غمژن وو چه هغه په جنګ بدر کښ نهٔ وو شریک شوے۔ یو ځل ئے رسول الله ﷺ ته عرض ووکړو چه اے د الله رسوله؛ افسوس دے چه د

مشر کینو سره د اسلام رومبے جنگ وو او زهٔ په کښې شریک نهٔ شوم که چرے خدائے تعالیٰ ماته په یو جهاد کښې د شرکت توفیق راکړو نو الله تعالیٰ به ووینی چه زهٔ د هغهٔ په لار کښې څنګه محنت کوم او د ځان او د سر نه ورتیریږم۔ چه په جنګ احد کښې څهٔ خلقو شکست ووخوړهٔ لو او په تیښته شول- نو حضرت انس بن نضر رضی الله تعالیٰ عنه ووئیل چه یا الله۔ څه ستا په بارګاه کښې د دے کار نه معا فی غواړم چه کوم دے مسلمانانو ووکړو- د میدان نه روستو شو۔ او د دے نه زهٔ بری او جدا یمه کوم چه مشر کینو ووکړو۔ او تو ره ئے وا خسته او مخکے شو۔ مخے له ورله سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالیٰ عنه ورغے۔ دے ئے چه وو لیدهٔ نو حضرت انس بن نضر رضی الله تعالیٰ عنه ووئیل:

این یا سعد (دا کلمه د عربو په کلام کښې د لرے نه د نداء د پاره راځی۔ کیدے شی چه د حضرت انس رضی الله عنه په این یا سعد سره مراد دا وو چه اے سعده ؛ ته د دے سعادت نه ولے لرے شوے ئے۔ او په دے اعتبار سره د این نه مخصوص مکان مراد نه دے۔ بلکه مکان د مرتبے په معنیٰ باندے مراد دے انی اجد ریح الجنة دون احد اے سعد؛ چرته ځے یقینا په ما خو د احد نه لاندے د جنت خو شبو لګی۔دا الفاظ د کتاب المغا زی دی او د کتاب الجهاد په روایت کښې دا الفاظ دی۔

یا سعد بن معاذ الجنة ورب النضر انی اجد ریحها دون احد. اے سعده ؛ جنت دا دے- د نضر په رب م دے قسم وی چه د احد لاندے په ما د جنت خو شبو لګی۔ (نضر د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه د پلار نوم دے نضر په اصل کښې خشته او ترو تازه ته وائی۔ شا ید چه حضرت انس رضی الله عنه د نضرة النعیم د جنت خشته والے او تازګی لیدلے وی۔او په دے وجه ئے د نضر د رب قسم خوړلے وی۔ والله سبحانه وتعالیٰ اعلم)

حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی چه الله تعالیٰ بعضے وخت خپلو خاصو بند یګانوته روحانی طور نه-بلکه حسی طور باندے هم په دنیا کښې د جنت خوشبوئی وربویه وی۔ څنګه چه دغه خلق په پوزے سره د ګلابو او د چانبیل خوشبوئی حاصلوی۔ هم دغه شان هغوی په دنیا کښې کله کله د الله تعالیٰ په فضل سره د جنت خوشبوئی بویه وی۔ چه د هغے وګمه پنځهٔ سوه میلو پورے ځی۔ نو څهٔ نا اشنا خبره نهٔ ده که د حضرت انس رضی الله عنه په پوزه د جنت خوشبوئی لګیدلے وی۔

(کذا فی حادی الارواح الی بلاد الافراح ج ا ص ۲۵۰)

چه کوم خلق د دنیا په نشه کښې دَ او د آخرت دپاره زکام وهلے دی۔ د هغوی انکار کول معتبر نۀ دی۔ (ځکه چه په زکام وهلی خوشبوئی نۀ لګی۔ مترجم) دداسے خلقوپه حق کښې وئیلے شی چه "از حواس اولیاء بیگانه اند" چه کوم سرے زکام وهلے وی او هغه د ګلابو او د چامبیل په خوشبوئ باندے نۀ پو هیږی نو د روغو د ما غو او د روغو حواسو په مقابله کښې د دوی خبره نۀ شی منلے۔

غرض دا چه حضرت انس رضی الله عنه دا ووئیل؛ واها لریح الجنه اجده دون احد واه واه د جنت خوشبو دا حد سره لګی او وراندے شو او د دښمن مقابله ئے ووکړه او شهید شو۔ په بدن باندے ئے د غشو او د تورے د اتیاؤ نه زیات زخمونه وو– او دا آیت د دوی په باره کښې نازل شو۔

من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهدوا الله علیه (الاحزاب آیت ۲۳)

په مسلمانانو کښې بعضے داسے سړی دی چه د وی رشتینے کړو هغه عهد چه د الله تعالی سره ئے کړے وو۔

صدق جان دادن بود بین سابقوا

از نبی برخوان رجال صدقوا

امام بخاری رحمه الله دا حدیث په صحیح بخاری کښې درے ځایه ذکر کړے دے په کتاب الجهاد ص۳۹۲۔ کتاب المغاذی ص۵۷۹ کښې تفصیل سره او په کتاب التفسیر کښې ص۷۰۵ باندے په اختصار سره۔ د عارف رومی په قول باندے دحضرت انس بن نضر رضی الله عنه حال داسے وو چه۔

وقت آن آمد که من عریان شوم

جسم بگذارم سراسر جان شوم

بوئے یار مهربانم می رسد

بوئے جانان سوئے جانم می رسد

د مسلمانانو د پریشانئ اوبے ارامئ لوئے سبب د هغه ذات بابرکات د نظره پناه کیدل وو– چه په هغوی دے په لکهونو صلوٰت او په لکهونو سلامونه وی۔ دتولو نه ړومبے حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه حضوراقدس ﷺ ووپیژندلو۔ هغوی جنګی توپئ په سر کړے وه اومخ مبارک ئے پټ وو۔ کعب رضی الله عنه فرمائی چه ما په خود کښې دننه د حضور پاک ﷺ ځلقیدونکے سترګے ووليدلے نو

وومے پیژندلو – دغه وخت ما په ووچت آواز سره چغه ووهله چه اے مسلمانانو؛ تاسو ته دے زیرے وی – دادے رسول الله ﷺ ۔ حضور پاک ﷺ د لاس په اشارے سره دے منعه کړو – چه خاموشه شه – اګر چه کعب رضی الله عنه خوئے د دوباره آواز نه منعه کړو خو چونکه د خلقو زړونه او غوږونه دے طرف ته پوره لګیدلے وو نو په یو آواز سره خلق لکه د لیونو په شان را جمع شو ۔ کعب رضی الله عنه فرمائی چه بیا حضور پاک ﷺ خپله زغره ماته واغوستوله او ځما زغره ئے په خپله واغوستله – نو د شمنانو په ما باندے دهغوی ګمان ووکړو – او ځۀ ئے په غشو ویشتم او د شلو نه زیات زخمونه په ما جوړ شو ۔ (رواه الطبرانی ورجاله ثقات)

چه کله ځۀ مسلمانان د هغوی سره راجمع شو نو دغرۀ کنډاؤ طرف ته لاړل حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت علی المرتضے، حضرت طلحه او حضرت حارث بن صمه رضی الله عنهم اجمعین او ځۀ نور کسان ورسره وو ۔ چه په غرۀ ئے د ختلو اراده ووکړه نو د کمزورئ او د مانده والی او د دواؤ زغرو دبوج دوجے نه وونۀ ختلے شو په دے وجه حضرت طلحه رضی الله عنه لاندے کیناستلو او پیغمبر علیه السلام په دوی باندے خپه کیخودله او بره ووختلو ۔

دابی بن خلف قتل

په دے کښ ابی بن خلف اس راپه منډه کړے وو او راؤرسیدۀ – هغه ئے په دانو خوړلو بنۀ څورب کړے وو – په دے امید چه په دے به سوریږم او محمد ﷺ به قتلوم ۔

پیغمبر علیه السلام ته چه کله د دے پته وولګیده نو هغوی هغه وخت فرمائیلے وو چه ان شآء الله ځۀ به ئے قتلوم ۔

چه کله پیغمبر علیه السلام ته وروراندے شو نو صحابه کرامو رضی الله عنهم اجازت ووغوښتلو چه مونږ دے ځائے ته رسوؤ – هغوی ووفرمائیل چه دے راپریږدئ چه کله نزدے راغے نو حضور پاک ﷺ د حارث بن صمه رضی الله عنه نه نیزه واخیستله او په څټ ئے ورته ګذار ورکړو – چه هغے سره دے وولړزیدۀ او دا چغے ئے وهلے او واپس شو چه قسم په خدائے ځۀ محمد ﷺ قتل کړم خلقو ورته وئیل چه دا خو معمولی شان ګریدلے دے ځۀ سخت زخم نشته دے چه تۀ دومره چغے وهے ۔ ابی ووے چه تاسو ته معلومه نۀ ده چه محمد ﷺ ماته په مکه کښ وئیلے وو چه هم ځۀ به تا قتلوم ۔

ددے ګریدلی ځائے تکلیف صرف ځما زړۀ ته معلوم دے په خدائے قسم کۀ چرے دا

دکریدلی ځائے تکلیف پہ ټول حجاز والاؤ باندے تقسیم کړے شی نو دټولو د هلاکت دپاره به کافی شی۔ هم دغه شان برپیدهٔ چه مقام سرف ته وورسیدهٔ نو مړشو۔ (البدایه والنهایه ج۴ ص ۳۵)

دحضرت علی او دحضرت فاطمے رضی اللہ عنہا دحضور پاک ﷺ زخمونه وینځل

کله چه پیغمبر علیه السلام کنډاؤ ته وورسیدهٔ نو جنګ ختم شوے وو۔ هلته چه وورسیدل نو کیناستل- حضرت علی رضی الله عنه اوبه راوړلے اومخ مبارک نه ئے ورله وینه ووینځله اوڅهٔ اوبه ئے ورله په سر باندے واچولے۔ دهغے نه پس ئے اودس ووکړو او په ناسته ئے دماسپخین مونځ ورکړو۔صحابه کرامو هم په ناسته وریسے مونځ ووکړو (په اول کښ هم داحکم وو چه کله امام په څهٔ عذر باندے په ناسته مونځ کوی نو مقتدیان دے هم وریسے په ناسته اقتداء کوی اګرکه اقتداء کولو والا معذوره نهٔ وی خو روستو داحکم منسوخ شو۔ امام که په څه عذر باندے په ناسته مونځ کوی نو مقتدیانو باندے ولاړه فرض ده څنګه چه رسول الله ﷺ په مرض وفات کښ په ناسته مونځ ورکولو اوصحابه کرام وریسے روستو ولاړوو داد هغوی آخری عمل وو۔)

(والله سبحانه وتعالیٰ اعلم)

د قریشو دمسلمانا نو دلاشونو مثله کول

اومشرکانو دمسلمانانو دلاشونو مثله کول شروع کړل یعنی پوزه اوغوږونه ئے ترے پرے کړل -خیتے ئے ورله ووسیرلے اومخصوص اندامونه ئے ترے نه پرے کړل ښځے هم سرو سره په دے کار کښ شریکے وے۔

دهندے پلار عتبه په جنګ بدر کښ دحضرت حمزه رضی الله عنه دلاسه مړ شوے وو -هغے دحضرت حمزه رضی الله عنه مثله ووکړه او خیټه اوسینه ئے ورله ووسیرله او اینه ئے ترے راووېستله اوپه خولے کښ ئے پرے شخوند ووخولو- خو دحلق نه ئے کوزه نهٔ شوه۔ په دے وجه ئے واپس راووغورزوله- اوپه دے خوشحالئ کښ ئے وحشی ته خپل کالے ورکړو-

اودکومو مسلمانانو غوږونه اوپوزے چه کټ شوے وے - دهغے نه ئے هار جوړ کړو اوپه غاړه کښ ئے واچولو۔ (زرقانی ج ۲ ص ۴۴،۴۷)

دابوسفیان آواز اودحضرت عمر رضی اللہ عنہ جواب

قریشو چه کله دواپسئ اراده ووکړه نوابوسفیان په غر باندے ووختلو اوآواز ئے

ووکړو۔ افی القوم محمد ! آیا په قوم کښې محمد ﷺ شته دے؟ حضور ﷺ ووفرمائیل چه څوک جواب مهٔ ورکوئ۔ دغه شان ابوسفیان درے ځله اواز ووکړو خو جواب ورته ملاؤ نهٔ شو۔ دهغے نه پس ئے دا آواز ووکړو۔ افی القوم ابن ابی قحافه! آیا په قوم کښې دابوقحافه ځوئے شته ؟ حضور ﷺ ووفرمائیل چه څوک جواب مهٔ ورکوئ۔ داسوال چه ئے هم درے پیرے ووکړو- نو بیا خاموش شو۔ اوبیائے دا آوازووکړو افی القوم ابن الخطاب ؟ آیا په تاسو کښې عمربن خطاب شته دے۔ دا فقره ئے هم درے پیرے ووئیله۔ خو چه څهٔ جواب رانغے نو خپلو ملگروته ئے په خوشحالئ سره ووئیل۔ اما هٰؤلاء فقد قتلوا فلو کانوا احیاء لا جابوا ۔بهر حال داټول قتل شوے دی۔ کهٔ دوی ژوندی وے نو ضرور به ئے جواب راکړے وے۔

(د صحیح البخاری په کتاب الجهاد کښې صرف دا الفاظ دی اما هٰؤلاء فقد قتلوا او فلو کانو ......الخ ۔ په کښې نهٔ دی ذکر شوی) د کتاب المغازی په روایت کښې دا الفاظ دی ان هٰؤلاء قتلوا فلو کانوا احیاء لاجابوا دے نا چیز د دواړو روایتونو الفاظ راجمع کړل۔ او ددے مطابق رسول الله ﷺ او ابو بکررضی الله عنه او عمر رضی الله عنه ته درے درے ځله آواز کیدل په کتاب الجهاد کښې دی او د کتاب المغازی په روایت کښې صرف یو ځل آواز کیدل ذکر دی۔ وعدم ذکر لایدل علی ذکر العدم فافهم.

د حضرت عمر رضی الله عنه نه برداشت وونهٔ شو او آواز ئے ورکړو –
کذبت والله یاعدو الله ابقی الله علیک ما یحزنک.

اے د الله دشمنه په خدائے قسم تا با لکل غلطه اووے –ستا د غم سامان الله تعالی باقی ساتلے دے–

دهغے نه پس ابو سفیان د وطن او قوم د یو بت نعره وولگوله او وے وئیل
"اعل هبل اعل هبل " (دکتاب الجهاد په روایت کښې اعل هبل اعل هبل دوه ځله راغلے دے او د کتاب المغازی په روایت کښې صرف یو ځل ذکر دے۔۱۲)

اے هبله ؛ تهٔ دے پورته ئے۔ یعنی اے هبله ستا دین دے پورته وی۔

رسول الله ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته ووفرمائیل چه ددے په جواب کښې ووایه چه

"الله اعلیٰ واجل."

صرف الله دټولو نه ووچت او بزرگ دے۔

بیا ابو سفیان ووئیل

"ان لنا العزی ولا عزی لکم"

زمونږ عزی دے او ستاسو عزی نشته۔

رسول اللهﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته ووفرمائیل چه دا جواب ورکړه۔

" نِعْمَ الْمَوْلٰی وَنِعْمَ النَّصِيْرُ "

الله زمونږ آقا او والی او مددګار دے او ستاسو والی نشته

"فنعم المولی ونعم النصیر "یعنی عزت صرف د الله تعالی سره په تعلق کښ دے۔ د عزی په تعلق کښ عزت نشته دے۔ بلکه ذلت دے۔

ابو سفیان ووئیل

"یوم بیوم بدر والحرب سجال"

دا ورځ دبدر د ورځے جواب دے نو بس مونږ او تاسو برابر شو او جنګ د ډول په مثال دے کله بره کله خکته۔

د صحیح بخاری روایت دے– د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله عنه جواب ورکړو

لاسواء قتلانا فی الجنة وقتلاکم فی النار(زرقانی ج۲ ص۴۷، فتح الباری ج۷ص۲۷۲)

یعنی مونږ او تاسو برابر نه یو–زمونږ قتل شوی په جنت کښ دی او ستاسو قتل شوی په جهنم کښ دی–

د ابو سفیان دا وینا حقه وه چه '' الحرب سجال" په دے وجه ددے خبرے جواب ورنه کړے شو او د الله تعالی دا ارشاد چه

" تِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ "

ددے تائید کوی

ددے نه پس ابو سفیان حضرت عمر رضی الله عنه ته آواز ورکړو۔

"هلم الیّ یاعمر"

اے عمره نزدے راشه۔

رسول اللهﷺ ورته ووفرمائیل چه ورشه ووګوره چه څه وائی –هغوی چه ورغلل نو ابو سفیان ووئیل چه

"انشدک الله یا عمر أ قتلنا محمدا "

اے عمر ځۀ تاته په الله پاک قسم درکوم چه رشتیا وایه چه آیا محمد ﷺ مونږ قتل کړے دے-

حضرت عمر رضی الله عنه ووفرمائیل چه

"اللهم لا وانه لیسمع کلامک الان"

یعنی په خدائے قسم چه نه- بلکه هغوی اوس ستاسو خبرے اوری-

ابو سفیان ووئیل چه

"انت عندی اصدق من ابن قمیة وابر"

یعنی تۀ ماته د ابن قمیه نه زیات رښتونے او نیک ښکارے-

دهغے نه پس ابو سفیان ووئیل

"انه قد کان فی قتلاکم مثل والله مارضیت ولا نهیت ولا امرت"

ستاسو د بعضے مقتولینو مثله شوے ده- په خدائے قسم چه ځۀ په دے خوشحاله نۀ یم- ما نۀ څوک منع کړی دی او نۀ مے چاته حکم کړے دے-

او د تلو په وخت کښې ئے آواز ووکړو-

"موعدکم بدر للعام القابل"

یعنی راتلونکی کال باندے تاسو سره په بدر کښې د جنګ وعده ده-

رسول الله ﷺ چاته حکم ووکړو چه ورته ووائی چه

نعم هو بیننا وبینک موعد ان شا الله.

او زمونږ او ستاسو دا وعده ده- ان شآء الله - (د ان شآء الله لفظ صرف زرقانی نقل کړے دے- زرقانی ج۲ ص۴۸) د طبری او ابن هشام په روایت کښې نشته -

د مشرکینو د واپسئ نه پس د مسلمانانو زنانه د حالاتو د معلومولو دپاره د مدینے نه راووتلے- سیده النساء حضرت فاطمه رضی الله عنها چه راغله- وے کتل نو د مبارک مخ نه وینه روانه وه- حضرت علی رضی الله عنه به په ډهال کښې اوبۀ راوړلے- او حضرت فاطمے رضی الله عنها به د حضرت ﷺ مخ مبارک وینځلو- خو وینه په هیڅ طریقه نۀ وودریدله - چه کله ئے ووکتل چه وینه خو یو شان بهیږی -نو د تکوری یوه ټکړه ئے ووسوزوله او دهغے ایره ئے په زخم کښې کیخودله نو وینه بنده شوه -(رواه البخاری والطبرانی عن سهل بن سعدؓ) (زرقانی ج۲ص۴۹)

فائده

❶ دے حدیث مبارک نه معلومه شوه چه په بیمارئ کښې دوائی کول جائز دی

❷ دغه شان علاج کول د توکل خلاف نهٔ دی

❸ حضرات انبیاء کرام علیهم الصلوه والسلام ته هم بدنی مرضونه او تکلیفونه رسی چه د دوی درجات پورته شی۔ او د دوی تابعدار دوی ته ووګوری او دصبر او د برداشت سبق زده کړی۔ دغه شان چه خلق دا ووینی چه دا غم درد خو په دوی هم راځی نو پوهه به شی چه دا حضرات خو د الله تعالی پاک او مخلصان بندیګان دی –خو خدایان نهٔ دی او د پیغمبرانو معجزات به د هغوی د رسالت دلیل ګنړی۔ د عیسایانو په شان دوی به ددے پیغمبرانو نه خدایان نهٔ جوړوی

اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وازواجه وذریاته وبارک وسلم تسلیما کثیرا.

❹ نور ددے واقعے نه دا خبره هم ښهٔ واضحه شوه چه د نبی اکرم ﷺ نه پس د ابوبکر صدیق رضی الله عنه او بیا د حضرت عمر رضی الله عنه درجه وه۔ او دا ترتیب دومره واضحه او روښانه وو۔ چه کفارو هم دا ګڼړله چه د پیغمبر علیه السلام نه پس د ابو بکر صدیق رضی الله عنه او بیا د حضرت عمر رضی الله عنه مقام دے۔ غرض دا چه د شیخینو (ابوبکر– عمر رضی الله عنهما) د افضلیت مسئله کفارو ته هم معلومه وه۔ د مشاهدے نه کفارو دا ګڼړله چه د نبوت په دربار کښې اول مقام دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے او بیا دحضرت عمر رضی الله عنه دے۔ او دا دواړه د حضور پر نور ﷺ با تدبیره وزیران دی۔

دحضرت سعد بن ربیع رضی الله عنه د شهادت ذکر

د قریشو د روانیدو نه پس رسول پاک ﷺ حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ته حکم ورکړو چه حضرت سعد بن ربیع انصاری رضی الله عنه وولټوه۔ چه کوم ځائے دے۔ (دا د حاکم روایت دے چه حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ئے ووليږلو۔ او د حافظ ابن عبد البر په روایت کښې دی چه حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ئے ووليږلو۔ او د واقدی په روایت کښې دی چه حضرت محمد بن مسلمه ئے ووليږلو۔ کیدے شی چه وار په وارئے درے واړه لیږلے وی–یا په یو وخت کښې ئے درے واړو ته

حکم کړے وی)(زرقانی ج۲ ص۴۹) او دا ارشاد ئے ووفرمائیلو
ان رایته فاقراه منی السلام وقل له یقول لک رسول الله کیف تجدک
کـه چرے تـا وولیدۀ نو زما سلام ورته ووایه۔ او دا ورته ووایه چه رسول اللهﷺ دا معلوموی چه تاسو دا وخت خپل ځان ځنګه مومئ۔ حضرت زید بن ثابت رضی الله عنـه فـرمائی چـه ځـۀ پـه لټـولـو لټولو د حضرت سعدبن ربیع رضی الله عنه خوا له وورسیدم – لا پـه کـښ د ژونـد څـۀ اثـر پاتے وو– پـه وجود بـاندے ئے د توروا و غشو زخمونـه وو۔ مـا د رسـول الـلـهﷺ پیغام هغۀ ته وورسولو۔ حضرت سعد بن ربیع رضی الله عنه دا جواب راکړو چه

علـی رسول الله السلام وعلیک السلام قل له یا رسول الله اجدانی اجد ریح الجنة وقل لقومی الانصار لا عذرلکم عند الله ان یخلص الی رسول الله صلی الله علیه وسلم شفر یطرف قال وفاضت نفسه رحمه الله (او په یو روایت کښ دی وفیکم عین تطرف، زرقانی ج۲ ص ۴۹)

رسـول الـلـهﷺ بـانـدے هم سلام او په تا باندے هم سلام۔ رسول اللهﷺ ته دا پیـغـام وورسـوه۔ چه اے د الله رسولهﷺ دے وخت کښ ځۀ د جنت خوشبو بویوم او ځما قوم انصارو ته دا ووایه چه که چرے رسول اللهﷺ ته څۀ تکلیف وورسیدلو په داسے حال کښ چه په تاسو کښ یوه سترګه هم لیدلو والا وی یعنی چه په تاسو کښ یـو کس هم ژوندے وی نو دا ووګڼرئ چه د الله سره به ستاسو هیڅ یو عذر هم قبول نۀ وی۔دائے ووے او روح ترے نه لاړو۔ رحمه الله تعالی و رضی الله عنه

حـاکـم فرمائی چه دا حدیث صحیح الاسناد دے یعنی سند ئے صحیح دے او حافظ ذهبی هم دے ته صحیح فرمائیلے دی۔

یو بل روایت کښ دی چه سعد رضی الله عنه زید بن ثابت رضی الله عنه ته اووے –

اخبـر رسـول الله صلی الله علیه وسلم انی فی الاموات واقراه السلام وقل له یقول جزاک الله عنا وعن جمیع الامة خیرا. (مستدرک ج۳ ص ۲۰۱ ترجمه سعد بن ربیع رضی الله عنه)

رسول اللهﷺ تـه خبر ورکړه چه دے وخت کښ ځۀ مړ کیږم او د سلام نه پس ورته ووایه۔ جزاک الله وعن جمیع الامة خیرا: اے د الـلـه تعالیٰ رسولهﷺ الله تعالیٰ دے تاسو تـه زمـونـږه او د ټـول امت د طـرف نـه د خیـر جـزا درکړی چـه مونـږ تـه دے دحق لاره وښودله۔

دابن عبد البر په روایت کښ د حضرت ابی بن کعب نه روایت دے۔ چه څۀ واپس راغلم او رسول اللهﷺ ته مے د حضرت سعد رضی الله عنه خبر ورکړو۔ پیغمبر علیه السلام دا واؤریدل نو دا ارشاد ئے ووفرمائیلو:

رحمه الله نصح لله ولرسوله حیا ومیتا.(استیعاب للحافظ ابن عبدالبر ج۲ ص۳۵ حاشیه اصابه).

الله تعالی دے په دۀ باندے رحم ووکړی –د الله تعالی او دهغۀ د رسولﷺ خیر خواه او وفادار وو– په ژوند کښ هم او د مرگ په وخت کښ هم۔

د حضرت حمزه رضی الله عنه د لاش لټون

رسول اللهﷺ د حضرت حمزه رضی الله عنه د لاش په لټون پسے ووتلو په بطن وادی کښ مثله شوے وموندلے شو۔ غوږونه او پوزه ئے کټ کړے شوے وو –خیټه او سینه ئے شلیدلے وه – دا په زړۀ باندے تیارۀ راوستونکے منظر ئے چه ووليدلو نو بے اختیاره ئے زړۀ راډک شو او دا ئے ووفرمائیل چه په تاسو دے د الله تعالیٰ رحمت وی څومره چه ماته معلومه ده بیشکه تۀ ډیر با اختیاره او صله رحمی کولو والا وے– کچرے دصفیے د غم او د خفگان فکر راسره نۀ وے –نوما به تۀ هم دغه شان پریخودلے وے چه ځناورو او مارغانو خوړلے وے او قیامت کښ تۀ د دوی د خیټو نه راپورته شوے وے۔ او هغه ځائے ئے په ولاړه ولاړه دا ووفرمائیل چه په خدائے قسم که ماته خدائے پاک په کافرانو باندے غلبه راکړه نو څۀ به ستا په بدله کښ د اویاؤ کافرانو مثله کوؤم۔ هغوی لا د دغه ځائے نه اخوا شوے نۀ وو چه دا آیت نازل شو:

وَ اِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ۚ وَ لَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ۝ وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَ لَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّ الَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ۝ (سورة النحل آیت ۱۲۶)

یعنی که چرے تاسو بدله اخلئ –نو بس دومره واخلئ چه څومره تکلیف تاسو ته رسولے شوے دے– او که صبر کوئ نو صبر خا مخا ډیر ښۀ دے د صبر کوونکو دپاره – او صبر کوه۔ اوستا صبر کول صرف د الله تعالی په توفیق او په مدد سره دی –او مۀ د دوی نه خفه کیږه او مۀ د دوی په دے ورانی زړۀ تنگه وه۔ یقینا الله تعالی د صبر کولو والا او د نیک کار کولو والا سره دے–

حضور اقدسﷺ صبر ووکړو او د قسم کفاره ئے ورکړه او خپله اراده ئے بدله کړه (مستدرک ج۳ ص۱۹۷)

د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ کله حضرت حمزه رضی الله عنه ته ووکتل نو د ژړا نه ئے سا بنده شوه او وے فرمائیل

سید الشهداء عندالله یوم القیامة حمزة.

یعنی د قیامت په ورځ به د الله تعالی په نیز باندے د ټولو شهیدانو سردار حضرت حمزه رضی الله عنه وی-

حاکم فرمائی چه هذا حدیث صحیح الاسناد ـ چه دا حدیث صحیح اسناد والادے او حافظ ذهبی رحمه الله هم دا صحیح ګنړلے دے(ایضا ص ۱۹۹، قال العلامه الزرقانی، هذا الحدیث رواه الحاکم والبیهقی والبزار والطبرانی وقال الحافظ فی الفتح باسناد فیه ضعف اه زرقانی ج۲ص ۵۱، اقول لکن قال الحافظ بعد ماذکر للحدیث طرقاعدیدة وهذه طرق یقوی بعضها بعضا الخ فتح الباری ج۷ص ۲۸۲)

په معجم طبرانی کښ دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ووفرمائیل-

" سید الشهداء حمزة بن عبدالمطلب"

حضرت حمزه رضی الله عنه د ټولوشهیدانو سردار دے (د صحیح البخاری په عامو نسخو کښ باب قتل حمزة بن عبدالمطلب رضی الله عنه دے – خو دنسفی په نسخه کښ قتل حمزة سید الشهداء راغلے دے۔ غالبا امام بخاری رحمه الله په ترجمه الباب کښ دے حدیث ته اشاره کړے ده۔

هم په دے وجه حضرت حمزه رضی الله عنه د سید الشهدآء په لقب سره مشهور شو-

د حضرت عبدالله بن جحش رضی الله عنه د شهادت واقعه

هم په دغه غزا کښ حضرت عبد الله بن جحش رضی الله عنه هم شهید شو۔ په معجم طبرانی کښ او په دلائل ابی نعیم کښ په جید سند سره د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت دے چه د احد په ورځ د جنګ شروع کیدو نه مخکښ عبد الله بن جحش رضی الله عنه څۀ ځان سره یو اړخے کړم او ماته ئے ووئیل- راځه چه مونږ دواړه چرته ځان له کښینو او دعاء ووغواړو-

او د یو بل په دعاء باندے آمین ووایو (فتح الباری ج۷ ص۲۸۲)

حضرت سعد رضی الله عنه فرمایی چه مونږ دواړه چرته په ګوټ کښ د ټولو نه ځانله یو ازے کیناستو اول ما دعاء ووغښتله چه یا الله ؛ نن م د داسے دشمن سره

مقابله راولے چه ډیر بهادر او زړه ور وی او ډیر غضبناک وی - څۀ ډیر وخته پورے هغۀ سره مقابله ووکړم - بیا د هغے نه پس یا الله ماله په هغۀ باندے فتحه راکړے چه زۀ هغه قتل کړم او د هغۀ سامان د هغۀ نه وا خلم۔

حضرت عبد الله بن جحش رضی الله عنه آمین ووئیل او د هغے نه پس ئے دا دعاء ووغبښتله چه اے الله ؛ نن م د داسے دښمن سره مقابله راولے چه ډیر سخت زورور او غضبناک وی - صرف ستا د پاره د هغه سره قتال ووکړم او هغه ماسره قتال ووکړی۔ په آخرکښ هغه ما قتل کړی او څما پوزه او غوګونه پرے کړی او اے پرور دګاره ؛ چه زه تا سره ملاؤ شم - او تۀ مانه تپوس ووکړے چه اے عبد الله ؛ داستا پوزه او غوګونه چرته کټ شوے دی۔ نو زۀ عرض ووکړم چه یا الله ؛ ستا او ستا د پیغمبر په لاره کښ اوتۀ هغه وخت ووفرمائے چه عبد الله ریښتیا دے وویل۔ سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فرمائ چه د هغۀ دعاء څما د دعاء نه غوره وه۔ ماښام ماوولیدل چه د هغۀ پوزه او غوګونه کټ شوے وو۔ (زرقانی ج۲ص۵۱)

حضرت سعد رضی الله عنه فرمائی چه الله تعالی څما دعاء هغه شان قبوله کړه - ما هم یو لوے سخت کافر قتل کړو او د هغۀ سامان م دهغۀ نه واخستۀ۔ (روض الانف ج۲ص۱۴۳)

سعید بن المسیب راوی دے چه حضرت عبد الله بن جحش رضی الله تعالی عنه دا دعاء ووغو ښتله

اللهم انی اقسم علیک ان القی العد وفیقتلو نی ثم یقروا بطنی ویجد عوا انفی واذنی ثم تسالنی بم ذلک فاقول فیک.

اے الله ؛ زه تاته قسم درکوم چه زۀ ستا د دښمنانو سره مقابله ووکړم او بیا هغوی ما قتل کړی او څما خیټه سیری کړی او څما پوزه او غو ګونه کټ کړی او بیا تۀ څمانه تپوس ووکړے چه دا ولے ووشو۔ نو زه عرض ووکړم چه دا ستا د پاره۔

حضرت سعید بن المسیب فرمائی چه زۀ د الله تعالی نه امید کوم چه څنګه الله تعالی د شهادت په باره د هغۀ دعاء په داسے خاص شان سره قبوله کړه - نو دغه شان به ئے د هغۀ بله دعاء هم قبو له کړے وی۔ یعنی د شهید کیدو نه پس به دهغۀ نه الله تعالیٰ دا سوال کړی وی او هغۀ به هم دغه جوب عرض کړی وی۔ امام حاکم رحمه الله فرمائی چه که چرے دا حدیث مرسل نۀ وے - نو د شیخینو په شرط به صحیح وو۔ حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی - مرسل صحیح (مستدرک حاکم ج۳ص۲۰۰)

په دې وجه حضرت عبدالله بن حجش رضي الله عنه د مجدع فی الله په لقب سره مشهور شو۔ (یعني هغه کس چه د الله تعالیٰ په لار کښې ئې غوږونه او پوزه کټ شوې وی) (الاصابه ج۲ ص ۲۸۷)

د خداوند ذوالجلال محبان او مخلصان عاشقان او درد مند هم دغه شان حال لری چه د خدائے پاک په لاره کښې سر قربانول خپل سعادت ګنړی- د ژوند په مقابله کښې هغوی ته مرګ زیات خوندور او مزین ښکاری -ځکه چه مرګ هغوی د محبوب حقیقی (یعنی د حق تعالیٰ) د ملاقات ذریعه او د دنیا د قید نه د آزادیدو او د جنت باغونو ته د رسیدو سبب ګنړی۔

تلخ نبود پیش ایشا مرګ تن
چون روند از چاه زندان در چمن
تلخ کے باشد کسے راکش برند
از میان زهر ماران سوائے قند

فائده

کله چه حق تعالیٰ د انسان د خلیفه جوړولو اراده ووکړه نو فرشتو عرض اوکړو

أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ (سورة البقره: ۳۰)

یعنی ته داسے کس په زمکه کښې خلیفه جوړوے چه هغه به په زمکه کښې فساد او خونریزی کوی-حالانکه هره لمحه او هره لحظه مونږ ستا ثناء صفت او ستا پاکی بیانوو

په انسان کښې دوه قوتونه وی۔ یو د شهوت قوت چه هغے سره زنا وغیره صادر یږی -چه هغه ملائکو "مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا" سره بیان کړو۔ او بل د غصے قوت چه هغے سره قتل-وهل ټکول او خونریزی کیږی۔دا خبره ملائکو په " وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ " سره ذکر کړه۔

ملائکو د انسان دا نقصانات ذکر کړل خو دا خیال ئے وو نۀ کړو-چه هم دا شهوتی قوت چه کله د دے رخ الله تعالیٰ طرف ته وا ړولے شی نو ددے نه هغه ثمرات او نتیجے ښکاره کیږی چه فرشتے هم بیا د خوشحالۍ نه په ټوپونو شی یعنی د خدائے پاک د عشق غلبه او د هغۀ د محبت جوش او خروش۔ او دغه شان چه دا غضبی قوت د الله تعالیٰ په کارخانه کښې وولګی- نو ددے هم ډیرے ناآشنا او عجیبه نتیجے ښکاره کیږی چه فرشتے ورته ووګوری نو حیرانے شی۔ یعنی دالله تعالیٰ په لاره کښې د ځان بائیللو او د سر داؤ کولو او د هغۀ د دښمنانو سره جهاد او قتال۔

نشود نصیب دشمن کہ شود هلاک تیغت
سر دوستان سلامت کہ تو خنجر آزمائی

فرښتے خو شپه او ورځ د الله تعالیٰ تسبیح او تقدیس کښې لګیا وی خو د هغۀ په لاره کښې په درد او عشق سره د ځان قربانولو او د سر ورکولو جذبه په دوی کښې نۀ وی۔ هغوی ددے دولت او نعمت نه محرومه دی۔ او بیا دا چه د هغه حقیقی محبوب دپاره ځان قربانول او د هغۀ په لاره کښې شهید کیدل دا هغه نعمت دے - چه په فرشتو کښې د دے امکان هم نشته دے۔ په انسان کښې اګر چه د فرشتو په شان معصومیت نشته دے - خو د ګناه نه پس د انسان دپریشانۍ نه ډکه پښیمانتیا او شرمندګی اود وس بر ژړا او فریاد انسان داسے غټو غټو درجو او مرتبو ته رسوی چه فرشتے ډیرے لاندے پاتے شی

مرکب توبه عجائب مرکب است
بر فلک تازد بیک لحظه زبست
چون برارند از پشیمانی انین
عرش لرزد از انین المذنبین

په دے وجه د اهل سنت والجماعت اجماع ده - چه ټول انبیاء مرسلین د مقربو فرشتو نه غوره او برتر دی او صحابه او تابعین او صدیقین او شهداء او صالحین د زمکے او اسمانونو د باقی فرشتو نه اشرف دی - (کذافی البحر الرائق ج ۱ ص ۳۳۳، وان شئت زیادة تفصیل فارجع الیه) او صالحانے مؤمنانے د حورعین نه غوره دی (کذافی الیواقیت والجواهر)

د حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام رضی الله عنه د شهادت ذکر

د حضرت جابر رضی الله عنه پلار حضرت عبد الله بن عمرو بن حرام انصاری رضی الله عنه هم په دغه جنګ کښې شهید شو۔

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه ځما پلار په جنګ احد کښې شهید شو۔ او کافرانو د هغۀ مثله ووکړه چه کله د هغوی لاش نبی کریم ﷺ ته مخے ته کیخودے شو نو ما د خپل پلار د مخ نه کپړه ووچته کړه چه وے وینم - نو صحابه کرامو رضی الله عنهم منعه کړم۔ ما دوباره مخ کتلو - نو بیا ئے منعه کړم خو رسول الله ﷺ اجازت ووکړو۔

ځما ترور فاطمے بنت عمرو چه ډیر ووژړل نو حضور پاک ﷺ ورته ووفرمائیل چه

ژاړے ولے؟ په دۀ باندے خو فرشتو سورے جوړ کړے دے۔ بیا د هغۀ جنازه ووچته کړے شوه (بخاری شریف)(دا حدیث د بخاری شریف په ګنړو بابونو کښې ذکر دے۔ مثلا کتاب الجنائز ص١٦٦ ، ص١٧٢ کتاب الجهاد ص٣٩٥ ، کتاب المغازی ص٥٨٤)

یعنی دا مقام د ژړا نۀ دے بلکه د خوشحالئ دے چه فرشتو ستا په وروړ باندے سورے جوړ کړے دے۔

حضرت جابر رضی الله عنهُ فرمائی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ ماته ووکتل نو وے فرمایل چه اے جابره په تا څۀ چل دے؟ چه څۀ تا غمژن وینم -نو ما عرض ووکړو چه یا رسول الله ﷺ ځما پلار په دے غزا کښې شهید شواو د کور خرچه او د قرض بوج ئے ما ته پریښودے دے۔ هغوی ووفرمائیل چه ځۀ تاته یو زیرے درنۀ کړم۔ ماعرض ووکړو چه یا رسول الله ﷺ ولے نه۔ خامخا راته واؤروئ۔ هغوی راته ووفرمائیل چه چا سره الله تعالیٰ خبرے کړے دی نو د پردے شاته ئے کړے دی خو الله تعالیٰ ستا پلار ژوندے کړو او مخامخ په مخامخ ئے ورسره خبرے ووکړے۔ او دا ئے ورته ووئیل۔ چه اے ځما بنده خپله څۀ تمنا ماته ووایه نو ستا پلار عرض ووکړو چه اے پروردګار تمنا مے داده چه څۀ بیا ژوندے کړے شم او ستا په لاره کښې بیا قتل کړے شم- الله تعالیٰ ورته ووفرمائیل چه دا خو نۀ شی کیدے -ځکه چه دا خو فیصله شوے خبره ده چه د مرګ نه پس دوباره واپسی نیشته-(ترمذی شریف کتاب التفسیر سورة آل عمران) (حافظ عسقلانی فتح الباری کښې فرمائی رواه الترمذی وحسنه والحاکم وصححه، فتح الباری ج٦ ص ٢٥ باب تمنی المجاهد ان یرجع الی الدنیا) عبد الله بن عمرو بن حرام وائی چه د احد نه مخکښې ما مبشر بن عبد المنذر په خوب کښې ولیدلو-چه دے وائی چه اے عبد الله؛ تۀ هم ډیر زر مونږ له راتلو والا ئے۔ ما ووئیل تاسو کوم ځائے یئی -دوی ووئیل مونږ جنت کښې یو۔ چرته چه مونږ غواړو سیل دپاره ځو۔ ماورته ووئیل چه ولے تۀ په بدر کښې قتل شوے نۀ وے څۀ؟ مبشر ووئیل چه او خو بیا مونږه ژوندی کړے شو۔

حضرت عبد الله رضی الله عنه فرمائی چه داخوب ما رسول الله ﷺ ته ذکر کړو نو هغوی ووفرمائیل چه اے ابو جابره؛ ددے تعبیر شهادت دے۔ (زاد المعاد ج ٢ ص٩٦ ، فتح الباری ج٣ ص١٧٢)

دحضرت عمرو بن جموح رضی اللہ عنہ د شهادت ذکر

هم په دغه غزا کښې د حضرت عبد الله بن عمرو بن حرام اوښے حضرت عمرو بن جموح رضی الله عنه هم شهید شو- د دوی د شهادت واقعه هم ډیره عجیبه ده۔ عمرو بن جموح رضی الله عنه په خپه ګډ وو او ګډ والے هم معمولی نۀ وو بلکه سخت وو څلور ځامن ئے وو چه په هره غزا کښې به رسول اللهﷺ سره ملګری وو -احد ته د تلو په وخت کښې ئے هغوی ته ووئیل چه زۀ تاسو سره جهاد ته ځم۔ځامنو ورته ووئیل چه تۀ معذور ئے۔ الله پاک تاته رخصت درکړے دے- تۀ دلته پاتے شه خو دعزیمت عاشق رخصت باندے عمل کولو ته تیار نۀ وو -د شهادت په شوق کښې دومره بے قراره او بے آرامه وو چه هم په دغه حالت کښې په ګډه ګډه په دربار نبوی کښې حاضر شو او عرض ئے ووکړو -چه یا رسول اللهﷺ ځما ځامن ما تاسره د تلو نه منعه کوی۔

والله انی لارجوان اطأ بعرجتی هذه فی الجنة.

په خدائے قسم چه ځۀ خامخا دا امید لرم چه ځۀ به په دے ګډه خپه په جنت کښې ووګرزم-

رسول اللهﷺ ورته ووفرمائیل چه الله تعالیٰ تۀ معذوره کړے ئے- په تا باندے جهاد فرض نۀ دے او دۀ ځامنو طرف ته ئے مخ کړو- او دا ارشاد ئے ووفرمائیلو- چه څۀ تکلیف دے کۀ چرے تاسو دے د جهاد نه منعه نۀ کړئ- شاید چه الله تعالیٰ دۀ ته شهادت نصیب کړی- نو دے جهاد ته ووتلو او شهید شو رضی الله عنه (ابن هشام ج ۲ ص ۸۸، البدایة والنهایة ج ۴ ص ۳۷)

اومدینے نه د تلو په وخت ئے قبلے ته مخ کړو او دا دعاء ئے ووغوښتله

اللهم ارزقنی الشهادة ولا تردنی الی اهلی

اے الله ماته شهادت رانصیب کړه او ما کور والاؤ ته واپس مۀ کړے۔

په دے غزا کښې ددۀ ځوے خلاد بن عمرو بن جموح هم شهید شو- د عمرو بن جموح بی بی هنده بنت عمرو بن حرام چه د عبد الله بن عمروبن حرام رضی الله عنه خور او دحضرت جابر رضی الله عنه ترور وه- هغے دا اراده ووکړه چه درے واړه یعنی خپل ورور عبد الله بن عمرو بن حرام او خپل ځوے خلاد بن عمروبن جموح او خپل خاوند عمروبن جموح په یو اوښ سوارۀ کړی-او مدینے ته ئے یوسی او هلته درے واړه دفن کړی۔ خو چه کله د مدینے قصد کوی نو اوښ کښیني او چه کله ئے د احد طرف ته

کړی نو تیز ځی۔

هنده راغله او رسول الله ﷺ ته ئے عرض ووکړو۔ هغوی ورته ووفرمائیل چه عمرو بن جموح د مدینے نه د تلو په وخت کښې څهٔ وئیلی وو ؟۔ هندے ورته د هغے دعاء ذکر ووکړو چه هغهٔ دتلو په وخت کښې کړے وه۔ پیغمبر علیه السلام ووفرمائیل چه د دے وجے نه دا اوښ نهٔ ځی او دا ئے ووفرمائیل

والذی نفسی بیده ان منکم من لو اقسم علی الله لا بره منهم عمر وبن الجموح ولقد رائیته یطاء بعرجة فی الجنة

قسم مے دے وی په هغه ذات چه د هغهٔ په قبضه کښې ځما ساه ده چه خامخا په تاسو کښې بعضے داسے هم دی چه که چرے په الله باندے قسم ووخوری نو الله جل شانه به د هغهٔ قسم ضرور پوره کوی۔ په دوی کښې عمرو بن جموح هم دے۔ او په تحقیق سره ما هغه ولیدهٔ چه په ګوډه ګوډه په جنت کښې ګرزیدهٔ (زرقانی ج۲ ص۵۰ روض الانف ج۲ ص۱۳۹ ، عیون الاثر ص۳۴۷)

عبد الله بن عمرو بن حرام او عمروبن جموح دواړه د احد سره نزدے په یو قبر کښې دفن کړے شو۔

د حضرت خیثمه رضی الله عنه د شهادت ذکر

خیثمه رضی الله عنه (چه د هغهٔ ځوئے سعد رضی الله عنه په بدر کښې رسول الله ﷺ سره شریک شوے وو۔ او شهید شوے وو)د پیغمبر علیه السلام په بارګاه کښې حاضر شو او عرض ئے ووکړو چه یا رسول الله ﷺ افسوس ما نه د بدر غزا پاتے شوه چه په هغے کښې د شرکت څهٔ ډیر حریص او شوقمند ووم۔ تردے چه ددے سعادت حاصلولو دپاره ما خپل ځوی سره قرعه اندازی ووکړه۔ (چه د هغے تفصیلی قصه د غزوهٔ بدر په بیان کښې تیره شوے ده)مګر دا سعادت ځما د ځوی سعد په قسمت کښې وو۔ قرعه د هغهٔ د نوم راووتله او شهادت هغهٔ ته نصیب شو او زهٔ پاتے شوم ۔ (د قرعه اندازئ تفصیلی قصه د غزوهٔ بدر په بیان کښې تیره شوے ده)

نن شپه ما خپل ځوئے په خوب کښې لیدلے دے۔ ډیر ښکلے او ښائسته شکل کښې دے۔ د جنت باغونو او نهرونو کښې سیل کوی او چکرے وهی۔ او ماته دا وائی چه اے پلاره ؛ ته هم دلته راځه دواړه به یو ځائے جنت کښې ووسو۔ ځما پروردګار چه ماسره

کومه وعده کړے وه هغه ما بالکل رشتونے وومونده۔
یا رسول الله ﷺ ؛ د هغه وخت نه څۀ د خپل ځوی سره د ملګرتیا په شوق کښې یم۔ بوډا شوم هډوکی م کمزوری شو۔ اوس مے دا تمنا ده چه څنګه به د خپل رب سره ملاؤ شم۔ یا رسول الله ﷺ؛ د الله نه دعاء ووغواړئ چه الله ماته شهادت او په جنت کښې د سعد سره ملګرتیا رانصیب کړی۔ رسول الله ﷺ د خیثمه رضی الله عنه دپاره دعاء ووفرمائیله۔ الله تعالیٰ د هغوی دعاء قبوله کړه او خیثمه رضی الله عنه د احد په جنګ کښې شهید شو۔ (زادالمعاد ج۲ ص۹٦)
ان شآء الله ثم ان شآء الله کلک امید دے چه خیثمه رضی الله عنه به خپل ځوی سعد سره ملاؤ شوے وی۔

د حضرت اصیرم رضی الله عنه د شهادت ذکر

عمرو بن ثابت رضی الله تعالیٰ عنه چه د اصیرم په لقب سره مشهور وو۔ همیشه به د اسلام نه لرے وو۔ کله چه د احد ورځ وه نو اسلام ئے زړۀ ته پریوتلو او توره ئے واخیسته او میدان ته وورسیدۀ –او کافرانو سره ئے ښۀ جنګ ووکړو۔تر دے چه زخمی شو او راپریوتلو– خلقو چه هر کله وولیدل چه اصیرم دے۔نو ډیر حیران شو او تپوس ئے ووکړو چه اے عمرو؛ تۀ دے جنګ ته څۀ شی راوستے۔ ؟ د اسلام مینے۔ یا قومی غیرت ؟ اصیرم جواب ورکړو
بل رغبة فی الاسلام فاٰمنت بالله ورسوله فاسلمت واخذت سیفی وقاتلت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم حتی اصابنی ما اصابنی۔
بلکه د اسلام مینه د دے سبب شو– ایمان مے راوړۀ په الله باندے او د هغۀ په رسول ﷺ باندے۔ او مسلمان شوم۔ او توره م واخیستله او د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښے م دهغوی د دښمنانو سره جنګ ووکړو۔تر دے چه زخمی شوم۔
دا کلام ئے ختم کړو او په خپله هم ختم شو۔رضی الله تعالیٰ عنه
انه لمن اهل الجنة
یقینا هغه په جنتیانو کښں دے– (رواه ابن اسحق واسناده حسن)
حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه به فرمائیل ؛ ووښایئ هغه کوم سړے دے چه جنت ته وورسیدۀ اویو مونځ ئے هم نۀ وو کړے۔ ؟ هغه هم دا صحابی دے (اصابه ترجمه عمرو بن ثابت رضی الله تعالیٰ عنه وارضاه)

د مدینے منورے دسړو او د ښځو د حضور پاک ﷺ
دخیریت او سلامتیا معلومولو د پاره په ګنړه راجمعه کیدل

د جنګ په باره کښې چونکه مدینه منوره کښې د ډیرے ویرے خبرے خورے شوے وے۔ ددے وجے نه د مدینے سړی او ښځے او ماشومان او بوډاګان دخپلو خپلوانو نه زیات د حضور پاک ﷺ په سلامتیا سره او د روغ رمټ لیدلو آرمانی او شوقیان وو۔

نو هم دغه وجه وه چه حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالیٰ عنه روایت کوی۔ چه واپسئ کښې رسول الله ﷺ د انصارو د یوے زنانه خواته تیریدۀ۔ چه د هغے خاوند۔ ورور او پلار په دے جنګ کښې شهیدان شوے وو۔ هر کله چه دے ښځے ته د هغے د خاوند او د ورور او د پلار د شهادت خبر واؤرولے شو۔ نو دا ئے ووئیل چه اول خو راته دا ووایه چه رسول الله ﷺ څنګه دے۔؟ خلقو اووے چه د الله شکر دے چه روغ جوړ دے –او په خیریت سره دے۔ دے بی بی اووئیل چه ماته دے مخ مبارک ووښائی چه په خپلو سترګوئے ووینم۔ نو هله به په آرام شم۔ خلقو په اشاره پوهه کړه چه حضور ﷺ دادے۔ هر کله چه دے زنانه پیغمبر علیه السلام اولیدۀ نو دا ئے ووئیل چه:

کل مصیبة بعدک جلل ستاسو نه پس هر مصیبت هیڅ هم نۀ دے۔ (ابن هشام ج۲ ص ۱۲)۔

د جنګ په دوران کښې خاص د پریشانئ په حالت کښې د الله تعالیٰ خاص انعام
یعنی پرکالی راغله په هغه خلقو باندے په کومو کښې چه د اخلاص محبت وو

هر کله چه یو شیطان دا خبر خور کړو چه حضور ﷺ شهید شو۔ نو بعضے مسلمانانو چه دا خبر واوریدۀ۔ نو د بشریت د تقاضے مطابق پریشانه شو۔ او د دے پریشانئ او د حیرانئ په حالت کښې د څه وخت د پاره د دوی خپے د جنګ د میدان نه اوښو ئیدے۔ او په دے معرکه کښې چه د چا د پاره د شهادت نیک بختی لیکلے وه۔ نو هغوی شهیدان شو۔ او چه د چا اخوا کیدل په نصیب کښې وو هغوی اخوا شو۔او چه کوم د جنګ په میدان کښې باقی پاتے شوے وو۔ په هغوی کښې چه کوم مومنان مخلص او د یقین او د توکل خاوندان وو۔ په هغوی باندے د حق تعالی له اړخه یو پرکالی راغله۔ دا خلق په ولاړه پرکاله شو۔ چه په هغوی کښې حضرت ابو طلحه رضی الله تعالی عنه هم وو۔ ابو طلحه رضی الله عنه فرمائی چه څو ځله توره ځما د لاسه ووغورزیدله او زمکے ته پریوته۔ توره به ځما د لاس نه پریوته او ما به را

وُچتولہ۔ دا د باطنی سکون یو حسی اثر وو۔ چه حق تعالی په دے موقعه باندے د یقین خاوندانو ته ورکړے وو۔ چه هغے سره د کافرانو ویره د دوی د زړهٔ نه فوراً لرے شوه۔ او د منافقانو ډله چه په جنگ کښں شریکه وه۔ هغوی په دے وخت کښں سخت ناقراره وو۔ هغوی ته صرف د خپل ځان د بچ کولو فکر وو۔ دے کم بختوته خوب رانغے د دوی باره کښں دا آیتونه نازل شو۔

ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ (ال عمران آیت ۱۵۴)

بیا الله تعالی د دے غم نه پس یو د امن او د سکون حالت نازل کړو۔ یعنی په تاسو کښں په یو ډله باندے پرکالی راخوره شوه چه هغوی ئے راګیر کړے وو۔ او یوه بله ډله داسے وه چه هغوی سره د خپل ځان فکر وو۔ او په خدائے تعالی باندے د جاهلیت پشان بد ګمانئ کښں اخته وو۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي۔ چه کومه ډله باندے خوب غلبه اوکړه هغه ډله د ایمان والؤ وه۔ چه په هغوی کښں د یقین او کلک پاتے کیدو او د رښتونی توکل صفت موجود وو۔ او هغوی ته دا یقین وو چه الله تعالیٰ به ضرور د خپل رسول ﷺ مدد کوی۔ او خپل رسول ﷺ سره ئے چه کومه وعده کړے ده هغه به پوره کوی۔ او بله ډله چه هغوی د خپل ځان فکر اخستے وو او په دے فکر کښں د هغوی خوب تښتیدلے وو۔ هغه د منافقانو ډله وه۔ هغوی سره صرف د خپل ځان غم وو۔ د اطمینان او د امن د خوب نه محرومه وو۔ د اصل عبارت الفاظ دا دی۔ ثم انزل علیکم من بعد الغم امنة نعاسا یغشی طآئفة منکم یعنی اهل الایمان والیقین والثبات والتوکل الصادق وهم الجازمون بان الله عز وجل سینصر رسوله وینجزله ماموله الخ. تفسیر ابن کثیر ج ۱ ص ۴۱۸)

جنګ کښں د ښځو شرکت او د هغے حکم

دے جنګ کښں د مسلمانانو ښځو هم شرکت کړے وو۔ صحیح بخاری کښں د حضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه د احد په ورځ ما حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها او خپله مور ام سلیم رضی الله تعالی عنها اولیدے چه پینڅے ئے پورته کړے وے۔ د اوبو مشکونه به ئے را ډکول۔ او په شا به ئے راوړل او په خلقو باندے به ئے اوبهٔ څښلے۔ چه کله به مشک خالی شو نو بیا به ئے را ډکولو۔

صحیح بخاری کښں دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے۔ چه

دحضرت ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه مور حضرت ام سلیط رضی الله تعالی عنها به هم د احد په ورځ مونږ له د ابو ډک مشکونه راوړل۔

صحیح بخاری کښې ربیع بنت معوذ رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه مونږ به غزاګانو کښې رسول الله ﷺ سره تلو چه خلقو باندے اوبه اوڅښوو۔ زخمیانو له پټئ اوکړو۔ او وژلی شوی راپورته کړو۔ او راوړے ړو۔

دخالد بن ذکوان په روایت کښې د (ولانقاتل) اضافه هم ده۔

ربیع وائی چه مونږ به په جګړه کښې حصه نۀ اخیسته۔ دا درے روایتونه د صحیح بخاری په کتاب الجهاد کښې ذکر دی۔ تفصیل د پاره فتح الباری ج ٦ ص ۵۷ تا ص ٦٠ ووګورئ۔ سنن ابن ماجه کښې دی چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړے شو۔ علی النساء جهاد؟ چه په ښځو باندے هم جهاد شته؟۔

هغوی ارشاد اوفرمائیلو۔ نعم جهاد لا قتال فیه الحج والعمرة او۔ په دوی باندے داسے جهاد دے چه په هغے کښې جنګ نیشته۔ یعنی حج او عمره (فتح الباری کتاب الحج باب حج النساء)

د صحیح بخاری کتاب العیدین کښې د ام عطیه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه مونږ به په غزاګانو کښې د مریضانو د خبر اخستلو او د زخمیانو د علاج په غرض د رسول الله ﷺ سره شریکیدو۔

دے ښځو صرف زخمیانو له اوبۀ ورکولے۔ او د مریضانو خبر به ئے اخیستلو لیکن قتال به ئے نۀ کولو۔ مګر ام عماره رضی الله تعالیٰ عنها چه کله اولیدل چه ابن قمیه رسول الله ﷺ باندے حمله کوی نو دا په دے حالت کښې رامخکښے شوه او مقابله ئے اوکړه۔ په اوږه باندے ئے یو سخت زخم راغے۔ ام عماره رضی الله تعالیٰ فرمائی۔ څۀ هم ور روانه شوم۔ او په ابن قمیه باندے مے ګذار اوکړو۔ مګر د الله دښمن زغره اغوستے وه۔ (البدایه والنهایه ج ۴ ص ۳۴۔ ابن هشام ج ۲ ص ۸۴)

په دے غزا کښې صرف یو ام عماره رضی الله عنها په جهاد کښې شریکه وه۔ دے نه علاوه ټولو غزاګانو کښې سوا د یو دوو ښځو نه د نورو ښځو په جهاد او قتال کښې شریکیدل د حدیثو دیوے ذخیرے نه هم ثابت نۀ دی۔ او نۀ د یو حدیث نه د رسول الله ﷺ ښځو ته د جهاد ترغیب ورکول ثابت دی۔

دے وجے نه د ټول امت په دے باندے اجماع ده۔ چه ښځو باندے جهاد فرض نۀ دے۔ سوا د دے نه چه کفار په ګنړه راشی او مجبوریٔ نه د ښځو د شرکت ضرورت پیښ شی۔

د ښځو فطري کمزوري او د هغوی طبعي طاقت نۀ لرل پخپله د دې خبرې دلیل دې. چه په دوی باندې جهاد او قتال لازمول دهغوی د فطرت او طبیعت خلاف دي.

قال تعالیٰ:

لَیۡسَ عَلَی الضُّعَفَآءِ وَ لَا عَلَی الۡمَرۡضٰی وَ لَا عَلَی الَّذِیۡنَ لَا یَجِدُوۡنَ

یعني ضعیف. کمزوري. مریض او طاقت نۀ لرونکو باندې جهاد فرض نۀ دې.

رسول اللهﷺ په هر جهاد کښ دا تاکید فرمائیلے دے. چه هیڅ یوه ښځه مۀ قتلوئ. یو ځل هغوی یوه ښځه وژلے شوې ولیده (چه په غلطۍ سره وژلے شوې وه) نو وې فرمائیل.ما کانت هذه لتقاتل دا خو د قتال قابله نۀ وه.

صحیح بخاري کښ د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه مونږ عرض ووکړو. یا رسول اللهﷺ؛ مونږ جهاد دتولونه افضل او بهتر عمل ګنړو. نو آیا مونږه ښځې په دیکښ شریکیدے نۀ شو؟ هغوی ووفرمائیل چه نا. ستاسو جهاد خو حج مبرور دے

اصل حکم د ښځو د پاره دا دے. وَ قَرۡنَ فِیۡ بُیُوۡتِکُنَّ خپلو کورونو کښ اوسئ او بهر مۀ او ځئ (اوګوری شرح سیر کبیر ج ۱ ص ۹۲)

په دے وجه رسول اللهﷺ د ښځو دپاره په جمع کښ حاضریدل هم نۀ دي خوښ کړے. او د عطرو او خوشبو لګول او د ښکلے کپړو اچولو سره جومات ته د راتلو نه ئې ښکاره منعه فرمائیلے ده. او د کور د انګنړ په ځائے په دالان کښ او د دے نه زیات په کوټګۍ کښ ئې د ښځو مونځ غوره کړے دے. نو هرکله چه پاک شریعت د مونځ په صف کښ د ښځو حاضري نۀ خوښوي نو د جهاد او د قتال په صف کښ به ئې حاضر یدل بغیر د ضرورته څنګه خوښ کړي.

په دے وجه فقیهانو حضراتو نور الله مرقدهم دا فتوی ورکړے ده. چه د مونځ په جمع کښ او په جهاد کښ د ښځو حاضریدل ښۀ کار نۀ دے. مګر د مجاهدینو امداد او د مریضانو او د زخمیانو د خبر اخیستو په غرض صرف د هغه ښځو حاضریدل جائز دي چه دهغوی حاضریدو سره فتنه نۀ پیدا کیږي. یعني بوډۍ وي. په دے شرط سره چه خاوند یا محرم هغوی سره وي. څنګه چه په حدیث کښ دي. چه دهیڅ یوے ښځے د پاره جائز نۀ دي چه بغیر د خاوند نه یا بغیر د ذی رحم محرم نه د حج یا د بل څه قسمه سفر اوکړي. په دے وجه بعضے فقهاء فرمائي چه په کومے ښځے باندے د

مالدار کیدلو او د طاقت لرلو په وجه حج فرض شي او خاوند یا بل یو محرم رشته دار ئے نۀ وي نو په هغے باندے نکاح واجب ده چه نکاح ووکړي او خاوند سره حج له لاړه شي چه سفر ئے بغیر د محرم نه وونۀ شي۔

په جماعت کښ د ښځو د پاره حاضریدل په دے شرط سره جائز دي چه د دوی حاضریدل د فتنے سبب نۀ وي یعني فتنه ورسره نۀ پیدا کیږي او که داسے نۀ وي۔ نو بیا حاضریدل نا جائزه او حرام دي۔

دغه شان په هسپتالونو کښ د ښځو د پاره د پردو سړو علاج کول بے شکه حرام دي۔

اے زما دوستانو ؛ دے موجوده تهذیب ته مۀ ګورئ۔ د موجوده تهذیب بنیاد۔ بلډنګ او ټول فرش په نفساني شهوتونو او په شیطاني لذتونو باندے جوړ دے۔ او د حضراتو انبیائے کرامو شریعتونه په شرم۔ حیا۔ عصمت او پاکدامنۍ باندے ولاړ دي۔ چاله چه خدائے تعالیٰ عقل ورکړے دے۔ هغه به د پاکدامنۍ او د شهوت فرق کولے شي او څوک چه د نفس او د شیطان غلام وي هغۀ ته دا خطاب فضول دے۔ د داسے بے عقلو په نیز باندے په نکاح او په زنا کښ فرق نشته۔ الله اکبر ؛ څنګه وخت راغلے دے۔ چه هر کله شریعت د عفت او د عصمت طرفته دعوت ورکوي۔نو دا د شهوت بندیګان په هغے باندے نکته چیني کوي یعني په هغے کښ عیبونه راوباسي۔

دا احد د شهیدانو کفن دفن

په دے غزا کښ اویا صحابه شهیدان شول۔ چه په هغے کښ زیات انصار وو۔ د بے سروسامانۍ یعني د سامان د نیشتوالي دا حالت وو چه دکفن څادر هم پوره نۀ وو۔ چنانچه مصعب بن عمیر رضی الله تعالیٰ عنه سره دا واقعه پیښه شوه چه د کفن څادر ئے دومره وړوکے وو چه سر به ئے ورله پټولو نو خپے به ئے ښکاره کیدے۔ او که خپے به ئے پټولے نو سر به ئے ښکاره کیدۀ۔ آخر(پیغمبرعلیه السلام) دا ارشاد ووفرما ئیلو۔ چه سر ورله پټ کړئ او په خپو باندے ورله اذخر واچوئ۔ (اذخر یوقسم وابنۀ دی) (صحیح بخاري غزوۀ احد)

او دا واقعه دسید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالیٰ عنه سره هم پیښه شوه۔ څنګه چه په طبراني کښ د حضرت ابو اسید رضی الله تعالیٰ عنه نه او په مستدرک حاکم کښ دانس رضی الله عنه نه روایت دے۔ د طبراني د سند ټول راویان ثقه دي۔

او بعضو ته دا هم ووښه رسیده. دوؤ دوؤ سړو ته ئې په یو څادر کښې کفن ورکړو. او دوه دوه او درې درې به ئې یو ځائې کول. او په یو قبر کښې به ئې خښول (د درې درې لفظ د صحیح بخاری په روایت کښې نشته بلکه د سنن روایت دے چه امام ترمذی د هغې تصحیح کړې ده. فتح الباری ص ۱۴۹ ج ۳ کتاب الجنائز). د دفن په وخت کښې به ئې دا معلومولو چه په دوی کښې زیات قران چاته یاد دے. چه د چا طرف ته به اشاره کیدله نو هغه به ئې قبلې طرفته په لحد کښې مخکښې کیخوده. او دا ارشاد به ئې فرمائیلو.

انا شهید علی هٰؤلآء یوم القیامة

د قیامت په ورځ به زه د دے خلقو په حق کښې ګواهی کوم.

او دا حکم ئې ووکړو چه دغه شان بغیر د غسل ورکولو په وینو کښې لړلے ئې خښ کړئ. (صحیح بخاری کتاب الجنائز)

صحیح بخاری کښې د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د احد په شهیدانو د جنازے مونځ نۀ وو کړے. لیکن د سیر د ټولو عالمانو په دے باندے اتفاق دے چه هغوی د احد په شهیدانو د جنازے مونځ کړے وو. او یو څو روایتونه د حدیث هم د دے مرسته کوونکی او ملګرتیاکوونکی دی. حافظ علاؤالدین مغلطائی په خپل سیرت کښې په دے باندے اجماع نقل کړے ده. د دے وجے نه حافظ موصوف د دے عنوان لاندے. (الصلاة علی الشهداء من غیر غسل) دا لیکلی دی وصلی علی حمزة و الشهداء من غیر غسل وهذا اجماع الاماشذبه بعض التابعین قال السهیلی لم یرد عنه صلی الله علیه وسلم انه صلی علی شهیدفی شیء من مغازیه الا فی هذه وفیه نظر لما ذکره النسائی من انه صلی علی اعرابی فی غزوة اخری. د باقی تفصیل د پاره د حدیثو کتابونه کتل پکار دی.

بعضے خلقو دا اراده ووکړه چه خپل خپل شهیدان د دفن دپاره مدینے ته یوسی. لیکن رسول الله ﷺ منعه ووفرمائیله او دا حکم ئې ورکړو چه کوم ځائې شهید شوے دے هلته ئې دفن کړئ. (ابن هشام ج۲ ص۹۱)

دقوم شهید

د احد په ورځ قزمان نومے یو سړی ډیره زیاته جانبازی او سرفروشی اوښودله او په یواځې ئې اووۀ(۷) یا اتۀ(۸) مشرکان قتل کړل او په اخر کښې پخپله زخمی شو. چه کور ته ئې راؤړو نو بعضے اصحابو ورته داسے اوویل

واللہ لقد ابلیت الیوم یا قزمان فابشر

پہ خدائے قسم؛ اے قزمانہ؛ نن تا ډیرہ لویہ کارنامہ اوکړہ۔ تا تہ دے مبارک شی۔

قزمان ورتہ جواب ورکړو۔

اذا ابشر فوا اللہ ان قاتلت الا عن احساب قومی ولولا ذلک ماقاتلت

تاسو ماتہ د کوم شی مبارکی راکوئ۔ پہ خدائے قسم۔ ما د اللہ او د ھغۂ د رسول ﷺ د پارہ قتال نۂ دے کړے بلکہ صرف د خپل قوم د خیال ساتلو او د بچ کولو پہ غرض مې قتال کړے دے۔

د دے نہ پس چہ کلہ ئے د زخمونو تکلیف زیات شو نو خودکشی ئے ووکړہ۔ (البدایہ والنھایہ ج۴ ص۳٦) دا قصہ پہ تفصیل سرہ د بخاری او فتح الباری پہ حوالہ د جهاد پہ بحث کښې تیرہ شوے دہ۔

فائدہ

دا سړے اصل کښې منافق وو۔ د مسلمانانو پہ ملگرتیا کښې ئے چہ کومے کارنامے اوکړے ھغہ ئے صرف د قوم او د وطن پہ ھمدردئ کښې اوکړے تر دے چہ ھم پہ دے کښې اووژلے شو۔ پہ دے وجہ نبی کریم ﷺ ارشاد ووفرمائیلو چہ دا سړے د اھل نار نہ دے۔ د خدائے پہ نیز شھید ھغہ دے چہ د اللہ تعالیٰ د کلمے د پورتہ کولو د پارہ جهاد اوکړی۔ او کوم کس چہ د قوم او د وطن د پارہ جنگ ووکړی او مړ شی۔ ھغۂ تہ د دے زمانے د محاورے مطابق د"قوم شھید" وئیلے کیدے شی۔ خو پہ اسلام کښې ھغہ شھید نۂ دے۔ ھم د دے قزمان واقعہ پہ شروع کښې ھم د دے عنوان ' د جهاد حقیقت لاندے مفصلہ تیرہ شوے دہ۔ ھلتہ دے اوکتلے شی۔

تنبیہ

قال ابن کثیر وقد ورد مثل قصہ ھذافی غزوۃ خیبر کما سیاتی ان شاء اللہ تعالیٰ (البدایہ والنھایہ ج۴ ص ۳٦)

رازونہ او حکمتونہ

حق تعالی د احد د غزا بیان پہ شپیتو آیتونو کښې کړے دے چہ شروع ئے د دے آیت نہ ووکړہ۔ ﴿وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ﴾ پہ دے کښې ئے پہ بعضے آیتونو کښې دے خبرے تہ اشارہ فرمائیلے دہ چہ د مسلمانانو د شکست اسباب۔ علتونہ، رازونہ او حکمتونہ څہ څہ دی۔ پہ مختصر وضاحت سرہ کتونکو

ته وړاندې کوو۔

❶ دپاره د دې چه معلومه شي چه د الله تعالى د پیغمبر ﷺ د حکم نۀ منلو او د همت بیللو او په خپل مینځ کښې د جهګړې انجام څۀ وی؟

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ

او یقیناً الله تعالیٰ تاسو سره خپله وعده ریښتنې کړه چه تاسو د الله تعالى په حکم باندې کافران قتلول۔ تر دې چه کله تاسو څه بزدلی ښکاره کړه او په خپلو کښې په جهګړه شوئ۔ او نافرمانی مو ووکړه پس د هغې نه چه الله تعالى تاسو ته ستاسو خوښ شې یعني فتحه او نصرت ووښودلو۔ بعضو په تاسو کښې دنیا غوښتله او بعضې په تاسو کښې خالص د آخرت طلبګار وو۔ بیا الله تعالیٰ تاسو د هغوی نه وروستو کړئ یعني شکست ئې در کړو۔ چه ستاسو امتحان ووکړي او ستاسو دا خطائي الله تعالى معاف کړله او الله تعالى په ایمان والؤ باندې ډیر فضل کولو والا دې۔

❷ او چه د پوخ او دکچه او د ریښتوني او د دروغژن فرق ووشي۔او چه دمخلص او دمنافق اخلاص او نفاق او ریښتیا او دروغ داسې ښکاره شي چه هیڅ قسمه شبهه پکښې پاتې نۀ شي۔

او د الله تعالى په علم کښې خو د مخکښې نه مخلص او منافق په فرق وو۔ خو الهی سنت په دې طریقه جاري دی۔ چه صرف د علم الهی په بنیاد باندې جزاء او سزا نۀ ورکوی۔ چه کوم شې د الله تعالى په علم کښې پټ دې۔ نوتر کومې پورې چه هغه په مشاهدې سره محسوس شوې نۀ وی تر هغې پورې په هغې باندې ثواب او سزا نۀ مقرر کیږی۔

در محبت هر که او دعوے کند
صد هزاران امتحاں بروے تند
گر بود صادق کشد بار جفا
ور بود کاذب گریزد از بلا
عاشقان را درد دل بسیار می باید کشید
جور یار و غصه اغیار می باید کشید

۳ او چه خپلو خاصو محبینو او مخلصینو او د الله پاک د دیدار خواهش مندو ته د شهادت دا لوئے او عظیم نعمت ورنصیب شی۔ چه دوی ئے د مخکښ نه آرزو کوله۔ او په بدر کښ ئے فدیه په دے امید اخستے وه چه په راتلونکی کال کښ به زمونږ نه او یا کسان د الله تعالی د لارے شهادت حاصلوی۔ څنګه چه تیر شوی دی۔ او دا نعمت او دولت الله تعالی صرف خپلو دوستانو ته ورکوی۔ ظالمانو او فاسقانو ته دا نعمت نهٔ ورکیږی۔ الله تعالی فرمائی۔

وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ (آل عمران آیت ۱۴۰)

او چه الله تعالی مخلص مومنان جدا کړی۔ او په دوی کښ بعضے شهیدان جوړ کړی او الله تعالی ظلم کوونکو سره محبت نهٔ کوی

۴ او چه مسلمانان په دے شهادت سره او شکست سره د ګناهونو نه پاک او صفا شی۔ او چه کومے خطاګانے د دوی نه کیږی چه هغه د دے شهادت په برکت سره معاف شی۔

۵ او چه الله تعالی خپل دښمنان ختم کړی۔ ځکه چه کله د الله تعالی د دوستانو۔ محبینو ، او مخلصینو وینه دغه شان بهیږی نو د حق تعالیٰ غیرت په جوش کښ راځی او د الله تعالی د دوستانو وینے عجیبه رنګ راوړی چه د هغے انجام دا وی چه کومو دښمنانو د الله تعالی د دوستانو وینه بیولے وی هغوی په یو عجیبه طریقه باندے تباه کیږی او بربادیږی۔

دیدی که خون ناحق پروانه شمع را
چندان امان نداد که شب را سحر کند

کما قال الله تعالیٰ:

وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ (آل عمران آیت ۱۴۱)

او چه الله تعالی د مومنانو خیری میری صفا کړی او کافران ختم کړی۔

۶ او چه معلومه شی چه د الله تعالی سنت دادی چه ورځے اړوی راړوی۔ کله دوستانو ته فتحه او نصرت ورکوی او کله دښمنانو ته غلبه ورکوی۔

وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ (آل عمران آیت ۱۴۰)

او دا ورځے مونږ د خلقو په مینځ کښ اړوو راړوو۔

خو په آخر کښ غلبه د دوستانو وی۔ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ځکه چه که هر وختے ایمان والؤ ته فتحه کیږی نو ډیر خلق به صرف د نفاق سره د مسلمانانو په حلقه کښ شامل

شي او بیا به د مومن او منافق فرق پاتے نۀ شي۔ او دا به نۀ معلومیږي چه کوم یو کس خاص د اللّٰه تعالی بنده دے او کوم په دوی کښې د روپو پیسو غلام دے۔

اوکه چرے همیشه ایماندارو ته شکست وي نو د پیغمبرانو د رالیږلو مقصد به پوره نۀ شي۔ په دے وجه الهي حکمت دا غوښتل چه کله فتحه او نصرت وي او کله شکست وي چه کره او کوټه جدا شي۔ قال تعالی:

مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ (آل عمران آیت ۱۷۹)

اللّٰه تعالی مومنان په داسے حالت باندے پریښودل نۀ غواړي تر دے چه جدا کړي ناپاکه د پاکو نه ۔ او په آخر کښې غلبه او فتحه حق ته ملاؤ شي۔

❼ بلـه دا چه که همیشه دوستانو ته فتحه وي او هر جنګ کښې کامیابي دوی ته ملاویږي۔ نو دا ویره ده چه چرته د دوستانو دا پاک نفسونه په سرکشۍ۔ غرور او ځان خوښۍ کښې اخته نۀ شي۔ د انبیائے کرامو علیهم السلام نه پس د ټول انسانیت نه غوره په رښتیا سره زمونږ سردار حضرت ابو بکر صدیق رضی اللّٰه عنه وارضاه ته چه کله دا وو ئیلے شو چه تۀ مشرانو اصحابو او بدری حضراتو ته عهدے ولے نۀ ورکوے نو هغوی ووفرمائیل: اری ان لا تدنسهم الدنیا. زۀ دا غواړم چه په دنیا سره دا حضرات خیرن او خراب نۀ شي۔ غالبا دا روایت په حلیه الاولیاء کښې دے۔ یا په بل یو کتاب کښې دے۔ ماته په دے وخت کښې حواله یاده نۀ ده (و اللّٰه اعلم) په دے وجه مناسب داده چه کله راحت او آرام وي۔ او کله تکلیف او درد وي۔ کله سختي او کله نرمي وي۔ کله تنګي او کله فراخي وي۔

چونکه قبضے آیدت اے راهرو
آن صلاح تست آیس دل مشو
چونکه قبض آمد تو درویے بسط بین
تازه باش وشین می فگن برجبین

❽ او چه شکست ووخوري او زړه ئے درد مند شي نو د اللّٰه تعالی طرفته به په خشوع او زارۍ۔ په عاجزۍ او مسکینۍ سره مخه ووکړي۔ نو دغه وخت به دوی ته د اللّٰه تعالی د طرف نه عزت او پورته والے نصیب کیږي۔ کما قال تعالی:

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّ اَنْتُمْ اَذِلَّةٌ (آل عمران آیت ۱۲۳)

او یقینا اللّٰه تعالی په بدر کښې ستاسو مدد کړے وو حالانکه تاسو بے وسه وئ۔

وقال تعالیٰ:

وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا (سورة توبه آیت ۲۵)

او په حنین کښې چه کله تاسو خپل ډیر والی په ځان خوښې کښې اخته کړئ نو ستاسو ډیر والے ستاسو په کار رانغے۔ حق تعالی چه کله خپل خاص بنده ته عزت یا فتحه او نصرت ورکول غواړی نو اول په هغهٔ داسے حالت راولی چه هغه عاجزی خاکساری او د الله تعالی مخکښې ذلت اختیار کړی د پاره د دے چه نفس ئے پاک شی او د لوئ او ځان خوښې خرابه ماده د ویخه ختمه شی۔ دغه شان د ذلت نه پس عزت او د شکست نه پس فتحه او نصرت او د فنا نه پس بقا ور نصیب کوی۔

عارف رومی رحمه الله فرمائی:

بس زیاد تها دردن نقصها ست
مر شهید ان را حیات اندر فناست
مرده شوتا مخرج الحی الصمد
زنده ز ین مرده بیرون آورد
آن کسے راکه چنین شا هے کشد
سوے تخت و بهترین جا هے کشد
نیم جان بستاند و صد جان دهد
آنچه در وهمت نیا ید آن دهد

❾ او چه معلومه شی چه بغیر د لوئے مجاهدے نه او بغیر د پوره ریاضت نه په زړهٔ کښې د لوړو مرتبو او درجو طمعه ساتل مناسب نهٔ دی۔ کما قال تعالیٰ:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ (آل عمران آیت ۱۴۲)

ستاسو څهٔ گمان دے چه جنت ته به لاړ شئ او حال دا چه الله تعالی لا نهٔ دے کړے امتحان د مجاهدینو او صابرینو۔

❿ او چه ستاسو پاک نفسونه د دنیا طرفته د لگیدو نه بالکل پاک او بچ شی۔ او چه بیا د پاره چرے هم ستاسو په زړهٔ کښې د حلالے دنیا (یعنی مال غنیمت) خیال را نهٔ شی۔ تاسو څما د نبی د حکم خلاف د مال غنیمت په لیدو سره دغر نه ولے راکوز شوئ۔ مونږ دغه وخت ستاسو فتحه په شکست بدله کړه چه د دنیا گئ شته والے او نیشتوالے ستاسو په نظر کښې یو شان شی۔ نو ځکه فرمائی۔

فَاَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ (آل عمران آیت ۱۵۳)

نو د غنیمت مال طرف ته د مائل کیدو په سزا کښې الله تعالیٰ تاسو ته د غم د پاسه غم درکړو۔ چه بیا دپار تاسو داسې شئ چه که یو څیز ستاسو د لاس نه لاړ شي نو چه په هغې پسې تاسو نهٔ خفه کیږئ۔ او نهٔ د یو مصیبت په راړسیدو باندې پریشانی جوړوئ۔ او الله تعالیٰ ستاسو د اعمالو نه ښهٔ خبر دے۔

یعنی په دې عارضی شکست کښې زمونږ حکمت او مصلحت دا دے۔ چه تاسو د زهد او د صبر هغه د ټولو نه غوره مقام ته وورسئ چه کوم ځائے کښې د دنیا شتهٔ والے او نیشتوالے په نظر کښې برابر شی۔ څنګه چه الله تعالیٰ بل ځائے فرمائی۔

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِىْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ۝ (الحدید آیت ۲۲)

په زمکه کښې یا ستاسو نفسونو ته چه څه مصیبت هم رسیږی۔ نو هغه د مخکښې نه په لوح محفوظ کښې لیکلے وی۔ او دا کار یقینا اللّٰه‌تعالی ته آسان دے۔ او د مصائبو په نازلولو کښې د اللّٰه‌تعالی حکمت دا دے چه تاسو په صبر کښې دومره کامل او پاخهٔ شئ چه که چرې د دنیا څهٔ څیز ستاسو د لاسه ووځی نو چه په هغې پسې نهٔ خفه کیږئ۔ او که د دنیا څه څیز تاسو ته درکړی نو چه تاسو د هغې څیز په لیدو باندې مست نهٔ شئ۔ او اللّٰه‌تعالیٰ د مستیدونکو او فخرکونکو سره محبت نهٔ ساتی۔

د دنیا په راتلو سره د زړه نهٔ خوشحاله کیدل او په تلو سره زړهٔ نهٔ خفه کیدل۔ دا د زهد او د صبر د ټولو نه لوړ مقام دے۔ حق تعالی جل شانه په دې آیتونو کښې ارشاد ووفرمائیلو چه د احد په جنګ کښې صحابه کرامو ته چه کوم غم وورسیدو۔ فتحه ئې په شکست بدله شوه۔ په دې کښې د اللّٰه‌تعالی یو حکمت دا دے چه بیا د پاره د صحابه کرامو په زړهٔ کښې د دنیا په تلو باندې څه غم نهٔ راځی او د دنیا شتهٔ والے او نیشت والے د دوی په نظر کښې برابر شی۔ او په هر حال کښې د اللّٰه‌تعالی په کړو راضی او خوشحاله وی او د منافقانو او جاهلانو په شان په خدائے تعالی باندې بدګمانه نهٔ وی چه دې وخت کښې اللّٰه‌تعالی زمونږ مدد ولې وونهٔ کړو۔ د مخلص

محبت کونکی خو هم داسے شان پکار دے۔

زنده کنی عطائے تو
دریکشی خدائے تو
جان شده مبتلائے تو
هر چه کنی رضائے تو
ما پروریم دشمن ویامی کشیم دوست
جرأت کسی که جرح کند در قضائے ما

⓫ بله دا چه په دے واقعے سره مقصد د دوی په دے خبره پو هول وو۔ چه پیغمبر علیه السلام به وفات کیږی۔ او اوس اگر چه دے وخت کښ تاسو نه د بعضے کسانو د بشریت د تقاضے په وجه د رسول الله ﷺ د قتل دخبر په اوریدو سره خپے اوخویدے۔او د دے وجه معاذ الله بزدلی او نفاق نۀ وو۔بلکه د ایمان او د اخلاص انتها او ډیر زیات محبت او تعلق وو۔ چه زړونو د دے ویرے والا دخبرد اثر طاقت اونۀ لرلو او داسے پریشانه شو۔ چه د میدان نه ئے خپے او خویدے۔ د دے وجے نه۔

وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ (آل عمران آیت ۱۵۲)

حق تعالی شانه ستاسو دا قصور معاف کړو او الله تعالیٰ په ایماندارو باندے لوئے فضل کوونکے دے۔

خو د راتلونکی وخت د پاره هوښیار او خبر دار شئ۔ دهغوی د وفات نه پس د هغوی د دین دهغوی د سنت او د هغوی د استقامت د لارے نه او نۀ خوزئ۔ د هغوی دوفات نه پس به څه خلق د دین نه واوړی۔ دے سره د ارتداد فتنے طرفته اشاره وه۔ او مقصود ترینه خبردارے دے۔ چه د هغوی په طریقه ژوندی اوسئ او د هغوی په طریقه مړۀ شئ۔ که چرے محمد ﷺ وفات شی یا قتل شی۔ نو د هغۀ خدائے خو ژوندے دے او دا آیتونه ئے نازل کړل

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَاۡىِٕنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ وَ مَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْــًٔا وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ (آل عمران آیت ۱۴۴)

او نۀ دے محمد ﷺ مگر رسول دے چه د هغۀ نه مخکښ ډیر رسولان تیر شویدی نو کۀ د هغۀ وفات اوشی۔ یا هغه شهید شی نو ولے تاسو به د دین اسلام نه

اوړئ؟ او کوم سړے چه په پوندو واپس شو نو هرګز هرګز الله تعالی ته نقصان نهٔ شی رسولے او نزدے ده چه الله تعالی شکر ویستونکو ته انعام ورکړی۔

د دے وجے نه د رسول اللهﷺ د وفات نه پس د یمن قبیله همدان چه کله مرتد کیدله نو عبدالله بن مالک رضی الله عنه دوی راجمع کړل او دا خطبه ئے ورته اووے۔

یا معشر همدان انکم لم تعبدوا محمدا علیه السلام انما عبدتم رب محمد (علیه السلام) وهو الحی الذی لا یموت غیر انکم اطعتم رسوله بطاعة الله.

واعلموا انه استنقذکم من النار ولم یکن الله لیجمع اصحابه علی ضلالة الیٰ اخر الخطبة.

اے د همدان ډلے تاسو د محمدﷺ بندګی نهٔ کوله بلکه تاسو د محمدﷺ د رب بندګی کوله او د محمدﷺ رب حی لایموت دے۔ هغهٔ له مرګ نهٔ راځی۔ هنه تاسو د اللّٰدتعالی د رسولﷺ اطاعت کولو ، د دے وجے نه چه د رسول اطاعت د اللّٰه تعالی د اطاعت ذریعه جوړه شی او بنهٔ ځان پوه کړئ چه اللّٰدتعالی تاسو د خپل رسول په ذریعه سره د اور نه خلاص کړے یئ۔ او الله تعالی د هغوی اصحاب په ګمراهی نهٔ راجمع کوی او دا شعرئے اووے۔

لعمری لئن مات النبی محمد

لما مات یا ابن القیل رب محمد

قسم مے دے وی په خپل ژوند که چرے نبی کریمﷺ وفات شو نو د هغوی پروردګار ژوندے دے اے د سردار ځویه۔

دعـــاه الیـــه ربـــه فـــاجـــابـــه

فیـــا خیـــر غـــوری ویـــا خیـــر منـــجـــد

د هغوی پروردګار هغوی ته خپل ځان ته د رابللو بلنه ورکړه۔ هغوی د خپل رب دا بلنه قبوله کړه۔ سبحان الله حضور پاکﷺ د غور او دنجد . داوچتے او ښکته زمکے په اوسیدونکو کښ د ټولو نه غوره او بهتر دے

(اصابه ترجمه عبدالله بن مالک ص ۳۶۵ ج ۲ و حسن الصحابه فی شرح اشعار الصحابه ص ۳۱۲ ج ۱)

داحد په غزا کښ د فتحے نه پس د شکست د پیښیدو حکمت او مصلحت باندے سرسری خبرے

د اللّٰدتعالی د وعدے مطابق د ورځے په شروع کښ مسلمانان په کافرانو باندے غالب وو مګر کله چه دوی د مرکز نه اخوا شو چه په هغے باندے د اللّٰدتعالی رسول د اودریدو حکم کړے وو او د مال غنیمت د جمع کولو د پاره لاندے راکوز شول نو د

جنگ نقشه بدله شوه او فتحه په شکست کښې بدله شوه. د اللہ‌تعالی په دربار کښې محبت کوونکی مخلصان او رښتونی عاشقان په لړه لړه خبره باندې نیولے کیږی. حق تعالیٰ ته دا خوښه نهٔ وه چه هغهٔ سره په اخلاص سره محبت کوونکی (صحابه کرام رضی الله عنهم) د هغهٔ د رسول ﷺ دحکم نه ذره بر واوړی. اگر چه دا اوړیدل د څه غلط فهمئ او د هیرے د وجے نه ولے نهٔ وی بله دا چه دا د رښتونی عاشق د عشق د شان خلاف ده چه هغه د دنیا د سامان او د مال غنیمت د جمع کولو د پاره د استقامت د غر نه راشی او زمکے ته راکوزشی. چه د کوم مال غنیمت د جمع کولو د پاره صحابه کرام رضی الله عنهم د غرهٔ نه راکوز شوے وو اگر چه هغه د دنیا حلال او پاک مال وو. د اللہ‌تعالی د دے قول د وجے نه

فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا خو دا صحابو رضی الله عنهم پشان ربنتینو عاشقانو له دا مناسب نهٔ وه چه د خداوند تعالیٰ د اجازت نه بغیر حلال او پاک مال ته هم لاس وراوغزوی.

موسیا آداب دانا دیگرند

سوخته جانان روانان دیگرند

خداوند تعالیٰ او محبوب برحق د خپلو مخلصو محبت کوونکو د زورنے د پاره وقتی طور باندے فتحه په شکست کښې بدله کړه دپاره د دے چه دوی بیدار شی. چه غیر الله باندے نظر ساتل جائز نهٔ دی. او د ازل په علم کښې ئے دا لیکلی وو. چه وقتی طور به اگر چه شکست اوخوری خو ډیر زر به دمکے په فتحے سره د دے تلافی اوشی. او وروستو به بیا د قیصر او دکسرا خزانے دوی له ورکړے شی. مقصد دا وو. چه په اخلاص سره د محبت کوونکو زړونه د حلالے دنیا دخیال نه هم پاک او خالص جوړ شی. په دے باره کښې الله جل شانه دا آیتونه نازل کړل

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ۭ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ۭ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ (آل عمران آیت ۱۵۲)

په تحقیق سره چه اللہ‌تعالی تاسو سره کومه د فتحے وعده کړے وه. هغه ئے رښتیا کړه کوم وخت چه تاسو کافران د اللہ‌تعالی په مرستے سره قتلول تردے چه هغه اووهٔ یا نهٔ سړی چه د هغوی په لاس کښې دمشرکانو جنډه وه هغه ټول ستاسو د لاسه قتل شو. تردے چه تاسو پخپله سست شوئ. او په خپلو کښې مو په حکم کښې

اختلاف کړو۔ او چه کله الله تعالیٰ ستاسو محبوب اوخوښ خیز یعني په کافرانو باندے غلبه او فتحه تاسو ته په خپلو سترګو باندے اوښودله۔ نو تاسو د حکم نافرمانی اوکړه۔ تاسو کښې بعضے خو هغه وو چه دنیا (غنیمت) طرف ته مائل شو او بعضے تاسو کښې هغه وو چه صرف د آخرت غوښتونکي وو۔ دے وجے نه الله تعالی تاسو د هغوی نه واړولئ۔ او حاصله شوے فتحه ئے په شکست سره بدله کړه۔ چه په تاسو امتحان ووکړی۔ او صفا طور باندے ښکاره شی۔ چه څوک پوخ دے او څوک کچه۔ او په تحقیق سره الله تعالی ستاسو دا غلطي بالکل معاف کړه۔(ددے وجے نه اوس هیڅ چا دپاره په دے غلطئ باندے ملامته کول بلکه خلهٔ خوزول هم روا نهٔ دی۔ چه الله تعالی خو معاف کړل او طعن کولو والا یعنی ملامته کولو والا ئے نهٔ معاف کوی) او الله تعالی مخلصانو مومنانو باندے ډیر لوئے فضل والا دے۔

په دے آیتونو کښې حق تعالی دا اوښودله چه ناګهانه قصه او معامله التهٔ شوه چه د کفارو لښکر چه د مسلمانانو د لاسه قتلیدهٔ۔ اوس هغوی د اسلام د خاوندانو په قتل کښې لګیا شو۔ د دے وجه یو خو دا شوه چه تاسو د رسول الله ﷺ د حکم نه واړیدلئ۔ او تاسو کښې بعضے خلق د فاني دنیا په سامان یعنی د غنیمت په خیال او طمع د استقامت د غر نه راؤخوئیدل چه د هغے سزا ټولو اوخوړه او د بعضو په غلطئ سره د اسلام ټول لښکر د شکست ښکار شو۔ انا لله وانا الیه راجعون.

خو د دے ټولو خبرو باوجود هم د خداوند ذوالجلال والاکرام بے انتها ورکړے او ډیرے مهربانئ د مسلمانانو نه کټ نهٔ شوے چه د محبت نه ډکے غصے سره سره ئے مسلمانانو ته بار بار تسلي ورکوله چه تاسو نا امیده کیږئ مه ۔ او زړونه مهٔ بائیلئ۔ مونږ ستاسو خطا بالکل معاف کړے ده۔ نو یو ځلے د عفوے اعلان ئے په دے آیت کښې اوفرمائیلو۔ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ او بیا ئے د دے رکوع په آخر کښې مسلمانانو ته دنورے تسلئ د پاره دوباره د معافئ اعلان اوکړو۔

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ مِنكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ إِنَّمَا ٱسۡتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِبَعۡضِ مَا كَسَبُواْۖ وَلَقَدۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ (آل عمران آیت ۱۵۵)

په تحقیق سره چه کوم خلقو په تاسو کښې شا ښودلے وه په هغه ورځ چه دواړه ډلے یو بل ته مخامخ شوے۔ نو د هغے وجه صرف او صرف دا وه چه د هغوی د بعضے اعمالو په وجه باندے شیطان هغوی په دے خطا کښې اخته کړل۔ او خیر چه څه

اوشو هغه اوشو اوس په يقين سره الله تعالى دهغوى دا خطا بالكل معاف كړه۔ يقينا الله تعالى ډير بخښونكے اوصبر والا دے۔

الله تعالىٰ جل شانه دصحابه كرامورضى الله عنهم دا كار خطائى اوګنړله۔ د اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ تكے په دے باندے دلالت كوى او د دے خطا معنى داده چه اراده خوځۀ نوره وه مګر په غلطئ او په هيره سره بغير د ارادے او داختيار نه قدم او خوئيدۀ۔ او د لارے نه پريوتۀ۔ اشاره دے طرفته ده چه څۀ اوشو هغه خطا وه۔ په قصد تاسو نۀ دى كړے۔ او خير چه څه ووشو هغه مونږه په خپل رحمت او حلم سره معاف كړل۔ تاسوته مو د معافىء اطلاع دركړه۔ چه تاسو ملامته خفه او نا اميده مۀ كښينئ۔ اوستاسو د معافئ اعلان مے تولے دنيا ته په دے وجه واورولو۔ چه دنيا ته معلومه شى۔ چه د حق تعالى ے نهته وركړے څنګه صحابه كرامو ته متوجه دى او څنګه هغوى ته يو شان ډاډګيرنے وركولے كيږى۔ دے د پاره چه د قيامته پورے چاته دا مجال نۀ وى چه د صحابه كرامو رضى الله تعالى عنهم په شان كښ خلۀ وازه كړى۔ چه هر كله الله تعالىٰ دوى معاف كړى دى۔ او الله تعالىٰ د دوى نه راضى شو۔ نو اوس ئے كه څوك معاف كوى اوكه نۀ۔ كه څوك د دوى نه راضى وى او كه نۀ وى۔ د خدائے تعالى دمعافئ او د رضا نه پس د هيچا د عفوے او درضا ضرورت نشته۔ (رضى الله عنهم و رضوا عنه)

د بدر په غزا كښ په فديه اخستلو باندے چه كوم عتاب نازل شوے وو۔ د دے وجه هم دا وه۔ چه دوى د خداوند ذوالجلال د دښمن د قتل و قتال په باره كښ د چيخړا كولو په ځائے مال ولے غوره كړو۔ دغه شان د احد په غزا كښ د دنيا مال او سامان طرفته د ميلان په وجه زورنه راغله۔ خو وروستو معاف كړے شو۔

د احد د غزا دشكست د رازونو او د حكمتونو د بيان نه پس

حق تعالىٰ شانه د مخكښنو پيغمبرانو د اصحابو ربيينو بيان ووفرمائيلو۔ چه د خدائے په لاره كښ هغوى ته څنګه تكليفونه او قسم قسم مصيبتونه اورسيدل۔ ليكن هغوى نۀ حوصله بائيله او نۀ د دښمنانو مقابله كښ كمزورى شو۔ ډير په صبر او استقلال سره ئے د الله تعالى د دښمنانو سره په جهاد كښ خپے كلكے كړے وے۔

خو سره د دے ئے خپل شجاعت او همت صبر او استقامت ته نۀ كتل۔ بلكه

نظر ئے په خداوند ذوالجلال والاکرام باندے ساتلو۔ او یو شان به ئے د خدائے پاک نه د ګناهونو بخښنه او د ثابت قدم پاتے کیدو دعاګانے غوښتلے۔ الله تعالی هغوی له په دنیا او په آخرت کښ د هغے صله یعنی بدله ورکړه۔ الله تعالی فرمائی:

وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ (آل عمران)

او ډیر پیغمبران وو چه د هغوی په ملګرتیا کښ ډیروخدا پرستو خلقو جهاد او قتال اوکړو۔ خو د هغے مصیبتونو په وجه کوم چه دوی ته د الله تعالی په لاره کښ رسیدلے وو۔ نۀ خو سست شو۔ او نۀ کمزوری شو۔ او نۀ د دښمنانو نه دباؤ شو۔ او الله پاک خوښوی کلک پاتے کیدونکی۔ او د دوی د ژبونه به صرف دا وینا راوتله چه اے پروردګاره؛ زمونږ ګناهونه او زمونږ زیاتے معاف کړه۔ او زمونږ خپے کلکے کړے۔ او د کافر قوم په مقابله کښ زمونږ امداد اوکړے۔ نو الله تعالی هغوی ته د دنیا انعام او د آخرت بهترین انعام ورکړو۔ او الله تعالی نیکئ کولو والا خوښوی۔

(ماخوذ از سیرت مصطفی مولفه مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ

هر کله چه قصد ووکړو په تاسو کښې دواؤ ډلو چه بزدلي ووکړي۔ او الله پاک د دوی مدد گار وو۔ او

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿۱۲۲﴾

بس په الله تعالیٰ دے توکل کوی مؤمنان

نچوړ

په جنګ احد کښې منافقین د جنګ نه مخکښې وو تختیدل نو د مخلصو مسلمانانو په دواؤ ډلو کښې هم څۀ قدرے کم همتي پیدا شوله –خو الله تعالیٰ هغوی په خپل مدد سره را ټینګ کړل –او په جنګ کښې کلک پاتے شو۔ نو مسلمانانو له پکار دی چه په جهاد کښې د کافرانو د طاقت نه او د منافقانو د بزدلۍ والا خبرو خورولو نه اثر نۀ اخلی– بلکه په الله تعالی باندے توکل او باورساتی۔

شان نزول

❶ الطائفتان حيان من انصار بنو سلمة من الخزرج وبنو حارثة من الاوس لما انهزم عبدا لله بن ابی همت الطائفتان باتباعه فعصمهم الله فثبتوا مع الرسول ﷺ

دا دوه ډلے د انصارو د قبائلو دوه شاخونه وو۔ بنو سلمه د خزرج والاؤ نه او بنو حارثه دا وس والاؤ نه وو۔ چه کله د منافقا نو مشر عبد الله بن ابی د خپلو درے سوه ملګرو سره واپس وو تختیدو– نو دے دوؤ قبیلو هم دهغوی سره دتلو اراده ووکړه۔ خو الله پاک د دوی حفاظت ووکړو۔ او دوی د رسول الله ﷺ سره د احد په غزاه کښې کلک پاتے شو۔ (تفسیر کبیر)

دبرکت کلام

چه کله حضور ﷺ د مکے نه مدینے ته راغلو– نو یو نیم کال پس د بدر جنګ ووشو دمکے په خلقو باندے الله تعالی مسلمانانو ته فتحه ورکړه او یا کسان مړۀ شو۔ او یا قید شو۔ په بل کال کافران په جمع مدینه باندے راؤختل –حضرت

محمد ﷺ مسلمانانو سره مشوره ووکړه ډیرو ووئیل چه مونږه په دے ښار کښې دننه جنګ کوؤ- او د حضرت ﷺ هم دغه خوښه وه. او بعضو وئیل چه دا شرم دے بلکه میدان کښې به مقابله کوؤ. آخر دا مشوره قبوله شوه- حضرت ﷺ چه کله د ښار نه بهر لاړو نوعبد الله بن ابی دمدینے وسیدونکے هم په جنګ کښې شریک وو -نو هغه خفه شواو واپس شو په دے خبره چه زمونږه خبره باندے عمل وونۀ شو. او د دۀ په لمسه باندے د انصارو دوه قبیلے هم واپس شوے. خو آخر د دوی سردارانو عوام پوهه کړل او واپس ئے را وستل. الله تعالی مسلمانانو ته طاقت ورکوی چه په الله تعالی توکل پکاردے او د حکم په منلو کښې دے اندیښنے نۀ کوی. (موضح القرآن)

ربط

ددے نه مخکښې مسلمانانو ته مذهبی فریضه د اسلام د تبلیغ بیان شوے ده.(كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ) ددے نه پس حکم ورکړے شوے دے چه د اهل کتابو او منافقانو نه جدا شئ(لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ)مخکښې د دے قانون په جاری کولو سره دا ښایی چه په جنګ بدر کښې په صحابه کرامو کښې استقلال وو او د مخالفینو دخیالاتو نه متأثره نۀ وو. نو فتحه ووشوه- او د احد په غزا کښې د منافقانو د خیالاتو څۀ نا څۀ اثر وو- نو د جنګ په موقعه باندے هم د بعضے خلقو په طبیعتونو کښې شک وو. او د جهاد نه وروستو کیدل خو د منافقانو طریقه وه نو د دے کمزورئ په وجه باندے د احد په غزا کښې شکست وو شو. (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

سبق

داسلامی لښکر په زړونو کښې دے د الله تعالی عظمت او محبت کښینولے شی- او په خپل مینځ کښې دے د ایمان اود توکل مسلسل مذاکره وو کړے شی. اود هغے منافقانو د خیالاتو او د خبرو نه خلق بچ کول پکاردی کوم چه په مسلمانانو کښې ویره خوروی.



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّ اَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

او الله پاک په بدر کښې ستاسو مدد کړے دے چه تاسو کمزورے وئ۔ نو د الله نه وو

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

یریږئ چه تاسو شکر گزار شئ۔

نچوړ

اے مسلمانانو۔ د بدر په غزا کښې تاسو کمزوری وئ- خو الله تعالی په خپل خاص نصرت سره تاسو له فتحه درکړه نو په ځان کښې تقویٰ پیدا کړئ۔ یعنی د الله تعالی احکامات پوره کوئ او چه د کومو خبرو نه ئے منعه کړے ئ د هغے نه بچ ووسیگی -او د کافرانو او منافقانو دیاریٔ نه بچ شئ۔ او تقویٰ اصل شکر گزاری ده۔ د دے تقویٰ په برکت سره به تاسو ته ډیر زر داسے نعمتونه او فتوحات ملاؤ شی چه تاسو به ښهٔ شکر اداکوی۔

بدر ❶ د مدینے منورے په جنوبی مغرب کښې څهٔ شل میله لرے او د بحر احمر د ساحل نه په یو پړاؤ باندے د یو تجارتی منډیٔ نوم دے۔ په دے مقام باندے د مکے- شام -او د مدینے درے واړه سړکونه یو ځائے شوے وو- او د قریشو تجارتی قافلے به په دے ځائے باندے تیریدے۔ او صرف دغه نه بلکه د دے ځائے اهمیت په دے وجه هم وو- چه دلته اوبهٔ ډیرے وے۔ او دا په عربو کښې یوه لویه خبره وه۔ د توحید او د شرک په مینځ کښې د یادولو قابل رومبے لښکری جنگ په دغه مقام باندے وو شو۔ د جمعے ورځ وه۔ دویمه هجریٔ کښې د رمضان اوولسم تاریخ وو۔(۱۱ ـ مارچ ۶۲۴ ش)۔ دے غزا سره لکه چه د اسلام او بالواسطه د تولے دنیا د تاریخ پاڼړه بدله شوه (تفسیر ماجدی)

❷ بئر لرجل من جهينة يقال له بدر فسميت به یعنی دا د یو کوهٔین نوم دے۔ چه د جهینه قبیلے د یو سړی وو۔ او د هغهٔ نوم بدر وو۔ په دغه وجه د دے نوم بدر شو۔ (روح المعانی)

قال الواقدی اسم لموضع وقيل للوادی و كانت كماقال عكرمة متجرا فی الجاهلية (روح المعانی)

ربط

امام رازی رحمه الله د دے آیت ربط د مخکښنی آیت سره په دوه طریقے باندے بیان کړے دے۔

❶ الاول انه تعالیٰ لما ذکر قصة احد اتبعها بذکر قصة بدر وذلک لان المسلمین یوم بدر کانوا فی غایة الفقر والعجز الخ.

یعنی الله تعالیٰ چه کله د احد واقعه بیان کړه۔ نو دهغے نه پس ئے فورا د بدر غزا ذکرکړه۔ ځکه چه د بدر په ورځ مسلمانان ډیر کمزوری او محتاجه وو۔ او کافران د پوره قوت او طاقت سره راغلے وو۔ د دے با وجود الله پاک مسلمانانو ته په مشرکینو باندے فتحه ورکړه نو په دے کښ ددے خبرے ډیر مضبوط دلیل دے چه عقلمند انسان به د خپلو هدفونو او مقاصدو حاصلو لو دپاره صرف او صرف په الله تعالیٰ توکل کوی –او هم دهغهٔ نه به مددغواړی۔ مخکښے ئے فرمائیلے وو۔ وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا (که چرے تا سو استقلال او تقوی اختیار کړه نو د دوی تدبیرونه به ستاسو هیڅ نقصان نهٔ کوی) او فرمائیلے ئے وو۔ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ او ایمان والا ته صرف په الله تعالی توکل پکار دے نود بدر د دے واقعے د ذکر کولو مقصد د دے آیتونو تائید دے۔

❷ الثانی انه تعالیٰ حکی عن الطائفتین انهماهمتا بالفشل الخ. دویم ربط دادے چه الله تعالیٰ د دواړو ډلو ذکر کړے دے– چه دوی د کمزوریٔ ښکاره کولو اراده کړے وه۔ بیا الله تعالیٰ ووفرمائیل چه دهغے مفهوم دادے چه الله تعالیٰ دهغے دواړو ډلو مددګارو –اوایمان والاؤ ته په الله تعالیٰ باندے بھروسه کول پکاردی۔ یعنی چه الله تعالیٰ دچا نصرت اومدد کوی –نو هغه له داسے کمزوری –بزدلی –اونامردی خودل چرته صحیح کیږی؟ نو بیا ئے د دے د تائید د پاره د بدر واقعه ذکر کړه چه مسلمانان په دغه ورځ ډیر کمزوری وو –خو الله تعالی چه کله د دوی مدد ووکړو نو هغوی په خپل مقصد کښ کامیاب شو۔ او په خپل دشمن باندے غالب راغلل (التفسیر الکبیر)

سبق

❶ جهاد کښ دکامیابیٔ دپاره تقویٰ دتولو نه بنهٔ سبب دے۔

❷ مسلما نانوته دبدر دغزا په شان جذبه او قربانی پکار ده۔



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ

هرکله چه تا مؤمنا نو ته وئیل چه ولے کافي نهٔ دي تاسوله چه امداد ووکړي تاسو سره

اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿۱۲۴﴾

خپل رب د دریو زرو فرشتو چه نازلیږي به

نچوړ

د بدر د غزا په ورځ د استقامت او د تقوی په برکت سره الله تعالی د مسلمانانو دمدد دپاره دآسمان نه درے زره فرشتے نازلے کړے۔ او حضور اکرم ﷺ دا زیرے یاخوشخبري خپلو مجاهدو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته واوَرولہ

بدر یا احد

مفسرینو حضراتو کښې د بعضو رائے داده چه دا آیت د احد د غزا په باره کښې دے۔ چه په دے کښې د درے ذره فرشتو وعده وه۔ خو چه کله غشي ویشتونکو دغر هغه دره پریخوده او غنیمت جمع کول ئے شروع کړل۔ نو د تقوی او د صبر کمزوری ښکاره شوه۔ حال دادے چه د فرښتو د راکوزیدو د پاره لازمي شرط تقوی او صبر وو۔ د اکثرو مفسرینو په نزد دا آیت د بدر د غزا متعلق دے۔ د دے وجے نه امام رازی رحمه الله فرمائي۔

ان هذا الوعد كان يوم بدر وهو قول اكثر المفسرين يعني د اوعده دبدر د ورځے وه۔ او دغه د اکثرو مفسرینو حضراتو قول دے۔ (التفسیر الکبیر)

د حضور پاک ﷺ رومبے جنګ

علامه قرطبي رحمه الله لیکي:

وكان اول قتال قاتله النبي صلى الله عليه وسلم وفي صحيح مسلم عن بريدة قال غزا رسول الله صلى الله عليه وسلم سبع عشرة غزوة قاتل في ثمان منهن.

یعني د بدر غزا هغه رومبۍ غزاده چه په هغے کښې حضور پاک ﷺ پخپله قتال فرمائیلے وو۔ او صحیح مسلم کښې د حضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوولس غزاګانے کړے وے چه په هغے کښې ئے په اتو کښې جنګ فرمائیلے

وو۔ امام قرطبی رحمه الله لږ مخکښې لیکلی دی۔ چه حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه د ذات العشیر غزا د حضور ﷺ رومبے جنګ حساب کړے دے۔ او طبقات ابن سعد کښې دی چه د حضور ﷺ د غزاګانو شمیر اوویشت دے۔ چه په هغے کښې هغوی په بدر۔ احد۔ المریسیع۔ خندق۔ خیبر۔ قریظه۔ فتح مکه۔ حنین او طائف کښې جنګ فرمائیلے وو۔ (باقی کښې جنګ نۀ وو شوے) او بعضے روایاتو کښې دی چه بنو نضیر۔ وادی القریٰ او غابه کښې ئے هم جنګ فرمائیلے وو۔

فائده

په غزوه بدر کښې ټولے څو مره فرښتے په جهاد کښې شریکے شوے وے؟ زر۔ درے زره۔ پنځۀ زره۔ په شمار کښې سمون څنګه دے؟ فرشتو په جنګ کښې حصه اخیستے وه او که نۀ وه اخیستے۔؟ فرښتے صرف د بدر په غزا کښې جنګیدلے وے یا په بله غزا کښې هم؟

ددے ټولو خبرو بحث به ان شآء الله په سورۀ انفال کښې راشی۔



سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا

ولې نه که تاسو صبر کوئ او پر هیزګاري کوئ او دوی راشي په تاسو سمدستي نو

يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ۝۱۲۵

امداد به ووکړي تاسو سره خپل رب د پينځو زرو فرښتو چه برګې اسونو والا به وي

نچوړ

که په جهاد کښې ستاسو صبر او تقوىٰ مضبوطه وه- او د شمنانو ته نور کمک راغے- نو الله پاک به د فرشتو شمیر پنځهٔ زره کړي چه خاص نښنو والا به وي۔

تفسیري اقوال

پنځهٔ زره فرشتے د قیامته پورے

وقال الحسن فهولاء الخمسة آلاف ردءٌ للمومنين الى يوم القيامه.

حسن بصری رحمه الله فرمایي۔ چه دا پنځهٔ زره فرشتے د قیامته پورے د مسلمانانو د مدد د پاره مقرر دي- (القرطبي)

اِنْ تَصْبِرُوْا که تاسو کلک شوئ -علىٰ مضض الجهاد وما امرتم به په جهاد باندے او په هغه خبرو باندے چه تاسو ته ئے حکم شویدے۔ (روح المعاني)

فائده

ددے آیت د تفسیر په باره کښې مفسرینو حضراتو چه څهٔ لیکلي دي د هغے نچوړ د اکابرو یعني د مشرانو په دے دواؤ عبارتونو کښې اوګورئ۔

❶ یعني درے زره بے شکه کافي دي- بیا هم که تاسو د صبر او د مضبوطیا ثبوت ورکړئ۔ او تقوىٰ اختیار کړئ- او د نافرمانئ نه بچ شوئ- او کافران یکدم یعني په یو ځل په تاسو راشي۔ نو د دے درے زرو په ځائے به پنځهٔ زره فرشتے را شي۔ چه د هغوی به هم خاص نخښے وي- او د هغوی په اسونو باندے به هم خاص نخښے وي۔ چونکه بدر کښې د کفارو شمیر یو زر وو۔ په اول ځل د دے په مناسبت سره د یو زر فرشتو وعده ووشوه۔ څنګه چه سورۂ انفال کښې راغلي دي۔ بیا د مسلمانانو د

ویرے لرے کولو دپاره شمیر درے چنده کړے شو۔ ځکه چه د کفارو شمیر درے چنده وو۔ دے نه پس د شعبی د روایت مطابق کله چه مسلمانانو ته خبر ملاؤ شو۔ چه کرز بن جابر ډیر کمک سره د مشرکانو د مدد د پاره را روان دے نو په دے سره نوے نا قلاری پیداشوه۔ دے وخت کښ د نورے تسلیٔ او مضبوطتیا د پاره وعده ووشوه۔ چه که چرے تاسو د صبر او تقویٰ نه کار واخلئ نو مونږ به پنځهٔ زره فرشتے ستا سو د امداد د پاره راؤ لیږو۔ که د مشرکانو کمک بالکل ناګهانه راؤرسی –بیا هم فکر مهٔ کویٔ۔ خدائے تعالیٰ به په هغه وخت ستاسو مدد کوی۔ شاید چه د پنځوزرو دا شمیر ئے دے دپاره کیښودلے وی۔ چه د لښکر پنځهٔ حصے وی۔ هرے حصے له به د زرو زرو کمک وورسولے شی۔ چونکه د کرز بن جابر مدد کافرانو ته راؤ نهٔ رسیدهٔ–نو په دے وجه بعضے وائی چه د پنځو زرو دا وعده پوره نهٔ کړے شوه۔ ځکه چه هغه وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا سره تړلے وه– او د بعضو قول دے چه پنځهٔ زره فرشتے نازلے شوے وے– والله اعلم۔ (تفسیر عثمانی)۔

❷ په دے شرط سره چه تاسو صبر او تقویٰ قائمه کړه۔ د جنګ د میدان نه او د رسول داطاعت نه تاسو مخ وانهٔړولو۔تاسو په غور سره اوکتل ؟۔ ټول زور په صبر مضبوط پاتے کیدو یعنی ثبات او د رسول ﷺ په اطاعت باندے دے دا احد د جنګ نه مخکښ چه د امت سپه سالار اعظم کومه خطبه د خپلو سپا هیانو په مخکښ ورکړے وه۔ اوکومه چه د حدیث په کتابونو کښ نقل راروانه ده۔په دے کښ دا مضمون په خصوصیت سره دے۔ چه که تاسو خپے کلکے کړے نو الله تعالیٰ به تاسو کامیاب کړی او ستاسو امدا د به ووکړی۔ خپل پرور دګار باندے اعتماد ساتئ –ثابت قدمه ووسئ – او فتحه به هم تاسو ته نصیب کیږی۔ او دا شرط ډیر اهم دے او د دے اهمیت عملی ښکاره کیدل د بدر او د احد په دواړو جنګونو کښ ووشو۔ دغه مدد کولو والا خدائے دے-دغه د امداد محتاج مسلمان دے – خو په بدر کښ د اسلام لښکر هر قسمه د رسول ﷺ منونکے وو۔او په ښکاره اسبابو باندے ئے تکیه یعنی اعتماد وونکړو۔ نو الله تعالی د فرشتو غیبی امدا د راورسولو۔ احد کښ صورت حال ددے نه مختلف وو– د لښکر یوے حصے حکم سرته وونهٔ رسولو– او دلته کښ اعتماد څهٔ درجه کښ په خپل طاقت باندے ووشو۔ الله تعالی د یو وخته پورے د امداد نه لاس راښکهٔ –او د شکست تجربه ئے ورکړه۔ د برکت د نازلیدو او د حاصلیدو دپاره لوے څیز دا دے چه بندیګان د الله تعالیٰ حکم منی او د زړهٔ نه غاړه بسته شی –(تفسیر ماجدی)

سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ۭ وَمَا

او الله تعالیٰ دا صرف دے دپاره ووکړل چه دا ستاسو دپاره زیرے شی۔ او چه ستاسو زړونه په آرام شی په دے

النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۱۲۶﴾

سره۔ او امداد صرف د زبردست حکمت والا الله د طرفنه دے۔

نچوړ

اے مسلمانو! د جهاد په دوران کښې مدد دپاره د فرشتو راکوزیدل صرف او صرف دے دپاره دی چه تاسو ته خوشخبری او د زړهٔ اطمینان ملاؤ شی۔ ګنی اصل مدد خو الله تعالیٰ فرمائی۔ چه غالب هم دے او حکیم هم دے۔ بس هم دهٔ سره یو ځائے شئ او هم دهٔ پورے وونخلئ او د دهٔ نه سوا په بل چا باندے توکل او بهروسه مهٔ کوئ۔ چه څهٔ درته ملاؤ شو نو هم د الله تعالیٰ په امداد سره ملاؤ شو۔ او چه څه به درته ملاویګی نو هم د هغهٔ په نصرت سره به ملاویګی۔

تفسیر

❶ یعنی دا ټول غیبی سامان غیر معمولی طور باندے د ظاهری اسبابو په شکل کښې صرف دے دپاره ووکړے شو چه ستاسو د زړونو نه بے چینی او بے آرامی لرے شی او آرام او سکون درته ملاؤ شی۔ ګنی د خدائے پاک مدد په دے څیزونو باندے محدود او مقصود نهٔ دے۔ اونهٔ د اسبابو پابند دے که هغه وو غواړی – نو په خپل زبردست قدرت سره به د فرشتو نه بغیر ستاسو کار سم کړی۔ یا ستاسو د واسطے نه بغیر به کافران نامراد او تاوانی کړی۔ یا د یو بے فرشتے نه به هغه کار واخلی چه کوم د پنځهٔ زره فرشتو نه اخیستے کیږی – فرشتے هم چه کوم امداد کوی نو د الله پاک په قدرت او ارادے سره ئے کوی – خپل ذاتی طاقت او اختیار په هیڅ چاکښې نیشته – مخکښے الله تعالیٰ په خپل حکمت سره پو هیږی – چه په کومه موقعه باندے کوم قسمه اسبابو او وسائلو نه کار اخیستل پکار دی – د تکوینی رازونو څوک احاطه نهٔ شی کولے – (تفسیر عثمانی)

❷ كما كانت السكينة لبني اسرائيل بشارة بالنصر (كشاف) د فرشتو نازليدل د فتحے او نصرت دپاره يوه داسے خوشخبري وه-لكه څنګه چه د بنو اسرائيلو دپاره د تابوت ملاويدل د فتحے دپاره يوه خوشخبري وه-

وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لامن عندالمقاتلة اذاتكاثرواولا من عند الملائكةوالسكينة ولكن ذلك مما يقوى به الله رجاء النصرة والطمع في الرحمة ويربط به قلوب المجاهدين.

يعني اصل مدد او فتحه د الله تعالىٰ د طرف نه ده- نۀ د جنګ كونكو په ډير والي ده-او نۀ د تسلئ دپاره د فرشتو په نازليدو باندے ده-داخو صرف هغه څيزونه دي چه الله تعالىٰ په دے سره مسلمانانو له د خپل نصرت او رحمت اميد مضبوطه وي-او د مجاهدينو زړونو ته قوت وركوي-(كشاف)

فائده

په دے دواړو عبارتو سره د هغے تولو اشكالاتو جواب ووشو -كوم چه د كمے پوهے معترضين پيش كوي -چه د فرشتو د نازليدو څۀ ضرورت وو؟-او دومره ډيرے فرشتے ولے راوړ ليګلے شوے_وغيره (والله اعلم)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ ﴿۱۲۷﴾

چه کټ کړي يوه حصه د هغې خلقو چه کافردي يا ذليله کړي هغوی لره نو نا مراده به واپس شي

نچوړ

الله تعالیٰ تاسو ته د جهاد حکم ځکه درکړو او ستاسو نصرت ئے ځکه وو فرمائيلو – چه د کافرانو زور ختم شي۔ او د هغوی متے پرے کړے شي۔ زاړۀ نو موړي مشرکان څۀ قتل کړے شي او څۀ ذليل او سر ټيټے کړے شي۔ او پاتے شوے کسان په سپکاوی او ذلت سره واپس شي۔

تفسيري اقوال:

❶ ای امرکم بالجهاد والجلاد لماله في ذلک من الحکمة في کل تقدير. يعنی الله پاک تاسو ته د جهاد او د سختئ کولو حکم درکړو۔ ځکه چه په دے کښې هغه ټول حکمتونه وو کوم چه په دے آيت کښې بيان شوے دی۔ (د کافرانو زور ماتول – څۀ قتلول – څۀ ذليله کول او سپکول وغيره۔) (تفسير ابن کثير)

❷ نو هم دغه شان واقعه ووشوه۔ اوياسرداران چه په هغے کښې د دے امت فرعون ابوجهل هم وو۔ قتل کړے شو۔ او اويا قيد کړے شو۔ او ډير په ناکامئ او سپکاوی سره مکے ته واپس شو۔ (تفسير عثمانی)

فائده

اصل تذکره خو د غزوۀ احد کيږي۔ خو په مينځ کښې په دے پينځو آيتونو کښې د غزوۀ بدر بعضے واقعات بيان کړے شو۔ چه مسلمانانو ته احساس ووشي چه الله پاک خو په جهاد کښې د دوی ښۀ پوره مدد فرمائی۔ او په غزوۀ احد کښې چه څۀ ووشو – هغه په خپله د دوی د کمی بيشی په وجه ووشو۔ په دے وجه ځان په راتلونکی وخت کښې د "بدر د مجاهدينو" په شان جوړ کړئ۔ او په احد کښې چه کومه غلطی شوے وه – چه هغه بيا وونۀ شي۔ د غزوۀ بدر تفصيلی ذکر به په سورۀ انفال کښې راشي۔ چه د هغے يو نوم " سورة البدر" هم دے۔

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۲۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ

نیشته دے ستا د پاره څه اختیار یا به الله تعالی په دوی مهربانی ووکړی یا به دوی ته عذاب ورکړی

فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۸﴾

ځکه چه دوی ظالمان دی۔

نچوړ

د چا توبه قبلول یا چاله عذاب ورکول دا صرف اوصرف د الله رب العٰلمین په اختیار کښې دی۔ مسلمانان دے په ایمان او په جهاد باندے قائم ووسی۔ او د کافرانو د توبے یا د عذاب معامله دے الله تعالیٰ ته پریږدی۔

شان نزول

❶ ان النبی صلی الله علیه وسلم کسرت رباعیته یوم احد الخ. یعنی د حضور پاک ﷺ غاښ مبارک (رباعیه په وزن د ثمانیه) د احد په ورځ باندے شهید شو۔ سرمبارک ئے زخمی شو۔ اووینه ترینه بهیدله– نو حضور ﷺ ووفرمائیل۔ هغه خلق څنګه خلاصے مونده شی چاچه د خپل نبی سر زخمی کړو– او غاښ ئے ورله شهید کړو۔ نبی کریم ﷺ د دغه خلقو د پاره بد دعا ووفرمائیله چه دا آیت نازل شو– (قرطبی)

❷ هم النبی صلی الله علیه وسلم ان یدعو علی المشرکین فانزل الله تعالیٰ الخ.

یعنی حضور ﷺ د دغه مشرکانو د پاره صرف د بد دعا اراده کړے وه چه دا آیت نازل شو۔ (قرطبی)

❸ وقیل استاذن فی ان یدعوفی استئصالهم الخ.

یوقول دادے چه حضور پاک ﷺ د الله تعالیٰ نه اجازت غوښتلو چه د مشرکانو پوره خاتمے دعاء ووکړی۔ کله چه دا آیت نازل شو–نو حضور پاک ﷺ ته پته وولګیده۔ چه په دوی کښې به څهٔ خلق اسلام قبلوی (اوهم دغسے وشوه) په دوی کښې ډیر شے مسلمانان شو–لکه حضرت خالد بن ولید رضی الله تعالی عنه– حضرت عمروبن العاص رضی الله تعالیٰ عنه–حضرت عکرمه رضی الله تعالیٰ عنه بن ابی

جهل وغیرهم او امام ترمذی رحمه الله د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت کړے دے. هغه فرمائی چه حضور اکرم ﷺ به په مشرکانو کښ د څلورو کسانو د پاره بد دعاء فرمائیله. نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو. او بیا ئے دوی ته د اسلام هدایت ورنصیب کړو. (قرطبی)

امام قرطبی د دے څلورو قولونو ذکر کولو نه پس هغه روایت ذکر کوی چه د هغے نه ثابتیږی چه پیغمبر علیه السلام بد دعاء نۀ وه کړے. بلکه په دے الفاظو کښ ئے دعاء کړے وه. رب اغفر لقومی فانهم لایعلمون اے څما ربه څما قوم ته بخښنه ووکړے. دوی نۀ پو هیږی. (قرطبی) والله اعلم بالصواب

❹ وعن مقاتل رحمه الله انها نزلت فی اهل بئر معونه الخ.

دامام مقاتل رحمه الله په نزد دا آیت د بئر معونه والاؤ باره کښ نازل شو. کله چه د حضور پاک ﷺ هغه څلویښت یا اویا قاریان صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین د الله تعالیٰ دشمن عامر بن طفیل وغیره په دهوکے سره شهیدان کړل - نو حضور پاک ﷺ ته سخته صدمه ورسیده. او هغوی د یوے میاشتے پورے په قنوت نازله کښ د دغے قاتلانو د پاره بد دعاء فرمائیله. نو په دے دا آیت نازل شو. (روح المعانی)

فائده

د امام رازی رحمه الله رجحان هم دے طرف ته دے چه دا آیت د احد د غزا متعلق دے - خو د کومے واقعے باره کښ دے؟ په دے باندے هغوی ګڼ اقوال نقل کړے دی او په آخر کښ لیکی.

قال القفال رحمه الله وكل هذه الاشياء حصلت يوم أحد فنزلت هذه الاية عند الكل فلايمتنع حملها على كل الاحتمالات

امام ابوبکر قفال رحمه الله فرمائی چه دا ټول واقعات (کوم چه د آیت شان نزول ګڼړلے شی) د احد په موقع باندے پیښ شوے وو. په دے وجه دا آیت په دے ټولو باندے حمل کیدے شی. (تفسیر کبیر)

د آیت مطلب

په احد کښ اویا (۷۰) صحابه رضی الله عنهم شهیدان شوے وو. چه په هغے کښ

د حضور اکرم ﷺ ترۀ سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالیٰ عنه هم وو۔ مشرکانو د ډیر نفرت د وجهے نه د شهیدانو پوزے-غوږونه کټ کړل او خیټے ئے ورله ووخیرلے۔ تر دے چه هندے د حضرت حمزه رضی الله تعالیٰ عنه ځیگر راوویستو او چکونه ئے پرے وولګول۔ پوره واقعه به ورستو راځی۔ خلاصه دا چه په دے جنگ کښ حضور اکرم ﷺ ته هم درد وورسیدۀ۔ مخامخ څلور غاښونو کښ لاندینے ښے غاښ (رباعیه) شهید شو۔ دجنګی توپئ کړئ ماتے شوے او دهغوی په مخ مبارک کښ ننوتے۔ تندے مبارک ئے زخمی شو او بدن مبارک ئے په وینو رنګ بنګ شو۔ هم په دغه حالت کښ دهغوی خپه ورانه شوه- اوپه زمکه راپریوتلو او بے هوشه شو۔ کافرانو مشهوره کړه چه ان محمداً قد قتل محمد ﷺ ووژلے شو۔ دے سره دمسلمانانو تولګے وارخطا شو۔ لږ ساعت پس پیغمبر ﷺ په هوش کښ راغے۔ دغه وخت دژبے مبارکے نه ئے ووتل چه" هغه قوم به څنګه بچ کیږی چا چه د خپل نبی ﷺ مخ زخمی کړو-اوهغه دوی الله پاک ته رابلی" د مشرکانودا وحشیانه سختئ اوظلمونه چه ئے وولیدل نود پیغمبر ﷺ د سر نه اوبۀ تیرے شوے۔ او په دوی کښ ئے د څو نوموړو کسانو په حق کښ د بد دعاء کولو اراده ووکړه یا ئے شروع کړه چه په هغے کښ ښکاره خبره وه - چه پیغمبر ﷺ په حقه وو۔ خو الله تعالیٰ ته منظوره وه چه پیغمبر ﷺ د خپلے غتے مرتبے موافق د دے نه هم په لوړ مقام وودریږی۔ کافران دے ظلم کوی اوتاسو خاموشه ووسئ۔ د څو مره خبرے چه تاسو ته حکم ملاو شوے دے مثلاً دعوت- تبلیغ- او جهاد وغیره هغه کوئ۔ باقی د دوی انجام خدائے ته حواله کړئ۔ د هغۀ چه څۀ حکمت وی کوی به۔ که ستاسو په بددعا ئ سره دوی هلاک کړے شی۔ د دے په ځائے دا ښۀ نۀ دہ- چه هم دغه د شمنان د اسلام محافظان او په تاسو ځان قربانونکی عاشقان جوړ کړے شی۔ نو چه د کومو خلقو د پاره پیغمبر ﷺ بد دعاء کوله- څو ورځے پس هغه ټول الله تعالیٰ د هغوی ﷺ په قدمونو کښ راوغورزول۔ او د اسلام جانبازه اسپیان ئے ترے نه جوړ کړل۔ مقصد دا شو چه - " لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ " کښ پیغمبر ﷺ ته یاد ګیرنه ورکړے شوے ده۔ چه د بنده نۀ اختیار شته او نۀ د هغۀ علم محیط دے۔ الله تعالیٰ چه څۀ غواړی نو هغه کوی دا ټیک ده چه کافران ستاسو دشمنان دی او په ظلم باندے دی۔ خو د الله تعالیٰ خوښه ده که دوی له هدایت ورکوی او که عذاب۔ تۀ د خپل طرف نه بد دعاء مۀ کوه۔ (تفسیر عثمانی)

دبرکت کلام

حق تعالیٰ د پیغمبر ﷺ تربیت ووفرمائیلو۔ چه بنده ته اختیار نشته- الله تعالی چه څۀ غواړی نو کوی۔دا ټیک ده چه کافران ستاسو د شمنان دی او په ظلم باندے دی۔خو دا د الله تعالیٰ خوښه ده-کۀ هدایت ورته کوی او کہ عذاب ورته ورکوی۔تاسو د خپل طرف نه بد دعاء مۀ کوئ۔(موضح القرآن)

نکته

معلومه شوه چه جهاد د کفر او دهغے د طاقت ختمولو د پاره دے- نۀ چه د کافرانو دختمولو د پاره۔ښۀ خبره هم دغه ده چه کافران ایمان راوړی۔ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آيت ۱۲۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ

او د الله دي څهٔ چه په آسمانونو کښې دي او څهٔ چه په زمکه کښې دي. بخښنه کوي چا ته چه د هغهٔ خوښه وي او عذاب ور

وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۹﴾

کوي چا ته چه د هغهٔ خوښه وي او الله پاک ډير زيات بخښونکے بے حده مهربان دے

نچوړ

الله تعالى د هر څيز حقيقي مالک دے. او هم هغه پوره اختيار مند دے. چا ته چه غواړي بخښنه به ووکړي او چا ته چه غواړي نو عذاب به ورکړي. او هم هغه د گناهونو بخښونکے او په خپلو بنديانو باندے مهرباني کوونکے دے.

اقوال

❶ په تيرشوے آيت کښې چه کوم مضمون بيان شو دا د هغے تاکيد دے.

ان المقصود من هذا تاکيد ماذکره اولا من قوله لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ (التفسير الكبير)

❷ شايد چه په آخره کښې ئے وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ فرمائيلو سره اشاره ووکړه چه هغه خلقو ته به ايمان ورکړے شي -او د مغفرت او د رحمت جوگه به ووگرزولے شي - د کومو په باره کښې چه پيغمبر ﷺ بد دعا کول غوښتل. (تفسير عثماني)

اهم نکته

د دے آيت نه پس په آيت (۱۳۰) کښې د سود خوړلو نه منعه شوے ده. بيا د جنت او د جنت والاؤ د صفاتو ذکر دے. ډيرو اهل تحقيقو مفسرينو د آيت (۱۳۰) نه آيت (۱۳۸) پورے آيتونه هم د جهاد مضامينو سره تړلے دي - ووگورئ يو څو

عبارتونه:

❶ کيدے شي چه د سود ذکر ئے دلته د دے وجهے نه فرمائيلے وي. چه د دے نه وړاندے په جهاد کښې د نامردئ ذکر ووشو. او سود خوړلو سره په دواؤ ذريعو سره نامردي يعني بزدلي راځي. يو خو دا چه حرام مال خوړلو سره د طاعت توفيق

کمیږی۔او غټ طاعت جهاد دے۔دویم دا چه سود اغیشتل د ووچتے درجے شومتیا ده۔پکار خو دا ده چه څومره مال ئے قرض ورکړے دے۔ هم دومره دے واپس واخلی۔خو چه په مینځ کښ پرے د چا کار ووشو۔(یعنی چا ته فائده وورسیده۔)نو دے دغه لږه شان فائده هم مفته نه پریږدی۔او د هغے بدله یعنی سود غواړی نو کوم کس چه په مال کښ دومره شوم وی۔نو هغه به سر څنګه قربان کړی۔ (موضح القرآن)

❷ کافرانو د احد د شهداؤ مثله کړے وه۔یعنی غوږونه- پوزے-شونډے وغیره ئے ترینه کټ کړے وے۔په دے باندے صحابه کرام رضی الله عنهم په غصه کښ راغلل او وے فرمائیل "لنربین" یعنی د یو یو په بدله کښ به د ګنړو ګنړو مثله کوؤ یعنی بدله به د سود سره اخلو۔نو د دے نه الله تعالیٰ منعه ووفرمائیله۔(حاشیه حضرت لاهوری رحمه الله)

❸ د جنګ احد په تذکره کښ د سود د ممانعت ذکر په ظاهره بے تعلقه معلومیږی۔خو کیدے شی چه دا تعلق ئے وی۔چه وړاندے اِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتٰنِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا کښ د جهاد په موقع باندے د نامردئ ښودلو ذکر شوے وو۔او سود خوړلو سره په دواؤ ذریعو سره نامردی پیدا کیږی۔یو خو حرام مال خوړلو سره د طاعت توفیق کمیږی۔ اوغټ طاعت جهاد دے۔او دویم دا چه سود اغیشتل د اوچتے درجے شومتیا باندے دلالت کوی۔ځکه چه سود خور غواړی چه څومره مال ئے ورکړے دے هغه هم واخلی۔او په مینځ کښ چه د چا کار روان شوے دے دغه فائده هم مفته پرے نۀ ږدی۔او د دغے بیله بدله وصول کړی۔نو په کوم کس کښ چه دومره بخل وی۔ چه د خدائے د پاره چا سره لږه غوندے همدردی نۀ شی کولے۔نو هغه به د خدائے پاک په لار کښ سر څنګه ورکړی۔ابو حیان رحمه الله لیکلے دی۔چه په هغه وخت کښ به د یهودو وغیره سره د مسلمانانو سودی معاملات اکثر کیدل۔نو په دے وجه د دوی سره تعلقات پریښودل ګران وو۔خو وړاندے د لا تتخذوا بطانة حکم شوے دے۔او د احد په قصه کښ هم د یهودیانو منافقانو د حرکاتو ډیر لاس وو- په دے وجه ئے خبردارے ورکړو۔چه سودی لین دین پریږدئ۔ګنی نو د دے په وجه که غواړئ او که نۀ غواړئ۔خو د دے لعنتیانو سره به مو تعلقات قائم وی۔کوم چه به وورستود نقصان ووچتولو ذریعه وی۔(تفسیر عثمانی)

فائده

ثابته شوه چه سود خوری او سودی نظام د مسلمانانو د جهاد نه د منعه کولو اهمه ذریعه ده۔ هم دغه وجه ده چه د اسلام دشمنان په مسلمانانو کښې سود عام کوی- دے د پاره چه د "جهاد روح" ختم کړی- والی الله المشتکیٰ۔

فائده


معلومه شوه چه مسلمانانو له د یهودیانو سودی معاشی نظام نه بالکل بیل خپل اسلامی معاشی نظام قائمول پکار دی۔چه یهودیانو ته د محتاجۍ په وجه دوی داسے کمزورے نۀ شی۔لکه څنګه چه نن کمزورے شوے دی۔

فائده

مسلمانانو ته چه د بیا د پاره جهاد کښې د کامیابۍ کومے نسخے اوښودلے شوے۔په هغے کښې یو د سود نه بچ کیدل هم دی۔بیا دوی کښې د جنت شوق پیدا کړے شو۔او د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول ﷺ د اطاعت ترغیب ورکړے شو۔ د مال دخرچ کولو – خپلو کښې د یو کیدو او ډیر ډیر استغفار حکم ورکړے شو۔ او په آخر کښې ئے بیا د جنت زیرے ورکړو–او دے سره د احد د غزا تذکره دوباره شروع کړے شوه۔(والله اعلم بالصواب)

فائده

د آیت ۱۳۰ نه تر ۱۳۸ پورے تعلق اګر چه د جهاد سره واضح دے۔خو د دے مضامین عام دی۔په دے وجه په دے تالیف کښې د دغے آیتونو تفسیر شامل نۀ کړے شو۔(والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۳۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ

او همت مهٔ بائیلئ او خفه کیږئ مهٔ –او هم تاسو به بریالي یئ که چرې تاسو مؤمنان یئ

نچوړ

داحد د غزا د ظاهري شکست نه د متأثره کیدو په وجه په جهاد کښې کمزورتیا مهٔ ښکاره کوئ۔او د غم بوجهـ په ځان مهٔ اچوئ۔که چرې ستاسو ایمان سلامت وي نو غالب هم تاسو یئ۔ستاسو دشمن غالب نهٔ دے۔ او په راتلونکي وخت کښې به ظاهري فتحه او غلبه هم تاسو ته ملاؤ شي – خو که تاسو کمزوري او بزدلي وونهٔ ښودله۔او د ایمان لاره مو پرې نهٔ ښودله۔

نکته

په جنګ کښې د ظاهري شکست نه پس چه د کومو مصیبتونو په مسلمانانو باندې حمله کیږي۔ په هغې کښې د ټولو نه وړومبے مصیبت وهن دے۔او دویم حزن دے یعنی کم همتي– کمزوري او غم – دے سره پوره قوم شل شي۔ د احد په غزا کښې د اویاؤ مسلمانانو لاشونه کټ شوې پراتهٔ وو– او د هغوی اندامونه نوستلے پراتهٔ وو۔حضور پاک ﷺ او اکثر صحابه کرام رضی الله عنهم زخمي زخمي وو۔ د شهدائے کرامو د پاره پوره کفن هم نهٔ وو۔ د مکے مشرکانو په برق برق خاندل۔د مدینے منافقانو وریورے توقے کولے او" د دے وخت د دانشورو په شان" قسماقسم پیغورونه ئے ورکول۔بل اړخ ته د پیغمبر علیه السلام اراده د نور جنګ کولو او په دشمن پسے د کیدو وه۔ د غم–د زخم–د پریشانئ او د تکلیف په دے دوران کښې د آسمان نه آواز راغے –که چرې تاسو ایمان والا یئ– نو کم همتي او غم ولے (کوئ)؟اوس هم تاسو غالب یئ۔ځکه چه ستاسو مړي د جنت په مزو کښې پراتهٔ دي۔او تاسو ته د الله تعالیٰ د قرب خوند درکړے شوے دے۔او ستاسو دشمن خوپه جهنم او د کفر په تیرو او ذلت کښې دے۔ او یاد ساتئ کهٔ چرې تاسو په دے تکلیف او غم کښې ملاویږي۔ خپل ایمان ته نقصان او نهٔ رسؤ۔نو مستقبل کښې به ظاهري غلبه هم تاسو ته (والله اعلم)

تائیدی عبارتونه

❶ وَ اَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ ان بقیتم علی ایمانکم. که چرې تاسو په خپل ایمان قائم پاتې یئ نو بیا به هم تاسو غالب یئ۔ والمقصود بیان ان الله تعالیٰ انما تکفل باعلاء درجتهم لاجل تمسکهم بدین الاسلام. مقصد دا دے چه که په دے حالاتو کښې هم چرې تاسو په اسلام باندے کلک ولاړ ووسئ۔نو الله پاک ستاسو د پاره د غتو او ووچتو درجو ذمه داری اخستے ده۔ (تفسیر کبیر)

❷ وَ لَا تَهِنُوۡا وَ لَا تَحۡزَنُوۡا وَ اَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ که چرے تاسو مومنان یئ۔ نو مهٔ خو په جهاد کښې کمزوری ښکاره کوئ او مهٔ غم (روح المعانی)

یعنی که په الله پاک باندے ایمان لرئ نو بیا په کمزورئ او غم کښې مهٔ پریوځئ۔تاسو د هغهٔ د خاطره قربانی ورکړے ده۔ هغهٔ ستاسو قربانی قبوله کړے ده۔

❸ والحال انکم اعلی منهم شأنا فانکم علی الحق وقتالکم لاعلاء کلمة الله تعالیٰ وقتلاکم فی الجنة وانهم علی الباطل وقتالهم لنصرة کلمة الشیطن وقتلاهم فی النار.

یعنی تاسو د دوی نه په اعلیٰ او(غالب) حالت کښې ئے۔ ځکه چه تاسو په حقه یئ۔اوستاسو قتال کول د الله تعالیٰ د دین د پورته کولو د پاره دی۔او ستاسو مقتولان په جنت کښې دی۔اودا مشرکان په ناحقه دی او د هغوی جنګ د شیطان د پاره دے او د هغوی مړی په جهنم کښې دی۔ (روح المعانی)

یعنی تاسو د ظاهری شکست د پاسه هم ووچت او غالب یئ –او هغوی د ظاهری ګټے د پاسه هم سپک او مغلوب دی۔

❹ دا آیتونه د جنګ احد په باره کښې نازل شو۔کله چه مسلمانان مجاهدین د زخمونو د لاسه چوری چوری وو۔د دوی د غتو غتو بهادرانو لاشونه د دوی مخکښې مثله کړے شوے پراته وو۔پیغمبر ﷺ هم دے بدبختو زخمی کړے وو۔او په ظاهره د پوره شکست نخښے ښکاریدے۔د نا امیدئ او د سختو په دے هله ګله کښې دپاک ذات آواز راغے۔ وَ لَا تَهِنُوۡا وَ لَا تَحۡزَنُوۡا وَ اَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ګورئ؛ د سختو نه د ویریدو په وجه د الله د دشمنانو په مقابله کښې بزدلی او کمزوری ځان ته نزدے هم مهٔ پریږدئ۔د پیښیدونکو مصیبتونو اودحادثاتو په وجه غمژن کیدل او په ځائے کیناستل د مومن طریقه نهٔ ده۔یاد ساتئ؛ نن هم تاسو عزتمند او "سربلندی" یئ۔ځکه چه د حق په ملګرتیا کښې تکلیفونه ووچتوئ او سرونه قربانوئ۔او یاد ساتئ؛ آخری فتحه به هم

ستاسو وی۔ آخر به هم تاسو غالب شئ۔ په شرط د دے چه د ایمان او ایقان په لاره باندے کلک ولاړ یئ۔ او د الله تعالیٰ په وعدو باندے پوره یقین ساتلو سره د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ او د جهاد فی سبیل الله نه قدم وروستو نه کړئ۔ دے خدائی آواز مات شوے زړونه جوړ کړل۔ او بے دمه بدنونو کښې ئے نوے ژوند وراوپوکۀ۔ نتیجه ئے دا شوه– چه هغه کافران چه غالب ښکاریدل۔ د زخمی مجاهدینو د جوابی حملے طاقت ئے وونۀ لرلو۔ اوپه یو دم د میدان نه ووتښتیدل۔ (تفسیر عثمانی)

تفسیری اقوال:

وَ لَا تَهِنُوْا اوسستیٔ مه کوئ

❶ (لا) تضعفوا عن قتال الکفار یعنی کافرانو سره جنګیدو کښې کمزورے کیږئ مه۔ (جلالین)

لکه څنګه چه عام طور په جهاد کښې د شکست خوړلو نه پس کیږی۔ چه د جهاد جذبه مړاوے شی۔ اوپه زړۀ کښې بزدلی او کم همتی پیدا شی۔

❷ همت مه بائیلئ۔ (بیان القرآن)

❸ لاتضعفوا عن الجهاد یعنی په جهاد کښې کمزوری مۀ ښکاره کوئ۔ والوهن الضعف وهن کمزوریٔ ته وائی۔ (تفسیر کبیر)

❹ ای لاتضعفوا عن قتال اعدائکم والجهاد فی سبیل الله تعالیٰ بمانالکم من الجراح.

یعنی د هغه زخمونو په وجه کوم چه تاسو ته رسیدلے دی۔ خپلو د شمنانو سره په جنګ کولو کښې او د الله تعالیٰ په لارکښې په جهاد کولو کښې سستی او کمزوری مۀ ښکاره کوئ۔ (روح المعانی)

د بیا د پاره هم وعده

په دے آیت کښې په راتلونکی وخت کښې د ظاهری غلبے زیرے هم دے۔ څکه خو امام قرطبی رحمه الله لیکی۔

وانتم الاعلون علی الاعداء بعد أحد فلم یخرجوا بعد ذلک عسکرا الاظفروا فی کل عسکر کان فی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم وفی کل عسکر کان بعد رسول الله صلی الله علیه وسلم وکان فیه واحد من الصحابة کان الظفرلهم.

یعنی د احدنه پس اوس تاسو په دشمن باندے زورور یئ۔ څکه خو د احد نه پس چه کله هم د رسول الله ﷺ په زمانه کښې یو لښکر روان شوے دے۔ نو هغه خامخا بریالے شوے دے۔ او د پیغمبر ﷺ د زمانے نه پس هم هر هغه لښکر ته برے ملاؤ شوے دے۔ چه په هغے کښې د پیغمبر ﷺ یو صحابی هم موجود وو۔ (قرطبی)

یوه واقعه

امام قرطبی رحمه الله لیکی۔

انهزم اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم یوم احد فبینا هم کذلک اذأقبل خالد بن الولید الخ. یعنی د احد په ورځ چه کله صحابه کرام رضی الله عنهم په شاشو۔او دوی هم په دغه حالت کښې وو۔ چه خالد بن ولید د مشرکانو د یوې دستې سره د دوی طرف ته ختل شروع کړل۔نو په دې باندې حضور پاکﷺ دعاء ووکړه۔

اللهم لا یعلن علینا اللهم لا قوة لنا الابک اللهم لیس یعبدک بهذه البلدة غیر هؤلآءِ النفر. اې زمونږ پروردګاره چه دوی مونږ ته راونه ختې شي – اې زمونږ پروردګاره ؛ زمونږ دپاره ستا د قوت نه سوا هیڅ طاقت نشته۔اې الله ؛ په دې ښار(مدینه) کښې د دوی (یعنی صحابه کرامو رضی الله عنهم) نه علاوه ستا عبادت کولووالا هیڅ څوک نشته دې – په دې باندې (د ډاډ ګیرنې او د همت زیا تولو په توګه)دا آیت نازل شو – چه دا ئې واوریدل– نو غشو ویشتونکو مسلمانانو په پوره زور او همت سره حمله ووکړه۔او هغوی له ئې شکست ورکړو۔او پره ئې کړل۔(قرطبی)

په دغه وجه امام قرطبی رحمه الله فرمائی۔

عزاهم وسلاهم بما نالهم یوم احد من القتل والجراح وحثهم علی قتال عدوهم ونهاهم عن العجز والفشل.

په دې آیت کښې الله تعالیٰ مسلمانانو ته په احد کښې په رسیدونکو تکلیفونو باندې حوصله او ډاډګیرنه ورکړه۔ او دوی ئې د جهاد د پاره راوو پارول۔او د بزدلۍ او کمزورۍ نه ئې منعه کړل۔

فائده

د حق د پاره جنګیدونکی او مړۀ کیدونکی په هر حال کښې ووچت او کامیاب دی۔ که په ظاهره باندې ورته برې ملاؤ شي او که شکست۔خو په شرط د دې چه په ایمان او په جهاد باندې قائم ووسي۔نو د شکست په وخت کښې مسلمانانو ته د کامیابۍ قاعده وونبودلې شوه۔ چه په ایمان باندې ټینګ ووسۍ۔اوجهاد کوۍ۔ په داسې حالت کښې چه تاسو مړۀ هم شۍ نو غالب به یۍ۔ او ستاسو د شمن که تاسو مړۀ هم کړي نو مغلوب به وي۔ سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم څومره غټ زیرې او څومره سکون ورکونکې ډاډګیرنه ده۔والحمدلله رب العلمین.(والله اعلم بالصواب)

نکته

مسلمانان چه کله هم د کافرانو د لاسه د ظاهري شکست سره مخامخ شي۔نو د غم،خفګان او تکليف په دے موقع باندے شيطان په دوی کښ د قسماقسم خرابو پيدا کولو کوشش کوی۔د دوی په زړونو کښ ' وهن' يعني د همت کمے – په شا کيدل –او د دنيا مينه پيداشي۔او د دوی په جماعت باندے دضعف يعني د کمزورئ او د ګډ وډ کيدو حمله ووشي۔او د دوی په نظرياتو کښ د استقامت (نيغوالی) په ځائے کافرانو ته د تيتيدو خيال پيداشي۔د نا اميدئ په دے حالاتو کښ مجاهدين د جهاداو د شهادت نه لرے شي۔او دخپلے دنيا جوړولو په فکر کښ پريوځي۔د جماعت د امير په مزاج کښ غصه او سختي راشي۔يواځے والے خوښول شروع کړي۔او په دغه وجه يو بل سره مشوره کول پريږدی۔بل خوا ته منافقان خلق د " امير جماعت" خلاف داسے الزامات او وسوسے په جماعت کښ خورے کړي۔ چه د هغے په وجه د جماعت زړۀ د امير نه بد شي۔د سورۀ آل عمران دآيت(۱۳۹) نه راواخلے تر د آيت (۱۷۵) پورے مسلمانانو ته د شکست نه پس بيا د نيغيدو نصاب ښودلے شوے دے۔او د هغه تولو خرابو د ختمولوانتظام شوے دے۔کومے چه د شکست په صورت کښ پيداکيږی۔او مسلمانان پوهه کړے شوے دی۔ چه دوی دے هر حال کښ د الله تعالیٰ په تقدير باندے خوشحاله ووسی۔او په خپل ايمان دے تينګ ولاړ ووسی۔خپل نظريات او ارادے دے مضبوطے ساتی او دا ځۀ چه ووشو دا ددَ خپلو ګناهونو او غلطو نتيجه ووګنړي او ښۀ استغفار دے ووکړي او د خپلو غلطو ازاله دے ووکړي۔خپل جماعت دے ماتيدو ته نۀ پريږدی۔او د جهاد د پريښودو او په دنيا دارئ کښ د انختو خيال قدرے دے هم نۀ کوی۔خپل شهيدان او د هغوی کاميابئ دے يادے ساتی۔د پخوانو مجاهدينو د پوخوالي او د کلک والي ذکر دے په خپل مينځ کښ کوی۔او په دے ظاهري شکست کښ چه کومے فائدے در رسيدلے دی– د هغے مراقبه دے کوی۔مثلا الله پاک چه مونږ په امتحان کښ واچولو نو دے سره ئے مونږ د ګناهونو نه پاک کړو۔مونږ کښ ګڼړو کسانو ته شهادت ملاؤ شو۔زمونږ په جماعت کښ ئے چڼړ ووکړو۔او مومن او منافق ئے بيل بيل کړل۔د امير د اطاعت اهميت په زړه کښ پوخ شو۔او په دے کښ د نا راستئ کولو خطرناک انجام معلوم شو وغيره۔د شکست نه پس پکار دی چه امير خپلو ملګرو سره نرمي کوی۔ او د دوی سره د مشورے کولو عمل دے جاری ساتی۔او جماعت له پکار دی چه د خپل امير خلاف د منافقانو د خوروونکو وسوسو ښکار نۀ شي۔غرض دا چه د شکست

نه پس د ایمان او د جهادي نظریے حفاظت ډیر ضروري دے۔او دا خبره په دے آیتونو کښ په داسے طریقے سره ښودلے شوے ده۔چه د حضراتو صحابه کرامو رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین زړونه ورسره مضبوط شو۔او بیا د احزاب دغزا په سخت ازمیښت کښ هم د هغوی قدمونه وونهٔ خوځیدل۔ (والله اعلم بالصواب)

نکته

انتم الاعلون چه تاسو غالب یئ۔ دا اعلان دا احد د غزا په موقعه باندے ووشو۔کله چه د مسلمانانو لاشونه خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وو۔او د حضور پاک ﷺ او د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم د زخمونو نه وینے بهیدے۔نو په دے باندے غور کولو سره د کامیابئ او ناکامئ اصل معیار معلومیدے شی۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

د شکست نه پس د منافقانو ژبے ښهٔ پرانستے شی۔او هغوی مسلمانانو ته قسماقسم پیغورونه ورکوی او د کم همتئ او د بزدلئ وسوسے خوروی۔بل طرف ته ظاهری کټه موندونکی کافران دا ګمان کول شروع کړی۔چه ګنی هغوی د الله پاک خوښ خلق دی۔نو په دے وجه ئے کټه ووکړه۔او بیا هغوی د مسلمانانو د بیخی ختمولو دپاره سوچونه کول شروع کړی۔په دے آیتونو کښ د تولو جواب راغلے دے۔(والله اعلم بالصواب)

فائده

د موضح القرآن او د بیان القرآن د تقریر مطابق د سورهٔ آل عمران د (۱۳۷) او (۱۳۸) آیتونو تعلق هم دجهاد د مضمون سره دے۔یعنی د مسلمانانو د پاره د شکست نه پس د راتلونکو حالاتو نه د ځان خلاصولو کوم نصاب (قاعده) چه په دے آیتونو کښ بیان شوے دے۔نو دغے مضمون شروع د (۱۳۸) آیت نه کیږی۔ اوګورئ حاشیه موضح القرآن او تفسیر بیان القرآن)

دعاء

اللهم انا نسئلک ایمانادائما. اے زمونږ پروردګاره ! مونږ ته همیش دپاره مضبوط ایمان رانصیب کړے۔آمین یا ارحم الراحمین



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ۭ وَتِلْكَ

که چرې رسیدلے دے تاسو ته زخم نو یقینا هغه قوم ته هم دغه شان زخم رسیدلے دے او دا

الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

شپے ورځے مونږ ا ړو راړو د خلقو په مینځ کښ او چه الله وو پیژني د ایمان خاوندان او

وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاۗءَ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ۱۴۰

چه جوړ کړي په تاسو کښ شهیدان او الله تعالی نۀ خوښوی ظالمان

نچوړ

داحد په غزا کښ چه کوم حالات مسلمانانو ته پیښ شوے دی۔ په هغے کښ د الله تعالیٰ ګڼړ حکمتونه دی۔ وړومبے حکمت دا دے چه الله تعالیٰ د غالب کیدو زمانه د خلقو په مینځ کښ بدلوی رابدلوی۔ تیر کال د بدر په غزا کښ مشرکینوته د شکست زخم رسیدلے وو۔ سخکال تاسو ته وورسیدۀ۔ دویم حکمت دا دے چه د مصیبت په وخت کښ خو د مخلص او منافق امتحان ووشی۔ نو الله تعالیٰ چانړ وو فرمائیلو۔ چه څوک مومن دے اوڅوک منافق۔ دریم حکمت دا دے - چه الله تعالیٰ په تاسو کښ بعضو ته د شهادت درجه در نصیب کړه۔ (او د باقی دواؤ حکمتونو بیان په راروان آیت کښ دے) او الله تعالیٰ کفر او شرک کولو والا ظالمانو سره محبت نه کوی۔ (په دے وجه دے هغوی دا خیال نۀ کوی چه ګنی دوی ته ځکه برے ملاؤ شو چه دوی الله تعالیٰ ته محبوب دی او په حقه دی-)

تفسیری اقوال:

❶ الله تعالیٰ ورځے د خلقو په مینځ کښ بدلوی رابدلوی۔ د دے مطلب دا نۀ دے چه الله تعالیٰ کله د کافرانو مدد کوی او کله د مسلمانانو۔ داسے بالکل نۀ ده- ځکه چه د الله تعالیٰ نصرت یو لوئے اعزاز دے۔ او یوه ډیره ووچته عهده ده - چه کافرانو ته نۀ ملاویږی۔

واعلم انه ليس المراد من هذه المداولة ان الله تعالىٰ تارة ينصر المومنين واخرى الكافرين وذلك لان نصرة الله منصب شريف واعزاز عظيم فلايليق بالكافر (التفسير الكبير)

بلکه د آیت مطلب دا دے چه الله تعالی کله په کافرانو باندے سختی کوی- او کله کله مسلمانان د سختئ په ذریعے سره آزمائی۔ ځکه که چرے تول عمر برے د مسلمانانو وی نو بیا خو به د ایمان قبلولو په باره کښ اختیار ختم شی۔او خلق به صرف برې او کامیابو ته ګوری۔او لګیا به وی ایمان به قبلوی۔ (تفسیر کبیر- بیان القرآن)

❷ مسلمانانو چه په جنګ کښ کوم سخت نقصان ووچت کړے وو۔د هغے په وجه دوی ډیر مړاوے مړاوے وو۔د دے د پاسه د دشمنانو پیغورونه چه ئے واوریدل نو تکلیف ئے نور هم زیات شو۔ځکه چه منافقانو به وئیل۔ چه که محمد ﷺ ریښتونے پیغمبر وے نو دا نقصانونه به درته ولے رسیدل۔یا د لږ وخت د پاره هم عارضی بائیلات به درته ولے پیښیدلو۔الله تعالیٰ په دے آیتونو کښ مسلمانانو له داډ ګیرنه ورکړه۔ چه که په جنګ کښ تاسوته زخمونه وورسیدل۔یا تکلیف مو ووچت کړو۔نو دغه شان حادثے مخالفے ډلے ته هم پیښے شوے دی۔په احد کښ که ستاسو پنځه اویا کسان شهیدان شو اوډیر شے زخمیان شو۔نو یو کال مخکښے په بدر کښ د هغوی اویا کسان جهنم ته وورسیدل او ډیر شے زخمیان شوے دی۔او په دے جنګ کښ په ابتدا کښ هم د هغوی ډیر شے کسان مړهٔ او زخمیان شو۔لکه چه د وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ د الفاظو نه ظاهره ده۔بیا په بدر کښ د هغوی اویا کسان ډیر په ذلت سره قید شو۔ستاسو خو یو کس هم دا ذلت نهٔ دے قبول کړے۔بهرحال د خپل نقصان د هغوی د نقصان سره مقابله ووکړئ۔ نو (تاسو ته به پته ولګی) چه د غم هیڅ خبره نشته۔نهٔ د هغوی د پاره په کبر او غرور سره د سر ووچتولو څه موقعه شته۔باقی زمونږ عادت د همیشه نه دا راروان دے۔ چه د سختئ-د نرمئ-دآرام - بے آرامئ-د تکلیف او راحت ورځے مونږ د خلقو په مینځ کښ بدلوؤ رابدلوؤ۔ چه په دے کښ ډیر شے حکمتونه پټ پراتهٔ دی۔نو بیا هر کله چه مشرکان تکلیف ووچتوی او د باطل حمایت کولو کښ همت نهٔ بائیلی- نو تاسو څنګه دحق په حمایت کښ همت بیللے شئ

وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا یعنی چه ریښتونے ایمان والا د منافقانو نه جدا کړی۔ او د دواړو رنګ صفاصفا او جدا جدا په نظر راشی

والله لایحب الظالمین د "ظالمین" نه مراد که مشرکان وی کوم چه په احد کښې په مقابله کښې ولاړ وو۔ نو مطلب به دا شی چه د دوی د دے عارضی کامیابئ سبب دا نۀ دے چه خدائے پاک دوی سره محبت ساتی۔ بلکه د دے اسباب نور دی۔ او که چرے د "ظالمین" نه مراد منافقان وی۔ کوم چه بیخی د مسلمانانو نه په موقعه باندے جدا شوے وو۔ نو دا ئے ووښودله چه دغه "منافقان" د خدائے پاک په نیز ناخوښه وو۔ په دے وجه د ایمان او د شهادت د مرتبے نۀ دوی لرے ووغورزولے شو۔ (تفسیر عثمانی)

❸ که چرے تاسو ته په شکست کښې نقصان در رسیدلے دے- نو د دے نه مخکښے په بدر کښې کافرانو ته هم مضبوط شکست ملاؤ شوے دے۔ د بعضے اسبابو په لحاظ سره برے او د بعضے کمزورو په وجه شکست خو خامخا ملاویږی۔ او په داسے قسمه شکستونو کښې البته دکره اوکوته پته وولګی بلکه بعضے وخت کښې شکست ملاویدل او بعضے مسلمانان شهیدان کول دالله تعالیٰ مقصود وی۔ دے دپاره چه د مسلمانانو په وینه کښې جوش پیدا شی۔ او خوابیدلے قوم چه زخمی شی-نو بیدار به شی (حاشیه لاهوری رحمه الله)

دبرکت کلام

یعنی فتحه او شکست بدلیدونکے څیز دے۔ او مسلمانانو ته د شهادت درجه ملاویدل وو۔ او د مومن او د منافق وزن معلوم ول وو۔ او مسلمانان نیغول وو۔ په دے وجه دومره (غوندے) شکست ووشو۔ کنی نو الله تعالیٰ دکافرانو نه خوشحاله نۀ دے۔ (موضح القرآن)

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ والله لایحب من لایکون ثابتا علی الایمان صابرا علی الجهاد.

یعنی څوک چه په ایمان او جهاد باندے مضبوط نۀ وی۔ هغه سره الله تعالیٰ محبت نۀ ساتی۔ (تفسیر کبیر)

فائده

د تفسیر کبیر صاحب او د تفسیر قرطبی صاحب د دے آیت په تفسیر کښې د شهدائے کرامو په فضیلتونو باندے او په دے خبره بحث کړے دے چه شهید ته شهید

ولے وائی- شوقيان دے هلته ووګوری.

نکته

په تاسوکښ بعضےکسان الله تعالیٰ دشهادت مرتبے ته رسول غوښتل۔د فصل د پاره اوبه او د نمر رنړا ضروری څیزونه دی۔کنی نو هغه به خراب شی۔هم دغه شان قومونو ته ملی ژوند د شهیدانو په وجه باندے ملاویږی۔د قوم پتی د بهترینو زړونو او دماغو په وینه سره مړیدے شی۔او دآزادئ دلارے فرش صرف د انسانانو د بدنونو نه جوړیږی۔تر کومے پورے چه قربانئ ډیرے نهٔ وی۔نو قوم به ژوند حاصل نهٔ کړے شی۔کله چه د قوم د تولو نه ووچت کسان قربانی کړے شی۔نو په قوم کښ به د ژوند نښے راښکاره شی۔ د دوی جذبات به برق وهی۔او تر کومے پورے چه بدله وانهٔ خلی دوی ته به آرام نهٔ راځی۔ (تفسیر الفرقان)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾

او چه الله تعالی ایمان والا پاک کړي او کافران ختم کړي.

نچوړ

داحد په غزاکښ د ظاهري شکست څلورم حکمت

د پاره د دے چه الله تعالی ایمان والا د ګناهونو د خیري میري نه پاک کړي.(او چه د چا ګناهونه نشته نو چه د هغوی درجے اوچتے کړي). او پینځم حکمت دا دے چه الله تعالی کافران ختم کړي.(دا په دوه طریقو سره ده- یو دا چه غالب راتلو سره به ئے جرأت زیات شي نو بیا به مقابلے ته راشي او هلاک به شي. دوئمه دا چه په مسلمانانو باندے ظلم کولو سره به د الله تعالی په قهر اخته شي او هلاک به شي.

(مستفاد من بیان القرآن)

اقوال او حوالے

❶ وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او د پاره د دے چه الله تعالی پاک کړي ایمان والا اى يكفر عنهم ذنوبهم ان كانت لهم ذنوب والا رفع لهم في درجاتهم بحسب ما اُصيبوا به(ابن كثير) یعني چه الله تعالی به د دوی ګُناهونه ختم کړي که چرے د دوی ګناهونه وي او که نۀ وي نو د دوی درجات به اوچت کړي د تکلیف رسیدو په مقدار.

❷ وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ او چه ختم کړي کافران فانهم اذا ظفروا بغوا و بطروا فيكون ذلك سبب دمارهم وهلاكهم ومحقهم وفنائهم. و لے چه دوی به د کامیابیدو نه پس په سرکشئ او تکبر کښ پریوځي چه د دوی د تبا هئ -هلاکت- بربادئ او د فنا کیدو ذریعه به جوړه شي (ابن کثیر)

❸ بیا د احد په دے شکست کښ څۀ حکمتونه دي -هغے طرفته ئے اشاره کړے ده چه په دے کښ یو خو د ایماندارو امتحان مقصود وو. دوئم دا چه په تاسو کښ ډیر کسان د آخرت او شهادت شوقیان وو. هغوی له شهادت ورکول وو. دریم دا چه کوم خالص مسلمانان دي چه هغوی په دے معرکه کښ پریوځي او پاک شي. او

مخالف کافران ختم شی ځکه چه د همیشه راسے د حق دا تاثیر دے۔ چه کله هم د دے د جماعت وینه بهیدلے ده نو هغے یو نوے رنګ راوړے دے۔ الهی غیرت په جوش کښې راغلے دے -بیا چه کوم خلق په کافرانو کښې د اصلاح قابل وی نو هغوی د ایماندارو په جماعت کښې داخل شی او باقی خلق دَ غیبو نه داسے وهل اوخوری چه نوم او نشان ئے هم باقی پاتے نۀ شی(تفسیر حقانی)

نکته

تاسو چه د احد په جنګ کښې کوم تیندک خوړلے دے۔ نو پکار ده چه د هغے نه عبرت واخلئ - او بیا د پاره خپلو عملونو ته خیال کوئ - داسے نۀ ده پکار چه تاسو د دے په ستو مانتیا کښې داسے ډوب شئ چه د بیا د پاره همت بائیلئ۔ او کښینئ- دا دَ جنګ میدان دے -کله یوه ډله ګټه کوی او کله د بلے نمبر راځی- په بدر کښې تاسو هغوی ته زخم رسولے وو۔ په احد کښې هغوی تاسو ته وو رسولو- خو د جماعتونو د مقابلے په تاریخ کښې د یو دواړو میدانونو ګټه یا بائیلات څۀ اهمیت لری - اصلی خبره چه کوم د سوچ ده۔ هغه ستاسو د زړونو ایمانی قوت دے۔ که چرے په تاسو کښې د ایمان رښتونے روح موجود دے۔ نو بیا په دنیا کښې اوچت والے او سربلندی صرف ستاسو د پاره ده- دے نه علاوه دا حادثه اګر چه شکست دے -خو دننه څۀ مصلحتونه او حکمتونه لری۔ د هغے تولونه (یو) دا دے چه د کهره - کهوټه ازمیښت وو شو۔ او کوم منافقان او کچه زړۀ والا مسلمانان چه اسلامی ډله کښې ملاؤ شوے وو۔ هغوی بے پردے شو۔ او د هغه تولو نه (یو) دا چه خلقو ته د جنګ د نازکو او فیصله کن معاملو ذاتی تجربه وو شوه- د تجربے او مشاهدے نه پس به د دوی قدمونه زیات محتاط شی- د تولو نه غټه خبره دا چه د بعضے مسلمانانو په زړونو کښې کمزورئ پیدا شوے وے- هغه په دے تیندک سره لرے شوے- او د هغوی عزم او ایمان نور هم مضبوط او بے داغه شو (ترجمان القرآن)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

څهٔ ګمان کوئ تاسو چه داخل به شئ جنت ته او لا نهٔ دی ښکاره کړې الله هغه خلق چه کوم په

جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾

تاسو کښې جهاد کوي –او لا ئے نهٔ دی ښکاره کړې صبر کوونکي۔

نچوړ

د جنت کومو ووچتو مقاماتو او ووچتو درجو ته چه الله تعالیٰ تاسو رسوّل غواړی نو ولے تاسو څهٔ وايئ چه دغه مقاماتو ته به تاسو هسے بیسه وورسئ – او الله تعالیٰ به ستاسو امتحان نهٔ اخلی – چه ووګوری چه په تاسو کښې څومره کسان د الله تعالیٰ په لاره کښې جنګیدونکی دی او څومره د جنګ په وخت کښې په ځائے کلک پاتے کیدونکی دی۔ دا خیال مهٔ ساتئ۔ ووچتو مقاماتو ته هغه کسان رسی کوم چه د الله تعالیٰ په لاره کښې هر قسمه سختئ تیرولو او قربانئ پیش کولو ته تیار وی۔

دا په دار کیدل خو ملاوېږی نصیب خورته
هر دعوی ګیر کله په قسمت وی دومره پورته

(مستفاد از تفسیر عثمانی)

تفسیری اقوال:

❶ والمعنى احسبتم يا من انهزم يوم احد ان تد خلوا الجنة كما دخل الذين قتلوا وصبروا على الم الجراح والقتل من غير ان تسلكوا طريقهم وتصبروا صبرهم لا. يعنی د آیت مطلب دا دے چه اے د احد په ورځ په شا کیدونکو؛ و لے ستاسو دا ګمان دے چه تاسو به هم د هغه خلقو په شان جنت ته داخل شئ۔ کوم چه په احد کښې شهیدان شوے وو۔ یا چه هغوی د زخمونو په درد او قتل کیدو باندے صبر ووکړو۔ بغیر د دے چه تاسو د هغوی په لاره باندے لاړ شئ۔ او د هغوی په شان صبر ووکړئ۔ بالکل نه (بغیر د جهاد نه او د صبر نه دا مرتبه نهٔ ملاوېږی۔) (القرطبی)

❷ ای لایحصل لکم دخول الجنة حتی تبتلوا ویری الله منکم المجاهدین فی سبیله والصابرین علی مقاومة الاعداء. یعنی تاسو ته جنت ته داخلیدل تر هغې پورې نۀ شي نصیب کیدې۔ ترڅو پورې چه ستاسو امتحان وانۀ غشتې شي۔ او الله تعالیٰ په تاسو کښې په خپله لاره کښې جهاد کولو والا او د دشمن په مقابله کښې په کلکه جنګیدلو والا معلوم نۀ کړي۔ (ابن کثیر)

❸ او واورئ : ولې تاسو دا خیال کوئ چه جنت ته به په خاصه توګه لاړ شئ او داخل به شئ۔ او حال دا دې چه اوسه پورې خو الله تعالیٰ په ظاهري توګه هغه خلق لا ښکاره کړې هم نۀ دي۔ چا چه په تاسو کښې بنۀ جهاد کړې وي۔ اونۀ ئې هغه خلق ښکاره کړې دي۔ چه په جهاد کښې ئې قدمونه مضبوط وي۔ په خاصه توګه د داخلیدو دا مطلب دې چه مخکښې (جنت ته) لاړ شي او ووچتو درجو ته هم وورسي۔ نو دا کار د سخت مشقت نه بغیر نۀ کیږي۔ لکه څنګه چه د نورو نصوصو نه معلومیږي۔ پاتې شو صرف داخلیدل نو هغه صرف د (الله تعالیٰ) په فضل و کرم سره هم کیدې شي۔ لکه څنګه چه دیغفر لمن یشاء نه اهل حقو ګنړلې ده۔ او په "جهاد" کښې ئې د " بنۀ والي" قید یعنی شرط د دې دپاره وولګولو۔ چه څه لږ شان جهاد خوشوې وو۔ او نیمګړې ثابت قدمي هم شوې وه – د آیت مطلب دا شو چه اوسه پورې لا تاسو نه ډیر جهاد او ثابت قدمي نه ده تر سره شوې۔ او په خاصه توګه باندې جنت ته داخلیدو دپاره دغه ضروري ده ۔ نو بیا د پاره په دې کښې کوشش کول ډیر ضروري دي۔ (بیان القرآن)

د جهاد د فرضیت دلیل

د جهاد نه بغیر او د دشمن په مقابله کښې د خپو کلکولو نه بغیر جنت ته د داخلیدو ګمان مۀ کوئ۔ د الله تعالیٰ دا حکم د جهاد په میدان کښې د خپو کلکولو د ضروري کیدو دلیل دې۔ علامه ابو حیان الاندلسی رحمه الله لیکي۔

وفی انکار الله تعالیٰ علی من ظن ان دخول الجنة مع انتفاء الجهاد والصبر عند لقاء العدو دلیل علی فرضیة الجهاد اذذاک والثبات للعدو وقد ذکر فی الحدیث ان التولی عندالزحف من السبع الموبقات. (البحر المحیط)

فائده

صاحب د ابن کثیر په دې ځائې کښې د دې آیت مماثل (په حکم کښې یو شان) آیتونه راجمع کړې دی هلته کښې ئې ووګورئ۔

عجیبه تقریر

امام رازی رحمه الله د دې آیت په تفسیر کښې یو عجیبه شان نکته بیان کړې ده – هغوی لیکی

واعلم ان حاصل الکلام ان حب الدنیا لایجتمع مع سعادة الآخرة فبقدر مایزداد احد هما ینتقص الآخر. بنۀ پوهه شئ چه د کلام نچوړ دا شو۔ چه د دنیا محبت او د آخرت کامیابی دواړه نۀ شی یو ځائې کیدې– په دې دواړو کښې(د دنیا محبت او د آخرت کامیابی) چه یو څومره زیاتیږی بل به هم دومره کمیږی۔ وذلک ان سعادة الدنیا لاتحصل الابا شتغال القلب بطلب الدنیا والسعادة فی الآخرة لا تحصل الا بفراغ القلب من کل ماسوی الله وامتلائه من حب الله وهذان الامران ممالایجتمعان. او دا ځکه چه د دنیا کامیابی هله ملاویږی۔ کله چه زړۀ د دنیا په غوښتنه کښې پوره مشغول کړې شی او د آخرت نیک بختی هله ملاویږی۔ چه کله زړۀ د غیرالله نه خالی کړې شی۔او دا د الله تعالیٰ د مینې نه ډک کړې شی فلهذاالسروقع الاستبعاد الشدید فی هذه الآیة علی اجتماعهما. هم دغه وجه ده چه په دې آیت کښې د دې دواړو په جمع کیدو باندې ډیره حیرانتیا ښکاره شوې ده(چه تاسو جنت هم غواړئ او دنیا هم نه پریږدئ) وایضاً حب الله وحب الآخرة لا یتم بالدعوی فلیس کل من اقربدین الله صادقا ولکن الفصل فیه تسلیط المکروهات والمحبوبات: بیا د الله تعالیٰ د مینې او د آخرت د مینې صرف دعوه کافی نۀ ده۔ د الله تعالیٰ د دین اقرار کوونکې هر کس رینښتونې نۀ وی۔بلکه اصل پته هغه وخت کښې وولګی کله چه دعوه کوونکی باندې ښۀ او خراب حالت راوستې شی۔

فان الحب هو الذی لاینقص بالجفاء ولا یزداد بالوفاء فان بقی الحب عند تسلیط اسباب البلاء ظهر ان ذلک الحب کان حقیقیا. ځکه چه رښتونې مینه هغه ده چه په جفا(بې وفائئ) سره کمیږی نه– او په وفا سره زیاتیږی نه۔ نو که چرې د مصیبت او د ازمینښت په وخت کښې هم مینه باقی وی۔نو دا د دې خبرې ثبوت دې چه دا مینه حقیقی ده۔ فلهذه الحکمة قال ﴿اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ﴾ بمجرد تصد یقکم الرسول قبل ان یبلیکم الله بالجهاد وتشدید المحنةو الله اعلم.

نو د دغه حکمت د لاندے ئے ارشاد ووفرمائیلو۔ چه آیا تاسو گنړئ – چه صرف د رسول الله ﷺ تصدیق کولو سره به جنت ته داخل شئ۔ او تاسو به الله تعالیٰ په جهاد او سخت امتحان سره نۀ ازمائی۔ والله اعلم (التفسیرالکبیر)

د امام رازی صاحب دا کلام د حکمت نه ډک دے۔ایمان والاؤ له پکار دی چه په دے باندے غور ووکړی۔او د الله تعالی سره ربښتونے مینه وولری۔داسے مینه چه په خرابو وختونو کښې هم موجوده وی۔

دعاء

اے الله؛ مونږ ته د خپل بابرکته ذات سره ربښتونے مینه او وفا رانصیب کړے۔مونږه ته د قبول شوی جهاد او د قدم د مضبوطیا توفیق راکړے۔او مونږه ته په خپل فضل اوکرم سره په جنت کښې مخکښے داخلیدل رانصیب کړے۔ (آمین یا ارحم الراحمین)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ

او تاسو خو به د مرګ ارمان کولو چه لا ور پیښ شوے ور باندے نهٔ وی. نو اوس تاسو اولیدلو

وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۱۴۳﴾

چه په سترګو مو ورته کتل.

نچوړ

او تاسو خو د شهید کیدو ډیر ارمان کوؤ. نو بیا چه کله د دے ارمان د پوره کیدو اسباب ستاسو مخے ته وړاندے راغلل. نو تاسو ولے تیښته شروع کړه. ؟

شان نزول

شان نزول د دے آیت دا دے چه تیر کال بعضے صحابه کرام رضی الله تعالیٰ عنهم په بدر کښ شهیدان شو. او د هغوی غټ غټ فضیلتونه معلوم شو. نو بعضے کسانو دا ارمان ووکړو. چه ارمان؛ چه مونږ ته هم داسے موقعه په لاس راشی. چه دا د شهادت دولت راته ملاؤ شی. آخر چه دا د احد غزاجوړه شوه. نو د هغوی خپے اوخویدے. نو په دے باندے دا آیت نازل شو. (بیان القرآن)

د شهادت ارمان کول جائز دی

فالمراد بالموت هنا الموت فی سبیل الله تعالیٰ وهی الشهادة ولاباس بتمنیها. (روح المعانی)

یعنی د مرګ نه مراد دلته د الله د لارے مرګ دے. چه شهادت دے او د هغے ارمان کولو کښ څهٔ ګناه نیشته.

فائده

د غزوه احد په باره کښ چه کوم آیتونه نازل شو. په هغے کښ په بعضو کښ نصیحت- بعضو کښ د همت زیاتولو- او بعضو کښ د تنبیه- او بعضو کښ د ډاډ ګیرنے رنګ دے. په دے آیت کښ د تنبیه رنګ غالب دے. (والله اعلم بالصواب)

اکثرو عربی تفسیرونو کښ هم د تنبیه رنګ اختیار کړے شوے دے. ☆☆☆

سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۭ اَفَا۟ىِٕنْ مَّاتَ

او محمد خو صرف یو پیغمبر دے۔یقینا دۀ نه مخکښې هم پیغمبران تیر شوی دی۔نو که چرے دے وفات شی

اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ۭ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ

یا شهید کړے شی ۔نو ولے تاسو به په خپلو خپو باندے واپس کیږئ څۀ ؟۔او څوک چه په خپلو خپو واپس

فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْــًٔـا ۭ وَسَيَجْزِي اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ؁۱۴۴

شو۔نو بالکل به د الله نقصان وونۀ کړی هیڅ قدر۔او الله به خامخا شکر گزارو ته بدله ورکړی۔

نچوړ

او محمد ﷺ خو د الله تعالیٰ رسول دے او د دوی نه مخکښے هم ډیر رسولان تیر شوے دی۔نو که دوی وفات شی یا شهید شی نو ولے تاسو خلق به د جهاد او اسلام نه واپس اوړئ څۀ۔او چه کوم سړے د جهاد او اسلام نه واپس واوړیدو نو هغه به د الله تعالیٰ هیڅ نقصان وونۀ کړی۔بلکه خپل هر څۀ به ضائع کړی۔او الله تعالیٰ به کلک پاتے کیدونکو شکر گزارو ته ډیره زربنۀ بدله ورکړی۔مطلب دا شو چه د لوئے نه لویه حادثه هم پیښه شی۔نو بیا هم دین او جهاد د پریښودو شے نۀ دے۔

اقوال او حوالے

❶ فاعلم الله تعالیٰ فی هذه الاية ان الرسل ليست بباقية فی قومها أ بدا وانه يجب التمسک بما أتت به الرسل.

یعنی الله تعالیٰ په دے آیت کښې دا خبره ووښودله چه پیغمبران همیشه په خپلو قومونو کښې نۀ پاتے کیږی۔اصلی او ضروری خبره دا ده چه هغه دین باندے کلک پاتے کیدل پکار دی۔کوم چه هغه پیغمبرانو راوړے دے۔(قرطبی)

❷ فهذه الآية من تتمة العتاب مع المنهزمين ای لم يكن لهم الانهزام وان قتل محمد صلی الله علیه وسلم.

دا آیت هغه زورنه پوره کوی۔کومه چه په (احد کښې) پسپا کیدونکو ته ورکیږی۔یعنی دوی له پسپائی ښۀ نۀ وه۔اګر که نبی کریم ﷺ په رښتیا هم شهید

شوی وو۔ (قرطبی)

دبرکت کلام:

د احد په دې جنګ کښې بعضې کامل مسلمانان هم د ځائې نه بې ځایه شوې وو۔ (یعنی هغوی د میدان نه پسپائی کړې وه) ځکه چه یو کافر په خپل فوج کښې دا آواز کړې وو۔ چه ما محمد ﷺ قتل کړو۔ او د حضرت ﷺ نه ډیره وینه تلې وه چه د هغې په وجه ډیر کمزورې شوې وو۔ او په یوه کنده کښې غورزیدلی وو۔ مسلمانانو چه حضرت محمد ﷺ وونه لیدو نو د شهادت په خبره ئې یقین ووشو۔ چه کله حضرت ﷺ په حال شو نو په میدان کښې حاضر مسلمانان ئې راجمع کړل۔ او بیا ئې جنګ شروع کړو۔ نو کافران په شا شو یعنی (واپس مکې طرف ته لاړل) نو الله تعالیٰ ووفرمائیل۔ چه که رسول ژوندې وی او که نۀ وی دین د الله تعالیٰ دې او په دې باندې کلک ووسئ۔ او د دې نه اشاره ملاویږی چه د پیغمبر ﷺ په وفات به څۀ خلق په شا کیږی۔ او چه کوم ټینګ پاتې شو هغوی د پاره لوئې ثواب دې۔ هم دغه شان اوشوه د پیغمبر ﷺ په وفات باندې ډیر خلق مرتد شو۔ او صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه بعضې خلق واپس مسلمانان کړل۔ او بعضې ئې مړۀ کړل۔ (موضح القرآن)

شان نزول او پس منظر

مفسرینو حضراتو چه د دې آیت کوم شان نزول او د هغې کوم پس منظر لیکلې دې۔ د هغې پوره نچوړ په دې لاندې عبارت کښې ووګورئ۔

واقعه دا ده چه د احد په جنګ کښې حضور اقدس ﷺ په خپله د جنګ نقشه کیخوده۔ د ټولو صفونو د نیغولو نه پس د غرۀ یوه دره پاتې شوه۔ د هغې نه د دشمن په مسلمانانو باندې د شا نه د حملې خطره وه۔ په هغې کښې حضور پاک ﷺ پنځوس غشي ویشتونکی مقرر کړل۔ چه مشر ئې عبد الله بن جبیر رضی الله تعالیٰ عنه وو۔ حضور پاک ﷺ دوی ته تاکید اوکړو چه که مونږ په هر حال کښې یو۔ خو تاسو د دې ځائې نه مۀ خوزئ۔ مسلمانان که غالب شو او که مغلوب۔ چه که تاسو وینئ چه مارغان د دوی غوښې شوکوی۔ نو هم به تاسو خپل ځائې نۀ پریږدئ۔ وانالن نزال غالبین ماثبتم مکانکم(بغوی) مونږ به تر هغې غالب یو چه تر کومې تاسو په خپل ځائې کلک یئ۔ غرض دا چه فوج ته ئې پوره هدایات ورکړل۔ او جنګ ئې شروع کړو۔ میدان ګرم وو۔ او داسلام غازیان به یو یو وړاندې کیدۀ۔ او خپله بهادری به ئې ښکاره

کوله۔ دحضرت ابودجانه او حضرت علي او د نورو مجاهدينو رضي الله تعالى عنهم د بهادرئ او زړۀ ورتوب په مخکښې د قريشود مشرکانو ملا ماته شوې وه۔ او هغوی ته د تيښتې نه علاوه بله لار په نظر نه راتله۔ الله تعالیٰ خپله وعده پوره کړله۔ کافرانو ته سخت شکست ووشو۔ او وار خطا تښتيدل۔ کومې ښځې چه د کافرانو د غيرت تيزولو د پاره راغلې وې۔ هغوی هم بډې رابښکلې وې۔ او يو خوا بل خوا په تيښته وې۔ مجاهدينو په مال غنيمت قبضه اچول شروع کړل۔ دا حالت چه هغه غشو ويشتونکو وليدۀ۔ نو خيال ئې راغې چه اوس فتحه پوره شوه۔ دشمن په تيښته دې اوس دلته بيکاره ناسته څۀ پکار ده۔ ځو چه د شمن په مخه واخلو او په مال غنيمت کښې حصه واخلو۔ حضرت عبدالله بن جبير رضي الله تعالىٰ عنه دوی ته د رسول الله ﷺ هغه ارشاد وریاد کړو۔ خو هغوی دا ګڼړله چه د حضور ﷺ د ارشاد منشاء مونږ پوره کړې ده۔ او دلته د ايساريدو حاجت نشته۔ په دې خيال سره ټول په مال غنيمت ورغلل۔ صرف عبدالله بن جبير رضي الله تعالىٰ عنه او د دوی يوولس ملګری د درې د حفاظت د پاره پاتې شو۔ د مشرکينو د سورو مشری د خالد بن وليد په لاس کښې وه۔ چه دغه وخته پورې لا "حضرت" او " رضي الله عنه" نۀ وو جوړ شوې۔ هغوی واپس د درې د طرف نه حمله وکړه۔ نو دولس غشو ويشتونکو د دوه نيم سوه سورو حمله چرته منعه کولې شوه۔ خو حضرت عبدالله بن جبير رضي الله تعالىٰ عنه او د هغوی ملګرو د دفاع کولو پوره کوشش ووکړو۔ او هم په دغې کښې ئې ځان قربان کړو۔ مسلمانان مجاهدين دخپل وروستو اړخ نه بې غمه وو۔ ناګهانه د مشرکانو لښکر د دوی په سر راوورسيدۀ۔ او د مخې نه چه کوم مشرکان په تيښته وو۔ هغوی هم راواپس شو۔ مسلمانان د دواړو طرفو نه ګير شو او سخت جنګ ووشو۔ او ګڼړ مسلمانان په کښې شهيدان او زخميان شو۔ هم په دغه هله ګوله کښې ابن قميه (مشرک) په يو دروند کاڼړی باندې نبی کريم ﷺ اوويشتۀ۔ چه په هغې د پيغمبر ﷺ غاښ مبارک شهيد او مخ مبارک ئې زخمي شو۔ ابن قميه غوښتل چه پيغمبر ﷺ قتل کړي۔ خو مصعب بن عمير رضي الله تعالىٰ عنه (د چا په لاس کښې چه د اسلام جهنډا وه) د هغوی دفاع وکړه۔ نبی کريم ﷺ د زخم د سختئ دوجې نه په زمکه راپريوتۀ۔ يو شيطان آواز اولګولو۔ چه پيغمبر ﷺ قتل کړې شو۔ دا چه ئې واوريدل نو د مسلمانانو وار خطا شو اوخپې ئې اوخوډې۔ بعضې مسلمانان په ځائې

کیناستل او بعضے کمزورے کسانو دا خیال ووکړو۔ چه د مشرکانو د سردار ابو سفیان نه امن حاصل کړی۔ بعضے منافقانو دا وئیل شروع کړل۔ چه هر کله محمد ﷺ قتل کړے شو نو اسلام پریښودل پکار دی۔ او خپل زوړ مذهب ته تلل پکار دی۔ دغه وخت د انس بن مالک رضی الله عنه تره انس بن نضر رضی الله تعالیٰ عنه ووفرمائیل۔ چه که محمد ﷺ قتل کړے شو۔ نو د محمد ﷺ رب خو نهٔ دے قتل شوے۔ د پیغمبر ﷺ نه پس ستاسو ژوندی پاتے کیدل د څهٔ د پاره دی۔ په کوم څیز چه پیغمبر ﷺ قتل کړے شو۔ په هغه څیز باندے تاسو هم ځان قربان کړئ۔ او په کوم څیز چه هغوی سر ورکړو نو تاسو هم په هغه څیز سر ورکړئ۔ دائے اووئیل او وروړاندے شو حمله ئے ووکړه۔ وو جنګیدو او اووژلے شو (رضی الله تعالیٰ عنه) هم په دغه وخت کښں پیغمبر ﷺ آواز ووکړو الیّ عباد الله انا رسول الله د الله بندیانو دیخوا راشئ۔ څهٔ د الله پیغمبر یم۔ کعب بن مالک رضی الله عنه پیغمبر ﷺ اوپیژندهٔ۔ نو په چغه ئے اووے "یا معشر المسلمین" مسلمانانو زیرے مے درباندے۔ خوشحاله شئ۔ پیغمبر ﷺ دلته کښں موجود دے۔ دا اوریدل وو۔ چه مسلمانان ورو ورو راغونډیدل شروع شو۔ دیرش صحابه کرام رضی الله تعالیٰ عنهم د پیغمبر ﷺ خوا ته راغلل او دفاع ئے اوکړه۔ اود مشرکانو فوج ئے خور وور کړو۔ په دے موقعه باندے سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه۔ طلحه رضی الله عنه۔ او ابو طلحه رضی الله تعالیٰ عنه۔ قتاده بن نعمان رضی الله عنه اونورو هم لویه بهادری ووښودله۔ آخر

مشرکان په میدان پریښودو باندے مجبورشو۔ او دا آیتونه نازل شو۔ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ یعنی محمد ﷺ هم آخر خدائے خو نهٔ دے یو رسول دے۔ هغهٔ نه مخکښے څومره پیغمبران تیر شوے دی چه د هغوی نه پس د هغوی پیروکارو خلقو دین سمبال کړو۔ او مال او ځان ئے قربان کړو۔ او دا دین ئے قائم ووساتهٔ۔ د پیغمبر ﷺ د دے دنیا نه تلل څهٔ ناآشنا خبره خو نهٔ ده۔ اوس نه سهی که بیا چرته د پیغمبر ﷺ وفات ووشو یا شهید کړے شو۔ نو ولے تاسو به د دین د خدمت او د حفاظت د لارے نه واپس کیږئ څهٔ ؟۔ او جهاد فی سبیل الله به پریږدئ څهٔ؟۔ لکه څنګه چه دے وخت کښں ډیرو کسانو د قتل خبر اوریدو سره حوصله بائیللے وه۔ او کیناستلے وو۔ یا به د منافقانو د مشورے مطابق العیاذ بالله د سره به دین ته په مخه ښه وواپئ۔ تاسو نه داسے امید بالکل نشته او چا چه داسے ووکړل نو خپل نقصان به ووکړی۔ د خدائے پاک به څهٔ ووکړی۔ هغه ستاسو د مدد محتاج نهٔ دے۔ بلکه تاسو شکر ووکړئ۔ چه هغهٔ د خپل دین په خدمت

کبښ ولګولئ۔ (تفسیر عثمانی)

وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ نعمه بالثبات (جلالین) او الله تعالیٰ زر ده چه هغه شکر ګزارو له بدله ورکړی۔ کوم چه د ثابت قدمئ په ذریعے سره د هغهٔ د نعمتونو شکر ادا کوی۔ یعنی په جهاد کښ د ثابت قدمئ په ذریعے سره۔

نکته

که پیغمبر ﷺ هم شهید شی نو د جهاد د پریښودو څهٔ خبره نشته۔ دے خبرے فرمائیلو سره د صحابه کرامو رضی الله عنهم نظریات د غر نه زیات مضبوط جوړ کړے شو۔ د پیغمبر ﷺ د جدائیٔ نه زیات د زمکے په مخ بله غټه حادثه نهٔ شی کیدے۔ نو هر کله چه د دومره غټے حادثے او غم په وخت باندے جهاد پریښودل جائز نهٔ دی۔ نو بیا د بلے یوے حادثے په وخت باندے به د دے څنګه اجازت ووکړے شی۔



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ وَ

او نیشته دے اختیار د یو نفس چه مړ شي بغیر د الله د حکم نه په مقرره نیته باندے -او څوک چه

مَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ

اراده لري د دنيا د بدلے نو مونږ به د دے نه ورکړو دۀ ته -او څوک چه اراده د آخرت د بدلے لري

الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ وَسَنَجْزِى الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾

نو مونږ به ورکړو دۀ ته د هغے نه -او مونږ به خامخا بدلے ورکړو شکر گزارو ته -

نچوړ

که دا گنړئ چه په جهاد کښ مرگ راځي۔نو ستاسو خيال غلط دے۔د مرگ وخت مقرر دے او د هغے نه مخکښے څوک هم نۀ مري۔که څوک په جهاد کښ د لوټ او مال غنيمت د پاره شريکيږي۔نو مونږ هغوی ته دا څيز هم په دنيا کښ ورکوؤ۔او چه څوک د شهادت او آخرت طلبگاروی نو بيا د سترگو پټيدو پورے وخت لگي۔د هميشه د پاره د عيش وعشرت او سلطنت والا اجر د دۀ د پاره موجود دے۔ (مستفاد از تفسير حقاني)

تفسيري اقوال:

❶ د مرگ دا مقرره نيته د الله نه سوا هيڅ چا ته نۀ ده معلومه۔نو په جنگ کښ د شريکيدو نه دومره ويره او تيښته ولے کيږي۔مرگ چه کله هم راځي نو د خدائے پاک په حکم به راځي۔ د دے نه بغير نۀ شي راتلے۔که خطرے هر څومره سختے ولے نۀ وي۔په دے حقيقتونو که نظر وي نو د مرگ هغه طبعي ويره به د ضرورت نه نۀ زياتيږي۔ (تفسير ماجدی)

❷ وسنجزی الشاکرين او زر به مونږه شکر کونکو ته بدله ورکړو۔ چا چه د الهي نعمت شکر داسے ادا کړو۔چه په جنگ کښ شريک شو او د جهاد نه ئے ځان پټ نۀ کړو۔الذين شکروا نعمة الله فلم يشغلهم شئی عن الجهاد (بيضاوی) (تفسير ماجدی)

۳ لایتقدم ولا یتاخر فلم انهز متم والهزیمة لا تدفع الموت والثبات لایقطع الحیاة.

یعنی مرګ د خپل وخت نه مخکښې نه راځي۔ او نۀ د خپل وخت نه وروستو راځي۔ نو بیا تاسو په جهاد کښ ولې په شا شوئ۔ د جنګ نه په شا کیدو سره خو د مرګ نه څوک نۀ بچ کیږي۔ او په جنګ کښ کلک پاتې کیدو سره مرګ نۀ راځي۔ (جلالین)

۴ چه کله یو سړے د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر نۀ مري۔ که هر څومره اسباب د مرګ جمع شي۔ او هر چا ته مرګ په یوه مقرره نیټه باندې راتلونکے دے۔ که په بیمارئ سره وي یا په قتل سره وي۔ یا په بل څۀ وجه وي نو په خدائے پاک باندې توکل کوونکو له د دے نه ویریدل نۀ دي پکار۔ او نۀ دا پکار دي چه د یو وړوکي یا لوئے کس د مرګ واورې نو نا امیده شي۔ او په ځائے کښینې۔ (تفسیر عثمانی)

د برکت کلام:

یعنی چه کوم خلق په دین باندې کلک پاتې شي۔ هغوی ته به دین هم ملاؤ شي او دنیا هم –خو که څوک د دے په قدر پو هیږي۔ (موضح القرآن)

نکته

د آیت په اوله حصه کښ د جهاد ترغیب دے۔ چه هر کله د مرګ وخت فیصله شوے دے –نو بیا د مرګ د ویرې نه جهاد پریښودل کم عقل توب او بزدلي ده۔ او په دے کښ د مسلمانانو سخت نقصان دے۔ او د آیت په دویمه حصه کښ د اخلاص ترغیب دے۔ چه جهاد صرف او صرف د الله تعالیٰ د رضا د پاره او د آخرت د ثواب د پاره کول پکار دي۔ او د آیت په آخري ټکړه کښ په جهاد کښ د کلکو پاتې کیدونکو مجاهدینو تعریف او فضیلت راغلے دے۔ (والله اعلم بالصواب)

د جهاد ترغیب

امام رازی رحمه الله لیکي۔

الثانی:ان یکون المراد تحریض المسلمین علی الجهاد باعلامهم ان الحذر لایدفع القدر وأن احدا لایموت قبل الأجل واذا جاء الأجل لایندفع الموت بشی فلا فائدة فی الجبن والخوف.

یعنی دویم صورت د دے آیت د مخکښې آیت سره دَ تعلق دا دے۔ چه په دے کښ مسلمانان جهاد ته رابیدار کړے شوے دي۔ او په دے ئے پوهه کړے دي چه د ځان بچ

کولو تدبیر سره تقدیر نه بدلیږی۔او هیڅ یو سړے د خپل مقرر وخت نه مخکښے نۀ شی مړ کیدے۔او چه کله مقرر وخت راؤرسی نو بیا هیڅ یو څیز د مرګ نه بچ کول نۀ شی کولے۔نو د بزدلئ او د ویرے هیڅ فائده نشته دے۔ (التفسیر الکبیر)

علامه ابن کثیر رحمه الله لیکی:

وهذه الاية فيها تشجيع للجبناء وترغيب لهم فى القتال، فان الاقدام والاحجام لاينقص من العمر ولا يزيد فيه.

یعنی په دے آیت کښی د بزدلو د پاره د بهادرئ سبق او د قتال ترغیب دے۔بے شکه مخکښے کیدو او جنګ کولو سره عمر نۀ کمیږی۔او په شا تلو سره عمر نۀ زیاتیږی۔

دے نه پس علامه ابن کثیر یوه قصه لیکی۔

قال رجل من المسلمين وهو حجر بن عدى الخ. چه د یو جهاد په دوران کښی یو مسلمان حجر بن عدی رحمه الله د دجلے د دریاب په غاړه خپل لښکر ته ووفرمائیل۔(چه تاسو په دے یو څاڅکی اوبو باندے د پورے وتو او دشمن ته درسیدو نه څۀ شی بند کړے یئی؟او بیا ئے هم دا آیت وولوستلو۔ "وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا " او خپل اس ئے د دجلے په دریاب باندے ورواچولو۔دوی پسے تول لښکر خپل اسونه په دریاب باندے ورواچول۔چه کله دشمنانو په دے حالت باندے دوی ووليدل نو چغه ئے کړۀ۔چه داخو" دیوان " دی۔ او ووتښتیدل۔ (تفسیر ابن کثیر)

امام قرطبی رحمه الله لیکی۔

هذا حض على الجهاد واعلام ان الموت لابدمنه وان كل انسان مقتول او غير مقتول ميت اذا بلغ اجله المكتوب له. دا آیت د جهاد د پاره تیارول کوی۔اوداخبره ښکاره کوی چه مرګ یو لازمی څیز دے۔هیڅ یو انسان که قتل شواو که نۀ شو۔خو چه اجل ئے راشی نو مری به۔ (قرطبی)

علامه آلوسی رحمه الله لیکی۔


استئناف سيق للحض على الجهاد واللوم على تركه خشية القتل مع قطع عذر المنهزمين خشية ذلك بالكلية ويجوز ان يكون تسلية عما لحق الناس بموت النبى صلى الله عليه وسلم واشارة الى انه عليه السلام كغيره لايموت الا باذن الله تعالىٰ فلاعذر لاحد بترك دينه بعد موته.

دا جمله په جهاد باندے د تیارولو د پاره راوړلے شوے ده –او په دے کښی د مرګ د

ویرے نه په جهاد پریښودو باندے ملامتیا راغلے ده۔او د مرګ د ویرے نه د جهاد د پریښودونکو عذرئے نا منظوره کړے دے۔او دا هم ممکنه ده۔ چه په دے آیت کښ هغے خلقو ته تسلی وی۔ چه کومو خلقو باندے د حضور اقدس ﷺ د وفات په خبر باندے بے حالی راغلے وه۔(هغوی ته تسلی ده) چه حضور پاک ﷺ به هم د نورو خلقو په شان د الله تعالیٰ په حکم باندے وفات کیږی۔نو چاته دا اجازت نشته دے۔ چه د حضور پاک ﷺ وفات بهانه کړی او دین پریږدی۔ (روح المعانی)

دعاء

یا الله د مرګ په باره کښ زمونږ عقیده د دے آیت مطابق جوړه کړے۔او زمونږ زړونه د بزدلئ نه پاک کړے۔(آمین یااکرم الاکرمین)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ

او ډیر پیغمبران دي چه د هغوی په ملګرتیا کښې ډیرو خداپرستو خلقو جنګونه کړي دي –نو هغوی همت نهٔ دے

اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

بائیللے دهغې تکلیف په وجه باندے چه هغوی ته رسیدلے وو د الله په لار کښې –او نهٔ کمزورے شوے وو–او نهٔ دبلاو شوے

الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۶﴾

وو–او الله د کلکو خلقو ملګرے دے–

نچوړ

ستاسو نه مخکښې ډیر الله والا خلق د پیغمبرانو سره ملګرے شوے دی۔ او د کافرانو سره ئے جنګ کړے دے۔ په دے کښې هغوی ډیر تکلیفونه او سختئ برداشت کړے دی۔ خو په هغه سختو تکلیفونو او مصیبتونو باندے نهٔ د هغوی ارادے سستے شوے۔ او نه ئے همت بائیللے وو۔ او نه ئے کمزوری ښکاره کړے وه۔ او نهٔ دشمن ته تیټ شوے دی۔ په جهاد کښې کلکو خلقو سره الله تعالیٰ محبت ساتی۔ نو مسلمانان چه خیر امت دے نو دوی دے هم دغه شان په جهاد کښې همت، قوت، صبر او کلکوالے ښکاره کړی۔ او د ظاهری شکست په وخت کښې همت بائیلل نهٔ دی پکار۔

اقوال او حوالے

❶ ډیر پیغمبران داسے تیر شوے دی۔ چه د هغوی په ملګرتیا کښې خدائی خلقو د حق د مخالفینو سره جنګ کړے دے۔ لکه موسی علیه السلام او یوشع بن نون علیه السلام وغیرهما۔ بیا چه دوی ته د الله تعالیٰ په لار کښې کوم تکلیف رسیدلے دے۔ (زخمی شوے دی، مړه شوے دی، لوږه تنده ئے تیره کړے ده، پیاده سفر ئے کړے دے) دے سره د هغوی ایمانی جوش سوړ شوے نهٔ دے۔ او نهٔ د هغوی نه د قتل کیدو په وخت کښې څهٔ ناشولته کار شوے وو۔ او نهٔ دهغے نه پس هغوی په جهادکښې کمزوری ښکاره کړے ده او نهٔ د دشمن د طاقت په وجه د هغوی حوصلے غورزیدلے دی –ګوریٔ د الله تعالیٰ د داسے صبرناکو خلقو سره

محبت دے۔ (تفسیر حقانی)

۲ ربِّیّونے مومن خو هغه دے چه نهٔ خو په سختو او تکلیفونو سره همت بائیلی۔ نهٔ کمزورے کیږی۔ او نهٔ په هیڅ حال کښ د ظالمانو په مخکښے عاجزی اوبے وسی ښکاره کول خوښوی۔ قرآن مجید وائی چه په دوی کښ وهن ضعف او استکانة للخصم نه شی کیدے۔ "وهن" دے ته وائی چه بے همته شی او کینی۔ "ضعف" دے ته وائی چه میدان ته ورځی خو کمزوری ښائی ."استکانةللخصم" دے ته وائی چه د دشمن مخکښے په ژړا شی۔ (ترجمان القرآن)

۳ دلته ئے داخبره ښودلے ده چه د جهاد سنت د پخوانو پیغمبرانو د وخت نه راروان دے۔ او په دے لاره تلونکو خلقو ته داخبرے خا مخا پیښیږی۔ رِبِّيُّونَ د ربی جمع ده اوربی د ربانی سره مرادف دے۔ یعنی الله والا — اوعلماء — اوفقهاء ترے نه هم مراد کړے شوے دی — ای ربانیون (کشاف) اخرج سعید بن المنصور عن الحسن انهم العلماء الفقهاء واخرجه ابن جبیر عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ایضاً فهو منسوب الی الرب.(روح المعانی) یوه معنی د اکابرو نه د جماعت کثیر هم نقل ده۔ ای اُلوف وقال ابن عباس ومجاهد وسعید بن جبیر رضی الله تعالیٰ عنه وعکرمة والحسن وقتادة والسدی والربیع وعطاء الخراسانی الربیون الجموع الکثیرة (ابن کثیر). "وهن ،ضعف استکانة . په دے درے واړه قریب المعنی الفاظو کښ یو فرق امام رازی رحمه الله ذکر کړے دے۔ چه وهن خو د زړهٔ کمزوریٔ ته یا کم همتیٔ ته وائی۔ اوضعف مطلق دے او د دے تعلق د جسمانی قوت او د مادی قدرت د غورزیدو سره خصوصی طور دے۔ او استکانة د بے وسیٔ ښکاره کولو ته وائی۔ او هم دے امام رازی رحمه الله یو بل فرق هم نقل کړے دے۔ چه د "وهن" تفسیر د ویرے په غلبے سره ووکړے شی۔ او د ضعف تفسیر په ایمانی کمزوریٔ او شک شبهو سره او د استکانة تفسیر د دین په بدلولو سره ووکړے شی۔ (تفسیر ماجدی)

۴ الوهن انکسار الجدبالخوف(قرطبی). دویرے نه د یو کار پریښودل۔ (قرطبی)

وَاللَّهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ علی الجهاد (قرطبی)

یعنی الله تعالیٰ په جهاد باندے کلکیدونکو خلقو سره محبت فرمائی۔ علامه ابو حیان دا د جمهورو قول ښودلے دے۔ (البحر المحیط)

❺ دے سره ئے هغه مسلمانان بيدار کړل او غيرت ئے ورکړو۔ چه کومو مسلمانانو د جنګ احد په ميدان کښ کمزوري کړے وه- تر دے چه بعضو وئيلے وو۔ چه څوک دريم ګړے مخکښے کوؤ۔ چه د ابوسفيان نه امن حاصل کړو۔ مطلب دا دے چه څنګه د مخکښے امتونو حق پرسته خلقو په مصيبتونو او سختو کښ دومره صبر او استقامت ښکاره کړے وو۔نو دا امت چه خير الامم دے -دوی له خو زيات صبر او استقامت پکار دے۔ (تفسير عثمانی)

دا تقرير د امام رازی رحمه الله د تقرير سره نزدے دے۔ واعلم انه تعالیٰ من تمام تأديبه قال للمنهزمين يوم احد ان لكم بالانبياء المتقدمين واتباعهم اسوة حسنه فلما كانت طريقة اتباع الانبياء المتقدمين الصبر على الجهاد وترک الفرار فكيف يليق بكم هذا الفرار والانهزام ؟(التفسير الكبير)

د آيت دوه مطلبه

تول لوئے لوئے مفسرين د آيت دوه مطلبونه بيانوی۔

❶ په تيره شوے زمانه کښ د جهاد په دوران کښ څۀ پيغمبران او د هغوی الله والا ملګری شهيدان شو۔ خو د هغوی د شهيد کيدو په وجه ژوندو حق پرستو کسانو په جهاد کښ کمزوری نۀ ده ښودلے۔ بلکه ښۀ کلک جهاد ئے کړے دے۔نو اے مسلمانانو تاسو چه د حضور اقدس ﷺ د شهادت خبر واوريدلو نو بے همته ولے کيناستئ۔؟

❷ حضرت سعيد بن جبير رحمه الله فرمائی۔ چه د جهاد په دوران کښ چرته پيغمبر نۀ دے شهيد شوے۔ (تفسير كبير- البحر المحيط- كشاف)

نو مطلب دا دے چه په تيره شوے زمانه کښ الله والا خلق د خپلو پيغمبرانو سره شو۔او د دشمن خلاف ئے جهاد کولو۔بيا چه کوم تکليفونه او سخت حالات په جهاد کښ په هغوی باندے راغلل۔نو د هغے په وجه هغوی کمزورے نۀ شول۔بلکه په جهاد کښ کلک پاتے شول۔نو اے مسلمانانو تاسو هم د هغوی نه زيات په جهاد کښ کلک والے او همت ښکاره کړئ۔

نکته

د شکست نه پس عمومی طور باندے وهن پیدا کیږی۔ چه د هغے آسانه ترجمه کم همتی ده۔ یعنی زړه بائیلل او د شهادت د شوق نه محرومه کیدل او د دنیا په محبت کښ اخته کیدل۔ د دے وهن په وجه ضعف یعنی د مسلمانانو په قوت کښ کمزوری پیدا شی۔ او بیا استکانة تـه خبره وورسی۔ چـه د کافرانو مخکښے د تیښتیدو وخت راشی۔ هم په دے وجه د دے دریوارو خبرو نـه د بچ کیدو تلقین ووکړے شو۔ او د دے طریقه استغفار ووښودلے شو۔ یعنی د ځان بچ کولو او په یو بل باندے د الزام لګولو او د کافرانو مخکښے د تیښیدو په ځائے دے سمدستی په خپلو ګناهونو نظر واچولے شی۔ او ښـۀ په رښتونی زړۀ سره دے د الله تعالیٰ مخکښے استغفار ووکړے شی۔ او د هغۀ نه دے مدد ووغوښتلے شی۔ نوانسان د شکست خوړلو په وجه دے پیداکیدونکے دریوارو بیماورنه بچ کیدے شی۔

علاج ورپسے آیت کښ ذکر دے۔ یعنی آل عمران (۱۴۷)

مَا اسْتَكَانُوا ! هـغـوی تیښت اودباؤنه شول – د دے لفظ په معنی کښ ابو حیان رحمه الله یو څو اقوال نقل کړے دی

❶ ابـن اسـحـاق ماقعد واعن الجهاد فی دینهم یـعـنـی د دیـن د خاطره ئے جهاد پرے نۀ ښودلو۔

❷ وقال السدی ماذلوا یعنی تیښت نۀ شو۔

❸ وقال عطاء ماتضر عوا د دشمن په مخکښے په زاریٔ نه شول۔

❹ وقـال مقاتل مااستسلموا یـعـنـی هغوی دشمن ته وسله کینخودله او سلامی نۀ شو۔

❺ وقال ابو العالیةماجبنوا یعنی بزدلی ئے ښکاره نۀ کړله۔

❻ وقال المفضل ماخشعوا یعنی وونۀ ویریدل۔

❼ وقـال قتادة والـربیع مارتدوا عن نصر تهم دینهم ولکنهم قاتلوا علی ماقاتل علیه نبیهم حتی لحقوا بربهم. یـعـنـی هغوی د خپل دین د مدد کولو نه واپس نۀ شول۔ بلکه دهـغـه څۀ دپاره ئے جنګ ووکړو – دکوم څۀ د پاره چه به د هغوی نبی جنګ کولو۔ تر دے چه دوی خپل رب ته وورسیدل۔ (البحر المحیط)

فائده

معلومه شوه چه:

❶ پیغمبرانو علیهم السلام به د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ کولو۔

❷ صحابه کرامو، اولیائے کرامو،عالمانو او فقیهانو به جهاد کولو۔

❸ د جهاد په دوران کښې به په هغوی سخت حالات،ظاهری شکست او امتحانات راتلل۔په دے دریو خبرو باندے چه غور ووکړے شي۔نو د جهاد خلاف د ډیرو وسوسو جواب ملاویدے شي۔(والله تعالیٰ اعلم)



سُوْرَۃُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِیَّۃٌ آیت ۱۴۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَإِسْرَافَنَا

او سوا دے نه به د دوی بله خبره نۀ وه چه دوی به وئیل۔ اے زمونږه ربه! مونږ ته زمونږ گناهونه او په خپل

فِيْٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾

کار کښې زمونږ کمے بیشے ووبخښے۔ او زمونږه خپے کلکے کړے او د کافر قوم خلاف زمونږ مدد ووکړے۔

نچوړ

د انبیاء علیهم السلام په ملګرتیا کښې چه کومو الله والو خلقو جهاد ووکړو۔ نو هغوی خو د غم او پریشانئ او مصیبت په وخت کښې یوخوا ته خو ښۀ په کلکه په جهاد کښې لګیاوو۔ او بل خوائے دا دعاګانے غوښتلے۔

❶ یا الله زمونږ ګناهونه معاف کړے۔

❷ د جهاد په دے عمل کښې چه زمونږ نه کومے غلطئ شوے دی۔ هغه معاف کړے۔

❸ زمونږ خپے مضبوطے کړے۔

❹ مونږ ته په دشمن باندے غلبه راکړے۔

نکته

اوّل ئے د ګناهونو نه معافي ووغوښتله او ځان ئے پاک کړو۔ او الله تعالیٰ سره ئے خپل تعلق جوړ کړو۔ او بیا ئے د خپلے مضبوطیا سوال ووکړو۔ او وفا داری ئے ښکاره کړه ۔ او بیا ئے په دشمن باندے د غلبے حاصلولو دعاء ووکړه ۔ (والله اعلم)

فائده

یعني په ډیرو سختو او تکلیفونو کښې ئے نۀ څۀ د ویرے خبره کړے ده۔ او نۀ ئے د مقابلے نه د تښتیدو او د دشمن د خبرے منلو یو لفظ په خلۀ وئیلے دے۔ چه خبره ئے کړے ده نو دغه خبره ئے کړے ده۔ چه یا الله زمونږ تقصیرات او زیاتئ معاف کړے۔ او زمونږ زړونه مضبوط او کلک کړے۔ چه زمونږ خپے د حق د لارے نه وونۀ خوځیږی۔ او مونږ ته د کافرانو په مقابله کښې مدد راکړے۔ هغوی ته پته وه چه زیات تر وختونو

کښې د مصیبتونو په راتلو کښې د خلقو د ګناهونو او کمزورو دخل وي. او په مونږ کښې څوک دا دعویٰ کولے شي. چه د هغۀ نه به څۀ کمزوری نۀ وي شوے. بهر حال په ځائے د دے چه هغوی د مصیبتونو نه ویریدلے وے. او مخلوق ته سلامي شوے وے. هغوی خپل خالق او مالک طرف ته تیټ شو. (تفسیر عثمانی)

فائده

د دے آیت نه څو خبرے معلومے شوے.

❶ په جهاد کښې د شکست او مصیبت په وخت کښې عامو خلقو ته د خپل ځان فکر وولګی. خو مخلصو الله والاؤ خلقو سره د خپل ایمان فکر پیدا شي. او هغوی په استغفار کښې وولګی.

❷ په جهاد کښې د شکست په وخت کښې عام خلق د دنیا سهارے لټوی. خو مخلصین مجاهدین الله تعالیٰ ته جهولۍ خوروی. او د هغۀ نه مدد غواړی.

❸ په جهاد کښې عام خلق د یو بل غلطۍ نیغے نیغے کوی. خو د مخلصو الله والاؤ خلقو خیال سمدستي خپل ځان ته شي. او هغوی د الله تعالی نه د خپلو غلطو په معافۍ غوښتلو کښې وولګی.

❹ په جهاد کښې د شکست په وخت کښې عام خلق دا سوچ کوی. چه اوس مونږ چرے هم په دشمن باندے غالب نۀ شو راتلے. خو مخلصین الله والا په الله تعالیٰ باندے یقین ساتي. او هغوی ته امید وي چه دوی په دشمن باندے غالب راتلے شي. په دے وجه هغوی د الله تعالیٰ نه د دے خبرے دعاء غواړی.

(والله اعلم بالصواب)

دعاء

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِیْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَی الْقَوْمِ الْکٰفِرِیْنَ (آمین یارب العلمین)



سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ۗ وَاللّٰهُ

نو الله دوی ته د دنیا بدله او د آخرت ښکلے بدله ورکړله - او الله تعالیٰ د

نیکانو سره محبت ساتی۔

تشریح

د دوی د دے استقامت او دعاء په برکت الله تعالی دوی ته د دنیا بدله هم ورکړه۔ یعنی فتحه او کامیابی۔ او د آخرت بدله ئے هم ښکلے ورکړه۔ یعنی ثواب او جنت۔ او د الله تعالی داسے محسنینو سره محبت دے۔

فائده

یعنی په دنیا ئے د دوی د فتحے او کامیابئ رعب کښینولو۔ مخاؤریزتیا او قبولیت ئے ورته ورکړو۔ او د آخرت ئے چه کوم بهترین ثواب ورکړو۔ د هغے خو تپوس مهٔ کوه۔ ووګورئ چه څوک د الله تعالیٰ سره خپله معامله ټهیک ساتی۔ او نیک کارونه کوی۔ هغوی سره الله دغه شان محبت کوی او دغه شان بدله ورکوی (تفسیر عثمانی)

ثَوَابَ الدُّنْيَا یعنی النصر والظفر علی عدوهم (قرطبی)

د دنیا د بدلے نه مراد د دشمن په مقابله کښ نصرت او فتحه ده۔

فائده

بیا الله تعالیٰ د دوی د سعی او کوشش نتیجه ذکر کوی۔ او رغبت پیدا کوی۔ چه خدائے پاک دوی ته په دنیاکښ خائسته بدله ورکړه او دمخالفینو حکومت - د هغوی ملک او باغونه او مکانونه ټول ئے حق پرستو ته ورکړل۔ دغه وجه ده چه بنی اسرائیلو د یوشع بن نون علیه السلام په زمانه کښ د شام په ملک باندے قبضه ووکړه۔ او خدائے پاک به دوی ته په آخرت کښ هم ښهٔ بدله ورکړی - بلکه ورئے کړه۔ هلته کښ د دوی د پاره هغه څهٔ دی۔ چه د هغے بیان (څنګه چه پکاردے) ممکن نهٔ دے۔ (تفسیر عثمانی)

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ او الله تعالیٰ د محسنینو سره محبت ساتی۔ علامه ابو حیان

رحمه الله دلته د اَلْمُحْسِنِيْنَ دوه معنے ذکر کړے دی۔

❶ وهو من احسن مابينه وبين ربه في لزوم طاعته. چه څوک د الله تعالی د پخے فرمان برداری په ذریعه د هغهٔ سره خپله معامله روغه کړی۔

❷ اومن ثبت في القتال مع نبيه حتى يقتل اويغلب ـ يا د محسن نه مراد هغه دے۔ چه د خپل نبی سره په جهاد کښ کلک پاتے شی۔تر دے چه یا شهید شی۔یا غالب شی۔ (البحرالمحیط)

عجیبه نکته:

دآیت په الفاظو باندے چه غور ووکړے شی۔نو د"دنیا" سره ئے صرف د "ثواب" لفظ ذکر کړے دے۔یعنی(د عمل نتیجه یا معاوضه) او د آخرت سره ئے د" حسن ثواب" لفظ راوړے دے۔ خائسته والے خوصرف آخرت سره مخصوص دے۔د دے غریبے دنیاپه قسمت کښ خائسته والے چرته دے؟ دلته خو دغه سرسری رنګه ډنګه ده۔ (تفسیر ماجدی)

نکته

امام رازی رحمه الله لیکی:

هر کله چه دوی د خپل ګناه ګار کیدو اقرار ووکړو۔او د الله تعالیٰ نه ئے معافی ووغوښتله۔ رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا ذُنُوْبَنَا نو الله تعالیٰ دوی په محسنینو کښ شمارکړل۔لکه چه تهٔ به وائے چه الله تعالیٰ دوی ته ووفرمائیل چه کله تاسو د خپل ځان د بدئ او د عاجزئ اقرار ووکړو۔نو ما تاسوخپل محسنان اومحبوبان جوړکړئ۔

نو بنده الله تعالیٰ ته هم په دے ذریعه رسی۔ چه د خپل ذلت او عاجزئ حقیقی اظهار ووکړی۔ (التفسیر الکبیر)



سُورَۃُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِیَّۃٌ آیت ۱۴۹،۱۵۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰۤى

اے د ایمان خاوندانو ؛ کہ تاسو د کافرانو خبرہ وومنلہ –نوتاسو بہ پہ خپلو خپو

اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ

واپس کړی نوتاسو بہ تاوانی شئ –بلکہ اللہ تعالیٰ ستاسو مددگار دے –او هغہ د

خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾

تولو نہ ښہ مددگار دے–

نچوړ

ستاسو د ظاهری شکست خوړلو د دے موقعے نہ بہ ستاسو دشمنان کافران او منافقان فائدہ اخلی۔او پہ غلطہ لارہ باندے بہ ستاسو د وراچولو کوشش کوی۔تاسو د دوی خبرہ مۂ منئ ګنی سخت نقصان بہ بیا مومئ۔تاسو تہ د هیڅ چا نہ د مدد غوښتلو ضرورت نیشتہ۔ولے چہ اللہ تعالیٰ ستاسو حمایتی او مدد ګار دے۔

ربط

د شکست پہ موقعہ باندے د همت پیدا کولو د پارہ د مخکښے زمانے د اللہ والاؤ خلقو قصہ بیان شوہ۔اوس د ګمراهئ نہ د بچ کیدو د پارہ د دے خبرے هدایت ورکیږی۔ چہ تاسو د تیرے شوے زمانے د اللہ والاؤ مجاهدینو پہ طریقہ باندے ځئ۔او د کافرانو خبرہ مۂ منئ۔پہ داسے موقعہ باندے کفار او منافقین ډیر کوشش کوی چہ مسلمانان د خپل دین نہ لرے کړی۔(واللہ اعلم)

تفسیری اقوال:

❶ واعلم ان هذه الاية من تمام الكلام الاول وذلك لان الكفار لما ارجفوا ان النبى صلى الله عليه وسلم قد قتل ودعا المنافقون بعض ضعفة المسلمين الى الكفر منع الله المسلمين بهذه الاية عن الالتفات الى كلام اولئك المنافقين. یعنی دا آیت دمخکښنی کلام تتمہ دہ۔او هغہ داسے چہ کلہ کافرانو د حضور اقدس ﷺ د شهادت دخبر خورولو سرہ ویرہ پیدا کړہ۔او منافقانو بعضے کمزورے

مسلمانانو ته د دوباره کافر کیدلو ووئیل۔ نو الله تعالیٰ په دے آیت کښ مسلمانان د منافقانو دے خبرے طرف ته د توجه کولو نه منعه کړل۔ (التفسیر الکبیر)

إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا که چرے د کافرانو خبره مو وومنله۔ دلته د کافرانو نه څوک مراد دی؟ امام رازی رحمه الله څلور خبرے ذکر کړے دی۔

❶ ابوسفیان مراد دے ځکه چه دے په دغه ورځ د کافرانو سردار وو۔ او د شکست نه پس مسلمانان دے خبرے ته تیارولے شو۔ چه عبدالله بن ابی بن سلول مینځ ته راولی او د ابو سفیان نه امن حاصل کړی۔ نو مسلمانان منعه کړے شو چه د ابو سفیان مخکښے مهٔ ټیټیګئ۔

❷ د كَفَرُوا نه مرادعبدالله بن ابی او د هغهٔ منافقان ملګری دی۔ دے خلقو به د کمزورے مسلمانانو په زړونو کښ شکونه پیدا کول۔ او وئیل به ئے چه که چرے محمد ﷺ رسول وے نو دهٔ سره به دا واقعه نهٔ کیدله۔ هغه خو "نعوذ بالله" عام سړے دے۔ کله فتحه مومی او کله شکست۔ نو تاسو خلق واپس خپل دین ته راځئ۔

❸ دے نه مراد یهود دی ولے چه په مدینه منوره کښ د یهودیانو یو داسے ټولګے موجود وو۔ چه هغے کسانو به د مسلمانانو په زړونو کښ شکونه اچول خاص کر د احد د واقعے نه پس۔

❹ ډیره روغه خبره دا ده چه د دے نه ټول کافر مراد دی۔ او د دوی د خبرو د نهٔ منلو چه کوم حکم دے۔ نو دا عام نهٔ دے۔ چه ګنی هره خبره ئے مهٔ منئ۔ بلکه دا حکم خاص دے۔ چه دوی د دین اسلام او د جهاد خلاف کومے خبرے کوی هغه مهٔ منئ۔ (مستفاد از تفسیر کبیر)

بَلِ اللَّهُ مَوْلَاكُمْ بلکه الله تعالیٰ ستاسو مدد ګار دے۔

والمعنیٰ انکم تطیعون الکفار لینصروکم ویعینوکم علی مطالبکم وهذا جهل لانهم عاجزون متحیرون ،والعاقل یطلب النصرة من الله تعالیٰ لانه الذی ینصرکم علی العدو ویدفع عنکم کیده. (التفسیر الکبیر)

مطلب دا چه تاسو د کافرانو خبره په دے وجه منئ چه هغوی به ستاسو مدد ووکړی۔نو دا د جهالت خبره ده۔ ولے چه کافران په خپله عاجزه او بے وسه دی۔عقلمند سړے خو صرف د الله تعالیٰ نه مدد غواړی۔ولے چه صرف هم هغه د دشمن په مقابله کښې ستاسو مدد کوی۔او ستاسو نه د هغوی شر لرے کوی۔

خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ الله تعالیٰ د ټولونه بهتر مدد ګار دے۔

د الله تعالیٰ مدد د ټولو نه بهتر دے په څو وجو سره۔

❶ تاسو چه څۀ هم غواړئ۔نو په هغے کښې ستاسو په مدد باندے صرف الله تعالی قادر دے۔

❷ هم د هغۀ سره علم حقیقی دے۔نو ستاسو بلنه او ژړا فریاد کول د هغۀ نه په هیڅ حال کښې پټ نۀ دی۔

❸ هغه داسے کریم دے چه سخاوت کولو کښې بخل نۀ کوی۔

❹ هغه به په دنیا او په آخرت کښې په دواړو ځایونو کښې ستاسو مددکوی۔

نو په بندګانو کښې داسے څوک شته؟ چه په هغۀ کښې دا صفات وی۔بالکل نیشته۔نو بیا د الله تعالیٰ مدد د ټولو نه بهتر شو۔ (مستفاد من التفسیر الکبیر)

اقوال او حوالے

❶ د برکت کلام

یعنی په دے جنګ کښې چه د مسلمانانو زړونه مات شو۔نو کافرانو او منافقانو ته موقعه ملاؤ شوه۔بعضو الزامونه شروع کړل۔بعضو د خیر خواهئ په پرده کښې پوهول شروع کړل۔ چه دوی مخکښې په جنګ باندے زړه ورنۀ شی۔(یعنی دا ټول هرڅۀ د دے د پاره کیدل چه مسلمانان بیا د پاره په جهاد باندے ډاډه نۀ شی) حق تعالیٰ موخبروی چه د دشمن په دهوکه کښې رانۀ شئ۔ (موضح القرآن)

معلومه شوه چه کافران او منافقان په داسے موقعے پسے ګرځی۔چه کله به مسلمانانو مجاهدینو ته شکست ووشی۔ چه دوی د مجاهدینو او د اسلام خلاف التهه شور غوبل جوړ کړی۔په دے وجه مسلمانان پوهه کړے شول۔ چه که چرے په ظاهر کښې د شکست حادثه پیښه شی۔نو د کافرانو په شور او غوبل او د هغوی په خبرو باندے ځانونه کانړۀ کړئ۔او د تیرے زمانے د پخوارادو والاؤ مجاهدینو قصے یادوئ۔او د الله تعالیٰ په حضور کښې ښۀ استغفار ووکړئ۔په دے طریقه به د شکست داثراتونه

وتل آسان شی۔(واللہ اعلم)

❷ غرض دا چہ پہ ھیڅ طریقہ باندے دا کافر ستاسو دوستان نۀ دی۔ بلکہ اللہ تعالیٰ ستاسو دوست او د تولو نہ ښۀ مدد کولو والا دے۔نو بس صرف د هغۀ دوستی کافی ووګنړئ۔ او هم هغه مددګار ګنړئ -بل مخالف کہ درتہ چرتہ د نصرت څۀ تدبیر ووښائی۔نو د خدائے پاک د حکم خلاف عمل مۀ کوئ۔ (بیان القرآن)

❸ د حق د شمنان د دے موقعے نہ فائدہ اخلی۔او تاسو پہ داسے لارہ باندے روانول غواړی۔ چہ د حق د لارے نہ بے زړۀ شئ۔او هغوی بہ تاسو تہ د دشمن د ډیر والی او د طاقت قصے بیانوی چہ تاسو وویروی۔ خو کہ چرے تاسو د حق پہ لارہ کښ کلک پاتے شوئ او د انسانی طاقتونو پہ ځائے تاسو د اللہ تعالیٰ پہ کار سمولو باندے او د هغۀ پہ ملګرتیا باندے بهروسہ ووساتلہ۔نو هغہ وخت لرے نہ دے چہ ستاسو د هیبت پہ وجہ بہ د هغوی زړونہ وویریږی۔ (ترجمان القرآن)

❹ بلکہ اللہ تعالیٰ ستاسو مددګار دے او د هغۀ مدد د تولو نہ غورہ دے۔او بس د هغۀ خبرہ منل پکار دی۔ او بس د هغۀ پہ مدد باندے بهروسہ ساتل پکار دی۔ چہ چا سرہ د خدائے پاک مدد وی د هغوی څۀ حاجت دے چہ د خدائے پاک د دشمنانو د مدد انتظار ووکړی۔یا د هغوی خبرے منلو تہ سر تیټ کړی۔پہ حدیث مبارک کښ راځی چہ د احد نہ واپسئ کښ ابو سفیان د هبل د زندہ باد آواز وولګوو۔او وے وئیل۔ 'لنا العزی ولا عزی لکم" حضور اقدس ﷺ ووفرمائیل جواب ورکړئ۔"اللہ مولانا ولامولیٰ لکم' (تفسیر عثمانی)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا

اوس به مونږ وواچوو د کافرانو په زړونو کښې ویره ځکه چه دوی شریک جوړ کړے دے د الله سره هغه شے چه

لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۭ وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ (۱۵۱)

الله تعالیٰ د هغے څۀ دلیل نۀ دے نازل کړے او د دوی ځائے اور دے او د ظالمانو د پاره دا د اوسیدو خراب ځائے دے

نچوړ

الله تعالیٰ د مسلمانانو مولا دے۔ او هم د هغۀ مدد د ټولونه غوره دے۔ نو هغۀ د خپل خاص مدد په ذریعه د کافرانو په زړۀ کښې د مسلمانانو ویره واچوله۔ (دا هغه نصرت دے چه دا بل څوک نۀ شی کولے) په کافرانو باندے دا ویره ځکه واچولے شوه۔۔ چه هغوی د الله تعالیٰ سره نور څیزونه هم شریکوی۔ شرک کول ظلم دے نو داسے ظالمان به د جهنم په خراب ځائے کښې واچولے شی۔ (معلومه شوه چه د توحید په عقیدے سره قوت پیدا کیږی۔ او د شرک په وجه زړۀ کمزورے کیږی)

ربط

❶ اعلم أن هذه الاية من تمام ماتقدم ذكره فانه تعالىٰ ذكر وجوها كثيرةً في الترغيب في الجهاد وعدم المبالاة بالكفار ومن جملتها ماذكر في هذه الاية انه تعالىٰ يلقي الخوف في قلوب الكفار (التفسير الكبير)

دا آیت د مخکښې مضمون تتمه ده۔ ځکه چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته د جهاد د ترغیب ورکولو۔ او د کفارو د اطاعت نه د بچ کولو د پاره ګڼړے خبرے ارشاد اوفرمائیلے۔ چه د هغے نه د یوے خبرے ذکر په دے آیت کښې دے۔ چه الله تعالیٰ به د کافرانو په زړونو کښې ویره واچوی۔ (نو مسلمانان دے په جهاد کښې کلک شی او د کافرانو د خبرو او د هغوی د طاقت دے پروا نۀ کوی۔

❷ په تیر شوی آیت کښې دا ذکر شوے وو – چه الله تعالیٰ مولا دے– او ناصر دے– (په دے آیت کښې) په یوے واقعے سره دا خبره ثابتولے شی۔ (بیان القرآن)

اقوال او حوالے

❶ علامه آلوسی رحمه الله د آیت په شان نزول کښں دوه خبرے ذکر کړے دی۔

وړومبئ خبره: لما ارتحل ابوسفيان والمشركون يوم أحد متوجهين نحومكة الخ. يعنی چه کله ابوسفیان او نور مشرکان د احد نه پس مکے مکرمے ته واپس شو۔ نو په لاره کښں هغوی پښیمانه شو۔ او دوی په خپلو کښں ووئیل۔ چه دا تاسو څۀ ووکړل چه تاسو مسلمانان ووهل۔ او چه کله د هغوی لښکر خور ووُر شو۔ او دوی بے دمه شو۔ نو تاسو راواپس شوئ۔ اوس واپس لاړ شئ۔ او د دوی مکمل خاتمه ووکړئ۔ دغه وخت الله تعالیٰ د دوی په زړۀ کښں ویره واچوله۔ او بے همته شو۔ او لاړل۔ په لاره کښں دوی ته یو بانډیسی ملاؤ شو۔ او هغۀ له ئے څۀ پیسے ورکړے۔ او ورته ئے ووئیل چه محمد ﷺ او د هغۀ ملګری ووېروه۔ چه مونږ دوباره په دوی باندے حمله کوؤ۔ الله تعالی خپل پیغبر ﷺ ته د دوی د حالاتو خبر ورکړو۔ نو حضوراقدس ﷺ په دوی پسے شو۔ تر دے چه حمرآء الاسد ته وورسیدلو۔ دغه وخت دا آیت نازل شو۔

دویمه خبره: وقيل ان الاية نزلت فى يوم الأحزاب. او یو قول دادے چه دا آیت نازل شوے دے د احزاب د غزا په باره کښں۔ (روح المعانی)

❷ امام رازی رحمه الله په دے باندے بحث فرمائیلے دے۔ چه "القاء رعب" یعنی د رعب اچولو دا وعده د جنګ احد سره خاص ده یا دا وعده عام ده۔ بعضے مفسرین ئے د احد سره خاص کوی۔ خو د نورو بعضو حضراتو په نیز باندے دا وعده عام ده۔

والقول الثانی: أن هذا الوعد غير مختص بيوم احد بل هوعام قال القفال رحمه الله: كانه قيل انه ان وقعت لكم هذه الواقعه فى يوم احد الاان الله تعالیٰ سيلقى الرعب منكم بعدذ لك فى قلوب الكافرين حتى يقهر الكفار ويظهر دينكم على سائر الاديان وقد فعل الله ذلك حتى صار دين الاسلام قاهرا لجميع الاديان والملل ونظير هذه الاية قوله عليه السلام "نصرت بالرعب مسيرة شهر"

قفال رحمه الله فرمائی۔ لکه چه په دے آیت کښں ووفرمائیلے شو۔ چه د احد په ورځ خو تاسو سره دا واقعه ووشوه۔ خو اوس به الله تعالیٰ د دے نه پس ستاسو ویره د کافرانو په زړونو کښں واچوی۔ تر دے چه کافران به مغلوبه کړی۔ او ستاسو دین به په ټولو ادیانو باندے غالب کړی۔ او الله تعالیٰ هم دغه شان ووکړل۔ تر دے چه دین اسلام

په تولو قومونو او دینونو باندے غالب راغے۔ او د دے آیت نظیر د حضور اقدس ﷺ دا فرمان دے۔ چه ما سره مدد کړے شوے دے په دے طریقه چه څما رعب د یو مياشتے په منزل باندے غورزیږی۔ (التفسير الكبير)

د اردو ژبے والا مفسرینو کښ د غتو محققینو هم دا رائے ده – چه د رعب دا وعده عامه ده – د احد د غزا نه پس هم دا وعده ښکاره شوے ده – چه مشرکان راواپس نهٔ شو – او بیا وروستو هم دا وعده ښکاره شوے ده – یو څو عبارتونو باندے نظر واچوئ –

☆ د کفارو په زړونو کښ به د دوی د سپیرهٔ والی په وجه باندے رعب او غورزوؤ – د دوی دا ښکاره رعب داب به هيڅ پکار را نهٔ شی – نو دا پيشين گوئی پوره شوه - او د روم او دایران د بهادرو اسپيانو په زړونو کښ د صحابه کرامو رضی الله عنهم رعب واچولے شو کوم چه څان صرف په کمبلو پټ کړے وو او بے سر و سامانه وو (تفسير حقانی)

☆ د دین د دشمنانو په زړونو کښ د حق د رعب یا د هيبت اچولو د معجزانه ښکاره والی یو یادگار مثال د تاریخ په صفحو کښ داسے محفوظ دے۔ چه کله د احد په جنگ کښ آخری فتحه په ظاهره باندے د مکے مشرکانو ته اوشوه۔ نو اوس قدرتی طور دا نتیجه وتل پکار وو۔ چه دا خلق د دغه ځائے نه د مدینے په ښار باندے ورختلے وو۔ څکه چه فاصله په کښ پاتے څو مره وه ۔؟ خو د دے خبرے د دوی همت اونهٔ شو۔ بلکه دوی په واپس تللو باندے مجبوره شو۔ او د دوی په ځائے هغه بيلونکی مسلمانان د خپل بے مثله او بے مثاله سالار سره د مدینے نه اتهٔ ميله لرے "حمراء الاسد" پورے دوی پسے راغلل۔ دلته کښ دریو ورځو پورے د مسلمانانو کيمپ لګيدلے وو۔ او دے سره سره ئے د دشمن یو کس هم گرفتار کړے راوستلو (تفسير ماجدی)

☆ مشرک که هر څو مره شور جوړ کړی خو د هغهٔ زړهٔ کمزورے وی۔ څکه چه هغه د کمزوری مخلوق عبادت کوی۔ نو چه څنګه معبود وی نو هغه شان به عابد هم وی ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ (الحج) او هسے هم اصلی زور او قوت خو په حقيقت کښ د الله تعالی په مرستے او امداد سره دے۔ د کوم نه چه کافران مشرکان یقينا محروم دی۔ په دے وجه چه تر کومے پورے مسلمان مسلمان وو۔ نو کافران د هغوی نه هميشه په ویره او رعب کښ وو۔ بلکه مونږ تر ننه پورے دا مشاهده کوؤ ۔ چه د مسلمانانو د تس نس والی، کمزورئ او خکته والی باوجود هم د دنيا تول کفری

طاقتونه د دے اودۀ زخمي ازمري نه په ويره کښې دي۔ او هميشه په دے فکر کښې اوسي چه دا قوم را بيدار نۀ شي۔ په علمي او مذهبي مناظرو کښې هم د اسلام هم دغه رعب په نظر راځي۔ په حديث کښې پيغمبر عليه السلام فرمائيلے دي چه ځما رعب د يوے مياشتے په مزل باندے د دشمن په زړونو باندے غورزولے کيږي۔ بيشکه هم د دغے اثر دے کوم چه امت ته ملاؤ شو فللّٰه الحمد علی ذلک وله المنة (تفسير عثماني)

نکته

نن هم چه کوم مسلمانان د کافرانو خبره نۀ مني۔ او صرف الله تعالی خپل مولی او مالک مني۔ او هم دهغۀ په بهترين مدد باندے باور ساتي۔ نو د دغه مسلمانانو رعب د ټولے دنيا داسلام د دشمنانو کافرانو په زړونو باندے خور دے۔او خپل ځان "لوئے طاقت" ګنړلو والا ددے خلقو نه په رپ ربي دی کوم چه په ټکوري ناست دي۔


دبرکت کلام:

يعني دغه (کافران) د الله تعالی غلۀ دي۔ او د غل په زړۀ کښې ويره وي۔ په دے وجه د دوی په زړۀ کښې به الله تعالی هيبت واچوی (موضح القرآن)

د دے عبارت نه معلومه شوه چه د رعب اصل وجه کفر او شرک دے۔ کوم چه د قيامته پورے قائم دے۔ په دے وجه د قيامته پورے به د کافرانو په زړۀ کښې د اصلي اوريښتوني مسلمانانو رعب وي۔ او د دے رعب په وجه به دوی کمزورے وي۔ نو مسلمانانو له د الله تعالی ددے بهترين نصرت نه فائده اوچتول پکار دي۔ (والله اعلم)

فائده

پيغمبر عليه السلام ته الله تعالی خصوصي رعب ورنصيب کړے وو۔ علامه ابن کثير رحمه الله ددے آيت په تفسير کښې داسے ګڼړ احاديث ذکر فرمائيلے دي۔ په کومو کښې چه د حضور پاک ﷺ د عظمت نه ډک رعب تذکره ده۔ شوقمند حضرات دے هلته اوګوري۔



سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا

او الله تعالیٰ خو تاسو سره خپله وعده رښتیا کړله کله چه تاسو دوی وژل دهغهٔ په حکم باندے- تردے چه

فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ

تاسو بزدله شوئ او جګړه مو واچوله او نافر مانی مو ووکړه د هغے نه پس چه تاسو ته ئے ووښودلو هغه

مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ

څیز چه تاسو ته خوښ وو- بعضو په تاسو کښې دنیا غو ښتله او بعضو په تاسو کښې آ خرت غوښتلو- بیائے

الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ؕ

تاسو له د هغوی نه مخه بدله کړه- چه ستاسو امتحان ووکړی- اوحقیقت دے چه تاسو ته الله تعالیٰ

وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵۲﴾

معافی کړے ده- او الله تعالیٰ مؤمنانو دپاره خاوند د فضل دے-

نچوړ

منافقین تاسو ته د احد د جنګ شکست یادوی- او تاسو ویروی چه بیا د پاره د دشمن د مقابلے جرأت وونهٔ کړی- خو تاسو ته ډیره ښهٔ معلومه ده- چه د احد په میدان کومه پیښه ووشوه- د هغے حقیقت څهٔ دے- دالله تعالیٰ د نصرت وعده هم په دے موقعه باندے پوره شوے وه- چه تاسو هغوی ښهٔ قتلول- او ددشمن خپے ښویدلے وے- لیکن کله چه تاسو خاص د جنګ په موقعه باندے درسول پاک ﷺ د حکم نافرمانی ووکړه- او د هغے په وجه په تاسو کښې اختلافات او کمزوری راغله- نود جنګ نقشه بدله شوه- او په فتحه کښې شکست ووشو- نو دا څهٔ چه ووشو- د دشمن د ډیر والی او د هغهٔ د طاقت په وجه نهٔ دی شوے- چه هغے سره منافقان تاسو ویری- بلکه ستاسو د حالاتو په وجه ووشو- خو اوس الله تعالیٰ تاسو معاف کړے یئ- او یقینا هغه په مومنانو باندے ډیر فضل کولو والا دے- (ترجمان القرآن)

شان نزول

❶ لما رجع رسول الله صلى الله عليه وسلم الى المدينة بعد أحد وقد اصيبوا قال بعضهم لبعض من اين اصابنا هذا وقد وعد نا الله النصر فنزلت هذه الاية وذلك انهم قتلوا صاحب لواء المشركين وسبعة نفر منهم بعد ه على اللواء وكان الظفر ابتداءً للمسلمين غير انهم اشتغلوا بالغنيمة وترك بعض الرماة ايضا مركزهم طلباً للغنيمة فكان ذلک سبب الهزيمة(قرطبی).

یعنی د احد د غزا نه پس کله چه رسول الله ﷺ مدینے منورے ته تشریف راؤړو۔نو مسلمانانو ته په دے جنگ کښ کافی مصیبتونه رسیدلے وو۔ نو هغوی په خپلو کښ یو بل ته ووئیل۔ چه مونږ باندے دا حالات ولے راغلل؟ حالانکه الله تعالیٰ خو مونږ سره د نصرت وعده فرمائیلے وه۔په دے باندے دا آیت نازل شو۔د دے جنگ په شروع کښ مسلمانانو ته فتحه شوے وه۔خو بیا هغوی د مال غنیمت په جمع کولو کښ مشغول شو۔ او بعضے غشی ویشتونکو خپل مرکز(چه په کوم باندے حضور اقدس ﷺ دوی مقرر کړے وو) د غنیمت د جمع کولو د پاره پریښودلو۔نو دا د شکست سبب جوړ شو۔

❷ په و ړومبی آیت کښ وو۔ چه الله تعالی ستاسو مولیٰ دے۔او هغه فتحه ورکولو والا دے۔او دا هم ده چه د مخکښے نه عام طور د اسلام د فتحے او غالب کیدو وعده کړے شوے وه۔دے کښ په احد کښ شکست واقع شو۔نو مدینے ته چه راغلل نو هغے منافقانو مسلمانانو ته ووئیل۔گوره کنه صاحب ؛ الله پاک ډیره ښۀ وعده پوره کړه۔سړیه ! په داسے وعدو باندے څۀ باور دے۔په دے آیتونو کښ الله پاک جواب ورکړو۔ چه هغۀ تاسو سره خپله وعده پوره کړے وه۔تاسو خو بس په اوله حمله کښ د کفارو ډله په کوتره کولو سره ووزغلوله۔خو تاسو په خپله نافرمانی ووکړه او دا مصیبت مو په سر واخستلو۔(تفسیر حقانی)

وعده څه وه؟

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ او الله تعالیٰ تاسو سره خپله وعده رېښتنے کړه۔دا وعده د څۀ وه او کله شوے وه۔په دے کښ د مفسرینو څو قوله دی۔

❶ دا وعده په دے آیت کښ شوے وه۔

بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ (ال عمران. ۱۲۵)

په دے کښ شرط وو۔ که تاسو په استقامت او په تقویٰ باندے قائم پاتے شوئ۔ نو الله تعالیٰ به ستاسو نصرت کوی۔ په شروع کښ دا نصرت ووشو۔ او وعده رښتیا شوه۔ خو چه کله په شرط باندے عمل پاتے نهٔ شو۔ نو نصرت پورته شو۔ (روح المعانی، تفسیر کبیر)

❷ دا وعده د حضور اقدس ﷺ په ژبه باندے شوے وه۔ چه کله هغوی پنځوس غشی ویشتونکی په دره باندے مقرر کړل۔ او وے فرمائیل۔ " فلن نزال غالبین ما ثبتم مکانکم " مونږ به برابر په خپل دشمن باندے غالب یو چه تر کومے تاسو خلق په خپل ځائے باندے کلک یئ۔ نو د دوی د کلک پاتے کیدو پورے وعده پوره شوه۔ (تفسیر کبیر، روح المعانی)

❸ حضور اقدس ﷺ خوب ولیدلو۔ چه هغوی یو ګډ ذبحه کوی۔ الله تعالی د هغوی خوب رښتونے کړو۔ او هغه داسے چه د مشرکینو جهنډه ووچتوونکے طلحه بن عثمان ووژلے شو۔ او د هغے نه پس نهٔ جهنډه نیوونکی ووژلے شو۔ نو د وعدے د رښتیا کولو نه مراد د حضور اقدس ﷺ خوب رښتیا کول مراد دی۔ (تفسیر کبیر)

❹ دا وعده د سورهٔ حج په دے آیت کښ ده وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ (الحج ۴۰) دا وعده هم مشروطه ده۔ (تفسیر کبیر)

❺ دے نه مخکښے آیت کښ الله تعالیٰ فرمائیلے وو۔ سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرعب چه مونږ به د کافرانو په زړونو کښ ویره واچوؤ۔ دا وعده وه— او په شروع کښ هغه خلق مرعوب شوی وو او تښتیدلی وو—(تفسیر کبیر)

د صحابه کرامو رضی الله عنهم شان

❶ د دے آیت نه د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم په حال باندے ډیره مهربانی معلومیږی۔ چه د زورنے ورکولو په دوران کښ هم الله تعالیٰ یو څو تسلئ ورکړے۔ یوه دا چه دا سزا نهٔ وه— بلکه په دے کښ هم ستاسو مصلحت وو (لیبتلیکم) بیا ئے د مواخذے نه یعنی د (آخرت د نیولو نه) هم بے فکره کړل۔ (ولقد عفاعنکم) نو ښکاره خبره ده۔ چه هغه حضرات چه د داسے مهربانو

لاندے وی۔ هغوی څنګه د دنیا طالبان جوړیدے شی؟۔ په دے وجه د یُرِیْدُ الدُّنْیَا نه صرف د دنیا اراده کول مراد نۀ دی۔ یعنی (دنیا برائے دنیا) د دوی مقصد نۀ وو۔ بلکه دنیا ئے د آخرت د پاره پکار وه۔ یعنی چه مال جمع کړی او کفارو ته نقصان ورکړی۔ او د دے مال په ذریعه سره بیا د پاره په جهاد کښ قوت حاصل کړی۔ او په دے باندے عقلی قرینه هم شته دے۔ او هغه دا چه که دے حضراتو غنیمت نۀ وے جمع کړے۔ بیا هم د دوی حصه په دے کښ د شریعت د قانون مطابق یقینی وه۔ د دے نه معلومه شوه– چه بس دے نه مراد هم آخرت وو۔ چه د مورچے د حفاظت د ثواب ګټلو نه پس د کفارو د ویرولو او خرابولو ثواب هم حاصل کړی۔ په دے وجه بعضے په دے آیت کښ فرمائی مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا للاخرة وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ الصرفة یعنی په تاسو کښ چا دنیا غوښتله د آخرت د پاره او څۀ په تاسو کښ صرف د آخرت طلبګار وو۔ خو د ثواب طریقه د حکم خلاف وه– په دے وجه ناخوښه شوله۔ (بیان القرآن)

❷ د کفارو نشانه صرف د حضور اقدس ﷺ ذات وو۔ په دے وجه د صحابه کرامو یو جماعت سمدستی د هغوی نه ګیر چاپیره شول۔ او کافرانو پرله پسے غشی راویشتل خو مجال وو چه یو مسلمانان هم د خپل ځان د بچ کولو د پاره د موقعے نه اخوا شوے وے۔ بلکه یو فولادی دیوال دے چه ولاړ دے۔ یو سرے د تورے ګذار کوی نو د طلحه رضی الله تعالیٰ عنه نه لاس کټ کیږی۔ خو په حضور اقدس ﷺ باندے تکلیف راتلو ته نۀ پریږدی۔ ابن قمیه رامخکښے کیږی چه حضور پاک ﷺ شهید کړی۔ د جهنډے نیونکے حضرت معصب بن عمیر رضی الله تعالیٰ عنه ورته مخے ته وودریږی۔ او په خپله شهید کیږی۔ او په حضور پاک ﷺ باندے خپل ځان قربانوی۔ ابو دجانه رضی الله تعالیٰ عنه د کفارو طرف ته شا کړے ولاړ دے۔ او خپل ځان ئے حضور پاک ﷺ د پاره ډهال جوړ کړے دے۔ چه په کوم غشی لګی هغه د خپل ځان نه ووکاږی۔ او بل ملګری ته ئے ورکوی چه په دے باندے د شمن نشانه کړه الله اکبر! که چرے دا مصیبت نۀ وو راغلے۔ او کافرانو په دے طریقه سره په حضو پاک ﷺ باندے حمله نۀ وے کړے۔ نو د صحابه کرامو د خوبو دنیا ته پته نۀ شوه لګیدے۔ (تفسیر الفرقان)

۴ په دے کښې دا خبره ښودلے کیږي۔ چه هر کله تاسو د رسول اللهﷺ د نظم نافرمانی ووکړه۔ نو اوس ئے تاسو د کفارو نه راپشا کړئ۔ چه اوس خدائے پاک تاسو په امتحان کښې مبتلا کړي - اود هغے صورت داسے ووشو چه کله کافرانو د غشو ویشتونکو ځائے خالي ولیدو۔ او د هغوی د حملے نه پے ویرے شول۔ نو واپس ئے په مسلمانانو حمله ووکړه۔ هم دغه امتحان وو۔ د دے مقصد دا وو۔ چه په تاسو کښې کوم د تولو نه غوره کسان وی۔ چه د هغوی خوبیٔ او کمالات ښکاره شی۔ او دنیا دا ووینی چه د حضور پاکﷺ نه بغیر داسے غوره سر تیرے ملګری بل هیڅ چاته نۀ دی نصیب شوے۔ (تفسیر الفرقان)

فائده

د امتحان یو مطلب دا هم دے۔ چه د مخلص او نا مخلص ۔ د مومن او منافق ۔ د پوخ او د کچه فرق ووشی۔ (تفسیر عثمانی)

فائده

حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ لکه چه د بزدلیٔ سبب اختلاف وو۔ او د اختلاف سبب نافرمانی وه۔ (تفسیر عثمانی)

یعنی کم همتی او بزدلی په خپل مینځ کښې د اختلاف په وجه پیدا شوه۔ او په خپل مینځ کښې اختلاف د حضور اقدسﷺ د نافرمانیٔ په وجه پیدا شو۔

فائده

اللهم یا ذاالفضل العظیم نسئلک من فضلک ورحمتک آمین یا ذاالفضل العظیم۔



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ

هر کله چه تاسو په غر ختلئ او هیچا ته مو نهٔ کتل – او رسول الله د وروستو نه تاسو ته آواز کولو – نو الله تعالیٰ

اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ غَمًّاۢ بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ

تاسو بانديے غم د پاسه غم را وستو چه تاسو غمژن نهٔ شئ په هغے پسے چه ستاسو د لاسه لاړهٔ – او نهٔ په هغے بانديے

وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵۳﴾

چه تاسو ته وورسیدهٔ – او الله تعالیٰ بنهٔ خبردار دیے په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ –

نچوړ

هغه وخت هم الله تعالیٰ فضل ووفرمائیلو۔ او تاسو ئے معاف کړئ۔ چه کله تاسو د وارخطائئ منډے وهلے۔ او شا ته مو نهٔ کتل۔ او رسول الله ﷺ تاسو ته د شا نه آوازونه درکول۔ بیا په تاسو د غمونو باران شو۔ چه راتلونکی وخت د پاره تاسو پاخهٔ شئ۔

اقوال او حوالے

❶ یعنی تاسو په تیښته وئ۔ په غرونو او په ځنګلونو بانديے ورتلئ۔ او د ویرے نه مو شا ته چا ته هم نهٔ کتل۔ دغه وخت د خدائے پاک پیغمبر ﷺ په خپل ځائے یو شان ولاړ وو۔ او تاسو ئے د دیے خراب حرکت نه بندولئ۔ او ځان طرف ته ئے رابللئ۔ خو تاسو په تشویش او په پریشانئ کښ آواز چرته اوریدلو۔ آخر چه کله کعب بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه چغے ووهلے۔ نو خلقو واوریدے او واپس راغلل۔ او د خپل پیغمبر ﷺ خوا ته راجمع شول۔ فاثابکم غمابغم یعنی تاسو د رسول علیه السلام زړهٔ تنګ کړو۔ د هغے په وجه په تاسو تنګی راغله۔ د غم بدله کښ غم ملاؤ شو۔ چه مخکښے بیا یاد ساتئ چه په هر حالت کښ د رسول پاک ﷺ په حکم بانديے چلیدل پکار دی۔ که د نفعے څیز مثلا غنیمت وغیره د لاسو نه لاړ شی۔ یا څهٔ مصیبت مخے ته راشی۔ (تفسیر عثمانی)

یاد داشت

ډیرو مفسرینو د فاثا بکم غما بغم معنی داسے کړے ده۔ چه خدائے پاک تاسو له د غم د پاسه غم درکړو۔ یعنی یو غم خو د ابتدائی فتحے او کامیابئ دلاسه د وتو غم وو۔ دویم د خپلو سرو د مړ کیدو او زخمی کیدو او د نبی کریم ﷺ د شهادت د خبر مشهور کیدو غم در وورسیدو۔ بعضو دا مطلب اغشتے دے۔ چه د فتحے او د کامیابئ د ختمیدو۔ د غنیمت د لاس نه د وتلو۔ او د مالی او بدنی نقصان د زغملو چه کوم غم وو۔ د دے په بدل کښ داسے لوے غم درکړے شو۔ چه هغے مخکښنی تول غمونه ستاسو نه هیر کړل۔ یعنی د نبی کریم ﷺ د شهید کیدو افواه۔ د دے غم د سخت والی په وجه د مخکښے وروستو هیڅ هوش پاتے نۀ شو۔ تر دے چه د نبی کریم ﷺ آواز هم چا نۀ اوریدلو۔ څنګه چه یو طرف ته انسان پوره متوجه شی۔ نو د بل طرف نه غافله شی۔ (تفسیر عثمانی)

❷ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ: او رسول الله ﷺ تاسو ته آوازونه کول۔ کان یقول الی عباد الله انا رسول الله من کر فله الجنة. یعنی حضور پاک ﷺ فرمائیل۔ ما طرف ته راځئ اے د الله بندګانو۔ زۀ د الله تعالیٰ رسول یم۔ څوک چه واپس میدان ته راشی د هغۀ د پاره جنت دے۔ (تفسیر کبیر)

❸ "والرسول یدعوکم: رسول الله ﷺ د خپلو نورو کمالاتو او خوبو نه علاوه په همت او بهادرئ کښ هم د خپل ځان مثال په خپله وو۔ د دے وخت د یو مسلمان جنګی مورخ الفاظ دی۔

(د احد) په دغه جهګړه کښ د اسلام جهنډه یو وخت هم نۀ وه تیټه شوے۔ جهنډے ووچتو ساتلو د پاره او د حضور پاک ﷺ د حفاظت کولو د پاره د احد په غزا کښ چه مجاهدینو د قربانئ او د سر ورکولو کوم ثبوت ورکړے دے۔ هغه به تر د همیش همیش پورے یادیږی۔ حضور پاک ﷺ د کمزورے کیدو او زخمی کیدو باوجود د دشمن سره برابر جنګیدو۔ په نیزے سره جنګ کولو کښ حضور پاک ﷺ داسے کمال ښکاره کړو۔ چه د مسلمانانو همت یو په دوه شو۔ او په لوټ مار کښ تلوار کولو سره او د غشی ویشتونکو خپل ځائے پریښودلو سره د اسلام لښکر ته ډیر غټ نقصان رسیدلے وو۔ خو حضور اقدس ﷺ ډیرے کلکے حوصلے سره باقی کسان

خپل ځان سره واغیشتل او جنګ ئې کولو۔ (تفسیر ماجدی)

۴ کافرانو ډیره سخته حمله په مسلمانانو اوکړه۔ اوس دا خلق په کفارو پسے د ورتلو په ځائے په خپله په مصیبت کښې ګیر شول۔ د ترتیب د ماتیدو او د انتشار په وجه باندے هریو په تیښته وو۔ او چاته ے هم شا ته نهٔ کتل۔ چه کله رسول الله ﷺ دا حالت ولیدو۔ نو هغوی د دوی د راجمع کولو د پاره ووفرمائیل۔ الیَّ عباد الله! انی رسول الله د الله بندیګانو؛ ځه د الله رسول یم ما طرف ته راشئ۔ سوچ ووکړئ۔ دشمن د هغوی فنا کول غواړی۔ مسلمانان پریشانه خوارهٔ وارهٔ شوے دی۔ خو حضور پاک ﷺ د دے تولو مشکلاتو بیخی څهٔ پرواه نهٔ ساتله۔ او د تولو مسلمانانو د راجمع کولو د پاره ئے آواز وولګولو۔ نو په دے سره تول صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم دحضور اقدس ﷺ نه ګیر چاپیره راجمع کیدل شروع شو۔ د حنین په غزا کښې هم حضور پاک ﷺ دغه شان بهادری ښودلے وه۔ مسلمانان په تیښته وو۔ او حضور پاک ﷺ به د دشمن طرف ته یو شان ورتلو او فرمائیل ئے۔ انا النبی لا کذب. ځهٔ په حقیقت کښې د خدائے پاک رالیږلے شوے یم۔ او د نبی دپاره داسے کیدے نهٔ شی چه د میدان نه دے یو انچ هم لرے شی۔ انا ابن عبدالمطلب. ځه د عبد المطلب په اولاد کښې یم۔ چه د هغوی د بهادرئ او ځوان مردئ نه د عربو بچے بچے خبر دے۔ د داسے اعلیٰ ترین خاندان والا بچے هم چرته په داسے مشکلاتو او رکاوټونو کښې تښتیدے شی؟ بلکه هم دغه د جنګ میدان د دوی د پاره د کمالاتو او خوبو ښکاره کولو د تولو نه غوره میدان دے۔ په دے سره حضور اقدس ﷺ دا ښکاره کوله۔ چه د دوی دا طریقه د فوج د حاکمانو (دفوج د کمانډرانو) د پاره یوه خشته طریقه ده۔ چه دوی ته څو مره قدرے جانباز کیدل پکار دی۔ دوی له پکاردی۔ چه ځان د تولو نه مخکښے لری۔ چه په سپاهیانو کښې همت او جوش پیدا شی۔ (تفسیر الفرقان)

۵ فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ: د تفسیر عثمانی په حوالے سره د دے جملے بعضے معانی بیان شوے دی۔ حضرت امام رازی رحمه الله چه په دے باندے کوم تقریر کړے دے۔ لاندے د هغے نچوړ ووګورئ۔

"غَمًّا بِغَمٍّ": په دے کښې "ب" خو یا د معاوضے په معنیٰ ده۔ یعنی تاسو ته ئے د غم په بدله کښې غم درکړو۔ یا په معنی د "مع" یعنی تاسو ته ئے د غم د پاسه غم درکړو۔ که چرے "ب' د معاوضے په معنی باندے وی نو په دے کښې څو اقوال دی۔

☆ تاسو نبی کریم ﷺ ته د نا فرمانئ په ذریعه سره غم وورسولو۔ نو د دے په بدله کښې الله تعالی تاسو ته غم در وورسولو۔ دا د زجاج رحمه الله قول دے۔

☆ د بدر په ورځ چه مشرکینو ته کوم غم رسیدلے وو۔ اوس د هغے په بدله کښې تاسو ته غم در وورسیدو۔ د پاره د دے چه ستاسو زړونه د دنیا نه بیخی مړهٔ شی۔ چه نهٔ د دنیا په راتلو خوشحالیږئ او نهٔ د دے په مخ اړولو باندے غمژن کیږئ۔ دا د حضرت حسن بصری رحمه الله قول دے۔

☆ فاثابکم کښې ضمیر رسول الله ﷺ ته راجع دے۔ مطلب دا چه صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم چه کله حضور ﷺ زخمی وولیدهٔ۔ نو هغوی د حضور پاک ﷺ په وجه غم کښې اخته شو۔ او حضور پاک ﷺ چه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ووکتل۔ چه د دوی نه نافرمانی ووشوه۔ او بیا د دوی نقصان ووشو۔ نو حضور ﷺ د دوی په وجه غمژن شو۔ که چرے "ب" په معنی د "مع" وی چه تاسو ته ئے د یو غم سره دویم غم در وورسولو۔ نو په دے کښې دا لاندینی صورتونه دی۔

❶ وړومبے غم د اختلاف او بل غم د شکست۔

❷ وړومبے غم د غنیمت د لاس نه د وتلو او دویم غم د مشرکینو د جوابی حملے په وجه د سختو نقصانونو د رسیدو۔

❸ وړومبے غم د مشرکینو د لاسه د قتل کیدو او د نقصانی کیدو او دویم غم د ویرے وو۔ چه که مشرکین د لارے نه راواپس شو – نو دوی به تول شهیدان کړی۔

❹ وړومبے غم د خپل مال او جان د نقصان وو۔ دویم غم د حضور اقدس ﷺ د شهادت خبر وو۔ (چه هغے سره نور تول غمونه هیر شو) هم دا صورت یو مفسر د لږ شان فرق سره اختیار کړے دے او لیکی۔

مسلمانانو ته خو اول دا غم وو۔ چه دشمن زمونږ نه بچ لاړهٔ۔ او مال غنیمت ملاؤ نهٔ شو۔ خو اوس چه ئے د رسول الله ﷺ دا حالت وولیدهٔ۔ نو خپل غم ئے هیر شو۔ او

تول تکلیفونه او مصیبتونه ئے د خیال نه ووتل۔ او د حضور ﷺ دا مصیبت په تولو باندے غالب راغے۔ دوی حیران وو چه داڅۀ ووشو۔ یوے ښځے ته چا ووئیل۔ چه ستا پلار–ستا ځوے– او ستا خاوند تول په دے جنګ کښ شهیدان شول۔ هغے د دے تولو په جواب کښ صرف دا تپوس ووکړو۔ چه دا راته ووایئی چه رسول الله ﷺ څه حال کښ دے؟ خلقو ووئیل چه هغوی په خیریت سره دی۔ نو دے سره هغے ووئیل۔

"کل مصیبة بعدک جلل"

چه تاسو ژوندی یئ نو هیڅ پروا نشته۔ دا تول مصیبتونه هیڅ هم نۀ دی۔

چه کله د مدینے ښځو ته خبر ووشو۔ چه حضور پاک ﷺ ژوندے دے۔ نو هغوی د خپلو خاوندانو –ځامنو او ورڼړو په وفات باندے پوتے غم هم ښکاره نۀ کړو۔ (تفسیر الفرقان)

امام رازی رحمه الله د دے تولو اقوالو نقل کولو نه پس لیکی۔

وفی الآیة قول ثالث اختاره القفال رحمه الله تعالیٰ قال: وعندنا ان الله تعالیٰ ما اراد بقوله "غَمًّا بِغَمٍّ" الثنین وانما اراد مواصلة الغموم وطولها ای ان الله عاقبکم بغموم کثیرة.

یعنی د آیت په تفسیر کښ یو دویم قول هم دے۔ چه هغه امام قفال رحمه الله اختیار کړے دے۔ هغوی فرمائی چه په "غما بغم" کښ دوه غمونه مراد نۀ دی۔ بلکه یو شان د غمونو باران مراد دے۔ یعنی الله تعالیٰ د ډیرو غمونو په ذریعے سره تاسو ویخ کړئ۔ (التفسیر الکبیر)

❻ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ د پاره د دے چه تاسو غم وونۀ کړئ په هغے چه ستاسو د لاسه ووتۀ۔ او نۀ په هغه مصیبت باندے چه تاسو ته پیښ شو۔ امام رازی رحمه الله لیکی۔

انها متصله بقوله وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ د دے تعلق د " وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ سره دے– داسے شوه لکه چه وے فرمائیل۔ چه الله پاک تاسو معاف کړئ دپاره د دے چه تاسو غم وونۀ کړئ الخ۔ ولے چه الله تعالیٰ هر غم او پریشانی لرے کوی۔ والثانی ان اللام متصله بقوله فاثابکم یا د دے تعلق د فاثابکم سره دے۔ (تفسیر کبیر)

دبرکت کلام:

یعنی تاسو د رسول الله ﷺ زړۀ تنګ کړو۔ نو د هغے په بدله کښ په تاسو باندے

تنگی راغله۔ چه د بیا دپاره یاد ساتئ یعنی چه د رسول الله ﷺ په حکم باندے چلیږئ۔ که د لاسه دے څۀ ځی – یا که څۀ مصیبت دے مخے ته راځی۔ (موضح القرآن)


دا د لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عجیبه تفسیر دے۔ چه الله پاک دا غم ځکه درکړو چه د دنیا غم ستاسو د زړۀ نه ووځی۔او د رسول الله ﷺ د اطاعت جذبه ستاسو پخه شی۔یقینا کوم خلق چه د دنیا غمونه زیات محسوسوی۔ هغوی د اطاعت د جذبے نه محرومه کیږی۔او په خپل فکر کښ اخته کیږی۔که د دے نه وروستو په راتلونکی آیت باندے غور ووکړے شی۔نو د دے تفسیر قدر او قیمت نور هم زیاتیږی۔ (والله اعلم)

❽ لکیلا تحزنوا فالمعنیٰ لتتمرنوا علی الصبر فی الشدائد فلا تحزنوا علی نفع مافات أوضر آت.

یعنی مطلب دا دے چه ستاسو په مصیبتونو باندے د صبر کولو مشق ووشی چه تاسو د یو مے فائدے په فوت کیدو باندے یا د نقصان په راتلو باندے غمژن کیږئ نه۔(روح المعانی)

فائده

علامه ابن کثیر رحمه الله د دے آیت په سلسله کښ ډیر داسے احادیث راجمع کړے دی۔ چه په هغے کښ د احد د غزا سره متعلق مستند واقعات دی۔ فجزاهم الله خیرا شوق مند حضرات دے تفسیر ابن کثیر ووګوری–



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ — آیت ۱۵۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً

بیا الله تعالیٰ راوستلو په تاسو باندے د غم نه پس امن چه پرکالی راخوره شوه ستاسو په یوه ډله

مِّنْكُمْ ۙ وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ

باندے۔ او بله ډله وه چه د ځان غم په مخه اخیستے وه۔ دوی په الله تعالیٰ باندے د جاهلیت ناحقه

الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ۭ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ ۭ

گمانونه کول۔ دوی وئیل چه زمونږه هم لا څه اختیار شته دے ؟ ووایه۔ چه اختیار ټول په ټول د الله

قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ۭ يُخْفُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا يُبْدُوْنَ

تعالیٰ دے۔ دوی پټ ساتی په خپلو زړونو کښې هغه څه چه نۀ ئے ښکاره کوی تاته۔ دوی وائی چه که

لَكَ ۭ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ۭ

چرته وے زمونږه څه اختیار نو مونږ به دلته نۀ وو قتل شوے۔ ووایه ؛ چه که چرے وئ تاسو په خپلو

قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ

کورونو کښې نو خامخا به راوتلی وو هغه کسان چه لیکلے شوے وو د چا دپاره قتل د خپل اړخ لگولو

الْقَتْلُ اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ۚ وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ

ځائے ته۔ او چه الله تعالیٰ امتحان ووکړی د هغه څه چه ستاسو په سینو کښې دی۔ او چه پاک کړی

وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿١٥٤﴾

هغه څه چه ستاسو په زړونو کښې دی۔ او الله تعالیٰ ښۀ عالم دے د سینو په رازونو باندے۔

نچوړ

❶ د الله تعالیٰ فضل او د هغۀ نصرت ته ووگورئ۔ چه د احد د غزا په ډیرو سختو وختونو کښې ئے مجاهدینو باندے پرکالی راوسته۔ چه دوی ته امن سکون او اطمینان نصیب شی۔ چه کومو خلقو ته د رسول ﷺ او د دین فکر وو۔ الله تعالیٰ هغوی ته سکون ورکړو۔

❷ خو هغه منافقین چه هغوی سره صرف د خپل ځان فکر وو. هغوی په ویره او پریشانئ کښې اخته شول. او هغوی د پرکالئ نه محرومه شول او لګیا وو الله تعالیٰ باندې ئې غلط ګمانونه کول.

❸ منافقانو واویلا جوړه کړې وه چه زمونږ څۀ اختیار نشته دې. په ښکاره دا جمله ټیک وه. خو د دوی په زړونو کښې غلط مطلب پټ وو. او هغه دا چه که چرې د جنګ د شروع کیدو په وخت کښې زمونږ خبره منلې شوې وه. نو مونږ به دلته په احد کښې په داسې خرابه طریقه نه قتلیدو.

❹ دې منافقینو ته دې ووئیلې شي. چه بې شکه اختیار خو صرف د الله تعالیٰ چلیږي. باقي تر کومې چه ستاسو د مشورې تعلق دې. نو دا خو بالکل فضول خبره ده. د کوم سړي په تقدیر کښې چه کله او چرته مړۀ کیدل لیکلې وي. هغه به هم هغه وخت او هم په هغه ځائے کښې مري. تاسو هم که چرې په کور کښې کیناستئ. نو الله تعالیٰ به تاسو د مرګ په وخت کښې د مرګ ځائے ته خامخا راؤباسي.

❺ احد کښې چه څۀ ووشو. د هغې مقصد چنړ او صفائي وه. چنړ د جماعت او صفائ دزړونو

اقوال او حوالې

❶ ثُمَّ اَنۡزَلَ عَلَیۡکُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ الۡغَمِّ په مخلصو مسلمانانو باندې الله تعالیٰ یک دم د خوب جوتې راوستې. خلق په ولاړه ولاړه دخوبه شو. د حضرت علي رضی الله تعالیٰ عنه د لاسه څو پیرې توره ووغورزیده. دا یو حسي اثر د هغې سکون او اطمینان وو. کوم چه په داسې هنګامي حالت او توده زمکه باندې د مسلمانانو په زړونو کښې صرف د الله تعالیٰ په فضل او رحمت سره راغې. د دې نه پس د دشمن ویره ترخه بالکل ختمه شوه. دا کیفیت خاص په هغه وخت پیدا شو. چه کله د مجاهدینو په لښکر کښې نظم وضبط نۀ وو پاتې شوې- په شلګونو لاشونه په خاورو وینو کښې ککړ خړیدل. سپایان د زخمونو د لاسه چوري چوري وو. د حضور اقدس ﷺ د شهید کیدو غلط خبر سره چه څۀ لږه حوصله وه هغه هم ختمه شوې وه. لکه چه دا ووڈۀ کیدل د بیداریدو پیغام وو. پرکالي راوستو سره الله تعالیٰ د دوی تول ستړې والې ختم

کړو۔او یاد ګیرنه ئے ورته اوکړه۔ چه د ویرے ترخے او تشویش او د بے آرامه کیدو وخت لاړو۔اوس په امن او اطمینان سره خپل فرض سرته وورسوئ۔سمدستی صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم د حضورپاک ﷺ نه ګیر چاپیره راجمع شول۔او د جنګ محاذ ئے قائم کړو۔لږ ساعت پس فضا صفاوه۔ او دشمن د مخے نه په تیښته په نظر راتلو۔

یاداشت

ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه خاص د جنګ په موقعه باندے نعاس (پرکالی) راتلل د الله تعالیٰ د طرف نه د (فتحے او کامیابئ علامت)دے۔د حضرت علی رضی الله عنه د فوج سره د " صفین" په جنګ کښې هم دغسے واقعه پیښه شوے وه۔ (تفسیر عثمانی)

❷ عن عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه قال : النعاس فی القتال من الله وفی الصلوٰة من الشیطان (ابن کثیر)

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی۔ چه د خوب جوته په جنګ کښې د الله تعالیٰ د طرف نه وی او په مانځۀ کښې د شیطان د طرف نه وی۔

عن ابی طلحة رضی الله تعالیٰ عنه قال: کنت ممن تغشه النعاس یوم احد حتی سقط سیفی من یدی مرارا یسقط وآخذه ویسقط وآخذه (بخاری ، ابن کثیر)

حضرت ابو طلحه رضی الله تعالی عنه فرمائی۔ چه زۀ هغه خلقو کښې ووم۔په چا چه خوب غلبه کړے وه۔تر دے چه زما د لاس نه د احد په ورځ څو ځلې توره ووغورزیده۔غورزیدله به او ما به راغشتله۔غورزیدله به او ما به راغشتله۔

❸ وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ: او څۀ خلق داسے وو چه هغوی سره صرف د خپل ځان غم وو۔

دا بزدله او ډرپوکه منافقین دی چه دوی سره نۀ د اسلام فکر وو او نۀ د نبی کریم ﷺ دوی باندے صرف د خپل ځان د بچ کولو فکر سور وو۔ چه که د ابو سفیان فوج دوباره حمله ووکړه نو زمونږ به څۀ حشر وی۔په دے غم او فکر کښې خوب او پرکالی چرته؟ (تفسیر عثمانی)

❹ یعنی المنافقین معتب بن قشیر واصحابه ،وکانوا خرجوا طمعاً فی الغنیمة وخوف المومنین فلم یغشهم النعاس وجعلوا یتاسفون علی الحضور (قرطبی)

(چاسره چه صرف د خپل ځان فکر وو) یعني منافقين –معتب بن قشیر او د هغهٔ ملګري۔ داخلق د غنیمت په لالچ کښې او د مسلمانانو د ویرے داحد میدان ته راغلے وو۔ باندے پر کالي رانهٔ غله–۔ او دے خلقو میدان جنګ ته په راتلو باندے افسوس کولو۔

❺ مابهم الاهم انفسهم لاهم الدين ولا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم والمسلمين (البحر المحيط)

دے خلقو ته صرف د خپل ځان فکر وو۔ نهٔ دوی سره د دین فکر وو۔ او نهٔ د رسول اللهﷺ او نهٔ د مسلمانانو څهٔ فکر وو۔

❻ د خپل ځان فکر کول په خپل ځائے څهٔ خراب څیز نهٔ دے۔ که دا د طبعي امر په درجه کښې وي۔ (او عقلي نظریه جوړه نهٔ شي۔) دلته مراد دادے چه دے منافقینو سره صرف د ځان غم وو۔ او طبعا نهٔ دوی سره د دین څهٔ فکر وو او نهٔ دوی سره د رسول اللهﷺ څهٔ خیال وو۔ (تفسیر ماجدی)

د شکست او د پریشانئ په وخت کښې دنفاق والاؤ همیشه هم دغه طرز عمل وي۔ اللهم انا نعوذبک من النفاق والشقاق وسوء الاخلاق.

❼ يَظُنُّونَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ دوی به د الله تعالی په باره کښې د جاهلانو په شان دروغ خیالونه لرل۔

یعني هغه د الله تعالیٰ وعدے څهٔ شوے۔ معلومیږي چه د اسلام قصه ختمه شوه۔ اوس پیغمبرﷺ او مسلمانان خپل کور ته واپس تلو والا نهٔ دي۔ تول به دلته ختمیږي (مري به) څنګه چه ئے بل ځائے فرمائیلے دي۔ بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا (الفتح) (تفسیر عثماني)

❽ يظنون ان امر محمد (صلى الله عليه وسلم) باطل وانه لا ينصر (قرطبي)

هغوی ګمان کولو۔ چه (نعوذ بالله) د حضور اقدسﷺ دین باطل دے۔ او دهٔ باندے به د الله تعالیٰ نصرت نهٔ نازلیږي۔

❾ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ وئیل به ئے چه زمونږ هم لا څهٔ اختیار چلیږي۔

یعني څهٔ کار به زمونږ سم شي که نه بیخي خراب شوے دے۔ یادا چه آیا مونږ د محمدﷺ ملګرو ته څهٔ هم فتحه او کامیابي په لاس راغله؟ یا معنیٰ دا چه الله تعالیٰ څهٔ غوبنتل هغه ئے ووکړل۔ زمونږ یا د بل چا څهٔ اختیار۔ دا خو د الفاظو ظاهري معنیٰ

وه۔خو چه زړونو کښې ئې کوم نیت وو هغه مخکښې راروان دے۔ (تفسیر عثمانی)

❿ لفظه الاستفهام ومعناه الجحد. هَلْ لَّنَا کښې استفهام د جحد یعنی د انکار په معنی کښې دے۔ چه زمونږ هیڅ اختیار نشته دے۔ (قرطبی)

⓫ قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ ووفرمایه چه اختیار خو ټول د الله دے۔یعنی د منافقینو دا ویناچه هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَیْءٍ دا کلمة حق ارید بها الباطل ده۔بے شکه دا خبره خو صحیح ده چه ستاسو په لاس کښې هیڅ هم نشته او ټول کارونه د الله په اختیار کښې دی۔کوم کارچه غواړی جوړوی ئے یا ئې ورانوی څوک چه غواړی غالب کوی ئې یا ئې مغلوب کوی۔ که آفت رالیږی یا راحت۔که کامیابی ورکوی یا ناکامی۔یوه واقعه دیو قوم په حق کښې رحمت او د بل د پاره عذاب جوړ کړی۔ټول هر څهٔ هم د هغهٔ په قبضه کښې دی۔خو تاسو چه د دے قول نه کومه معنی په خپل زړهٔ کښې اخلئ۔ نو خدائے پاک ستاسو د زړهٔ غلا پیژنی۔چه د هغے بیان به مخکښے کیږی (تفسیر عثمانی)۔

⓬ امام قرطبی رحمه الله د دے دوه معنی بیان کړے دی۔ (الف) ای النصر بید الله ینصر من یشاء ویخذل من یشاء یعنی مدد د الله تعالیٰ په لاس کښې دے۔څوک چه ووغواړی غالب ئے کړی–او څوک چه ووغواړی رسوائے کړی۔

(ب) یعنی القدر خیره وشره من الله. یعنی که تقدیر ښهٔ وی او که خراب ټول د الله تعالیٰ د طرف نه دی۔ (تفسیر قرطبی)

⓭ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا وئیل ئے چه که چرے زمونږه لږ هم اختیار چلیدهٔ۔ یعنی زمونږ خبره منلے کیده۔نو مونږ به دلته نه مړهٔ کیدو۔

اصل غلا د زړهٔ داوه هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَیْءٍ به ئے وئیل او مطلب به ئے دغه وو۔او چه د پخو مسلمانانو نه به ځان له شو نو ممکنه وه چه وئیل به ئې۔ صاحبه؛ په شروع کښې ئے زمونږ رائے وونهٔ منله۔دیو څو جوشیله ناتجربه کارو په وینا باندے د مدینے نه بهر جنګ ته لاړل۔آخر شکست ئے ووخوړو۔که چرے څهٔ کار زمونږ په اختیار کښې وے او زمونږ په مشوره باندے عمل شوے وے۔نو دومره نقصان به ولے پیښیدهٔ۔زمونږ د ورور ولئ دومره سړی مړهٔ شو۔دا به ولے مړهٔ کیدل؟ منافقین زیات تر په نسب کښې د مدینے د انصارو په ورور ولئ کښې شامل وو۔په دے وجه ئے مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا کښې د دوی دے مړهٔ کیدلو ته د خپل ځان مړهٔ کیدل ووئیل۔یا دا مطلب دے چه که د محمد ﷺ د وینا مطابق فتحه او کامیابی او غلبه د مسلمانانو د پاره وے۔نو د قتلیدو او زخمی کیدو دا مصیبت به نن ولے په مونږ باندے راپرے وتلو۔

یاداشت

په ظاهره خو دا خبرے منافقینو په مدینه کښ کړے دی۔ ولے چه عبدالله بن ابی د جنګ د شروع کیدو نه مخکښے خپله ډله ځان سره کړے وه۔ او واپس شوے وو۔ په دے صورت کښ به د " ههنا " اشاره د نزدے والی د وجهے نه احد طرف ته وی۔ خو د بعضے روایاتو نه دیو منافق معتب بن قشیر نه دا کلمے په میدان جنګ کښ وئیل ثابتیږی۔ نو کیدے شی چه بعضے منافقان د څۀ مصلحت په وجه د عبد الله بن ابی سره په ملګرتیا کښ واپس نۀ وی تلے۔ (تفسیر عثمانی)

۱۴ قال الزبير أرسل علينا النوم ذلك اليوم ،وانی لاسمع قول معتب بن قشير والنعاس يغشاني يقول: لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا (قرطبی)

حضرت زبیر رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی۔ چه دا احد په ورځ په مونږ باندے پرکالی راغلے وه۔ د پرکالئ په حالت کښ ما د معتب بن قشیر (منافق) دا خبره اوریدله لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا

۱۵ ان المنافقين قالوا لو كان لنا عقل ماخرجنا لقتال اهل مكة ولما قتل رؤساء نا.

یعنی منافقینو ووئیل چه که چرے زمونږ عقل وے۔ نو مونږ به د مکے والاؤ سره د جنګ د پاره نۀ وو راوتلے۔ او زمونږ سرداران به نۀ قتلیدل۔ نو الله تعالیٰ د آیت په وروستونئ حصه کښ دوی ته جواب ورکړو۔ (قرطبی)

۱۶ قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ یعنی په دے پیغورونو میغورونو یا ارمان او افسوس باندے څۀ حاصلیږی نه۔ الله تعالیٰ د هر یو کس چه کوم اجل – د مرګ ځائے – سبب – او وخت لیکلے دے۔ چرے هم نۀ بدلیږی۔ که چرے تاسو په کورونو کښ د ننه ناست وئ۔ او فرض کړه ستاسو رائے منلے شوے وے۔ بیا هم چه د چا په قسمت کښ دا لیکلے وو۔ چه دا احد په خوا کښ په کوم کوم ځائے کښ به دوی مړۀ کیږی۔ هغوی به په څۀ نا څۀ وجه ضرور هغے طرف ته وتل او هلته به قتلیدل۔

دا د خدائے پاک انعام دے۔ چه کوم ځائے مړۀ کیدل ئے مقدر وو۔ نو هلته مړۀ شو۔ خو د الله تعالی په لار کښ په خوشحالئ باندے د بهادرانو په مرګ باندے شهیدان شول۔ بیا په دے باندے د لاس مروړلو او د افسوس کولو څۀ ضرورت دے۔ خدائی خلق په خپل ځان باندے مۀ قیاس کوئ۔ (تفسیر عثمانی)

۱۷ وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ فرض الله عليكم القتال والحرب ولم ينصركم يوم احد

ليختبر صبر كم وليمحص عنكم سيئاتكم ان تبتم واخلصتم. يعني الله تعالى په تاسو باندې قتال او جنګ فرض کړو. او د احد په ورځ ئې تاسو له غلبه درنۀ کړه. چه ستاسو د صبر او استقامت امتحان واخلي. او ستاسو ګناهونه ختم کړي. که چرې تاسو توبه وويسته او په اخلاص باندې باقي پاتې شوئ. (قرطبي)


۱۸ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ يعني الله تعالىٰ خو د زړونو پټ رازونه پيژني. د هغۀ نه د چا حالت هم پټ نۀ دے. مقصود دا وو چه تاسو ټول په يو امتحان کښې واچولے شئ. نو چه ستاسو په زړونو کښې څۀ دي چه هغه رابهر شي. چه د امتحان په بټئ کښې کره او کوټه جدا شي. چه مخلصين د کاميابئ صله وموومي. او د دوی زړونه د بيا د پاره د کمزورو او وسوسو نه پاک شي. او د منافقانو دننه منافقت ښکاره شي. او خلق په ښکاره د دوی د باطن پليتي ووينې. (تفسير عثماني)

۱۹ وفيها تنبيهٌ على ان الله تعالىٰ غني عن الابتلاء وانما يبرز صورة الابتلاء لحكم يعلمها كتمرين المومنين او اظهار حال المنافقين. يعني وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ کښې هم په دې باندې خبردارې ورکړې شوې دې. چه الله تعالى ته د دې امتحان اغيشتلو حاجت نشته دې. خو د بعضې حکمتونو د وجې نه چه هغۀ ته معلوم دي. د امتحان په شکل ئې ښکاره کوي. مثلا ايمان والاؤ ته د مشق ورکولو د پاره يا د منافقينو حالت خلقو ته د ښکاره کولو د پاره. (روح المعاني)

دعاء

اللهم انا نعوذ بک من النفاق والشقاق وسوء الا خلاق.

اے زمونږ پروردګاره ! مونږ ستا پناه غواړو. د نفاق نه – د ضد نه – او د بدو اخلاقو نه – (آمين يا ارحم الراحمين)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ

بے شک هغه خلق چه تاسو نه واپس شو په کومه ورځ چه مخامخ شوے دواړه ډلے -یقینا دوی

الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ۗ اِنَّ

شیطان دهوکه کړل صرف د خپلو څۀ کړو په وجه -او الله تعالیٰ دوی معاف کړے دی - یقینا

اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۵۵﴾

الله تعالیٰ ډیر بخښونکے حلیم دے-

نچوړ

او چه کوم خلق په هغے ورځ (د احد د غزا په ورځ) تښتیدلے وو۔نو هغوی له شیطان د هغوی د بعضے ګناهونو د سپیرۀ والی په وجه باندے خپے خوئیولے وے۔ چه دوی د رسول الله ﷺ وینا اونۀ منله۔اوکنډاؤ ئے پریخو۔خو خیر۔ الله تعالیٰ دا خبره هم معاف کړه- ولے چه هغه بخښونکے او صبر ناک دے۔ (تفسیر حقانی)

اقوال او حوالے

❶ استزلهم الشيطان شیطان دوی تیر باسل۔ ذکرهم تلك الخطايا فكرهوا لقاء الله معها فاخروا الجهاد حتى يصلح امرهم ويجا هدوا على حال مرضية (تفسير كبير ، كشاف)

شیطان دوی ته د دوی خطاګانے وریادے کړے۔نو دوی د دغه خطاګانو سره د الله تعالیٰ ملاقات خوښ نۀ کړو۔او د جهاد نه لږ وروستو شو۔د پاره د دے چه د دوی معاملے اصلاح ووشی۔او بیا په داسے حالت کښ جهاد ووکړی۔چه په هغے کښ دوی د الله تعالی خوښ وی۔

❷ واعلم ان المراد:ان القوم الذين تولوا يوم احد عند التقاء الجمعين وفارقوا المكان وانهزموا قدعفا الله عنهم.

د آیت مطلب دا دے چه هغه حضرات چه د احد په غزا کښ د جنګ په وخت کښ په شا شوی وو۔او خپل ځائے ئے پریخودے وو۔نو الله تعالیٰ دوی معاف کړے دی۔ (التفسير الكبير)

۳ د مخلصینو نه هم بعضے وخت څۀ وړه یا لویه ګناه کیږی۔ او څنګه چه په یو اطاعت سره د بل اطاعت توفیق زیاتیږی۔ نو دغه شان د یو ګناه په سپیرۀ والی سره شیطان ته موقعه ملاویږی۔ چه نورو غلطو او ګناهونو طرف ته بنده تیار کړی۔ په جنګ احد کښې هم کوم مخلص مسلمانان چه د خپل ځائے نه خوزیدلے وو۔ نو شیطان د یوے مخکښینۍ ګناه په وجه د دوی قدمونه خوئیولے وو۔ نو یوه ګناه خو دغه خبره وه چه د غشی ویشتونکے ډلے زیات ترو کسانو د حضور اقدس ﷺ د حکم پابندی وونۀ کړه۔ خو د خدائے پاک فضل ووګوره۔ چه د دغے په سزا کښې ئے ورته څۀ تباکوونکے شکست ورنۀ کړو۔ بلکه دغه حضراتو باندے اوس څۀ ګناه هم پاتے نۀ شوه۔ حق تعالیٰ د دوی تقصیر مکمل معاف کړو۔ چا ته په دوی پسے د خبرو کولو او د دوی د ملامته کولو حق نشته۔ (تفسیر عثمانی)

۴ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ بے شکه الله تعالی بخښلو والا دے۔ تحمل کولو والا دے۔ دلته کښې ئے د الله تعالیٰ دوه صفتونه ثابت کړل۔ "غَفُورٌ" یو صفت د "غفر" نه دے چه دا به په آخرت کښې ښکاره کیږی۔ "حَلِيمٌ" بل صفت د حلم دے چه دا په دے دنیا کښې ښکاره کیږی۔ چه الله تعالی سمدستی څوک نۀ رانیسی۔ بلکه د توبے او استغفار موقعه برابر ورکوی۔ (تفسیر ماجدی)

۵ دبرکت کلام:

دے نه معلومه شوه۔ چه په دے جنګ کښې کوم خلق د ځائے نه اخوا شوے دی۔ په هغوی باندے څۀ ګناه نشته۔ (موضح القرآن)



سُورَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ قَالُوْا

اے د ایمان خاوندانو؛ تاسو د هغه خلقو په شان مهٔ جوړیږئ کوم چه کافر شوی دی او خپلو وروڼړو

لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا فِي الْاَرْضِ اَوْ كَانُوْا غُزًّى لَّوْ كَانُوْا

ته وائی په هغه وخت کښ چه دوی سفر کوی په زمکه کښ یا دوی غازیان وی -که چرے دوی مونږه

عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا ۚ لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً

سره وے نو دوی به نهٔ وو مړهٔ شوے. او نهٔ به قتل شوے وو- چه الله تعالیٰ دا خبره د دوی په زړونو

فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۵۶﴾

کښ یوا رمان ووګرزوی -او الله تعالیٰ ژوند او مرګ ورکوی -او الله تعالیٰ ګوری هغه څه ته چه تاسو ئے کوئ

نچوړ

ایمان والاؤ ته هدایت ورکیږی. چه تاسو په خپلو خبرو کښ د منافقینو په شان مه کیږئ. چه د هغوی په شان خبرے شروع کړئ. دا قسمه خبرے صرف د ایمان نه محرومه خلق کولے شی. دوی چه کله ووینی چه په جهاد کښ خلقو ته شهادت نصییب شوے دے. نو دوی وائی که چرے دا خلق جهاد ته نهٔ وے تلے. او مونږ سره په کور کښ ناست وے. نو نهٔ به مړهٔ کیدل. لکه د دوی په نیز مرګ صرف په جنګ کښ راځی. او چه کوم سړے خپل کور کښ ناست وی هغه به چرے هم نهٔ مړ کیږی- د دوی په دے خبرو سره د دوی په زړهٔ کښ صرف حسرت او افسوس پیدا کیږی. چه یو روحانی عذاب دے. او بے فائدے څیز دے. قضا خو چرے هم نهٔ وروستو کیږی. ژوند او مرګ ټول د الله په لاس کښ دے -په دے وجه رښتونے مومن د مرګ نه نهٔ ویریږی. او نهٔ ئے چرته د دے ویرے نه قدم په وروستو ځی.

نا آشنا یاد ګیرنه

د ظاهری شکست نه پس یوه خطرناکه فتنه دا ووچتیږی. چه په مسلمانانو کښ رادننه شوے منافقین (چه مسلمانان ګڼړلی شی) دا وئیل شروع کړی. چه که دا

شهیدان شوے مسلمانان زمونږ په شان کور کښې ناست وے۔ او جهاد ته نۀ وے تلے نو داسے به نۀ مړۀ کیدل۔ د دوی دا شور دومره تیز وی چه دکمزوری زړۀ مسلمانان هم بس د دوی په شان سوچ کول شروع کړی۔ په دے وجه ئے په دے آیت کښې ښکاره تنبیه ورکړه۔ چه اے مسلمانانو تاسو د کافرانو والا خبرے په خپله ژبه مۀ راولئ۔ په جهاد کښې مرګ ګڼړلو والا منافق په اصل کښې کافر او د الله تعالیٰ منکر دے۔ نو د هغۀ خو عقیده خرابه شوے ده۔ او په دے ښکاره حقیقت هغه نۀ پو هیږی۔ چه ژوند او مرګ د الله تعالیٰ په لاس کښې دے۔ او د مرګ وخت او مقام مقرر دے – داسے بدنصیبه خلق به همیشه د افسوس او ارمان په اور کښې سوزی۔ په دے وجه تاسو د دوی غلطے او کفریه عقیدے په ژبه هرګز مۀ راولئ۔ د الله تعالیٰ په دے ښکاره یادګیرنے سره د مسلمانانو اصلاح ووشوله۔ او د مرګ په باره کښې ئے د دوی عقیده د کاڼړی په شان پخه کړله۔ نن هم که په جهاد کښې د مسلمانانو ظاهری شکست راشی۔ یا څۀ کسانو ته شهادت پیښ شی۔ نو ریښتونی مسلمانان هم دا وائی۔ چه هر چاته مرګ بس په خپل وخت راغلے دے۔ خو چه کوم شهیدان شو – دا خوش قسمته شو۔ چه الله پاک دوی قبول کړل۔ خو څۀ خلق هم دغه شور جوړوی۔ چه هائے مړۀ شو۔ فلانکی مړۀ کړو – که دا خلق نۀ وے تلے نو بچ شوے به وو۔ الله تعالیٰ دے دداسے خبرونه د مسلمانانو حفاظت ووکړی ځکه چه دا خبرے د کافرانو دی۔ (آمین والله اعلم بالصواب)

اقوال او حوالے

❶ د مرګ او ژوند اسباب ټول په ټول د الله تعالیٰ په لاس کښې دی۔ هغه مسبب الاسباب حقیقی علت پریښودل او ظاهری اسبابو ته نظر کول او سفر یا جهاد د مرګ پوره علت ګڼړل یو سخت جهالت او کم عقل توب دے۔ په امریکه کښې په دے وخت کښې د سوشیالوجی (عمرانیات) یو ماهر فاضل " ډینی سن " دے۔ هغه په خپل کتاب کښې یو ځائے لیکی۔ د مسلمانانو د تقدیر عقیدے یا د دے خبرے عادت چه هر تکوینی امر الله تعالیٰ ته سپاری۔ دغه شان د شهادت عقیدے (چه شهید سمدستی جنت ته ځی۔ او هلته کښې دۀ ته دوه اویا حورے ملاویږی۔ او د خوراک د پاره د سرو زرو لوښی) مسلمانانو کښې د جنګ په میدان کښې ډیر قوت او استقامت پیدا کړے وو۔ (ص۔۲۰۶) د امریکے د فاضل نۀ د تقدیر په عقیدے باندے ایمان شته دے۔ او نۀ د شهادت په عقیده باندے۔ بیا هم د دے خبرے په اقرار کولو باندے ځان مجبور ګڼړی۔ چه دا عقیدے فائده

مندے او نفع ورکوونکے دی۔ (تفسیر ماجدی)

(په دے وجه امریکه او یورپ د مسلمانانو د عقیدے کمزورے کولو د پاره ښۀ پوره محنت کوی۔)

دبرکت کلام:

❷ یعنی په نیک کار پسے وتلے وو۔او مړۀ شو یا ووژلے شو۔نو په دے وتو دے افسوس نۀ کوی۔په دے کښ د تقدیر انکار (لازم) راځی۔او د آخرت فائده نۀ لیدل او د دنیا ژوند خوږ ګنړل دا ټول د کافرانو خوئی دے۔ (موضح القرآن)

❸ یعنی تاسو د منافقانو په شان داسے بیکاره خیالاتو له چرے هم په زړۀ کښ ځائے مۀ ورکوئ۔ چه که په کور کښ ناست وو– نو نۀ به مرګ راغلے وو او نۀ به دوی مړۀ شوے وو۔ (تفسیر حقانی)

❹ منافقان وائی چه که چرے زمونږ هغه رشته دار چه په جنګ کښ مړۀ شوے دی۔ مونږ سره وو او جنګ کښ شریک شوے نۀ وو۔او زمونږ په شان ئے (جهاد ته د تلو نه) انکار کړے وو۔نو په دوی به دا مصیبت نۀ وو راغلے۔ښکاره خبره ده چه څۀ کیدل هغه ووشو۔خو یو ارمان دے چه د دوی په زړۀ کښ باقی پاتے دے۔او په دے غم کښ به دوی ټول عمر اخته وی۔او په دے غم کښ به په ویلے کیدو ویلے کیدو دوی مری۔اصل خبره دا ده چه د ژوند او د مرګ رشته صرف د الله تعالیٰ په لاس کښ ده۔او د هغۀ نه علاوه لوئے نه لوئے طاقت هم دا اختیار نۀ لری۔که چرے ټول مادی او جسمانی قوتونه هم کار کول پریږدی۔بیا هم الله تعالیٰ د روحانی قوتونو په ذریعے سره مونږ ته ژوند راکولے شی۔ چه کله خبره دا ده نو بیا د ژوند او مرګ په جګړه کښ یو مسلمان ته د پریوتلو څۀ ضرورت دے۔دۀ له خو پکار دی چه همیشه د الله تعالیٰ په نوم باندے ځان قربانولو ته تیار اوسی۔ (تفسیر الفرقان)

❺ هغه منافقان د شهید شوے مسلمانانو په باره کښ وائی۔ لَّوْ كَانُوا۟ عِندَنَا مَا مَاتُوا۟ وَمَا قُتِلُوا۟ چه که دوی مونږ سره پاتے وے۔ نو نۀ به مړۀ کیدل۔او نۀ به وژلے کیدل۔یعنی خا مخا بهر اووتل نو مړۀ شو۔که مونږ سره په کور کښ پراتۀ وے نو ولے به مړۀ کیدل او ولے به وژلے کیدل۔دا وینا په دے غرض وه۔چه د اوریدونکو مسلمانانو په زړۀ کښ غم او افسوس پیدا شی۔ چه واقعی دوی بے سوچه اووتل او د جنګ په اوور کښ ئے وروودانګل۔نو دغۀ ئے نتیجه شوه۔که کور کښ وو نودا مصیبت به ئے ولے لیدۀ۔ خو

مسلمانان داسے کچه نهٔ وو۔ چه په دے خبرو کښې راتلل۔ دے خبرو سره التها د منافقانو د راز منګے مات شو۔ بعضے مفسرین لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ کښې "ل" د عاقبت اخلی۔ نو معنی ئے دا سے کوی۔ چه د منافقانو په زړهٔ کښې او په ژبه داسے خبرے څکه جاری کړے شوے۔ چه خدائے پاک دوی همیشه د دغه غم او افسوس په اوور کښې ووسوزوی۔ او بل غم دوی ته دا وولګیدو۔ چه مسلمانان خو زمونږ په شانتے نهٔ شو۔ او زمونږ په خبرو باندے چا غوږ وونهٔ ګرولو۔ نو لکه چه په دے طریقه باندے د "لِيَجْعَلَ" تعلق د لَا تَكُوْنُوْا سره هم کیدے شی۔

یو سوال

په دے آیت کښې وو فرمائیلے شو۔ چه تاسو د کافرانو په شان مهٔ کیږئ.... الخ حالانکه دا خبره چه لو کانو اعندنا ماماتوا وما قتلوا کافرانو نهٔ وه کړے۔ منافقانو کړے وه۔

جواب

امام رازی رحمه الله لیکی۔

فالآية تدل علی ان الایمان لیس عبارة عن الاقرار باللسان الخ. دے نه ثابته شوه چه ایمان صرف د اقرار کولو نوم نهٔ دے۔ کنی منافقانو ته به کافر نهٔ وئیلے کیدل۔ ولے چه هغوی خو به په ژبه د مسلمانئ اقرار کولو۔ (تفسیر کبیر)

د بعضے عالمانو په نیز په دے آیت کښې مسلمانانو ته د هر هغه کافر په شان د جوړیدو نه منعه کړے شوے ده۔ چه څوک دا قسمه خبرے کوی۔ (چه مرګ په جهاد کښې دے وغیره) که هغه کافر منافق وی او که نهٔ وی۔ (تفسیر کبیر)

نکته

لیجعل الله ذلک حسرة فی قلوبهم د تعلق او معنی په متعین کولو کښې د امام رازی رحمه الله د دلچسپ کلام خلاصه ووګورئ۔

د لِيَجْعَلَ تعلق خو یا د قَالُوْا اسرے دے۔ یعنی منافقانو دا خبره ووکړه۔ د پاره د دے چه الله تعالیٰ دا خبره د هغوی په زړهٔ کښې غم جوړ کړی۔ دا خبره د هغوی په زړهٔ کښې د غم باعث څنګه جوړه شوه۔ په دے کښې شپږ اقوال دی۔

❶ منافقانو ووئیل چه که دا خلق جهاد ته نهٔ وو تلے نو مړهٔ شوے به نهٔ وو۔ د دوی د دے خبرے سره د شهید د خاندان والاؤ په زړهٔ کښې حسرت او افسوس پیدا کیږی

چه کاش مونږ دا شهید تلوته نۀ وے پرېښے اوپه سختئ سره مونږ دے ایسار کړے وے۔ چونکه مونږه دے تلوته پرېښودلو نو دے ووژلے شو۔ نو داسے شوه لکه چه مونږه ددۀ د مرګ ذمه دار شو۔ په دے سوچ راتلو سره به د هغوی په زړۀ کښې حسرت او غم درد نور هم زیاتیدۀ۔ خو دا خبره به هغه چا کوله او دهغه چا سوچ به دے طرف ته تلو چه د چا په زړۀ کښې به نفاق وو۔ کنی نو رښتونے مسلمان خو دا غلطه نظریه د سره نۀ مني۔ نو په دے وجه هغه خو دحسرت نه محفوظ پاتے شي –نو داسے شوه لکه چه د منافقینو په دے خبرے سره بس صرف د منافقانو حسرت زیاتیږي۔

❷ منافقانو چه کله دا خبره خوره کړه چه په جهاد کښې مرګ دے نو دوی اود دوی ملګری دجهاد نه پاتے شو۔ بیا چه کله مسلمانانو ته په جهاد کښې فتحه او غلبه ملاؤ شوه نو د وروستو پاتے شوے منافقانو په زړۀ کښې د حسرت او د افسوس اور بل شو۔

❸ دا حسرت د قیامت د ورځے دے چه کله منافقان ووینی چه الله تعالیٰ مجاهدینو ته دومره ووچتے درجے او غټ غټ انعامونه ور کړے دی نو بیا به دوی په دے خپله خبره باندے ارمان کوی۔او لاسونه به مروړي۔

❹ منافقانو چه کله دا شبهه واچوله نو بعضے کمزورے زړونو والا مسلمانانو هغه قبوله کړه– په دے باندے منافقانو خوشحالي ووکړه– چه د دوی مکر او دهوکه کامیابه شوه۔نو الله تعالیٰ فرمائي چه ډیر زر به د دوی دا عمل د دوی د زړونو غم او افسوس جوړشي۔ چه کله دوی ته پته وولګی چه په دے شبهو پیدا کولو کښې دوی په باطله باندے وو۔

❺ دا منافقان چه هر وخت د ګمراهئ او د شکونو خورولو محنت کوی – نو دے سره پخپله د دوی زړونه په تنګئ – غم او پریشانئ کښې غورزیږي– څنګه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے مِنۡ لَّدُنۡكَ رَحۡمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ (الانعام۱۲۵)

❻ منافقان چه د پخو مسلمانانو په زړونو کښې ددے شک اچولو کوشش کوی نو هغوی د دوی خبره نۀ اوری۔نو دوی ته په خپله ناکامیابئ او ذلت باندے غم او حسرت وی۔

دویم قول دادے چه ﴿لَا تَكُوْنُوْا﴾ تعلق د ﴿لِيَجْعَلَ﴾ اسره دے نو مطلب ئے دا شو چه اے ایمان والاؤ: تاسو ددے کافرانو اومنافقانو غوندے مۀ جوړیږئ چه ستاسو دا د دوی په شان نۀ جوړیدل د دوی په زړونو کښ د افسوس او د حسرت سبب ووګرزی۔ ولے چه د منافقانو د عقیدے او د دوی د خبرو مخالفت کولو سره دوی کښ غم او غصه پیدا کیږی۔ (التفسیر الکبیر)

د فکر دعوت

دآیت مطلب بالکل ښکاره دے- ددے باوجود ددے تولو عبارتونود نقل کولو نه مقصد دادے چه ددے زمانے د مسلمانانو عقیده د کفر او منافقت نه بچ پاتے شی۔ نو په مونږ تولو مسلمانانو باندے لازم دی چه مونږ خپلے عقیدے روغے کړو- او چرے هم د کافرانو او منافقانو عقیده خپله نۀ کړو- چه کنی مرګ په جهاد کښ دے۔ اوکه چرے مونږ جهاد پریخودۀ او کیناستو نو مونږ به بچ شو۔ بلکه چه مونږ خپلے عقیدے د دے آیت نه پس د راتلونکی آیت مطابق جوړے کړو- چه په جهاد کښ شهادت یامرګ راتلل دالله تعالیٰ د مغفرت او د رحمت ذریعه اوډیره اوچته نیک بختی ده اود مرګ وخت اومقام مقرر دے چه هغه چرے هم نۀ بدلیږی۔

﴿وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ﴾ او الله تعالیٰ ژوندی کول او مړۀ کول کوی۔

❶ ای یقدر علی ان یحیی من یخرج الی القتال ویمیت من اقام فی اهله (قرطبی) یعنی هغه په دے قادر دے چه جهاد ته تلو والا ژوندے ووساتی او په کور کښ ناست ته مرګ راولی۔

❷ وفیه منع المومنین عن التخلف فی الجهاد لخشیة القتل.(روح المعانی) په دے کښ مسلمانان ددے نه منعه کړے شوے دی چه دوی د مرګ د ویرے نه جهاد پریږدی۔

دعاء

یا الله د کافرانو او د منافقانو غوندے نظریاتو ساتلو نه او د هغوی په شان د غلطو خبرو کولو نه څمونږ د تولو مسلمانانو حفاظت ووکړے۔

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا﴾



سُوْرَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۷

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللهِ

او که چرې تاسو ووژلے شوئ۔د الله تعالیٰ په لاره کښې یا مړهٔ شوئ – نو د الله تعالیٰ بخښنه او

وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾

مهرباني ډيره ښهٔ ده۔د هغے نه چه دوی ئے جمع کوی۔

نچوړ

په جهاد کښې د شهادت یاد مرګ ملاویدل ستاسو دپاره ښهٔ د فائدے څیز دے۔ولے چه دے سره د الله تعالیٰ بخښنه او رحمت نصیب کیږی۔او د الله تعالیٰ بخشش او رحمت د دنیا د هغے ټولو نعمتونو نه غوره دے کوم چه خلق ډیر په شوق سره غواړی او جمع کوی ئے۔

یو شعر

فـان تـکـن الابـدان لـلـمـوت انشئـت

فـقـتـل امـری ء بـالسیف واللّٰه افـضـل

د شعر ترجمه

پیدا شوے چه هر کس دپاره مرګ دے، بیا په توره باندے مړ سړے بزرګ دے

علامه آلوسی رحمه الله فرمائی چه دا (عربی) شعر حضرت سیدنا حسین رضی الله تعالی عنه ته منسوب دے ۔ (روح المعانی)

د منافقانو د شبهے جواب

واعلم ان هذا هو الجواب الثانی عن شبهة المنافقین الخ.

په دے آیت کښې د منافقینو د شبهے دویم جواب ورکړے شوے دے۔ چه مرګ خو یقینا راتلو والا دے۔او هیڅ یو انسان د مرګ نه بچ کیدے نهٔ شی۔نو بیا دا مرګ که د الله تعالیٰ په لار کښې د هغهٔ د رضا د پاره نصیب شی۔نو دا د دے نه بهتره ده چه انسان د دنیا د جمع کولو او د دے د خوندونو په جمع کولو کښې مړ شی۔ولے چه د مرګ نه پس انسان د یو نعمت نه هم فائده نهٔ شی اغیستلے۔

دا جواب ډیر ښهٔ او ډیر مضبوط دے۔ ولے چه انسان کله په جهاد کښې وولګي۔ نو خپل زړهٔ د دنیا نه آخرت طرف ته واړوي۔ بیا چه کله دهٔ ته مرګ راشي۔ داسے وی لکه چه دهٔ ته د خپل د شمن (یعني دنیا) نه آزادي ملاؤ شي۔ او د خپل محبوب او مطلوب دیدار ورته نصیب شي۔ د دے په مقابله کښې که چرے هغه د مرګ د ویرے نه په کور کښې کښېني او د دنیا د جمع کولو په حرص کښې لګیا وي۔ نو کله چه دهٔ له مرګ راشي۔ نو داسے وی لکه چه دے د خپل محبوب نه جدا شو۔ او په یو ناشنا (د مصیبت په) ځائے کښې ور ووغورزولے شو۔

فلا شک فی کمال سعادة الاول و کمال شقاوة الثانی. (التفسیر الکبیر)

دالله تعالی بخښنه او رحمت ډیر ښهٔ دے

ارشاد ووشو:

ترجمه:

که چرے تاسو د الله تعالیٰ په لاره کښې ووژلے شوئ۔ یا مړهٔ شوئ۔ نو د الله تعالیٰ بخشش او د هغهٔ مهرباني د هغه څیز نه بهتره ده ـ کوم چه خلق راجمع کوي۔ امام رازی رحمه الله په دے باندے یو ایمان افروز بحث کړے دے۔ هغوی لیکي۔

ان رحمت الله ومغفرته خیر من نعیم الدنیا لوجوه:

بے شکه د الله تعالی رحمت او مغفرت د دنیا د نعمتونو نه په ګڼړو وجوهاتو سره غوره دے۔ بیا هغوی شپږ وجهے ذکر کړے دي ـ چه د هغے خلاصه دا لاندے ذکر شوے ده۔

❶ چه کوم سړے مال جمع کوي۔ نو نن د هغے د جمع کولو د پاره مشقت او تکلیف زغمي۔ خو کیدے شي چه صبا هغه د دے مال نه هیڅ فائده هم وانهٔ خستے شي۔ او د صباد راتلو نه مخکښے دے مړ شي۔ خو چه چا د الله تعالیٰ نه رحمت او مغفرت ووغوښتلو (او حاصل ئے کړو) نو هغهٔ ته به ضرور د دے فائده ملاؤ شي۔ ځکه چه الله تعالیٰ د وعدے خلاف نهٔ کوي۔

❷ ټیک ده ـ دغه مال جمع کولو والا سړے صبا پورے مړ نهٔ شو۔ او ژوندے پاتے شو۔ خو دا ممکن ده ـ چه د دهٔ مال صبا پورے باقي پاتے نهٔ شي۔ او ضائعه شي۔ او د آخرت نعمتونه خو لازواله دي۔ یعني ختمیدو والا نهٔ دي۔

❸ که فرض کړه چه صبا پورے مال جمع کولو والا سړے هم مړ نهٔ شو۔ او د هغهٔ

مال هم ضائع نهٔ شو-خو دا خو کیدے شي چه دهٔ ته څهٔ داسے حادثه پیښه شي چه دے د خپل مال نه د فائدے ووچتولو قابل هم پاتے نهٔ شي.مثلا دے په څهٔ مرض یا په تکلیف کښ اخته شي.او د آخرت په نفعه کښ دا قسمه هیڅ څهٔ خطره نهٔ وي.

❹ کیدے شي چه مال جمع کولو والا ته صبا د خپل مال نه د څهٔ فائدے او خوند اغیشتو څهٔ موقعه په لاس ورشي. خو د دنیا د خوندونو او نعمتونو سره تکلیفونه او پریشانئ لګیدلے دي.او د آخرت خوندونه د هر قسمه تکلیف او نقصان نه پاک دي.

❺ ټیک ده ؛ دا هم سهي ده چه د دنیا طلبګار ته دلته څهٔ داسے خوندونه او فائدے حاصلے شوے. چه د هغے سره څهٔ تکلیف او نقصان نشته دے.خو بیا هم دا یو حقیقت دے. چه د دنیا لذتونه او فائدے همیشه د پاره نهٔ وي.بلکه ختمیدو والا او فنا کیدو والا دي.بلکه د دے ځائے چه کوم خوندونه څومره مضبوط اوخشته وي- د هغے د ختمیدو او فنا کیدو غم او افسوس به هغه هومره سخت او زیات وي.او د آخرت فائدے د فنا کیدو نه بچ دي.

❻ د دنیا فائدے حسي (بدني) دي او د آخرت فائدے عقلي دي.او حسي (بدني فائدے) معمولي او کم قیمته وي -او عقلي فائدے اعلیٰ او غوره وي. یو خوچه د خپلے خیټے او شرمګاه نه کومے مزے حاصلوي.نو دا مزه چرته د هغے مزو سره برابریدے شي؟.کومے مزے چه مقربو فرشتو ته د الهي انوارو د نصیب کیدو په وخت کښ حاصلیږي. د دے شپږو وجوهاتو د ذکر کولو نه پس امام رازی رحمه الله لیکي. فهذه المعاقد الستة تنبهک علی مالا نهایة لها من الوجوه الدالة علی صحة قوله سبحانه وتعالیٰ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ

یعني وجوهات خو بے شماره دي - د دے شپږو نه هغه نورو طرف ته اشاره کړے شوے ده. (التفسیر الکبیر)

❶ اعلم ان المنافقین کا نو ا یعیرون المو منین فی الجهاد مع الکفا ر بقولهم الخ.

یعني منافقانو به مسلمانانو ته د کافرانو خلاف په جهاد کولو باندے پیغور ونه ورکول.او وئیل به ئے -که چرے دا خلق مونږ سره وے.(او جهاد ته نهٔ وے تلے) نو

دوی به نهٔ مړهٔ کیدل او نهٔ به وژلے کیدل۔ بیا د بعضے مسلمانانو نه په جهاد کښې کمزوری او سستی ووشوه۔ تر دے چه د احد د ورځے واقعه پیښه شوه۔ بیا الله تعالیٰ په خپل فضل سره مسلمانان معاف کړل۔ او مسلمانان ئے منعه کړل۔ چه دوی دے چرے هم د منافقانو په شان خبرے د خپلے ژبے نه نهٔ ووباسی۔ نو وے فرمائیل چه اے ایمان والاؤ ؛ چه کوم کس په تاسو کښې د جهاد د پاره ځی۔ نو هغهٔ ته داسے مهٔ وایئ چه که چرے تاسو وونهٔ وتلئ نو نهٔ به مړهٔ کیږئ– او نهٔ به وژلے کیږئ۔ یقینا بس الله تعالیٰ ژوند او مرګ ورکوی۔


فمن قدرله البقاء لم يقتل فی الجهاد ومن قدرله الموت لم يبق وان لم يجاهد.

نو د چا چه د ژوند ورځے په مقدر کښې باقی وی۔ نو هغه به په جهاد کښې نهٔ وژلے کیږی۔ او د چا چه مرګ لیکلے شوے وی هغه که جهاد ته لاړ هم نهٔ شی نو بیا به هم نهٔ بچ کیږی۔ او هم دغه مراد دے د الله تعالیٰ د فرمان چه وَاللّٰهُ يُحْيِ وَيُمِيْتُ او چه کوم سړے په جهاد کښې شهید شی۔ هغه که جهاد ته نهٔ وے تلے بیا به هم ضرور مړ کیدهٔ۔ نو چه هر کله مرګ یو لازمی څیز دے۔ او په جهاد کښې قتل کیدل د ډیر لوئے ثواب سبب دے۔ نو بیا خو بے فائدے مړ کیدو نه شهید کیدل د انسان د پاره د ټولو نه زیات غوره دی۔ او هم دغه مطلب دے د الله تعالیٰ د دے قول چه وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الاية. (التفسير الكبير)

دعاء

اللهم ارزقنا شهادة فی سبيلک.

اے ځمونږ پروردګاره ؛ مونږ ته د خپلے لارے شهادت رانصیب کړے۔ (آمین یا الله یا شهید)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِالَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾

او که تاسو مړهٔ شوئ یا ووژلے شوئ نو ضرور به خاص الله تعالیٰ ته جمع کولے شئ۔

نچوړ

دځان بچ کولو فکر پریږدئ -بلکه د دے خبرے فکر ووکړئ -چه تاسو به ټول خا مخا یوه ورځ د الله تعالیٰ مخکښے وودریږئ۔(بیا چه چا دلته قربانی ورکړے وی۔ هغهٔ ته به هلته بنهٔ ډیر څهٔ ورکړے شی۔)

عبارتونه او حوالے

❶ امام قرطبی رحمه الله لیکی:

وعظ وعظهم الله بهذا القول ای لا تفروا من القتال ومما امركم به بل فروا من عقابه واليم عذابه فان مردكم اليه لا يملك لكم احد ضرا ولا نفعاً غيره والله سبحانه وتعالیٰ اعلم (قرطبی)

لَاِالَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ الله تعالیٰ ددے فرمان په ذریعه نصیحت فرمائیلے دے۔ چه د جهاد نه او د الله تعالیٰ د احکامو نه مهٔ تښتئ -بلکه د الله تعالیٰ د سزا نه او د هغهٔ د دردناک عذاب نه د بچ کیدو دپاره ووتښتئ - ولے چه تاسو ټول به هم هغهٔ ته واپس کیږئ-هلته به د هغهٔ نه سواستاسو د نفعے او د نقصان هیڅ اختیار هیڅ چا سره نهٔ وی۔ (والله سبحانه وتعالیٰ اعلم)

❷ امام رازی رحمه الله لیکی:

كانه قيل ان تركتم الجهاد واحترزتم عن القتل والموت بقيتم اياماً قليلة فی الدنيا مع تلك اللذات الخسيسة ثم تتركونها لامحالة.فتكون لذاتها لغيركم وتبعاتها عليكم اما لو اعرضتم عن لذات الدنيا وطيباتها وبذلتم النفس والمال للمولیٰ يكون حشركم الی الله ووقوفكم علی عتبة رحمة الله وتلذذكم بذكر الله ،فشتان مابين هاتين الدرجتين والمنزلين. (التفسير الكبير)

یعنی په دې آیت کښې لکه چه داسې وویلې شو چه که تاسو جهاد پرېخودۀ- او (په خپل ګمان کښې مو) ځان د شهادت او د مرګ نه بچ کړلو- نو ستاسو به په دنیا کښې ډېرې لږې ورځې (چه ستاسو د ژوند باقي ورځې به وي) په بې کاره خوندونو کښې تیرې شي.او بیا به یقینا ستاسو نه دا دنیا پاتې شي. ستاسو خوندونه به د نورو په قبضه کښې راشي.او د دې بوجھ به ستاسو په سر باندې پاتې شي.خو که تاسو د دنیا د خوندونو او د نعمتونو نه مخ واړولو- او خپل ځان او مال مو د مولیٰ د خاطره قربان کړو.نو تاسو ته به د الله تعالیٰ په مخکښې حاضري نصیب شي.او د هغۀ د رحمت په دروازه باندې به تاسو ته ځائې ملاؤ شي.او تاسو به د الله د ذکر نه خوند واخلئ.په دې دواړو درجو او منزلونو کښې څومره لوئې فرق دې؟

❸ فرض کړه چه تاسو په سفر باندې جهاد ته لا نۀ ړئ- او في الحال د مرګ نه بچ شوئ. خو (دا خبره) ضروري ده چه چرې خو به مرئ یا به وژلې کیږئ. بیا هر څنګه چه وي- د الله تعالیٰ مخې ته به وودریږئ. هغه وخت به پته ولګي. چه کوم خوش قسمته د الله په لاره کښې په نیک کارکولو کښې مړ شو یا ووژلې شو. هغۀ ته د الله تعالیٰ د مهربانو څومره حصه ملاؤ شوه. چه د هغې په مقابله کښې ستاسو د دنیا ګټلې شوې او جمع کړې شوې مال ودولت هیڅ هم نۀ دې. حاصل دا شو چه که هډو د منافقانو خبره وومنلې شي. چه که دوی د کوره نۀ وې وتلې نو بچ شوې به وو. بیا هم سراسر تاوان وو. ځکه چه دوی به د هغې مرګ نه محرومه شوې وو. چه په هغې باندې د دې ژوند په شان په لکهونو ژوندونه قربانول پکار دي. چه په حقیقت کښې مرګ نۀ دې. بلکه د همیشه د پاره ژوند دې.

چه الله پسې فنا شوې زندګي دې وومونده له
همیشه چه ژوندون غواړې شهادت نۀ تښتې څۀ له؟

(تفسیر عثماني)

❹ وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ که چرې تاسو په سفر کښې یا په جهاد کښې مړۀ شوئ.یا ووژلې شوئ.نو تاسو به نۀ ختمیږئ.بلکه په یو بل جسم کښې به تاسو ته همیشه د پاره زندګي ملاؤ شي.او الله تعالیٰ سره به جمع شئ.دا حقیقي نجات دې.ولې ؟ځکه چه دغه د ټولو نوراني روحونو د پنا هئ ځائې دې.ټولې ذرې نمر طرفته

غونډېږي۔ خو چه مينځ کښ څهٔ رکاوټ راشي۔ نو مطلوب حقيقي طرفته د نهٔ رسيدو په وجه چه کومه بے آرامي پيدا کيږي۔ هم دغه لوئے عذاب دے۔ په دے جمله کښ ئے مړهٔ کيدل د وژلے کيدو نه مخکښ ذکر کړل د پاره د دے چه ثابته شي چه د الله تعالیٰ په رضا حاصلولو کښ مړکيدل هم د کاميابئ سبب دے۔ د انسان درے حالتونه دي۔ اول حالت د غفلت او ګناه دے۔ دے دپاره خو شهادت "مغفرت" دے۔ دويم حالت د اصلاح او طاعت دے۔ په داسے حالت کښ شهادت "رحمت" دے۔ يعني د درجاتو د ترقئ سبب دے۔ دريم حالت د خدائے پاک (د ملاقات) د شوق دے۔ په داسے حالت کښ شهادت د تقرب سبب دے۔ چه د هغے ذکر په "اِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ" سره ووشو۔ (تفسير حقاني)

فائده

تفسير حقاني والا چه کومه نکته بيان کړے ده- د هغے خلاصه داده چه په دے دواؤ آيتونو کښ د شهيد دپاره په ترتيب سره

د درے انعاماتو ذکر دے ❶ د الله تعالیٰ د طرف نه مغفرت ❷ رحمت

❸ د الله تعالیٰ په دربار کښ حاضري۔

او د دے درے واړو انعاماتو تعلق د انسان د درے حالتونو سره دے۔ که چرے انسان ګناه ګار وي نو په شهادت سره هغهٔ ته د الله تعالیٰ بخښنه نصيب شي۔ که چرے اطاعت ګذار انسان وي نو په شهادت سره هغهٔ ته نور هم ووچت مقام ملاؤ شي چه رحمت ورته ويلے کيږي۔ روح المعاني والا فرمائي چه رحمت د جنت يو نوم هم دے۔ او که چرے د انسان د الله تعالیٰ سره د ملاقات شوق او جذبه وي نو دهٔ ته د الله تعالیٰ خصوصي ملاقات نصيب کيږي۔ حضرت امام رازي رحمه الله دا نکته په بل طريقے سره ډير په تفصيل سره بيان فرمائيلے ده۔ د هغوي د کلام خلاصه لاندے ذکر ده۔

الله تعالیٰ په وړومبي آيت سره په مجاهدينو کښ د خپل مغفرت مينه پيدا کړه۔ او په دے آيت کښ ئے د دوي درجه غټه کړه۔ او دوي ئے خپل ځان ته مائيل کړل۔ نو څهٔ خلق د الله تعالیٰ عبادت کوي د هغهٔ د عذاب نه د بچ کيدو د پاره۔ او څهٔ خلق عبادت کوي د الله تعالیٰ د رحمت او د هغهٔ د اجر ګټلو د پاره۔ او مقرب خلق عبادت کوي صرف د هغے پاک ذات د پاره۔ په دے وجه په لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ کښ اشاره هغے طرف ته ده۔ چه د عذاب نه د بچ کيدو د پاره بندګي (جهاد) کوي۔ په رَحْمَةٌ کښ


هغے خلقو طرف ته اشاره ده۔ چه د اجر د پاره عبادت کوی۔ په لَاِلَى اللّٰهِ تُحۡشَرُوۡنَ کښ هغے خلقو طرف ته اشاره ده۔ چه صرف د الله تعالیٰ د ذات د پاره بندگی کوی۔او هم دا د بندگئ د ټولو نه ووچت – اعلیٰ او آخری مقام دے۔امام رازی رحمه الله دا بحث په دے ایمان زیاتوونکی کلماتو باندے ختم کړے دے۔فرمائی۔

فبین ان هولاء الذین بذلوا انفسهم وابدانهم فی طاعته ومجاهدة عدوه یکون حشرهم الیه. واستئنا سهم بکرمه، وتمتعهم بشروق نورربوبیته. (التفسیر الکبیر)

نو په دے آیت کښ الله تعالیٰ واضحه ووفرمائیل۔ چه هغه خلق چه د الله تعالیٰ په حکم منلو کښ او د هغهٔ د دشمنانو سره په جهاد کولو کښ خپل ځانونه او مالونه قربانوی۔ هغوی ته به الله تعالیٰ سره د ملاقات عزت نصیب شی۔او د هغهٔ په کرم سره به بلدتیا او خوشحالی حاصله کړی۔او د هغهٔ د ربوبیت د نور د رنړا مزے به اخلی۔

۵ حالانکه چه کوم سړے د یو دینی کار کولو د پاره ووتلو۔ نو د دهٔ مړ کیدل به د ټولو ګناهونو د پاره پټئ (کفاره) وی۔او که د دے کار پوره کیدو نه مخکښ مړ شو۔نو بیا به هم د دهٔ ښکلے بدله او تنخواه نهٔ بندیږی۔ که بالفرض تاسو سفر نهٔ کوئ او جهاد ته نهٔ ځئ۔نو هم به خوا مخوا مړهٔ کیږئ۔او حساب کتاب به ورکوئ۔ چه هر کله دا خبرے ضروری دی نو بیا انسان په ښهٔ کار کښ ولے نهٔ مری؟۔ (حاشیه د لاهوری رحمه الله)

په دے عبارت کښ د مغفرت او رحمت –د مرګ او قتل جدا جدا مفهوماتو ته ډیره لطیفه اشاره شوے ده۔ د علم طالبان دے ور باندے غور ووکړی۔



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۵۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ

نو د الله د رحمت په سبب باندے ته نرم شوے ئے دوی ته – او که ته بدخویه او په زړهٔ باندے سخت وے –

الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ

نو دوی به تار په تار شوے وو ستا له خوا نه – نو ته معافی ووکړه دوی ته – او د دوی د پاره بخښنه

وَشَاوِرْهُمْ فِي الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۗ

اوغواړه – او دوی سره په کار کښې مشوره کوه – نو هر کله چه ستا اراده کلکه شی۔ نو په الله بهروسه کوه

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿۱۵۹﴾

– یقینا الله تعالیٰ محبت کوی د توکل کولو والا سره –

نچوړ

د احد په غزا کښې اګر چه د حضور اقدس ﷺ د بعضے مخلصو ملګرو نه غلطی شوے وه۔ که په دے غلطئ باندے حضور اقدس ﷺ هغوی سره سختی کولے۔ نو هغوی ته حق وو۔ خو په پیغمبر علیه السلام باندے دا د الله تعالیٰ فضل دے۔ چه هغوی د خپل امت د پاره نرم مزاجه دی۔ (دے نرم مزاجئ ته ئے د الله تعالیٰ فضل او رحمت څکه ووفرمائیلو۔ چه خوش اخلاقی عبادت دے او د عبادت توفیق د الله تعالیٰ په فضل سره ملاویږی) که چرے تاسو سخت مزاجه او سخت دله وئ۔ نو دا ملګری به ستاسود خوا نه خوارهٔ وارهٔ شوے وو۔ (بیا به دے ملګرو ته دا فیض او برکتونه څنګه ملاویدل) نو ستا په حکم کښې چه د دوی نه څهٔ کمزوری شوے ده۔ هغه ته (د زړهٔ نه) معاف کړه۔ (او چه څهٔ کمزوری د الله په حکم کښې د دوی نه شوے ده) د هغے په باره کښې د دوی د پاره استغفار ووکړه۔ ستا د دوی د پاره استغفار کول د دوی سره د زیات شفقت علامه به وی۔ چه دے سره به دوی ته نوره هم زیاته خوشحالی نصیب کیږی۔ او ته (هم هغه شان) د دوی سره په خاص خاص خبرو کښې (مثلا جهاد – جنګ وغیره په معاملاتو کښې) مشوره کوه۔ (د پاره د دے چه په امت کښې د مشورے سنت قائم شی او د مسلمانانو زړه پخه او مضبوطه شی) بیا (د

مشورے اغشتلو نه پس) چه کله ستا (یو طرف) ته رائے پخه شی۔ (که هغه د دوی د مشورے مطابق وی او که نهٔ وی) نو په الله تعالیٰ توکل کوه۔ (او هغه کار کوه) بے شکه الله تعالیٰ محبت کوی هغے خلقو سره چه په هغهٔ توکل کوی۔
(مستفاد من بیان القرآن وجلالین وغیرهما)

خلاصه د سورهٔ آل عمران د دے آیت ۱۵۹ نه واخله تر آیت ۱۶۴ پورے د مسلمانانو د امیر او قائد صفات بیان شوے دی۔ چه په امیر کښ کوم کوم صفات کیدل پکار دی۔ او دے خبرے طرف ته هم اشاره معلومیږی۔ چه کله د شکست په وجه د جماعت راغونده تس نس شوے وی۔ نو امیر له د جماعت د راغونډولو او یو ځائے کولو د پاره کوم کوم کارونه کول پکار دی۔ دغه رنگ د شکست نه پس چه د امیر او د مامورینو په تعلق کښ کوم لرے والے او پیکه والے راځی۔ د هغے د لرے کولو طریقه ئے هم ووخودله۔ چه امیر دے خپل زړهٔ صفا کړی۔ او د نرمیٔ معامله دے اوکړی۔ د شوری نظام وغیره دے هم جوړ کړی۔ او مامورین دے د امیر خلاف د منافقانو دخورولو شوؤ وسوسونهٔ ښکار کیږی۔ بلکه د مخکښ نه دے زیات د هغهٔ قدر په زړهٔ کښ پیدا کړی۔ چه اطاعت ورته آسان شی۔ او جماعت مضبوط شی۔ (والله تعالیٰ اعلم بالصواب)

اقوال او حوالے

❶ مسلمانانِ ئے چه په خپله کمزوریٔ خبر کړل۔ او د معافیٔ اعلان ئے ورته ووکړو۔ نو د هغے نه پس دا نصیحت ئے ورته کړے وو۔ چه بیا د پاره د لستونړی د دے مارانو (منافقانو) په خبرو باندے دهوکه وونهٔ خوریٔ۔ په دے آیت کښ د هغوی د غلطیٔ د معاف کولو پوره والے شوے دے۔ چونکه د احد په جنګ کښ د مسلمانانو نه سخته خوفناکه غلطی او زبردست کمے شوے وو۔ شاید چه د حضور اقدس ﷺ زړهٔ به خفه شوے وو۔ او دا به ئے غوښتل چه د بیا د پاره د دوی سره مشوره او نهٔ شی۔ په دے وجه په ډیر ښکلے انداز کښ الله تعالیٰ د دوی سفارش ووکړو۔ اول ئے د خپل طرف نه د معافیٔ اعلان ووکړو۔ ولے چه الله تعالیٰ ته معلومه وه۔ چه د حضور اقدس ﷺ غم او غصه خالص د خپل پروردګار د پاره وی۔ بیائے ووفرمائیل فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ یعنی د الله تعالی څومره لوے رحمت دے۔ په تاسو باندے او په دوی باندے چه تاسو ئے دومره قدرے خوش اخلاقه او نرم خویه جوړ کړے یئ۔ که بل څوک وے نو خدائے خبر چه په دے سخته معامله کښ به ئے کومه رویه اختیارولهٔ۔ دا ټول هر څهٔ د الله تعالیٰ مهربانی ده۔ چه ستا

غوندے شفیق نرم دل پیغمبرﷺ دوی تـه ملاؤشوے دے۔ خدائے مۀ کړه که ستا زړۀ سخت وے او مزاج کښې دے سختي وے نو دا قوم چرته ستا نه ګیرچاپیره جمع کیدۀ۔ که د دوی نه غلطي کیدله او تا سخت رانیول – نو دوی به د شرم او د ویرے د وجے نه نزدے نۀ شو راتلے۔ او په دے وجه به دوی د لوئے خیر او د نیک بختئ نه محرومه شوے وو۔ او د اسلامي ډلے دا غوندله به تس نس شوے وه۔ خو الله تعالیٰ تاسو ته نرم زړۀ او نرم خوئي درکړو۔ تاسو د اصلاح سره سره د دوی په کمزورو باندے سترګے پټوئ۔ نو اوس دا غلطي هم چه څومره ستا د حقوقو سره تعلق ساتي نو معاف ئے کړه۔ او الله تعالیٰ خو خپل حق معاف کړے دے۔ خو بیا هم د دوی د زیات زړۀ ساتلو د پاره او د خوشحالولو د پاره څما نه هم ورله معافي ووغواړه۔ دپاره د دے چه دا ماتو زړونو والا ووینی چه تۀ د دوی نه خوشحاله ئے – او ستا تندے رونړ او صفا دے – نو د دوی زړۀ به مطمئن شي – او سینے به ئے ارتے شي – او صرف معاف کول هم نه بلکه د مخکښې په شان په معاملاتو کښې د دوی نه مشوره هم اخله – د مشورے نه پس چه کومه خبره پخه شي۔ او پخه اراده ئے ووکړے۔ نو بیا په خدائے پاک باندے توکل کوه۔ او بغیر څۀ خطره هغه کار کوه۔ الله تعالیٰ ته متوکلین خوښ دي او د هغوی کارونه سموي۔ (تفسیر عثماني)

خبردارے

د حضرت علي کرم الله وجهه نه روایت دے۔ چه د حضور اقدس ﷺ نه تپوس ووشو۔ چه "عزم" څۀ شے دے۔ نو وے فرمائیل چه مشاورة اهل الرائے ثم اتباعهم (ابن کثیر)

په مجمع الزوائد کښې د حضرت علي کرم الله وجهه حدیث دے۔ یا رسول اللهﷺ! چه کومه خبره مونږ په کتاب او سنت کښې وونۀ وینو۔ نو د هغے بیا څۀ طریقه ووکړو۔ نو وے فرمائیل چه عابدین فقهاء یعني هوښیار و خدا پرستو سره مشوره کوه۔ ولا تمضو افیه رأی خاصه او د یوکس دواړ په رائے باندے مۀ ځئ۔ (تفسیر عثماني)

د نرمئ حدود

❷ خو د نرمئ او مهربانئ هم په شریعت کښې حدود مقرر دي۔ کوم ځائے چه د دین سپکاوے کیږي۔ یا د دین د احکامو د اجراء ضرورت وي۔ نو هلته کښې سزا او سختي ضروري وي۔

اللین والرفق انما یجوز اذالم یفض الی اهمال حق من حقوق الله فاما اذا ادی الی ذلک

لم یجز (کبیر) (تفسیر ماجدی)

❸ د اسلام سیاسی نظام ته چه د شخصی یا جمهوری دواړو نه جدا کوم د شوری نظام ورکړے شوے دے۔ د هغے یو اهم بنیاد هم دا قرآنی آیت دے۔ د دے مشاورت په باره کښې د فقهائے کرامو نه دوه قولونه نقل دی۔ یو دا چه رسول الله ﷺ باندے مشوره اغیشتل واجب وو۔ دویم قول دا دے چه صرف مستحب وو۔ وقد اختلف الفقهاء هل کان واجباً علیه او من باب الندب تطییبا لقلو بهم علی قولین (ابن کثیر)

ظاهر الامر للوجوب فقوله شاورهم یقتضی الوجوب وحمل الشافعی رحمه الله ذلک علی الندب (ابن کثیر)

بهر صورت د حضور پاک ﷺ عادت مبارک زیات تر د مشورے اغیشتلو وو۔ (یعنی هغوی به اکثر مشوره کوله) عن عروة عن عائشة رضی الله تعالیٰ عنها قالت ما رأیت رجلاً اکثر استشارةً للرجال من رسول الله صلی الله علیه وسلم (معالم) حضرت عائشه رضی الله تعالیٰ عنها فرمائی۔ چه ما د رسول الله ﷺ نه زیات مشورے کولو والا څوک نهٔ دی لیدلے۔ (تفسیر ماجدی)

فیصله د رائے په زیاتوالی باپه

❹ د دے نه معلومه شوه چه هغه انتظامی کارونه چه رائے او مشورے سره تعلق لری په هغے کښې د کثرتِ رائے ضابطه بیخی بے اصله ده- کنی بیا به دلته په عزم کښې د دے خبرے قید لګیدلے وو- چه په دے شرط چه ستا عزم د کثرتِ رائے خلاف نهٔ وی۔ (بیان القرآن)

دامیر نرم مزاجی خوښ شے دے

❺ وقال علیه الصلوة والسلام لاحلم احب الی الله تعالیٰ من حلم امام ورفقه ولا جهل ابغض الی الله من جهل امام وخرقه۔ حضور اکرم ﷺ ارشاد فرمائیلے دے – چه د امیر تحمل او نرمی الله تعالیٰ ته د ټولو نه زیاته خوښه ده۔ او دامیر جهالت اوضد الله تعالیٰ ته ډیر نا خوښه دے۔ (تفسیر کبیر)

د خوش اخلاقئ وجه

❻ د ښتـه اخلاقو سبب دا وی۔ چه کله په روح باندے قدسی انوارات جاری شی۔ نو د هغے روح نظریاتی او عملی قوتونه (یعنی د عقیدے او د عمل قوتونه) دواړه مکمل شی۔ بیا چه کومه صدمه دهٔ ته رسی– نو هغه د خدائے تعالیٰ د طرف نه ګنړی۔ نو هغهٔ ته نهٔ د ځان د پاره چا ته غصه ورځی۔ او نهٔ د (خپل ځان د پاره) بدله

اخلی۔یا چه کوم راحت بل چا ته رسی نو دۀ کښې حسد نۀ راځی۔علی هذ القیاس
څو مره خبرے چه د بد اخلاقئ د کچه خیال سره تعلق لری۔تولے لرے شی۔او چه کله دۀ
ته د روحانیت مشاهده ووشی۔نو جسمانی او د دے دنیا خوندونه د دۀ په نظر کښې بے
قدره شی۔نۀ ناجائزه شهوت باقی پاتے شی۔او نۀ د مال او نۀ د مرتبے محبت چه د تولو
خرابو بنیاد دے۔او هم په دے وجه د بزرگانو اخلاق خشته او ښکلے وی۔د حضور اقدس
ﷺ اخلاق دومره ښکلے وو۔چه په قرآن پاک کښې په ګڼرو ځایونو کښې الله تعالیٰ د
هغوی مدحه کړے ده۔انک لعلی خلق عظیم (تفسیر حقانی)

بعضے ځایونو کښې د سختئ حکم

❼ انه تعالیٰ منعه من الغلظة فی هذه الایة وامره بالغلظة فی قوله وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ (التوبه ۷۳)
فههنا نهاه عن الغلظة علی المومنین وهناک امره بالغلظة مع الکافرین الخ. په دے آیت کښې
الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ د سختی کولو نه منعه کړے دے۔او بل ځائے ئے امر کړے
دے۔ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ او تۀ په دوی باندے سختی ووکړه۔نو په اصل کښې دلته مسلمانانو
سره د سختئ کولو نه بند کړے شو۔او هلته کښې کافرانو سره د سختئ کولو حکم
ورکړے شو۔ د الله تعالیٰ د دے فرمان په شان دا فرمان هم دے أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى
الْكَافِرِينَ (المائده ۵۴) چه د الله تعالی محبوب خلق په مومنانو باندے نرم وی۔او
د کافرانو د پاره به سخت وی۔ (المائده)
او د الله تعالیٰ فرمان دے۔ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ (الفتح ۲۹)
(صحابه کرام رضی الله تعالیٰ عنهم په کافرانو باندے سخت او په خپل مینځ
کښې رحم دله دی) تحقیقی خبره دا ده چه زیاتے او کمے دواړه خراب دی۔او خوبی په
اعتدال کښې ده۔په دے وجه په بعضے ځائے کښې د سختئ حکم او په بعضے ځائے
کښې د سختئ نه منعه شوے ده۔چه د زیاتی او کمی نه لرے پاتے شی۔او په هغه
اعتدال باندے پاتے شی کوم ته چه صراط مستقیم وائی۔(تفسیر کبیر)

د امت د پاره د مشورے فائده

❽ قال علیه السلام ! "ماتشاور قوم قط الا هدوا لارشد امرهم" حضور ﷺ ارشاد
فرمائیلے دے۔چه کوم قوم مشوره کوی هغوی ته د روغے خبرے رهنمائی
ورکیږی۔امام قرطبی رحمه الله دا د حسن بصری رحمه الله قول ګڼلے دے۔
(قرطبی) قال الحسن وسفیان بن عیینة انما امر بذلک لیقتدی به غیره فی المشاورة

ویصیر سنة فی امته. حسن بصری رحمه الله او سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی۔ چه رسول الله ﷺ ته د مشورے حکم په دے وجه ورکړے شو۔ چه نور امت د دوی اقتدا ووکړی۔او مشوره د دے امت طریقه جوړه شی۔(تفسیر کبیر)

د مشورے حکم دجهاد سره خاص وو یا نۀ وو

(۹) حضور پاک ﷺ ته د خپلو ملګرو سره د مشورے حکم شوے وو۔نو دامشوره د جهاد په کارونو کښں وه یا په هغه تولو کارونو کښں وه چه په کوم کښں به وحی نۀ راتله۔ امام رازی رحمه الله دواړه قسمه قولونه د دلائلو سره راجمع کړے دی۔(تفسیر کبیر ووګورئ)

اسباب د توکل خلاف نۀ دی

(۱۰) دلت الاية علی انه لیس التوکل ان یهمل الانسان نفسه کما یقوله بعض الجهال والالکان الامر بالمشاورة منافیاً بالتوکل بل التوکل هو ان یراعی الانسان الاسباب الظاهرة ولکن لا یعول بقلبه علیها بل یعول علی عصمة الحق (التفسیر الکبیر)

یعنی د اسبابو اختیارول که د توکل خلاف وے۔نو د مشورے حکم به نۀ ورکیدۀ۔ځکه چه د توکل معنی دا ده چه ظاهری اسباب خو دے اختیار کړے شی۔خو اعتماد دے په دے نۀ وی۔په الله تعالیٰ دے وی۔

د اعتماد ځیز دالله تعالیٰ ذات دے نۀ د انسان مشورے

(۱۱) قال قتادة امر الله تعالی نبیه علیه السلام اذا عزم علی امر ان یمضی فیه ویتوکل علی الله لا علی مشاورتهم. (قرطبی)

قتاده رحمه الله فرمائی۔چه الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته حکم ووکړو۔چه کله تۀ د یو کار عزم ووکړے نو هغه کوه۔او په الله تعالیٰ باندے توکل کوه– نۀ چه د دوی په مشوره باندے۔(یعنی مشوره ښۀ شے دے خو هغه هم د سبب په درجه کښں ده۔په دے وجه اصل بهروسه دے د الله تعالیٰ په ذات باندے وی۔

(۱۲) د مشورے په باره کښں یو څو اقوال

☆ قال ابن عطية: والشوریٰ من قواعد الشریعة وعزائم الاحکام من لا یستشیر اهل العلم والدین فعزله واجب ابن عطیه رحمه الله فرمائی–چه مشوره د شریعت د بنیادونونه یو بنیاد او دحکمونونه یو اهم حکم دے۔ نو چه کوم حاکم د اهل دین سره مشوره نۀ

کوی۔ د هغۀ معزوله کول واجب دی۔

☆ وکان یقال ماندم من استشار. یعنی دا به وئیلے کیدل چه څوک مشوره کوی هغه چرے نۀ پښیمانه کیږی۔

☆ وکان یقال من أعجب برایه ضل. او وئیلے کیدل به چه کوم کس په خپله رائے غاوره وی نو هغه گمراه شی۔

☆ وقال بعضهم شاور من جرب الامور ،فانه یعطیک من رأیه ماوقع علیه غالیاً وانت تأخذه مجانا. د بعضے بزرگانو قول دے چه د تجربه کارو خلقو سره مشوره کوئ۔ ولے چه هغه به تاسو له په مفتو کښې دا سے رائے درکړی۔ چه هغه به په خپله هغے ته ډیر قیمت خرچ کولو نه پس ورِ رسیدلے وی۔

☆ قال البخاری رحمه الله وکانت الائمةبعد النبی صلی الله علیه وسلم یستشیرون الامناء من اهل العلم فی الامور المباحة لیا خذوابا سهلها.

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د حضور اقدس ﷺ نه پس خلیفه گانو به د امانت دارو اهل علمو سره په مباحو کارونو کښې مشورے کولے۔ د پاره د دے چه دوی ته د عمل د پاره آسانه لار ملاؤ شی۔

☆ وقال سفیا ن الثوری :لیکن اهل مشور تک اهل التقویٰ والامانة ومن یخشی الله تعالیٰ.

سفیان ثوری رحمه الله فرمائی- چه ستاسو د مشورے ملگری دے تقویٰ والا او امانت دار وی۔ او هغه کس دے وی چه د الله تعالیٰ نه ویره کوی۔ دا ټول اقوال امام قرطبی رحمه الله په خپل تفسیر کښې نقل کړے دی -

د امیر صفات

په دے آیت کښې د امیر دا لاندے ذکر شوے صفات معلوم شو -

❶ چه نرم زړۀ او ښۀ اخلاقو والا وی۔

❷ چه خپل ملگری د شرعے په حدود کښې دننه معاف کولو والا وی۔

❸ د خپل جماعت او ملگرو د پاره استغفار کوی۔(اشارة دا هم معلومه شوه۔ چه د خپل ځان د پاره به هم د ډیر زیات استغفار او د توبے کولو اموخته وی۔)

❹ د جماعت نظام په مشورے سره چلوی۔

❺ چه د پخے او کلکے ارادے خاوند وی۔

❻ توکل ئے صرف په الله تعالیٰ باندے وی۔ (والله اعلم بالصواب)

☆☆☆

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا

که چرے مدد ووکړی ستاسو الله تعالی نو نشته دے هیڅ څوک غالب په تاسو اوکه چرے هغه تاسو پرېږدي

الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ۗ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٦٠﴾

-نو بیا څوک دی چه ستاسو مدد به ووکړی د هغه نه پس - او مؤمنان دے خاص په الله باندے توکل ووکړی۔

نچوړ

فتحه او شکست د الله تعالیٰ په لاس کښ دے۔ که هغه نصرت ووکړی۔ نو فتحه هیڅ څوک هم نهٔ شی بندولے۔ خو که هغه خپل نصرت پورته کړی۔ نو بیا د بل چا مدد هیڅ پکار نهٔ راځی۔ نو د ایمان والاؤ کار دے چه د الله تعالیٰ سره جوړ ساتی۔ او هم په هغهٔ باندے کامله بهروسه ووساتی۔

اقوال او حوالے

① د اطاعت ترغیب

المقصود من الآية الترغيب فی الطاعة والتحذير عن المعصية (تفسير كبير)

د آیت مقصود د اطاعت ترغیب او د الله تعالیٰ د نافرمانیٔ نه بندول دی۔ ولے چه د الله تعالیٰ نصرت هم په دے سره نصیب کیږی۔

② دغم ازاله

د بعضے مفسرینو لکه د امام رازی رحمه الله په نیز باندے د آیت مقصد د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم د زړونو نه دغه غم لرے کول دی۔ چه کوم د شکست په وجه د هغوی په زړونو باندے راخور شوے وو۔ په دے وجه صاحب د بیان القرآن لیکی۔ چه د غم د لرے کولو حاصل دا شو۔ چه غالب کول او مغلوب کول د الله تعالیٰ په قبضه کښ دی۔ مثلا په بدر کښ ئے په خپل رحمت سره غالب کړیٔ۔ او په احد کښ ئے په خپل حکمت سره مغلوب کړیٔ۔ نو چه هر کله دا خبره پوره په پوره ستاسو په قدرت کښ نهٔ ده۔ نو بیا په زړهٔ کښ دا خبره ډیره مهٔ راولیٔ۔ او چه څهٔ ووشو

هغه ووشو۔ په دے کښې چه آفت د کوم معصیت په وجه راغے۔ د هغے نه د بیا د پاره توبه ووکړئ۔ په الله تعالیٰ نظر ساتئ۔ یعنی د هغهٔ نه توفیق غواړئ چه د ګناه نه مو بچ ووساتی۔ (بیان القرآن)

۳ جهاد جاری ووساتئ

د مسلمانانو فرض دی چه په جهاد فی سبیل الله کښې د رکاوټونو پرواه نهٔ ساتی۔ ضرور به هم دوی ته کامیابی وی۔ (تفسیر الفرقان)

فائده

دے آیت نه د امیر دا صفات معلومیږی۔ چه دے به د توکل په هغه ووچت مقام باندے وی۔ چه د فتحے او د شکست په هرحال کښې به دے د الله تعالیٰ سره جړاؤ وی۔ او جماعت به هم د الله تعالیٰ سره جړاؤ ساتی۔ دغه رنګ دے به خپل ځان او خپل جماعت د الله تعالیٰ په طاعت لګیا ساتی۔

او د ګناه نه به ئے بچ کوی۔ د پاره د دے چه د الله تعالیٰ نصرت نازل شی۔ او دے به د مخلوق او د سامان په ځائے د الله تعالیٰ په بهروسه باندے جهاد جاری ساتلو والا وی۔ (والله تعالیٰ اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّغُلَّ ؕ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَاْتِ بِمَا غَلَّ

او مناسب نۀ دی یو پیغمبر له چه خیانت ووکړی۔ او څوک چه خیانت ووکړی نو راوړی به هغه

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ

خیانت کړے څیز د قیامت په ورځ بانده۔ بیا به پوره ورکړے شي هر یو نفس ته هغه څۀ چه دۀ کړے

لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۱﴾

وی۔ او په دوی به ظلم نۀ کیږی۔

نچوړ

د نبی کریم ﷺ شان ډیر ووچت دے۔ هغوی د امانت د تولو نه اوچتے درجے ته رسیدلے دی۔ د خیانت هیڅ قسمه کار نبی کریم ﷺ ته نزدے هم نۀ شي راتلے۔ ولے چه خیانت ډیره لویه ګناه ده۔ او چه کوم سړے خیانت ووکړی هغه به د قیامت په ورځ په داسے حال کښې راځی۔ چه هغه څیز به دۀ سره وی۔ او د هغے وبال به په دۀ باندے بوجھ وی۔ او بیا به دغے خیانت ګرو له د دوی د جرم پوره پوره سزا ورکړے شی۔ او په هیڅ چا به ظلم نۀ کیږی۔

فائده

❶ د شکست نه پس جماعت ته د ځان سمبالولو او د ووچتیدو نسخه بنودلے کیږی۔ د دغے نسخے یو ضروری جز دا دے۔ چه د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم د جماعت تول افراد دے د حضور پاک ﷺ په باره کښې هیڅ قسمه بدګمانی نۀ لری۔ او نۀ دے د منافقینو په خبرو کښې راځی۔ چه د دوی په زړونو کښې د حضور پاک ﷺ ادب او احترام کم نۀ شی۔ د شکست نه پس عمومی طور دا فتنه هم پیدا کیږی۔ چه د امام خلاف آوازونه شروع شی۔ که چرے د جماعت کسان د دے نه اثر واخلی۔ نو د جماعت قوت او دبدبه ختمه شی۔ او رعب ئے لاړ شی۔

صاحب د تفسیر حقانی لیکی: په دے کښې دے خبرے طرف ته هم اشاره ده۔ چه که حضور اقدس ﷺ د غنیمتونو په تقسیمولو کښې د څۀ مصلحت خیال ساتی۔ د قوم

یا د رفاه عام د پاره کـه پـه هغـے کښې څۀ حصه په بیت المال کښې جمع کوی۔ یا په څۀ وجـه د غنیمت تقسیم (څۀ وخت) د پاره وروستو کوی۔ نو تاسو د منافقانو په وینا باندے خپـل نبی کـریمﷺ طرف تـه داسـے بدگمانی روا مۀ گنړئ۔ عبدالله بن ابی منافق به داسـے داسـے شبهـے د مسـلـمـانـانو په زړونو کښې اچولے۔ او دا لازمی خبره ده۔ چه کله د سـردار (یـعـنـی امام او امیـر) طـرف تـه د داسـے نـاجائزه بدگمانو منسوب کولو دروازه پـرانستـے شی۔ نو د هغـے انجام دا وی چه بغاوت او اختلافات پیدا شی۔ او د قوم او ملت دبدبه او بـرکت په ختمیدو شی۔ دا ئے (یعنی په دے آیت کښې ئے) مسلمانانو ته د خپلو مشرانو او سردارانو په باره کښې د ادب دخیال ساتلو تعلیم ورکړو۔ (تفسیر حقانی)

❷ حضـور پـاکﷺ تـه د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم سره د نرمۍ او د خـوش اخـلاقـۍ حـکـم ورکـړے شـو۔ اوس صـحـابـه کرام رضی الله تعالیٰ عنهم پـوئـیـولـے شی۔ چه د حـضـور اقدسﷺ د نرمۍ – خوش اخلاقۍ – او د تواضع دا مـطـلـب نـۀ دے۔ چـه سـتـاسـو پـه زړونـو کـښې د دوی ادب او احترام کم شی۔ او د منافقانو خبرے د عامو خلقو په ژبه راشی۔ هغه خو د الله تعالیٰ د رضا د پاره تاسو سره نرمی کوی۔ نو تـاسـو هـم د الـلـه تـعـالیٰ د رضا د پاره د هغوی لوړ مقام او شان ووپیژنئ۔ او د هغے مقام مطابق هغوی سره معامله کوئ۔

❸ د شکسـت نـه پس چه په جماعت کښې کوم اختلافات او کمزوری راځی۔ د هغـے د لـرے کولو د پاره د حضور اقدسﷺ د مبارکو فضائلو بیان شروع دے۔ دپاره د دے چه مـامـوریـن د خپل امیر سره په پوره محبت او عقیدت سره جړاؤ شی۔ او په دے طریقه جماعت مضبوط شی۔ (والله اعلم بالصواب)

دآیت مطلبونه

د دے آیت خو یا دا غـرض دے۔ چـه د مسـلـمـانـانو پوره د زړۀ تسلی ووشی۔ او دا وسـوسه په زړۀ کښې رانۀ ولی۔ چه شاید حضرت خومونږ په ظاهره معاف کړو۔ خو په زړۀ کښې به خفه وی۔ یا به په بله موقعه باندے دنبیﷺ خفگان ووکاږی۔ (یعنی د غلول مـعـنـی "پټول" او مطلب دا شو۔ چه نبی کریمﷺ په ژبه یو څۀ وائی او په زړۀ کښې بـل څۀ پټ ووساتی دا کیدے نۀ شی) دا کار د پیغمبرانو نۀ دے۔ چه په زړۀ کښې یو څۀ او پـه ښـکـاره بل څۀ۔ یا د مسلمانانو پوئیول دی۔ چه د حضرت عظمت او پاک دامنی او امـانـت داری پـوره په پوره په (زړۀ او دماغو) کښې کښینوی۔ او په (عمل کولو کښې

ئے ځان تـه) مخے تـه ساتی۔ چه د حضور پاکﷺ په باره کښې چرے هم عبث او بے کاره خیال په زړۀ او دماغـو کـښې رانـۀ ولی۔ مثلا دا گمان وونۀ کړی۔ چه هغوی به د غـنـیـمت د مال نـه څۀ حصه پټه ووساتی۔ (العیاذ باالله)کیدے شی چه دا ئے په دے خیال فـرمـائیـلے وی۔ چـه هـغـه غشـو ویشتـو والا چه د غنیمت د پاره ئے مورچه پریښـودے وه۔او راغـلے وو۔ نـو ولـے حـضـورپاکﷺ به هغوی له حصه نۀ ورکوله څۀ ؟یاګنی بعضے څیزونه به ئے پټ ساتل۔ ؟ اوبعضے روایاتو کښې دی۔ چه د بدر په جنګ کـښې یـو څیـز (توره یا څادر) د غنیمت نه ورک شوے وو۔ چا ووئیل چه کیدے شی چـه حـضـرتﷺ د خپـل ځان د پاره ایخودلے وی۔نو په دے باندے دا آیت نازل شـو۔بهر حال د مسلـمـانـانـو پـو هول دی چه که چرے حضور پاک ﷺ د خپلے نرم خـویـئ او خـوش اخـلاقـئ سره ستاسو غلطئ معاف کوی۔نو تاسو له د حضور پاک ﷺ د پـاک دامـنـئ او د لـوئے شان ډیر خیـال ساتـل پـکار دی۔ څۀ قسمه کمزورے او سپک خیال دمومنانو په زړۀ کښې راتلل نۀ دی پکار۔

یاداشت

د غـلـول اصـلـی مـعـنـی پـه غـنـیـمـت کښې د خیانت کولو راځی۔ خو کله صرف د خیانت پـه مـعـنـی باندے راځی۔بلکه بعضے وخت (د غلا نیت نه بغیر هسے) د یو څیز د پټ ساتـلـو پـه معنیٰ باندے راځی۔لکه چه ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه ووفرمائیل۔غلوا مصاحفکم۔ (تفسیر عثمانی)

انبیاء کرام معصوم دی

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ ۚ د نبی کار ځا نه دے چه دے خیانت اوکړی

والـمـعـنیٰ انه لایمکن ذلک منه لان الغلول معصیة والنبی صلی الله علیه وسلم معصوم من المعاصی (البحر المحیط)

مـطـلـب دا دے چه د نبیﷺ نه خو خیانت کیدل ممکن نۀ دی۔ولے چه خیانت گناه ده۔او نبیﷺ د تولو ګناهونو نه پاک دے۔

په غنیمت کښې خیانت کول غټه ګناه ده۔ قال العلماء والغلول کبیرة من الکبائر بدلیل هـذه الایة ومـاذکـرنـا ه مـن حـدیـث ابـی هریرة انه یحمله علی عنقه وقد قال فی مدعم والذی نفسی بیده الخ. عـلماء کرام فرمائی۔ چه په غنیمت کښې خیانت کول غټه ګناه ده۔د دے

قول دلیل خو یو دا آیت مبارک دے۔او د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه هغه روایت چه مونږ ذکر کړے دے۔ چه خیانت کولو والا به هغه څیز چه کوم دهٔ په خیانت سره اغیشتے وی۔د قیامت په ورځ به ئے راوړی۔او هغه څیز به د دهٔ په شټ باندے پروت وی۔اوحضور پاک ﷺ د مدعم (یو غلام چه په جهاد کښې مړ شوے وو) په باره کښې ووفرمائیل چه څما دے په هغه ذات باندے قسم وی چه د چا په قبضه کښې زما سا ده۔ چه د هغے څادر نه اور جوړ شوے دے۔او په دهٔ باندے بلیږی۔کوم چه دهٔ د خیبر په ورځ د تقسیم نه مخکښې ووچت کړے وو۔ چه کله دا خبره خلقو واوریدله۔نو یو سړے حضور پاک ﷺ ته حاضر شو۔او یو یا دوه تسمے ئے راوړے۔(چه دا ما د تقسیم نه مخکښې ووچتے کړے وے)نو حضور پاک ﷺ ووفرمائیل چه دا یوه تسمه یا دا دوه تسمے د اور دی۔دحضور پاک ﷺ په قسم سره دا بیانول (چه په غلام باندے اور بلیږی) او د هغهٔ د جنازے مونځ نهٔ ادا کول۔نو دا د دے خبرے دلیل دے۔چه په غنیمت کښې خیانت کول ډیره لویه گناه ده او دا په کبائرو کښې شمار ده۔ (القرطبی)

په اسلام کښې د نبی شان

مشرکانو غریبانانو ته خو دسره پته نهٔ لگیده۔ چه د نبوت مرتبه څومره لوئے منصب دے۔او پیغمبرانه اخلاق کومه معنی لری۔یهودیان او عیسایان لا څهٔ درجه کښې د پیغمبرانو د نوم او دکارنامو سره بلد وو۔خودے ظالمانو هم په مزه مزه د نبوت د مرتبے اخلاقی عظمت بالکل هیر کړے وو۔او نبی پاک ﷺ ئے کاهن غوندے صرف یو پیشن گویئ کولو والا انسان گنړلے وو۔ چه خلقو ته د راتلونکی وخت خبر او حال بیانوی۔آیت مبارک د دے تولو غلطو خیالونو اصلاح کوی۔(او د نبی عظمت شان– او پاکی بیانوی) (تفسیر ماجدی)

خیانت گر دقیامت په ورځ

وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ او چه څوک هم خیانت ووکړی۔نو قیامت کښې به هغه څیز راوړی۔کوم چه ئے خیانت کړے وی۔په دے تفسیر کښې علامه قرطبی رحمه الله لیکی۔

ای یأتی به حاملا له علی ظهره ورقبته معذبابحمله وثقله ومر عوباً بصوته وموبخا باظهارخیانته علی رؤوس الاشهاد (القرطبی)

یعنی هغه به هغه څیز په خپله شا او په شټ باندے ایخودلے راوړی۔د دے په بوجه

سره به دۀ ته عذاب ورکولے شي۔ د دغه څيز په آواز سره به د دۀ نه زړۀ ووځي۔ او د ټولو خلقو په مخکښې به د دۀ د خيانت اعلان کيږي۔ او دے به ذليل کولے شي۔ (العياذ بالله)

فائده


د امام رازی رحمه الله په نيز باندے په دے آيت کښې دوه قرأتونه دي۔ يَغُلَّ (چه نبي خيانت نۀ شي کولے) يُغَلَّ (چه نبي سره دے خيانت نۀ کيږي) د وړومبي قرأت مطابق د آيت په شان نزول کښې شپږ روايتونه دي۔ او د دويم قرأت مطابق په دے آيت کښې مسلمانان د خيانت نه منعه کړے شوے دي۔ او د دے شان نزول د يو سړي معمولي شان خيانت دے۔ چه د هوازن په غنيمت کښې ئے کړے وو۔ دا د امام رازی رحمه الله د تقرير خلاصه ده۔ د شان نزول د شپږو روايتونو او په غنيمت کښې د خيانت د وعيدونو تفصيل د پاره دے شوق مند حضرات تفسير کبير ووګوري۔

نکته

په تير شوے آيت کښې د احد د واقعے ذکر وو۔ چه په دے واقعه کښې د حضور پاک ﷺ د مسلمانانو تس نس شوے قوت څنګه راجمع کړو۔ اوس دا سوال پيدا کيدۀ۔ چه بيا د پاره به کوم قسم کسان د دے کار کولو والا وي۔ نو ووښودلے شوه چه کوم خلق د رسول الله ﷺ د دغه صفت خپل ځان نمونه جوړ کړي۔ هغوی به خيانت نۀ کوي۔ او څۀ څيز به د مسلمانانو نه پټ ځان د پاره نۀ خاص کوي۔ دا قسمه سړي به د حضور پاک ﷺ نائبان وي۔ (حاشيه د حضرت لاهوری رحمه الله)

فائده

دے آيت نه د امام او د امير دا لازمي صفت معلوم شو۔ چه هغه به امانت دار وي۔ په مال کښې به خيانت نۀ کوي۔ امانت دار سره دا خبره هم لازمه ده۔ چه هغه به د دنيا په محبت کښې راګير نۀ وي۔ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَأْوٰهُ

نو چه کوم کس د الله په رضا پسے گرځي نو ولے دے د هغه کس په شان دے څۀ ؟ چه هغه اخته دے د الله په غضب

جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶۲﴾

باندے او ځائے د دۀ جهنم دے۔ او دغه خراب ځائے دے د ورتلو۔

نچوړ

پیغمبران خوسراسر د الهي رضا تابع وی او صرف هغه کار کوی چه الله تعالیٰ ته خوښ وی۔ او خیانت کولو والا خو الله تعالیٰ ناراضه کوی۔ او د جهنم په خراب ځائے کښې ځان له استوګنه جوړوی۔ دا دواړه چرے هم برابر نۀ شی کیدے۔

اقوال او حوالے

❶ أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ يريد بترك الغلول والصبر على الجهاد كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ يريد بكفر او غلول اوتول عن النبى صلى الله عليه وسلم فى الحرب. (قرطبى)

د الله تعالیٰ په رضا پسے ګرزیدلو نه مراد خیانت نۀ کول او په جهاد باندے کلکیدل دی۔ او د الله تعالیٰ ناراضتیا ګټلو نه مراد کفر یا خیانت یا په جهاد کښې د نبی کریم ﷺ پریښودل او تښتیدل دی۔

❷ وقال الزجاج ايضاً رضوان الله الجهاد والسخط الفرار (البحر المحيط)

د زجاج رحمه الله دا قول هم دے – چه د الله تعالیٰ رضا جهاد دے – او د هغۀ ناراضګی د جهاد نه تښتیدل دی–

❸ امام غزالی رحمه الله د أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ او كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ په مصداق کښې یوڅو اقوال نقل کړے دی۔ په تفسیر کبیر کښې د دے تولو اقوالو نقل کولو نه پس هغوی لیکی۔

وقال القاضى كل واحد من هذه الوجوه صحيح ولكن لايجوز قصر اللفظ عليه لان اللفظ عام فوجب ان يتناول الكل الخ. او قاضی رحمه الله فرمائی۔ چه دا تول اقوال صحیح دی۔ خو لفظ د یو یے معنے سره خاص کول صحیح نۀ دی۔ ولے چه لفظ عام دے۔ په دے

وجه تولو معنو ته به ورځي۔ نو چه څوک هم د الله تعالیٰ حکم مني۔ هغه په اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ کښې شامل دے۔ او څوک چه هم د خپل نفس او خواهش په منلو کښې پريوتلو نو هغه به په كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ کښې داخل وی۔ (التفسير الكبير)

فائده

د نبی کريم ﷺ اخلاق ډير ووچت دی۔ او د هغوی نه د خيانت تصور هم نۀ شی کيدے۔ د هغے وجه دا ده چه هغوی سراسر د الله تعالیٰ په رضا او خوشحالولو پسے لګيدلے دی۔ او هغوی صرف هغه کار کوی چه الله تعالیٰ ته خوښ وی۔ او هر کار هغوی د الله تعالیٰ د رضا د پاره کوی۔ نو د اخلاص دا دومره لوړ مقام او خپل ذاتی اغراض شاته غورزول دا خبره په انسان کښې دننه ووچت اخلاق او امانت پيدا کوی۔ نو د امير او امام د پاره دا صفت هم د دے آيت نه زده کيږی۔ چه دے به د خپل ذاتی اغراضو او نفسانی خواهشاتو تابع نۀ وی۔ بلکه د الله تعالیٰ د رضا مندئ طالب به وی۔ (والله اعلم بالصواب)

حضرت لاهوری رحمه الله ليکی:

بس صرف هغه سړے د اسلامی خدمت کولو قابل دے چه د الله تعالی د قانون پوره کولو د پاره خپل ذاتی مقاصد وروستو کولے شی۔ (حاشيه دحضرت لاهوری رحمه الله)

نکته

چه د انسان په روح باندے ذاتی تجلی وی۔ او بشری خيرن والے د پاکدامنئ په اوبو باندے ووينځلے شی۔ نو د هغۀ نه چرے هم ګناه نۀ شی کيدے۔ د دے ځائے نه د حضور ﷺ معصوم کيدل معلوم شو۔ (تفسير حقانی)

دعاء

اللهم انا نعوذ برضاک من سخطک وبمعافاتک من عقوبتک ونعوذبک منک جل وجهک لا نحصی ثناءً عليک انت کما اثنيت علی نفسک.



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

هُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾

دوی خاوندان د جدا جدا درجو دی۔ او الله تعالیٰ گوری هغه څه ته چه دوی ئے کوی

نچوړ

په دوی کښې د هر چا د الله تعالیٰ په نیز جدا جدا درجے دی۔او الله تعالیٰ د ټولو اعمال ښهٔ وینی۔

اقوال او حوالے

❶ د برکت کلام : یعنی نبی او ټول خلق برابر نهٔ دی۔د طمعے دا بے خونده کارونه انبیاء کرام نهٔ کوی۔(موضح القران)

❷ اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ او مَنۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ والاؤ د پاره ډیرے درجے کیدے شی۔ چونکه دواړه قسمه خلق برابر نهٔ دی۔په دے وجه د نبی علیه السلام د نیابت د پاره من اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ والاؤ کښې سړی پکار دی۔ (حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)


❸ بیا فرمائی چه دا اهل اصلاح د خدائے پاک په نیز د خپله وسه پورے د نیک بختئ او د کمال په مختلفو درجو باندے دی۔(تفسیر حقانی)

نکته

چه هر کله د الله تعالیٰ په نیز باندے د ټولو انسانانو درجه برابر نهٔ ده۔نو په دنیا کښې انسانانو له هم د درجاتو لحاظ ساتل پکار دی۔او دا گنړل چه ټول انسانان برابر دی۔نو دے سره د نبی علیه السلام په ادب او احترام کښې کمے کول نهٔ دی پکار۔او نهٔ د هغهٔ په اطاعت کښې کمزوری ښکاره کول پکار دی۔الله پاک هر یو ته جدا درجه ورکړے ده۔نو د خلقو سره د هغوی د درجے مطابق معامله کول پکار دی۔دے نه هم د امام د اطاعت خبره ښکاره کیږی۔په دے وجه امام ابو حیان دحضرت مجاهد او دحضرت قتاده رحمه الله په حواله سره لیکی۔ ای ذو درجات فان بعض المومنین افضل من بعض (البحر المحیط)

یعنی خلق درجو والا دی۔ ولے چه بعضے مسلمانان د بعضے نورو نه غوره دی۔ نو د دغه غوره والی د زړهٔ نه اعتراف کول د انسان دپاره اطاعت آسانوی – او دے سره دین او جماعت ته مضبوطیا ملاویږی – (والله اعلم بالصواب)

۴ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ او الله تعالیٰ د خلقو عملونه ښهٔ وینی۔ بیا یا داشت فرمائی چه خدائے پاک د خلقو اعمال وینی۔ هغهٔ نه هروخت هر سړی له ویریدل پکار دی۔ او د امانت د خیال ساتلو د پاره ئے دا جمله فرمائیلے ده۔ دا تاکید دے۔ او دا د مخکښنی مضمون حصه ده۔ (تفسیر حقانی)



سُورَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ

الله تعالیٰ په ایمان والاؤ باندے احسان کړے دے۔ چه په دوی کښې ئے یو رسول هم د

اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ

دوی د ذات نه راؤلیږلو۔ چه لولی دوی ته د هغهٔ آیتونه او پاکوی دوی لره او ښائی

وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾

دوی ته کتاب او حکمت او یقینادوی د دے نه مخکښې په ښکاره گمراهئ کښې وو۔

نچوړ

یقینا چه الله پاک په مسلمانانو باندے لوے احسان کړے دے۔ چه دوی ته ئے یو داسے رسول راؤلیږلو چه هم د دوی نه دے۔ هغه دوی ته د الله تعالیٰ آیتونه لولی۔ او د دوی د نفسونو پاکی راولی۔ او د هره قسمه بدو نه ئے لرے کوی۔ او دوی ته د الله تعالیٰ د کتاب او د حکمت تعلیم ورکوی۔ حالانکه د دے نه مخکښې دا خلق په ښکاره گمراهئ کښې ورک گرزیدل۔

ربط

په مخکښې آیتونو کښې دا حد د غزا د حالاتو او اثراتو ذکر وغیره چلیدلو۔ نو د دے آیت د دغه مخکښې سره څهٔ ربط دے۔ او جهاد سره ئے څهٔ تعلق دے۔ د مفسرینو حضراتو اقوالو باندے نظر واچوئ۔

❶ په مال غنیمت کښې خیانت د داسے هستئ نه څنګه کیدے شی۔ چه د هغهٔ وجود په ټول عالم باندے(د الله تعالیٰ) یو احسان دے۔ او د هغهٔ وظیفه دا ده۔ چه (خلقو ته د هغهٔ) آیتونه لولی۔ او د هغوی زړونه صفا کوی۔ او د قرآن پاک او د حکمت تعلیم دوی ته ورکوی۔ او چه د هغوی د راتلو نه مخکښې تاسو خلق په خپله په ذلت او گمراهئ کښې پراتهٔ وئ۔ د دوی په تعلیم او تربیت سره چه تاسو ته کوم غټ غټ مقامات ملاؤ شو۔ د دے نه اندازه وولګوئ۔ چه په خپله به د دهٔ مقام څومره ووچت وی۔ نو آیا د داسے هستئ نه د "غلول" غونډے گناه کیدے شی۔ او آیا دا سے

هستی د فرض امانت په ادا کولو کښې څهٔ قسمه کمے او خیانت کولے شی۔ (تفسیر کبیر او بیان القرآن وغیره کښې چه د ربط کوم وجوهات لیکلے شوی دی۔ دا د هغے تولو نچوړ دے۔

❷ انه لما فی الشرف والمنقبة بحیث یمن الله به علی عباده وجب علیٰ کل عاقل ان یعینه باقصی مایقدر علیه، فوجب علیکم ان تحاربوا اعدائه وان تکونوا معه بالید واللسان والسیف والسنان، والمقصود منه العود الی ترغیب المسلمین فی مجاهدة الکفار (التفسیر الکبیر)

هر کله چه د حضور پاک ﷺ شان دومره پورته دے۔ چه الله تعالیٰ د هغوی په وجه په خپلو بندګانو باندے احسان فرمائی۔ نو بیا په هر عقلمند انسان باندے لازم دی۔ چه هغوی دے د حضور پاک ﷺ سره هر قسمه مدد ووکړی۔ نو اے مسلمانانو په تاسو باندے لازم دی چه تاسو د هغهٔ د دشمنانو سره جنګ ووکړئ۔ او په خپلے ژبے - او خپلے نیزے - او خپلے تورے سره د هغهٔ ملګرتیا ووکړئ۔ نو د آیت مطلب مسلمانانو ته د جهاد ترغیب ورکول دی۔ (یعنی هغے مضمون طرف ته واپس راتلل دی کوم چه د مخکښې نه روان دے)

فائده

مسلمانان د شکست د اثر نه راپورته کولے شی۔ او دوی ته تسلی ورکیږی چه د ناامیده کیدو څهٔ ضرورت دے؟ ستاسو هر څهٔ سالم دی۔ رسول الله ﷺ موجود دے۔ او د هغوی خوږ تلاوت - او خوږه تزکیه او مزیدار تعلیم موجود دے۔ په دے وجه د همت نه کار واخلئ او ځان مضبوط کړئ۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

د شکست په وخت کښې یو فتنه دا وی چه د امام خلاف آوازونه پورته کیږی او وسوسے پیدا کیږی۔ په دے آیت کښې هم د دے فتنے علاج دے۔ چه حضور اقدس ﷺ چه کوم ستاسو امیر او امام دے۔ د دوی په تاسو دا دا غټ غټ احسانات دی۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

د شکست نه پس یو ګډوډ حال وی - نو د دغه ګډوډئ نه د بچ کولو د پاره صحابه کرام رضی الله تعالیٰ عنهم مرکز طرف ته رابللے کیږی۔ چه د حضور پاک ﷺ نه ګیر چاپیره راجمع شی۔ قرآن پاک واوری - او خپل زړونه پاک کړی۔ د الهی

علم رنړا واخلي – نو دا ګډوډي به ختمه شي۔ او د زړهٔ زخمونه به ئې جوړ شي۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

د شکست نه پس د جماعت تازه او مضبوط تربیت پکار وي۔ چه هغه غلطي بیا وونهٔ شي چه د کومې په وجه شکست شوے دے۔ نو د جماعت دتربیت نصاب یوه پیره بیا د یاداشت د پاره راوړلے شوے دے۔ هغه نصاب دا دے۔

(۱) د قرآن پاک تلاوت (۲) د نفس تزکیه (۳) د قرآن پاک تعلیم (۴) د حکمت تعلیم

فائده

د شکست نه پس کمزورے زړهٔ والا خلق دا خیال کوي۔ چه اوس به زمونږ کار او زمونږ جماعت ختم شي۔ او مخالفین هم په دغه غلط فهمئ کښې اخته شي۔ چه اوس دا سلام کار ختم شو۔ او مسلمان هم تقریبا ختم دے۔ د احد د غزا نه پس هم دغسے حالات وو۔ او منافقانو او کفارو به دا خیال کولو۔ چه بس دے اوس به مسلمانان دوباره نهٔ شي ووچتیدے۔ او ډیر زر به ختم شي۔ هغوی ته جواب ورکړے شو چه د اسلام بنیاد ډیر پوخ دے۔ او هغه دا چه حضور پاک ﷺ تشریف راوړے دے۔ او هغه تر قیامته پورے نبی ګرزولے شوے دے۔ او د اسلام د تربیت نظام ډیر پوخ دے۔ او چه د کوم جماعت نصاب اود تربیت نظام د قرآن او د سنتو تعلیم وي۔ او د دے تلاوت او د نفس تزکیه وي۔ نو هغه جماعت چرے هم نهٔ شي ختمیدے۔ (والله اعلم بالصواب)

نکته

حضرت لاهوري رحمه الله د دے آیت په تفسیر کښې لیکي۔

رسول الله ﷺ د دے فریضے د پوره کولو د پاره رالیږلے شوے دے۔ اوس به په دغه زرکانړي بانډے د هغوی ربښتونے تابعدار کتلے شي۔ (حاشیه دحضرت لاهوري رحمه الله)

یعني چه کومو خلقو کښې تلاوت۔ تزکیه او د قرآن او د حکمت والا اعمال ژوندي وي۔ نو هم دغه خلق به د رسول اکرم ﷺ ربښتوني تابعدار وي۔ او څوک چه دا ټول څیزونه یا بعضے په دے کښې پریږدي۔ هغوی به د دین نه او د رسول الله ﷺ نه (نعوذ بالله)لرے شي۔

فائده

دا هم معلومه شوه چه د مسلمانانو د امیر به دا صفت وی۔ چه هغه به د خپل ځان د پاره او د خپل جماعت د پاره د تلاوت– د تزکیے –او د کتاب او دسنت د تعلیم خیال ساتلو والا وی۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

د جهاد د مسلسل بیان په مینځ کښ د دے آیت د راوړلو نه دا خبره معلومیږی۔ چه مجاهدینو له خصوصی طور باندے د دے څلورو څیزونو خیال ساتل پکار دی۔او خپل ځان د حضور پاک ﷺ سره جوړ ساتل پکار دی۔(والله اعلم بالصواب)

دعاء

اللهم ارحمنابالقرآن العظیم واجعله لنا اماماونورا وهدی ورحمة.



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ قُلْتُمْ اَنّٰى

او چه تاسو ته یو تکلیف در وورسیدۀ۔ چه تاسو ور رسولے دے د هغے په دوه هومره ۔نو آیا تاسو

هٰذَا ۭ قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ

وایئ چه دا د چرته نه ؟۔ ووایه ؛ چه دا ستاسو د خپله لاسه دے – یقینا الله تعالیٰ په هر څیز

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۶۵﴾

باندے قدرت والا دے۔

نچوړ

د احد په غزا کښې تاسو ته تکلیف درووړسیدۀ۔ د دے په دوه هومره تکلیف ستاسو د لاسه مشرکینو ته رسیدلے دے۔د دے باوجود هم بعضے خلق دا وائی چه مونږ ته دا شکست ولے راغے۔ حالانکه رسول الله ﷺ په مونږ کښې موجود دے۔او مونږ مسلمانان یو۔دے خلقو ته دے ووئیلے شی – چه دا څۀ ووشو۔نو هم ستاسو د وجے نه ووشو۔الله تعالیٰ خو په هر څیز باندے قادر دے۔ اعلم ان الله تعالیٰ لما اخبر عن المنافقین الخ.

حاصل دا شو چه په دے آیت کښې د منافقانو د یوے بلے شبهے جواب دے۔اول خو دے منافقانو (نعوذ بالله) د حضور پاک ﷺ طرف ته د خیانت اشارے ووکړے۔نو په مخکښې آیتونو کښې هغوی ته جواب ورکړے شو–بیا دے منافقانو اووے۔ چه که محمد ﷺ رسول وے۔ نو د احد په ورځ به دۀ ته شکست نه کیدۀ۔نو د دے شبهے جواب په دے آیت کښې ورکړے شو۔ (التفسیر الکبیر)

تفسیری اقوال

❶ قد اصبتم مثلیها تاسو دخپل مصیبت په دوه هومره مصیبت دشمن ته رسولے وو۔یوم بدر بأن قتلتم منهم سبعین واسرتم سبعین. (قرطبی)

یعنی د بدر په ورځ تاسو هغوی ته په دوه هومره تکلیف رسولے وو۔ چه په هغوی کښې مو اویا قتل کړل او اویا مو قید کړل۔(زجاج رحمه الله دا قول رد کړے دے۔) (البحرالمحیط)

❷ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ان المسلمین هزموا الکفار یوم بدر وهزموهم ایضاً فی الاول یوم احد (التفسیر الکبیر)

مسلمانانو په بدر کښې هم کافرانو ته شکست ورکړو۔ او د احد په شروع کښې ئے هم هغوی ته شکست ورکړو۔ په دے طریقه مسلمانانو دوه پیرے کافران د شکست سره مخامخ کړل۔ او دیخوا د مسلمانانو ظاهری شکست یوه پیره ووشو۔ (واحدی رحمه الله دا قول رد کړے دے) (الکبیر)

❸ قُلۡتُمۡ اَنّٰی هٰذَا تاسو ووئیل چه مونږ ته دا شکست څنګه ووشو۔ ؟قلتم متعجبین یعنی ستاسو دا وینا دخیرانتیا په وجه ده۔ (د اعتراض په طور نهٔ ده) (جلالین)

❹ قُلۡتُمۡ اَنّٰی هٰذَا ای من این اصابناهذا الانهزام والقتل ونحن نقاتل فی سبیل الله ونحن مسلمون وفیناالنبی والوحی وهم مشرکون (قرطبی)

یعنی دا شکست مونږ ته څنګه ووشو۔ مونږ خو د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کولو۔ او مونږ مسلمانان یو او په مونږ کښې نبی ﷺ او وحی موجود ده۔ او زمونږ په مقابله کښې مشرکین دی۔

❺ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اَنۡفُسِكُمۡ تاسو دوی ته ووفرمایئ۔ چه دا شکست تاسو ته د خپله لاسه دررسیدلے دے۔

یعنی مخالفة الرماة. ومامن قوم اطاعوا نبیهم فی حرب الانصروا لانهم اذا اطاعوا فهم حزب الله وحزب الله هم الغالبون (قرطبی)

یعنی د غشو ویشتونکو د نافرمانئ په وجه شکست ووشو۔ ګنی چه کوم قوم هم په جنګ کښې د خپل نبی فرمانبرداری کړے ده۔ د هغوی خا مخا مدد شوے دے۔ ولے چه کوم قوم د خپل نبی حکم منی۔ هغوی حزب الله جوړیږی۔ او حزب الله (د الله تعالیٰ جماعت) خو خا مخا غالب راځی۔

❻ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اَنۡفُسِكُمۡ قال قتادة والربیع بن انس: یعنی سوالهم النبی ان یخرج بعد ما اراد الاقامة بالمدینة (قرطبی)

قتاده او ربیع رحمهما الله فرمائی۔ چه په خپله هم ستاسو په وجه شکست ووشو۔ د دے مطلب دا دے۔ چه تاسو په خپله د جنګ د پاره د مدینے نه د بهر تلو سوال کړے وو۔ سره د دے چه نبی ﷺ په مدینه کښې د مقابلے او د ایساریدو اراده کړے وه۔

❼ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اَنۡفُسِكُمۡ هو اختیار هم الفداء یوم بدر علی القتل (قرطبی). یعنی د احد په غزا کښې چه کوم تکلیف دروورسیدهٔ۔ د دے وجه دا وه چه په خپله مسلمانانو د بدر په موقعه باندے د اویا قیدیانو نه فدیه واخستله۔ او هغوی ئے پریښودل۔ (ځکه چه د ډیرو روایتونو نه ثابته ده۔ چه د بدر په ورځ مسلمانانو ته اختیار ورکړے شوے

وو۔ چه یا خو قیدیان قتل کړی یا ترې نه فدیه واخلی او خوشې ئې کړئ- خو د فدئې اخستو په بدله کښې به ستاسو نه اویا کسان شهیدان کیږی-نود اختلاف رائے باوجود د فدئې اخستو فیصله ووشوه- نو په دغې وجه باندې ستاسو د فیصلې مطابق اوس د احد په غزا کښې اویا کسان شهیدان شوې دی۔) د دې روایت د تفصیل د پاره ووګورئ (تفسیر قرطبی او تفسیر کبیر)

❽ دبرکت کلام

یعنی تاسو د بدر په جنګ کښې اویا کافران وژلې دی۔او اویا مو ژوندی راوستې وو۔ستاسو په دې جنګ کښې اویا سړی شهیدان شو۔نو زړۀ ولې بدوئ (دا تکلیف هم تاسو ته) د خپل قصور په وجه دروورسیدۀ۔چه نافرمانی مو ووکړه۔ یا قصور دا چه د بدر قیدیان مو وونۀ وژل۔اومال مو ترې واخستلو او پرې مو ښودل۔او حضرت محمد ﷺ فرمائیلی وو۔چه که دوی پریږدئ نو ستاسو نه به اویا کسان شهیدان کیږی۔خلقو قبوله کړه او مال ئې ترې واخستو۔او هغوی ئې پریخودل۔ (موضح القرآن)

نکته

په دې آیت کښې د مصیبت لفظ استعمال شو۔عام طور د دې نه مراد د اویا کسانو شهید کیدل اخستې کیږی۔خو ابو حیان رحمه الله د دې یوه بله معنی هم لیکلې ده۔وکفهم عن الثبات للقتال یعنی په میدان کښې کلک جنګ ته نۀ تینګیدل۔(دا هم یو مصیبت وو چه په دوی باندې راغلې وو) (البحرالمحیط)

❾ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ یقینا الله تعالیٰ په هر څیز باندې قادر دې۔ ونبه بذلک علی ان ما اصابهم کان لوهن فی دینهم لا لضعف فی قدرة الله (البحرالمحیط)

یعنی په دې جملې سره ئې په دې خبره باندې خبردارې ورکړو۔ چه په مسلمانانو باندې کوم شکست راغلې دې۔ هغه هم د دوی د خپلې غلطئ په وجه راغلې دې۔په دې وجه نۀ دې راغلې چه ګنی په قدرت کښې څۀ کمزوری ده۔(د هغۀ په قدرت کښې هیڅ کمزوری نشته)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ

او کوم تکلیف چه تاسو ته وورسیدۀ۔ په هغه ورځ چه مخامخ شوے دواړه ډلے- نو د الله په حکم او دے

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۶۶﴾

دپاره چه ښکاره کړی مؤمنان

نچوړ

داحد په ورځ چه څه پیښ شونودا مقدر وو۔ (اوپه دے کښ ډیرحکمتونه وو چه په هغے کښ یو حکمت داوو چه) الله تعالیٰ ایمان والا ښکاره کړی (یعنی چه ښکاره فیصله ووشی چه مؤمن څوک دے اومنافق څوک دے)

اقوال

وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ

❶ یعنی یوم احدمن القتل والجرح والهزیمة (قرطبی)

یعنی داحد په ورځ چه تاسو ته کوم د مرګ ژوبلے اوشکست په ذریعه تکلیف وورسیدۀ۔

❷ بهرحال (داحد په ورځ) چه څه ووشو دالله تعالیٰ په حکم اومشیت سره ووشو۔ چه د هغے سبب تاسو وئ۔ اوحکمت دا وو چه یو طرفته دهر مخلص مؤمن دایمان او داخلاص درجه او بل طرفته دهر منافق دمنافقت درجه ښکاره شی۔ چه په روغ اوتنګ اوپه پوخ اوکچه کښ بیا څوک نۀ تیرووځی۔ (تفسیر عثمانی)



سُوۡرَةُ اٰلِ عِمۡرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۷

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

وَلِيَعۡلَمَ الَّذِيۡنَ نَافَقُوۡا ۖۚ وَقِيۡلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡا قَاتِلُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ

او چه ښکاره کړي هغه کسان چه منافقان دي- او وئیلے شوے وو دوی ته چه راشئ - جنګ ووکړئ- دالله

اللّٰهِ اَوِ ادۡفَعُوۡا ؕ قَالُوۡا لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالًا لَّا تَّبَعۡنٰكُمۡ ؕ هُمۡ

تعالیٰ په لارکښ یا د دفاع ووکړئ.نودوی ووئیل که مونږ ته علم وے دجنګ نو مونږ به خامخا تاسو سره

لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ اَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡاِيۡمَانِ ۚ يَقُوۡلُوۡنَ بِاَفۡوَاهِهِمۡ

تلے وو۔ دوی کفر ته په دغے ورځ باندے زیات نزدے وو دایمان نه - دوی وائی په خپلو خلو باندے هغه چه

مَّا لَيۡسَ فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُوۡنَ ﴿۱۶۷﴾

نشته د دوی په زړونو کښ او الله پاک ښهٔ عالم دے په هغے باندے چه دوی ئے پټوی۔

نچوړ

د احد په غزا کښ مسلمانانو باندے د شکست حالات ځکه راغلل (چه الله تعالیٰ ایمان والا ښکاره کړی)او چه هغه خلق هم ښکاره کړی چه منافقان وو۔ مسلمانانو دغه منافقان هم داحد په غزا کښ د شرکت دپاره رابللے وو۔ چه تاسو خو ځان ته مسلمانان وایئ۔ نوراشئ اومونږ سره یو ځائے شئ اوجهاد ووکړئ اوکه جهاد نهٔ کوئ نو کم ازکم دفاع خو ووکړئ۔ دے منافقانو جواب ورکړو چه که چرے څه د سړیتوب مقابله وے نو مونږ به هم تاسو سره تلے وو- (دومره لوئے لښکر سره مقابلے د پاره تلل خو صرف خودکشی ده) په دغه ورځ باندے دامنافقان ښکاره طور باندے هم دایمان په نسبت کفر ته زیات نزدے ښکاریدل۔ دوی په ژبو باندے یو څه وے او په زړونو کښ به ئے بل څه وو۔اوڅهٔ چه دوی په زړونو کښ پټ ساتی هغه دالله په علم کښ دی۔

شان نزول

هی الی عبد الله بن ابی واصحابه الذین انصرفوامعه عن نصرة النبی صلی الله علیه وسلم وکانوا ثلثمائة فمشی فی اثرهم عبدالله بن عمرو بن حرام الانصاری ابو جابر عبدالله فقال لهم اتقوا الله ولا تترکوا نبیکم و قَاتِلُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ او ادفعوا ونحو هذا من القول فقال له ابن ابی ! ما اری ان یکون قتال ولو علمنا ان یکون قتال لکنا معکم فلما

یئس منهم. عبدالله قال: اذهبوا اعداء الله فسیغنی الله رسوله عنکم ومضی مع النبی صلی الله علیه وسلم واستشهد رحمه الله تعالیٰ (القرطبی)

یعنی په دے آیت کښ د عبدالله بن ابی او دهغهٔ دملګرو ذکر دے. دے درے سوؤ کسانو دحضوراکرم ﷺ نصرت پریخودلے وو- اومدینے ته واپس تلے وو. حضرت عبدالله بن حرام ورپسے ورغے او دوی ته ئے ووفرمائیل چه د الله تعالیٰ نه ویریږئ اودخپل پیغمبر ملګرتیا مهٔ پریږدئ. راشئ دالله په لاره کښ ووجنګیږئ یا (کم ازکم) دفاع خوووکړئ -اودغه شان ئے څه نورے خبرے ووکړے. نو ابن ابی(منافق) ووئیل چه څهٔ پوهیږم چه جنګ به نهٔ کیږی. که څه پوهیدم چه جنګ کیږی نو مونږ به تاسوسره وتلے وو. چه کله عبدالله بن حرام رضی الله تعالیٰ عنه دهغوی نه ناامیده شونووے فرمائیل چه ځئ لاړشئ - دالله تعالیٰ د شمنانو ! الله تعالیٰ به خپل نبی ستاسونهٔ محتاجه کوی. بیاحضرت عبدالله بن حرام رضی الله عنه دحضوراکرم ﷺ سره لاړو اوشهیدشو.رحمه الله تعالیٰ.

اقوال اوحوالے

❶ ولیعلم الذین نافقوا اوچه الله تعالیٰ منافقین ښکاره کړی. ای لیمیز وقیل لیری وقیل لیظهر ایمان المومنین بثبوتهم فی القتال ولیظهر کفر المنافقین باظهارهم الشماتة (قرطبی)

یعنی چه مؤمن اومنافق جداجدا کړی. یامؤمن اومنافق ووینی یادمؤمن ایمان په جهادکښ کلکیدوسره ښکاره کړی اودمنافقانو کفر په د شمنئ سره ښکاره کړی.

❷ قَاتِلُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ

قَاتِلُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ معنی خو ښکاره ده چه د الله په لار کښ جهاد ووکړئ - خو داوادفعوا چه دفاع ووکړئ مطلب څهٔ دے؟

څواقوالوباندے نظر واچوئ.

☆ کثروا سوادنا وان لم تقاتلوا معنا (قرطبی عن السدی) یعنی ځمونږ شماره زیاته کړئ که جنګ نهٔ کوئ.

☆ یعنی ان کان فی قلبکم حب الدین والاسلام فقاتلوا للدین والاسلام وان لم تکونوا کذلک فقاتلوا دفعا عن انفسکم واهلیکم واموالکم(تفسیر کبیر)

یعنی که چرے ستاسوپه زړهٔ کښ د دین اوداسلام محبت وی نوراشئ - د دین اوداسلام د پاره جنګ ووکړئ اوکه داسے نهٔ کوئ - نودخپل جان -مال -او د اولاد دَ

دِفاع دپاره جنګ کښې حصه واخلئ. ځکه چه که مشرکين غالب شونو هغوی به تاسو هم مسلمانان ګنړی اوتاسوبه هم نۀ پريږدی.

☆ انما هواستدعاء الى القتال حمية (قرطبى) يعنى اَوِادْفَعُوْا مطلب دادے چه دے کښې د قومى غيرت دپاره دجنګ کولودعوت دے. يعنى که چرے د دين دپاره جنګ نۀ کوئ نودخپل قومى غيرت په وجه جنګ کښې حصه واخلئ - دا دعوت هغوی ته بعضوانصارو ورکړے وو.

❸ لَوْنَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنٰكُمْ يعنى مونږ ته جنګ نۀ ښکاری ګنى مونږ به تاسوسره خا مخاه تلے وو. د دے جملے په مطلب کښې د مفسرينو ګڼړ اقوال دی.

☆ يعنى مونږ ته جنګ کيدل نۀ ښکاری -کنى خامخا به تلے وو

☆ که څه دسرپيتوب جنګ وے نومونږ به تلے وو يعنى دخپل ځان نه په څوچنده زيات لښکر سره مقابله کول خوښکاره خودکشى ده.

☆ که چرے مونږ ه ته دجنګ تجربه وے اوچل راتلے نومونږ به خامخا تلے وو.خومونږ خوناپوهه خلق يو.وجه داوه چه عبدالله بن ابى دا وے چه مقابله دے په مدينه منوره کښې دننه ووکړے شي -خوچه دهغۀ رائے وونۀ منلے شوه- نودطنز نه ئے داسے ووئيل چه ستاسو په خيال خومونږ ته د جنګ باريکئ معلومے نۀ دی.په دے وجه زمونږ د تلو څۀ فائده ؟په دے درے واړومطلبونوکښې چه کوم يومطلب هم وى خوپه هريومطلب کښې دروغ- دهوکه -اوطنز ښکاره ښکاری.(تفسير کبيروغيره)

❹ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْاِيْمَانِ

اى بينوا حالهم، وهتكوا استارهم و كشفوا عن نفاقهم لمن كان يظن انهم مسلمون(القرطبى)

☆ منافقان په زړۀ کښې کافران وو اوپه ژبه ئے ايمان ښکاره کولو. او د دغه ژبانى اسلام په وجه دوى په مسلمانانو کښې ګډوډ ووسيدل. په دغه ورځ ئے په عين موقعه باندے پيغمبر ﷺ اومسلمانان پريخودل او تلل- او د دروغو بهانو جوړولو سره د دوى حقيقت پوره ښکاره شو- نواوس په ښکاره هم دايمان په ځائے کفرته زيات نزدے شو.اوپه خپل عمل سره ئے مسلمانانوته نقصان اوکفرته مضبوطتياورکړه. (تفسيرعثمانى)

يوه ايمان زياتوونکے واقعه

امام قرطبى رحمه الله د دے آيت لاندے ليکلے دى.

وقال انس بن مالك رأيت يوم القادسية عبدالله بن ام مكتوم الاعمىٰ وعليه درع يجر اطرافها

وبيده رأية سوداء قيل له اليس قد انزل الله عذرك قال بلى ولكني اكثر سواد المسلمين بنفسي (القرطبي)

حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائ -چه ما د قادسیے د جنګ په ورځ حضرت عبدالله بن ام مکتوم چه نابینا وو. وولیدلو چه زغره ئے اچولے ده او ور پسے رابنکلے شي اوګرزي - او په لاس کښې ئے یوه توره جهنډه نیولے ده. دۀ ته وویلے شو چه الله تعالیٰ تۀ معذوره نه ئے حساب کړے ؟. نودوی ووفرمائیل چه ولے نه ! خو څه د مسلمانانو تعداد زیاتولو دپاره راغلے یم. (رضی الله عنه وارضاه)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَ قَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا ؕ قُلْ

هغه خلق چه وے وئیل د خپلو ورونړو په باره کښې او په خپله ناست وو - که چرے دوی زمونږ منلے

فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۶۸﴾

وے.نو دوی به نۀ وے قتل شوے- ووایه چه بند کړئ دځان نه مرګ که چرے تاسو رښتونی یئ.

نچوړ

د دے منافقانو په جرمونو کښې دا جرم هم دے. چه دوی خو په خپله په جهاد کښې شریک نۀ شو.او په کور کښې کیناستل.او بل خو ائے په جهاد کښې په شریک شوے مسلمانانو پسے خبرے شروع کړے. چه که دوی زمونږ منلے وے نو دوی به نۀ وو قتل شوے. حضور پاک ﷺ ته حکم ووشو- چه تاسو ووا یئ چه (اے منافقانو) که تاسو رښتیا وایئ چه میدان ته تلو کښې مرګ دے.نو خپل ځان د مرګ نه بچ کړئ.

تفسیری اقوال

① د جهاد نه دبندولو کوشش

دا هم د منافقانو مسلمانانو لره د جهاد فی سبیل الله نه د بندولو یوه شبهه وه. چه دوی به دخپلو هغه ورونړو په باره کښې وئیل کوم چه په جهاد کښې شهیدان شو. چه که چرے دوی زمونږ منلے وے نو مړۀ شوے به نۀ وو. چونکه ژوند خو یو خوښ څیز دے او د مرګ نه ویره خو یوه طبعی خبره ده.نو بیا چه کله دے خبرے ته په دغے شبهے سره قوت هم ورکړے شی نو خامخا زړۀ په کور کښې پټه ناسته غواړی. په دے وجه خدائے پاک د دے خبرے جواب ورکړو. (تفسیر حقانی)

فائده

دا عبارت د امام رازی رحمه الله د کلام مطابق دے.امام رازی رحمه الله لیکی.

فخوفوا من مراده موافقة الرسول فی محاربة الکفار بالقتل لما عرفوا ماجری یوم احد من الکفار علی المسلمین من القتل لان المعلوم من الطباع محبة الحیاة. (تفسیر کبیر) یعنی د

دوی د دے خبرو مقصد د خلقو ویرول وو۔ چه حضور پاک ﷺ سره جهاد ته لاړ نهٔ شی۔ او دوی به په خلقو کښې د ژوندی پاتے کیدو طبعی شوق راپورته کولو

❷ دا یے وقوفه بیا صرف په دے باندے صبر نهٔ کوی۔ بلکه د خپلو مشورو د اهمیت او صحیح والی او دخپلے هوښیارتیا ثابتولو د پاره وائی۔ که چرے دغه مسلمانانو هم زمونږ خبره منلے وے۔ کوم چه په جنګ کښې شریک شو۔ نو چرے به هم نهٔ وے قتل شوے۔ او نهٔ به د دوی ملکونه د دوی د قبضے نه وتلے وو۔ دوی ته ووایه: چه که چرے ستاسو د خبرے په منلو سره انسان د مرګ نه بچ کیږی۔ او ستاسو ملګرتیا او یو ځائے والی سره ژوند ملاویږی۔ نو خپل مرګ هم لږ شان وروستو کړئ۔ او چه داسے نهٔ شئ کولے او دا مرګ به یقینا راځی نو د دے مرګ نه دا بهتره ده۔ چه یو مسلمان په جهاد فی سبیل الله کښې خپل سر ورکړی۔ (تفسیر الفرقان)

❸ وَقَعَدُوْا او هغوی ناست پاتے شو۔

قالوا هذا القول وقعدوا بانفسهم عن الجهاد(قرطبی) ومعنیٰ هذا القعود القعود عن الجهاد (تفسیر کبیر)

یعنی د ناست پاتے کیدو نه مراد دادے چه جهاد ته لانهٔ رل۔

❹ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ ای قالوا لا جل اخوانهم. دوی د خپلو ورونړو په باره کښې ووئیل۔ (التفسیر الکبیر)

❺ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وهم الشهداء المقتولون من الخزرج وهم اخوة نسب ومجاورة لا اخوة الدین (قرطبی)

د دوی د ورونړو نه مراد د خزرج قبیلے شهید کیدونکے مسلمانان وو۔ چه هغه د دے منافقانو د نسب او د ګوانډګیرئ په اعتبار سره ورونړه وو۔ د دین په اعتبار سره ورونړهٔ نهٔ وو۔

وقیل لا شکالهم من المنافقین او یو قول دا دے چه منافقانو دا خبره د ځان په شان د منافقانو په باره کښې کړے وه۔ په دے صورت کښې به بیا د دوی دینی ورنړهٔ مراد وی۔ (قرطبی)

نکته

د جهاد په دوران کښې د منافقانو د چلبازئ نچوړ

دا احد د جنګ معامله د هغے منافقانو د پاره چه د مخلصو مسلمانانو سره یو ځائے ووسیدل یو فیصله کن امتحان وو۔ په دے موقعه باندے د دوی منافقت پوره ښکاره شو۔ د جنګ د ابتدائی مرحلے نه واخله تر د آخره پورے یوه موقعه داسے نهٔ

وہ۔ چہ دوی پہ کښې څہ فتنہ نۀ وہ جوړہ کړے۔ کلہ چہ د ډیرو کسانو پہ مشورہ باندے دا خبرہ مقرر شوہ چہ د ښار نہ بهر د مقابلے د پارہ وتل پکار دی۔ نو دوی خلق لمسول شروع کړل۔ چہ بهر جنگ لہ تلل ځان پہ زور وژل دی۔ چہ کلہ دوی تہ ووئیلے شو۔ چہ ښۀ دہ راځئ – د ښار دفاع ووکړئ۔ نو قسما قسم بهانے ئے شروع کړے۔ وئیل بہ ئے چہ مونږ تہ یقین نشتہ چہ جنگ بہ ووشی۔ کہ چرے مونږ تہ د جنگ یقین وے نو مونږ بہ خا مخا تیاری کړے وہ۔ بیا چہ کلہ د بعضے خلقو د نافرمانئ او د کمزورئ پہ وجہ پہ فتحہ فتحہ کښې شکست اوشو۔ نو دوی تہ د فتنے او د شرارت نوے موقعہ پہ لاس ورغلہ۔ کلہ بہ ئے وئیل چہ دا ټول هر څۀ ځکہ ووشو۔ چہ زمونږ خبرہ وونۀ منلے شوہ۔ نجات پہ دے کښې دے چہ دشمنان خوشحالہ کړے شی۔ مقصود ئے دا وو چہ پہ څۀ طریقہ باندے د مسلمانانو پہ زړۀ کښې نا امیدی پیدا کړی۔ او د دوی هیڅ خبرہ سمہ نۀ شی۔ پہ دے آیتونو کښې چہ دمنافقانو کوم نفسیاتی حالت ښودلے شوے دے۔ هغہ څۀ مخصوص صورتحال نۀ دے۔ بلکہ کہ غور ووکړے شی نو د جماعت کمزوری او شکیان خلق همیشہ دغہ صورتحال پیدا کوی۔ (ترجمان القرآن)

❻ قُلۡ فَادۡرَءُوۡا عَنۡ اَنۡفُسِکُمُ الۡمَوۡتَ ووایہ: چہ لرے کړئ د خپل ځان نہ مرگ کہ چرے تاسو رښتونے یئ – یعنی کہ پہ کور کښې ناستے سرہ ځان د مرگ نہ بچ کیدے شی نو ووگورئ چہ مرگ بہ څنگہ کور کښې د راتلو نہ منعہ کوئ – کہ چرے دلتہ یئ – نو بیا هم مرگ تاسو نۀ پرېږدی۔ نو بیا د بهادرانو پہ شان پہ میدان کښې د عزت پہ مرگ باندے ولے نۀ مرئ۔ (تفسیر عثمانی)

❼ وقال ابو اللیث السمر قندی :سمعت بعض المفسرین بسمر قند یقول ، لما نزلت الایة قُلۡ فَادۡرَءُوۡا عَنۡ اَنۡفُسِکُمُ الۡمَوۡتَ مات یومئذ سبعون نفسا من المنافقین (قرطبی)

امام ابو اللیث سمرقندی رحمہ اللہ فرمائی۔ چہ ما پہ سمرقند کښې د یو مفسر نہ واوریدل۔ چہ هغوی فرمائیل۔ چہ کلہ دا آیت نازل شو (ترجمہ:- اے منافقانو کہ چرے تاسو ریښتونے یئ نو خپل ځان د مرگ نہ بچ کړئ-) نو پہ دغہ ورځ باندے اویا منافقان مړۀ شول۔

یعنی منافقانو بہ وئیل چہ جهاد تہ پہ تلو کښې مرگ راځی۔ کہ د احد شهیدان زمونږ پہ شان پہ کورونو کښې ناست وو نو نۀ بہ مړۀ کیدل۔ نو اللہ تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ چہ تاسو خلق بہ هم مړۀ شئ۔ او بیا هم پہ دغہ ورځ باندے پہ دوی کښې اویا کسان مړۀ شول۔ (واللہ اعلم بالصواب)


یاداشت

دا روایت بغیر د سند نه ذکر کړے شوے دے۔ په دے وجه د تفسیر قرطبی حاشیه لیکونکے لیکی۔

تفرد بذكره ابو الليث وهو معضل لا حجة فيه ولو صح لجاء مسندا (حاشيۀ قرطبی)

فائده

د احد شهیدان هم په دنیا کښ پاتے نۀ شول۔ او د هغوی په شهادت باندے بد وئیلو والا منافقانو نه هم دنیا پاتے شوه۔ دا دنیا فانی ده۔ ټول به خامخا ځی۔ دومره ده چه د احدشهیدان د ډکے جولۍ سره لاړل۔ او منافقان د ذلت – رسوایۍ –او د ناکامۍ د بوجه دوو چتولو سره مړۀ شول۔ مری خو به ټول –خو د هر چا خپل قسمت دے – الله تعالیٰ دے مونږ ته شهادت او نیک بختی رانصیب کړی۔ او د نفاق نه دے الله تعالیٰ زمونږ حفاظت ووکړی۔ راتلونکی آیت کښ ئے وئیلے دی۔ (چه دا منافقان خو به مړۀ شی) او د چا په باره کښ چه دوی شور جوړ کړے دے – چه هغه مړۀ شو۔ هغه مړۀ شو۔ نو هغوی ژوندی دی او د خپل رب سره خوراک څکاک کوی او مزے کوی۔



سُوۡرَةُ اٰلِ عِمۡرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۶۹

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

وَلَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ اَمۡوَاتًا ؕ بَلۡ اَحۡيَآءٌ

او هیڅ چرې ګمان مهٔ کوه په هغه خلقو باندې چه قتل شوې دی د الله په لاره کښې

عِنۡدَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُوۡنَ ﴿۱۶۹﴾

د مړو بلکه ژوندی دی د خپل رب په نیز باندې دوی ته رزق ورکیږی۔

خلاصه

(د بیان القرآن نه)

او اے (مخاطبه)! چه کوم خلق د الله تعالیٰ په لاره کښې(یعنی د دین دپاره) قتل کړے شو۔دوی (د نورو مړو په شان) مړهٔ مهٔ ګڼړئ۔ بلکه دا خلق (په یو جدا ژوند سره) ژوندی دی۔او خپل پروردګار ته مقرب (مقبول) دی۔ دوی ته رزق هم ملاویږی۔

شانِ نزول

❶ شهیدانو عزتمندو ته چه کله د الله پاک سره عزت او ووچت مقامات او اعلیٰ رزق او خوشحالی ملاؤ شوه۔نو دوی ووئیل چه کاش زمونږ نه ورستو پاتے مسلمانانو ته د دے نعمتونو خبر ورووړسی۔ چه د هغوی د جهاد شوق زیات شی۔نو الله تعالیٰ ووفرمائیل۔زه به ستاسو خبر هغوی ته ور وورسوم ۔ د هغے نه پس دا آیت نازل شو۔

❷ چه کوم حضرات شهیدان شو۔د هغوی کور والاؤ چه به د دنیا څهٔ نعمت او خوشحالی وموندله۔ نو په ډیر ارمان سره به ئے وئیل۔ مونږ خو په مزو او په خوشحالو کښې یو او زمونږ شهیدان ورونړه خو په قبرونو کښې دی۔بیا دا آیتونه نازل شو او ووئیلے شو۔ چه اصل مزو کښې خو هغه خلق دی چه شهیدان شوے دی۔

وهل سبب ذلك قول من استشهد ، وقد دخل الجنة فا كل من ثمارها من يبلغ عنا اخواننا انا فى الجنة نرزق لا تزهدوا فى الجهاد فقال الله انا ابلغ عنكم فنزلت، أو قول من لم يستشهد من اولياء الشهداء اذا اصابتهم نعمة نحن فى النعمة والسرور وآباؤنا و اخواننا فى القبور فنزلت (القرطبى، والبحر المحيط، واللفظ له)

داحد د بدر یا د بئر معونه شهیدان

وقال ابو الضحیٰ: نزلت هذه الایة فی اهل احد خاصة (قرطبی)

ابو الضحیٰ فرمائی چه دا آیت خصوصی طور باندے د احد د شهیدانو په باره کښې نازل شوے دے۔ وقال بعضهم:نزلت فی شهداء بدر (قرطبی)

او د بعضے مفسرینو په نیز باندے د بدر د شهیدانو په باره کښې نازل شوے دے۔

وقیل نزلت فی شهداء بئر معونة (قرطبی)

او یو قول دا دے چه دا آیت د بئر معونه د شهیدانو په باره کښې نازل شوے دے۔

دامام رازی رحمه الله نا آشنا تقریر

هذه الآیة واردة فی شهداء بدر واحد لان فی وقت نزول هذه الآ یة لم یکن احد من الشهداء الا من قتل فی هذین الیومین. دا آیت د بدر او د احد د شهیدانو په باره کښې نازل شوے دے۔ ولے چه د دے آیت د نزول په وخت کښې د دے دواؤ غزاگانو د شهیدانو نه علاوه په مسلمانانو کښې څوک شهید نۀ وو۔

والمنافقون انما ینفرون المجاهدین عن الجهاد لئلا یصیروا مقتولین مثل من قتل فی هذین الیومین من المسلمین او منافقانو به مسلمانانو ته هم دغه وئیل چه که تاسو زمونږ وونۀ منل۔او جهاد مو پرے نۀ ښودۀ۔ نو تاسو به هم د دغه دواؤ غزاگانو د شهیدانو په شان ووژلے شئ۔او په دے طریقه به ئے د دوی د جهاد نه د لرے ساتلو کوشش کولو۔

والله تعالیٰ بین فضائل من قتل فی هذین الیومین لیصیر ذلك داعیاً للمسلمین الی التشبه بمن جاهد فی هذین الیومین وقتل۔

الله تعالیٰ په دے دواړو غزاگانو کښې د شهید کیدونکو فضائل په دے آیت کښې بیان کړل۔ چه مسلمانانو ته د دے خبرے دعوت ورکړی۔ چه دوی هم د بدر او د احد په جهاد کښې د شهیدانو په شان جوړ شی۔

وتحقیق الکلام ان من ترك الجهاد فربما وصل الی نعیم الدنیا و ربما لم یصل وبتقدیر ان یصل الیه فهو حقیر وقلیل ومن اقبل علی الجهاد فاز بنعیم الآخرة قطعاً وهو نعیم عظیم ومع کونه عظیماً فهو دائم مقیم واذا کان الامر کذلك ظهر أن الاقبال علی الجهاد افضل من ترکه۔

او مطلب د دے کلام دا دے۔ چه کوم سړے جهاد پریږدی هغه خو کله د دنیا د نعمتونو نه فائده واخلی۔ او کله وانۀ خلی۔ خو که فائده واخلی نو هم د دنیا نعمتونه معمولی او لږ دی۔ او چه کوم سړے جهاد ته لاړ شی۔ نو هغه خو یقینا د آخرت د نعمتونو په حاصلولو کښ کامیاب شی۔ او د آخرت نعمتونه سره د دے چه ډیر غټ دی۔ پائیدار هم دی۔ او د همیشه د پاره دی۔ نو هر کله چه خبره داسے ده نو بیا جهاد ته تلل د جهاد پریخودو نه ډیر غوره شو۔ (تفسیر کبیر)

ربط

❶ د مخکښنی آیت سره ئے ربط ښکاره دے۔ منافقانو به خلق د جهاد نه بندول۔ او دا به ئے وئیل چه په جهاد کښ مرګ دے۔ ووګورئ په احد کښ څومره خلق مړۀ شول - که دوی زمونږ خبره منلے وے۔ او جهاد ته نۀ وے تلے نو بچ شوے به وو۔ دغه منافقانو ته جواب ورکړے شو - چه مرګ خو به په خپل وخت باندے راځی۔ تاسو خلق په کور کښ په ناسته هم د مرګ نه نۀ شئ بچ کیدے۔ او په دے آیت کښ دا جواب ورکړے شو۔ چه دکوم مرګ نه تاسو خلق ویروئ۔ دغۀ مرګ خو په حقیقت کښ د تولو نه مزیدار ژوند دے۔ (محصله تفسیر کبیر)

❷ د شهیدانو دومره ووچت مقام ئے چه بیان کړو نو دے سره د شکست غم لرے کولے شی۔ او دے سره مسلمانانو کښ د دوباره راپاسیدو همت پیدا کولے شی۔ څنګه چه د وړاندے څو آیتونو نه دا مضمون راروان دے۔ (والله اعلم بالصواب)

دوه حدیثونه

علامه آلوسی رحمه الله د دے آیت په شان نزول کښ د مسند احمد او ترمذی دوه حدیثونه ذکر کړے دی۔ د هغے په ترجمه باندے نظر واچوئ۔

اخرج الامام احمد وجماعة عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الـخ رسول الله ﷺ ووفرمائیل۔ چه کله ستاسو ورونړه په احد کښ قتل شو۔ نو الله تعالیٰ د هغوی روحونه د شنو مرغو په بدنونو کښ داخل کړل۔ هغوی د جنت نهرونو ته ورځی او د جنت میوے خوری او د عرش د لاندے راځوړندو فانوسونو کښ ووسیږی۔ کله چه دوی دا خپل ښکلے مزیدار خوراک څکاک او ووسیدل ووليدل نو هغوی ووئیل چه څوک به زمونږ ورونړو ته خبر یوسی چه مونږ په جنت کښ ژوندی یو او مونږ ته رزق ملاویږی۔ چه (زمونږ ورونړه) جهاد نۀ پریږدی۔ او په

جهاد کښې کمزوری ښکاره نۀ کړی۔ نو الله تعالیٰ ووفرمائیل چه زۀ به ستاسو د طرف نه دا خبره وورسوم بیا دا آیتونه نازل شو۔ (روح المعانی)

واخرج الترمذی وحسنه والحاکم وصححه وغیرهما عن جابر بن عبد الله قال الخ

حضرت جابر بن عبد الله رضی الله تعالیٰ عنهما فرمائی چه ما سره رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه و سلم ملاؤ شو– نو وے فرمائیل چه اے جابره : څۀ چل دے؟ څه تا پریشانه وینم۔ ما عرض ووکړو چه یا رسول الله ﷺ څما پلار شهید شو او قرضه وربانده پاتے ده۔او بچی هم ترے نه پاتے شوے دی۔ رسول الله ﷺ ووفرمائیل چه څۀ تاته خوشخبری درنۀ کړم؟ چه الله تعالیٰ ستا پلار سره څنګه طریقه باندے ملاقات ووکړو۔ما عرض ووکړو چه ضرور راته ووایئ۔نو حضور ﷺ ووفرمائیل چه الله تعالیٰ چه چا سره هم خبرے کړے دی نو د پردے شا ته ئے کړے دی۔خو ستا پلار الله تعالیٰ ژوندے کړو– او بے حجابه ئے ورسره خبرے ووکړے۔او ورته ئے ووفرئیل چه څما بنده ; څما نه ووغواړه چه څه غواړے – څۀ به درکوم۔ هغوی عرض ووکړو چه اے څما ربه ما ژوندے کړه (یعنی دنیا ته مے دوباره ووليږه) چه څۀ دوباره ستا د پاره شهید شم۔رب تعالیٰ ووفرمائیل۔ چه دا فیصله شوے ده– چه دنیا ته به واپسی نۀ کیږی۔دوی عرض ووکړو چه ټیک ده څما ربه ; څما نه ورستو خلقو ته (څما) خبر ووروسوه۔نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل۔ (روح المعانی)

بَلْ اَحْيَآءٌ بلکه شهیدان ژوندی دی۔

د برکت کلام

❶ شهیدانو ته د مرګ نه پس یوه قسمه زندګی حاصله ده۔ چه نورو مړو ته حاصله نۀ ده۔خوراک څکاک او مزه او خوشحالی دے شهیدانو ته پوره حاصله ده۔(د دوی نه علاوه) نورو ته به د قیامت نه پس ملاویږی۔ (موضح القرآن)

❷ (چه کوم خلق د الله تعالیٰ په لاره کښې قتل شی) داسے قتل شوے کس ته شهید وائی۔او د هغۀ په حق کښې داسے وئیل چه دے مړ شو صحیح او جائز خو دی۔خو د دۀ مرګ د نورو مړو په شان ګڼړلو نه منعه شوے ده۔ د دے وجه دا ده چه د مرګ نه پس اګر چه برزخی ژوند خو د هر سړی روح ته حاصل دے۔او هم په دے ژوند سره هغۀ ته د سزا او د جزا پته لګی۔خو شهید ته په دے ژوند کښې د دے مړو نه یو

قسم جدا شان حاصل دے۔او هغه دا دے چه د دهٔ د ژوند آثار د نورو د ژوند نه زیات مضبوط وی۔او په دے کښ د ټولو نه زیات قوی ژوند د پیغمبرانو علیهم السلام دے۔بیا د شهیدانو او بیا د نورو مړو۔ (بیان القرآن)

❸ هغه خلق چه د الله تعالیٰ په لاره کښ قتل کړے شوے دی۔نو دا خیال مهٔ کوئ چه دوی مړهٔ دی۔بلکه هغوی د خپل خدائے سره ژوندی دی۔او دا ژوند څهٔ فرضی ژوند نهٔ دے۔څنګه چه نیک نامه سړی ته خلق ژوندے وائی په دے معنی سره چه په خلقو کښ د ده نوم ژوندے وی۔بلکه شهیدانو ته حقیقی او د همیشه ژوند حاصل دے۔هغوی ته یُرْزَقُوْنَ روزی ملاویږی۔ابو القاسم او نور معتزله وائی چه شهیدانو ته د ژوند ملاویدو مطلب دا دے۔ چه دوی به په قیامت کښ ژوندی کیږی۔ اهل سنت دے خبرے ته غلطه وائی۔ځکه چه الله تعالیٰ دوی ته " احیآء" وئیلے دی۔ چه اوس ژوندی دی۔کومو احادیثو نه چه ثابتیږی چه شهیدان ژوندی دی۔ هغه د تواتر حد ته رسیدلے دی۔صحاح او نور د احادیثو کتابونه د هغے نه ډک دی۔بعضے بے وقوفو د دے نه مجازی معنی مراد اغستے ده۔ چه د دوی نوم ژوندے وی- ځکه چه دوی په قوم او په ملت باندے قربان شوے وی۔خو دا هم یوه فضول خبره ده۔ځکه چه د کلام الله د سیاق و سباق او د احادیثو او د امت د اجماع نه خلاف او باطل تاویل دے۔ (تفسیر عثمانی)

نکته

که چرے صرف دا ووئیلے شی چه د شهید روح ژوندے وی۔نو د عامو مړو روحونه خو هم ژوندی وی۔که ووئیلے شی چه شهید ته حیات برزخی حاصل دے۔نو عامو مړو ته هم حیات برزخی حاصل دے۔بیا فرق څهٔ دے۔چه قرآن بیا بیا مونږ پوهوی۔چه شهید د عامو مړو په شان نهٔ دے۔یعنی په دهٔ کښ او په عامو مړو کښ لوئے فرق دے۔قرآن پاک مونږ پوهوی چه شهید ژوندے دے۔که د دے نه مراد صرف دا وی چه د دهٔ روح ژوندے دے – نو دا کومه داسے خاص خبره ده؟ دا خاص ژوند څهٔ شے دے؟ (چه د قتل کیدو سره داسے سمدستی شروع شی۔لکه چه د دهٔ د دنیا ژوند هډو ختم شوے نهٔ دے) او د دے حقیقت او کیفیت څهٔ دے؟ د دے پوره پیژندل خو د انسان په وس کښ نهٔ دی۔خو بیا هم مفسرینو حضراتو او فقهائے کرامو په دے باندے

تفصيلي خبرے کړے دي۔ دلته کښې د اکابرو هغه بعضے عبارتونه ذکر کړے شوے دي۔ چه په هغے کښې ډیرے بلیغے اشارے موجودے دي۔ صاحب د تفسیر حقاني په دے موقعه د معتزلؤ د مسلک ښۀ تردید کړے دے۔ کوم چه د شهیدانو د ژوند نه منکر دي۔ (والله اعلم بالصواب)

حضرت لاهوري رحمه الله لیکی

چه کوم خلق شهیدان شو هغوی هم دغۀ رنګے د الله تعالیٰ د نعمتونو نه فائده اخلي۔ څنګه چه ژوندي انسانان د نعمتونو نه خوند اخلي۔ (حاشیه دحضرت لاهوري رحمه الله)

فائده

شهیدان ژوندي دي۔ اوالله تعالیٰ ته ډیر نزدے دي۔ هغوی ته رزق ورکیږي۔ په دے خبرو باندے ایمان راوړل ضروري دي۔ دا فضائل د هر رښتوني مسلمان په زړۀ کښې د شهادت د شوق د پیدا کولو د پاره کافي دي۔ او د اد هغه تولو وسوسو جواب دے ۔کومے چه د جهاد په باره کښې دنیا پرست منافقان په هره زمانه کښې خوروي۔ دوی ته شهادت هلاکت ښکاري – ولے چه د دنیا ژوند او د دے نعمتونه د دوی مقصود وي۔ (والله اعلم بالصواب)

عِنْدَ رَبِّهِمْ عندهنا تقتضي غاية القرب(قرطبي)

مقربون عنده ذو و زلفى (کشاف) یعنی شهیدانو ته د الله تعالیٰ په نیز ډیر قرب حاصل دے۔ دوی الله تعالیٰ ته خصوصي طور باندے نزدے دي يُرْزَقُوْنَ دوی ته رزق ورکیږي مثل ما يرزق سائر الاحياء يا كلون ويشربون یعنی څنګه چه تولو ژوندو ته رزق ورکولے شي – هغوی خوري او څښي۔(کشاف) او د رزق ملاویدو کیفیت په صحیح احادیثو کښې راغلے دے۔ چه د دوی روحونه د عرش په فانوسونو کښې ووسیږي۔ او د جنت د نهرونو نه اوبه څښي۔ او د هغے د میوو نه خوراک کوي رواه احمد وابو داؤد والحاكم عن ابن عباس مرفوعاً كذافى لباب النقول څۀ وایم چه دا حصه د نهرونو او میوؤ به د یو داسے ځائے نه ملاویږي۔ چه د هغے به د جنت سره تعلق وي۔ نو دا اشکال نۀ پیدا کیږي۔ چه جنت ته د تلو نه پس به بیا په حشر کښې څنګه راوښکلے کیږي۔ (بیان القرآن)

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۷۰ تا ۱۷۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ

خوشحالیدونکے دی په هغه څه چه دوی ته الله تعالیٰ په خپل فضل سره ورکړے دی۔او خوشحالیږی

لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

په هغے چا چه لا نۀ دي یو ځائے شوے دوی سره د دوی نه وروستو ۔ چه نۀ به په دوی باندے ویره وی ۔

يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ وَّاَنَّ اللّٰهَ

او نۀ به دوی غمژن کیږی۔دوی خوشحالیږی د الله تعالیٰ په نعمت او په فضل باندے او په دے چه

لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۱﴾

یقینا نه ضائعه کوی الله تعالیٰ د مؤمنانو اجر۔

نچوړ

او هغوی یعنی شهیدان خوشحاله دی۔په هغه څیز باندے کوم چه دوی ته الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره ورکړے دے۔ (مثلا د قرب درجات وغیره یعنی رزق حسی (خوراک څکاک) هم ملاویږی او رزق معنوی یعنی خوشحالی هم۔(او څنګه چه هغوی په خپل حال خوشحاله دی۔دغه شان چه کوم خلق اوس هم په دنیا کښې لا ژوندی دی۔او په دے وجه دوی ته لا نۀ دی رسیدلے۔بلکه د دوی نه وروستو په دنیا کښې پاتے شوے دی۔نو دا شهیدان د دغے کسانو په دے حالت هم خوشحالیږی۔چه که چرے دوی هم زمونږ په شان شهیدان شی نو زمونږ په شان به په دوی باندے هم څۀ ویره یعنی څۀ سانحه پیښیدو والا نۀ وی۔او نۀ به دوی څۀ قسمه غمژن وی۔غرض دا چه دوی ته دوه قسمه خوشحالئ حاصلے دی۔خپلے هم او د خپلو متعلقینو هم۔(مخکښې د دے دواړو خوشحالو سبب بنائی) دوی په خپل حالت باندے خوشحاله دی د خدائے پاک د فضل او د نعمت په وجه باندے کوم چه دوی طرف ته متوجه دے۔ او د نورو په حالت باندے هم دوی خوشحالیږی۔په دے وجه چه هلته لاړل نو په خپلو سترګو ئے ولیدل چه الله تعالیٰ د ایمان والاؤ د اعمالو اجر نۀ ضائع کوی۔بلکه د کومے درجے چه عمل وی - د هغے درجے اجر ورکوی۔نو شهادت چه د ټولو عملونو نه غوره عمل دے۔نو په

دے باندے به د تهولو نه غوره اجر ملاویږی۔ او دے سره دا خبره لازمه ده چه هیڅ قسمه ویره او غم به نهٔ وی۔ (بیان القرآن)

جامع او مختصر تفسیر

یعنی په کور کښې په ناسته خو د مرګ نه خلاصے نشته دے۔ دومره ده چه بنده د هغے مرګ نه محرومه شی۔ کوم ته چه د مرګ په ځائے همیشه ژوندون وئیل پکار دی۔ شهیدانو ته د مرګ نه پس یو خاص قسمه ژوند ملاویږی۔ چه نورو مړو ته نهٔ ملاویږی۔ دوی ته د الله تعالی خاص قرب ملاویږی۔ ډیرو لویو درجاتو او مقاماتو ته رسیدلے وی۔ د جنت رزق ورته آزاد رسی۔ څنګه چه مونږ په یو اعلیٰ درجے جهاز کښې کښینو۔ او په ډیر لږ وخت کښې چه کوم خوا غواړو نو والوزو۔ د شهیدانو روحونه د شنو مرغو په بدنونو دننه وی۔ او د جنت سیل کوی۔ د دے شنو مرغو کیفیت خو الله تعالیٰ ته بنهٔ معلوم دے۔ څکه چه د هغه ځائے څیزونه زمونږ په خیال او په تصور کښې کله راتلے شی؟ دغه وخت کښې شهیدان بے حد خوشحاله وی۔ چه الله تعالیٰ په خپل فضل سره د شهادت دولت دوی ته ورکړو۔ او خپل غټ غټ نعمتونه ئے دوی ته ورکړل۔ او په خپل فضل سره ئے په هر هر ساعت کښې د نورونورو نعمتونو د ورکړے سلسله قائمه کړه۔ چه کومے وعدے د پیغمبرانو په ژبه باندے شهیدانو سره شوے وے۔ هغه چه په خپلو سترګو باندے ووینی۔ نو ډیر زیات خوشحالیږی۔ او دا هم ووینی چه الله تعالیٰ د ایماندارو محنت نهٔ ضائع کوی۔ بلکه د خیال او د ګمان نه زیاته بدله ورکوی۔ بیا داسے نهٔ ده– چه دوی صرف په دے خپل حالت باندے خوشحاله وی۔ بلکه چه هغه مسلمانان ورونړه ئے خیال کښې راشی۔ کوم چه د دوی نه وروستو په جهاد فی سبیل الله کښې یا د خیر په نورو کارونو کښې مشغول وی۔ نو په هغے باندے هم دوی ته خوشحالی ملاویږی۔ چه که دوی هم دغه شان د الله تعالیٰ په لاره کښې ووژلے شو۔ یا کم ازکم د ایمان په حالت کښې مړهٔ شول۔ نو د خپل حیثیت مطابق به دغه شان د مزو نه ډکه او د ویرے نه پاکه زندګی تیروی۔ نهٔ به ورسره د مخکښې د پاره څهٔ ویره وی۔ او نهٔ به وروستو په څهٔ پسے غمژن وی۔ بنهٔ په امن او اطمینان سره به نیغ د الله تعالیٰ په رحمت کښې داخل شی۔ په بعضے روایتونو کښې دی۔ چه د احد یا د بئر معونه شهیدان چه خدائے پاک ته وورسیدل۔ نو تمنا ئے کړے وه۔ چه کاش چه زمونږ د دے مزو چرچو نه زمونږ

ورونړه څوک خبر کړي. چه هغوی هم دے شهادت والا ژوند طرف ته راتوپ کړي.او ځان د جهاد نه بچ وونۀ ساتي.نو حق تعالیٰ ووفرمائیل چه څۀ به دا خبره ورووړسوم.په دے باندے دا آیتونه نازل شو.او هغوی خبر کړے شو. چه ستاسو د تمنا موافق مونږ خبر وورسولو. په دے باندے هغوی نور هم خوشحاله شو. (تفسیر عثمانی)

اقوال او حوالے

❶ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ

(او د وروستو پاتے شوے خلقو په باره کښې هم دوی خوشحالیږی.)

☆ قال السدی : یؤتی الشهید بکتاب فیه ذکر من یقدم علیه من اخوانه فیستبشر کما یستبشر اهل الغائب بقدومه (قرطبی)

سدی رحمه الله فرمائی چه شهید ته یو فهرست ورکړے شي. چه په هغے کښې د دۀ د هغه ورونړو یعنی مسلمانانو نومونه وی. کوم چه دۀ ته رارسیدونکے وی.(یعنی شهید کیدونکے وی)نو دے داسے خوشحاله شي.لکه ورک شوے سړے چه کور ته راشي.او د هغۀ کور والا خوشحاله شي.

☆ وقال قتادة وابن جریج والربیع وغیرهم:استبشارهم بانهم یقولون :اخواننا الذین ترکنا خلفنافی الدنیا یقاتلون فی سبیل الله مع نبیهم فیستشهدون فینا لون من الکرامة مثل مانحن فیه فیسرون ویفرحون لهم بذلک (قرطبی). (قرطبی)

یعنی د دوی د خوشحالئ وجه دا ده. چه دوی وائی زمونږ چه کوم ورونړه په جهاد کښې مشغول دی. هغوی به هم شهیدان شي نوداسے انعامونه به ورته ملاؤ شي.

☆ وقیل ان الاشارة بالا ستبشار للذین لم یلحقوا بهم الی جمیع المومنین وان لم یقتلوا الخ (قرطبی)

یعنی یوقول دا دے چه دوی به د ځان نه وروستو د ټولو مسلمانانو په باره کښې خوشحاله وی که شهیدان وی که نۀ وی.ولے چه دوی د الله تعالیٰ د طرف نه انعامات حاصل کړی.نو د دین اسلام په حقانیت به ورته عین الیقین حاصل شي.

☆ وقال سعید بن جبیر رحمه الله لما دخلوا الجنة ورأوا مافیها من الکرامة للشهداء قالو......الخ.

حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمائی۔ چه شهیدان کله جنت ته داخل شو۔او هغوی په دے کښ د شهیدانو اکرام او اعزاز ولیدهٔ۔نو وے وئیل چه کاش چه دنیا کښ پاتے شوے زمونږ ورونړو ته هم د دے اعزاز او اکرام پته ولگی۔ چه هغوی هم جهاد ته لاړ شی او په جنگ کښ حصه واخلی او شهیدان شی۔او زمونږ په شان اعزاز او اکرام وومومی۔ نو الله تعالیٰ خپل نبی پاک ﷺ ته د دوی خبره راؤ رسوله۔بیائے هغوی ته ووفرمائیل چه مونږ ستاسو د دے موجوده حالت خبر (ستاسو ورونړو ته) وورسولو۔په دے باندے شهیدان خوشحاله شو۔(یعنی پاتے شوے خلقو ته خبر رسیدو باندے دوی ته خوشحالی ملاؤ شوه)په دے آیت کښ د دے خبرے ذکر دے۔(تفسیر ابن کثیر)

❷ هغے شهیدانو ته هلته کښ هر وخت د خدائے پاک په بے شمیره نعمتونو ملاویدو باندے خوشحالی وی۔او چه کوم خلق د دوی په رشته دارو کښ یا په دوستانو کښ لا ژوندی دی۔او دے شهیدانو ته د هغوی په باره کښ فکر دے۔ چه پته نشته دے چه هغوی به څنگه عملونه کوی۔او چه مړهٔ شی نو چه کوم خوا به ځی۔لکه څنگه چه یو مسافر په سخته او خطرناکه لاره باندے لاړ شی۔او خپل مقام ته وورسی۔کوم ځائے چه هغهٔ ته هر قسمه آرام وی۔او د دهٔ تعلق دار خلق وروستو پاتے وی۔او دهٔ سره فکر وی۔ چه دوی به دا مزل څنگه کوی۔نو دے شهیدانو ته هلته زیرے واؤرولے شو۔ چه ستاسو په برکت سره په هغوی باندے هم څهٔ غم او فکر نشته دے۔ هغوی هم تاسو له راروان دی۔دغه روحانی دنیا کښ دغه ژوندو شهیدانو ته د دنیا علم هم وی او شوق هم۔دا زیرے هم ورته اوورولے کیږی۔ چه الله تعالیٰ د مؤمنانو دینی اجر نهٔ ضائع کوی۔تاسو خپله نوکری پوره کړے ده۔اوس په تاسو باندے رحمت دے۔ (تفسیر حقانی)

❸ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللهِ وَفَضْلٍ دوی د الله تعالیٰ په فضل او نعمت باندے خوشحالیږی۔د حضراتو مفسرینو په نیز د نعمت نه مراد د دوی د اعمالو اجر– جنت– مغفرت وغیره او د فضل نه مراد د خپل حق نه زیات انعامات دی۔ (چه هغه صرف الله تعالیٰ پیژنی)

☆ ای بجنة من الله ویقال: بمغفرة من الله وفضل هذا لزیادة البیان والفضل داخل فی النعمة،وفیه دلیل علی اتساعها وانها لیست کنعم الدنیا (قرطبی)

نعمت دا دے چه اجر دوی ته پوره پوره ملاویږی۔ ای ثوابا لاعمالهم (بیضاوی) فضل

دا چه انعام او اکرام ورته د خپل حق نه ډیر زیات ملاؤ شو۔ ای زیادة علیه(بیضاوی) (تفسیر ماجدی)

یو حدیث شریف

امام قرطبی رحمه الله د نعمت او د فضل تفسیر د دے حدیث پاک نه فرمائیلے دے۔

عن المقدام بن معدی کرب قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم للشهیدعند الله ست خصال.یغفرله فی اول دفعةٍ ویری مقعده من الجنة ویجار من عذاب القبر ویأ من الفزع الاکبر ویو ضع علی راسه تاج الوقار الیاقوتة منها خیر من الدنیا وما فیها ویزوج اثنتین وسبعین زوجة من الحور العین ویشفع فی سبعین من اقاربه (قرطبی)

رسول الله ﷺ ارشاد ووفرمائیلو۔ د شهید د پاره د الله تعالیٰ په نیز شپږ انعامات دی۔ په اولنی وخت کښ د دهٔ بخښنه ووشی۔ هغه په جنت کښ خپله ټکانه وینی۔ دے د عذاب قبر نه بچ کړے شی۔ او دے د (قیامت د ورځے د) لوئے ویرے نه په امن کښ وی۔ او د دهٔ په سر باندے د وقار تاج کیخودے شی۔ چه د هغے یوه ملغلره د دنیا او په دنیا کښ چه څهٔ دی د دے نه بهتره ده۔ او دوهٔ اویا حورو سره د دهٔ نکاح اوکړے شی۔ او د دهٔ په رشته دارو کښ د اویاؤ کسانو په حق کښ د دهٔ سفارش قبلولے شی۔ د ترمذی د دے روایت ذکر کولو نه پس امام قرطبی رحمه الله لیکی۔

وهذا تفسیر للنعمة والفضل والأثار فی هذا المعنیٰ کثیرة وروی عن مجاهد انه قال السیوف مفاتیح الجنة (قرطبی)

دا دے د نعمت او د فضل تفسیر او د دے باره کښ آثار ډیر زیات دی۔ د مجاهد رحمه الله باره کښ راځی چه دوی ووفرمائیل چه تورے د جنت چابیانے دی۔ (قرطبی)


دعاء

اللهم یا ربنا یا ربنا یا ربنا یا ربنا یا ربنا ارزقنا شهادة فی سبیلک.



.... د سوره ال عمران آیت ۱۷۲ نه تر ۱۷۵ پورے آیتونو ....

مضامینو تعلق د حمرآء الاسد د غزا سره او د بدر موعد غزا سره دے۔
په ددے وجه د دے مبارکو آیتونو د تفسیر د لوستو نه مخکښ د دے
.... دواړو غزاګانو لږ غوندے ذکر باندے نظر واچوئ۔ ....



.... د سوره ال عمران آیت ۱۷۲ نه تر ۱۷۵ پورے آیتونو ....
مضامینو تعلق د حمراء الاسد دغزا سره او د بدر موعد غزا سره دے۔
په ددے وجه د دے مبارکو آیتونو د تفسیر د لوستو نه مخکښ د دے
.... دواړو غزاګانو لږ غوندے ذکر باندے نظر واچوئ۔ ....

د حمرآء الاسد غزا

۱۶ شوال د اتوار ورځ ۳ھ

قریش چه کله د احد د جنګ نه واپس شو۔ او د مدینے نه لاړل۔ او مقام روحاء کښ ایسار شو۔ نو دا خیال ئے راغے چه کار نیمګړے پاتے شو۔ چه کله مونږ د محمد ﷺ ډیر شے اصحاب قتل کړل۔ او ډیر مو زخمیان کړل۔ نو بهتره دا ده چه واپس شو۔ او په مدینه په یو ځل حمله کول پکاردی۔ مسلمانان دے وخت کښ ډیر کمزورے او زخمیان دی۔ او د مقابلے طاقت به اونۀ لرلے شی۔ صفوان بن امیه اووے چه بهتره دا ده چه مکے ته واپس لاړ شو۔ د محمد ﷺ اصحاب د جوش نه ډک شوے دی۔ کیدے شی چه په دویمه حمله کښ تاسو ته کامیابی وونۀ شی۔

۱۵ شوال د خالی په ورځ مابنام قریش مقام روحاء ته راؤرسیدل۔ او د اتوار په شپه دا خبرے اترے ووشوے۔ د اتوار شپه لا نۀ وه تیره شوے۔ چه د رسول الله ﷺ مخبر د صبح صادق په وخت کښ د دے اطلاع ووکړه۔ رسول الله ﷺ هم په دغه وخت حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه وولیږۀ– او په توله مدینه کښ ئے پرے آواز وولګولو۔ چه د خروج د پاره تیار شئ۔ او صرف هغه خلق دے مونږ سره لاړ شی چه د احد په غزا کښ شریک وو۔ جابر بن عبد الله رضی الله تعالیٰ عنه حاضر شو او عرض ئے ووکړو۔ چه یا رسول الله ﷺ ځما پلار د احد په غزا کښ شهید شو۔ ځۀ د خویندو د خبر ګیرئ د وجے نه شریک نۀ شوم– اوس ځۀ تاسو سره د تللو اجازت

غواړم۔ دوی ورته د تللو اجازت ورکړو۔ د دے خروج نه د دوی مقصد دا وو۔ چه د شمن دا وونۀ ګنړی چه مسلمانان کمزورے شوے دی۔ با وجو د د ے نه چه اصحاب کمزورے او ډیر سخت زخمیان وو- او یوه شپه ئے هم آرام نۀ وو کړے۔ چه د پیغمبر علیه السلام په یو آواز باندے بیاراووتل۔

رشتــــــه در گـــــردنـــم افـــگـــنـــده دوســـت

مـــی بـــرد هـــر جـــاکـــه خـــاطـــر خـــو اه اوســت

پیـغـمبر عـلیه السلام په ۱٦ شوال د اتوار په ورځ د مدینے نه روان شو۔ او په حمراء الاسد کښې ئے قیام ووفرمائیلو۔ چه د مدینے نه تقریبا لس- اتۀ میله فاصلے باندے دے۔ دوی په حمراء الاسد کښې ډیره وو۔ چه د خزاعه قبیلے سردار معبد خزاعی چه د احد د شکست خبرئے اوریدلے وو۔ د تعزیت په غرض د دوی په خدمت کښې حاضر شو او د دوی د هغے اصحابو تعزیت ئے ووکړو۔ چه احد کښې شهیدان شوے وو۔ معبد چه د دوی نه رخصت شو نو ابو سفیان ته لاړو او هغۀ سره ملاو شو۔ ابو سفیان خپل خیال ظاهر کړو چه څما اراده ده -چه په مدینے باندے دو باره حمله ووکړم - معبد ورته اووے چه محمد ﷺ خو ډیره عظیم الشانه ډله ستاسو د مقابلے او تاسو پسے د تللو د پاره راخستے ده۔ او راووتے دی۔ ابو سفیان د دے اوریدو سره مکے ته واپس شو۔ رسول الله ﷺ درے ورځے ایسار شو او د جمعے په ورځ ئے مدینے ته تشریف راوړو۔

هم د دے باره کښې الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔

الذین استجابوا لله والرسول من بعد ما اصابهم القرح للذین احسنوا منهم واتقوا اجر عظیم. (آل عمران آیت . ۱۷۲)

چه کومو خلقو د الله او د هغۀ د رسول خبره وومنله پس د هغے نه چه دوی ته زخم رسیدلے وو۔ نو د داسے نیکو کارو او پرهیزګارو د پاره اجر عظیم دے۔

(فتح الباری ص۳۸۷ ج۷ (باب قول الله عز وجل الذین استجابوا لله والرسول) البدایه والنهایه ص ۴۸ ج۴ زرقانی ص۵۹ ج۲ ماخوذ از سیرت مصطفی ﷺ -مؤلفه حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی)



د بدر موعد غزا

شعبان ۴ھ

د ذات الرقاع د غزا نه د واپسئ نه پس آخر رجبه پورے پیغمبر علیه السلام مدینه منوره کښې ديره وو۔ د احد نه د واپسئ په وخت چونکه د ابوسفيان سره وعده شوے وه۔ چه کال له به په بدر کښې جنګ وی۔ د دے وجے نه رسول الله ﷺ پنځلس سوه (۱۵۰۰) صحابه رضی الله تعالیٰ عنهم د ځان سره واخستل۔ اود شعبان په میاشت کښې بدر ته روان شو۔ بدر ته چه وورسیدل نو اتۀ ورځے ئے د ابوسفيان انتظار ووکړو۔ ابوسفیان هم د مکے خلق واخستل۔ او مرالظهران پورے راغے – خود مقابلے همت ئے وونۀ شو۔ او دے وئیلو سره واپس شو۔ چه دا کال د قحط او د ګرانئ دے۔ د جنګ جګړے نۀ دے۔ رسول الله ﷺ د اتوورځود انتظار نه پس چه کله د مقابلے نه نااميده شو۔ نو بغير جنګ جګړے مدينے ته واپس شو۔ (ابن هشام ج ۴۔ ص ۱۳۶)


ابو سفیان اګر چه د احد نه د واپسئ په وخت کښې دا وئيلے وو۔ چه کال له به بيا په بدر کښې جنګ وی خو دننه د ابو سفیان زړۀ مرعوب وو۔ د زړۀ نه ئے دا غوښتله۔ چه حضور پرنور ﷺ هم بدر ته رانۀ شی۔ چه ماته پښيمانتيا او شرمندګی وونۀ شی۔ او الزام په مسلمانانو پاتے شی۔ نعيم بن مسعود نومے يو سړے مدينے ته روان وو۔ دۀ ته ئے مال ورکړو –(او ورته ئے اووے) چه مدينے ته وورسے نو مسلمانانو کښې مشهوره کړه۔ چه د مکے خلقو د مسلمانانو د جړے ويستلو د پاره يو لوئے فوج راجمع کړے دے۔ نو د دے وجے نه ستاسو د پاره بهتره هم دا ده۔ چه تاسو د قريشو د مقابلے د پاره مۀ ووځئ۔ (د ابو سفیان مقصد دا وو چه کله دا قسمه خبرونه مشهور شی نو مسلمانان به وويريږی۔ او د جنګ د پاره به راوونۀ ځی۔ چه دے ته د نن صبا په اصطلاح کښې پروپيګنډه وائی۔ د دے اوريدو سره د مسلمانانو ايمانی جوش نور هم زيات شو۔ او حسبنا الله ونعم الوکيل وئيلو سره بدر ته روان شو۔ او د وعدے مطابق بدر ته وورسيدل۔ هلته به يو لوئے بازار لګيدۀ - درے ورځے ايسار شو – تجارت ئے اوکړو۔ او ښۀ ګټه ئے اوکړه۔ او خير او برکت سره مدينے ته واپس شو۔ په دے باره کښې دا آيت نازل شو۔

الـذيـن استـجابوا لله والرسول من بعد ما اصابهم القرح للذين احسنوا منهم واتقوا اجر عظيم○ الـذيـن قال لهم الناس ان الناس قد جمعوا لكم فاخشوهم فزادهم ايمانا وقالوا حسبنـا الله ونعم الوكيل ○ فـانـقـلـبـوا بـنـعمة من الله وفضل لم يمسسهم سوء واتبعوا رضوان الله والله ذو فضل عظيم ○ انـمـا ذلـكـم الشيـطان يخوف اولياءه فلا تخافوهم وخافون ان كنتم مؤمنين. (سورۂ آل عمران آیت ۱۷۲-۱۷۳-۱۷۴-۱۷۵)

❶ د علامه ابن حجر د وضاحت مطابق دا نعيم بن مسعود وروستو مسلمان شوے دے۔ (رضی الله عنه) (فتح الباری ج۹۔ص ۹۷)

فائده

په دے آیت کښ د دروغو خبر خوروونکی ته الله جل شانه شیطان وئیلے دے۔ انما ذلكم الشيطان يخوف اولياءه او اللـه تـعـالی د پروپیگنډے علاج او جواب دا ښودلے دے۔ چه تاسو د خپـل طاقت مطابق د جهاد او قتال تیاری ووکړئ۔ او حسبنا الله ونعم الوكيل وايئ۔ او اللـه تعالیٰ باندے بهروسه ساتئ۔ معاذ الله دا مهٔ کوئ۔ چه د شیطان پـه شان تاسو هـم د خپـلـو د شـمـنـانو متعلق دروغ خبرونـه خورول شروع کړئ۔ د دروغـوجـواب پـه ریښتیا وئیلو سره ووکړئ۔ معاذالله که تاسو هم د دروغو جواب په دروغـو سـره ووکـړئ۔ نـو بیـا فـائـده څهٔ ووشوه۔ اسلام د خپلو دشمنانو متعلق هم د دروغو وئیلو اجازت نهٔ کوی۔ (ماخوذ از سیرت مصطفیٰ ﷺ حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله)



سُوۡرَةُ اٰلِ عِمۡرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۷۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلَّذِيۡنَ اسۡتَجَابُوۡا لِلّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ مِنۡۢ بَعۡدِ مَاۤ اَصَابَهُمُ الۡقَرۡحُ ؕ

چه کومو خلقو حکم وومنلو د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول ـ پس د هغے نه چه دوی ته زخم

لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوۡا مِنۡهُمۡ وَاتَّقَوۡا اَجۡرٌ عَظِيۡمٌ ۞ (۱۷۲)

رسیدلے وو۔ دے نیکانو او پرهیزګارو د پاره لوئے اجر دے۔

نچوړ

داحد د غزا نه پس چه کومو خلقو په زخمی حالت کښی د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ حکم وومنلو۔ او د جهاد د پاره ووتل۔ د دے نیکانو او پرهیزګارو خلقو د پاره ډیر لوئے اجر دے۔

شان نزول

د اکثرو مفسرینو حضراتو په نیز دا آیت د حمراء الاسد د غزا د مجاهدینو په شان کښی نازل شوے دے

علامه قرطبی رحمه الله دا د جمهورو قول ګڼړلے دے ـ هذا تفسير الجمهور لهٰذه الآية (قرطبی)

خو بعضے مفسرینو حضراتو دا آیتونه د بدر صغریٰ سره تړلے دی ـ امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه دا د مجاهد او عکرمه رحمهما الله قول دے ـ

و شذ مجاهد وعكرمه رحمهما الله تعالىٰ فقالا : ان هذه الآية انما نزلت في خروج النبي ﷺ الى بدر الصغرىٰ (قرطبی)

حضرت شاه عبد القادر رحمه الله هم دغه قول غوره فرمائیلے دے ـ په دے وجه هغوی لیکی :ـ

کله چه د احد جنګ فتحه شو ـ نو ابوسفیان چه د کافرانو سردار وو۔ او وے چه را روان کال له به په بدر کښی بیا جنګ وی ـ او پیغمبر علیه السلام قبوله کړه ـ مخے کال له پیغمبر علیه السلام خلقو ته جنګ له د تلو حکم ورکړو ـ نو په دغه وخت کښی چه چا ملګرتیا ووکړه او تیار شو نو هغوی ته زیرے دے ځکه چه د بیلات نه پس ئے زړورتیا

ووکړه (موضح القرآن)

د امام رازی رحمه الله عجیبه تحقیق

امام رازی رحمه الله دا آیتونه خان خان له کړی دی ـ دهغوی په نیز دا آیت ۱۷۲ د حمراء الاسد د غزا سره تعلق لري ـ اما غزوة حمراء الاسد فهي المراد من هذه الآية (تفسير كبير) اوراتلونکی آیتونه ۱۷۳، ۱۷۴ د بدر صغریٰ د غزا په باره کښې دی (تفسیر کبیر)

د شان نزول اقوال او واقعات

❶ عن عروة بن الزبير قال: قالت لي عائشة رضي الله عنها كان ابوك من الذين استجابوا لله والرسول من بعدما اصابهم القرح (قرطبی)

حضرت عروه بن زبیر رضی الله تعالیٰ عنه بیان کوی۔ چه ماته حضرت عائشے رضی الله تعالیٰ عنها ووفرمائیل۔ چه ستا پلار هم په هغه خلقو کښې وو۔ چا چه د دے آیت مطابق په زخمی حالت کښې د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ حکم ومنلو۔

❷ فانتدب ابو بكر والزبير في سبعين. (قرطبی)

یعنی د پیغمبر علیه السلام په دعوت باندے سره د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه او دحضرت زبیر رضی الله عنه اوویا کسان راووتل

❸ استنفر الرسول لطلب الكفار فاستجاب له تسعون (البحر المحيط)

یعنی حضور پاک ﷺ حکم ووکړو د کفارو د رانیولو دپاره د وتلو– نو لس کم سلو(۹۰) کسانو فورا لبیک ووئیلو۔

❹ لما كان في يوم الأحد وهو الثاني من يوم احد نادى رسول الله صلى الله عليه وسلم في الناس باتباع المشركين وقال لايخرج معنا الا من شهدها بالامس فنهض معه مأتا رجل من المومنين. (قرطبی)

کله چه د اتوار ورځ راغله یعنی د احد د ورځے نه وروستو ورځ نو حضور پاک ﷺ د مشرکانو د رانیولو د پاره صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم ته آواز ووکړو۔او وے فرمائیل چه مونږ سره به صرف هغه خلق ځی چه مونږ سره پرون جنګ کښې شریک وو۔دے اوریدو سره دوه سوه کسان د دوی سره روان شو۔(تعداد کښې اختلاف دے– زیات مضبوط قول اویا کسانو والا دے۔خو په سیرت حلبیه کښې

لیکلے دي چه هغه تول صحابه کرام رضی الله عنهم چه د احد په غزا کښې شریک شوے وو۔او شهیدان شوے نۀ وو– د حمراء الاسد غزا ته ووتل)

یو عجیبه واقعه

❺ وقیل ان الایة نزلت فی رجلین من بنی عبدالاشهل کانا مثخنین بالجراح یتوکأ احد هماعلی صاحبه الخ. (قرطبی)

یعنی یو قول دا دے چه دا آیت د قبیله بني عبدالاشهل د دواؤ کسانو باره کښې نازل شو۔دا دواړه د زخمونو د وجهے نه په وینو کښې لیت پیت وو۔خو د نبی کریم ﷺ په بلنے حمرآء الاسد ته داسے ووتل۔ چه دواړه د یو بل په سهارے سره تلل۔

❻ یو نا شنا قول

قال ابوبکر الاصم: نزلت هذه الایة في یوم احد الخ. یعنی د ابو بکر الاصم رحمه الله قول دے۔ چه دا آیت په خپله د احد د غزا په باره کښې دے۔ چه کله مشرکانو فتحه حاصله کړه۔نو نبی اکرم ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته آواز ووکړو۔زخمي صحابه راجمع شو۔ او دوباره ئے حمله ووکړه۔او مشرکان ئے ووتختول۔ التفسیر الکبیر)

❼ په جهاد کښې د وتلو تماشه

امام رازی رحمه الله لیکی۔

وروی انه کان فیهم من یحمل صاحبه علی عنقه ساعة ثم کان المحمول یحمل الحامل ساعة أخری و کان کل ذلک لاثخان الجراحات فیهم و کان فیهم من یتوکأ علی صاحبه ساعة ویتو کأ علیه صاحبه ساعة (تفسیر الکبیر)

یعنی روایت دے چه د حمراء الاسد په غزا کښې په وتونکو صحابه کرامو کښې بعضے په دے حالت کښې وو۔ چه یو ملګری به بل ملګرے څۀ وخته پورے راووچت کړے وو او روان به وو– بیا به لږ وخت د پاره دے بل کس خپل ملګرے راووچت کړو۔او روان به وو۔(یعنی په نمبر نمبر به ئے یو بل ووچتول)او د یو بل په زور به تلل۔ د دے وجهے نه چه دوی ډیر زیات زخمي وو۔

❽ فربما کان فیهم المثقل بالجراح لایستطیع المشي ولا یجد مرکوبا فربما یحمل علی الاعناق و کل ذلک امتثال لامر رسول الله صلی الله علیه وسلم ورغبة فی الجهاد (قرطبی)

په دے صحابه کرامو رضي الله تعالیٰ عنهم کښې ډیر کسان د زخمونو د لاسه بے دمه وو۔نۀ دوی په خپله تلے شو۔او نۀ دوی سره سورلی وه۔بعضے وختونه دوی په

اوګو باندے ووچت کړے شوے دی او بوتللے شوے دی۔ دا ټول هر څۀ د رسول الله ﷺ په فرمان بردارئ او د جهاد په شوق کښ زغملے کیدل۔

لغت

استجابو بمعنیٰ اجابوا دے او احسنوا منهم کښ من د تبعیض د پاره نۀ دے۔د تبیین د پاره دے۔ځکه چه دا ټول محسنان او متقیان وو۔

"استجاب بمعنیٰ اجاب. قال صاحب الکشاف من" فی قوله للذین احسنو منهم للتبیین لان الذین استجابوا لله والرسول قد احسنوا واتقوا کلهم لا بعضم. (تفسیر کبیر)



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۷۳،۱۷۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ

هغه کسان چه خلقو ورته اووے۔چه خلقو ستاسو د مقابلے د پاره ډیر تیارے کړے دے۔نو تاسو د هغوی نه

فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ۖ وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانْقَلَبُوْا

ووېرېږئ۔نو د دوی ایمان نور هم زیات شو۔او وے وئیل چه زمونږ د پاره الله کافی دے او هغه بهترین کار ساز

بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ ۙ وَّاتَّبَعُوْا

دے۔بیا مسلمانان د الله د نعمت او د فضل سره واپس شو چه دوی ته څۀ تکلیف وونۀ رسیدۀ۔او دوی د الله

رِضْوَانَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾

تعالیٰ په رضا پسے وولګیدل – او الله تعالیٰ د لوئے فضل خاوند دے۔

نچوړ

په زخمی حالت کښې جهاد له تلو والا دا خلق داسے مخلصان او بهادر دی –چه کله دوی تـه اووئیلے شو چه دشمنانو ستاسو خلاف ښۀ تیارے کړے دے –او د جنګ ډیر سامان ئے راجمع کړے دے –نوتاسو ووېرېږئ– نو چه دا ئے واورېدل نو د دوی ایمان نور هم زیات شو –او دوی اووے حسبنا الله ونعم الوکیل.

زمـونږ د مـدد دپاره الـلـه تعالی کافی دے او هغه بهترین کارساز دے–بیا دا خلق د جنګ د میـدان نـه دالـلـه تعالی د نعمتونو او د هغۀ د فضل نه ډکے جولۍ سره ټیک ټاک واپس راغلل –دوی ته هیڅ تکلیف اونۀ رسیدۀ –او دوی د الله تعالی د رضا تابع وو او الله تعالی لوئے فضل والا دے –

اقوال او حوالے

که د حمراء الاسد غزا وی او که د بدر صغری غزا (دوئمه)

د مشـرکـانـو سـردار "ابـو سـفـیـان" د مسلمانانو خلاف د جنګ یوه موثره طریقه اختیار کړه۔ دۀ د حمرآء الاسد په موقعه باندے څۀ بانډیچیان مسافر او د بدر صغریٰ په موقعه باندے نعیم بن مسعود ثقفی په پیسو باندے واغیشتل۔او د دوی په ذمه ئے

دا کار وولګولو چه دوی دے مسلمانان د مکے دمشرکانو نه وو یروی۔ په اصل کښں په احد کښں چه ابو سفیان ته کومه فتحه ملاؤ شوے وه۔ دا هغهٔ ښهٔ پیژنده چه دا یو اتفاقی فتحه ده۔ هغهٔ د احد په ورځ هم د جنګ په شروع او په آخر کښں د مسلمانانو مجاهدینو جانبازی – سرور کول او لیونتوب لیدلے وو۔ اوس د دهٔ د زړهٔ نه د مقابلے همت وتلے وو۔ د دے وجے نه دهٔ د کرائے کسان بهرتی کړل۔ چه مسلمانانو ته لاړ شی او د کافرانو د طاقت نه ئے مرعوبه کړی۔ او داسے خبرے خورے کړی چه مسلمانان وویرېږی۔ او هلو د دوی مقابلے ته رانهٔ شی۔ نو د دے وجے نه دا کسان راغلل او د مسلمانانو د ویرولوئے ښهٔ پوره کوشش اوکړو۔ خو د دوی هر تدبیر وولتهه شو او د دوی خبرو سره د مخلصو مسلمانانو جذبه نوره هم زیاته شوه او هغوی د حسبنا الله ونعم الوکیل مستانه آواز وولګولو او میدان ته راغلل۔ (والله اعلم بالصواب)

تدبیر ناکامه شو

❷ فقدم علی رسول الله صلی الله علیه وسلم وافزع الناس وخوفهم اللقاء فقال الرسول صلی الله علیه وسلم والذی نفسی بیده لاخرجن ولووحدی فاما الجبان فرجع واما الشجاع فتجهز للقتال وقال: حسبنا الله ونعم الوکیل. (البحر المحیط)

یعنی ابو نعیم اشجعی لس اوښان د معاوضے په طور باندے واخیستل۔ او رسول الله ﷺ ته راغے او خلق ئے د جنګ نه ویرول شروع کړل۔ په دے باندے رسول الله ﷺ ووفرمائیل چه په هغے ذات مے دے قسم وی – چه د چا په قبضه کښں زما ساه ده۔ ځهٔ به ضرور د جهاد د پاره ووځم اګر که ځهٔ ځان له ووځم۔ نو کوم چه بزدله وو هغوی د ویرے د وجے نه بند شو۔ او چه کوم بهادر وو هغوی د تلو د پاره تیار شو۔ او دوی وو ے۔ حسبنا الله ونعم الوکیل.

عجیبه نکته

که چرے چا ته د ځان فکر وی۔ او د دهٔ په نیز په دنیا کښں ژوندے ووسیدل او مزے کول د تولو نه اهم کار وی۔ نو هغه خامخا چه د دشمن د طاقت په باره کښں واؤری نو ویرېږی۔ خو چه د چا مقصود د الله تعالیٰ رضا وی او د دین ووچتوالے وی نو دوی چه د دین اسلام د دشمنانو د طاقت واوری نو نوره ډیره زیاته غصه ورته راځی۔ ځکه چه د اسلام د دشمنانو طاقتور کیدل د دین د سربلندئ د پاره خطرناک دی۔ نو دغه وخت کښں د دهٔ ایمانی غیرت جوش کښں راځی۔ او دے د الله تعالیٰ د دشمنانو سره د جنګ

د پاره بے تابه شي۔ (والله اعلم بالصواب)

نکته

چا ته چه د دنیا زندګی هر څۀ په نظر راځي۔ دۀ ته چه کله ووئیلے شي چه طاقتور د شمنان د حملے د پاره راروان دي۔ نو هغه وویریږي۔ ځکه چه دۀ ته د خپلے دنیا د زندګۍ د ختمیدو خطره وي۔ خو چه کوم کس د الله تعالیٰ سره د ملاقات د پاره لیواله وي۔ او چه د چا په زړۀ کښې د شهادت شوق توپونه وهي۔ داسے کس ته چه کله ووئیلے شي۔ نو الله تعالیٰ سره د ملاقات په شوق او تیارئ کښې د دۀ ایمان نور هم زیات شي۔ (والله اعلم بالصواب)

۳ د برکت کلام:

ابو سفیان غوښتل چه حضرت د وعدے مطابق رانۀ شي۔ نو الزام به په دوی باندے پاتے شي۔ او د جنګ نه یو سړے وویریدو او مدینے طرف ته تلو۔ هغۀ ته ئے څۀ ورکړل۔ (یعني څۀ مال ئے ورکړو) چه هلته د دوی د طرف نه داسے خبرونه بیان کړي چه مسلمانان وویریږي او جنګ ته رانۀ شي۔ دا سړے مدینے ته لاړۀ – او هلته ئے ووئیل چه د مکے خلقو ډیره لویه ډله تیاره کړے ده او ستاسو د پاره جنګ بهتر نۀ دے۔ مسلمانانو ته حق تعالیٰ استقلال ورکړو او دوی هم دا ووئیل چه زمونږ د پاره بس الله کافي دے۔ آخر بدر ته لاړل او درے ورځے دیره وو – او ښۀ تجارت ئے ووکړو او ښۀ ګټه ئے ووکړه او واپس راغلل۔ (موضح القرآن)

۴ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ یعني پیغمبر علیه السلام ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم ووئیل۔ حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ

روی البخاری رحمه الله عن ابن عباس رضي الله تعالیٰ عنهما قال في قوله تعالیٰ الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ الی قوله وَقَالُوا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ قال ابراهیم الخلیل علیه السلام حین اُلقي في النار وقالها محمد صلی الله علیه وسلم حین قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ (والله اعلم)

یعني بخاري رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت کړے دے۔ چه دوی د دے آیت باره کښې ووفرمائیل چه۔ حسبنا الله ونعم الوکیل. هغه کلمه ده چه ابراهیم خلیل الله ووئیله کله چه دے اوور ته ووغورزولے شو۔ او حضرت محمد ﷺ ووئیله کله چه

دوی تـه ووئیلے شو چه د مکے مشرکانو ستاسوﷺ خلاف ښهٔ تیاری کړے ده۔ واللہ اعلم (قرطبی)

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال :رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا وقعتم فی الامر العظیم فقولوا ! حسبنا الله ونعم الوکیل (ابن کثیر)

حضـرت ابو هـریـره رضـی اللـه عـنـه بیـان کوی چـه رسول اللـهﷺ ارشاد ووفـرمـائیـلـو- چـه کـلـه تـهٔ په یوه لویه معامله کښ پریوځے نو ووایه حسبنا الله ونعم الوکیل. امام ابـن کثیـر رحمـه اللـه په خپل تفسیر کښ د حسبنا الله ونعم الوکیل. په فضائیلو باندے نور زیات روایات ذکر فرمائیلے دی - هلته ئے ووګورئ۔

"واخـرج ابن ابی الدنیا عن عائشه رضی الله تعالیٰ عنها ان النبی صلی الله علیه وسلم کان اذا اشتـد غـمـه مسح بیده علی رأسه ولحیته ثم تنفس الصعداء وقال: حسبی الله ونعم الوکیل. (روح المعانی)

حضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالیٰ عنها فرمائی چه کله به رسول کریمﷺ تـه څـهٔ سخت غم وورسیدو۔نو دوی به په سر او په ګیره مبارکه باندے لاس راښکو او وورږده ساه به ئے واخستله او وو به ئے فرمائیل۔ (حسبی الله ونعم الوکیل)

نکته

د قـرآن پاک د دے آیت نه معلومیږی چه حضراتو صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم د جهاد په موقعه باندے دا کلمه حسبنا الله ونعم الوکیل وئیلے ده۔نود الله تعالیٰ خوښه شوه- نو مجاهدینو له د دے خاص اهتمام کول پکار دی۔

۵ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ

بیا مسلمانان د الله تعالیٰ په نعمت او فضل سره واپس راغلل ۔د نعمت او فضل نه څهٔ مراد دے۔مفسرینو حضراتو رحمهم الله ډیر قولونه ذکر کړے دی۔یو جامع قول ووګورئ۔

بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ د قبولیت او د ایمان د ترقئ په نعمت سره۔

فَضْلٍ یعنی دنیوی نفعے سره هم۔

نـو پـه دے وجه د الله تعالیٰ فضل په مسلمانانو باندے په دے حالتونو کښ ښکاره شـو۔(۱) د دوی د ایـمان په درجه کښ ترقی ووشوه۔(۲)دوی ته د جهاد په معرکه کښ د وتـلـو تـوفـیـق ووشـو۔(۳) دوی د طـاقـتـور دشمـن د شوکت او د حملے نـه لږ هم وونهٔ ویـریدل او دمقابلے همت ئے قائم اوساتلو۔(۴)مالی او تجارتی ګټے حاصلے شوے۔(۵) د اجرعظیم زیرے ملاؤ شو۔ (تفسیر ماجدی)

قال علماءُ نا: لما فوضوا امورهم اليه ،واعتمدوا بقلو بهم عليه اعطاهم من الجزاء اربعة معان: النعمة، والفضل، وصرف السوء واتباع الرضا فرضا هم عنه ورضی عنهم. (قرطبی)

یعنی د الله تعالی فضل ته ووګورئ. نۀ څۀ جنګ ووشو- او نۀ د چا په خپه کښې ازغے لاړو- په مفته کښې ئے ثواب ووګټلو- او په تجارت کښې ئے ګټه حاصله کړه- او په دشمنانو باندے ئے رعب واچولو- او د الله تعالی د رضا مندئ سره صحيح سلامت واپس کورته راغلل. (تفسير عثمانی)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰن مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۷۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهٗ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَ

هم دا شیطان دے چه د خپلو دوستانو نه ویرول کوی – نو تاسو د دوی نه مهٔ ویریږئ

خَافُوْنِ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾

او ځما نه وویریږئ که تاسو ایمان دا رییٔ۔

نچوړ

اے مسلمانانو چه کوم سړے تاسو د خپلو یارانو یعنی د کافرانو نه ویروی دا شیطان دے۔ د دے کافرانو د ویرے په جهاد کښ کمزوری مهٔ ښکاره کوئ۔ بلکه د الله تعالیٰ نه ویریږئ او جهاد تـه ووځئ که تاسو ایمان داریئ۔

اقوال او حوالے

یخوف اولیاءہ دے تاسو د خپلو دوستانو نه ویروی۔

❶ ای باؤلیاءہ یعنی یخوف المومن بالکافر. (قرطبی)

یعنی دا شیطان مسلمانان دکافرانو نه ویروی۔

ان المرادھذا الذی یخوفکم بجمع الکفار شیطان من شیاطین الانس. (قرطبی)

یعنی مطلب دا دے چه کوم کس تاسو د کافرانو د طاقت نه ویروی۔ هغه په انسانی شیطانانو کښ یو شیطان دے۔

❷ یعـنـی چه څوک دهلته نه راځی او ویرونکی خبرونه خوروی۔ دے شیطان دے یا د شیطان په لمسولو سره داسے کوی چه د هغهٔ غرض دا دے چه د خپلو مریدانو یا ورونړو بهائی ګانو رعب په تاسو باندے واچوی او وومو ویروی۔ نو که تاسو ایمان لـرئ– (او ضرور لرئ چه د هغے ثبوت مو عمل سره ورکړے دے) نو د دے شیطانانو نه بالکل مهٔ ویریږئ او صرف ځما نه ویریږئ۔

(تفسیر عثمانی)

❸ القول الثالث ان معنی الایة یخوف اولیائه المنافقین لیقعد هم عن قتال المشرکین ،

والـمـعنیٰ الشیطان یخوف اولیائه الذین یطیعونه ویؤ ثرون امره فاما اولیاء الله فانهم لا یخافو نه

اذا خوفهم ولا ينقادون لامره. وهذا قول الحسن والسدی.

یعنی یو قول دا دے چه شیطان خپل یاران منافقین ویروی۔ چه دوی د مشرکینو خلاف جهاد وونۀ کړی۔ مطلب دا دے چه شیطان خپل هغه یاران چه د دۀ خبره منی او د دۀ د خبرے نه اثر اخلی – د جهاد نه ئے ویروی۔ خو د الله تعالیٰ دوستان د شیطان په خبرو کښں نۀ راځی او نۀ د دۀ په ویرولو سره ویرېږی۔ (التفسیر الکبیر)

❹ شیطان کله هم په خپل اصلی شکل کښں نۀ راځی چه حمله ووکړی۔ کله چه ګذار کوی نو دچا انسان په شکل کښں راځی۔او هم دوی ته اولیاء الشیطان (دشیطان یاران)وئیلے شی۔دلته د دے جماعت لیډر نعیم ثقفی وو۔ (تفسیر ماجدی)

❺ دبرکت کلام:

یعنی دے کس چه کوم خبر وئیلو شیطان ورته ښودلو۔ (موضح القرآن)

❻ فَلَا تَخَافُوهُمْ یعنی تاسو د کافرانو نه مۀ ویرېږئ فتقعدوا عن القتال وتجبنوا. (التفسیر کبیر)

چه د دوی د ویرے نه د جهاد نه بس کړئ او بزدلی ښکاره کړئ

❼ وخافون او ځما نه (یعنی د خدائے) ویرېږئ۔ فجاهدوا مع رسولی وسارعوا الی مایامرکم به. نو ځما د رسول سره جهاد ته ووځئ۔اوچه هغه درته د کومے خبرے حکم کوی هغه فورا پوره کړئ۔ (التفسیر الکبیر)

❽ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ که تاسو ایمان والا یئ یعنی یعنی أن الایمان یقتضی ان تؤثروا خوف الله علی خوف الناس. یعنی د ایمان تقاضا دا ده چه تاسو د الله تعالیٰ خوف لره د خلقو په خوف باندے وړاندے کړئ– (التفسیر الکبیر)

فائده

دګنړو مفسرینو په نیز باندے په دے آیت باندے د احد د غزا بحث مکمل شو وړاندے د بعضے نورو مضامینو ذکر دے– دلته د احد د غزا بحث ختم شو (تفسیر الفرقان)

خو بعضے مفسرین د راتلونکو آیتونو تعلق هم د دے مضمون سره جوړوی ووګوری تفسیر کبیر–

نو بیا راتلونکی آیتونه هم په جهادی مضامینو کښں شاملیدے شی (والله اعلم)

فائده

په دے آخری آیت کښې د دے خبرے خبردارے معلومیږی چه د شکست نه پس جماعت راؤ چتیدے شی چه کله د هغې منافقانو او شیطانانو خبره وا نهٔ وریدے شی کوم چه د کفارو د طرف نه پروپیګنده کوی۔او خپل زړهٔ د کافرانو د رعب نه پاک ووساتلے شی – او د دے طریقه دا ده چه زړهٔ د الله تعالیٰ د عظمت د نور نه ډک کړے شی۔ او د الله تعالیٰ په و یرے سره خپل زړهٔ روښانه کړے شی۔ (والله اعلم)

نکته


د احد د غزا د مفصل تذکرے نه پس د حمرآء الاسد د غزا تذکره د دے خبرے اشاره ورکوی چه د شکست نه پس د آرام په ځائے که چرے کار شروع کړے شی – نو د جماعت قوت مضبوطیږی۔ او د جماعت د پاره دوباره راؤ چتیدل او منظم کیدل آسان شی۔ کنی که د شکست نه پس څوک د آرام او د علاج د پاره په کور کښې کښینی– نو بیا اجتماعیت او قوت ته سخت نقصان رسیدے شی۔ د دے وجے نه په اشارے سره ترغیب ورکړے شو۔ چه په جهاد کښې د ظاهری شکست نه پس دوباره د قوت د حاصلولو طریقه هم جهاد دے۔او د آزمائش نه پس چه کوم خلق څهٔ موده د آرام په بهانه کور کښې کښینی۔ نو د دوی دوباره د عمل میدان ته راتلل ګران وی۔ او په دوی باندے د منافقانو او د شیطانانو خبرے سخت اثر کوی۔په دے وجه په زخمی حالت کښې هم د الله تعالیٰ لاره پریښودل نهٔ دی پکار۔او نهٔ د تکلیف او د پریشانئ عذر کولو سره د جهاد نه غفلت پکار دے۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

په موجوده زمانه کښې مسلمانان د ظاهری شکست سره مخامخ دی۔ چه دوی ته په افغانستان وغیره کښې د کفری طاقتونو په مقابله کښې پیښ شوے دے۔ خو په دے شکست کښې ډیر لوے حکمتونه دی – او د مسلمانانو د پاره بے شماره سبقونه دی۔او ان شاء الله دے نه پس د فتحے دور دے۔

د سورۂ آل عمران آیت (۱۳۹) نه تر آیت (۱۷۵) پورے آیتونه موجوده دور کښې د مسلمانانو د راپاسیدو او راؤ چتیدو پوره نصاب ښائی–او د هغه تو لو شبهو جواب ورکوی۔

چه نن هر طرف ته خوروله شي۔دا د الله تعالیٰ په دے امت باندے احسان دے۔ چه د قرآن پاک په شان کتاب ئے دے امت ته ورکړے دے۔ چه په هغے کښې د هرے زمانے او د حالاتو دپاره مکمل هدایات موجود دي۔د سورۀ آل عمران د دے آیتونو دے بار بار تذکره ووکړے شي۔او په دے کښې په ښودلے شوے سبقونو باندے دے عمل ووکړے شي۔نو ان شآء الله ډیر زر د مسلمانانو د پاره ښۀ حالات راتلے شي۔ (والله تعالیٰ اعلم)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

اے زمونږه ربه او راکړے مونږ ته هغه څۀ چه تا ئے مونږ سره د خپلو پیغمبرانو په ذریعه وعده کړے ده. او مونږه مۀ رسوا

اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾

کوه د قیامت په ورځ - بے شکه تۀ د وعدے خلاف نه کوے.

نچوړ

اے زمونږ پروردګاره! تا مونږ سره د خپلو رسولانو په ذریعه چه د نصرت - د فتحے او دغلبے او د آخرت د کامیابۍ کومه وعده فرمائیلے ده. هغه مونږ ته راکړے - او مونږ د دنیا او د آخرت د رسوایۍ نه بچ کړے. بے شک تۀ خو د وعدے پوره کوونکے ئے -

اقوال او حوالے

❶ یعنی د پیغمبرانو په ژبه - د هغوی په تصدیق کولو باندے - چه کومے وعدے تا کړے دی. مثلاً دنیا کښې د الله تعالی په دشمنانو باندے په آخر کښې غالب کول - او په آخرت کښې جنت او رضا مندۍ سره سرفراز کول - د دے نه مونږ له داسے برخه راکړے. چه د قیامت په ورځ زمونږ لګه شان رسوائی هم وونۀ شي. (تفسیر عثمانی)

❷ وعده دا ده چه څوک ځما په کار کښې لګیا وی نو زۀ به د هغۀ په دین د نیا کښې هر قسمه امداد کوم.

(حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

❸ ففسر هذا الموعود بالجنة قال ابن عباس وقيل: الموعود به النصر على الاعداء.

(البحر المحيط)

یعنی رسولانو سره چه کومه وعده شوے ده هغه د جنت وعده ده - دا د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما قول دے. او یو قول دا دے چه د دے نه مراد په دشمنانو باندے د غلبے وعده ده.

❹ والموعود هو الثواب وقيل النصرة على الاعداء. د وعدے نه مراد د اجر وعده ده - او یو قول دا دے چه د شمنانو باندے د غلبے وعده مراد ده. (کشاف)

۵ ان الله تعالیٰ وعد المومنین بان ینصرهم فی الدنیا ویقهر عدوهم فهم طلبوا تعجیل ذلک. (تفسیر کبیر)

یعنی بے شکه الله تعالیٰ ایمان دارو سره وعده کړے ده۔ چه هغه به دنیا کښې د دوی مدد کوی۔ او د دوی دشمنان به مغلوب کوی نو په دے دعاء کښې ایمان دارو د دے وعدے د زر پوره کولو درخواست کړے دے۔

۶ لاتخزنا مونږ رسوا نهٔ کړے۔ لاتخزنا فی الدنیا بغلبة العدو علینا فکانهم قالوا: لاتخزنا فی الدنیا ولا تخزنا فی الآخرة. (روح المعانی)

یعنی مونږ باندے دشمنان مهٔ غالب کوه۔ چه په دنیا کښې مو رسوا کړے نو گویا چه دوی دا دعاء ووکړه۔ چه یا الله مونږ په دنیا کښې مهٔ رسوا کوه او مونږ په آخرت کښې هم مهٔ رسوا کوه۔

فائده

په سورۂ آل عمران کښې د عیسایانو اصلاح مقصود بالذات ده۔ څنګه چه د شاه عبدالقادر او دحضرت لاهوری رحمه الله خیال دے۔ نو تیر شوی آیت کښې د دے خبرے اعلان دے۔ چه موږ د رسول اکرم ﷺ په بلنے باندے لبیک وئیلے دے۔ او موږه ایمان راوړے دے۔ نو زموږه ګناه معاف کړے۔ بیا په دے آیت کښې دا دعاء ووغوښتلے شوه۔ چه د دے امت محمدی د پاره چه تا کومه د مدد او د غلبے وعده فرمائیلے ده — او دا وعده د تیر وخت ټولو پیغمبرانو هم بار بار ذکر کړے ده۔ د دے وجے نه اوس زموږ د پاره دا وعده پوره کړے۔ علامه آلوسی رحمه الله لیکی

وقیل: ان الموعود به هوا لنصر لا غیر، والقوم قد علموا ذلک لکنهم لم یوقت لهم فی الوعد لیعلموه فرغبوا الی الله تعالیٰ فی تعجیل ذلک لمافیه من السرور بالظفر. والیٰ هذا ذهب الطبری وقال: ان الآیة مختصة بمن هاجر من اصحاب البنی صلی الله علیه وسلم واستبطئو النصر علی اعدائهم بعد ان وعدو به. (روح المعانی)

د سورۂ بقرے په آخر کښې هم په کفارو باندے د غلبے دعاء وه۔ حالانکه په دغه سورت کښې مقصود بالذات د یهودیانو اصلاح ده۔ او اوس په دے سورت کښې هم د غلبے دعاء غوښتلے شوے ده۔ خو ډیره تذکره د عیسایانو ده۔ مطلب دا شو چه په یهودیانو او عیسایانو کښې چه څوک اسلام قبول کړی۔ نو هغوی به کامیاب شی۔ او چه څوک د اسلام مقابله کښې وودریږی۔ نو الله تعالیٰ به د مسلمانانو مدد ووکړی۔ او

دا کافران به مغلوبه کړي۔او آخرت کښې به سخته سزا ورکړي۔بلکه خبره داده چه مسلمانانو ته به غلبه ضرور ملاویږي۔خو د دے دپاره به دوی څو کارونه کوی۔ د هغے کارونو ذکر په راتلونکے آیت (۱۹۵) کښې دے۔ چه دوی به د دین د خاطره د هجرت او د جهاد عمل ژوندے کوی۔اوس دا سوال ووشو–چه کافران خو ډیر طاقتور دی۔تول ه زمکه د دوی په قبضه کښې ده– او دوی مزے سره چرته چه غواړی ګرځی چکرے وهی۔نو راتلونکے درے آیتونو کښې (۱۹۶–۱۹۷–۱۹۸) کښې د دے جواب ورکړے شو۔ چه مسلمانان دے د کافرانو د ظاهری طاقت نه نۀ ویریږي۔بلکه خپل نظر دے د آخرت په نعمتونو باندے ساتی۔نو هله به اسلام ته غلبه او مسلمانانو ته کامیابی ملاؤ شی۔اوس دا خیال راغے چه د اهل کتابو تعداد خو ډیر زیات دے۔نو آیا دے تولو سره به جنګ کول وی۔ نو آیت (۱۹۹) کښې ووفرمائیلے شو۔ چه دے اهل کتابو کښې به یو لوئے تعداد مسلمان شی۔او دے خلقو ته به ډیر اجر ملاؤ شی۔نو هم دغسے ووشوه او د عیسایانو ډیر لوئے تعداد اسلام قبول کړو۔ د بعضے مفسرینو په نیز آیت (۱۹۹) کښې مسلمانانو ته ووښودلے شوه چه تیر وخت کښې الله تعالیٰ عیسایانو ته د فلانکی فلانکی صفاتو(چه د هغے تذکره آیت کښې موجود ده) د وجهے نه غلبه ورکړه۔اوس اهل اسلام ته پکار دی چه دوی هم دغه صفات خپل کړی۔دا خو شو د آیت (۱۹۴) نه تر (۱۹۹) پورے ربط او جهادی مضمون۔باقی د آیت (۲۰۰) ربط او جهادی مضمون خو بالکل واضح دے۔په دے سورت کښې د ایمان او د جهاد د فضیلت او د مسلمانانو د غلبے وعده ده۔اوس په آخری آیت کښې د ایمان او د غلبے د دواړو د حفاظت طریقه ووښودلے شوه۔ چه د ایمان حفاظت به په صبر سره کیږی۔او د غلبے حفاظت په رباط فی سبیل الله (یعنی پهره داریٔ او پرله پسے جهاد) سره کیږی۔او هر عمل کښې د کامیابیٔ راز په جهاد کښې پټ دے۔

ګویا چه مسلمانانو ووئیل چه مونږ ته د ایمان دولت رانصیب شو۔او کافرانو باندے غلبه هم رانصیب شوه–اوس به د ایمان او د غلبے حفاظت څنګه کیږی۔نو د سوره آل عمران په آخری آیت کښې د دے مکمل نصاب ووښودلے شو۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

اسلام او مسلمانان اوس په مدینه منوره کښې وو۔او قرآن پاک اعلان کولو–چه مسلمانانو د غلبے کومه دعاء غوښتے ده۔ هغه الله تعالیٰ قبوله کړے ده۔په دے کښې د

راتلونکی وخت د پاره پیشن گوئی هم وه. او زیرے هم. چه د دنیا نه د کفر اقتدار ختمیدونکے دے. او د اسلام حکومت راتلونکے دے. نو دے وجے نه د قیصر اقتدار هم ختم شو. او د کسریٰ حکومت هم مات شو. او هر طرف ته اسلام خور شو. وللّٰه الحمد والمنه موجوده دورکښ چه کافرانو ته کوم قوت حاصل دے. هغه د دے وجے نه نۀ دے چه الله تعالیٰ د دوی نه راضی دے. بلکه دا تول حالات د دے وجے نه دی چه مسلمانانو د کامیابئ او د غلبے لاره پریښے ده. (والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ

نو د دوی رب د دوی دعاء قبوله کړه۔ چه زهٔ په تاسو کښې د یو کار کوونکی کار نه ضائعه کوم که

مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَ

هغه سړے وی او که ښځه تاسو په خپلو کښې د یو بل جزئ یئ۔ نو چه کومو خلقو وطن پریښودو۔ او

اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَ اُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ قٰتَلُوْا وَ قُتِلُوْا

د خپلو کورونو نه اوویستلے شو او زما په لاره کښې ورته تکلیف ورورسولے شو۔ او جنګ ئے

لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَ لَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ

ووکړو او قتل کړے شو۔ زهٔ به ضرور د دوی ګناهونه لرے کوم او دوی به په باغونو کښې داخلوم چه

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ

د هغے نه لاندے به نهرونه بهیږی دا د الله تعالیٰ د طرف نه بدله ده۔ او صرف الله تعالی سره

الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾

ښشته بدله ده۔

نچوړ

الله تعالی د دوی دعاء قبوله کړه۔ ځکه چه الله تعالیٰ د چا محنت او عمل نهٔ ضائعه کوی۔ دا عمل کوونکے که سړے وی او که ښځه۔ د الله قانون د ټولو د پاره یو دے۔ او سړی او ښځے خپلو کښې یو دی۔ نو چه کوم مسلمان د الله تعالیٰ په لاره کښې هجرت ووکړو۔ یا دے د مسلمان کیدو په وجه د خپل کور نه وویستلے شو۔ او هغه مسلمانان چه هغوی ته د الله په لاره کښې تکلیفونه وورسولے شو۔ او هغوی جهاد ووکړو او شهیدان شو۔ په دوی کښې به د هیچا هم عمل نهٔ ضائع کیږی۔ الله تعالی به د دوی ګناهونه معاف کړی۔ او دوی به خپل پاکیزه جنتونو کښې داخل کړی۔ او نورو ښو ښو نعمتونو سره به دوی ته بدله ورکړی۔ د دے ټولو نعمتونو اصل بدله خو صرف الله تعالیٰ سره ده (یعنی د هغهٔ دیدار)

اقوال او حوالے

❶ یعنی چه هر کله د چا وړوکے او لوئے عمل هم نهٔ ضائعه کیږی۔ نو بیا د دے خدائی خلقو به څهٔ تپوس کوے – چاچه د کفر او د نافرمانئ سره سره د کفر ځائے هم پریښودو۔ وطن – دوستان – رشته دار – اهل و عیال – او مال جائیداد – او ټول هر څهٔ ئے پریښودل او دارالاسلام طرف ته ووتل۔ کفارو په دوی باندے ظلم او زیاتے ووکړو۔ چه په کورونو کښې ووسیدل ورته ګران شو۔ په وطن پریښودو او په کور کلی پریښودو باندے ئے هم په آرام پرے نهٔ ښودل۔ قسم قسم تکلیفونه ئے ورته رسول۔ او دا ټول هر څهٔ د دے وجے نه ووشو۔ چه دوی ځما نوم اخستلو او ځما کلمه ئے وئیله۔

يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ (الممتحنه) وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ (البحر المحيط)

آخر دوی ځما په لار کښې ووجنګیدل او جنګ کښې ئے سر قربان کړو۔ دا هغه بندیګان دی چه ګناهونه ئے معاف کړے شو۔ او جنت د دوی انتظار کوی۔ (تفسیر عثمانی)

❷ دا پوره خاکه د حضرت عیسی علیه السلام د حوارینو او د صحابه کرامو رضی الله عنهم ده۔ چه کله تاسو داسے جوړ شئ نو ستاسو مخے ته به د عیسایانو سلطنتونه مغلوب او مفتوح شی۔ (حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

(مطلب دا دے چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام حوارینو هجرت ووکړو۔ د دین د خاطره ئے تکلیفونه برداشت کړل او شهادتونه ئے ووموندل۔ نو الله تعالی ورله په زمکه باندے لوئے حکومتونه ورکړل۔ او د آخرت د کامیابئ ئے ورسره پخه وعده ووکړه۔ اوس عیسایان د خپلے طریقے نه اخوا شوے دی او د اسلام دعوت هم دوی نهٔ قبلوی۔ نو که اوس مسلمانان د هجرت او دجهاد دا صفات خپل کړی۔ نو الله تعالیٰ به د عیسایانو سلطنت دوی ته ورکړی۔ الحمد الله حضراتو صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دغه صفات اختیار کړل۔ نو الله تعالیٰ دوی ته په زمکه باندے خلافت ورکړو۔

❸ د سورهٔ بقرے خاتمه په دے دعاء باندے شوے وه فانصرنا علی القوم الکافرین: (یاالله مونږ ته په کافرانو باندے غلبه راکړے) په دے سورت کښې دا دعاء قبوله کړے شوه۔ او دا فیصله ووکړے شوه۔ چه د یهودیانو – عیسایانو – مشرکانو ټول حکومتونه به مسلمانانو ته ملاویږی۔ خو د دے فتحے او د کامیابئ د پاره به یو شرط

هم وی۔ هغه دا چه صرف په دعاء باندے به بس نهٔ وی۔ بلکه دعاء به هم کوئ– او لاس خپے به هم وهئ۔ کار به هم کوئ او ځان او مال به هم قربانوئ۔ نو د دے د نتیجو او فائدو نه به برخه واخلئ۔ (تفسیر الفرقان)

❹ امام رازی رحمه الله د الَّذِیْنَ هَاجَرُوْا او د الَّذِیْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ په مینځ کښ په خپلو کښ فرق کړے دے۔ د الذین هاجروا نه مراد هغه دی چه چا په خپله هجرت د دین د خاطره اختیار کړے وی او د الَّذِیْنَ اُخْرِجُوْا نه مراد هغه دی چه کفارو په زور ووبښکل۔ دا ډیر باریک فرق او د زده کولو خبره ده۔ ووګورئ په دے آیت باندے د تفسیر کبیر تقریر۔

❺ هجرت او جهاد وغیره چه د کومو اعمالو په دے آیت کښ تذکره ده – په دے باندے الله تعالی د درے انعامونو وعده ووفرمائیله۔

☆ د بدو ختمول او د ګناهونو معاف کول۔ لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

☆ بدله ورکول وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ الایه

☆ د دے د بدلے سره به دوی ته ډیر ووچت مقام او ډیر عزت او اعزاز هم ملاویږی۔ چه د هغے طرف ته مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ سره اشاره ده۔ (التفسیر الکبیر)

صاحب د روح المعانی دا روایت نقل کړے دے۔ چه الله تعالیٰ به هغه خلق چا چه جهاد ووکړو۔ او د دین د خاطره ئے تکلیفونه برداشت کړل۔ بغیر حساب کتاب نه جنت ته داخل کړی۔ فرشتے چه کله د دوی دا اعزاز اووینی نو عرض به ووکړی چه اے زمونږ ربه ؛ چه دا کوم خلق دی چه هغوی تا په مونږه هم غوره کړے دی۔ الله تعالیٰ به ووفرمائی۔ چه دا هغه خلق دی چه ځما په لار کښ ئے جنګ کړے دے او تکلیفونه ئے برداشت کړے دی۔ نو بیا به فرشتے په دوی باندے د هرے دروازے نه سلام کوونکے داخلیږی۔ وان الله تعالیٰ یدعو یوم القیمة الجنة فتاتی بزخرفها وزینتها فیقول أین عبادی الذین قاتلوا فی سبیلی وأوذوا فی سبیلی وجاهدوا فی سبیلی ادخلوا الجنة فید خلونها بغیر عذاب ولاحساب وتأتی الملئکة فیسجدون ویقولون: ربنا نحن نسبح لک اللیل والنهار ونقدس لک ماهؤلاء الذین آثرتهم علینا؟ فیقول: هؤلاء عبادی الذین قاتلوا فی سبیلی وأوذوا فی سبیلی فتدخل الملئکة علیهم من کل باب سلام علیکم بما صبرتم فنعم عقبی الدار.

(روح المعانی)

٦ وقاتلوا وقتلوا او دوی قتال ووکړو۔او شهیدان شول

وهذا اعلى المقامات ان يقاتل في سبيل الله فيعقر جواده ويعفر وجهه بدمه وترابه.

یعنی دا د تولو نه ووچت مقام دے۔ چه څوک د الله تعالیٰ په لارکښې قتال ووکړی۔او د دهٔ اس هم مړکړے شی۔او د دهٔ مخ په خاورو او وینو کښې لیت پیت شی۔ (ابن کثیر)

فائده

اوّل ئے ارشاد ووفرمائیلو چه مونږ د یو محنت کونکی محنت او د عمل کونکی عمل نهٔ ضائع کوؤ۔او بیا ئے د خپلو خوښو عملونو ذکر ووفرمائیلو۔ هجرت – تکلیفونه – جهاد – شهادت ګویا چه دا اعمال چه په هغے کښې د الله تعالیٰ د پاره قربانی ده– الله تعالیٰ ته ډیر خوښ دی۔په دے باندے هغه د خپل طرف نه خاص بدله ورکوی – مطلب دا دے چه د دعاء د قبولیت د پاره عمل ضروری دے۔او هغه عملونه چه د هغے بدله یقینی او اجر بے شماره دے هجرت او جهاد وغیره قربانئ والا اعمال دی۔په دے اعمالو سره مسلمانانو ته اجتماعی فائده هم ملاویږی او انفرادی هم۔ او د دے اعمالو په وجه اسلام او مسلمانانو ته غلبه نصیب کیږی –(والله اعلم بالصواب)

دعاء

رَبَّنَا وَ اٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰی رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا یَوْمَ الْقِیٰمَةِ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِیْعَادَ (آمین)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۶ تا ۱۹۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ

تا دې په دهوکه کښې وانه چوي په شان شوکت سره گرزيدل د هغه خلقو چه کافر دي په ښارونو کښې۔ دا ډير

ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾

لږ شان عيش دے بيا د دوی ځائے دوزخ دے۔ او دا استوږنے ډير خراب ځائے دے۔

تچوړ

د کافرانو د دنيا په ښارونو کښې گرزيدل راگرزيدل (او مال او دولت کښې ترقی کول) دے مسلمانان په غلطئ کښې وانه چوی۔ (ځکه چه د دے ځيزونو څۀ حيثيت نشته) دا ديو څو ورځو سپرلے دے –(مړکيدو سره به د دوی نوم او نشان پاتے نۀ شی۔) بيا به د دوی ټکانه په جهنم کښې وی او هغه د آرام د پاره ډير خراب ځائے دے۔ (مستفاد من بيان القرآن)

اقوال او حوالے

❶ يعنی کفار چه اخوا ديخوا تجارت وغيره کوی۔دولت گټی او تکبر سره گرځی راگرځی– مسلمانانو له پکار دی چه په دوی دهوکه نۀ شی۔دا صرف ديو څو ورځو سپرلے دے کـه يو کس باندے يو څو ورځے قورمه او پلاؤ ووخوړے شی او هغے نه پس ورته پهانسی يا عمر قيد سزا ورکړے شی۔ نو هغه څۀ د ښے ورځے خاوند شو؟ د ښے ورځے خاوند هغه دے چه لږ غوندے تکليف او محنت برداشت کړی او د هميشه د پاره د آرام او راحت سامان پيدا کړی۔ (تفسير عثمانی)

(څنگه چه تير شوے آيت کښې دهجرت–دجهاد او د شهادت د اعلیٰ اجر تذکره ده)

❷ تاسوته دے دا خيال پيدا نۀ شی۔ چه دوی سره پوره ساز و سامان موجود دے۔او تاسو سره نشته۔ (حاشيه دحضرت لاهوری رحمه الله)

فائده

د کافر مقصد چونکه د دنيا زندگی او د دے عيش و آرام دے نو د دے د خاطره هغه هر وخت محنت کوی او د الله تعالیٰ د طرف نه دۀ ته مهلت ورکولے شی۔د دے وجے

نه هره زمانه کښې هغه د دنیا پرق پروق راجمع کوی۔اوس که د مسلمانانو نظر د کافرانو په دغه ترقئ او پرق پروق باندے شی۔او دے دا د عزت او حیثیت والا څیز ووګنړی۔نو دوی به سخت نقصانی شی۔او د خپل مقصد نه به لرے شی۔ او کیدے شی چه د جهاد او د غلبے نه هم محرومه شی۔او د دین د خاطره به د دنیا د پریښودو په ځائے د دنیا د خاطره دین پریښودل شروع کړی۔د دے وجهے نه د قرآن پاک د " جهادی دعوت " یو اهم سبق دا دے۔ چه مسلمانان دے د کافرانو د مادی او ظاهری ترقئ نه نۀ مرعوبه کیږی۔او نۀ د ے دے عارضی پرق پروق ته څۀ حیثیت او وقعت ورکوی۔او نۀ دے دا ترقی دخپلے زندګئ مقصد جوړوی۔بلکه د دوی نظر دے همیشه د آخرت په نعمتونو باندے وی۔د دے وجے نه حضور پاک ﷺ د مدینے انصارو سره صرف د جنت وعده فرمائیلے وه۔که د مسلمان نظریه په دے باره کښې د قرآن پاک مطابق شی نو دے به په آسانئ سره د جهاد او د هجرت تکلیف برداشت کولے شی –کنی نو نۀ شی۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

مسلمان چه کله د دنیا ظاهری پرق پروق او ترقئ ته وقعت نۀ ورکوی۔او خپل نظر په آخرت باندے ساتی۔نو دا دنیا د دۀ په قدمونو کښې راغورزیږی۔ څنګه چه د حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم او مخکښنو مشرانو سره ووشوه۔خو چه کله مسلمان د قرآن پاک دا حکم هیر کړی۔او د دنیا مادی ترقی د دۀ په نظر کښې اهمه شی۔ نو قدم په قدم رسوا کیږی۔او دے د کفارو په نوکرئ– چاکرئ او غلامئ کولو باندے مجبور وی۔ څنګه چه په دے زمانه کښې ډیره کیږی۔ (والله اعلم بالصواب)

د قرآن پاک دا اهم مضمون بار بار مختلفو ځایونو باندے بیان شوے دے۔دے دپاره چه ښۀ طریقے سره زړۀ ته کوز شی۔او احادیثو مبارکو کښې خو دا مضمون ډیر زیات بیان شوے دے۔



سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ مَدَنِيَّةٌ آيت ۱۹۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

خو چه کوم خلق د خپل رب نه ویریږي. د هغوی د پاره باغونه دي چه د هغې لاندې نهرونه بهیږي په دې کښې به دوی همیشه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾


ووسیږي چه د الله تعالیٰ د طرف نه میلمستیا ده. او څۀ چه د الله تعالی سره دي هغه د نیکانو بندیګانو د پاره ډیر بهتر دي.

نچوړ

د مسلمان نظر دې په هغه نعمتونو باندې وي –کوم چه الله تعالی د خپلو پرهیز ګارو بندیګانو د پاره تیار کړې دي –تول عمری جنتونه او د الله تعالی اوچته او بهترینه میلمستیا.

فائده

دا دې راز د کامیابۍ او دا ده طریقه د الله تعالیٰ په مخکښ د دنیا د خکته کولو او په هغې کښې د اسلام د نافذ کولو. مسلمانان دې خپل نظر د آخرت په زندګۍ او په نعمتونو باندې ساتي. او بیا د هغې د حاصلولو د پاره دې سره د جهاد د الله تعالیٰ هر حکم ژوندې کړي. او د مرګ د ویرې نه دې بې پرواه شي او مخکښ دې ځي. د جنت او د آخرت شوق مؤمن لره فولاد جوړوي. او بیا د دنیا یو طاقت هم د دوی په مقابله کښې نۀ شي ایساریدې. خو که مؤمن په خپله د دنیا په محبت کښې مبتلا شي نو دې د خاورې یو ډهیرې او د جولا یو جالا جوړه شي. چه مخالفین ئې د خپو لاندې کوي. (والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۹۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

او اهل کتابو کښې بعضې داسې هم دي چه په الله تعالی باندې ایمان لري - او په هغه څهٔ کوم چه تاسو ته نازل شوې دي

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

-او په هغه څهٔ چه دوی ته نازل شوې دي۔ چه دوی د الله تعالیٰ په مخکښې عاجزي کوونکي دي۔ دوی نهٔ پیریږي د

ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَھُمْ اَجْرُھُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

الله تعالیٰ آیتونه په معمولي قیمت باندې -هم دا خلق دي چه د خپل رب سره ئې مزدوري کیږي - بې شکه الله

الْحِسَابِ ۝۱۹۹

تعالیٰ زر حساب اخستونکې دې۔

نچوړ

اهل کتابو کښې داسې نیک بخته خلق هم دي -چه په الله تعالی باندې مکمل او صحیح ایمان لري۔ سره د قرآن پاک ټول آسماني کتابونه مني د دوی زړونه د الله تعالیٰ د عظمت مخې ته خکته ووسي۔ دوی د دنیا د پاره دین نهٔ خرخوي۔ او د داسې خلقو د پاره د الله تعالیٰ په نیز بهترینه بدله ده۔ بې شکه الله تعالیٰ ډیر تیز حساب اخستونکې دې۔

فائده

د امت د غلبې د پاره د دې صفاتو خپلول په مسلمانانو باندې لازم دي۔ حضراتو صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم دا صفات خپل کړل او په دنیا او په آخرت کښې ئې پوره پوره بدله بیا موندله۔ اهل کتابو کښې که څوک کامیابېدل غواړي۔ نو د هغهٔ د پاره هم دا د کامیابئ نصاب دې۔ نو چه چا عمل ووکړو نو هغه کامیاب شو۔

(والله اعلم بالصواب)

(تفصیل د پاره ووګورئ حاشیه دحضرت لاهوري رحمه الله)

☆☆☆

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۰۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۗ وَ

اے ایمان دارو صبر کوئ – او د مقابلے په وخت کښ مضبوط ووسئ۔ او په جهاد کښ لګیا ووسئ

اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾

–او د الله تعالیٰ نه ویریږئ چه تاسو نجات بیا مومئ۔

نچوړ

د ایمان حفاظت او په دنیا او په آخرت کښ د کامیابئ نصاب

❶ صبر یعنی دین باندے استقامت.

❷ مصابره یعنی د جهاد په وخت کښ کلک وودریدل –

❸ رباط یعنی هر وخت د جهاد د پاره تیار ووسیدل –

❹ تقویٰ یعنی د الله تعالیٰ د نافرمانئ نه د هغهٔ د رضا د پاره بچ کیدل.

اقوال او حوالے

❶ خاتمه کښ ئے مسلمانانو ته ډیر جامع او مانع نصیحت ووفرمائیلو–لکه چه دا د ټول سورت نچوړ دے۔یعنی که چرے کامیابیدل او دنیا او آخرت کښ مراد ته رسیدل غواړئ۔نو د سختو برداشت کولو باوجود هم په تابعدارئ باندے مضبوط ووسئ۔ د ګناه نه بچ شئ – او د دشمنانو په مقابله کښ خپلے خپے ټینګے کړئ۔ او د اسلام او د دے د حدودو په حفاظت کښ لګیا ووسئ۔ چه د کوم ځایه د دشمن دحملے کولو خطره وی۔ هلته د اوسپنے د دیوال په شان سینه ویستلے مضبوط شئ۔ وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ (انفال)

او هر وخت او هر کار کښ د الله تعالیٰ نه ویریږئ۔ چه دا مو ووکړل نو پوهه شئ چه مراد ته وورسیدو۔ (تفسیر عثمانی)

❷ **دبرکت کلام:**

خپے کلکے کړئ – یعنی په دین باندے او (د دشمن په) مقابله کښ کلک شئ – یعنی

په جهاد کښ د کافرانو مخے ته په حفاظت او تیاریٔ کښ لګیا ووسیٔ (موضح القرآن)

❸ اے ایمان دارو؛ فرض باندے ځان قربان کړیٔ – او نور په قربانیدو باندے تیار کړیٔ۔ د دشمنانو په تاک کښ ووسیٔ – او خدائے تعالیٰ سره تعلق ټیک ساتیٔ۔ چه تاسو ته د هر مصیبت نه خلاصے ملاؤ شی –(حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

❹ اے ایمان والاؤ؛ (تکلیفونو باندے) پخپله صبر ووکړیٔ۔ او کله چه کفارو سره مقاتله (یعنی جنګ) وی – نو مقابله کښ صبر ووکړیٔ۔ او د جنګ دامکان په وخت کښ د مقابلے د پاره تیار ووسیٔ۔ او هر حال کښ د الله تعالیٰ نه ویریږیٔ۔ او د شریعت د حدودو نه مهٔ ووځیٔ۔ نو تاسو پوره کامیاب یئ – آخرت کښ خو خامخا او په اکثرو وختونو کښ په دنیا کښ هم۔ (بیان القرآن)

فائده

صبر – مصابره – رباط او تقویٰ د دے څلورو وارو الفاظو جامعه معنی زده کولو د پاره پورته ورکړے شوے څلورو عبارتونو کښ باریکیٔ سره غور ووکړیٔ۔ ان شآء الله ډیر نکات به درته معلوم شی۔

❺ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟ علی الطاعات، والمصائب، وعن المعاصی وَصَابِرُوا۟ الکفار فلا یکونوا اشد صبرا منکم وَرَابِطُوا۟ اقیموا علی الجهاد. (جلالین)

یعنی د صبر معنی نیکو باندے مضبوط ووسیدل – او مصیبت کښ حوصله ساتل او ګناهونو نه بچ کیدل – او د مصابرے معنی کفارو سره بنهٔ په کلکه جنګیدل چه داسے نهٔ وی چه هغه کفار ستاسو نه کلک جنګ کوونکی وی۔ او د رباط معنی په جهاد کښ لګیا ووسیدل او جهاد قائم ساتل دی۔

❻ وقال الاصم لما کثرت تکالیف الله فی هذه السورة امرهم بالصبر علیها ولما کثر ترغیب الله تعالیٰ فی الجهاد فی هذه السورة امرهم بمصابرة الاعداء (التفسیر الکبیر)

یعنی امام ابو بکر اصم رحمه الله فرمائی۔ چه چونکه په دے صورت کښ په کثرت سره د الله تعالیٰ احکام (چه انسان د هغے مکلف وی) بیان شوے دی۔ دے وجے نه په دے باندے آخر کښ د صبر یعنی استقامت حکم ورکړے شو۔ او چونکه په دے سورت کښ په کثرت سره الله تعالی د جهاد ترغیب ورکړے دے۔ نو په دے آخری آیت کښ ئے د مصابرے یعنی د دشمنانو سره د مضبوطے مقابلے حکم ورکړو۔

❼ د مرابطے معنی د شمنانو سره د مقابلے د تیاریٔ ده۔ او د دے د لاندے هر

قسم جنګي تیارے راځي۔ کوم چه د نوے زمانے د تقاضو لاندے د دین د دشمنانو په مقابله کښې ووکړے شي۔ (تفسیر ماجدی)

❽ اصْبِرُوْا هر وخت د خپل ژوند په مقصد باندے مړ کیدو د پاره تیار ووسئ۔ وَصَابِرُوْا مسلمانانو ته همیشه دجهاد او قتال فی سبیل الله د پاره جوش ورکوئ۔ او هغوی هم د ژوند په اعلیٰ مقاصدو باندے مړ کیدو د پاره تیار کړئ۔ وَرَابِطُوْا چه څومره ستاسو مخالفین دی-د هغوی د نقل وحرکت خیال ساتئ۔ چه که هغوی څۀ تدبیر د اسلام د تباهئ د پاره جوړوی نو چه تاسو د هغے جواب ووکړئ۔ (تفسیر الفرقان)

❾ صَابِرُوْا اعداء الله فی الجهاد ،ای غالبوهم فی الصبر علیٰ شدائد الحرب لاتکونوا اقل صبرا منهم وثباتا ورابطوا واقیموا فی الثغور رابطین خیلکم فیها مترصدین مستعدین للغزو قال الله عزوجل وَمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ (کشاف)

یعنی دصَابِرُوْا معنی په جهادکښې د الله تعالی د دشمنانو په مقابله کښې کلک جنګیدل یعنی د جنګ په سختئ کښې د خپلو دشمنانو نه زیات استقامت ووښائئ۔ چه تاسو په صبر او استقامت کښې د هغوی نه کم نۀ شئ۔ لکه بنۀ په کلکه د هغوی مقابله ووکړئ – او په دے کښې په دوی باندے غالب ووسئ۔ چه ستاسو ثابت قدمی د دوی د ثابت قدمئ نه زیاته وی۔ او د رَابِطُوْا معنی په اسلامی سرحدونو باندے واقع شوے محاذونو باندے تړلے اسونو سره موجود ووسئ۔ هلته پهره کوئ۔ د دشمن خیال کوئ۔ او د جنګ د پاره تیار ووسئ۔ د رباط لفظ د رباط الخیل نه دے چه د هغے تذکره وَمِنْ رِّبَاطِ الخیل کښې ده۔ یعنی اسونه تړل۔

❿ ختم الله تعالیٰ هذه السورة بهذه الوصاية التی جمعت الظهور فی الدنیا علی العدو والفوز بنعیم الآخرة فامر الله بالصبر والمصابرة والرباط (البحر المحیط) یعنی الله تعالیٰ د دے سورت اختتام په دے نصیحتونو باندے ووفرمائیلو کوم چه په دنیا کښې په دشمنانو باندے د غلبے او په آخرت کښې د کامیابئ جامع طریقے ښائی۔ یعنی صبر– مصابره– او رباط۔

⓫ وقال الحسن وقتادة والضحاک وابن جریج اصْبِرُوْا علیٰ طاعة الله فی تکالیفه، وَصَابِرُوْا اعداء الله فی الجهاد ورابطوا فی الثغور فی سبیل الله ای ارتبطوا الخیل کما یرتبطها اعداء کم. (البحر المحیط)

⓬ د مصابرے یوه عجیبه معنی : وقال ابی و محمد بن کعب القرظی هی مصابرة

وعدالله بالنصر أى لاتسأموا وانتظروا الفرج. یعنی د مصابرے معنی ده- د الله تعالیٰ د نصرت د پوره کیدو انتظار کول مطلب دا شو- چه ستومانه کیږئ مه (او نا امیده کیږئ مه) بلکه د ښو حالاتو یعنی د الله تعالیٰ د نصرت انتظار کوئ- (البحر المحیط)

⓭ والمرابط فی سبیل الله عند الفقهاء هو الذی یشخص الی ثغر من الثغور لیرابط فیه مدة. (البحر المحیط)

یعنی د فقهاؤ په نیز مرابط فی سبیل الله هغه دے- چه د اسلامی سرحدونو په یو محاذ باندے پهرے کولو د پاره څۀ موده موجود ووسی-

⓮ ورابطوا فقال جمهور الامة رابطوا اعداء کم بالخیل ای ارتبطوها کما یرتبطها اعداء کم. (قرطبی) یعنی د جمهور امت قول دا دے چه د رباط معنی "اسونه تړل او د دښمن د مقابلے د پاره موجود ووسیدل" دی- څنګه چه هغوی ستاسو خلاف د جنګیدو د پاره اسونه تړی-

⓯ قال ابن عطیة والقول الصحیح هو ان الرباط الملازمة فی سبیل الله اصلها من ربط الخیل، ثم کل ملازم لثغر من ثغور الاسلام مرابطاً فارساً کان أو راجلاً. یعنی د رباط اصل معنی خو د جهاد (لاره) کلکه نیول دی-او په دے کښ د اس تړلو معنی هم شته-بیا هر هغه کس چه د اسلامی سرحد په محاذ باندے د جهاد د پاره موجود وی- هغه مرابط بللے شی- که په اس سُور وی او که پیاده- (قرطبی)

فائده

د روایاتو نه د رباط لاندینئ معنے معلومیږی-

❶ د اسلامی سرحد او د لښکر پهره داری کول ❷ د جهاد لاره کلکه نیول ❸ د جهاد په تیارئ کښ لګیا ووسیدل- ❹ دښمنانو ته لاره کښ کیناستل او د هغوی په تګ راتګ او تدبیرونو باندے نظر ساتل- ❺ د یو مونځ نه پس د بل مونځ انتظار کول- ❻ خپل زړۀ د جماعت سره لګول وغیره-

د رباط فضیلتونه


رباط فی سبیل الله یعنی پوره جنګی تیارئ سره په اسلامی سرحدونو او محاذونو باندے موجود ووسیدل- او پهره کول- یا د اسلامی لښکر یا د جهاد د امیر پهره کول- وغیره- دا ډیر غوره عمل دے- او د جهاد ووچته درجه ده- په احادیثو مبارکو کښ د

دے عمل بے شماره فضیلتونه ذکر دی۔ دغه ټول احادیث که چرے راجمع کړے شی۔ نو یو مکمل کتاب به جوړشی۔ دلته د برکت د پاره په لنډه توګه هغه څو فضیلتونو طرف ته اشاره کیږی کوم چه په احادیثو کښې ذکر دی۔

❶ د یوے ورځے رباط د دنیا او ما فیها نه بهتر دے۔ یعنی که یو کس د ټولے دنیا مالک شی۔ بیا هغه خپل مال د الله پاک په اطاعت کښې خرچ کړی۔ بیا هم د یوے ورځے د رباط مقام نهٔ شی موندے۔ ❷ د یو شوا روز رباط د یوے میاشتے د قیام او د روژو نه غوره دے۔ ❸ د مرابط عمل د قیامته پورے جاری وی۔ او د مرګ نه پس د هغے اجر هغهٔ ته پرله پسے ملاویږی۔ ❹ مرابط د شیطان نه محفوظ وی۔ ❺ د مرابط عمل د قیامته پورے زیاتیږی۔ ❻ هغه د قبر د فرشتو نه په امن کښې وی۔ ❼ د ټولو صدقاتو جاریو اجر د مرګ نه پس تر هغه وخته پورے جاری وی کومے پورے چه هغه صدقه او نیکی او د هغے اثرات جاری وی۔ کله چه اثرات ختم شی۔ نو اجر هم بند شی۔ خود مرابط اجر د قیامته پورے جاری وی۔ ځکه چه هغه د پوره دین حفاظت کوی۔ د اسلام د شعائرو حفاظت کوی۔ او دا ټول څیزونه د قیامته پورے باقی پاتے کیدونکی دی۔ تفسیر قرطبی کښې پوره بحث ووګورئ۔ ❽ مرابط به د قیامت د ورځے د ویرے ترخے نه محفوظ وی۔

دعاء

اے الله؛ مونږه ته ایمان – صبر – مصابره– رباط – تقوی – او فلاح رانصیب کړے۔
(آمین یا ارحم الراحمین)



سُورَةُ

النِّسَاءِ

مَدَنِيَّةٌ

ابتدائیه

په دې تالیف کښې د **سورۂ نساء** د دې لاندینو
دوه شلوېښت آیتونو جهادي مضامين بيان شوي دي۔

آیات
۶۹ تا ۸۵

آیات
۸۸ تا ۹۱

آیات
۹۴ تا ۱۰۴

آیات
۱۳۸ تا ۱۴۷

په دوه ځلويښت آيتونو کښې د جهاد دخبرو خلاصه

آيت ۶۹، ۷۰ په شهداء کرامو باندې د الله تعالیٰ خاص انعام دے ۔

آيت ۷۱ د جهاد د پاره ښۀ پوره جنګی او دفاعی تیارے اوکړئ او حکمت عملئ سره اوځئ ۔

آيت ۷۲ منافق د جهاد نه محرومه وی ۔او دا خپله محرومی د الله تعالیٰ احسان ګنړی ۔

آيت ۷۳ کۀ جهاد کښې مسلمانانو ته فتحه نصیب شی نو منافقان حسد او افسوس کښې مبتلا شی

آيت ۷۴ دآخرت د کامیابئ طلبګار دے جهاد ته اوځی ۔ کۀ دوی شهیدان شی اوکۀ غالب شی د دوی د پاره کامیابی ده ۔

آيت ۷۵ ستاسو د پاره څۀ عذر دے چه تاسو د خپل رب د پاره جهاد نۀ کوئ اود مظلومو مسلمانانو د خلاصی دپاره جهاد نه کوئ ۔

آيت ۷۶ مسلمانان د الله تعالیٰ د پاره جنګیږی او کافران د شیطان دپاره جنګیږی ۔

آيت ۷۷ کافرانو نه مۀ ویریږئ ۔ د دنیا د فانی زندګئ سره زړه مۀ لګوئ بلکه د خپل آخرت د پاره ښۀ جهاد اوکړئ ۔

آيت ۷۸ د جهاد نه تښتیدونکو ! مضبوطو قلاګانو کښې کیښنئ ۔ مرګ به هلته هم تاسو پسے دراورسی ۔ منافقان د شکست په بهانه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے اعتراض کوی ۔

آيت ۷۹ په جهاد کښې د شکست قصور په حضور ﷺ باندے مۀ اچوئ ۔

آيت ۸۰ د جهاد خلاف د منافقانو په خبرو کښې مۀ راځئ ۔ بلکه د رسول الله ﷺ تابعداری اوکړئ ۔ ځکه چه د محمد ﷺ اطاعت د الله تعالیٰ اطاعت دے ۔

آيت ۸۱ مسلمانانو ته په جهاد کښې د منافقانو د مدد ضرورت نشته ۔

آيت ۸۲ د رسول الله ﷺ اود جهاد مخالفت کوونکی په قرآن کښې غور نۀ کوی؟

آیت ۸۳ د جماعت اود جهاد د حفاظت د پاره په افواه ګانو او خبرونو باندے قابو مونډل اود مجاهدینو د پاره د قرآن پاک او د رسول الله ﷺ نه مسلسل رهنمائی حاصلول ضروری دی۔

آیت ۸۴ اے نبی علیه السلام تاسو جهاد کوئ ۔اګر که تاسو یواځے یئ ۔ او مسلمانان په جهاد باندے را او پاروئ ۔ ستاسو په جهاد کولو سره به الله تعالیٰ د کافرانو د جنګ زور ختم کړی ۔

آیت ۸۵ د جهاد دعوت ورکوونکو د پاره زیرے دے۔

آیت ۸۸ منافقانو سره د جنګ په باره کښ دوه ډلے کیږئ مه ۔

آیت ۸۹ کوم منافقان چه ښکاره باره مرتد شوے دی ۔ کۀ دوی ریښتینے توبه نۀ وباسي او هجرت اونۀ کړی نودوی سره جنګ اوکړئ۔

آیت ۹۰ چه کوم کافران تاسو سره په صلح او امن سره د اوسیدو ترتیب جوړ کړی ۔ هغوی سره جنګ مۀ کوئ ۔

آیت ۹۱ کوم منافقان چه په دهوکه بازئ سره تاسو ته نقصان دررسول غواړی هغوی سره جنګ اوکړئ ۔

آیت ۹۴ مجاهدینو له پکار دی چه د جهاد په معاملاتو کښ بۀ تحقیق نه کار اخلی اود ناحق قتل نه دے ځان ډیر بچ ساتی ۔

آیت ۹۵ کور کښ ناست مسلمانان په درجو او فضیلت کښ د مجاهدینو سره برابر نۀ دی ۔

آیت ۹۶ د مجاهدینو دپاره اوچتے اوچتے درجے ، خاص مغفرت او خصوصي رحمت دے ۔

آیت ۹۷ د هجرت او دجهاد د پریښودو او دکافرانو د ملګرتیا خراب انجام ۔

آیت ۹۸،۹۹ کوم خلق چه واقعي د هجرت نه معذوره دی نو هغوی دپاره معافی ده۔

آیت ۱۰۰ څوک چه په لاره کښ وفات شو۔نو د هغۀ هجرت پوره او د هغۀ اجر پوخ شو ۔

آیت ۱۰۱ د جهاد په شرعي سفرکښ د مونځ مسئله چه قصر سره به اداء کیږی ۔

آیت ۱۰۲ د جنګ په دوران کښ د مانځۀ طریقه ۔

آیت ۱۰۳ جهاد کښ د الله تعالیٰ ذکر

آیت ۱۰۴ جهاد کښې سستي ناجائز ده ـ

آیت ۱۳۸ منافقانو دپاره دردناک وهل دي ـ

آیت ۱۳۹ منافقان د عزت او دحفاظت د خاطره کافرانو سره یاری کوی ـ

آیت ۱۴۰ د الله تعالیٰ د هیڅ یو حکم خلاف هیڅ خبره هم مهٔ اورئ ـ

آیت ۱۴۱ منافقان فتحه کښې تاسو سره اوشکست کښې ستاسو مخالف دي ـ

آیت ۱۴۲ منافقان دهوکه باز په مونځ کښې سست او ریاکار دي ـ

آیت ۱۴۳ منافقان کله اخوا اوکله دیخوا ـ

آیت ۱۴۴ مسلمانان پریخودل او کافرانو سره دوستي کول د منافقت دلیل دے ـ

آیت ۱۴۵ جهنم کښې به منافقانو باندے دکافرانو نه زیات سخت عذاب وي ـ

آیت ۱۴۶ منافقان که د سخت عذاب نه بچ کیدل غواړي نو څلور کارونه دِ اوکړي او دمسلمانانو په ډله کښې دِ داخل شي ـ

آیت ۱۴۷ الله تعالیٰ تاسو ته په عذاب درکولو باندے څهٔ کوی که تاسو د شکر ګذارئ اود ایمان لاره خپله کړئ یعنی منافقت پریږدئ ـ

"د دینه علاوه"

د امام رازی رحمه الله په نیز د سورۂ نساء د ۶۹ آیت نه مخکښې هم بعضے آیتونو کښې جهادي مضمونونه موجود دي اوګورئ "التفسیر الکبیر" ـ

او دحضرت مولانا احمد علی لاهوری رحمه الله په نیز د سورۂ نساء آیت ۸۵ آیت ۱۱۰ آیت ۱۵۰ کښې هم جهادي مضامین بیان شوی دي ـ(اوګورئ حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)ـ

اختتام ابتدائیه وآغاز معارف آیات الجهاد



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۶۹، ۷۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ

اوچه کوم خلق د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول منونکے وی نو دوی به د هغه چا سره وی چه الله

عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ

پاک انعام کړے دے په هغوی باندے، چه پیغمبران دی۔ صدیقین دی ۔ شهیدان دی ۔او

وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿۶۹﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

نیکوکار دی۔ او دا ملګری څومره ښهٔ دی ۔ دا د الله تعالیٰ د طرف نه فضل دے ۔او دغه بس دے

عَلِيْمًا ﴿۷۰﴾

چه الله ته پته لګی۔

نچوړ

د الله تعالیٰ اود هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم د فرمانبردارئ دا انعام دے ۔ چه داسے خلقو ته به په آخرت کښې د حضرات انبیاء علیهم السلام ۔د حضرات صدیقینو او د حضراتو شهداؤ او دصالحینو ملګرتیا نصیب شی ۔او پیغمبران، صدیقین، شهیدان او صالحین هغه خلق دی چه په هغوی باندے د الله تعالیٰ نعمت دے ۔ د داسے خلقودا ښهٔ او مزیداره ملګرتیا موندل د الله تعالیٰ فضل دے ۔

هغه کامیاب حضرات چه انعام پرے شوے دے

سورۀ فاتحه کښې دُعاء غوښتلے کیږی چه یاالله مونږه د هغے خلقو په لاره روان کړے چه په چا باندے ستا کامل انعام دے یعنی چه د هغوی دین ستا په نیز مقبول دے او هغوی ستا په نیز کامیاب او انعام یافته دی په دے آیت کښې اوښودلے شو چه مقبول، کامیاب او پاخهٔ انعام یافته دا څلور طبقے دی ۔

❶ انبیاء علیهم السلام ❷ صدیقین ❸ شهیدان ❹ صالحان ۔ (والله اعلم بالصواب)

حضرات شهداء کرام

په دے څلورو یقینی کامیابو طبقو کښې یو د شهدائے کرامو طبقه هم ده ۔

❶ وَالشُّهَدَآءِ الذین استشهدوا فی سبیل الله (المدارک)

یعنی هغه حضرات چه د الله تعالیٰ په لاره کښې شهیدان شو۔

❷ شهداء یعنی هغه حضرات چه د الله تعالیٰ د دین د اوچتولو دپاره ئے د اسلام د دښمنانو سره جنګ اوکړو اود کافرانو د لاسه قتل شو۔ دوی هم د الله تعالیٰ په دربار کښې مقرب دی او د دوی لوئے درجے دی (انوارالبیان)

❸ اوشهید هغه دے چه چاته د پیغمبر په حکم باندے داسے یقین راغے چه په هغے سر ورکوی۔ (موضح القرآن)

❹ وَالشُّهَدَآءِ القتلی فی سبیل الله ۔ یعنی د شهیدانو نه مراد د الله تعالیٰ په لاره کښې قتل کیدونکے دی۔(جلالین)

❺ اما الشهید : فهو المقتول فی سبیل الله، المخصوص بفضل المیتة وفرق الشرع حکمهم فی ترک الغسل والصلوٰة لانهم اکرم من ان یشفع فیهم.(البحر المحیط)

یعنی د شهید نه مراد د الله تعالیٰ په لاره کښې قتلیدونکے دے ۔ د دهٔ مرګ ته خصوصی فضیلت حاصل دے۔ او شریعت دوی ته امتیازی حکمونه ورکړی دی چه دوی ته غسل نهٔ ورکولے کیږی اود دوی د جنازے مونځ نهٔ ادا کیږی ۔ځکه چه دوی ددے نه پورته دی چه څوک د دوی د بخښنے دپاره (د جنازے مونځ کښې) سفارش اوکړی۔ (البحر المحیط)

(د احنافو په نیز د شهدائے کرامو د جنازے مونځ ادا کولے شی څنګه چه د غزوهٔ احد د شهیدانو مونځ ادا کړے شوے وو۔ حضرت ابو حیان رحمه الله د امام شافعی رحمه الله قول اختیار کړے دے)۔

عظیم فضیلت

د سورهٔ فاتحے دُعاء او بیا دا آیت چه مکمل په غور او په یقین سره اولوستلے شی نو د شهادت د فضیلت د پوهے د پاره صرف دا آیت مبارک کافی دے ۔ (والله اعلم بالصواب)

یو قول

امام قرطبی رحمه الله لیکی۔

والمراد هنا بالشهداء عمر وعثمان وعلی والصالحین سائر الصحابة رضی الله عنهم اجمعین.

(یعنی په صدیقینو کښې خو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغے) خود

شهداء نه مراد حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهم اجمعین دی ۔ او صالحین نه تول صحابه کرام رضی الله عنهم مراد دی۔ (القرطبی)

د دے قول د ذکر کولو نه پس لیکی :۔ قلت واللفظ یعم کل صالح وشهید ۔ یعنی زما په نیز د شهید اود صالح لفظ د تولو شهیدانو او صالحانو د پاره عام دے ۔ (یعنی صرف حضرات صحابه کرام مراد نهٔ دی)۔ (قرطبی)

صاحب د تفسیر ماجدی د وَالشُّهَدَآءِ اطلاق ډیر عام کړے دے او فرمائیلے ئے دی : چه مقتولیت (قتل کیدل) څهٔ د خپل اختیار څیز نهٔ دے۔ددے په جواب کښ وئیلے کیدے شی چه صاحبه ! یو مقام هم د خپل اختیار څیز نهٔ دے ۔ انسان دعاء او کوشش کولے شی او لاره اختیارولے شی۔

دعاء

اللهم اهدنا الصراط المستقیم صراط الذین انعمت علیهم من الانبیاء والصدیقین والشهداء والصالحین . یا ذا الفضل العظیم (آمین یا رب العالمین).



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۷۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانفِرُوا ثُبَاتٍ

اے	ایماندارو	خپلے	وسلے	واخلئ۔	بیا	ځُدا	ځُدا	ډلے	ځئ	یا تول

أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا ﴿۷۱﴾

یو ځائے ځئ۔

نچوړ

اے د ایمان خاوندانو! خپله اسلحه او د جنګی دفاع مکمل سامان واخلئ۔ او بیا د ضرورت او دجنګی حکمت عملئ د لاندے د وړو، وړو دستو په شکل کښ اوځئ یا د لوئے لښکرپه شکل کښ۔

ربط

ددے آیت د ما قبل سره د ربط په باره کښ د مفسرینو حضراتو یو څو اقوال وړاندے کوؤ۔

① جهاد د ټولو نه لوئے کار دے

واعلم انه تعالیٰ عاد بعد الترغيب في طاعة الله وطاعة رسوله الى ذكر الجهاد الذى تقدم لانه اشق الطاعات ولانه اعظم الامور التى بها يحصل تقوية الدين .

یعنی چه الله تعالیٰ د خپل اطاعت او د خپل رسول د اطاعت ترغیب ورکړو۔نو د هغے نه پس الله تعالیٰ دوباره د جهاد تذکره اوفرمائیله۔ ځکه چه جهاد د ټولو نه مشکل عبادت دے ۔ او په هغه کارونو کښ د ټولونه لوئے کار دے چه کوم سره دین ته قوت ملاویږی (التفسير الكبير)

② جهاد اصل الاصول دے

کله چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول د اطاعت حکم پوخ شو۔ نو هغه خاص څیزونه چه په هغے کښ د الله تعالیٰ اود هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت ډیر ضروری دے ۔ د هغے بیان شروع کیږی ۔ او په دے کښ غټه اصلی خبره جهاد دے ۔ د دے وجهے نه د دے تمهید نه پس د دے حکم ورکوی ۔ چه ایماندارو وسله را واخلئ! اود دشمن د مقابلے

د پاره یوه یوه ډله شئ ۔ وو ځئ یا ټول یو ځائے ووځئ۔ (ملخص از حقانی)

۳ د پیغمبرانو او صدیقینو د ملګرتیا د پاره جهاد ضروری دے

" د دے ځائے نه د جهاد ذکر دے ۔ د دے نه مخکښے آیت کښ دا ذکر وو۔ چه څوک د الله تعالیٰ اود هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم فرمانبرداری کوی نو هغهٔ ته به د پیغمبرانو ، صدیقینو د شهیدانو او صالحانو ملګرتیا انعام کښ ملاویږی ۔ اود الله تعالیٰ په احکامو کښ چونکه جهاد سخت او ګران دے۔ خاص کر په منافقانو باندے چه د هغوی ذکر د پورته نه راروان دے ۔ د دے وجهے نه ئے د جهاد حکم اوفرمائیلو چه هر څوک د انبیاؤ او دصدیقینو وغیره سره د ملګرتیا امید اونهٔ ساتی۔ دا خبره نقل شوے ده چه د اسلام په شروع کښ ډیر کمزورے ایمان والاؤ هم اسلام قبول کړے وو۔ بیا چه کله جهاد فرض شو نو بعضے متزلزل شو۔ او بعضو د کفارو خبرے شروع کړے۔ اود محمد صلی الله علیه وسلم مخالفت ئے شروع کړو ۔ په دے دا آیت نازل شو ۔ مطلب دا دے چه اے مسلمانانو! د منافقانو حالت خو تاسو ته د وړاندے نه معلوم شوے دے نو اوس خیر په دے کښے دے چه تاسو په هرے طریقے سره خپل بچاؤ۔ خپله خبرداری۔ او خپل احتیاط اوکړئ ۔ که وسلے سره وی او که تدبیر سره۔ عقل سره وی او که سامان سره ۔ اود دشمن د مقابلے او جنګ د پاره د کور نه بهر ته اوځئ۔ جُدا جُداوی۔ او که ټول په یو ځل وی ۔ څنګه چه موقعه وی" (تفسیر عثمانی)

۴ د شکست په غم سره راپارولے کیږی

" د قران مجید د اکثرو آیتونو په شان په دے آیتونو باندے هم پوره ځان پوه کولو دپاره د دے پوره واقعے مخے ته ساتل ضروری دی ۔

احد کښ ایله بس مسلمانانو ته شکست شوے وو۔ او د مشرکانو مات شوی همتونه د دے وجهے نه قدرتی طور زیات شوے وؤ ۔ او صرف قریش نه بلکه ګیر چاپیره نورے قبیلے هم یو ځائے شوے وے اود اسلام خلاف ئے زبردست محاذ تیار کړے وو۔ مسلمانانو ته د همت ، ثابت قدمئ او داستقامت دا درس هم په دغه وخت کښ ورکولے کیږی ۔ خُذُوْا حِذْرَكُمْ د حذر مفهوم ډیر وسیع او جامع دے ۔ هر هغه څیز چه د دشمن نه د بچ کیدو د پاره په کار راځی په دے کښ داخل دے ۔ که وسلے وی اوکه تدبیرونه او په دے باندے نور قیاس کړه ۔ ګویا وئیلے کیږی چه د دشمن په مقابله کښ هر قسمه وړے او غټے وسلے بانډِ پوره او تیار اوسئ۔"(تفسیر ماجدی)

(دآیت په ربط باندے د پوهیدلو نه پس اوس د "خُذُوْا حِذْرَكُمْ" معنیٰ اوګورئ ۔

خُذُوْا حِذْرَكُمْ

❶ وقال الواحدی رحمه الله فیه قولان احدهما المراد بالحذر السلاح والمعنیٰ خذوا سلاحکم الخ ۔

واحدی رحمه الله فرمائی چه په دے کښې دوه قوله دی ۔ اول قول دا دے چه حذر نه مراد وسله ده۔ نو مطلب دا شو چه خپله وسله ځان سره واخلئ ۔ او دویم قول دا دے چه د دشمن نه ځان بچ کړئ۔ اود دشمن نه بچ کیدل هم د وسلے په ذریعه سره کیږی نو بیا هم دا مطلب شو چه خپله وسله واخلئ ۔ (التفسیر الکبیر) ۔

❷ ای احترزوا منه وتیقظوا له ۔

یعنی دشمن نه خپله دفاع اوکړئ ۔او د دوی نه ښۀ هوښیار اوسیږئ ۔ (یعنی غفلت مۀ کوئ چه دشمن تاسو غافل بیا مومی او نقصان دراورسوی) ۔ (جلالین)

امام قرطبی رحمه الله لیکی :۔

❸ هذا خطاب للمؤمنین المخلصین من امة محمد صلی الله علیه وسلم وامر لهم بجهاد الکفار والخروج فی سبیل الله و حمایة الشرع .

یعنی په دے آیت کښې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د امت مخلصو ایمان دارو ته خطاب دے اودوی ته د کفارو سره د جهاد کولو او د الله تعالیٰ په لاره کښې د وتلو اود شریعت په حمایت کښې د جنګ حکم دے ۔

د آیت د ربط بیانولو نه پس امام قرطبی رحمه الله لیکی ۔

وامرهم الا یقتحموا علی عدوهم علی جهالة حتی یتحسسوا الی ما عندهم ویعلموا کیف یردون علیهم فذلک اثبت لهم فقال خُذُوْا حِذْرَكُمْ فعلمهم مباشرة الحروب(القرطبی) .

یعنی الله تعالیٰ ایمان دارو ته حکم کړے دے چه دوی دِ په دشمن داسے نۀ ورخیژی چه د هغوی د مکمل حالاتو نه واقف نۀ وی۔ بلکه ښۀ طریقے سره دے د دشمن د قوت پته اولګوی۔ او بیا دے دشمن ته د رسیدو لارے او طریقے معلومے کړی۔ (او بیا دِ حمله اوکړی) دا ترتیب به د دوی د غلبے او د مضبوطیا ذریعه جوړیږی ۔ د دے وجهے نه ئے ارشاد اوفرمائیلو خُذُوْا حِذْرَكُمْ اودوی ته ئے د جنګ طریقه اوښودله ۔

کلام برکت

یعنی جنگ کښې خپل ځان بچ کول که هغه زغره (اچول) وی یا ډال (اوچتول) یا تدبیر کول یا هنر ـ منعه نهٔ دی۔(موضح القرآن)

د څلورو وارو اقوالو نچوړ

چه په دے څلورو وارو اقوالو کښې غور اوکړے شی ـ نو د جهاد پوره د فاعی نظام په پوهه کښې راځی اودا خبره هم معلومه شی چه د جهاد په دوران کښې ډیر فکر دشمن ته د نقصان رسولو اود خپل ځان د بچ ساتلو کول پکار دی ـ د دشمن مکمل جاسوسی کول ـ دلارو پته لګول مناسب اړخ نه حمله کول ـ محفوظه لاره خپلول ـ د دشمن په تلو راتلو پوخ نظر ساتل ـ د هغهٔ د جنګی تیاریٔ مطابق خپله وسله تیارول ـ خپل ځان د دشمن د ګزار نه د بچ کولو د پاره حفاظتی جامه اچول ـ پوره تدبیر او حکمت عملیٔ سره جنګ کول دشمن ته د زیات نه زیات نقصان رسولو د پاره خپل ذهنی هنر پکار راوستل۔ د جنګ داسے طریقه اختیارول چه د دشمن نقصان او د خپل لښکر بچاؤ اوشی۔غرض دا چه د جهاد په وخت کښې د دشمن نقصان او خپله دفاع په نظر کښې ساتلو سره مقابلے ته وراودانګیٔ ـ(والله اعلم بالصواب)

نکته

د حذر معنیٰ بچ کول راځی ـ خو د دے نه دا بچ کیدل مراد نهٔ دی۔ چه انسان د جنګ او دجهاد نه هم اوتختی ـ بلکه د جنګ په دوران کښې دخپل ځان او د اسلامی لښکر د زیات نه زیاته دفاع مراد ده ځنګه چه د آیت کریمه د الفاظو نه ښکاره او واضحه ده ـ (والله اعلم بالصواب)

فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ـ بیا وړے وړے دستے جوړے کړیٔ او ووځیٔ یا یو ځائے (جنګ له لاړ شئ)۔

فَانْفِرُوْا انهضوا لقتال العدو ـ یعنی د دشمن د جنګ د پاره ووځیٔ ـ (قرطبی)

ثُبَاتٍ کنایة عن السرایا ـ یعنی وړے وړے سریے او دستے جوړے کړیٔ او ووځیٔ (قرطبی)

جمیعا معناه الجیش الکثیف۔ یعنی لوئے لښکر کښې ووځیٔ ـ(قرطبی)

باقی مفسرینو هم تقریبا دغه معنیٰ بیان کړے ده۔ اوګوریٔ دا دوه عبارتونه ـ

❶ ثُبَاتٍ متفرقین سریة بعد اخریٰ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا مجتمعین (جیشا واحدا) (جلالین)

۲ معناه انفروا الی العدو اما ثبات ای جماعات متفرقة ، سرية بعد سرية ۔ واما جميعا ای مجتمعين كوكبة واحدة. (التفسير الكبير)

د اقوالو خلاصه

د دې ټولو اقوالو خلاصه هم هغه شوه کومه چه د امام قرطبی رحمه الله په حوالې سره تېره شوې ده ۔ چه الله تعالیٰ په دې آیت کښې مسلمانانو ته د جنګ طریقه ښائی ۔ وړومبې ئې پوره دفاعی نظام د خُذُوْا حِذْرَكُمْ جامع الفاظو کښې ارشاد اوفرمائیلو ۔ او اوس ئې اِنْفِرُوْا سره د جنګ د پاره د وتلو طریقه ارشاد اوفرمایله چه اصل مقصود چونکه د الله تعالیٰ د کلمې د اوچتولو د پاره د اسلام د دښمنانو سره جنګ کول دی ۔ په دې وجه د جنګی حکمت عملۍ د لاندې هغه طریقه اختیار کړئ چه په هغې کښې د دشمن زیات نه زیات نقصان وی او د اسلامی لښکر زیاته نه زیاته دفاع او فائده وی ۔ نو که چرې ګوریلا جنګ مناسب وی نو فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ او که مکمل لښکر کشی مناسب وی نو اِنْفِرُوْا جَمِيْعًا ۔ او (والله اعلم) دا هم ذهن کښې راتلې شی چه د مکمل جاسوسۍ او نګرانۍ او د تدبیر نه پس مخکښې اِنْفِرُوْا ثُبَاتٍ یو یو ، دوه دوه کسان او وړې وړې دستې دې ګوریلا کارروایانې اوکړی ۔ دشمن ته دې نقصان اورسوی ۔ تنګ دې کړی او د دشمن لارې دې تباه کړی ۔ بیا که ضرورت باقی وی نو په دې کمزوری او تنګ شوی دشمن باندې دې اِنْفِرُوْا جَمِيْعًا پوره لښکر حمله ووکړی ۔ خو د لفظِ "او" په موجودوالی کښې دا معنیٰ لرې ده ۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

حضرت لاهوری رحمه الله لیکی ۔

مسلمانان فیصله کوونکې را لیږلې شوې دی ۔ او په انصاف سره د فیصلې کولو قانون دوی ته ورکړې شوې دې ۔ اوس به دوی د دې قانون د خورولو د پاره مخکښې کیږی ۔ نو د قتال اسباب به پیدا کیږی ۔ ضیعف کسان او ډلې به دا قانون په سر سترګو کینبودل غواړی ۔ نو د دې وجهې نه به د مرکزی جماعت دا فرض وی چه دا کمزورې ډله د اسلام د دشمنانو د پنجې نه آزاده کړی ۔ او د دوی د خلاصولو د پاره به جنګ کوی ۔ نهمې رکوع پورې د حق د مبلغینو د تکمیل پروګرام اوښودلې شو ۔ اوس د لسمې رکوع نه د تبلیغ سفر شروع کیږی ۔ (انتهیٰ)

د دې جملې معترضې نه پس د آیت مطلب په دې الفاظو کښې لیکی ۔

"اے مسلمانانو ! د الهی قانون یعنی د قرآن د خورولو د پاره چه ووځئ نود خپل حفاظت د پاره وسلے واچوئ او ووځئ ـ"(حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

فائده

د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم د رښتینی اطاعت او په جنت کښ داوچتے ملگرتیا دپاره په دے آیت کښ چه کومه نسخه ښودلے شوے ده ـ هغه د جهاد فی سبیل الله ده ـ حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم په دے نسخه باندے پوره پوره عمل اوکړو- هغوی د وړو وړو دستو په ذریعه هم کار روایانے اوکړے ـ خاص کرد رسول الله صلی الله علیه وسلم د گستاخانو او د کفر د مشرانو خاتمه ئے د ﴿انْفِرُوا ثُبَاتٍ﴾ په ذریعه اوکړه او هغوی لوئے لښکرے هم تیارے کړے ـ او اوتل چه په هغے سره هغوی د تولے دنیا قومونو ته شکست ورکړو ـ مسلمانانو باندے لازم دی چه هغوی د جنگ دا دواړه آسمانی طریقے په هره زمانه کښ ژوندئ ساتی ـ او د ﴿خُذُوا حِذْرَكُمْ﴾ د لازمی حکم نه دے چرے هم غفلت نهٔ کوی (والله اعلم بالصواب)

فائده جلیله

علامه آلوسی رحمه الله دَ سرئیے او جیش معنیٰ متعین کوی او لیکی- ویسمیٰ الجیش اذا اجتمع ولم ینتشر کتیبة، وللقطعة المنتخبة المنقطعة منه سریة .

یعنی لښکر چه کله یو ځائے وی او ځان له ځان له د ستو کښ تقسیم نهٔ وی نو جیش ورته وئیلے شی اود جیش نه د یو خو منتخبو کسانو دستے ته سریه وئیلے شی-

وعن بعضهم انها التی تخرج لیلا وتعود الیه وهی من مائة الی خمس مائة او من خمس انفس الی ثلاث مائة او اربعمائة .

اود بعضو په نزد سریه هغه دسته ده چه د شپے د څهٔ کارروایئ د پاره ووځی او بیا لښکرته راواپس کیږی ـ د دوی تعداد د سلو نه تر پنځهٔ سوه پورے وی یا د پنځو کسانو نه تر درے سوه یا څلور سوه کسانو پورے وی ـ وما زاد علی السریة " منسر" کمجلس ومنسر الی الثمانمائة ـ او د سرئیے نه لوئے دستے ته منسر وائی د دوی تعداد اتهٔ سوه پورے وی ـ فان زاد یقال له جیش الی اربعة آلاف فان زاد یسمیٰ جحفلا . ویسمی الجیش العظیم ، خمیسا وما افترق من السریة ، بعثا ، وقد تطلق السریة علی مطلق الجماعة.

او کله چه تعداد د اتو سوؤ نه زیات وی نو " جیش "ورته وئیلے شی د څلورو زرو شمیرے پورے ـ بیا که تعداد د دے نه زیات وی- نو " جحفل " ورته وئیلے شی ، اولوئے

لښکر ته "خميس" وئيلے شي ۔ او" سريه" نه که د څو کسانو دسته ځان له اوليږلے شي نو هغے ته" بعث "وئيلے شي ۔ او کله کله سرية مطلق ډلے د پاره هم استعماليږي ۔(روح المعاني)

دعاء

الله تعالىٰ دِ اسلامي حکومتونو اوديني جماعتونو ته د دے اصطلاحاتو د ژوندي کولو توفيق ورکړي۔

(آمين يا ارحم الراحمين)



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۷۲، ۷۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ إِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ فَإِنْ أَصَابَتْكُمْ مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ

او بے شکه په تاسو کښې داسې هم شته چه د جنګ نه ځان پټوی۔ بیا که چرې په تاسو څۀ مصیبت

أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿٧٢﴾ وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ

راشي نو وائي چه الله تعالیٰ په ما فضل اوکړو چه څۀ د دې خلقو سره نۀ ووم ۔ او که د الله تعالیٰ د طرفنه

فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُولَنَّ كَأَنْ لَّمْ تَكُنْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ

په تاسو فضل اوشي نو خا مخا دے وائي لکه چه ستاسو او دۀ په مینځ کښې د دوستئ هیڅ تعلق نشته ۔

مَوَدَّةٌ يَّا لَيْتَنِي كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾

چه افسوس څۀ هم د دوی سره وے نو لویه کامیابی به مے موندلے وے۔

نچوړ

اے مسلمانانو! تاسو کښې څۀ داسې (منافقان) خلق هم درننوتے دی ۔ چه پخپله هم جهاد له نۀ ځی او نور خلق هم منعه کوی ، بیا چه کله په تاسو دَ شکست وغیره تکلیف او امتحان راشي نو دوی په خپل جهاد ته نۀ تلو باندے خوشحالیږی ۔ اودا په خپل ځان باندے د الله تعالیٰ فضل ګنړی ۔ او که چرے تاسو ته الله تعالیٰ فتحه درکړی نو دوی د حسد اود افسوس په اور کښې داسې سوزی لکه چه د دوی تاسو سره چرے هم څۀ تعلق نۀ وو۔ که چرے دوی ستاسو خیرخواه وے نو دوی به ستاسو په فتحه باندے د حسد او د افسوس په ځائے خوشحالي ښکاره کوله ۔ (خو دوی د مال حریصان ، خود غرضه اود جهاد د مقصدونو نه نااشنا خلق دی)۔

فائده

د جهاد حکم ورکولو سره سمدستی مسلمانان د هغه داخلی دشمنانو نه خبردار کړے شو۔ چه د مسلمان په شکل کښې د مسلمانانو د جماعت په صفونو کښې دننه وُسیږی خو دهغوی کم همتی ، خود غرضی ، بزدلی او بے وفائی همیشه مسلمانانو ته نقصان رَسوی اود جهاد دعوت اودهغے ترتیب خرابوی۔ د دے وجے نه مسلمانانو له د داسے منافق صفته خلقو نه هوښیار ووسیدل پکار دی ۔ (والله اعلم بالصواب)

اقوال او حوالے

① نورو خلقو لره د جهاد نه منعه کوونکی

قال مجاهد وغير واحد نزلت في المنافقين ، وقال مقاتل بن حيان ليبطئن اى ليتخلفن عن الجهاد ، ويحتمل ان يكون المراد انه يتباطأ هو في نفسه ، ويبطئ غيره عن الجهاد كما كان عبدالله بن ابى ابن سلول ، قبحه الله . يفعل يتاخرعن الجهاد ويثبط الناس عن الخروج فيه وهذا قول ابن جريج وابن جرير (تفسیرابن کثیر)

یعنی د مجاهد رحمه الله اود ډیرو مفسرینو حضراتو دا قول دے چه دا آیت دمنافقینو په باره کښ نازل شوے دے مقاتل رحمه الله فرمائی: چه د "لَيُبَطِّئَنَّ" معنیٰ ده " جهاد نه وروستو پاتے کیږی " اودا معنیٰ هم کیدے شی چه دوی پخپله هم جهاد کښ سستی کوی او نور خلق هم د جهاد نه منعه کوی. څنګه به چه عبدالله بن ابی (الله دِ رسوا کړی) کول ـ چه پخپله به هم د جهاد نه وروستو کیدو او خلق به ئے هم په جهاد کښ د وتلو نه منعه کول ـ

❷ د منافق د جهاد د مقاصدو نه بے خبری

انْفِرُوْا ، د نفر معنیٰ کوچ کول او تیار اوسیدل دی اوداسے د جنګ د پاره تیار خلقو ته نفیر وئیلے کیږی ـ یعنی وړوکے ډله چه هغے ته سریه وائی ـ که د هغے ضرورت شی نو هغه دے ووځی او که د ټولو ضرورت وی نو ټول دِ ووځی ـ د جنګ انجام یا خو فتحه او کامیابی وی او د دشمن مال او ملک په قبضه کښ راځی. یا شکست خوړل او زخمی کیدل وی ـ چونکه دا جنګ د دنیاوی بادشاهانو جنګ نۀ دے چه صرف د فتحے فائدے ته په کښ کتلے شی. او که چرته ظاهری فتحه په نظر نۀ راځی یا مشقت او تکلیف په نظر راشی نو(د جنګ نه) به اړخ کولے شی او ځان به ترے ساتلے کیږی ـ بلکه دا خو د هغه آسمانی سلطنت جنګ دے چه د هغے د ظاهریدو پیغمبرانو علیهم السلام خاصکر حضرت یسعیا علیه السلام ، حضرت داؤد علیه السلام حضرت دانیال علیه السلام او حضرت مسیح علیه السلام خبر ورکړے دے ـ چه د کوم جنګ مقصد د بت پرستیٔ شوکت او طاقت ماتول دی ـاو د هغه خلقو ختمول دی څوک چه ربنتونولی.تهذیب او توحید ختموی ـ د دے جنګ فتحه خو فتحه ده خو د دے په شکست کښ هم د دے فوج سپاهیانو ته همیشه دپاره ژوند او د جنت الفردوس پائیدار

انعامات ملاویږی ۔ نو د دے شکست لره قهر او مصیبت گنړل اود دے بائیلات لره زهر گنړلو سره هم په دے کښ سستی کول نۀ دی پکار۔ خو مدینه کښ څۀ خلق منافقان او کمزورے ایمان والا داسے وو چه د دے جنگ په شرکت کښ ئے چل بازی او سستی کوله ، او کله به چه په اسلامی لښکر باندے څۀ مصیبت یا شکست راغے نو خوشحالیدل به او وئیل به ئے چه په مونږه خدائے پاک ډیره مهربانی کړے ده چه په دے جنگ کښ شریک نۀ شو۔ کنی په مونږ به هم مصیبت راغلے وو ، دوی دا خپل نۀ شریکیدل د شکست په حالت کښ الٰهی انعام گنړی ۔ اود مسلمانانو د فتحے او نصرت په وخت کښ افسوس کوی او خپل ځان بالکل پردے گنړی ۔ گویا چه د دوی اود اهل اسلام په مینځ کښ څۀ د محبت اودوستئ رشته نۀ وه ۔ دوی وائی چه کاش مونږ هم د دوی سره وو نو غنیمت کښ به شریک شوے وو او ښۀ مال به راته ملاؤ شوے وو ۔ په دے سره د الله تعالیٰ غرض دا دے چه اے ایماندارو! تاسو له داسے کمزورے ایمان والا او بهانه گرکیدل نۀ دی پکار ۔ او خصوصا داسے کار (یعنی جهاد) کښ چه په هغے باندې ستاسو د دواړو جهانود کامیابئ دارومدار دے ۔(محصله تفسیر حقانی)

فائده

د جهاد د حقیقت زده کولو د پاره د حضرت حقانی رحمه الله دا عبارت بار بار وئیل او ځان پرے پوهه کول پکار دی ځکه چه هم په دے حقیقت باندے پوهیدلو سره په جهاد باندے استقامت آسانیږی او انسان د منافقت د اثراتو نه محفوظ وی ۔ اوداسے کس ته د جهاد هغه اصلی فلسفه ذهن ته راشی کومه چه د فتحے اود شکست نه اوچته ده۔ (والله اعلم بالصواب)

۳ د منافق مقصد دنیا ده

د برکت کلام

یعنی داسے کس منافق دے چه د الله تعالیٰ په حکم نۀ منډه کوی بلکه د دنیا په فائده نظر ساتی ۔ که خلقو ته په دے کار (جهاد) کښ تکلیف اورسی نودے په خپل جُدا اوسیدو باندے فخر کوی او که خلقو ته فائده اورسی نو بیا پښیمانه کیږی اود دشمنانو په شان حسد کوی ۔ (موضح القرآن)

فائده

هغه خلق چه ښۀ حالاتو کښ مجاهد جوړیږی او خرابو حالاتو کښ په خپل بچ کیدو باندے فخر کوی هغوی دے دَ دے عبارت نه عبرت واخلی ۔ (والله اعلم بالصواب)

④ دجماعت نه ځان له خلق

په هره ډله کښې څۀ خلق د ایمان او یقین نه محروم وی او دعزم او دهمت په کښې درک نۀ لګی۔ دوی چه کله اووینی چه د عزم اودهمت څۀ کار شروع کیږی ۔ نودوی د خپلے کمزورئ د وجهے نه پخپله هم ځان ساتی او غواړی چه نور خلق هم منعه کړی ۔ بیا چه کله جماعت قدم اوچت کړی نو دوی ځان له شی او دَ پردو په شان تماشه کوی ۔ که څۀ حادثه پیښه شی نو خوشحالی کوی او وائی چه ښۀ شوه چه مونږ ه دے خلقو سره شریک نۀ شو۔ او که کامیابی ملاؤ شی نو بیا د حسد او پسخیدو د وجهے نه سوزی او وائی چه کاش مونږه هم دوی سره وے نو نن به کامیابئ کښې زمونږه هم حصه وے ۔لکه چه د دوی شخصیت د جماعت د وجود نه بالکل ځان له دے ۔ نۀ خود جماعت نقصان د دوی نقصان دے او نۀ د هغے کامیابی د دوی کامیابی ده۔ (ترجمان القرآن)

⑤ دمنافقانو په شهیدانو پورے توقے

امام ابو حیان رحمه الله لیکی ۔ منافقانو به وئیل : إِذْ لَمْ أَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيدًا چه الله تعالیٰ په ماباندے انعام اوکړو چه څه مسلمانانو سره جهاد ته لانۀ ړم ۔ د "شَهِيدًا" یوه معنیٰ د حاضر ده یعنی ښۀ ده چه څه په شکست او مصیبت کښې د دوی سره حاضر او موجود نۀ ووم ۔ اودا هم کیدے شی چه "شَهِيدًا" په خپله اصلی معنیٰ کښې واخستے شی نو ګویا دوی به د توقو کولو په توګه وئیل چه الله تعالیٰ په مونږ باندے فضل اوکړو چه مونږ د شهید کیدو نه بچ شو ۔ (نعوذ بالله)

"والشهيد هنا الحاضر معهم في معترک الحرب، او المقتول في سبيل الله يقوله المنافق استهزاء لا نه لا يعتقد حقيقة الشهادة في سبيل الله. (البحر المحيط).

(ځکه چه منافق د شهادت د حقیقت عقیده نۀ ساتی)۔

دعاء

اللهم انا نعوذبک من الشقاق والنفاق وسوء الاخلاق اللهم طهر قلوبنا من النفاق وارزقنا شهادة في سبيلک (آمين يا ارحم الراحمين).



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۷۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

نو جنګ دې ووکړي د الله په لار کښې هغه خلق چه خرڅوي د دنیا ژوند

بِالْاٰخِرَةِ ۭ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ

په آخرت باندې او څوک چه جنګ ووکړي د الله په لاره کښې نو قتل کړې شي یا غالب

فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝۷۴

شي نو ډیر زر به مونږ دهٔ ته ورکړو لوې اجر

نچوړ

څوک چه د آخرت د کامیابۍ طلبګاروي نو هغه دې دَ الله تعالیٰ په لار کښې جنګ اوکړي ۔ او څوک چه د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد اوکړي که هغه شهید شي او که غالب ، د دهٔ دپاره هرحال کښې عظیم الشان اجر دې ۔

فائده

منافقان د اسلامي جهادپه فلسفه او مقصد باندې نهٔ پوهیدل۔ د دې وجهې نه به هغوي د ظاهري فتحې او شکست نه اثر اخستهٔ۔ خوایماندارو ته پوهه ورکړې شوه۔ چه جهاد خو د الله تعالیٰ د اطاعت نوم دې ۔ او جهاد یوه د تولونه کامیابه سودا ده ۔ او جهاد کښې د آخرت لویه کامیابي ده۔ باقي پاتې شوه ظاهري فتحه او شکست نو په هغې باندې د جهاد قبولیت او اجر موقوف نهٔ دې ۔ مسلمان که شهید شي او که غالب هر حال کښې هغه کامیاب او بامراد دې ۔ (والله اعلم بالصواب)

د آیت درې ترجمې

حضراتو مفسرینو رحمهم الله د دې آیت درې ترجمې کړې دي ۔ دا درې واړه ترجمې د جهاد ځان له ځان له اړخونه بیانوي ۔

اوله ترجمه

نو پکار دي چه د الله تعالیٰ په لار کښې هغه خلق جنګ اوکړي چه خرڅوي د دنیا

ژوند د آخرت په بدله کښې ـ ترجمه د شاه عبدالقادر ،د شیخ الهند ، دحضرت لاهوری رحمهم الله وغیره ـ

د دے ترجمے مطابق يَشْرُونَ د يبيعون په معنیٰ دے ـ او د فَلْيُقَاتِلْ فاعل الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ دے ـ او خطاب ایمان والو ته دے ـ چه د دنیا فانی زندگی دے خرڅه کړی او د جهاد په ذریعه دے د آخرت طلبګار شی ـ

فکان معنیٰ الاية فليقاتل في سبيل الله الذين يبيعون الحيوٰة الدنيا بالآخرة وهو كقوله تعالیٰ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ (التفسير الكبير

دویمه ترجمه

چه کوم خلق د آخرت په بدله کښې د دنیا زندګی اخلی نو دوی له پکار دی چه د الله تعالیٰ په لاره کښې قتال اوکړی ـ (انوارالبیان وغیره)

یعنی د دنیا طالبانو منافقانو ته حکم کیږی چه تاسو آخرت پریښے دے او دنیا موخپل مقصد جوړ کړے دے چه ډیره لویه غلطی ده ـاوس تاسو له پکار دی چه توبه اوباسئ او ایمان راوړئ اوپه جهاد کښې لګیا شئ ـ چه د آخرت د کامیابئ نه محرومه نۀ شئ ـ په دے صورت کښې به یشرون د یشترون په معنیٰ شی ـ

والقول الثانی :معنیٰ قوله يشرون ای يشترون . قالوا والمخاطبون بهذا الخطاب هم المنافقون الذين تخلفوا عن احد.(التفسير الكبير

قيل نزلت في المنافقين الذين تخلفوا عن احد ويشرون بمعنیٰ يشترون. (البحرالمحيط)

دریمه ترجمه

نو دے کس له پکار دی چه د الله تعالیٰ په لاره کښې هغه خلقو سره اوجنګیږی چه هغوی دآخرت په بدله کښې د دنیا زندګی خپله کړے ده ـ (بیان القرآن)

یعنی د الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا نه مراد کافران دی ـاو هغه کافرانو سره جنګ کول پکار دی چه چا آخرت پریښے دے د دنیا زندګی ئے خپل مقصد جوړ کړے دے ـ نو بیا به الذين د فليقاتل مفعول وی ـ فَلْيُقَاتِلْ ای المؤمن النافر فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ای يبيعون دينهم بعرض قليل من الدنيا وما ذالک الا لكفرهم وعدم ايمانهم.(تفسير ابن كثير)

د جهاد مختلف اړخونه

تاسو درے ترجمے اود هغے حوالے اوکتلے ـ په دے درے واړه ترجمو کښې د جهاد

مختلف ارخونه ښکاره کیږي ۔ ورومبۍ خبره خو دا ده چه دے آیت کښې د قتال فی سبیل الله ترغیب دے ۔ څنګه چه بالکل واضحه او ښکاره ده او په دے کښې د جهاد د فرضیت دلیل هم موجود دے ځکه چه فَلْيُقَاتِلْ د امر صیغه ده ۔

بیا د ورومبۍ ترجمے نه دا خبره ذهن ته راځي چه جهاد د بنده د الله تعالیٰ سره یوه کامیابه سودا ده ۔ نو د چا ایمان چه سلامت وي او عقل ئے ټیک وي نو هغه د دنیا دا سپکه اوفاني زندګي د آخرت د اعلیٰ او باقي زندګۍ په بدله کښې په خوشحالۍ سره خرڅوي ۔ د یو مسلمان په جهاد کښې صرف وتل دا سودا پخه جوړوي۔ مخکښې د الله تعالیٰ خوښه ده چه کله هغه اوغواړي نو د دۀ سر به قبول کړي ۔

د دویمے ترجمے نه دا خبره ذهن ته راځي چه جهاد د ډیرو لویو ګناهونو کفاره ده ۔ نو هغه خلق چه د غزوۀ احد نه پاتے شوے وو اود منافقت په شان جرم کښې مبتلا وو۔ نو هغوی پوهولے شي چه اوس هم کۀ توبه اوباسۍ او جهاد ته راشۍ نو ستاسو ګناهونه به معاف شي اودے سره به اجر عظیم هم ملاؤ شي ۔لکه که بنده د ټول ژوند د ګناهونو نه ځان خلاصوی نو د جهاد میدان ته دے را اودانګي ۔

د دریمے ترجمے په اعتبار سره معلومیږي چه هغه کافران چه صرف دنیا ئے خپل مقصد جوړ کړے دے ۔ د دین او انسانیت د پاره خطره ده ۔که دا خلق د دنیا محبت او د هغے چمک دغه رنګے عام کوي نو بیا به اکثر خلق ایمان نۀ راؤ ړي ۔اود دنیا په پرق پړوق کښې به انخلي اود کفر په تیرو کښې به غورزیدل شروع شي نو د دے وجهے نه د داسے دنیا دارو کافرانو سره او جنګیږۍ چه د دوی زور ختم شي او دوی مغلوب شي او چه د خپل دنیوی قوت او زیب وزینت د وجهے نه څوک کافر جوړ نۀ کړے شي ۔(و الله اعلم بالصواب)۔

یو دلچسپ بحث

امام قرطبي رحمه الله د دے آیت د دویمے حصے نه (چه که څوک جهاد کښې شهید شي او که غالب دۀ ته به اجر عظیم ملاویږي) دا مسئله بیان کړے ده۔ چه که په جهاد کښې چاته غنیمت یا فتحه ملاؤ شوه نو په دے سره د دۀ په اجر کښې څۀ کمے نۀ راځي ۔ بیا دوی د هغے احادیثو مبارکو مفهوم واضح کړے دے چه په هغے کښې دا خبره ښکاره ده چه کومو مجاهدینو ته غنیمت ملاؤ شي نو د هغوی په دریؤ حصو کښې دوه حصے اجر کم شي یعني دوی ته په دنیا کښې ملاؤشي ۔ ټول بحث په تفسیر

قرطبی کښې اوګورئ ـ دعلامه قرطبی رحمه الله په شان دَ علامه ابن کثیر رحمه الله هم دغه رائے ده چه د دے آیت مبارک مطابق هر مجاهد ته پوره پوره اجر ملاویږی ـ که هغهٔ ته غنیمت ملاؤ شی او که شهادت ـ نود دے وجهے نه هغوی لیکی :ـ

ای کل من قاتل فی سبیل الله سواء قتل او غلب فله عند الله مثوبة عظیمة واجر جزیل کما ثبت فی الصحیحین ، وتکفل الله للمجاهد فی سبیله ان توفاه ان یدخله الجنة او یرجعه الی مسکنه الذی خرج منه ما نال من اجر او غنیمة.(تفسیر ابن کثیر)

یعنی د آیت مبارک او صحیح حدیث نه هم دا ثابته شوه چه څوک هم د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد له اوځی نو که بیا هغه شهید شی او که غالب ، د هغهٔ د پاره اجر عظیم دے ـ (البته د شهادت دمقام ځان له فضائل دی)ـ

د برکت کلام

د دے آیت په تفسیر کښې حضرت شاه صاحب لیکی : یعنی مسلمانانو له پکار دی چه د دنیا په زندګئ نظر نهٔ ساتی ـ آخرت دے غواړی او پوه دے شی ـ چه د الله تعالیٰ په حکم کښې په هر لحاظ نفعه ده ـ (موضح القرآن)

په هر لحاظ یعنی که ظاهری فتحه ملاؤ شی او کهٔ شکست ، کامیابی ملاؤ شی او کهٔ زخم ـ غنیمت ملاؤ شی او کهٔ شهادت ـ کهٔ ظاهری نتیجه را اوځی او کهٔ نه، مقصد د الله تعالیٰ حکم پوره کول دی او آخرت په دنیا باندے غوره کول دی ـ بس کهٔ دا خبره ذهن ته راشی نو په جهاد باندے چه څومره فضول اشکالات دی د هغے ګرد به پخپله او وِنځلے شی ـ (والله اعلم بالصواب)

د حق د پیغام دعوت ورکوونکے

چه کوم خلق د دنیا د ژوند په بدله کښې آخرت اخیستل غواړی نو په هغوی باندے لازم دی چه د حق پیغام واخلی او د هر قسمه مشکلاتو د مقابلے د پاره اوځی ـ د خدائے پاک په لار کښې جهاد کوونکے که قتل شی یا فتحه وومومی ـ په دواړو حالتونو کښې به د عظیم ثواب مستحق وی (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۷۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ

او څهٔ وجه ده چه تاسو د الله تعالیٰ په لار کښې د هغه بے وسه سړو۔اود ښځو اودماشومانو

الرِّجَالِ وَالنِّسَاۗءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا

په خاطر جنگ نهٔ کوئ کوم چه وائي چه اے زمونږه ربه؛ مونږه د دے کلي نه اوباسے چه د

مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ

دے اوسیدونکی ظالمان دی او مونږ دپاره د خپل طرف نه څوک حمایتي پیدا کړے او

وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ۝۷۵

زمونږ د پاره د خپل طرف نه څوک مددګار جوړ کړے۔

نچوړ

او ستاسو د پاره څهٔ عذر دے چه تاسو د الله تعالیٰ په لار کښې جنگ نهٔ کوئ۔ اودهغه کمزورو سړو اود زنانو اود ماشومانو د خلاصولو د پاره جهاد نهٔ کوئ کوم چه د الله تعالیٰ په دربار کښې په زاریٔ سره فریاد کوی چه اے زمونږ پروردګاره! مونږه د دے کلي نه اوباسے چه اوسیدونکی ئے سخت ظالمان دی او زمونږ دپاره د خپل طرف نه څوک یار او مددګار جوړ کړے۔

اقوال او حوالے

۱ جهاد فرض دے

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ يدل على ان الجهاد واجب ومعناه انه لا عذر لكم في ترك المقاتلة وقد بلغ حال الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاۗءِ وَالْوِلْدَانِ من المسلمين الىٰ ما بلغ في الضعف . (التفسير الكبير)

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ دا الفاظ د جهاد د فرض کیدو دلیل دے او مطلب دا دے چه ستاسو دپاره د جهاد د پریخودو هیڅ عذر باقي پاتے نهٔ دے۔ځکه چه د کمزورے مسلمانانو سړو، ښځو او ماشومانو مظلومیت دے حد ته رارسیدلے دے ۔ د دے الفاظو

نه پس امام رازی رحمه الله لیکی :-

فهذا حث شدید علی القتال.

نودا آیت په جهاد باندے ډیر تیزول کوی -(التفسیر الکبیر)

۲ د مظلومانو او قیدیانو راخلاصول واجب دی

قوله تعالیٰ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حض علی الجهاد ، وهو یتضمن تخلیص المستضعفین من ایدی الکفرة المشرکین الذین یسومونهم سوء العذاب ویفتنونهم عن الدین ، فاوجب تعالیٰ الجهاد لا علاء کلمته واظهار دینه واستنقاذ المؤمنین الضعفاء من عباده وان کان فی ذالک تلف النفوس.

یعنی د الله تعالیٰ په دے فرمان وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ کښې جهاد باندے تیزول شوے دی ۔ او په دے کښې د کمزورو مسلمانانو دهغه کافرانو مشرکانو نه د خلاصولو هم ترغیب دے چه دوی ته دردناک عذابونه ورکوی اودوی لره د دین نه د اړولو کوشش کوی ۔ نو الله تعالیٰ جهاد فرض کړو د خپلے کلمے د اوچتولو او د خپل دین د غالب کولو اود خپلو کمزورو مسلمانانو بندیانو د آزادولو د پاره اګر کۀ په دے جهاد کښې (په ښکاره) د سرونو نقصان دے ۔ (القرطبی)

د دے نه پس امام قرطبی رحمه الله لیکی :-

وتخلیص الاساری واجب علی جماعة المسلمین اما بالقتال واما بالاموال ، وذالک اوجب لکونها دون النفوس اذ هی اهون منها قال مالک: واجب علی الناس ان یفدوا الاساری بجمیع اموالهم وهذا لا خلاف فیه . لقوله علیه السلام فکوا العانی.

او د قیدیانو خلاصول د مسلمانانو په جماعت باندے واجب دی یا خو د قتال په ذریعه او یاد مالونو په ذریعه ۔ او دمالونو په ذریعه ئے خلاصول ډیر تاکیدی حکم دے۔ ځکه چه د مال قربانی د جان د قربانئ ورکولو نه د کمے درجے ده ۔(نو کۀ قیدی په مال سره راخلاصیدے شی نو د مال قربانی ورکول زیات لازمی دی ۔)

امام مالک رحمه الله فرمائی: دمسلمانانو په ذمه لازم دی چه دوی د (ضرورت په وخت کښې) خپل ټول مال د قیدیانو په فدیه کښې ادا کړی۔ په دے خبره کښې د چا اختلاف نیشته ځکه چه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے "قیدیان راخلاص کړئ" ۔ (القرطبی)

۳ د جهاد د فرضیت یو سبب

فهذا حث شدید علی القتال وبیان العلة التی لها صار القتال واجبًا .(التفسیر الکبیر)

په دے آیت کښې د جهاد سخت ترغیب دے او د هغه علت بیان دے چه د هغے د وجهے نه جهاد فرض شوے دے (یعنی نصرة المستضعفین ، د کمزورو مدد او خلاصے)

۴ د جهاد د فرضیت دوه وجهے

د برکت کلام

یعنی د دواړو وجهونه جنګ په تاسو لازمی دے یو خو د الله تعالیٰ د دین د اوچت والی د پاره ـ دویم د هغے مظلومو مسلمانانو د خلاصی د پاره چه د کافرانو په لاسونو کښې بے وسه پراته دی ـ د مکے په ښار کښې داسے خلق ډیر وو چه د حضرت سره ئے هجرت او نهٔ کړے شو او دهغوی خپلوانو په هغوی ظلمونه کول چه د مسلمانئ نه پس ئے بیا کافران کړی۔ (موضح القرآن)

۵ د جهاد مقاصد

او اعلاء کلمة الله (د الله کلمه اوچتول) خو پخپله یو داسے پوخ او ضروری کار دے چه ددے د پاره جهاد په کار دے۔ دا د (مظلومانو مدد کول) دویم داسے ضرورت دے چه جهاد غواړی ـ دکمزورو مدد ـ دوی له لاس ورکول ـ او د مظلومانو مدد کول او دوی د ظالمانو کافرانو د پنجے نه آزادول پخپله د جهاد په مقاصدو کښې داخل دی۔(تفسیر ماجدی)

۶ کمزورے حق پرست

د حق پرستو د دے کمزوری جماعت د پاره په اسلام باندے سرورکونکو له د جنګ میدان ته تلل لازمی دی۔ (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

نکته

د کافرانو ظلم اود دوی دشمنی د مسلمانانو په حق کښې څومره ښهٔ شوه چه د الله تعالیٰ په دے مسلمانانو دومره مینه راغله چه د دوی د خاطره ئے په نورو مسلمانانو جهاد فرض کړو۔ او د دے مظلومانو دُعا او فریاد ئے د قرآن پاک حصه جوړه کړه او د دوی په غم او خفګان کښې ئے ټول مسلمانان شریک کړل ـ د کافرانو د ظلم په مخکښې په حق باندے ټینګ پاتے کیدل او سختو حالاتو ته مخامخ کیدل اګر چه

ډیر ګران دي ، خو د آخرت په اعتبار سره د یو مؤمن د پاره ډیر لوئے څیز دے ۔خو د دے په مقابله کښې د کافرانو په یارانه د هغوی په مهربانو او د هغوی په محبت کښې د مسلمانانو د پاره بس نقصان او نقصان دے او تاوان او تاوان دے۔

که دے آیت ته په غور سره اوکتلے شي نو په آسانه دا خبره ذهن ته راتلے شي چه آیا الله تعالیٰ د هغه مسلمانانو سره دے چه خپل دین باندے قائم اوسی او د کافرانو په نظر کښې ازغی وی ؟ او که د هغه خلقو ملګرے دے چه خپل نظریات پریږدی او کافران خوشحالوی او د دوی د مطمئن کولو د پاره خپل دین بدلوی۔(و الله اعلم بالصواب)

۷ مظلوم مسلمانان

المراد بـا ٱلْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ قوم من المسلمین بقوا بمکة وعجزوا عن الهجرة الی المدینة و کانوا یلقون من کفار مکة اذی شدیدا قال ابن عباس کنت انا وامی مِنَ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ .(التفسیر الکبیر)

په آیت کښې د الْمُسْتَضْعَفِيْنَ (کمزورو) نه مراد هغه مسلمانان سړی ، ښځے او ماشومان دی چه مکه کښې پاتے شوے وو او دمدینے طرف ته دهجرت کولو نه لا چاره وو ۔ دا ټول د مکے د مشرکانو دطرف نه سختو تکلیفونو سره مخامخ وو۔ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه زهٔ او زما مور هم دے کمزورے ښځو او ماشومانو کښې شامل وو۔

۸ یوڅو نور حضرات

وهم المعنیون بقوله علیه السلام:

"اللهم انج الولید بن الولید وسلمة بن هشام وعیاش بن ربیعة والمستضعفین من المؤمنین (رضی الله عنهم) (القرطبی)

یعنی هغه خلق مراد دی چه د هغوی تذکره د نبی علیه السلام په دے دعاء مبارکه کښې ده ۔ اے زما پروردګاره ولید بن ولید۔ سلمه بن هشام ۔او عیاش بن ربیعه او ټولو کمزورو مسلمانانو ته نجات ورکړے ۔ علامه آلوسی رحمه الله په دے حضراتو کښې د حضرت ابو جندل بن سهیل رضی الله عنه نوم هم شامل کړے دے ۔ (روح المعانی)

۹ دُعاء قبوله شوه

والجمهور علی ان الله تعالیٰ استجاب دعاء هم فجعل لهم من لدنه خیر ولی وناصر وهو محمد صلی الله علیه وسلم فتولاهم احسن التولی ، ونصرهم اقوی النصر ،

ولما خرج من مكة ولّى عليهم عتاب ابن اسيد وعمره احد وعشرون سنة فراوا منه الولاية والنصر كما سألوا .(البحر المحيط)

يعنى د جمهورو قول دا دے چه الله تعالیٰ د دے کمزورے مسلمانانو دُعاء قبوله کړه او دخپل طرف نه ئے دوی ته يو بهترين يارومددگار د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم په صورت کښ ورکړو۔ چا چه د دوی ښهٔ حمايت او پوره نصرت اوکړو۔ او چه هر کله نبی کريم صلى الله عليه وسلم د مکے مکرمے نه واپس تشريف يوړو نو په دوی بانـدے ئے حضرت عتاب بن اسيد والی جوړ کړو چه عمرئے يو ويشت کاله وو۔ د مکے مظلومانو دۀ د طرف نه هم هغه شان ياری او مدد اوليدهٔ چه څنګه دوی د الله تعالیٰ نه غوښتے وو۔

⑩ اتلس کلیز ځوان

ثم استعمل عليهم عتاب بن اسيد و كان ابن ثمانى عشرة سنة فحماهم ونصرهم حتى صاروا اعز اهلها. (روح المعانى)

بيا پيغمبر صلى الله عليه وسلم پـه دوی بانـدے حضرت عتاب بن اسيد والی جوړ کړو۔ هغه د اتلسو کالو وو۔ دوی د مکے د مسلمانانو ښهٔ حمايت او مدد اوکړو۔ تر دے چه دا خلق د مکے مکرمے ډيرزيات عزت مند خلق ووګرزيدل۔ مخکښے د البحرالمحيط په حوالے سره د حضرت عتاب عمر يويشت کاله بيان کړے شوے دے۔(والله اعلم بالصواب)

⑪ ظالمان مغلوب اوذليل شو

قال ابن عباس رضى الله عنهما كان ينصر الضعيف من القوى حتى كانوا اعزبها من الظلمة. (المدارک)

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما فرمائی:۔

چه حضرت عتاب بن اسيد رضی الله تعالیٰ عنه به د طاقتورو په مقابله کښ د کمزورو مدد کولو۔ تر دے چه دا کمزوری خلق د ظالمانو نه زيات معزز (عزت مند) او مضبوط شو ۔



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۷۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغه خلق چه مومنان دی جنګ کوی د الله په لاره کښې او هغه خلق چه کافر دی

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ

دوی جنګ کوی د شیطان په لاره کښې نو تاسو جنګ ووکړئ د شیطان دوستانو

اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ۝۷۶

سره یقینا د شیطان منصوبه کمزورے ده

نچوړ

کوم خلق چه واقعی پاخهٔ مسلمانان دی (هغوی خو چه دا آیتونه او خبرے واوری نو) د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد کوی او چه کوم خلق کافران دی هغوی د شیطان اود شیطانی قوتونو په خاطر جنګ کوی نو چه صورت حال دا دے نو اے مسلمانانو! (د ایمان او د الله تعالیٰ سره د محبت او د وفادارئ تقاضا دا ده چه) تاسود شیطانی قوتونو سره جنګ اوکړئ (دوی ستاسو هیڅ هم نهٔ شی کولے) څکه چه د شیطان تدبیر او فریب ډیر کمزورے دے۔

یعنی مسلمانان خدائی لښکر دے او کافران شیطانی لښکر د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ کول د مسلمانانو والا کار دے او د شیطانی طاقتونو په خاطر جنګ کول کافرانو والا کار دے۔

اقوال او حوالے

۱ په جهاد باندے د غیرت ورکولو یو عجیبه انداز

"په دے آیت کښې یو بلے طریقے سره د جهاد ترغیب ورکړے کیږی۔ هغه دا چه هر کله کفار د شیطانی کار دپاره جنګیږی او د شیطان اسپایان جوړیږی اود نیکو کارونو نه منعه کوی او توحید والا ته تکلیف ورکوی۔ نو بیا په ایمان والا باندے څهٔ شوے دی چه د الله تعالیٰ په لاره کښې به دحق دپاره جنګ نهٔ کوی۔ بلکه چه

څوک حقیقی ایمان والا دی نو هغوی بیخی د الله تعالیٰ په لار کښې ځان قربانولو باندې سَرپه نهٔ کوی ۔ بیا ئې اوفرمائیل چه د شیطان ډلې او جماعت سره جنګ اوکړئ ځکه چه د شیطان فوج همیشه شکست خوری ۔ څهٔ شو فرعون او د هغهٔ لښکر؟ آخر د نمرود څهٔ حال شو؟ حضرت مسیح علیه السلام ته د تکلیف ورکوونکو سره څهٔ اوشو؟ (محصله تفسیر حقانی)

② د جهاد دپاره حوصله زیاتولې شی

کلام مستانف سیق لتشجیع المؤمنین وترغیبهم فی الجهاد ای المؤمنون انما یقاتلون فی دین الله تعالیٰ الموصل لهم الیه عزوجل وفی اعلاء کلمته فهو ولیهم وناصرهم لا محالة الخ.

یعنی په دې نوې جمله کښې د مسلمانانو همت زیاتولې شی او دوی ته د جهاد ترغیب ورکولې شی چه ایمان والا خو صرف د الله تعالیٰ د هغې دین د پاره جنګ کوی چه په کوم دین به دوی الله تعالیٰ ته رسی ۔ اودا خلق د الله تعالیٰ د کلمې د اوچتوالی د پاره جنګ کوی ۔ نو الله تعالیٰ ضرور د دوی مدد او حمایت کوی ۔ بل طرفته کافر د طاغوت د هغې لارې دپاره جنګ کوی چه دوی شیطان ته رسوی ۔ د طاغوت نه مراد کفر دې۔ (روح المعانی)

③ جهاد ضروری دې

یعنی چه کله دا خبره ښکاره ده چه مسلمانان د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ کوی او کافران خلق د شیطان په لار کښې نو بیا خو د مسلمانانو د پاره د شیطان د دوستانو یعنی کافرانو سره بې شکه جنګ ضروری شو۔ الله تعالیٰ د دوی مددګار دې۔ هیڅ قسمه شک کول نهٔ دی پکار۔ او پوهه شئ چه د شیطان فریب او حیله کمزورې ده۔ مسلمانانو باندې به او نهٔ چلیدې شی۔ د دې نه مقصود مسلمانانو ته د جهاد ترغیب ورکول او همت زیاتول دی ۔ چه د هغې ذکر به راتلونکې آیتونو کښې واضح طور باندې راشی ۔ (تفسیر عثمانی)

④ د مؤمن او د کافر په مینځ کښې د فرق بیان

لما امر تعالیٰ المؤمنین اولاً بالنفر الی الجهاد ثم ثانیا بقوله فلیقاتل فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثم ثالثا علی طریق الحث والحض بقوله وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اخبر فی

هذه الآية بالتقسيم .

یعنی وړومبے الله تعالیٰ مسلمانانو ته په جهاد کښې د وتلو حکم اوکړو فانفروا ثبات بیا ئے دوباره حکم ورکړو فليقاتل فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بیا ئے په دریم ځل په رغبت او جوش ورکولو سره حکم اوکړو وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ او اوس ئے په دے آیت کښې مسلمانان او کافران ځان له ځان له تقسیم کړل .

أن المؤمن هو الذي يقاتل في سبيل الله وان الكافر يقاتل في سبيل الطاغوت ، ليبين للمؤمنين فرق ما بينهم وبين الكفار ، ويقويهم بذالک ، ويشجعهم ويحرضهم .

یعنی مومن هغه دے چه د الله تعالیٰ په لاره کښې جنګ کوی او کافر هغه دے چه د شیطان په لاره کښې جنګ کوی . دا تقسیم ئے ځکه اوکړو چه ایمان والاؤ ته هغه فرق او ښائی چه د دوی اود کافرانو په مینځ کښې دے او چه دوی ته حوصله . قوت . اود جهاد ترغیب ورکړی . (البحر المحیط)

د طاغوت معنیٰ

د دے څو اقوالو نه خود آیت کریمه تفسیر به ذهن ته راغلے وی نور څو اقوال به انشاء الله وړاندے بیانیږی . د هغے نه مخکښے د طاغوت مختصره معنیٰ پیژندل پکاردی . په آیت مبارک کښې اوفرمائیلے شو . چه کوم خلق کافران دی هغوی د طاغوت په لاره کښې جنګ کوی . طاغوت په عربئ ژبه کښې یو "وسیع المحمل" (ډیرو معنو والا) لفظ دے .

صاحب د مصباح اللغات لیکی . الطاغوت هر د حد نه تیریدونکے . د بدئ او شرارت سردار . شیطان . ناحق معبود . (مصباح اللغات ص ۵۱۱)

صاحب د القاموس لیکی .

الطاغوت . ❶ ظالم او سرکش ډیر زیات سرکش ❷ د خیر د لارے نه لرے کوونکے هر ګمراه کس . د بندګئ د حد نه تجاوز کولو والا . ❸ شیطان ❹ کاهن ❺ جادوګر ❻ ناحق معبود که انسان وی او که بوت او که پیرے وی . (القاموس الوحید ص ۱۰۰۰) صاحب د تفسیر ماجدی لیکی .

الطاغوت

د طاغوت صحیح ترجمه ډیره مشکله ده په اردو (او پښتو) کښې د دے د پاره د ټولو نه زیات نزدے لفظ شیطان کیدے شی . په عربئ ژبه کښې په خپله عامه پراخه

معنیٰ کښې د دے استعمال په هرباطل معبود او هر سرکش باندے کیږی ۔

قال ابواسحق کل معبود من دون الله "جبت" و طاغوت (لسان) ابواسحٰق فرمائی چه د الله تعالیٰ نه سوا هر معبود "جبت" او طاغوت دے ۔ الطاغوت عبارة عن کل معبد ومعبود من دون الله ۔ (راغب) طاغوت د الله تعالیٰ نه علاوه هر معبود او د هغهٔ عبادت خانه ده ۔

قال مالک بن انس کل ما عبد من دون الله تعالیٰ . (روح)

مالک بن انس رضی الله عنه فرمائی چه د هر چا چه د الله تعالیٰ نه سیوا عبادت اوکړے شی ، هغه طاغوت دے ۔ ما عبد من دون الله تعالیٰ قاله الطبری. (بحر)

وهو کل ما تکون عبادته والایمان به سببا للطغیان والخروج عن الحق من مخلوق یعبد، ورئیس یقلد وهوی یتبع.

طاغوت هر هغه شے دے چه د هغے عبادت او اطاعت د سرکشیٔ او د حق نه د محرومیٔ باعث شی ۔ که هغه داسے مخلوق وی چه د هغے عبادت کیږی یا داسے سردار (حکمران) وی چه د هغهٔ تابعداری کیږ ی یا داسے خواهش وی چه په هغے پسے تلل کیږی ۔ (تفسیر ماجدی د ترجمے د زیاتوالی سره)

امام قرطبی رحمه الله لیکی:

حدثنا ابوالزبیر انه سمع جابر بن عبدالله وسئل عن الطاغوت التی کانوا یتحاکمون الیها فقال کانت فی جهینة واحدة وفی اسلم واحدة وفی کل حی واحدة .(القرطبی)

د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه د هغه طاغوت په باره کښې تپوس اوشوکوم ته چه به خلقوخپلے فیصلے ووړلے۔ نو دوی اوفرمایل چه یو طاغوت په جهینه قبیله کښې وو ۔ یو په اسلم قبیله کښې وو۔ اوپه هره قبیله کښې یو طاغوت وو۔ معلومه شوه چه دا طاغوت انسانان وو او خلق به ئے د کفراو د شیطان په لاره چلول۔

نچوړ

د دے مختصر شان تحقیق نه دا خبره مخے ته راغله چه طاغوت د هر هغه قوت او طاقت نوم دے چه د دینِ اسلام خلاف په تیزیٔ وی ۔ اوطاغوت د هر هغه کس نوم دے چه خلق د دین حق نه گمراه کوی که هغه انسان وی او کهٔ پیرے او طاغوت د هر هغه کس نوم دے چه د اسلام او دمسلمانانو خلاف جنگ کوی ۔ او طاغوت د هر هغه نظام نوم دے چه د هغے گیر چاپیره خلق جمع شی او د اسلام او دمسلمانانو

خلاف تدبیر یا جنگ کوی ۔ او الطَّاغُوْتِ د هر هغه ادارے نوم دے چه هلته د حق دین خلاف څۀ قسمه محاذ جوړ وی۔

د خپل قوت او طاقت په ذریعه د اسلام د لارے بندولو والا۔ د اسلامی قوانینو نفاذ بندولو والا ۔ د مسلمانانو په مقابله کښې د کافرانو مدد کولووالا طاقت ور خلق هم په دے زمره کښې شامل دی ۔ او شیطانان (انسانان وی او که پیریان) او باطل معبودان خو د الطَّاغُوْتِ په اولنۍ معنے کښې دی ۔ (والله اعلم بالصواب)

عبرت

په تیره زمانه کښې د برطانیے حکومت یو الطَّاغُوْتِ جوړ شو۔ چه اسلامی خلافت ئے ختم کړو او اسلامی ملکونه ئے خپله قبضه کښې واخیستل ۔ د دغه زمانے عالمانو مسلمانان په انګریزی فوج کښې د برتۍ نه منعه کړل چه دوی د الطَّاغُوْتِ په لاره کښې جنګ اونۀ کړی ۔ خوش نصیبه خلقو په دے قرآنی فتوے باندے عمل اوکړو۔ خو ډیر خلق د وخت په بد ترینه غلطۍ کښې مبتلا شو۔ او د الطَّاغُوْتِ اسپایان جوړ شو۔

نن په دنیا کښې امریکه د دنیا د نورو طاغوتونو سره د اسلام او د مسلمانانو خلاف د جنګ میدان ته راوتلے ده۔ چه کوم خلق مسلمانان دی هغوی دے د دے آیت مبارک آواز واوری ۔ او ځان دے د الطَّاغُوْتِ خدمت ګاران او اسپایان نۀ جوړوی۔ د دے وجهے نه چه الله تعالیٰ فرمائي:۔ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ چه کوم خلق کافران دی هغوی د طاغوت دپاره جنګ کوی ۔ تول خلق به مرۀ کیږی او د الله تعالیٰ وړاندے به حاضریږی د ایمان نه لوئے څۀ نعمت نیشته او د روزۍ مالک صرف او صرف الله تعالیٰ دے ۔ د لږے شان تنخواه او د معمولی مال د پاره الطَّاغُوْتِ مضبوطول د مسلمان کارنۀ دے۔ (والله اعلم بالصواب)

اوس د آیت په تفسیر کښې په څۀ نورو اقوالو باندے نظر واچوۍ ۔

۵ د طاغوت دَ اسپایانو حال

"الطَّاغُوْتِ"۔ دلته چه ئے دا لفظ راوړو نو دا د طاغوتی او د جاهلیت د اسپایانو سرکشی۔ خدا فراموشی۔ نفسی پرستی۔ او د حدودونه تجاوز ښکاره کوی۔ د الطَّاغُوْتِ ترجمه که دلته په "نفس" سره اوکړے شی نو اردو کښې شاید چه پوره مفهوم

ادا شی۔ دطاغوت او د نفس په لاره کښې چه نن هم کوم قومونه د وطن د دوستئ۔ د قوم د خدمت او دملکی آزادئ په ښکلے نومونو سره لګیا دی جنګ کوی که د دوی د اخلاقی حالت جائزه واخستے شی ۔نو شقاوت اوسخت دلی ۔ دهوکه او خیانت ۔ شراب خوری او حرام کاری ۔ غرض چه کوم معیار سره غواړئ۔ امتحان پرے اوکړئ۔ نو د ځناورو او درندګانونه به ئے زیات بد حالت راښکاره شی ۔ دا ټولے کرشمے د فِیْ سَبِیْلِ الطَّاغُوْتِ د جنګ کولو او د آخرت د محاسبے نه بے پرواه د جنګ جګړو کولو دی ۔صرف دجنګ لفظ خو په دواړو کښې شریک دے ۔ لیکن مخکښې د طاغوتیانو د لاهوتیانو سره هیڅ مناسبت نۀ پاتے کیږی ۔

نن صبا چه د طاغوتی جنګونو کومے خشته خشته نعرے دی۔ لکه د جمهوریت بحالی ۔ملکی مفاد ۔د عالمی ورورولئ تعاون وغیره ۔ښکاره خبره ده چه په دے کښې یو څیز هم د الله تعالی د لارے نۀ دے ۔بلکه دا ټولے د الطَّاغُوْتِ لارے دی۔ (تفسیر ماجدی)

⑥ د دے آیت څۀ رازونه

لاندے د تفسیر حقانی دمفصل کلام خلاصه وړاندے کوۀ ۔

(الف) دا د هغه خلقو د اعتراض جواب دے چه وائی چه دین د وعظ نصیحت او د معجزو پورے محدود کیدل پکار دی۔په دے کښې د وهلو ټکولو اود قتل وقتال څۀ ضرورت دے؟ حضرت عیسیٰ علیه السلام جنګ اونۀ کړو د صبر نه ئے کار واخستۀ وغیره۔

دغه خلقوته اوښودلے شوه چه هرکله د حق او د صداقت د شمنان د کفر او فساد په لاره کښې جنګ کوی وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا یُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ الطَّاغُوْتِ نواوس که د دوی په مقابله کښې د ایمان خاوندانو ته په شرط د قوت اجازت ورنۀ کړے شی نو څۀ به کیږی؟ که د جنګ اجازت نۀ وی نو پوره دنیا به د الطَّاغُوْتِ عبادت شروع کړی ۔ د حضرت موسیٰ علیه السلام سره قوم موجود وو۔ نو دے وجهے نه هغوی ته د جنګ اجازت اوشو۔ د حضرت عیسیٰ علیه السلام حواریین کمزورے وو۔ نو ددے وجهے نه بغیر د صبر نه به ئے څۀ کول؟ (د قوت شرط موجود نۀ وو) خو د دے باوجود چه د دوی حواریین کله ګرفتار کړے شو۔ نو دوی ته د وسلے د تړلو حکم اوشو۔ او دیو حواری په تورے سره د مخالف ډلے د یو کس غوږ والوتۀ ۔(انجیل لوقا)

(ب) په دے آیت کښې اِنَّ کَیْدَ الشَّیْطٰنِ کَانَ ضَعِیْفًا چه اووئیلے شو چه د " شیطان فریب او مکر کمزورے دے " نو په دے کښې د مسلمانانو د فتحے پیشن ګوئی

اوکړے شوه چه کوم وخت دا پیشن گوئی کیدله نو په دغه وخت کښې په ټوله دنیا باندے د طاغوتی طاقتونو غلبه وه۔ او د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ کولو والا کمزوری وو۔خو لږه موده پس دا پیشن گوئی پوره شوه (په دے کښې ترقیامته عبرت او سبق دے)۔

ج صرف جنګ کول څۀ ښۀ خبره نۀ ده ځکه چه کافران هم د طاغوت دپاره جنګیږی۔ دے وجهے نه د مسلمانانو جنګ کول د الله تعالیٰ د کلمے د اوچتولو دپاره کیدل پکاردی۔ چه په دے کښې شهرت او بهادری (ښکاره کول) مقصود نۀ وی۔ (محصله تفسیر حقانی)

⑦ جنګ د چا خلاف دے؟

فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ مسلمانانو ته د جنګ حکم ملاویږی خو د چا په مقابله کښې؟ د شیطان او طاغوتیانو مقابله کښې۔د مقاتلین فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ په مقابله کښې کوم چه په دنیا کښې بس دَ شر او د فساد۔د فسق اود شرک حکومت خورول غواړی"۔ (تفسیر ماجدی)

⑧ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا د دوی د ټولونه زیات طاقت ورسردار شیطان دے۔ الله تعالیٰ فرمائی چه د شیطان قوت او تدبیر کمزورے دے نو دے اود دۀ دوستان د الله تعالیٰ او دهغۀ د لښکر مخے ته چرته ټینګیدلے شی۔ په دے باندے یو ځو داسے عبارتونه وړاندے کوو چه ایمان و رسره زیاتیږی۔

په آخره کښې یوه عجیبه نکته

☆ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا فی حد ذاته فکیف بالقیاس الی قدرة الله تعالیٰ اَلَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ وهو سبحانه ولیکم۔

د شیطان تدبیر خو پخپله هم کمزورے دے۔نو بیا به د الله تعالیٰ د قدرت وړاندے هغه څومره کمزورے وی۔ د دے خبرے اندازه لګول مشکل نۀ دی۔ هغه الله تعالیٰ چه مسلمانانئے په لاره کښې جهاد کوی هغه د دوی حمایتی دے۔ (روح المعانی)

☆ د حق او د باطل په جنګ کښې به فتحه یقینا حق ته وی۔ (حاشیه حضرت لاهوری رحمه الله)

☆ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ۔ په دے کښې ئے مسلمانانو ته همت ورکړے دے چه

شیطان څهٔ د وېرې او ترخې څیز نهٔ دے ـ هغه په تاسو حاکم او آمر نهٔ دے ـ تاسو لږ همت اوکړئ نو دے به پخپله ستاسو نه پناه غواړي او تښتی به ـ په دهٔ کښې خو دَم اړو شته نه ـ جنګی زندګی خو یو خوا ته کړه ـ د اخلاقو او معاشرت او معاملاتو او دعباداتو په میدان کښې هم دَ شیطان سره مقابله کول څهٔ ګران نهٔ دی ـ ضرورت صرف د همت دے۔ (تفسیر ماجدی)

نکته

دکافرانو ټول طاقت او شان شوکت او د دوی ایټمی اسلحه او هوائی طاقت دا ټول كَيْدَ الشَّيْطٰنِ د شیطان تدبیرونه دی ـ الله تعالیٰ فرمائی : دا ټول هر څهٔ کمزورے دی۔ د چا مجال دے چه د الله تعالیٰ په فرمان کښې شک اوکړی ؟ بس مسلمانان دے ریښتونے مسلمانان جوړ شی ـ د دنیا په ځائے دے آخرت خپل مقصود جوړ کړی ـ او جهاد فی سبیل الله دے د قرآنی حکم مطابق جاری کړی۔ نوبیا به د سترګونه شیطانی پردے لرے شی او هرخوک به وائی چه بے شکه اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضعيفا. (والله اعلم بالصواب)

فائده

بعضِ مفسرینو کان ضعیفا کښې "کان" د "صار" په معنیٰ اخستے دے ـ چه د شیطان تدبیر صار بالاسلام ضعیفا د اسلام د راتلو نه پس کمزورے شوے دے ـ (روح المعانی)

دے نه هم اشاره ملاؤ شوه چه مسلمانان څومره اسلام ته نزدے ورځی نو دومره به شیطانی قوتونه د دوی په مقابله کښې کمزورے کیږی ـ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاۤءِ مَدَنِيَّةٌ — آیت ۷۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْنَ قِیْلَ لَهُمْ كُفُّوْۤا اَیْدِیَكُمْ وَ اَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَ

آیا تا هغه خلق نۀ دی لیدلے چه هغوی ته وئیلے شوے وو چه خپل لاسونه بند کړئ او مونځ قائم کړئ او

اٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَیْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ یَخْشَوْنَ

زکوٰة ورکړئ۔ بیا چه کله په دوی باندے جنگ فرض کړے شو نو په دوی کښې یوه ډله د خلقونه داسے

النَّاسَ كَخَشْیَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْیَةً ۚ وَ قَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ

ویریدله۔ څنګه چه د الله تعالیٰ نه ویره وی یا د دے نه هم زیاته ویره۔ او وے وئیل اے زمونږه ربه تا په مونږ

عَلَیْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْ لَاۤ اَخَّرْتَنَاۤ اِلٰۤى اَجَلٍ قَرِیْبٍ ؕ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْیَا

باندے جنگ ولے فرض کړو۔ ولے دے مونږه ته لږ نور مهلت رانۀ کړو۔ دوی ته ووایه چه د دنیا فائده

قَلِیْلٌ ۚ وَ الْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۫ وَ لَا تُظْلَمُوْنَ فَتِیْلًا ﴿۷۷﴾

لږه ده۔ او آخرت د پرهیزګارو دپاره بهتر دے او دیو باتئ برابر به هم تاسو سره زیاتے نۀ شی کولے۔

نچوړ

څۀ خلقو د جهاد د حکم راتلو نه مخکښې د جهاد اجازت غوښتلو۔ خو دوی ته به وئیلے کیدل! چه نه! اوس اجازت نیشته۔ بس د مونځ او زکوٰة وغیره پابندی کوئ۔ بیا چه کله په دوی باندے جهاد فرض شو نو په دوی کښې بعضے اوتر شو۔ اوډکافرانو نه داسے په ویره شو لکه څنګه چه د الله د عذاب نه ویره پکار ده۔ اوبعض خو د دے نه هم په زیاته ویره کښې مبتلا شو۔ او ارمان ئے کولو چه کاش! اوس د جهاد حکم نۀ وے راغلے او مونږه څۀ نور مهلت موندلے وے۔ چونکه د دوی په زړونو کښې د دنیا د څۀ نعمتونو شوق پیدا شوے وو۔ او د دے نعمتونو پریښودل دوی ته ګران وو۔ نو دوی پوهه کړے شو چه په دنیا کښې دی څۀ؟۔ د دے نعمتونه هم فانی۔ او د دے فائده هم ډیره لږه۔ نو بیا د دے په خاطر د جهاد د حکم وروستو کولو څۀ مطلب؟ اصل نعمتونه خو د آخرت دی چه هلته د متقیانو خلقو د پاره خیر او خیر دے او هلته به دوی ته د دوی د اعمالو پوره پوره بدله ملاویږی۔ نو بیا د جهاد نه بل

څۀ لوئے عمل کیدے شی ؟ دے وجهے نه د خپل آخرت د پاره ډیر ډیر جهاد اوکړئ ـ

اقوال او حوالے

① د (خوند نه) ډک شکایت

پورته د جهاد د وجوب اود هغے د فضائلو بیانولو سره د جهاد ترغیب وو۔ وړاندے په یو بل انداز باندے د دے ترغیب دے ـ یعنی د جهاد د پاره د بعضے مسلمانانو په نۀ تیاریدو باندے د دوی نه یو خوندور شکایت هم دے چه د هغے بنیاد دا شو چه مکه کښې به کافرانو مسلمانانوته ډیر تکلیفونه رسول۔ په دے وخت کښې بعض اصحابو د جهاد اجازت په زور سره اوغوښتو۔ خودغه وخت حکم د عفوے اود درګذر وو۔ د هجرت نه وروستو چه د جهاد حکم راغے نود بعضے کسانو په طبیعت باندے ګران اولګیدۀ۔

(اورده فی لباب النقول عن النسائی) نو په دے باندے دا شکایت اوکړے شو ـ (بیان القرآن)

② اوس لا ـ نه

عن ابن عباس ان عبدالرحمن بن عوف واصحاباله اتواالنبی صلی الله علیه وسلم بمکة فقالوا یا نبی الله ! کنا فی عز ونحن مشرکون فلما امنا صرنا أذلة فقال انی امرت بالعفو فلا تقاتلوا القوم فلما حوله الله تعالیٰ الی المدینة امره بالقتال فکفوا فنزلت الآیة اخرجه النسائی فی سننه. (القرطبی)

د بیان القران عبارت هم د دے نه اخستے شوے دے ـ

③ دا کسان څوک وو مسلمانان کۀ منافقان؟

مفسرینو حضراتو رحمهم الله په دے باندے کافی تفصیلی بحث کړے دے چه دا خلق چه د جهاد فرض کیدو نه پس اوویریدل ـ دا څوک وو؟ کمزورے مسلمانان یا منافقان؟ امام رازی رحمه الله دواړه قولونه دلائلو سره بیان کړے دی ـ اوګورئ (التفسیر الکبیر)

صاحب د تفسیر حقانی دواړه خبرے راجمع کوی او لیکی :۔

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ دا هم د هغے جلد بازو باره کښې اوفرمائیلے شو۔ او په جهاد کښې د سستئ کولو په وجه په دوی باندے الزام قائم کړے شو ـ چه تاسو خوبه د جهاد د فرض کیدو نه مخکښې دا خبرے کولے بیا چه کله جهاد فرض شو۔ نو د مرګ نه

اوویریدئ۔ او داسے مو ووئیل چه کاش! په مونږه باندے جهاد نهٔ وے فرض شوے نو مونږ به لږه موده نور ژوندی پاتے شوے وے۔ اگرچه د جهاد شوقیان مخلصین خلق وو۔ خو منافقان خو هم په ظاهره په دوی کښ شامل وو۔ د دے وجهے نه إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ وئیل صحیح شو۔ یعنی منافقان د دشمنانو نه داسے ویریږی چه څنګه څوک د خدائے نه ویریږی یا د دے نه هم زیات۔ او دوی داګنړی چه جهاد له تلل مرګ دے۔ د دے په جواب کښ (الله تعالیٰ) نبی (پاک ﷺ) ته داسے تعلیم ورکوی چه دوی ته اووایه۔ که دا اومنلے شی چه جهاد له تلل د مرګ سبب دے۔ او کور کښ کیناستل ژوند دے۔ نو دا ژوند به کومے پورے وی؟ د دے ځائے څهٔ نعمتونه دی؟ آخر فانی دنیا ده۔ (تفسیر حقانی)

۴ قل متاع الدنیا قلیل

تاسو اوفرمایئ چه د دنیا فائده ډیره لږه ده۔ ومتاع الدنیا منفعتها والاستمتاع بلذاتها وسماه قلیلا لانه لا بقاء لهٗ وقال النبی صلی الله علیه وسلم

مثلی ومثل الدنیا کراکب قال قیلولة تحت شجرة ثم راح وترکها.

یعنی د متاع الدنیا نه مراد د دنیا نفعه او د هغے د لذتونو نه فائده اخستل دی۔ دے ته "لږه" د دے وجهے نه اووئیلے شوه چه دا باقی نهٔ پاتے کیږی۔ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمان دے۔ زما او د دنیا مثال د هغه سور په شان دے چه هغهٔ د یو اونے د لاندے لږه شان قیلوله اوکړه او بیا ئے هغه پریښوده او لاړهٔ۔ (القرطبی)

صاحب د بیان القرآن لیکی

تاسو اوفرمایئ چه د دنیا نه فائده اخیستل صرف یو څو ورځے دی او آخرت چه د هغے د حصول اعلیٰ ذریعه جهاد دے هر لحاظ سره بهتر دے۔ (بیان القرآن)۔

۵ بغیر د جهاد نه دین نامکمل

وقال قوم: کان کثیر من العرب استحسنوا الدخول فی الدین علیٰ فرائضه التی قبل القتال من الصلوٰة والزکوٰة ونحوها والموادعة ، فلما نزل القتال شق ذالک علیهم وجزعوا له فنزلت.

یعنی بعضے مفسرین فرمائی چه د عربو ډیرو خلقو د هغه فرائضو په بنیاد باندے کوم چه د جهاد نه مخکښے وو۔ یعنی مونځ زکوٰة وغیره او د صلحے په بنیاد باندے د اسلام دین ته را داخلیدل خوښ کړل۔ بیا چه کله جهاد فرض شو نو دوی ته ګرانه

ښکاره شوه او اوبریدل نو دا آیت نازل شو (او دوی ته د جهاد ښۀ رغبت ورکړے شو) ۔ (البحرالمحیط) ۔

⑥ جهاد دمسلمان مراد دے

دبرکت کلام

یعنی کله پورے چه مسلمانان مکه کښې وو اوکافرانو به ورته تکلیفونه رسول ۔نو اللّٰه تعالیٰ دوی دجنګ نه منعه کول او د صبر حکم به ئے ورته کولو۔ اوس چه کله حکم د جنګ راغلے نو پوهه شو چه زمونږ د زړه مراد ملاؤ شو۔ لیکن بعضے کچه مسلمانان په ځنګ کیږی اودمرګ نه ویریږی ، اوداللّٰه تعالیٰ برابر دخلقو نه خطره کوی۔ (موضح القرآن)

نکته

جهاد د اسلام یو مستقل فریضه اود قیامته پورے جاری پاتے کیدو والا عمل دے ددے وجهے نه قرآن پاک د جهاد د نظرئے هر اړخ بیانوی۔ تیرو آیتونو کښې دا خبره اوښودلے شوه چه فتحه او شکست د جهاد معیار مۀ جوړوئ ۔ که فتحه ملاؤ شی اوکه شکست ۔د اللّٰه تعالیٰ حکم ئے اوګڼرئ ۔او د دین دغلبے دپاره جنګ کوئ ۔ په دے آیت کښې دا اوښودلے شوه چه جهاد څۀ وقتی اوجذباتی شے نۀ دے چه کله د کافرانو د طرف نه ظلم او ستم وی نو تاسو به جهاد کوئ ۔او چه کله تاسو ته امن او آرام ملاؤ شی۔نو بیا د نیا پسے شئ او جهاد اوآخرت هیر کړئ۔ او د ظاهری امن په خاطر د کافرانو نه ویریدل شروع کړئ۔ جهاد خو د اللّٰه تعالیٰ د کلمے د اوچتوالی د پاره دے جهاد خو د دین اسلام په تولو دینونو باندے د غلبے دپاره دے ۔ جهاد خو د اسلامی دعوت پوره دنیا ته رسولو دپاره دے ۔ او جهاد خو د تقویٰ د تولو نه لویه درجه ده او آخرت متقیانو خلقو ته ملاویږی ۔

نو د دے خبرے پیژندګلو اوکړے شوه او مسلمانانو کښې د جهاد نظریه مضبوطولو او د جهاد د عمل د جاری ساتلو انتظام اوکړے شو ۔(واللّٰه اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ النِّسَاۗءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۷۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ؕ

تاسو چه چرته یئ مرګ به تاسو رانیسي اګر که تاسو په مضبوطو قلاګانو کښې

وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ

یئ۔ او که دوی ته څۀ فائده رسي نو وائي چه دا د الله تعالیٰ د طرفنه ده او که څۀ

سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

نقصان اورسي۔ نو وائي چه دا ستا د طرفنه دے۔ووايه چه دا ټول د الله تعالیٰ د طرفنه

فَمَالِ هٰۤؤُلَاۤءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ۝۷۸

دي۔ دے خلقو باندے څۀ شوے دي چه څۀ خبره د دوی په پوهه کښې نۀ راځي۔

نچوړ

که په جهاد کښې وونۀ وتے۔نو ولے مقرر وخت باندے به د مرګ نه بچ شے ؟ بالکل نه۔ مرګ د جنګ میدان سره تړلے نۀ دے۔ تۀ چه هر چرته هم ئے۔ مرګ به تاله راشي که تۀ مضبوطو او محفوظو قلعه ګانو ته هم لاړ شے۔ او په کښې کښینے۔ د دے منافقانو هم عجیبه حالت دے۔ چه کله دوی ته په جنګ کښې فتحه او غنیمت ملاویږي نو دا د الله تعالیٰ تقدیر ګڼړي۔ اوچه کله شکست وغیره ملاویږي نو بیا په پیغمبر علیه السلام باندے (نعوذ بالله) تنقید کوي۔ دوی ته دے اووئیلے شي چه هر څۀ د الله تعالیٰ د طرفنه دي۔په دے احمقو خلقو باندے څۀ شوے دي۔چه په خبرے د پوهیدو په خوا هم نۀ تیریږي۔

اقوال او حوالے

① د جهاد نه ویریدل ناپوهي ده

یعنی که هرڅنګه مضبوط او محفوظ او په امن والا ځائے کښې هم تاسو وئ۔ خو مرګ به تاسو بلکل نۀ پریږدي۔ځکه چه مرګ د هر چا دپاره مقرر کړے شوے دے۔ په خپل وخت باندے به خامخا راځي۔هر ځائے چه وي۔نو که جهاد ته نۀ ځے۔ نو بیا هم د مرګ نه بلکل نه شے بچ کیدے۔ نو د جهاد نه ویریدل او د مرګ نه ویریدل او کافرانو سره د جنګ نه ویریدل بیخي ناپوهي او په اسلام کښې د کچه والي خبره ده۔(تفسیر عثماني)

۲ په جهاد سره مخ رونړے الله تعالی ته اورسه

دلته کښې دا پيژندګلو شوې ده چه هر کله مرګ داسے يقيني او بے پناه شے دے ـ نو آخرت ته د جهاد د اجرونو او بے حسابه مرتبو نه محرومه اوتش لاسے ولے ځے ـ په غزا او په قتال سره مخ رونړے ولے نۀ ځے ـ؟ (تفسير ماجدی)

۳ وريدلے خلقو ته جواب دے

والمقصود من هذا الكلام تبكيت من حكى عنهم انهم عند فرض القتال يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ . فقال تعالىٰ : اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ فبين الله تعالىٰ انه لا خلاص لهم من الموت والجهاد موت مستعقب لسعادة الآخرة فاذا كان لابد من الموت فبأن يقع على وجه يكون مستعقبا للسعادة الأبدية كان اولىٰ من ان لا يكون كذلك. (التفسير الكبير)

په تيروشوؤ آيتونو کښې د هغه خلقو بيان وو چه په هغوی باندے قتال فرض شو نو هغوی د دشمن نه داسے ويريدل شروع کړل لکه چه د الله تعالیٰ د عذاب نه ويريدل پکار دی بلکه د دے نه هم زيات او دائے وئيل : چه اے زمونږه ربه ! تا ولے په مونږه باندے قتال فرض کړو ـ؟ په دے آيت کښې هغه خلقو ته جواب ورکول مقصود دی ـ الله تعالیٰ اوفرمائيل : چه تاسو چرته هم يئ ـ مرګ به تاسو له راځی ـ نو الله تعالیٰ په دے پوهه کړل چه د مرګ نه خلاصے نيشته ـ اوپه جهاد کښې داسے مرګ دے چه د هغے شاته د آخرت خوش بختئ پتے دی ـ نو چه دَ مرګ راتلل يقيني دی نو د اسے مرګ چه د هغے شاته خوش بختی وی ـ د هغه مرګ نه ډير ښۀ دے چه په هغے کښې دا خوبی نۀ وی ـ

فائده

دے ځائے پورے د دے آيت د رومبئی حصے اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ معنی معلومه شوه ـ امام ابن كثير رحمه الله په خپل تفسير کښې د آيت په دے حصه باندے څو صفحے ليکل کړے دی ـ او د مسلمانانو په زړونو کښې ئے د دے خبرے د کښينولو کوشش کړے دے ـ چه د مرګ وخت او ځائے مقرر دے ـ په دے وجه د مرګ نه د بَچ کيدو د پاره د جهاد دپريخودلو غلطی مۀ کوئ ـ هغوی ډيرے عجيبه قصے ـ ډير روايات او دَ حضرت خالد بن وليد رضی الله عنه د آخر وخت د مبارکو کلماتو ذکر هم کړے دے ـ او نورو قرآنی آيتونو سره ئے هم دا مسئله واضحه کړے ده اوڅو خائسته عربی اشعارو سره ئے هم د دے خبرے پوهولو کوشش کړے دے ـ شوقمند حضرات د دے هلته اوګوری ـ اوس راځئ د آيت د دويمے حصے جهادی مضمونونو طرفته ـ او وړاندے کوځ څو عبارتونه ـ

۱ دَ منافقانو ذهنی کشمکش

یعنی د دے منافقانو یو بل عجیبه حال واوری که تدبیر د جنګ سمے اوخوری او فتحه ملاؤ شی ۔ او غنیمت په لاس راشی نو دوی وائی چه دا د الله د طرفنه دی ۔ یعنی اتفاقی خبره ده ۔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ تدبیر به نهٔ قائل کیدل ۔ او که تدبیر به سمے اونهٔ خوړلو او بائیلات او نقصان به اوشو۔ نو د پیغمبر علیه السلام په تدبیر به ئے الزام لګاؤ ۔ الله تعالیٰ فرمائی: چه اے محمد صلی الله علیه وسلم ؛ دوی له جواب ورکړه چه فائده او نقصان ټول دَ الله تعالیٰ د طرفنه دی ۔ د ټولو خبرو جوړوونکے او پیدا کوونکے الله تعالیٰ دے ۔ په دے کښ د چا څهٔ کار نیشته ۔ او د پیغمبر علیه السلام تدبیر هم د الله تعالیٰ د طرفنه دے ۔ او هم د الله تعالیٰ الهام دے۔ستاسو پیغمبر ﷺ باندے الزام لګول غلط او بیخی ناپوهی ده۔ او وران (ښکاره کیدونکے) (په حقیقت کښ) وران مهٔ ګڼړی ۔ دا د الله تعالیٰ حکمت دے ۔ هغه تاسو په غلطو باندے آزمائی او تاسو (دهر قسم حالاتو سره) عادتوی ۔ دا د منافقانو د الزام اجمالی جواب شو۔ وړپسے آیت کښ د دے تفصیل راځی ۔ (تفسیر عثمانی)

فائده

دا دَ حضرت شاه صاحب د کلام تسهیل دے او ډیر جامع کلام دے منافقان نهٔ خود جهاد نه مُطمئن وو او نهٔ د جهاد د امیرنه ۔ په دے وجه هغوی د دے دواړو خلاف د خبرو کولو موقع نهٔ ضائعه کوله ۔ کله چه به مسلمانانو ته فتحه ملاؤ شوه۔ نو وئیل به ئے چه دا خو اتفاقا ملاؤ شوه۔او داسے تجزیئے به ئے کولے ۔ چه په دے کښ د جهاد او د مجاهدینو څهٔ کمال نیشته ۔ او چه کله به مسلمانانو ته شکست اوشو نو فوراً به ئے د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم او د جهاد خلاف غوبل جوړ کړو ۔او وئیل به ئے چه جهاد کښ سیوا د بربادئ نه نور هیڅ نیشته ۔ او (نعوذ بالله) د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په تدبیر مبارک باندے به ئے ګتے اوچتولے ۔

حضرت تهانوی رحمه الله لیکی


نو دا بدحالی په شرعی احکامو باندے په عمل کولو پورے تړل۔ یا په شارع (علیه السلام) پورے تړل پوره جهالت دے ۔ لکه څنګه چه به منافقانو جهاد او امام الجهاد ته د دے خبرو نسبت کولو۔ (بیان القرآن)

۲ منافقانو به جهاد د مرګ ذريعه ګڼړله

صاحب د بيان القرآن ډيره عجيبه نکته ليکلې ده۔ د هغوی د تقرير خلاصه دا ده چه بعضې منافقانو به جهاد ته په تګ کښې مرګ ګڼړلو۔ يعني د هغوی دا عقيده وه چه جهاد د مرګ ذريعه ده ۔ او هغوی به جهاد ته په نۀ تلو کښې ژوند ګڼړلو۔ بيا چه کله به مسلمانانو ته جهاد کښې شکست او شهادت ملاؤ شو۔نو دوی به دا د خپلې عقيدې د پاره دليل جوړولو۔ چه اوګورئ جهاد له لاړل نو د مرګ ښکار شو۔ نو د جهاد په مرګ کښې موثر کيدل ثابت شو اوکه نه ؟ مسلمانانو ته به چه فتحه ملاؤ شوه او مسلمانان به روغ جوړ واپس راغلل۔ او دې منافقانو ته به اووئيلې شو۔ چه اوګورئ که په جهاد کښې مرګ وو نو مونږه به څنګه ژوندی واپس راتلو۔نو دوی به وئيل : چه تاسو خو اتفاقا بچ شوئ کنې په مړيدو کښې خوڅۀ کسر نه وو پاتې شوې ۔ په دې آيت کښې د دوی د دغې طرز عمل بيان او د هغې جواب دې ۔ (محصله بيان القرآن) ۔

۳ د رسول الله ﷺ د ادب خيال اوساتئ

د مرګ نه څۀ ويره۔؟ مرګ خو به په خپل وخت باندې راځي او خامخا به راځي ۔که تا سوته دَ خپلې غلطي د وجې نه څۀ تکليف در اورسي۔نو هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ذمه مۀ لګوئ۔ (حاشيه دحضرت لاهوري رحمه الله)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۷۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۫ وَ مَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ

چه تا ته کوم خیرهم رسی هغه د الله تعالیٰ د طرف نه دے ـ او چه تاته کومه بدی اورسی

فَمِنْ نَّفْسِكَ ؕ وَ اَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

هغه ستا د طرف نه ده۔ مونږه تهٔ خلقو ته پیغام رسولو د پاره لیږلے ئے او د الله تعالیٰ

شَهِيْدًا ﴿۷۹﴾

ګواهی کافی ده۔

نچوړ

اے انسانه چه تاته کومه خوشحالی راځی۔ هغه صرف د الله تعالیٰ د طرف نه فضل دے ـ او چه کومه بدحالی پیښیږی نو هغه هم ستا د بدو عملونو د وجهے نه ده۔ پس دا بدحالی د شریعت یو حکم ته یا حضور صلی الله علیه وسلم ته منسوب کول پوره جهالت دے۔ لکه څنګه چه به منافقینو خپل مصیبتونه جهاد او امام الجهاد محمد صلی الله علیه وسلم ته منسوب کول ـ او پیغمبر علیه السلام حق پیغمبر دے۔ دیو منافق یا کافر په التهه خبرو سره د هغوی په شان کښې هیڅ کمے نهٔ شی راتلے۔ ځکه چه الله تعالی د هغوی د پیغمبرئ ګواهی کولو والا کافی دے ـ (مفهوم از بیان القرآن)

فائده

منافقانو به د جهاد خلاف د ذهن سازئ د پاره د حضور پاک صلی الله علیه وسلم په ذات مبارک باندے (نعوذ بالله) تنقید کولو د دوی تنقید ئے په دے آیت سره مات کړو او په جهاد کښې چه کوم تکلیفونه وغیره راځی۔ د هغے هم بهترین جواب ورکړے شو ـ (والله اعلم بالصواب)

د آیت مفهوم

یعنی اصل خبره دا ده چه د ټولو خیرونو اوبدو پیدا کوونکے اګر چه الله تعالیٰ دے خو بنده له پکار دی چه نیکی او خیر د الله تعالیٰ فضل او احسان اوګڼړی او

سختی او بدی د خپلو اعمالو سزا اوګڼړی ۔ د دے الزام دے په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندے نۀ ایږدی ۔ نۀ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دے کارونو پیداکوونکے دے او نۀ ئے سبب دے ۔ بلکه موجد یعنی پیدا کوونکے د دے خبرو الله تعالیٰ دے او سبب ئے ستاسو عمل۔ (تفسیر عثمانی)

فائده

تیرشوی آیت کښ ووفرمائیلے شو۔ کل **من عند الله** چه ټول هر څۀ د الله تعالیٰ د طرف نه دی اودے آیت کښ اووئیلے شو فَمِنْ نَّفْسِكَ چه کوم بدحالات راځی هغه پخپله ستاسو د وجهے نه دی ۔

د تفسیر عثمانی دا ذکر شوے عبارت چه د موضح القرآن د عبارت خلاصه ده هغه ظاهری اعتراض ختموی چه کل من عند الله کښ خلق او ایجاد مراد دے چه د ټولو حالاتو او احوالو خالق او موجد الله تعالیٰ دے اود فمن نفسک نه سبب مراد دے چه د بدو حالاتو ظاهری سبب ستاسو اعمال دی ۔لکه څنګه چه اور د سوزولو سبب دے۔ پس څۀ اشکال پاتے نه شو ۔ صاحب د تفسیر ماجدی عند الله او من الله لفظی فرق سره د دے اعتراض جواب ورکړے دے ۔ او صاحب د تفسیر حقانی په علمی او استدلالی انداز سره د آریه سماج او د پادریانو د کم فهمۍ علاج کړے دے ۔ شوقمند دے په دے دواړو تفسرینو کښ اوګوری ۔ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة — آیت ۸۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ

چاچه د رسول حکم اومنلو هغهٔ د الله تعالیٰ حکم اومنلو او چا چه مخ واړولو نو مونږه ته د دوی دپاره څهٔ

عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿۸۰﴾

سارونکے نهٔ ئے لیږلے ۔

نچوړ

چاچه د رسول الله ﷺ اطاعت اوکړو هغهٔ د الله تعالیٰ اطاعت اوکړو ۔ او چا چه ستاسو حکم اونهٔ منلو نو تاسو غم مهٔ کوئ ۔ ځکه چه په تاسو باندے د دے ذمه داری نشته ۔

فائده

منافقانو په جهاد کښې د ظاهری شکست په بهانه په نبی صلی الله علیه وسلم باندے اعتراضات کول (وان تصبهم سيئة يقولوا هذه من عندك) دے د پاره چه صحابه کرام رضی الله عنهم د جهاد او د امام الجهاد نه متنفره شی ۔ نو د رسول د اطاعت او د امیر د اطاعت د جذبے پوره پخولو دپاره اعلان اوکړے شو ۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت په اصل کښې هم د الله تعالی اطاعت دے ۔ او د دوی نافرمانی د الله تعالیٰ نافرمانی ده ۔ د مخالفو خبرو په شور سره خو زړهٔ ته خا مخا تکلیف وی نو محمد صلی الله علیه وسلم ته تسلی ورکړے شوه ۔ چه د دے ظالمانو تاسو ذمه دار نهٔ یئ بلکه دوی پخپله ذمه دار دی ۔ (والله اعلم بالصواب)

اقوال او حوالے

① د شکست او د تکلیف نسبت حضور ﷺ ته غلط دے

چاچه شوق (یعنی د زړهٔ په رغبت) سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبره اومنله ۔ نو دهٔ د الله تعالیٰ خبره اومنله ۔ چه هرکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت د الله تعالیٰ اطاعت دے نو آیا بیا هم تاسو دا وئیلے شئ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غلطئ سره مونږ ته تکلیف اورسیدهٔ ؟ (حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

د رسول اطاعت ـ د امیر اطاعت

امام قرطبی رحمه الله د دے آیت په تفسیر کښ لیکی :ـ

اعلم الله تعالیٰ ان طاعة رسوله صلی الله علیه وسلم طاعة له وفی صحیح مسلم عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال من اطاعنی فقد اطاع الله ومن یعصنی فقد عصی الله ومن یطع الامیر فقد اطاعنی ومن یعص الامیر فقد عصانی. (القرطبی)

یعنی الله تعالیٰ دا خبره اوښودله چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت په اصل کښ د الله تعالیٰ اطاعت دے ـ په صحیح مسلم کښ حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی چه نبی علیه السلام ارشاد اوفرمایئ۔ چاچه څما اطاعت اوکړو نو دۀ د الله تعالیٰ اطاعت اوکړو۔ اوچا چه څما نافرمانی اوکړه۔ دۀ د الله تعالیٰ نافرمانی اوکړه۔ او چا چه د امیر اطاعت اوکړو دۀ څما اطاعت اوکړو اوچاچه د امیر نافرمانی اوکړه۔ دۀ څما نافرمانی اوکړه ـ

۳ د نبی علیه السلام د معصوم کیدو دلیل

قوله وَمَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ من اقوی الدلائل علی انه معصوم فی جمیع الاوامر والنواهی وفی کل ما یبلغه عن الله لانه لو اخطأ فی شئ منها لم تکن طاعته طاعة الله.

د الله تعالیٰ فرمان وَمَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ چه چا د رسول اطاعت اوکړو۔ دۀ د الله تعالیٰ اطاعت اوکړو ـ دا د نبی علیه السلام د معصوم کیدو مضبوط ترین دلیل دے ـ چه نبی علیه السلام په ټولو احکاماتو او نواهی کښ او چه کوم څۀ دوی د الله تعالیٰ د طرف نه را رسولی دی ـ په هغه ټولو کښ نبی علیه السلام معصوم دے ـ ځکه که چرے نبی علیه السلام په دے څیزونو کښ په یو څیز کښ خطا کولے نو دَ دوی اطاعت به د الله تعالیٰ اطاعت نۀ ګڼړلے کیدو ـ (التفسیر الکبیر)

۴ ګمراهو فرقو رد

په آیت کښ رد راغے د هغه ګمراهو ډلو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت د الله تعالیٰ اطاعت نۀ ګڼړی ـ (تفسیر ماجدی)

یاد دهانی

منافقانو یوه ظالمانه خبره کړے وه۔ ووګورئ آیت (۷۸) وان تصبهم سیئة یقولوا

هٰذه من عندک چه کله به په جهاد کښې د شکست وغيره مصيبت راغے نو دوی به وے چه جناب دا د رسول الله صلی الله تعالیٰ عليه وسلم د طرف نه دی ۔ يعنی په جها د او په امام الجها دئے اعتراض اوکړو۔ چه د دين سره د د شمنئ حق ادا کړی او خلق د جهاد نه منعه کړی ۔ نو د دوی د دے تريخ اعتراض د خاتمے دپاره پرله پسے د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم په شان کښې آيتونه نازليدل روان دی ۔ او مسلمانان د خپل نبی او امام سره پوره طور پيوست کولے شی چه هغه جماعت مضبوط شی چه هغوی به وروستو پوره دنيا ته د دين پيغام رسوی ۔ (والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۸۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۫ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ

او وائی چه موږ منونکی یو او چه کله ستا د خوانه بهر ته لاړ شی ـ نو د شپے په جمع پټه مشوره کوی

مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ؕ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ

یوه ډله د دوی نه ستا د خبرو خلاف او الله تعالیٰ لیکی چه دوی څۀ مشوره کوی۔ نو ته د دوی نه بے پرواه

عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۸۱﴾

شه ـ او الله تعالیٰ باندے بهروسه کوه۔ او الله تعالیٰ کافی دے کار سمولو والا ـ

نچوړ

د دے منافقانو حالت دا دے چه ستا په مجلس کښې خو د خپلے پوره فرمانبردارئ اعلان کوی ـ خو بیا واپس لاړ شی او ستا د احکاما تو خلاف مشورے کوی۔ الله تعالیٰ د دوی تولے خبرے لیکی ـ دوی ستاسو او د اسلام هیڅ نقصان نۀ شی کولے۔ تاسو د دوی ډیره پرواه مۀ کوئ (بلکه د دوی د سزا معامله الله تعالیٰ ته پریږدئ) او الله تعالیٰ باندے بهروسه کوئ او الله تعالیٰ کافی کارساز دے ـ

اقوال او حوالے

① پاخۀ بدگمانه

چونکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق بدگمانی د منافقانو په زړونو کښې مضبوطه شوے ده ـ د دے وجهے نه چه مخے ته راځی نو د اطاعت اقرار کوی لیکن چه واپس لاړ شی نو سازشونه کوی ـ (د حضرت لاهوری رحمه الله حاشیه

② نبی علیه السلام ته تسلی ده

تاسو د دوی دے بے هودګئ طرف ته توجه او خیال مۀ کوئ۔ بلکه تول قصه الله تعالیٰ ته حواله کړئ ـ او الله تعالیٰ کافی کارساز دے۔ الله تعالیٰ به پخپله په مناسب طریقے سره دا دفعه کړی ـ نو دغه وجه وه چه چرے هم د دوی د شرارت نه څۀ نقصان اونۀ رسیدۀ ـ (بیان القرآن)

۳ تاسو ته د دوی د مدد ضرورت نشته دے

وتوکل علی الله ثم امره بالتوکل علیه والثقة به فی النصر علی عدوه. (القرطبی)

بیا نبی علیه السلام ته حکم اوشو چه تاسو د دشمنانو په مقابله کښې د مدد د پاره صرف په الله تعالیٰ باندے توکل او پوره اعتماد اوساتئ ۔

نکته

په دے آیت کښې د عجیبه جهادی مضمونونو بیان دے ۔

❶ منافقانو د مسلمانانو د شکست نه پس د ځان نه معتبر۔ خیرخواه او دا نشوران جوړ کړل او د رسول الله ﷺ اود جهاد خلاف به ګرزیدل او ذهن سازی به ئے کوله ۔ په دے آیت کښې د دوی منافقت اودوه مخی ښکاره کړے شوه چه اے مسلمانانو! د دوی ژبے او خبرے د اعتبار قابلے نۀ دی ۔

❷ د جنګ زمانه ده۔ مسلمانان د ظاهری شکست په تکلیف کښې دی ۔ په دے حالاتو کښې د منافقانو د سازشونو نه پریشانی او ویره یو لازمی شے وو۔ په دے آیت کښې اوښودلے شوه۔ چه د دوی د شرارتونو پرواه مۀ کوئ۔ دوی هیڅ هم نۀ شی کولے۔تاسو په الله تعالیٰ باندے بهروسه ساتئ ۔ یقینا د مسلمانانو په حق کښې دا یوه لویه تسلی او حوصله افزائی وه۔

❸ د منافقانو د شرارتونو او بدګوئی نه د دے خبرے خطره وه ۔ چه مسلمانان د دوی خلاف په جوش کښې راشی او د جنګ یو نوے محاذ کولاؤ شی فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ سره دا خبره اوښودلے شوه ۔ چه اوس د دے محاذ د پرانستولو ضرورت نشته ۔ تاسو خپله توجه هغه ښکاره د شمنانو باندے اوساتئ۔ چه هغوی سره جنګ شروع شوے دے ۔

❹ مسلمانانو ته د افرادی قوت او تعاون ضرورت وو ۔ ځکه چه د دوی تول د شمنان یو ځائے شوے وو۔ په داسے حالاتو کښې د منافقانو په خلے باندے جی حاضر یو جی حاضر یو وئیل اود شپے تلل او مخالفت کول د اسلامی جماعت د کمزورئ سبب جوړیدے شو ۔ اود مسلمانانو حوصله هم د منافقت دے طرز عمل سره کمزورے کیدے شوه ۔ نو په دے آیت کښې اوښودلے شوه۔ چه تاسو خلقو ته د دوی د مدد ضرورت نشته ۔تاسو

حضرات چه د چا د خاطره جنګ کوئ ـ هم په هغهٔ باندے بهروسه ساتیٔ۔او د دشمنانو خلاف د مدد دپاره ستاسو نظر دے صرف هم په دهٔ باندے وی ـ

❺ حضور صلی الله علیه وسلم ته د دے مبارکے وحی په ذریعه د دغه پټو دشمنانو حالات اوښودلے شو۔ ظاهره خبره ده۔ چه د داسے سازشونو معلومیدل د جنګ په زمانه کښں د جماعت د حفاظت ـ دمضبوطیا او د قوت ذریعه جوړیږی ـ اودا د نبی علیه السلام د رسول برحق کیدو دلیل هم دے ـ یهودیانو او منافقانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیغمبریٔ په باره کښں شکونه خورول ـ او الله تعالیٰ دوی ته د غیبو خبرونه اورول۔او د دوی په پیغمبریٔ ئے د خلقو اطمینان زیاتولو۔ (والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۸۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ؕ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ

آیا دا خلق په قرآن کښې غورنهٔ کوی او که دا قرآن د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا د طرف نه وے نو دوی

لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿۸۲﴾

به په دے کښے ډیر اختلاف موندلے وو

ترجمه

آیا دا خلق په قرآن پاک کښې غورنهٔ کوی ۔ که دا د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا کلام وے نو دوی به په دے کښې ډیر اختلاف موندلے وے ۔

فائده

منافقانو به په حضور صلی الله علیه وسلم او په جهاد باندے اعتراض کولو ۔ اوس دوی ته آخری جواب ورکړے شو ۔ چه ستاسو د قرآن پاک په باره کښې څهٔ خیال دے ؟ یقینا دے دهر خبر او دهر لفظ نه هم دا ښکاری ۔ چه دا د الله تعالیٰ رښتنے کلام دے ۔ او ظاهری طور خو تاسو هم د دے اقرار کوئ ۔ نو اوس کومه شبه باقی پاتے شوه ؟

کتاب الله خو صرف په برحق نبی باندے نازلیږی ۔ او که نبی د جهاد حکم کړے دے نو هغه هم په قرآن پاک کښې ذکر دے ۔ اوس که تاسو د قرآن پاک نه هم انکار کوئ نو بیا خو تاسو پاخهٔ کافران ئے ۔ او که قرآن پاک منئ نو بیا خو په حضور اکرم صلی الله علیه وسلم او په جهاد باندے ستاسو اعتراضونه حرام او فضول دی ۔ تیرشوی آیتونو کښې د فانفروا او فليقاتل په ذریعے سره جهاد کښې د جنګیدو حکم وو ۔ راروان آیت ۸۴ کښې بیا د فقاتل حکم راځی چه د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ اوکړئ ۔ په مینځنی آیتونو کښې د جهاد خلاف د منافقانو د وسوسو جواب راغے ۔ مسلمانان د مرګ په فلسفه باندے پوهه کړے شو ۔ دوی ئے د امام المجاهدین صلی الله علیه وسلم په اطاعت باندے ښهٔ پاخهٔ کړل ۔ دوی ته ئے د منافقانو دوه مخی اوښودله ۔ او دوی ئے قرآن پاک سره یو ځائے کړل ۔ اوس قیامته پورے چه کوم مسلمانان د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره او د قرآن پاک سره یو ځائے وی ۔ هغوی به هیڅ کله د جهاد مخالف ۔ منکر یا بغیرعذره پرینبودونکی نهٔ جوړیږی ۔ (والله اعلم بالصواب)

سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۸۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ؕ وَلَوْ رَدُّوْهُ

اوچه کله دوی ته څۀ خبر د امن یا د ویرے را اورسی نو دوی هغه مشهوروه وی ۔او که دوی دا رسولے وے رسول

اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ

ﷺ ته او دخپل جماعت ذمه دارو ته ۔ نو د دے تحقیق به کړے وو هغه کسانو چه په دوی کښې تحقیق

مِنْهُمْ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ

کونکی دی۔ او که چرے تاسو باندے د الله فضل او مهربانی نۀ وے نو تاسو به شیطان پسے روان شوی وئ سوا

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾

د لږو خلقو نه ۔

نچوړ

او کله چه منافقانو ته د امن یا د ویرے والا څۀ نوے خبر را اورسی (مثلا یو لښکر د مسلمانانو چرته جهاد له لاړۀ او د هغوی د غالب کیدو خبر راغے دا د امن خبر شو یا د هغوی د مغلوبه کیدو خبر راغے دا د ویرے خبر شو) نو دوی دا خبر فوراً مشهوروی۔ حالانکه بعضِ وختونو کښې دا غلط ثابت شی۔او که صحیح هم وی ۔نو بعضے وختونو کښې د دے مشهورول د انتظامی مصلحت خلاف وی ۔او که پخپله د مشهورولو په ځائے دے خلقو دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پیش کړے وے۔ یا دهغے ذمه دارو کسانو مخے ته ئے پیش کړے وے چه داسے معاملاتو باندے پوهیږی ۔او پخپله ئے څۀ دخل نۀ کولو نو هغه حضرات چه تحقیق کونکی دی ۔د دے خبر حقیقت به ئے پیژندلے وے ۔ او بیا چه هغه حضراتو څنګه عمل او کار کولو۔ نو دے خبرونو خوروونکو د پاره هم هغه عمل پکار وو۔ دوی ته د دخل کولو څۀ ضرورت وو ؟ او که دخل ئے پکښے نۀ ووکړے نو څۀ کار به بند شوے وے ؟ او که په تاسو خلقو باندے د الله تعالیٰ دا خاص فضل او رحمت نۀ وے چه تاسو ته ئے قرآن درکړو او پیغمبر ئے درته را اولیږۀ نو په تاسو کښې به د لږ شان کسانو نه علاوه باقی ټول د شیطان تابعدار جوړ شوے وے ۔ (مفهوم بیان القرآن)

اقوال او حوالے

① دا کوم خلق وو؟

د مفسرینو حضراتو دوه قوله دی :

فقیل هذا من ضعفة المسلمین عن الحسن . وقال الضحاک وابن زید هو فی المنافقین. (القرطبی) یعنی یا خو منافقان وو یا کمزورے مسلمانان د امام رازی رحمه الله رائے دا ده چه دا آیت صرف د منافقانو په باره کښ دے : اعلم انه تعالیٰ حکی عن المنافقین فی هذه الایة نوعا اخر من الاعمال الفاسدة. یعنی الله تعالیٰ په دے آیت کښ د منافقانو د یو بل غلط حرکت تذکره فرمایلے ده۔ (التفسیر الکبیر)

د منافقانو د طرف نه په جنګ کښ د فتحے یاد شکست ۔ د امن یا د ویرے د دے خبرونو په خورولو کښ د مسلمانانو د پاره ډیر نقصانات وو ۔

امام رازی رحمه الله یو څو نقصانات شمیرلے دی ۔ د هغے خلاصه اوګورئ ۔

❶ منافقانو به په دے خبرونو کښ د روغ او مبالغه شاملوله ۔ چه کله به د فتحے د خبر دروغ کیدل ښکاره شو۔ نو د کمزور ے مسلمانانو په زړۀ کښ به د حضور صلی الله علیه وسلم په باره کښ وسوسه پیدا کیدے شوه اوچه کله به د شکست په خبرونو کښ مبالغه کیدله نو دوی کښ به ویره او مایوسی خوریدله۔ ❷ دغه شان خبرونو سره معاشره کښ د روغ خوریدے شو۔ ❸ کله چه افواه ګانے خورے شی نو خلق د خبرے معلومولو د پاره ډیر محنت او تلاش کوی چه د هغے په نتیجه کښ بعضِ وختونو کښ اهم قومی رازونه ښکاره کیږی ۔ ❹ د مسلمانانو او کافرانو په مینځ کښ جنګ جاری وو۔ دغه شان خبرونو او افواه ګانو سره د دشمن ته فائده رسی ۔ دۀ ته د تیاریٔ موقعه ملاویږی ۔ او دۀ د پاره په مسلمانانو کښ تشویش خورول اسانیږی۔ (مفهوم تفسیر کبیر)

② تعلق د جنګ د خبرونو سره دے

تفسیر جلالین کښ دی :۔

واذا جاء هم امر عن سرایا النبی صلی الله علیه وسلم بما حصل لهم.

یعنی کله به دوی ته د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د لیږلے شوے سرایا په باره کښ څۀ خبر راغے چه د هغوی سره څۀ شوے دی۔(جلالین)

امام قرطبی رحمه الله لیکی :۔

والمعنیٰ انهم اذا سمعوا شیئا من الامور فیه امن نحو ظفر المسلمین وقتل عدوهم او الخوف وهو ضد ذالک . (قرطبی) د دے مفهوم پورته تیر شوے دے ۔

۳ د جهادی جماعتونو دپاره اهم اصول

ملت اسلامیه د شروع نه څۀ حده پورے منظم بلکه نیم فوجی جماعت وو۔ او دا خبره عام طور د هر اجتماعی تنظیم او خاص طور د عسکری تنظیم مخالف ده ۔ چه د امت عوام هره خبره چه چرته هم واؤری اوکله هم واوری نو خپلو سردارانو او حاکمانو ته د رسولو نه بغیر بے تحقیقه هغه په منډه اوړی او بے دریغه ئے خوروی۔(تفسیر ماجدی)

فائده

ډیرو مفسرینو حضراتو د دے آیت مبارک د لاندے د اجتهاد او د تقلید په مسئله باندے بحث فرمایلے دے ۔ شوق مند حضرات ډ رجوع اوکړی ۔

نکته

د جهاد او د جماعت د پاره ډیر اهم اصول په دے آیت مبارک کښ بیان کړے شو۔ بلکه د نشرو اشاعت پوره نظام په دے آیت کښ راغونډ کړے شوے دے ۔ مسلمانانو ته که خدائے مۀ کړه شکست اوشی نو د منافقانو د طرف نه د ویرے اود پریشانئ خبرونه دومره خورولے شی چه د باقی مانده جماعت وار پار هم خطا کیږی ۔ نو دے وجهے نه مسلمانان پوهه کړے شو چه دوی دے په دے حالاتو کښ په خبرونو او افواه گانو باندے قابو اومومی او افواه گانے دے د خوریدو نه منعه کړی ۔دغه شان به د منافقانو اود بزدلو مسلمانانو د جهاد خلاف ذهن سازی کافی حده پورے کمزورے شی ۔ دغه رنگے په دے کښ دا نصیحت هم راغے چه جماعت دے د دروغونه اود دروغو خبرونونه بچ کړے شی ۔ اودا هم اوښودلے شوه چه د قومی او جماعتی رازونو دے حفاظت اوکړے شی او جماعت کښ دے د اهل تحقیق یوه شعبه قائم کړے شی چه د دے خبرے فیصله اوکړی چه کوم خبر عام کیدل پکار دی او کوم یو نه ۔ او هغه خبرے عام کړی چه د مسلمانانو د پاره مفیدے وی ۔ او چه هغه خبرے منعه کړی یا دهغے تردید اوکړی چه هغے سره جماعت یا جهاد ته نقصان رسیدے شی ۔

اود آیت په آخر کښ اوښودلے شو چه مسلمانانوته د مسلسل هدایت او رهنمایئ ضرورت دے ۔ که د قرآن پاک اود رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک

تعلیماتو نه مسلسل هدایت او رهنمائی وانۀ خستے شوه نو اکثر خلق به د لارے نه واوړی او گمراه به شی ۔ د دے وجهے نه حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی " دا چه اوفرمایلے شو چه که چرے د الله تعالیٰ فضل په تاسو نۀ وے نو شیطان پسے به تلے وئ مگر لږ (شان خلق) یعنی هر وخت که د تربیت احکام نۀ رارسی نو کم خلق به په هدایت پاتے شی ۔ (موضح القرآن)

بے شکه هر مسلمان عام طور او مجاهدین خاص طور سره د مسلسل هدایت ، راهنمائی اویا د دهانئ محتاج وی ۔ که د دے اهتمام وی نو زړه به تیک وی کنی نو شیطان به خپل عمل کوی ۔ خلاصه دا چه دا آیت مبارک د مسلمانانو د اجتماعیت اود جهادی کامیابئ دپاره اهمه نسخه ده ۔ الله تعالیٰ دے مونږه تولو مسلمانانو ته په دے باندے د عمل کولو توفیق راکړی ۔ (آمین) (والله اعلم بالصواب)

فائده

حضرت لاهوری رحمه الله لیکی :۔

" د دے نه مخکنبے د رسول الله ﷺ د اطاعت یوه درجه ختمه شوه یعنی که چرے حضور صلی الله علیه وسلم د مرگ په خله کنبں د تلو حکم اوکړی نو فورا تلل پکاردی ۔ اوس به دا ذکر وی چه أُولِي الْأَمْرِ کوم خلق جوړیدلے شی ۔ د آیت مفهوم دا دے چه د تولو نه مخکنبے دا خبره د خبرے ویخ ته رسیدونکو کسانو مخے ته پیش کول پکاردی که هغوی دا د اشاعت قابله اوگنړی نو خوره به کړے شی۔ د خبرے ویخ ته رسیدونکی خلق أُولِي الْأَمْرِ یعنی د حکم او د اختیار خاوندان دی ۔ دا تعلیم مکمل شو ۔ دے وجهے نه راتلونکی آیت نه د قتال حکم شروع کیږی ۔ (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله) ۔

یعنی دوباره د قتال صریح حکم راتلونکے آیت کنبں راځی اوڅو آیاتونو کنبں مخکنبے دا حکم هم صراحت او تاکید سره بیان شو او مینځ کنبں د جهاد نور مضامین بیان شو ۔ (کمافی بیان القرآن)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۸۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ

پس تهٔ د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ کوه۔ تهٔ د خپل ځان نه علاوه د بل چا ذمه دار نهٔ یې او مسلمانانو ته

الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ أَنْ يَّكُفَّ بَأْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ وَاللّٰهُ

تاکید اوکړه۔ نزدې ده چه الله تعالیٰ د کافرانو جنګ بند کړي او الله تعالیٰ په جنګ کښې ډیر زیات سخت

أَشَدُّ بَأْسًا وَّأَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿۸۴﴾

دے او په سزا ورکولو کښې هم ډیر زیات سخت دے۔

نچوړ

(چه کله د جهاد ضرورت شي او فرض کړه نور څوک نهٔ ځي) نو اے محمد صلی الله علیه وسلم تاسو پخپله د الله تعالیٰ په لاره کښې جنګ اوکړئ (او که فرض کړه تاسره څوک نهٔ ځي نو څهٔ فکر مهٔ کوئ ځکه چه) د عمل په معامله کښې تاسو باندې د خپل ځان نه علاوه د بل چا ذمه داري نشته او مسلمانانو ته هم د جهاد ترغیب ورکړئ۔

بیا که څوک درسره ملګرتیا اونهٔ کړي نو تاسو د ذمه وارئ نه خلاص یئ۔ مهٔ خو د الله تعالیٰ د طرف نه د تپوس فکر کوئ چه د هغې وجه پورته تیره شوه او مهٔ د ځانله پاتې کیدو غم کوئ چه د هغې وجه دا ده چه د الله تعالیٰ وعده ده چه هغه به د کافرانو د جنګ زور ختموي اودوی به مغلوبه کوي۔ دا کافران اګرچه ډیر طاقتور په نظر راځي خو الله تعالیٰ د جنګ په زور کښې د دې کافرانو نه ډیر زیات طاقتور دے او ډیر سخت سزا ورکونکے دے۔ (مفهوم بیان القرآن)

اقوال او حوالے

اے نبی ﷺ تاسو ځان له جهاد ته تشریف یوسئ

یعنی د کافرانو د جنګ نه دا منافقان او دا کچه مسلمانان چه د هغوی ذکر پورته تیر شو۔ که چرې ویریږي نو اے رسوله؛ تهٔ ځانله په ځانله جهاد کول مهٔ پریږده۔ الله تعالیٰ ستا مددګار دے او مسلمانانو ته د جهاد تاکید اوکړئ. که څوک ملګرتیا نهٔ کوي۔ د هغهٔ

پرواه مهٔ کوه ۔ امید دے چه الله تعالیٰ به د کافرانو جنگ بند کړي ۔ (تفسیر عثمانی)

فائده

چه کله دا آیت نازل شو نو نبی پاک صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه څهٔ به ضرور جهاد ته ځم اګر چه یو کس هم ماسره نهٔ وي ۔ او ټول اویا ملګري ئے ځان سره کړل او بدر صغریٰ ته ئے د جهاد په نیت تشریف یوړو ۔ چه د هغے وعده ابوسفیان سره د غزوهٔ احد نه پس شوے وه چه د هغے ذکر په رومبنی سورت کښ تیرشوے دے ۔ حق تعالیٰ د ابوسفیان او د قریشو د کفارو په زړونو کښ رعب او ویره واچوله ۔ او څوک مقابلے ته رانهٔ غلل ۔ او وعده کښ دروغژن شو او الله سبحانه و تعالیٰ د خپلے وعدے مطابق د کافرانو جنګ بند کړو ۔ او نبی علیه السلام د خپلو ملګرو سره د خیراو سلامتیا سره واپس تشریف راوړهٔ ۔(تفسیر عثمانی)

② د آیت جهادی ربط

د ډیر پورته نه د جهاد مضمون شروع شوے وو۔ په مینځ مینځ کښ د دے مناسبت سره نور مضامین راغلے وو ۔ وړاندے بیاواپسی ده ۔ حضور صلی الله علیه وسلم له په خاص طور باندے مخاطب جوړولو سره هم هغه مضمون طرف ته په یو خاص عنوان ۔ سره چه په هغے کښ د دے مینځو مانه د مضامینو لوئے حصے هم چیړلے شوے دی۔ نود لَا تُكَلَّفُ نه معلومیږی چه بعضو په جهاد کښ سستی کړے وه چه د هغے وجه منافقانو بده عقیده ساتل وو۔ او بعض مومنانو کښ طبعی ویره او د همت کمزوری وه چه مخکښے تیره شوے ده ۔ (بیان القران) داعبارت د امام رازی رحمه الله د دے کلام مطابق دے :۔اعلم انه تعالیٰ لما امر بالجهاد ورغب فيه اشد الترغيب فی الایات المتقدمة وذکر فی المنافقین قلة رغبتهم فی الجهاد بل ذکر عنهم شدة سعیهم فی تثبیط المسلمین عن الجهاد عاد فی هذه الایة الی الامر با لجهاد فقال فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ (التفسیر الکبیر)

③ د مخکښینی کتابونو د پیشن ګوئ مطابق

”په رومبنی آیت کښ دا خبره ذکر وه چه منافقانو به بغیر تحقیقه خبرونه خورول چه فلانکے قوم په مسلمانانو باندے راخیژي ۔ هغوی داسے تیاری کړے ده چه نزدے ده چه ټول عرب په مدینه راشي او حمله اوکړي ۔ د دے خبرونو د وجهے نه به اکثر د عامو مسلمانانو په زړونو کښ خلجان پیدا کیدو ۔ او یو قسم کم همتی هم۔ چه عام طور انسان ته د خپلے بے سروسامانئ او د دشمن په طاقتورلیدو سره پیدا

کیږي ۔ دے وجهے نه حضور صلی الله علیه وسلم ته ئے اوفرمایل چه تاسو د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ اوکړئ اود شراود فتنے د ختمولو دپاره د الله تعالیٰ په توکل باندے د همت ملا اوتړئ او که چرے ستاسو څوک ملګرتیا او نۀ کړی نو څۀ پرواه نشته ۔ ځکه چه تاسود چا ذمه دار نۀ یئ ۔

د الله تعالیٰ په وعده باندے اعتماد کولو سره حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ځان له په ځان له د زمکے په مخ د مشرکانو او د بت پرستو د بت پرستئ ختمولو د پاره جنګ ته تیار شو ۔ چنانچه بدر صغریٰ کښې د ابوسفیان مقابلے ته ځان له په ځان له اوتلو چه شاته ئے اوکتل نو صرف اویا کسان ورپسے وو۔ یسعیا کښې چونکه دے خبرے طرف ته اشاره شوے ده۔ او زبور کښې هم ۔او د دوی د دے رشتنے عزم اثر د صحابه کرامو په زړونو کښې او خاص طور د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زړۀ کښې پیدا شو چه دحضور صلی الله علیه وسلم نه پس ئے د عربو په لړے شان ډلے سره د هرقل شام روم مقابله اوکړه ۔ چه د دغه وخت د یورپ او د ایشیا د اکثرو ملکونو بادشاه وو۔ بیا که دا فتوحات د الهی وعدے نمونه نه وه نو نور څۀ وو؟ دے سره مسلمانانو ته هم د جهاد د ترغیب ورکولو حکم ووکړے شو۔ ځکه چه دا نیک کار دے ۔د دے وجهے نه چه د دے جهاد اصلی منشاء دنیا د بدئ نه پاکول دی۔ او په زمکه باندے آسمانی سلطنت قائمولو سره د شر او فساد ختمول دی۔ بیا به د دے نه بل څۀ لوئے نیک کار وی ؟ (تفسیر حقانی)

۴ نبی علیه السلام په مخلوق کښې د ټولو نه بهادر

امام رازی رحمه الله د دے آیت د لاندے عجیبه نکته لیکی : ۔

دلت الاية علی انه صلی الله علیه وسلم کان اشجع الخلق واعرفهم بکیفیة القتال لانه تعالیٰ ما کان یامره بذالک الا وهو صلی الله علیه وسلم موصوف بهذه الصفات ، ولقد اقتدیٰ به ابوبکر رضی الله عنه حیث حاول الخروج وحده الی قتال مانعی الزکوٰة ومن علم ان الامر کله بیدالله وانه لم یحصل امر من الامور الا بقضاء الله سهل ذالک علیه.

د دے آیت نه دا ثابته شوه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخلوق کښې د ټولو نه زیات بهادر او د ټولو نه زیات جنګی مهارت لرونکی وو۔ که په دوی کښې دا صفات نۀ وے نو الله تعالیٰ به دوی ته (د یوازے جنګ کولو) دا حکم نۀ وے ورکړے

بیا حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د دوی تابعداری اوکړه چه د زکوٰة د منعه کونکو خلاف ځان له جنګ ته وتلو ته تیار شو ـ بے شک چه د چا یقین وی۔ چه تمام معاملات د الله تعالیٰ په لاس کښی دی او د الله تعالیٰ د تقدیر نه بغیر څۀ کار نۀ شی کیدے ـ نو دۀ د پاره داسے کول اسانیږی۔ (التفسیر الکبیر)

۵ د نبی علیه السلام ذمه داریٔ

وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ او ایمان والا په جهاد باندے تیز کړهٔ۔ امام رازی رحمه الله لیکی:۔

والمعنیٰ ان الواجب علی الرسول صلی الله علیه وسلم انما هو الجهاد وتحریض الناس فی الجهاد فان اتی بهذین الامرین فقد خرج عن عهدة التکلیف ولیس علیه من کون غیره تارکا للجهاد شیٔ .

یعنی مطلب دا دے چه دا د حضور صلی الله علیه وسلم په ذمه وو چه پخپله هم جهاد ته لاړ شی او خلقو ته ترغیب ورکړی ـ نو چه دوی دا دواړه کارونه اوکړل نو د دوی ذمه داری پوره شوه ـ اوس که چا جهاد پریښودو ـ نو په حضور ﷺ باندے څۀ ذمه داری نشته۔ (التفسیر الکبیر)

فائده

خاتم النبیّین صلی الله علیه وسلم ته دا دوه کارونه ورکړے شو۔

❶ پخپله جنګ اوکړی ❷ خلقوته د قتال دعوت ورکړی۔

نبی علیه السلام دا دواړه کارونه ډیر ډیر اوکړل ـ او آخره پورے ئے دا دواړه کارونه کول ـ تر دے پورے چه د وفات په وخت کښی هم اسلامی لښکر روان وو۔ پس د نبی علیه السلام د وارثانو علماء کرامو هم دا ذمه واری جوړیږی ـ چه دوی دا دواړه کارونه پخپله ژوندی اوساتی۔ او په دے کښی ښۀ محنت اوکړی۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته حکم ورکړے شو چه تاسو خلق جهاد باندے ورتیز کړهٔ ـ نبی علیه السلام د قیامته پورے انسانانو ته د جهاد دعوت ورکړو۔ خوش نصیبه خلقو دا دعوت قبول کړو ـ او منافقت وهلے طبقے دا عظیم دعوت نامنظوره کړو ـ د نبی علیه السلام دا دعوت او ترغیب د نن مسلمانانو د پاره هم دے ـ نو هر سړے دے په خپل ځان غور اوکړی او د خپل ځان نه د تپوس اوکړی چه دۀ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ترغیب باندے څومره عمل کړے دے ؟ او د پیغمبر

علیه السلام د دعوتِ جهاد ئے څۀ جواب ورکړے دے۔

یاد ساتئ چه نبی علیه السلام څمونږ د ټولو نبی او مقتدیٰ دے ۔ نبی علیه السلام صرف د خپلے زمانے د خلقو د پاره تشریف نۀ وو راوړے۔ (والله اعلم بالصواب)

⑥ د جهاد زوردار ترغیب

د حَرِّضِ معنیٰ ده ۔د یو څیز خوبیانے ډیرے زیاتے بیانولو سره د هغے طرف ته شوق او رغبت ورکول ګویا صحیح او رشتنے پروپیګنډا کول ۔ التحریض الحث علی الشئ بکثرة التزیین وتسهیل الخطب فیه. (راغب)

(تحریض وائی په یو څیز باندے بنۀ تیزولوته د هغے خوبیانے ډیر ډیر بیانولو سره۔او د پو هه کولو د پاره آسان انداز اختیارولو ته) (تفسیر ماجدی)

ان شاء الله د لفظ تحریض مکمل تحقیق به سورۀ انفال کښ راشي ۔

⑦ د هر مسلمان څۀ جذبه کیدل پکار دی؟

امام ابو حیان رحمه الله د ابن عطیه په حوالے سره په دے آیت کښ دانکته لیکی :۔

انت یا محمد و کل واحد من امتک القول لهٗ . فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ولهذا ینبغی لکل مؤمن ان یستشعر ان یجاهد ولو وحده و من ذالک قول النبی صلی الله علیه وسلم لا قاتلنهم حتی تنفرد سالفتی وقول ابوبکر وقت الردة ولو خالفتنی یمینی لجاهدتها بشمالی . (البحر المحیط)

د آیت مطلب دا دے چه محمد صلی الله علیه وسلم او د دوی د امت هر یو کس ته وئیلے کیږی چه د الله تعالیٰ په لاره کښ قتال اوکړئ ۔ پس هر مسلمان دپاره پکار دی چه هغوی د دے خبرے شعور اولری چه دے به جهاد کوی۔ اګر که دے ځان له ولے نۀ وی ۔ هم د دے مطابق د نبی صلی الله علیه وسلم دا فرمان دے چه څۀ به د دے مشرکینو سره خامخا جنګ کوم اګر که ځما څټ والوزی ۔ (یا یوازے پاتے شي) او د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د فتنۀ ارتداد په وخت کښ دا فرمان چه که ځما ښے لاس هم په دے باره کښ ځما مخالفت اوکړی نو څۀ به په ګس لاس جهاد کوم ۔ (البحر المحیط)

⑧ تقریر قرطبی رحمه الله

امام قرطبی رحمه الله د دے آیت مبارک د رومبئ جملے فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په تفسیر کښ لیکی :۔

کان هذا المعنیٰ :۔لاتدع جهاد العدو والاستنصار علیهم للمستضعفین من

المؤمنين ولو وحدک لانه وعده بالنصر ، قال الزجاج امر الله تعالىٰ رسول الله صلى الله عليه وسلم بالجهاد وان قاتل وحده لانه قد ضمن له النصرة قال ابن عطية هذا ظاهر اللفظ الا انه لم يجئ في خبر قط أن القتال فرض عليه دون الامة مدة ما فالمعنىٰ والله اعلم انه خطاب له في اللفظ وهومثال مايقال لكل واحد في خاصة نفسه اى انت يا محمد وكل واحد من امتک القول له فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ولهذا ينبغي لكل مومن ان يجاهد ولو وحده ومن ذالک قول النبي صلى الله عليه وسلم والله لا قاتلنهم حتى تنفرد سالفتي وقول ابى بكر وقت الردة ولو خالفتني يميني لجاهدتها بشمالي . (القرطبي)

گویا چه آیت کښې اوفرمایلے شو چه تاسو د کافرانو خلاف جهاد او د هغوی په مقابله کښې د کمزورو مسلمانانو مدد مهٔ پرېږدئ اګر چه تاسو ځان له یئ ۔ ځکه چه الله تعالىٰ تاسو سره د نصرت وعده کړے ده ۔ زجاج رحمه الله فرمائی چه الله تعالىٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جهاد حکم ورکړو۔ اګر که هغوی جنګ له په تلو کښې ځانله یوازے وی ۔ځکه چه الله تعالىٰ هغوی ته د مدد ضمانت ورکړے دے۔ابن عطیه رحمه الله فرمائی : چه دا معنىٰ خو د ظاهری الفاظو ده۔ خو چرته نه هم دا خبره ثابته نهٔ ده۔ چه چرته په یوه زمانه کښې هم جهاد په امت باندے نهٔ وی او صرف په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے فرض شوے وی ۔ پس د آیت معنىٰ (والله اعلم) به دا شی چه خطاب محمد صلی الله علیه وسلم ته دے ۔خو دا داسے خطاب دے لکه څنګه چه د امت هر فرد ته خصوصی خطاب وی ۔مطلب دا شو چه محمد صلی الله علیه وسلم او د دوی د امت هرکس د پاره (ځان له) دا حکم دے چه تاسو د الله تعالىٰ په لار کښې اوجنګیږئ۔ تاسو باندے دعمل په اعتبار سره صرف خپله ذمه داری ده۔د دے وجهے نه هر مسلمان دپاره پکار دی چه هغه جهاد اوکړی۔اګر چه هغه ځان له ولے نهٔ وی ۔ (القرطبی)

⑨ د کافرانو د جنګ د ماتولو وعده

د آیت په اوله حصه کښې د جهاد او د دعوت جهاد حکم ورکړے شو۔ چه تاسو د جنګ د پاره اوځئ او ایمان والاؤ ته هم د دے دعوت ورکړئ ۔ د آیت په دویمه حصه کښې الله تعالىٰ وعده فرمائی چه د جهاد او د دعوتِ جهاد په برکت سره به الله تعالىٰ د کافرانو جنګ بند کړی ۔د دوی زور به مات کړی او دوی به مغلوبه کړی ۔ معلومه شوه چه کله

کافران د مسلمانانو خلاف میدانِ جنگ ته را اوځی نو د دوی د جنګ او د دوی زور د ختمولو دا طریقه نه ده چه مسلمانان دباؤ کښې راشي او د کافرانو د مطالباتو وړاندې ښټ خکته کړي۔ بلکه طریقه دا ده چه د امت قیادت (مشران) دې پخپله هم جنګ د پاره را اوځي او ایمان والاؤ ته دې هم د دې دعوت ورکړي ۔ نو هله به د کافرانو جنګي زور مات شي او دوی به مغلوبه شي ۔ اوګورئ د تفسیر حقاني دا عبارت عَسَی اللّٰهُ الله د خپل رسول سره وعده فرمائی : چه زر ده چه مونږه به د کافرانو شر بند کړو ۔ د حضور صلی الله علیه وسلم د ترغیب او د الله تعالیٰ د وعدې اثر دا وو چه تقریبا په یوه صدی کښې دننه دننه په دنیا باندې یو هم داسې کافر او بت پرست سلطنت باقی پاتې نۀ شو چه د آسمانی سلطنت مقابله اوکړې شی دلته د جبل الطارق نه واخلې تر چین پورې۔ هلته د کوه قاف او آزربائجان نه واخلې تر افریقې پورې لوئې لوئې ملکونه د هغې جهنډې لاندې راغلل چه په مدینه کښې خدائې قائمه کړې وه ۔ (تفسیر حقانی)

صاحب د تفسیر ماجدی لیکی

د قرآن مجید دا پیشن ګوئی په راتلونکې نژدې او لرې دوارو وختونو کښې پوره اوچلیده ۔په مخالفینو او په د شمنانو کښې خو د قریشو زور هم په دغه زمانه کښې ختم شو۔ پاتې شو د لرې لرې قوت او شوکت والا بادشاهتونه۔ نو هغه په رو رو مغلوبه شو ۔ عسیٰ وړاندې هم حاشیه کښې تیر شوې دی چه د دې کلمې استعمال کله د الله تعالیٰ په یو قول کښې اوشی۔ نو په دې کښې بیا د توقع او د امید د معنې په ځائې صرف د وعدې او د یقین معنیٰ پیدا کیږی ۔

"عسیٰ من الله واجب (ابن عباس رضی الله عنهما) اطماع .والاطماع من الله واجب (قرطبی)(تفسیر ماجدی)

۱۰ د جهاد په پرېښودو باندې د الله تعالیٰ سخت عذاب

وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّ اَشَدُّ تَنْكِيْلًا او الله تعالیٰ سخت جنګ والا او لوئې سزا ورکونکې دې۔ د دې جملې خو یو مفهوم هغه دې چه د تفسیر په خلاصه کښې اختیار کړې شو خو دویم مفهوم ته د تفسیر عثمانی دا کلام اشاره کوی " یعنی د الله تعالیٰ جنګ او د هغۀ عذاب د کافرانو سره د جنګ نه ډیر سخت دې نو چه کوم خلق د کافرانو سره د جنګ نه او د دوی د قتل کولو نه او د دوی د لاسه د قتل کیدونه ویریږی نو هغوی د الله تعالیٰ غصه او د هغۀ عذاب څنګه برداشت کولې شی " (تفسیر عثمانی)

د آیت د مضامینو خلاصه

د دے جامع آیت مبارک مختصر تفسیر خو مخے ته راغے اوس یو مختصر نظر د دے په اهم مضامینو واچوئ ۔

❶ فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

د آیت شروع د دے جملے نه اوشوه چه اے نبی د الله تعالیٰ په لاره کښې جنګ اوکړه ۔ معلومه شوه چه قتال یو اسلامی او قرآنی حکم دے ۔ الله تعالیٰ پخپله خپل نبی ته په دے کښې د وتلو حکم کوی ۔ پس مسلمانانو له د قتال فی سبیل الله سره محبت کول پکار دی ۔ دا منل پکار دی او دا ژوندے ساتل پکار دی په دے جمله کښې د الله تعالیٰ خطاب نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته دے ۔ د سوچ کولو او ځان پو هولو خبره ده۔ چه هر کله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د جهاد نه مستثنیٰ (باهر) نۀ وو نو نور څوک دی چه خپل ځان د دے اسلامی فریضے نه پورته ګنړلے شی ۔ د نبی علیه السلام نه زیات قیمتی انسان څوک دے ؟ د نبی علیه السلام نه زیات دے امت ته او دنیا ته د چا ضرورت وو؟ د هغوی نه زیات دینی کار بل چا کولو یا کولے شی؟ د هغوی په شان تزکیۀ نفس د چا وه ؟ د دے ټولو نه باوجود دوی ته په جنګ کښې د وتلو حکم اوکړے شو ۔ حالانکه نبی علیه السلام په ټولو پیغمبرانو کښې زیات محبوب نبی دے او دوی چه حکم واوریدو نو فورا ووتلو ۔ د ایمان والاؤ د پاره په دے کښې ډیر لوئے سبق دے ۔

❷ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ

اے نبی ! په تاسو باندے صرف د خپل عمل ذمه داری ده ۔ د دے مطلب تمام مفسرینو هم دا لیکلے دے چه که تاسره څوک نۀ اوځی نو تاسو فکر او پرواه مۀ کوئ۔ بلکه ځان له لاړ شئ ۔ الله اکبر د جهاد فرضیت اود جهاد اهمیت دومره زیات دے چه الله تعالیٰ خپل نبی ته د ځان له پاتے کیدو په وخت کښې هم د دے فریضے د ژوندئ ساتلو حکم کړے دے ۔ حالانکه ټول پو هیږی چه جهاد یو اجتماعی عمل دے او په جنګ کښې د افرادی قوت کیدل ضروری دی ، مګر د دے نه باوجود د ځان له وتلو حکم ، د جهاد تاکید او ضرورت ښکاره کولو دپاره کافی دے۔ د اسلام د باقی ساتلو او د مسلمانانو د حفاظت د پاره الله تعالیٰ دا فریضه جاری کړے ده ۔ او بیا ئے د دے آیت په ذریعه د خپل پاک نبی صلی الله علیه وسلم او د دے د هرامتی په زړۀ کښې دا جذبه

واچولـه چه که دے ځان له هم پاتے شي۔ نو بيا به هم دے دجهاد فريضه ژوندئ ساتي۔ او خپله کمزوري او د دشمن د طاقت ليدلو سره به د کفر مخے ته سرنۀ خکته کوي ۔ دا يوه داسے جذبه ده۔ چه هميشه ئے اسلام او د مسلمانانو سر اوچت ساتلے دے ۔او د اسلامي حدودو ئے ښۀ حفاظت کړے دے ۔ الله تعالیٰ دے هم دا جذبه او جوش په دے زمانـه کښې مونږه تولو مسلمانانو ته انفرادي طور او اجتماعي طور رانصيب کړي ۔ ځکـه چه اوس په دے کښې ډير کمے محسوسيږي ۔ آيت مبارک خو دا غواړي چه پـه مونـږه کښې هرمسلمان د جهاد فريضه ژوندئ ساتل خپله ذمه داري اوګنړي ۔نۀ چه د نورو کسانو ذمه داري ۔

❸ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ

او ايمان والا پـه جهاد ورتيـز کړئ ۔ په دے مختصر شان جمله کښې د دعوت الي الجهاد پوره نظام راغے ۔ چه مسلمانانو کښې پوره قوت سره د جهاد دعوت جاري کړئ۔ پـه اصـل کښې انسان کمزورے دے ۔ د خواهشاتو نه ډک دا بت په دنيا کښې د ژوندي اوسيدو شوقين دے ۔اګر که د دۀ زندګي د تکليفونو او مشقتونو نه ډکه ولے نۀ وي ۔ بـلـکه که د يو کس دواړه خپے دواړه لاسونه دواړه سترګے نۀ وي نو بيا هم دے په دے بے کاره او فاني دنيا کښې د ژوندي اوسيدو شوق کوي۔ دَ انسان د جسم او روح په مينځ کښې داسے يارانه ده۔ چه دا دواړه د يو بل د جدايئ نه ويريږي ۔ اوس که هم دا حالت وي نـو دنيا کښې بـه اسـلام مـغلوب شي ـ ځکه چه د تولے دنيا کافر اسلام او مسلمانان د خپـل ځان د پاره خطره ګنړي ـ اودوي د شيطان په حکم د اسلام او مسلمانانو خلاف جنګ تـه راؤ تـے دي ۔ اوس کـه مسـلـمانان په دے فاني دنيا کښې د ژوندي اوسيدو په شوق کښې مبتلا شي ـ نو دوي به بے کاره او کمزورے شي ـ او دوي به د دے فاني د نيا د ترقئ او ظاهري امن د خاطره د کافرانو وړاندے خکته کيدلو باندے مجبور شي ـ نو د دے وجهے نـه حـکـم اوشـو چـه د مسـلـمانانو د زړونو نه د دنيا د محبت د کمزورئ د ويستـو د پاره دے دوي له ډير ډير د فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دعوت ورکړے شي ـ دوي تـه دے د مرګ پـه آئيـنـه کښې د اصل زندګئ ښکلے مخ اوښودلے شي ـ دوي ته دے په فراق کـښې د مـلاويـدونکي وصال خوند وريادکړے شي ـ اودوي دے د محبوب په درکښې د ذبح کيـدو د زړۀ راښکونکے مزو سره آشنا کړے شي ـ قرآن پاک د دعوت جهاد د پاره د تـحريض لفظ استعمال اوفرمايۀ ـ دے د پاره چه دا دعوت ډير طاقتور ، ډير مضبوط

، ډیر موثر او مسلسل وی ۔ پس د مسلمانانو د ژوندی ساتلو د پاره په دوی کښې دننه د دے موثر او مسلسل دعوت ژوندے ساتل ضروری دی۔ الله تعالیٰ خپل آخری نبی صلی الله علیه وسلم ته د دے حکم اوکړو ۔ ظاهره خبره ده چه دا کار د مسلمانانو د پاره ډیر ضروری وو۔ د دے وجهے نه نبی صلی الله علیه وسلم دا حکم داسے پوره کړو چه د دے حق ئے ادا کړو ۔ د دے وجهے نه د دوی د جهاد په دعوت کښې داسے تاثیر وو چه د حضرات صحابه کرامو زړونه د جهاد د جذبے او د شهادت د شوق نه ډک شو ۔ نوے راتلونکے ناوے پریښودل ۔ د مور پلار محبت پریښودل ۔ تردے پورے چه مدینه منوره اود تولو نه زیات حضور اکرم صلی الله علیه وسلم پریښودل او جهاد ته تلل دوی د پاره آسان شو۔ د الله نبی دوی ته د جهاد دعوت ورکړو نو دوی داسے اووتل چه بیا د واپس راتلو خیال د دوی په زړونو کښې پاتے نهٔ شو۔ او بس وتل به او د دوی د دے جهاد سره اسلام پوره جهان کښې خورشو۔ د جهاد د تحریض دا حکم نن هم د قرآن آیت د دے د مسلمان امت د علمانو ۔ د اولیاؤ او د خواصو په ذمه لازم دی چه دوی د دے مسلمانانو ته د قتال فی سبیل الله مضبوط ۔ مؤثر او پرله پسے دعوت ورکړی ۔

❷ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د الله تعالیٰ وعده ده چه هغه به د کافرانو د جنګ زور ختم کړی ۔

مطلب بالکل واضح دے چه کله د مسلمان امت قائدین پخپله جهاد ته اوځی او امت ته هم دعوت ورکړی او ځان سره ئے واخلی نو په دے تولو به د الله تعالیٰ نصرت نازل شی ۔ او الله تعالیٰ به د دشمنانو په زړونو کښې رعب واچوی او دوی به مغلوبه کړی۔ د قتال او دعوت قتال سره د الله تعالیٰ دا پخه وعده په هره زمانه کښې پوره شوه او هره زمانه کښې پوره کیږی د قرآن پاک دا مبارک الفاظ د اسلامی دانشورئ بنیادونه دی ۔ د کافرانو د جنګی خطرو مقابله څنګه اوکړے شی دا پوره مسئله په اووه الفاظو کښې په دے مختصر شان جمله کښې اوښودلے شوه اود سوونو کاله ماضی په دے صداقت باندے ګواه دے ۔ نو تولو مسلمانانوله پکار دی چه د کافرانو د طاقت د ماتولو طریقه نهٔ خو د هغوی مخے ته خکته کیدل دی او نهٔ د هغوی تعلیم او تهذیب خپلول ۔ بلکه دا خو صرف د دوی نه د خپل ځان د بچ کولو رسوا کونکے طریقے دی ۔ او ځان داسے شے نهٔ دے چه هغه بچ کړے شی ۔ هر یو روح په خپل مقرر وخت باندے د بدن نه جدا کیږی ۔ د الله تعالیٰ وعده د قرآن پاک په دے آیت کښې څلقیږی او خپل

طرف ته بلنه کوي ۔ د امت خواص دے په خپله قتال ته اوځي او عوامو ته دے دعوت ورکړي۔ ځان سره دے کړي ۔ الله تعالیٰ به د دشمن ټول ایتمي ۔ کیمیاوي ۔ هوائي افرادي او جنګي طاقت مات کړي دا حقیقت دے۔ په دے کښې هیڅ شک نشته ۔

⑤ وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّ اَشَدُّ تَنْكِيْلًا

او الله تعالیٰ ډیر سخت دے په جنګ کښې او ډیر سخت دے په سزا ورکولو کښې ۔

دا د دے جامع آیت آخري سبق دے چه مخکښیني ټول سبقونه زړهٔ ته ورکوزوي ۔ انسان چونکه کمزورے دے ۔نو د دے وجهے نه هغه د جنګ نه ویریږي ۔خاص طور چه کله دا اوویلے شي چه که ځان لهٔ نو هم جنګ د پاره اوځه ۔ دغه رنګے د جهاد دعوت ورکول هم څهٔ آسان کار نهٔ دے ۔ د حقیقي جهاد في سبیل الله والاؤ باندے د مشکلاتو او پابندو حمله وي ۔ په دریمه جمله کښې چه کومه وعده اوکړے شوه چه الله پاک به د کافرانو جنګي زور مات کړي نود ظاهر په اعتبار سره دا هم مشکل په نظر راځي ۔ ځکه چه د کافرانو طاقت او د دوی جنګي زور بعض وختونو کښې دومره زیات شي چه کمزوري زړهٔ والا انسان دا خیال اوکړي چه اوس ترقیامته پورے د دوی د طاقت مقابله مشکله ده ۔ په دے ټولو خبرو باندے د پوهولو د پاره د آیت په آخري حصه کښې الله تعالیٰ دخپل طاقت ، قوت او سزا بیان اوفرمائیلو ۔ پس ټولے مسئلے حل شوے ۔ د مسلمانانو زړونه د الله تعالیٰ د لوئے والي نه ډک شو ۔اوس خو د دوی مخے ته د دنیا طاقت څهٔ طاقت نهٔ دے ۔ دوی یقین کوي چه د دوی کار خو صرف په جهاد کښې وتل دي ۔ باقي جنګ خو الله تعالیٰ پخپله فرمائي ۔ بیا مسلمان ته معلومه ده چه که دے شهید شي نودے به د هغه قوي او غالب رب مقرب جوړ شي۔ اودا چه د دنیا طاقتونه د الله تعالیٰ د طاقت وړاندے څهٔ حیثیت لري ؟ نن د ټولے دنیا د کافرانو طریقه دا ده چه دوی د خپل طاقت او قوت دومره پروپیګنډه کوي چه خلقو د ویرے د وجهے نه د دوی مخکښے سرونه ختکه کړے وي ۔په دے حالاتو کښې د قرآن پاک دا نوراني آواز راځي ۔

والله اشد باسا واشد تنكيلا اود مسلمان د زړه نه د دنیا د هر طاقت رعب اوځي ۔ او دهٔ ته بس صرف دا فکراولږي چه ما د پاره د دنیا د کافرانو نه او د دے ځائے د مرګ نه بچ کیدل نه دي پکار۔ بلکه ما د پاره د الله تعالیٰ د عذاب نه۔ د هغهٔ د سزا اود هغهٔ د

ناراضګئ نه د بچ کیدو محنت پکار دے او جهاد فی سبیل الله د دے بهترینه ذریعه ده۔ (والله اعلم بالصواب)

دعاء

یا الله یاربنا یاربنا یا ربنا یا ربنا یا ربنا ۔

په مسلمان امت کښ د خپلے رضا مطابق قتال فی سبیل الله او دعوتِ قتال فی سبیل الله ژوندے کړے او د اسلام د دشمنانو د جنګ زور ختم کړے ۔(آمین یا قوی یا متین)



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۸۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَ مَنْ

چه چا د ښهٔ خبرے سفارش اوکړو۔ نو وی به هغهٔ د پاره یوه حصه د هغے نه او چه چا د بدے

يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى

خبرے سفارش اوکړو۔ په دے کښې به یو بوجهـ په دهٔ باندے هم نهٔ وی ۔ او الله تعالیٰ په هر څیز

كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾

باندے قدرت لرونکے دے ۔

نچوړ

څوک چه چاته د ښهٔ کار سفارش کوی نو په دے کښې به دهٔ ته هم یوه حصه ملاویږی او څوک چه د بدکار سفارش کوی نو په دهٔ باندے به هم د دے د وبال څهٔ حصه وی ۔ او الله تعالیٰ خو په هر څیز نظرساتونکے دے ۔

اقوال او حوالے

① د جهاد دعوت

د مجاهدینو د تعداد په زیاتولو کښې چه څوک ښهٔ یا بد سفارش کوی نو هغه شان بدله به مومی۔(حاشیه د حضرت لاهوری رحمة الله علیه)

② دجهاد د دعوت اجر

یعنی که څوک صرف په نیک کار کښې کوشش او سفارش اوکړی لکه د نبی علیه السلام مسلمانانو ته د جهاد تاکید فرمائیل یا څوک بده خبره کښې کوشش کونکے وی۔ لکه څنګه چه منافق او سست مسلمان د جهاد نه ویریږی او نور هم د دے نه ویروی ۔نو په اول حالت کښې د ثواب او دویم حالت کښې د ګناه حصه به ملاویږی ۔ دغه رنګے که څوک د محتاج سفارش اوکړی ۔د دولت مند نه ورله څهٔ واخلی ۔نو دے به هم د خیرات په ثواب کښې شریک شی ۔ او چه څوک د کافر۔ فسادی یا دغل سفارش اوکړی ۔او خلاص ئے کړی بیا هغه فساد او غلا کوی نو دے به

هم شریک وی په غلا او فساد کښې . (تفسیر عثمانی)

③ جهادي ربط او مسائل

امام رازي رحمه الله د دے آیت د ورستنی آیت سره په ربط کښې ډیرے وجهے لیکلی دی او د دے په ضمن کښې ئے د دعوت الی الجهاد ډیر فضائل هم بیان کړے دی. د امام رازي رحمه الله د تقریر خلاصه اوګورئ .

① په مخکښني آیت کښې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ته حکم شوے وو چه تاسو امت ته د جهاد تاکیدي دعوت ورکړئ . جهاد چونکه نیکئ والا عمل او شرف والا عبادت دے . نو په دے آیت کښې اوښودلے شوه چه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم کله امت ته د جهاد دعوت ورکوي نو دوي د دے دعوت په بدله کښې د اجر عظیم مستحق جوړیږي .

انه علیه الصلاة والسلام لما حرضهم علی الجهاد فقد استحق بذالک التحریض اجرا عظیما.

② ګویا چه داسے اووئیلے شو چه تاسو د جهاد دعوت ورکړئ که هغوي ئے قبول نهٔ کړي نو تا باندے څۀ وبال نیشته او که هغوي ئے قبول کړي نو د هغوي د عمل نه به هم تا ته ډیر ثواب ملاویږي . معلومه شوه چه جهاد کښې تو له فائده فائده ده . که څوک لو مني او که او نه مني نو د دے آیت مقصد دا شو چه دعوتِ جهاد کښې دے ښهٔ محنت اوکړے شي.

فکان هذا ترغیبا من الله لرسوله في ان یجتهد في تحریض الامة علی الجهاد.

یعني دا د الله تعالیٰ د طرف نه ترغیب شو خپل رسول ته چه هغه دے خپل امت ته د جهاد په دعوت ورکولو کښې ښهٔ محنت اوکړي .

③ چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ د حکم مطابق خلق جهاد طرف ته رابللل نو بعض منافقان به د څهٔ خلقو د سفارش د پاره راتلل چه دوي کور کښې پریږدئ نو دے آیت کښې د خراب سفارش نه منعه اوکړے شوه.

④ بعض مسلمانانو چه د جهاد دعوت واوریدهٔ نو د جهاد د پاره به تیاریدل . خو د هغوي سره به د اسبابو کمے وو. نو بعض نور مسلمانان به د دوي د پاره مالدارو مسلمانانو ته تلل او سفارش به ئے کولو چه د غه مالدار مسلمانان دوي ته د جهاد سامان ورکړي . نو د هغوي د فضیلت بیان دے چه هغوي د ښهٔ کار سفارش اوکړو . الغرض د دے

څلورو واړو وجهونه د دعوت الی الجهاد فضائل معلومیږی ۔(التفسیر الکبیر)

د شفاعت یوه عجیبه معنیٰ

د شفاعت لفظ د شفع نه دے چه د هغے معنیٰ " دوه کیدل" رازی نو د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه په دے آیت کښ د شفاعت حسنه (د ښهٔ سفارش) نه مراد دا دے چه هر مسلمان دے د خپل ایمان سره جهاد فی سبیل الله هم یو ځائے کړی ۔ یعنی صرف مومن دے نهٔ وی بلکه جنګ ته دے هم اوځی او مجاهد دے جوړ شی ۔او د شفاعت سیئه یعنی د بد سفارش مطلب دا دے چه خپل منافقت د کافرانو د محبت سره یو ځائے کړی ۔ یعنی د مخکښے نه منافق دے۔ اوس د دے سره دویم مصیبت ئے دا هم یو ځائے کړو چه د کافرانو سره محبت ساتی ۔

نقل الواحدی عن ابن عباس رضی الله عنهما ما معناه ان الشفاعة الحسنة ههنا هی ان یشفع ایمانه بالله بقتال الکفار ، والشفاعة السیئة ان یشفع کفره بالمحبة للکفار وترک ایذائهم. (التفسیر الکبیر)

معلومه شوه چه د قتال فی سبیل الله سره د ایمان تکمیل کیږی څنګه چه د بعض روایتونو نه ښکاره ثابته ده۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

د دے آیت نه پس د راتلونکے آیت ۸۶ جهادی ربط او مضمون حضرت تهانوی رحمه الله بیان القرآن کښ بیان فرمایلے دے ۔ هلته ئے اوګورئ ۔



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۸۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ

نو تاسو باندے څۀ شوے دی چه د منافقانو باره کښې دوه ډلے کیږئ. او الله تعالیٰ د دوی د عملونو په وجه دوی واپس کړے

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

دی۔ آیا تاسو غواړئ چه څوک الله تعالیٰ گمراه کړے دی۔ هغوی په لار راولئ؛ او څوک چه الله تعالیٰ گمراه کړی نو تۀ

فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ۝۸۸

به د هغۀ د پاره هرگز څۀ لار بیانۀ مومے۔

نچوړ

مسلمانانو له نۀ دی پکار چه دوی د منافقانو د وجهے نه خپل مینځ کښې تقسیم شي او اختلاف اوکړی۔ الله تعالی منافقان د خپلو بدو عملونو د وجهے نه التا کفر طرف ته واپس کړے دی۔ الله تعالیٰ چه څوک گمراه کړی هغۀ ته څوک هدایت ورکولے شي؟

اقوال او حوالے

① کفر او منافقت گډوډ

د سورۀ نساء آیت (۸۸) تا (۹۱) کښې د هغه کافرانو سره د جهاد او قتال احکامات دی چه کله ښکاره کافران په نظر رازی او کله منافقان۔ گویا چه د دوی کفر او نفاق گډوډ او خلط شوے دے۔ په دے آیتونو کښې د هغے ټولو احکامات بیان شوے دی چه په دوی کښې د چاسره جنگ شته او د چاسره نیشته۔ البته د دے احکاماتو نه وړاندے مسلمانانو ته تاکیدی نصیحت اوشو۔ چه دوی د دے د منافقینو د وجهے نه خپل مینځ کښې تفرقه او تقسیم نۀ پیدا کوی۔ بلکه ټول د دے خپل موقف او نظریه یوه ساتی۔ کافران او منافقان خو غواړی هم دا چه تاسو خپلو کښې اوجنگوی۔ د دے وجهے نه دوی په تاسو کښې د بعضو همدردئ حاصلوی۔ غرض دا چه تاسو په خپل مینځ کښې مکمل اتفاق قائم ساتئ۔ حضرت حقانی رحمه الله لیکی :۔

"په مدینه کښې د اسلام په شروع کښې داسې خلق هم وو چه په ظاهر کښې خو مسلمانان شوي وو خو پټ به ئې د حب جاه او د دنیا د اسبابو په وجه د حضور صلی الله علیه وسلم اود مهاجرینو سره سخته دشمنی ساتله. مسلمانانو باندې به ئې نکته چینئ هم کولې. مخالفین به ئې هم په رازونو خبرول او جنګ باندې به ئې تیزول. مسلمانانو غوښتل چه دا منافقان اوستلې شي خو بعضې رحمدل انصار د خپلو رشتو په وجه معافئ طرف ته مائل وو. د دې وجهې نه د دوی باره کښې د مسلمانانو دوه ډلې جوړې شوې وې. (تفسیر حقانی)

بل ځائې لیکی:

"په جنګ احد کښې چه هرکله عبدالله بن ابی خپله ډله بالکل د مقابلې په وخت کښې واخسته او اوتښتیدو. او مسلمانانو ته شکست اوشو نو په مدینه کښې د مسلمانانو دوه ډلې شوې. یوې ډلې وې چه دوی قتلول پکار دی او بلې وې چه الله تعالیٰ به د دوی اصلاح اوکړی. قتل کښې بدنامی ده. په دې باندې الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل". (تفسیر حقانی)

② درې روایات

په دې څلورو آیتونو کښې چه د کفارو او منافقانو د کومو طبقو ذکر دې. د هغوی د حالاتو او احکاماتو زده کولو د پاره دا درې روایات اوګورئ. (از بیان القرآن)

① عبد بن حمید د مجاهد نه روایت کوی چه بعض مشرکان د مکې نه مدینې ته راغلل او ظاهره ئې کړه چه مونږه مسلمانان او مهاجرین راغلي یو. بیا مرتد شو او حضرت رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ته ئې د تجارت د سامان راوړلو بهانه اوکړه. او مکې ته لاړل اوبیا رانۀ غلل. نو د هغوی په باره کښې د مسلمانانو رائې مختلف شوه. بعضو وې چه دا کافران دی. او بعضو وې چه دا مؤمنان دی. الله تعالیٰ د دوی کافران کیدل په آیت فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ کښې بیان کړل. او د دوی د قتل حکم ئې ورکړو. احقر (مصنف د بیان القرآن) وائی چه دوی ته منافقان وئیل په دې معنیٰ دی چه کله ئې د اسلام دعویٰ کړې وه. نو هغه وخت کښې منافقان وو. په زړه سره ئې ایمان نۀ وو راوړې. او منافقان اګر چه نۀ به شو قتلولې. لیکن تر هغې وخته پورې چه دوی به خپل کفر پټ ساتۀ. او د دې خلقو مرتد کیدل ښکاره شوې وو.

② ابن ابی شیبه رحمه الله د حسن رحمه الله نه روایت کوی چه سراقه بن مالک مدلجی

د بدر اود احد د واقعے نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاضر شو او درخواست ئے اوکړو چه زمونږه قوم بنی مدلج سره صلح اوکړئ۔ نبی علیه السلام حضرت خالد رضی الله عنه د صلح د مکمل کولو دپاره اولیږهٔ۔ دصلحے مضمون دا وو۔ چه مونږه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مقابل (دشمن) مدد نهٔ کوو۔ او که قریش مسلمانان شو نو مونږ به مسلمانیږو او چه کوم قومونه مونږ سره متحد وی، هغوی به هم په دے معاهده کښې شریک وی ۔ نو په دے باندے دا آیت ودوا الی قوله الا الذین یصلون نازل شو ۔

❷ کلبی په واسطے د ابوصالح سره د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے دے چه آیت ستجدون اخرین الخ کښې چه د چا ذکر دے ۔ نو مراد د هغے نه اسد او غطفان دوه قبیلے دی ۔ چه مدینے ته به راتلل او ظاهر کښې به ئے د اسلام دعویٰ کوله او خپل قوم ته به ئے وے چه مونږه خو په بیز او په لړم ایمان راوړے دے او مسلمانانو ته به ئے وے چه مونږه ستاسو په دین یو۔(تفسیر بیان القرآن)

❸ دوه ډلے مهٔ جوړیږئ

"په دے منافقانو کښې هغه خلق هم داخل وو چه ظاهر کښې ئے ایمان نهٔ وو راوړے بلکه ښکاره او پټ کفر باندے قائم وو ۔ خو د حضرت صلی الله علیه وسلم اومسلمانانو سره به ئے ظاهری ناسته پاسته او ظاهری د محبت معامله ساتله ۔ او غرض ئے دا وو چه که د مسلمانانو فوج زمونږ په قوم باندے حمله اوکړه نو ځمونږ مال او جان به په دے حیلے سره محفوظ وی ۔ چه کله مسلمانانو ته معلومه شوه چه د دوی دا تلل راتلل په دے غرض سره دی ۔د زړهٔ محبت ئے نشته ۔ نو بعضے مسلمانانو اووے چه د دے شریرانو سره تعلق پریښودل پکاردی ۔دے دپاره چه زمونږ نه جُدا شی او بعضو اووے چه دوی سره ملاویدل پکار دی ۔شاید چه ایمان راوړی ۔ په دے باندے دا آیت نازل شو۔ چه هدایت او گمراهی د الله تعالیٰ په قبضه کښې دی۔ تاسو هرگز د دے فکر مهٔ کوئ ۔اود دے خلقو سره په اتفاق سره هغه معامله کول پکار دی چه په راتلونکی آیت کښې ذکر ده ۔ دوه ډلے مهٔ جوړیږئ ۔ (تفسیر عثمانی)

❹ دوه مخیځے کافر

په دے آیت کښې د منافقانو نه مراد دوه مخیزے کافران دی ۔ ځکه چه په بل آیت

کښې راځي فخذوهم واقتلوهم ....الآية او قتال چرته هم مسلمان بلونکے منافقانو سره نه دے شوے ۔ د دے وجهے نه حکم اوشو چه تاسو له د دوه مخيزه کافرانو متعلق اختلاف رائے نۀ دی کول پکار ۔(حاشيه دحضرت لاهوری رحمه الله)

فائده

تاسو ډیر روايات او عبارتونه اوکتل ۔ د هغے تولو نه معلومه شوه چه دمنافقانو او کافرانو ډير قسمونه موجود وو۔ لکه چه شيطان يو کيچړے تيار کړے وو۔ چه کمزوری خلق لګياوی او هم دغه وائی چه مونږه چرته لاړ شو۔ بل طرفته ډير شے خلق د شک شبهے ښکار وو ۔ او په دے وخت کښې بعضے چالاک د شمنان په بدله جامه کښې د ګذار کولو په فکر کښې وو ۔ د قرآن په دے څلورو آيتونو کښې څۀ بنيادی اصول مسلمانانو ته اوښودلے شو۔ اوس دا اصول مخے ته کيښودلو سره د دغے رنګے کفارو او منافقانو دپاره متفقه فيصله کول اسانيږی ۔ د يو آيت خوبيان اوشو راتلونکی د رے آيتونه هم اولولی ۔ آخر کښې به انشاء الله د پوره بحث خلاصه راشي۔ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۸۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا

دوی خو غواړی چه څنګه دوی کافران شوی دی، تاسو هم کافران شئ-نو تاسو به ټول یو شان شئ-نو په دوی

مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ

کښې څوک دوست مه جوړوئ تردې چه دوی د الله تعالیٰ په لاره کښې هجرت اوکړی.که دوی مخ واړولو.نو نیسئ

وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾

ئے او قتل ئے کړئ چه کوم ځائے کښې ئے مومئ- او په دوی کښې هیڅ څوک خپل دوست او مددګار مه جوړوئ-

نچوړ

یعنی دا منافقان خلق خو په کفر باندې داسې ټینګ دی چه پخپله خو به اسلام څهٔ قبول کړی- دوی خودا غواړی چه تاسو هم د دوی په شان کافران شئ او دوی سره برابر شئ- نو اوس تاسو له پکار دی چه ترڅو پورې دوی ایمان نهٔ وی را وړې او خپل وطن ئې نهٔ وی پریخې او تاسو ته راغلے نهٔ وی نو تر هغه وخته پورې دوی دوستان مهٔ جوړوئ- خپل یو کار کښې دوی له دخل مهٔ ورکوئ- او مهٔ د دوی حمایت او مدد کوئ- او که دا خلق ایمان او هجرت قبول نهٔ کړی نو دوی قیدیان کړئ او قتل ئې کړئ- چه کوم ځائے ئې قابو کړئ- او د دوی نه مکمل ځان اوساتئ- او دوی سره څهٔ تعلق مهٔ ساتئ- (مفهوم تفسیر عثمانی)

دا هم دشمنان دی

" د مکې په مشرکانو کښې بعضې خلقو د مصلحت نه د اسلام تعریفونه کول خو په زړهٔ کښې بالکل مخالف وو- کله چه جنګ اونختو نو مسلمانانو کښې دوه رائې شوې بعضِ خلقو وې چه دا زمونږ ملګری دی او بعضو وې چه دا د دشمنانو ملګری دی - دلته قرآن واضحه کړه چه دا بالکل منافقان دی- د دوی په باره کښې د بحث کولو او اختلاف کولو څهٔ اجازت نشته-که دوی د مکې نه هجرت اوکړو او د دشمنانو په حلقه کښې پاتې نهٔ شو نو تاسو ئې خپل ملګری ګڼړلے شئ- خو که دوی انکار اوکړو نو بیا ښکاره ده چه

څوک د شمنانو سره وی ـ نو هغه به هم د دشمنانو نه ګنړلے کیږی او چه څنګه په جنګ کښې تولو دشمنانو سره جنګ وی ـ دوی سره به هم جنګ وی ـ یاد ساتئ چه د دے نه مخکښے د کومو منافقانو ذکروو ـ هغوی په مدینه کښې مسلمانانو سره یو ځائے اوسیدل ـ اودلته چه د کومو منافقانو ذکر دے هغه د مکے یوه خاصه ډله وه ـ چونکه دا خلق هم د دشمنانو ملګری وو اود جنګ حالت قائم شوے وو ـ دے وجهے نه ئے اوفرمائیل چه د دوی سره دوستی او د محبت تعلقات ساتل جائز نهٔ دی "ـ(ترجمان القرآن)



سُوْرَةُ النِّسَآءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۹۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ اَوْ

سوا د هغې کسانو نه چه یو ځائے شي یو داسې قوم سره چه ستاسو او د هغوی جنګ بندی وی یا هغه چه

جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا

تاسو له راشي او د جنګ نه ئے زړهٔ موړ وی۔ نهٔ تاسو سره جنګ کوی او نهٔ د خپل قوم سره او که الله تعالیٰ

قَوْمَهُمْ ؕ وَ لَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ فَاِنِ

غوښتے وے۔ نو دوی به ئے په تاسو زور آور کړے وے۔ نو دوی به تاسو سره جنګ کړے وے۔ نو که دوی تاسو

اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَ اَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ

نه په څنګ شو او تاسو سره ئے جنګ اونهٔ کړو۔ او تاسو ته ئے د صلحے لاس در کړو۔ نو الله تعالیٰ تاسو لره په دوی

لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾

باندے څهٔ لاره نهٔ ده در کړے۔

نچوړ

(چه د چا تذکره وړاندے آیت کښې راغلے ده) دوی د قید او قتل نه مهٔ بچ کوئ مګر صرف دوه صورته کښې۔ یو خو دا صورت چه چا سره ستاسو صلح وه د هغوی سره چه د دوی هم معاهده او صلحه وی نو دوی هم په صلحه کښې داخل شو۔ دویم صورت دا چه کوم خلق د جنګ نه عاجزه شوے وی او تاسو سره صلح اوکړی او د دے خبرے وعده اوکړی چه نهٔ به د خپل قوم طرف داری کوی چه تاسو سره جنګ اوکړی او نه به ستاسو ملګرتیا کوی چه د خپل قوم سره اوجنګیږی او په دے وعده باندے قائم هم وی نو د داسے خلقو سره جنګ مهٔ کوئ او د دوی روغه منظوره کړئ۔

او د الله تعالیٰ احسان اوګنړئ چه دوی تاسو سره د جنګ کولو نه منعه شو۔ که الله تعالیٰ غوښتے وے نو دوی به ئے په تاسو جری او غالب کړے وے۔ (تفسیر عثمانی)

دیو شبهے لرے کول

د "ترجمان القرآن" صاحب د دے آیت د تفسیر په آخر کښې لیکی۔"څکه چه

اصل امن او صلحه ده ـ نهٔ چه جنګ او قتال۔(ترجمان القرآن)
دا جمله اګر چه ډیره ښکلې ده ـ خو ملحدینو دا یو آړ جوړ کړے دے اود وسوسو یو انبار ئے لګولے دے ـ حق خبره دا ده چه نهٔ امن او صلحه اصل دی ـ او نهٔ جنګ او قتال ـ بلکه اصل د الله تعالیٰ حکم دے ـ الله تعالیٰ چه چرته د صلحے حکم اوکړی هلته صلحه اصل ده ـ او چرته چه د جنګ او قتال حکم اوکړی ـ هلته جنګ او قتال اصل دے ـ د قرآن پاک سوونه آیتونه د دے دلیل دے۔(والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ النِّسَآءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۹۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَ يَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ

زر ده چه تهٔ به نور منافقان او ومینے ـ چه هغوی اراده لری چه تاسو نه هم په امن شی او دخپل قوم نه هم۔ خو هر کله

كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَ يُلْقُوْٓا

چه دوی ته دفتنے موقعه ور کیږی ـ نو دوی بو ختیږی په هغے کښ ـ بیا که دوی تاسو نه په څنګ نهٔ شو او

اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَ يَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَ اقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ

تاسو ته ئے د صلحے لاس درنهٔ کړو او لاس وهل ئے پرے نهٔ ښودل نو دوی اونیسئ او قتل ئے کړئ چه کوم ځائے

ثَقِفْتُمُوْهُمْ ؕ وَ اُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۹۱﴾

ور باندے ستاسو وس بر شی او دا خلق دی چه موږه تاسو له په دوی باندے ښکاره دلیل درکړے دے

نچوړ

بعضے خلق داسے هم دی چه تاسو سره وعده کوی چه نهٔ به تاسو سره جنګ کوی او نهٔ دخپل قوم سره ـ د دے دپاره چه ستاسو نه اود خپل قوم دواړو نه په امن شی ـ خو په دے وعده باندے مضبوط نهٔ پاتے کیږی ـ بلکه چه کله د خپل قوم غلبه وینی نو د هغوی مددګار شی ـ که دا خلق منعه نهٔ شو او ستاسو نه ئے خپل لاسونه بند نهٔ کړل ـ نو تاسو هم دوی اونیسئ او مړهٔ ئے کړئ ـ ځکه چه ستاسو لاس ته خو ښکاره دلیل راغلے دے چه دوی خپله وعده ماتے کړے ده ـ (عثمانی مع اضافه)

دا څوک وو؟

امام قرطبی رحمه الله ډیر قولونه نقل فرمائیلے دی۔ مثلاً:

❶ د "تهامه" څهٔ خلق وو چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ئے امن غوښتے وو۔

❷ داد مکے څهٔ خلق وو۔

❸ نعیم ابن مسعود مراد دے ـ

❹ د منافقینو یوه ډله وه۔

❺ قبیله اسد او قبیله غطفان وو چه مدینے ته راغلل او اسلام ئے راوړهٔ او بیا خپلو علاقو ته لاړل او ښکاره کافر شو۔ جلالین کښ هم دا قول اختیار کړے شوے دے ـ

دوی نیغ کړئ

" دا کافران که د شرارت نه منعه نهٔ شو نو د تورے په څوکه او د نیزے په څوکه ئے تیک کړئ "(حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

د څلورو وارو آیتونو نچوړ

ړومبنی او دویم آیت کښې د مرتدو حکم بیان شو چه که قابل اعتبار توبه ئے اونهٔ کړه نو فخذوهم واقتلوهم یعنی و ے نیسئ او قتل ئے کړئ ۔ په دریم آیت کښې د هغے کفارو بیان دے چه د مسلمانانو سره په امن او مصالحت سره اوسیدل غواړی ۔ او د مسلمانانو د پاره هیڅ قسمه خطره نهٔ جوړیږی ۔ د دوی حکم دا دے چه دوی سره جنګ جائز نهٔ دے ۔ په څلورم آیت کښې د هغے دهوکه باز کفارو او منافقینو تذکره ده چه د خپل بچاؤ د پاره تاسو سره صلحه کوی خو ستاسو خلاف د موقعے په انتظار کښې اوسی دا خلق چه کله فتنے ته راشی نو دوی سره به جنګ وی۔(ملخص از بیان القرآن)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۹۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا

اے د ایمان خاوندانو ! کله چه دالله تعالیٰ په لار کښ سفر کوئ نو تحقیق کوئ او چه څوک په

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ

تاسو باندے سلام واچوی نو هغه ته مۀ وایئ چه تۀ مسلمان نۀ یئے ـ تاسو د دنیا د ژوندگئ

عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ؕ كَذٰلِكَ

سامان غواړئ نو الله تعالیٰ سره ډیر غنیمتونه دی ـ تاسو هم د دے نه مخکښے دغه رنګے وئ

كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

نو بیا الله تعالیٰ په تاسو احسان اوکړو نو تحقیق نه کار اخلئ ـ بے شکه الله تعالیٰ

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۹۴﴾

ستاسو د کارونو نه خبر دے ـ

نچوړ

اے ایمان والاؤ! چه کله تاسو د جهاد دپاره سفر کوئ ـ نو هر کار که قتل وی یا څۀ بل څۀ نو ښۀ تحقیق کړُلو نه پس ئے کوئ ـ اوچه څوک ستاسو وړاندے خپل مسلمان کیدل ښکاره کړی نو مۀ وائی چه تۀ مسلمان نۀ ئے بلکه صرف د خپل ځان بچ کولو دپاره خپل ځان مسلمان ښکاره کوے ـ د چا مال باندے نظر مۀ کوئ الله تعالیٰ سره ستاسو دپاره د غنیمت ډیر مالونه دی ـ تاسو خپل تیروخت او دالله تعالیٰ احسان په خپل ځان باندے مۀ هیروئ اویاد ساتئ الله تعالیٰ ستاسو د ټولو اعمالو خبرلری ـ

د آیت مفهوم

مفسرینو حضراتو چه د دے آیت مبارک په تفسیر کښ څۀ لیکلے دی د هغے نچوړ د حضرت شاه صاحب رحمه الله په عبارت کښ راغلے دے ـ په تفسیر عثمانی کښ د هغے عبارت تسهیل اوګورئ۔ "حضرت محمدصلی الله علیه وسلم یو فوج یو قوم پسے د جهاد دپاره اولیږلۀ ـ په دے قوم کښ یو کس مسلمان وو چه خپل مال،

اسباب او ځاروي ئې د هغوی نه بیل کړے وو۔ ولاړ وو۔ دۀ چه مسلمانان اولیدل نو السلام علیکم ئې اووے۔ مسلمانانو دا اوګنړله چه دا هم کافر دے اود خپل جان او مال بچ کولو د پاره خپل ځان مسلمان ښکاره کوی ۔ دے وجهے نه ئې هغه مړ کړو او د هغۀ ځاروي او سامان ئې ټول واخستۀ ۔ نو په دے باندے دا آیت نازل شو او مسلمانانو ته تاکید او تنبیه اوفرمائیلے شوه چه کله تاسو د جهاد دپاره سفر کوئ نو تحقیق نه کار اخلئ ۔بغیرسوچه او بغیر پوهے کارمۀ کوئ ۔ څوک چه تاسو ته ځان مسلمان ښکاره کړي د هغۀ د مسلمان کیدو نه هرګز انکار مۀ کوئ۔ الله تعالیٰ سره ډیرزیات غنیمتونه دی ۔ په داسے سپک سامان باندے نظر مۀ ساتئ ۔

كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ تاسو هم دغه شان وئ د دے نه مخکښے ۔ یعنی د اسلام نه مخکښے به تاسو د دنیا په غرض ناحقه وینے بیؤلے خو اوس د مسلمانیدو نه پس هرګز داسے کول نۀ دی پکار بلکه چه چا باندے ستاسو د مسلمان کیدو شک هم وی د هغۀ د قتل نه ځان اوساتئ ۔ یا دا مطلب چه د دے نه مخکښے د اسلام د شروع په زمانه کښې تاسو هم د کافرانو په ښار کښې اوسیدلئ۔ ستاسو مستقل حکومت او مستقل بودوباش نۀ وو نو څنګه چه په دغه حالت کښې ستاسو اسلام معتبراوګنړلے شو اوستاسو د جان او مال د حفاظت خیال او ساتلے شو۔ دغه رنګے اوس تاسو له هم پکاردی چه د مسلمانانو خیال او حفاظت اوکړئ ۔ بغیر تحقیق نه دوی مۀ قتلوئ ۔ د احتیاط او د سوچ نه کار اخیستل پکاردی۔ (تفسیر عثمانی)

د دننه عقیدواز میښت ضروری نۀ دے

په دے آیت کښې د مسلمان او کافر د فرق قانون بیانیږی ۔کښی د ناحق قتل به یو دا صورت هم راووتے وو چه صاحب مونږه دے مسلمان نۀ ووګنړلے څکه مو قتل کړو۔ د دے وجهے نه حکم دے چه کوم کس په تاسو اسلامی سلام واچوی نو هغه پوره مسلمان دے ۔ د هغۀ د دننه عقیدو آزمائیلو تاسو ته ضرورت نیشته ۔ (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

فائده

په دے آیت کریمه کښې د مجاهدینو د پاره یو ډیر اهم هدایت دے چه دوی دے صرف قتلول او مړۀ کول خپله مشغله نۀ جوړوی۔ تفسیر قرطبی کښې بعضے د داسے کسانو واقعات لیکلے شوے دی چه یو سړی به د اسلام اقرار کړے وو۔ ددے باوجود

یو کس هغه قتل کړو نو چه کله دغه کسان پخپله مړهٔ شول نو زمکے قبول نهٔ کړل۔ چه کوم ځائے به خخولے شونو زمکے به بهر ته راویشتل۔اسلامی جهاد داسے جنگ دے چه په دے کښې د ډیرو ښکلو اخلاقی اصولو پابندئ دی ۔د دے وجهے نه مجاهدینو ته ښهٔ تحقیق ، تفتیش اواحتیاط سره خپله وسله استعمالول پکار دی اوناجائزه وینے بهیولو نه ډیر پرهیز کول پکار دی۔(والله اعلم بالصواب)

فائده

په دغه زمانه کښې چونکه دا مسئله وضاحت سره نهٔ وه نازله شوے د دے وجهے نه چه چانه ابتدائی غلطی اوشوه هغوی ته صرف خبردارے ورکړے شو او توبه پرے اوویستلے شوه ۔ (مفهوم بیان القرآن وقرطبی)

نکته

جهاد کښې جنگ او جهګړه کیږی او سخت جنگ کښې د داسے غلطئ کیدو امکان وی اوس کیدے شی چه سخت وعید اوریدو سره بعض خلق کورونو کښې کښینی او جهاد پریږدی نو په راتلونکی آیت کښې ئے د مجاهدینو عظیم الشان فضیلت اوښودلو اوبیائے د جهاد تاکید او ترغیب تازه کړو۔(والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۹۶،۹۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَ

نهٔ دي برابر هغه مؤمنان چه بغير د عذر نه په كور كښې ناست دي او هغه چه د الله په

الْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ

لار كښې په خپل مال او سر سره جهاد كوي ـ الله تعالىٰ په ناستو كسانو باندے جان او مال

الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ

سره د جهاد كونكو درجه زياته كړے ده اګر چه د هريو سره الله تعالىٰ د نيكئ وعده كړے ده

وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى

او الله تعالىٰ جنګ كونكي په ناستو كسانو باندے اجر عظيم كښې زيات كړے دي د دوی

الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ ۝﴿۹۵﴾ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ

دپاره د الله تعالىٰ دطرف نه لوئے درجے دي او مغفرت او رحمت دے او الله تعالىٰ معاف

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝﴿۹۶﴾

كونكے اورحم كونكے دے ـ

نچوړ

هغه مسلمانان چه بغير څهٔ عذره په كورونو كښې ناست دي او جهاد كښې شريك نهٔ دي ـ دوی نهٔ شي برابر كيدے د هغه مجاهدينو سره چه خپل مال او سر باندے جهاد كوي ـــ الله تعالىٰ په سر او مال سره د جهاد كونكو درجه په كور كښې د ناستو كسانو نه ډيره زياته كړے ده ـ اګر چه هريو (ايماندار نيكوكار) سره الله تعالىٰ د ښيګړے وعده كړے ده ـ او الله تعالىٰ جهاد كونكي په ناستو كسانو باندے په اجر عظيم سره غوره كړے دي ـ د دے مجاهدينو د پاره د الله تعالىٰ د طرف نه لوئے درجے دي او مغفرت او رحمت دے ـ او الله تعالىٰ غفور رحيم دے ـ

اقوال او حوالے

① د مجاهدينو ښكاره فضيلت

"په غلطئ سره په قتل باندے چه كله تنبيه نازله شوه) نو په دے سره به څهٔ نه

څهٔ د مسلمانانو په زړونو کښې دا خیال پیدا شوے وے چه (د دے نه) کور کښې ناسته اوصرف عبادت اوریاضت کول بهتر دی ځکه چه په دے کښې داسے خبره نهٔ پیښیږی۔ خو الله تعالیٰ ته خو په دنیا کښې آسمانی سلطنت قائمول خوښ وو. (چه د هغے خبر به پیغمبرانو ورکولو) چه په دے سره دنیا د بدئ او دشرک نه پاکه شی۔ اودا کار د اسبابو په دے دنیا کښې بغیر د مجاهدینو د لښکر نه نهٔ شو کیدلے ۔ په دے وجه ئے ووفرمائیل چه د مرض وغیره د عذر نه بغیر کوم خلق په کور کښې ناست دی۔۔دوی د هغے خلقو برابر نهٔ دی چه خپل جان او مال سره د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد کوی ۔ د دے سره د برابرئ نفی خواوشوه۔ خو دَ مجاهدینو هم فضیلت بیان شو د دے وجهے نه ئے فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ الخ اوفرمایهٔ چه کوم بغیر عذره په کور کښې ناست دی د هغوی څهٔ ذکر دے؟ چه کوم په عذر سره ناست دی نو په دوی باندے هم الله تعالیٰ (په خپله لار کښې په ځان او مال سره) جهاد کونکو لره په درجه کښې فضیلت ورکړے دے خو عذروالا هم په زړه کښې د دے نیت لری صرف د ناچاری (د مجبورئ) د وجهے نه شریک کیدے نهٔ شی د دے وجهے نه د دوی دپاره هم خدائے پاک د بهترئ یعنی د جنت او مغفرت وعده کړے ده ۔

په ترمذی کښې روایت دے چه کله لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ الخ نازل شو نو حضرت عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه چه ړوند وو۔حضور صلی الله علیه وسلم ته راغے او په ژړا شو چه یا حضرت ماته څهٔ حکم دے؟

نو د دے نه پس غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ نازل شواو ۔ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى سره دوی هم د نیت د وجهے نه شریک کړے شو۔خو مجاهدین په یو دروند کار کښې مشغول دی او ځان او مال په الله تعالیٰ قربانوی ۔ د دے وجهے نه ئے د دوی د خاص کولو د پاره اوفرمائیل وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا بیا د دے اجر عظیم تفصیل بیانوی ۔دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً چه خدائے پاک دوی د جنت په درجو او په خاص مغفرت کښې چه د هغه ځائے همیشه خوشحالی ده او په خاص رحمت کښې چه د هغهٔ د دیدار تجلی ده۔ خاص کړے دی ۔ خو بیا ئے د نور ریاضت او عبادت والاؤ طرف ته هم اشاره اوکړه او وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ئے اوفرمائیل۔ (تفسیر حقانی)

۲ دریے طبقے

د خروج الی القتال په اعتبارسره د مسلمانانو څلور قسمه دی ۔ دریے قسمه په

دے آیت کښې ذکر دی ۔ قاعد ۔۔ مجاهد ۔ اولی الضرر ...... قاعد ...... چه په جنګ کښې د تـلـو د پاره تیا روی خو حکم نهٔ وی ملاو شوے۔ مجاهد چه میدان جنګ کښې مال او ځان قربانوی۔ أُولِي الضَّرَرِ۔ معذوره چه په جنګ کښې د تلو بالکل قابل نهٔ وی۔ په دے مخلصینو کښې هریوته الله تعالیٰ د کارکردګئ په لحاظ سره د مغفرت او رحمت درجے به ورکوی " (حاشیه ۔ حضرت لاهوری رحمه الله)

۳ الله تعالیٰ غفور رحیم دے

" د دے نه مخکښے ئے مسلمانانو ته په ناپوهئ او غلطئ سره قتل کولو بانـدے زورنه اوتنبیه فرمایلے وه دے وجهے نه داکیدے شوه چه څوک د جهاد نه بند شی ۔ ځکه چه مجاهدینو ته داسے حالت خامخا مخے ته راځی ۔ دے وجهے نه ئے د مجاهدینو فضیلت بیانولو نه پس د جهاد ترغیب ورکړو ۔ د آیت خلاصه دا ده چه ګډ، شل، ړوند، بیمار، معذوره خلقو ته خو د جهاد کولو حکم نشته باقی تولو مسلمانانو کښې د جهاد کونکولوئے درجے دی ۔چه د جهاد نهٔ کونکود پاره نشته ۔ اګر چه جنتیان هغوی هم دی چه جهاد نهٔ کوی ۔ د دے نه معلومه شوه چه جهاد فرض کفایه دے، فرض عین نهٔ دے ۔ یعنی که د مسلمانانو کافی مقدار او دضرورت موافق جماعت جهاد کوی نو جهاد نهٔ کونکو باندے څهٔ ګناه نشته ګنی تول به ګناهګار وی ۔ یعنی حق تعالیٰ غفور رحیم دے ۔ د جهاد کونکو باره کښې ئے چه کومے وعدے د اجر، رحمت او مغفرت کړے دی هغه به ضرور پوره کوی ۔ یا داکه په ناپوهئ سره د مجاهدد لاسه یو مسلمان قتل شو نو حق تعالیٰ به ئے معاف کړی ۔د دے ویرے نه جهاد نه مهٔ بندیږئ " (تفسیر عثمانی)

فائده

عربی مفسرینو هم کمی زیاتی سره هم دغه خبرے لیکلے دی ۔ امام قرطبی رحمه الله په دے مسئله باندے بحث کړے دے ۔ چه کوم کس په جهاد کښې د تللو پوخ نیت لری خو څهٔ عذر په زوربند کړے وی نو دا کس او میدان کښې جنګ کونکے کس اجر کښې برابر دی یا نهٔ دی۔ د دواړو طرفو د اقوالو او دلائلو نه پس پخپله د امام قرطبی رحمه الله رجحان اجر کښې برابرئ طرف ته دے ۔ حضرت تهانوی رحمه الله دَرَجٰتٍ مِّنۡهُ سره د جهاد په دوران کښې چه کوم عملونه کیږی ۔د هغے طرف ته ئے اشاره کړے ده لکه لوږه ۔تنده ۔ تـلـل ۔ مخکښے کیدل ۔۔ حمله کول او بے شماره نیک عملونه (چه په هغے کښې د بعضِ ذکر په سورۂ برات کښې دے)۔

چه مجاهدین ئے کوی ۔ نود دے عملونو چه کومے اوچتے درجے دی هغه صرف په عملی جهاد سره ملاویدے شی ۔ د امام قرطبی او تهانوی رحمهماالله تحقیق که یو ځائے کړے شی نود مسئلے او د آیت مطلب بیخی صفا کیږی ۔امام قرطبی رحمه الله د بخاری په حوالے سره هغه حدیث هم نقل کړے دے چه په هغے کښ د مجاهدینو دپاره دالله تعالیٰ د طرف نه په جنت کښ د سلو اوچتو درجوتیارولو ذکر دے۔(والله اعلم بالصواب)

فائده

د تفسیرعثمانی عبارت چه د حضرت شاه صاحب رحمه الله کلام ئے آسان کړے دے په هغے کښ اوفرمایلے شو چه جهاد فرض کفایه دے ۔ یعنی عام حالاتو کښ جهاد فرض کفایه دے ۔ خو په ځلورو حالتونو کښ دا فرض عین کیږی۔ خاص طور د کفارو د حملے اود قبضے په وخت کښ دا په ټولو باندے فرض عین کیږی ۔اوکوم وخته پورے چه جهاد فرض کفایه وی ۔ دغه وخت پورے هم دومره جهاد ضروری دے چه دامت دپاره کافی وی ۔ اوس چه کوم حالات دی په دے کښ دغه ضروری خبرو طرفته غور نۀ کیږی۔ چه د هغے د وجهے نه د امت اکثره حصه د جهاد د فریضے او نعمت نه محرومه کیږی ۔ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۹۷

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُوا

هغه خلق چه پخپلو ځانونو ئے ظلم کولو دهغوی روحونه چه کله فرشتو قبض کړل نو دهغوی نه

فِيمَ كُنْتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ قَالُوا

ئے تپوس اوکړو چه تاسو کوم حال کښې وئ۔دوی جواب ورکړو مونږه په دے ملک کښې بے بسه وو

أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ

فرشتو اووے آیا دالله تعالیٰ زمکه فراخه نه وه ۔ چه تاسو په هغے کښې هجرت کړے وے نو د داسے

جَهَنَّمُ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾

خلقو ټهکانه دوزخ دے او دا ډیره بده ټهکانه ده۔

نچوړ

هغه خلق چه هغوی هجرت اوجهاد پریښودۀ– او کافرانو سره ملګری شو او خپل ځانونو باندے ئے ظلم اوکړو۔ چه کله فرشتو دهغوی روح قبض کړو نو د دوی نه ئے تپوس اوکړو چه تاسو په کوم حال کښې وئ۔ (او تا سو دینی فرائض ولے پریښودل ؟) دوی جواب ورکړو چه مونږه په زمکه کښې بے وسه او مجبور وو ۔فرشتو اووے چه دالله تعالیٰ زمکه فراخه نۀ وه څۀ ؟ چه تاسو په کښې هجرت کړے وے۔ داسے ظالمان خلق به جهنم ته غورزولے شي ۔

ربط

امام رازی رحمه الله لیکی:

اعلم انه تعالیٰ لما ذکر ثواب من أقدم علی الجهاد أتبعه بعقاب من قعد عنه و رضی بالسکون فی دار الکفر.

یعنی چه کله الله تعالیٰ دجهاد کونکو داجروثواب ذکر اوفرمایۀ۔ نو ددے نه پس ئے دهغے خلقو سزا ذکر کړله چه دجهاد نه ناست پاتے شو او دار الکفر کښې په کیناستو راضی شو ۔ (التفسیر کبیر)

حضرت تهانوی رحمه الله لیکی:

پورته دجهاد د واجب کیدو ذکر وو ـ وړاندې دهجرت د واجب کیدو ذکر دې ـ مناسبت دواړو کښې ښکاره دې چه د دواړو نه غرض د دین قائمول دی ـ البته په یو کښې دکفارو دشر عام دفعه ده ـ او دوئم کښې دکفارو دشر خاص دفع ده یعنی دخپل ذات نه ـ (بیان القرآن)

دا سخت وعید دچا دپاره دې؟

دا وعید دهغې خلقو دپاره دې چه خپله بې وسی او مجبوری بهانه جوړوی او د مسلمانانو دپاره دکمزورئ او دکافرانو دپاره دقوت باعث جوړیږی او دار الکفر کښې داوسیدو په وجه دجهادوغیره اسلامی فرائضو نه محروم اوسی ـ اوګورئ یو څو عبارتونه ـ

① دکافرانو امداد کونکی

المراد بها جماعة من اهل مكة كانوا قداسلموا و اظهروا للنبي صلى الله عليه وسلم الايمان به فلما هاجر النبي صلى الله عليه وسلم اقاموا مع قومهم وفتن منهم جماعة فافتتنوا فلما كان امر بدر خرج منهم قوم مع الكفار. (قرطبي)

دا د مکې څۀ خلق وو چه دحضور ﷺ وړاندې مسلمانان شوې وو بیا چه کله حضور ﷺ هجرت اوکړو دا خلق دخپل قوم سره مکه کښې ایسار پاتې شو ـ کله چه په دوی کښې په بعضو باندې آزمائشونه راغلل نو دوی ګمراه شو او بدر کښې د مسلمانانو خلاف مشرکانو سره اووتل ـ

② د مشرکانو تعداد زیاتونکی

اخبرني ابن عباس ان ناساً من المسلمين كانوا مع المشركين يكثرون سواد المشركين علىٰ عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم يأتي السهم فيرمى به فيصيب احدهم فيقتله او يضرب فيقتل فانزل الله تعالى ﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ﴾ الآية. (قرطبي)

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه درسول الله ﷺ په زمانه کښې بعض مسلمانان مشرکانو سره اوسیدل او جنګونو کښې به ئې دهغوی تعداد زیاتولو (یعنی جنګونوته به راتلل خو دمسلمانانو خلاف به ئې جنګ نه کولو) بیا به په دوی کښې څوک په غشی وغیره لګیدو سره مړ شو نو الله پاک دا

آیت نازل کړو۔ إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ الآیة۔

۳ دکافرانو امداد کوونکی

د مسلمانانو دڅلورم قسم بیان دے چه هغوی په جهاد کښې مسلمانانو سره شرکت اونۀ کړو بلکه کفارو ته ئے مدد ورکړو۔ (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله) اولنی درے قسمونه قاعد ،مجاهد او اولی الضرر تیرشوے دی ۔

۴ دکافرانو دویرے جهاد پریښودونکی

بعض مسلمانان داسے هم دی چه په زړۀ سره خو ریشتینے مسلمانان دی خو دکافرانو په حکومت کښې دی او دهغوی نه مغلوبه دی او دکافرانو د ویرے اسلامی خبرے آزادے نۀ شی کولے نۀ دجهاد دحکم تکمیل کولے شی ۔ نو په دوی باندے فرض دی چه د دغه ځائے نه هجرت اوکړی۔ په دے رکوع کښې هم د دے ذکر دے ۔ دآیت خلاصه دا ده چه کوم خلق په خپلو ځانونو ظلم کوی یعنی کافرانو سره ملاوېږی او هجرت نۀ کوی ۔ نو فرشتے د دوی نه دمرګ په وخت کښې تپوس کوی چه تاسو په کوم دین وئ؟ دوی وائی چه مونږه مسلمان وو خو دکمزورئ او ضعف د وجے نه مونږ د دین خبرے نۀ شوے کولے ۔فرشتے وائی چه دالله تعالیٰ زمکه خو ډیره فراخه وه ۔ تاسو خو دا کولے شو چه د دغه ځائے نه تاسو هجرت کړے وے ۔ د داسے خلقو ټکانه جهنم دے ۔ (تفسیر عثمانی)

۵ که دینی فرائضو باندے پابندی وی نو هجرت فرض دے

حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی:

" ددے نه معلومه شوه چه په کوم ملک کښې مسلمانان آزاد نۀ شی اوسیدلے دهغے ځائے نه هجرت فرض دے "۔ (موضح القرآن)

فقهائے کرامو لیکلی دی۔ چه کله د یو ملک په اوسیدو کښې د دین فرائض پوره طریقے سره نۀ شی ادا کیدے ۔ او دا معلومه وی چه یو بل داسے ملک شته چه هلته ددین فرائض پوره طریقے سره ادا کیدے شی نو د اول ملک نه دویم ملک ته هجرت واجب کیږی۔

والآیة تدل علی ان من لم یمکن اقامة دینه فی بلده کما یجب و علم انه یمکن من اقامته فی غیره حقت علیه المهاجرة. (مدارک)

هذا یدل علی الخروج من ارض الشرک الی ای ارض کانت من ارض الاسلام (جصاص) (تفسیر ماجدی)

نچوړ

د مفسرینو حضراتو ددے تولو عبارتونو نه د دغه " جرم " نقشه واضحه کیږی چه په هغے باندے سخت وعید نازل شوے دے۔ اسلام دنیا ته دغالب کیدو دپاره راغلے دے۔ ددے وجے نه چا دپاره جائز نۀ دی چه هغه دخپل ذاتی مفاد او آرام دپاره اسلام او اسلامی احکام دکافرانو وړاندے مغلوب او رسوا کړی۔ یا د خپل ځان دبچ کولو دپاره د کافرانو ملګرتیا اوکړی یا دکافرانو د دباؤ یا دهغوی دخوشحالولو دپاره سره د جهاد یو اسلامی فریضه پریږدی۔ پس څوک چه داسے کوی ـــ نو هغه به په خپل ځان باندے ظلم کوونکے وی۔ د دے نه دا هم معلومه شوه ـ چه کله د دین او د جهاد په خاطر دضرورت په وخت کښې وطن پریښودل لازمیږی نو بیا خپله نوکری یا روزی مجبوری ګنړل او دکافرانو ملګرتیا کول څنګه جائز کیدے شی؟(والله اعلم بالصواب)

قربانی ضروری ده

"هجرت څۀ د تجارت سفر نۀ دے چه سړے سفر خرچه واخلی او په آسانتیا دکور نه اوځی او بیا واپس راشی داخو یو مشکل څیز دے ـ د دین ایمان د بچ کولو دپاره به دکور کلی او د زمکے او جائیداد نه لاسونه وینځے او په پخه به د وطن نه زړۀ صبرول پکار وی۔ بیا دشمن وتلو ته هم څوک نۀ پریږدی۔ نو که موقع وی خو بال بچ هم سړے ځان سره واخلی۔کنی بال بچ هم پاتے کیږی ـ حضراتو صحابه کرا مو رضی الله عنهم چه داسلام په شروع کښې کوم هجرتونه کړے دی دهغے دردناک واقعات په کتابونو کښې موجود دی ـ حضور اقدس ﷺ او د دوی یار غار حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل بال بچ پریښودل او مدینے منورے ته روان شو ـ د دواړو رشته دار هم په مکه پاتے شو ـوروستو دا حضرات هم راغلل خو دحضور ﷺ لور بی بی حضرت زینب رضی الله عنها هم په مکه معظمه کښې دخپل خاوند سره په اوسیدو باندے مجبوره وه۔ کله چه ئے دهجرت په ارادے سره تشریف راوړۀ نو یو کافر ئے خیته مبارکه په لته اووهله چه دهغے د وجے نه ئے حمل اوغورزیدو۔د حضرت ام سلمه رضی الله عنها اولنی خاوند حضرت ابو سلمه رضی الله عنه دهجرت په ارادے سره حضرت ام سلمه رضی الله عنها او خپل ځوئے سلمه په اوښ باندے کینښول او

اووتل- دمکے خلق مخے ته راغلل - دحضرت ام سلمه رضی الله عنها دخاندان خلقو حضرت ام سلمه رضی الله عنها ایساره کړه بیا دابو سلمه رضی الله عنه دکور خلق راغلل او د دوی ځوئے سلمه ئے واخستهٔ او لاړل -دغه رنگے په درے واړو کبن جدائی راغله - حضرت ام سلمه رضی‌الله عنها فرمائی چه ما به د سحر نه ماښامه پورے ژړل- (بیا څهٔ موده پس دځوئے سره دهجرت کولو موقعه ملاؤ شوه)- (انوار البیان)

التبه لاره

" نن صبا خو خلق په التبه لاره روان دی - د ډیر ښهٔ ښهٔ دینی ماحولونو نه را اوځی او د دنیا گټلو دپاره یورپ ، امریکه ،کینیډا او استریلیا ته ځی او هلته خپل دین او ایمان ختموی - او دخپل نسل دپاره ددین او ایمان نه د محرومئ انتظام کوی -" (انوار البیان)

فائده

امام ابو حیان رحمه الله دهغے پینځو کسانو نومونه لیکلی دی چه مسلمانان وو او دبدر په ورځ د مشرکانو دطرف نه راغلی وو- اوگورئ تفسیر بحر المحیط-



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۹۸، ۹۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ لَا

سوا د هغه کمزورو سړو او د ښځو او دماشو مانو نه چه نۀ څۀ چل ور ځی

يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّ لَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۹۸﴾ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى

او نۀ ورته لاره معلومه ده۔ نودا کسان امید دے چه الله دوی ته معافی

اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾

ووکړی ۔او الله ډیر معاف کوونکے او ډیر بخښونکے دے۔

نچوړ

لیکن چه کوم سړی ښځے او ماشومان واقعی کمزورے دی او هجرت باندے قادر نۀ دی ۔ د هغوی سره نۀ خو انتظام شته او نۀ د لارے واقفیت نو دهغوی دپاره معافی ده ۔ (ان شاء الله)

اقوال او حوالے

دا هغه حضرات دی چه د هجرت دپاره بے قراره وو او هر وخت ددے په انتظار کښ اوسیدل خو دوی ته څۀ لاره نه ملاویده ۔ ابو حیان رحمه الله په دوی کښ د بعضو نومونه لیکی۔

وَمِنَ الرِّجَالِ جماعة كعياش بن ابى زمعه و سلمة بن هشام و الوليد بن الوليد رضى الله عنهم. دا خو په سړو کښ شو۔

وَمِنَ النِّسَآءِ جماعة كأم الفضل امامة بنت الحارث ام عبد الله بن عباس رضى الله عنهن. دا په زنانۀ کښ شوے۔

ومن الولدان عبدالله بن عباس وغيره . دا ماشومان وو . (البحر المحيط)

حیله بازی نۀ وی نو معافی ده

"هغه مسلمانان سړی او ښځے او ماشومان چه په اسبابو وغیره کښ بے وسه وی او دسفر لاره نۀ شی موندے ۔ د دارالکفر د پریښودو او دهجرت نۀ کولو الزام په دوی نشته دے۔ امید دے چه الله تعالیٰ دوی معاف کړی خو دحیله بازئ دپاره دمعافئ هیڅ طریقه نشته "۔ (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

دیو اشکال جواب

چه هرکله په دے حقیقی معذوره خلقو باندے هجرت فرض نهٔ وو نو بیا دمعافئ څهٔ مطلب دے ؟ معافي خو دګناه نه پس وي۔ امام رازی رحمه الله او نورو مفسرینو ددے اشکال چه کوم جوابونه ورکړے دي دهغے خلاصه په دے دوؤ عبارتونو کښ اوګورئ۔

❶ "صاحب دروح المعاني ليکي چه په دے کښ داخبره اوښودلے شوه چه دهجرت پريښودل ډير دخطرے څيز دے ۔ تردے چه دوخت مجبوره کس چه په هغهٔ باندے هجرت فرض هم نهٔ دے ۔ دداسے کس هجرت پريښودل هم د دے درجے دي چه داګناه شمار کړے شي ۔ځکه چه معافي دګناه سره متعلق وي۔ داسے مجبوره کس له هم پکار دي چه دموقعے په تلاش کښ اوسي او د دهٔ زړهٔ دے دهجرت په خيال کښ لګيدلے وي چه څنګه ورته موقعه ملاؤ شي نو روان دِ شي ۔" (انوار البيان)

❷ "مفسر تهانوی رحمه الله فرمائيلي دي چهٔ د هجرت نهٔ کولو ګناه په اصل کښ دومره سخته ده ۔ چه په "غَفُوۡرًا" سره دے طرف ته اشاره اوشوه چه د عذر د وجے نه دا هجرت نهٔ کول اګرچه ګناه نهٔ ده ۔ خو د ګناه سره مشابه ده ۔" (تفسير ماجدی)

په دے دواړو عبارتونو کښ ډير فرق نشته ۔ البته امام راز ی رحمه الله دے طرف ته هم اشاره کړے ده چه کيدے شي چه يو کس خپل ځان دهجرت نه معذوره ګڼړي ۔ خو حقيقت کښ داسے نهٔ وي ۔ بلکه ددے سړي په زړهٔ باندے دوطن شوق او دهجرت د سختو مشکلاتو ويره غالبه وي او دے ځان معذوره ګڼړي په دے وجه دمعافئ لفظ راوړلے شو ۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

په دے درے آيتونو او د دے نه ورستو آيت کښ چه کوم مضمون بيان شوے دے۔ د دے براه راست تعلق دجهاد سره دے۔ دمسلمانانو د مکے د مشرکانو سره جنګ شروع شوے وو۔ په دے حالاتو کښ د مسلمانانو دارالاسلام مدينه منوره کښ جمع کيدل ضروري وو۔ د بعضے مسلمانانو د دشمنانو په مينځ کښ د اوسيدو په وجه جهاد کښ ډير رکاوټونه راتلل او بعضے کمزورے زړهٔ والا مسلمانانو د مشرکانو مدد کولو۔ ددے وجهے نه په دے آيتونو کښ ذکر شوی جهادی مضمونونه بالکل واضح دي چه ددے تاليف موضوع ده۔(والله اعلم بالصواب)

سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۰۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا وَّسَعَةً ؕ

اوچه څوک د الله تعالیٰ په لار کښې وطن پریږدی۔نودے به وومومی په زمکه کښې ډیر ځائے او

وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ

ډیره فراخي اوچه څوک دخپل کورنه ووځی چه هجرت کوی الله تعالی ته او دهغهٔ رسول ته نو

الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝۱۰۰

راشی دهٔ له مرگ نو یقینا شتهٔ شو ددهٔ اجر په الله باندے۔او الله ډیر بخښونکے او ډیر مهربانه دے

نچوړ

او چه څوک دالله تعالیٰ په لاره کښې هجرت اوکړی نو ده ته به داوسیدو دپاره ډیر ځایونه او فراخه روزی ملاؤ شی ۔ او چه څوک الله طرف ته او دهغهٔ رسول ﷺ طرف ته دهجرت دپاره اووتلو ۔او بیا منزل ته درسیدو نه مخکښې وفات شو۔ نو دهٔ ته به دهجرت پوره اجر ملاویږی (او مغفرت او رحمت هم ځکه چه) الله غفور هم دے او رحیم هم دے ۔

اقوال او حوالے

① دوه ویرے دوه وعدے

د امام رازی رحمه الله د تقریر خلاصه دا ده چه انسان دهجرت نه په دواؤ څیزونو لرے کیږی یو ددے خبرے ویره او اندیښنه وی چه نوے ځائے کښې به د اوسیدو او دخوراک تنگی وی او دویم ددے خبرے ویره چه پته نشته چه زهٔ به منزل ته اورسیږم او که نه ؟ دآیت په اوله حصه کښې دمهاجر فی سبیل الله دپاره د فراخه ځائے او د فراخه روزئ رشتنے وعده وو شوه ۔ او په دویمه حصه کښې دا اعلان ووشو چه که منزل ته وورسیدهٔ یا وونهٔ رسیدهٔ ۔ د دهٔ اجر یقینی دے ۔ (تفسیر کبیر)

② اجر دعمل که دنیت

امام رازی رحمه الله په دے باندے بحث فرمائیلے دے ۔چه کوم کس څهٔ عمل

شروع کړي او دهغے دپوره کولو نه بغیر مړ شو نو آیا هغهٔ ته به دپوره عمل اجر ملاویږي یا که صرف د نیت ؟ د دے بحث په آخر کښې لیکی۔

واعلم أن القول الاول أولیٰ لانه تعالیٰ انماذکر هذه الایة ههنا فی معرض الترغیب فی الجهاد. (التفسیر الکبیر)

یعنی و رومبے قول ډیر بهتر دے چه دهٔ ته به دپوره عمل اجر ملاویږي ځکه چه الله تعالیٰ دا آیت د جهادد ترغیب په ضمن کښې ذکر کړے دے (او دا به دهجرت او د جهاد ترغیب هله شی چه په لاره کښې مړ کیدونکی کس دپاره هم د دغه عمل د پوره اجر اعلان وی ۔)

یو ایمان افروز واقعه

عن ابن جبیر انهانزلت فی جندب بن ضمرة وکان بلغه قول تعالیٰ اِنَّ الَّذِیْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِکَةُ ظَالِمِیْٓ اَنْفُسِهِمْ الخ

حضرت جبیر رضی الله عنه نه روایت دے چه دا آیت دحضرت جندب بن ضمره رضی الله عنه په باره کښې نازل شوے دے ۔او هغه داسے چه کله دوی ته د الله تعالیٰ دا فرمان اِنَّ الَّذِیْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِکَةُ ظَالِمِیْٓ اَنْفُسِهِمْ ورسیدهٔ (چه په هغے کښې دهجرت نهٔ کوونکو دپاره سخت وعید دے۔) دے دغه وخت په مکه کښې وو۔ او رسول الله ﷺ د مکے خلقو ته دا آیت لیګلے وو۔ نو دوی خپلو ځامنو ته اووے چه ما دهجرت دپاره په سورلیٔ سور کړئ ۔ځکه چه زهٔ خو نهٔ کمزورے یم اونهٔ د لارے نه ناخبره یم ۔ اوس څهٔ یوه شپه هم مکه کښې نهٔ شم تیرولے۔ د دوی ځامنو دے په یو کټ کښې واچولو او په سورلیٔ ئے سور کړو او مدینے طرف ته ئے روان کړو۔ دے ډیر بوډا وو (لړ شان فاصلے باندے) مقام تنعیم کښې د دوی انتقال اوشو۔ کله چه دمرګ وخت نزدے راغے نو دوی به خپل ښے لاس په ګس لاس باندے کیښودهٔ ۔او فرمائیل به ئے ۔ یا الله دا (لاس) ستا دپاره دے او دا (لاس) د رسول الله ﷺ دپاره دے ۔ څما تا سره په هغه څیز باندے بیعت دے په کوم څیز چه ستا رسول ﷺ تا سره بیعت کړے دے۔ حضرات صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ته چه دا خبر وورسیدهٔ نو وے فرمائیل چه افسوس دے چه مدینے ته رارسیدلے و ے او بیا وفات شوے وے۔ نو په دے باندے دا آیت نازل شو ۔ (چه د دهٔ اجر خو پوره او یقینی شوے دے)۔ (روح المعانی)

فائده

د دے آیت نه د مدینے فقهاء کرامو دا مسئله راویستلے ده ۔

ان الغازی اذامات فی الطریق وجب سهمه فی الغنیمة، کـه مجاهد په لاره کښې وفات شو۔ نو د دے جنګ په مال غنیمت کښې به دهٔ ته (دده وارثانو ته) حصه ملاویږی ۔

علامه آلوسی رحمه الله فرمائی

والصحیح ثبوت الاجر الاخروی فقط

یعنی صحیح خبره دا ده چه د آیت نه د آخرت اجر ثابتیږی(نه چه د دنیا غنیمت) (روح المعانی)

هجرت او جهاد

د دے آیتونونه معلومه شوه چه دهجرت اوجهاد په شریعت اسلامیه کښې ډیر لوئے اهمیت دے ۔ د دے دواړو برکات هم ډیر دی ۔او داهم معلومه شوه چه کوم کس دالله تعالیٰ دپاره هجرت اوکړی هغهٔ ته به ضرور په یو ځائے کښې ټکانه ملاویږی او مالی فراخی به ورته هم نصیب کیږی۔ پردی وطن کښې که دنوے نوے رسیدو په وجه په شروع کښې څهٔ تکلیف وی نو دا بیله خبره ده خو ډیر زر د رحمت او د برکت دروازے کولاویږی او ظاهری او پټے فائدے ملاویدل شروع شی او معاش ئے هم ډیر بنهٔ کیږی ۔حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم مکه پریښودلے وه۔او مدینے ته ئے هجرت کړے وو ۔ څوکاله پس مکه معظمه هم فتحه شوه۔خیبر فتحه شو۔ ډیرے علاقے قبضه کښې راغلے ۔لوئے لوئے جائیدادونه ملاؤ شو۔د غنیمت مالونه لاس ته راغلل۔ بیا د حضورﷺ نه پس مصر۔ شام او عراق فتحه شول ۔ چه کوم حضرات په مکه کښې مجبوره او بے څوکه وو۔ هغوی ته لوئے لوئے مالونه ملاؤ شو۔ تاریخ د دے ګواه دے چه هجرت او جهاد سره حالت بالکل بدلیږی ۔او مسلمانان نهٔ صرف دآخرت د ثواب په اعتبار سره (چه دهغے برابر هیڅ یو څیز نهٔ شی کیدے) بلکه د نیاوی اعتبار سره هم د هجرت او دجهاد په برکت سره دعزت او د شرف خاوندان جوړیږی ـــ او په کافرانو باندے غلبه او مالداری او غلامان او وینځے ورته ملاویږی ۔او د کامیابئ سره مقصد ته رسی۔ (انوار البیان)

د برکت کلام

په دے آیت مبارک باندے دحضرت شاه صاحب رحمه الله خوند ور تقریر د تفسیر عثمانی په آسانو الفاظو کښې اوګورئ۔

"په دے آیت کښې د هجرت ترغیب دے -او مهاجرینو ته تسلي ورکولے شي یعنی چه کوم کس د الله تعالیٰ دپاره هجرت اوکړي او خپل وطن پریږدي نو دۀ ته به د اوسیدو د پاره ډیر ځایونه ملاؤ شي او دده په روزئ او معیشت کښې به فراخي وي - نو په هجرت کولو کښې ددے نه مۀ ویریږئ چه چرته به اوسیږو او څۀ به خورو- او دا هم خطره مۀ کوئ چه شاید لاره کښې مرګ راشي نو نۀ به دهغے شو او نۀ ددے - ځکه چه په دے حالت به د هجرت پوره ثواب ملاویږي او مرګ خو به په خپل وخت راځي- د مقرر وخت نه مخکښے نۀ شي راتلے -" (تفسیر عثمانی)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۰۱

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا

اوکله چه تاسو په زمکه کښ سفر کوئ - نوتاسو باندے څۀ ګناه نشته که

مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ إِنَّ

مونځ کموئ ددے ویرے نه چه کافران به تاسوته تکلیف اورسوی - بے شکه

الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾

کافران ستاسو ښکاره دشمنان دی۔

نچوړ

چه کله تاسو جهاد وغیره دپاره سفر کوئ - او دکافرانو نه چه ستاسو ښکاره د شمنان دی- د دے ویره وی چه دوی به موقع اومومی او تکلیف به در اورسوی - نومونځ مختصر کړئ- یعنی چه کوم مونځ په وطن کښ څلور رکعته وو نو هغۀ دوه رکعته اوکړئ (تفسیر عثمانی)

د جهاد اعزاز

غور اوکړئ چه کله سړے دجهاد او دهجرت په ارادے سره ووځی نود تولونه لوئے فرض چه مونځ دے چه دهغے په پریښودو سره انسان کافر کیږی (یعنی د خدائے نافرمان جوړیږی) په هغے کښ هم کمے راغے چه دڅلورو رکعتو نه ئے دوه کړل او دویم دا چه جمع صوری جائز اوګڼړلے شوه۔ (حاشیه دحضرت احمد علی لاهوری رحمه الله)

شرعی مسئله

"زمونږ په نیز سفر درے منزله (اته څلویښت (۴۸) میله یا اووه اویا (۷۷) کلومیتره) کیدل ضروری دی -که د دے نه کم وی نو قصر به جائز نۀ وی۔ او دکافرانو د تکلیف ویره په هغه وخت کښ وه چه کله دا حکم نازل شو ۔کله چه دا ویره ختمه شوه- نو د دے نه پس هم حضور ﷺ به په سفر کښ دوه رکعته کول او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ئے هم د دے تاکید فرمائیلے وو ۔ اوس همیشه په سفر کښ د قصر حکم دے که دا ذکر شوے ویره وی اوکه نۀ وی۔دا دالله تعالیٰ فضل دے-په شکر


سره ئے قبلول لازم دی۔ څنګه چه په حدیث کښې ارشاد دے" (تفسیر عثمانی)

دآیت ربط

"په هغے ځیزونو کښې چه مجاهدینو ته په جهاد کښې دهغے ضرورت وی - د مونځ د طریقے معلوم مول هم دی چه په سفر کښې به څنګه طریقے سره او دجنګ په وخت کښې به په کومے طریقے سره ادا کول پکار وی ۔ددے وجهے نه خدائے تعالیٰ په دے آیتونو کښې د صلاة قصر او د صلاة خوف متعلق مسائل بیان فرمائی ۔" (تفسیر حقانی)

امام رازی رحمه الله لیکی :

اعلم ان أحد الامور التی یحتاج المجاهد الیها معرفة کیفیة اداء الصلوٰة فی زمان الخوف والا شتغال بمحاربة الاعداء. (التفسیر الکبیر)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۰۲،۱۰۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ

اوهر کله چه ته په دوی کښې ئې۔ او دوی له مونځ ور کوې نو اودریږی دې یوه ډله د دوی نه

مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَائِكُمْ

تاسره او نیسی دې خپله وسله ۔ نو چه هر کله دوی سجده ووکړی نو دوی دې راوروستو

وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا

شی او رادې شی بله ډله چه مونځ ئې نه وی کړے ۔نو هغوی دې مونځ ووکړی تا سره۔ او

حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ

احتیاط دې کوی او خپله وسله دې ځان سره ساتی ۔ غواړی هغه خلق چه کافر دی چه

أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً وَلَا

تاسو غافله شئ دخپلې وسلې نه او د خپل سامان نه۔ نو دوی به حمله ووکړی په تاسو

جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن

باندې د هیر حمله۔ او نیشته دې په تاسو باندې ګناه که چرې وی تاسو ته تکلیف د باران

تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ إِنَّ اللّٰهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ

یا بیماران یئ چه کیږدئ تاسو وسله خپله ۔او خپل احتیاط کوئ۔ بے شکه الله تیار کړے

عَذَابًا مُّهِينًا ﴿۱۰۲﴾ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيَامًا وَّ

دے دکافرانو د پاره رسوا کوونکے عذاب ۔ نو هر کله چه تاسو پوره کړئ مونځ نو ذکر

قُعُودًا وَّعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ

کوئ دالله په ولاړه او په ناسته او په ملاسته ۔ بیا چه کله تاسو په اطمینان شئ۔ نو پوره

إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا ﴿۱۰۳﴾

مونځ اوکړئ۔ بے شکه مونځ په مؤمنانو باندے فرض دے وخت په وخت۔

نچوړ

د جهاد په دوران کښې چه کله حضور ﷺ په اسلامی لښکر کښې موجود وی یا د

دوی نه پس د مسلمانانو شرعی امیر موجود وی -او پوره لښکر صرف د یو امام په اقتداء کښې مونځ ادا کول غواړی نو د دے طریقه دا ده چه لښکر دے په دوؤ حصو کښې تقسیم کړے شی۔ په دوی کښې دے یوه حصه په امام پسے مونځ اوکړی او دویمه دے د دشمن مقابله کښې اوسی۔ چه کوم مجاهدین امام نه شاته مونځ ادا کوی هغوی دے هم مسلح حالت کښې مونځ ادا کړی۔ دیو رکعت ادا کولو نه پس دے د لښکر دا حصه د دشمن مقابلے ته لاړه شی- او دویمه حصه به راشی او امام پسے به مونځ ادا کړی- خود مونځ په وخت کښې به خپله اسلحه اود دفاع سامان ځان سره ساتی ځکه چه کافران غواړی چه تاسو دخپلے وسلے او سامان نه غافله شئ چه دوی په تاسو باندے سمدستی حمله اوکړی۔ خو که دباران یا بیمارئ وغیره څۀ عذر وی نو اسلحه لرے کولے شئ او مونځ ادا کولے شئ۔ خو د دفاع سامان اوس هم ځان سره ساتل پکار دی۔ د مونځ ادا کولو نه پس دے تول لښکر په ولاړه ـ په ناسته ـ په ملاسته او په هر حال کښې دالله په ذکر او دهغۀ په یاد کښې لګیا وی او چه کله سفر ختم شی نو مونځ د اصل قانون مطابق ادا کړئ۔ بے شکه مونځ په مسلمانانو باندے فرض دے او د دے وختونه مقرر دی۔

شان نزول

" لباب النقول کښې ئے دحضرت ابو عیاش زرقی رضی الله عنه نه نقل کړے دی چه دوی بیان اوفرمائیلو چه مونږه په مقام عسفان کښې دحضور ﷺ سره وو۔ مخے ته مشرکین راغلل چه دخالد بن ولید رضی الله عنه په مشرئ کښې وو (دے وخت پورے هغه نۀ وو مسلمان شوے)۔ دا خلق داسے ځائے کښې وو چه زمونږه او زمونږ د قبلے په مینځ کښې وو۔ حضور سرور عالم ﷺ مونږ ته د ماسپخین مونځ راکړو- نو مشرکانو اووے چه مونږه غلطی اوکړه۔ چه کله دے خلقو مونځ کولو نو دغه وخت چه مونږ ه په دوی حمله کړے وے - د دوی خوز مونږ نه د حملے طمعه نۀ وه۔ بیا ئے اووے چه اوس یو بل مونځ راتلونکے دے - (یعنی دمازیګر مونځ) دغه مونځ دوی ته د خپل ځان نه او دځامنو نه هم زیات خوږ دے ـ چه کله دا خلق په راتلونکی مونځ کښې مشغوله شی نو دغه وخت دے په دوی باندے حمله اوشی۔ د دے نه پس جبریل علیه السلام د ماسپخین او دمازیګر په مینځ کښې دے آیت سره نازل شو ـ " (انوار البیان)

امام قرطبی رحمه الله هم دا روایت د دارقطنی په حوالے سره نقل کړے دے او لیکلے

ئے دی چه هم دا واقعه د حضرت خالد بن ولید د اسلام راوړلو سبب شو ۔ (القرطبی)

د صلاة الخوف طریقه

د تفسیر په خلاصه کښ د صلاة الخوف هغه طریقه راغلے ده چه آیت کښ ذکر ده ۔ وړومبۍ ډله دے یو رکعت اوکړی او لاړه دے شی - بیا دے دویمه ډله په امام پسے یو رکعت اوکړی - نو بیا خو دے خپل مونځ پوره کړی یا دے دوی هم یو رکعت ادا کړی او لاړ دے شی ۔ بیا دے اولنۍ ډله واپس راشی او دویم رکعت دے ادا کړی او خپل مونځ دے پوره کړی۔ بیا دے دویمه ډله (که هغوی خپل مونځ نۀ وی پوره کړے نو) واپس راشی -خپل مونځ دے پوره کړی ۔ د صلاة الخوف متعلق مفسرینو حضراتو چه کوم احکامات راجمع کړے دی - د هغے نه په بعضے ضروری احکامو باندے نظر واچوئ ۔

❶ د ویرے مونځ ډیرو طریقو سره ثابت دے ۔ امام ابو داؤد رحمه الله دا طریقے نقل کړے دی۔ (انوار البیان)

❷ دا یو یو رکعت هرے ډلے ته کول په هغه حالت کښ دی چه کله امام او مقتدی مسافر وی -که امام مقیم وی نو هرے ډلے ته به دوه دوه رکعته اوکړی -باقی رکعتونه دے هغه خلق پوره کړی۔ که دماښام په مانځه کښ داسے واقعه پیښه شی- نو اولے ډلے ته به دوه رکعته اوکړی -او دویمے ته به یو رکعت اوکړی۔ په مانځه کښ تلل راتلل چونکه د مجبورۍ د حالت په وجه دی- او په شرعی اجازت سره دی -د دے وجے نه په دے سره مونځ نۀ ماتیږی ۔ (انوار البیان)

❸ که چرے د دښمن د خطرے د وجے نه دومره وخت نۀ ملاویدۀ چه په دغه ذکر شوے طریقے سره مونځ ادا کړے شی -نو جمع دے پریږ دی او ځانله ځانله مونځ دے ووکړی- او که د سورلۍ نه کوزیدو موقعه هم ملاؤ نه شی نو په سورلۍ دے په اشارے سره ووکړی که د دے موقعه هم نۀ وی نو مونځ دے قضا کړی ۔ (تفسیر عثمانی)

❹ چه کله دوی مانځۀ ته وودریږی نو وسله دے ځان سره ساتی -که چرے د مقابلے ضرورت پیښ شی نو د وسلے په راخیستلو کښ به وخت نۀ لګی -دا ده چه جنګ شروع کړی نو مونځ به ئے مات شی خود دښمن د دفاع په وجه چه مونځ مات شی نو د هغے ګناه به نۀ وی- (انوار البیان)

دواړه خبرې اهمې دي

دصلاة الخوف وغیره احکاماتو نه بعضې مفسرینو حضراتو د جهاد فضیلت بیان فرمائیلې دې چه دا څومره اوچت او ضروری عمل دې چه دهغې د وجهې نه په مانځهٔ غونډې فریضه کښې کمې (اسانی) اوکړې شو۔ دې دپاره چه دجهاد په دوران کښې په جنګ کښې کمې او غفلت وونهٔ شي ۔ حالانکه بعضې نورو مفسرینو هم د دې احکاماتو نه د مونځ او دجمعې فضیلت بیان کړې دې ۔ چه دجهاد په شان ګران اوضروری کار کښې هم د مانځهٔ او دجمعې احکام بیانیږی چه مسلمان له په یو حال کښې هم د مونځ او دجمعې نه غافله کیدل نهٔ دي پکار ۔

بې شکه مونځ هم داسلام ډیره اهمه فریضه ده۔ الله تعالیٰ دې په امت کښې تول فرائض او پوره دین ژوندې کړی۔ (آمین یا ارحم الرحمین)

څنګه چه کیدې شي ذکر کوئ

فاذا قضیتم الصلوٰة یعنی چه کله دمانځه نه اوزګار شئ نو دالله پاک دذکر نه مهٔ غافله کیږئ۔بلکه په ولاړه– ناسته– ملاسته الله تعالیٰ یاد وئ۔ بعضې وائی چه د دې نه مراد دا دې چه که جنګ سخت وی او د صلاة الخوف مهلت هم نهٔ وی نو بیا چه په کوم حال کښې کیدې شي الله پاک یاد وئ“ (تفسیر حقانی)

”الله تعالیٰ یاد وئ تر دې که بالکل دحملې او دجنګ وخت وی هم “ (تفسیر عثمانی)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَا تَهِنُوْا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ ۗ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ

او سستی مۀ کوئ په دغه خلقو پسے په لګیدو کښې که تاسو ته تکلیف رسی نو دوی ته هم ستاسو پشان

كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ

تکلیف رسی – حالانکه تاسو د الله تعالیٰ نه هغه امید لرئ چه دوی ئے نۀ لری– اوالله په هر څیز خبردار

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۰۴﴾

دے حکمت والا دے۔

نچوړ

دکفارو په تلاش کښې او هغوی پسے په لګیدو کښې دهمت نه کار واخلئ او کوتاهي مۀ کوئ۔ که تاسو ته د دوی نه په جنګ کښې زخم او درد رسیدلے دے– نو په دے تکلیف کښې خو دوی هم شریک دی یعنی دوی ته هم زخمونه لګیدلے دی– او ستاسو خو د الله تعالیٰ نه هغه امیدونه دی چه هغه امیدونه د دوی نشته دے۔ یعنی په دنیا کښې په کفارو باندے غلبه او په آخرت کښې عظیم ثواب – اوالله تعالیٰ ستا سو په فائدو او ستاسو په اعمالو ښۀ پو هیږی ۔ د دۀ چه څۀ حکم وی نو په هغے کښې ستاسو د پاره د دین او د دنیا ډیرے فائدے او حکمتونه دی – نو دا حکم پوره کول غنیمت او لوئے نعمت اوګنړئ۔ (مفهوم عثمانی)

ربط

(۱) اعلم انه تعالیٰ لماذکر بعض الاحکام التی یحتاج المجاهد الی معرفتها عاد مرة اخری الی الحث علی الجهاد. (التفسیر الکبیر)

چه کله الله تعالیٰ بعضے هغه احکامات بیان کړل چه مجاهد ته دهغے ضرورت وو–نوبیا ئے دجهاد دشوق پیدا کولو بیان شروع کړو۔

(۲) د دے نه پس بیا دجهاد ترغیب ورکوی چه تاسو سره الله تعالیٰ د فتحے او د نصرت وعده کړے ده او دهغۀ نه تاسو ته هغه طمعه ده چه کفارو ته نشته ۔بیا ولے دوی سره په جنګ کولو کښې سستی کوئ۔ (تفسیر عثمانی)

اقوال اوحوالے

❶ په جهاد کښې سستي ناجائز ده

"پورته اصل مقصود د جهاد ذکر وو او نور مضامین د دے په مناسبت سره ذکر شوی وو. وړاندے بیا هم د جهاد متعلق مضمون دے چه په جهاد کښې سستي ناجائز ده ." (بیان القرآن)

❷ سستي مهٔ کوئ

او د دشمنانو په نیولو کښې سستي مهٔ کوئ. (حاشیه د حضرت احمد علی لاهوری رحمه الله)

❸ دا حکم هر جهاد کښې دے

قیل نزلت فی حرب احد حیث امر النبی صلی الله علیه وسلم بالخروج فی آثار المشرکین وکان بالمسلمین جراحات وکان امران لا یخرج معه الا من کان فی الوقعة. وقیل هذا فی کل جهاد.

یعنی یو قول دا دے چه دا آیت دا احد د غزا په موقعه باندے نازل شو چه کله نبی اکرم ﷺ مشرکانو پسے د تللو حکم اوکړو او مسلمانان زخمیان وو- او حضور ﷺ اوفرمائیل چه مونږ سره به په دے رانیولو کښې هغه څوک ځی چه څوک په دے مخکښې جنګ کښې شریک وو . دَ آیت په باره کښې دویم قول دا دے چه دا حکم د هر جهاد باره کښې دے (چه د دشمن په مقابله او رانیولو کښې کم همتی مهٔ ښکاره کوئ). (قرطبی)

❹ افسوس دے په دے باندے

" د مقاصدو په لاره کښې تکلیفونه او محنتونه مومن ته هم مخے ته راځی او کافر ته هم – خود مومن دپاره د دے برداشت کول آسان وی ځکه چه دے خپلے مخے ته داسے امیدونه لری چه هغے نه کافر محروم دے. دے یقین لری چه څه څهٔ برداشت کوم –نو د حق په لاره کښې برداشت کوم او زما دپاره دنیا کښې هم کامیابی ده او آخرت کښې هم . بیا افسوس دے په هغه مومن باندے چه د حق دمقاصدو دپاره دومره هم نهٔ شی کولے چه څومره یو کافر د ظلم او فساد دپاره کوی .(ترجمان القرآن)

❺ تاسو د محنت ډیر حقدار یئ

امام رازی رحمه الله ددے آیت په تفسیر کښې دا بیخوده کوونکے جمله لیکلے ده .

فاذا کانوا مع انکار هم الحشر والنشر یجدون فی القتال فانتم ایها المومنون المقرون بأن لکم فی هذا الجهاد ثوابا عظیما وعلیکم فی ترکه عقابا عظیما أولیٰ

بأن تكونوا مجدين في هذا الجهاد.

یعنی کفار د قیامت دحشرنشر نه منکر دی -خوبیا هم تاسو سره په جنګ کولو کښې دومره محنت او کوشش کوی ۔ نو اے مسلمانانو ! تاسو دحشر او نشر منونکے یئ او تاسو پوهیږئ چه په جهاد کولو کښې عظیم ثواب او په جهاد پریښودلو کښې سخت عذاب دے۔ نو تاسو د دے خبرے ډیر حقداریئ چه جهاد کښې تاسو ډیر ډیر محنت اوکړئ۔ (التفسیر الکبیر)

فائده

اسلام او کفر برابر نهٔ شی کیدے ۔مسلمانان او کافران برابر نهٔ دی۔د مسلمان تکلیف اودکافر تکلیف برابر نهٔ دے ۔جهاد کښې چه کوم تکلیف تاسو ته درسی هغه د اجر باعث دے او کافر ته چه کوم تکلیف رسی هغه دلوئے عذاب نه وړاندے وړوکے عذاب دے ۔په دنیا کښې دکامیابئ معیار راحت یا تکلیف نهٔ دے – ایمان او جهاد دے۔ چا ته چه ایمان اوجهاد ملاؤ شو هغه کامیاب دے- که هغه زخمی وی -یا ئے شکست خوړلے وی او چا ته چه جهاد او ایمان نصیب نهٔ شی هغه ناکام دے اګر چه دټولے زمکے بادشاه وی۔ د جهاد زخمونه به د قیامت په ورځ دمؤمن دپاره ګواهی ورکوی او د دوی نه د څڅیدونکے وینے نه به خوشبودار مشک جوړ شی ۔ بیا اے مسلمانانو ! دکفارو په رانیولو کښې کم همتی او سستی ولے ؟ کفارو پسے لاړ شئ او وے وهئ او وے تختوئ او زمکه د دوی دقوت نه پاکه کړئ ۔ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۳۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۳۸﴾

منافقانو ته زیرے ورکړه چه د دوی دپاره دردناک عذاب دے۔

نچوړ

چه خپل ځان ته مسلمان وائی او بیا د دشمنانو سره یاری کوی او د هغوی سره عزت ګوری نو دغه منافقانو ته دے زیرے ورکړے شی چه د دوی دپاره دردناک عذاب مقرر دے۔

فائده

دهغے منافقانو تذکره شروع کیږی چه چا اسلامی ډلے او اسلامی جهاد ته د نقصان رسولو بنۀ کوشش اوکړو۔ د منافقانو دا طبقه دجهاد دشمنه ده۔ دا خلق دځۀ وجهے نه منافقان دی؟ د دوی مقاصد څۀ دی؟ د دوی انجام څۀ دے؟ د جهاد د فتحے او د شکست په وخت کښ د دوی دوه مخی څۀ وی؟ د منافقت اود منافقینو نه د بچ کیدو څۀ طریقه ده؟ د منافق توبه په کومو شرطونو سره قبلیږی۔ دا ټول اهم جهادی مضمونونه د سورة النساء آیت ۱۳۸ نه تر ۱۱۴ پورے آیتونو کښ بیان شوے دی۔ د مسلمانانو په صفونو کښ منافق صفته خلق خو هروخت موجود وی۔ خو د دوی چالاکی او ډیر نقصانونه هغه وخت مخے ته رازی چه کله د مسلمانانو د کافرانو سره جهاد شروع شی او په هغے کښ مسلمانانو ته ظاهری شکست اوشی۔ نو بیا منافقان ښکاره مخے ته رازی۔ دوی فوراً د کافرانو غیږوکښ پریوزی۔ دوی د اسلام او دجهاد خلاف وسوسے خوروی او دخپل بچاؤ او دنیاوی فائدو دپاره هر پریوتے حرکت کوی۔

د دے آیتونو په ډیر غور۔ فکر او توجه سره دوئیلو ضرورت دے۔ د دے دپاره چه د نفاق د مرض ــــ دهغے د اسبابو او اثراتو نه دخپل زړه د صفا ساتلو محنت او کړے شی۔ (واللّٰه اعلم بالصواب)

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ د تبشیر معنی همیشه دخوشخبریٔ نۀ وی۔ لغت کښ دا لفظ عام دے د هر هغے خبر دپاره چه دهغے اثر د مخ نه ښکاره شی۔

التبشير الاخبار بما يظهر اثره على البشرة. (القرطبی)


دا هم کیدے شی چه بشارت دلته د پیغور او د رټنے په معنی باندے وی او عرب په داسے موقع باندے هم دغسے استعمال کوی۔

قوله بَشِّرِ تهكم بهم، والعرب تقول ،تحيتك الضرب وعتابك السيف. (كبير)
ومن ذلك قول الشاعر. تحية بينهم ضرب وجيعٌ.

په پښتو کښې خو دپیغور په موقعه باندے وئیلے کیږی ، واخله ،خپل انعام واخله۔اوس خو دے مزه اوڅکله ،اوس د خپل ځان تماشه کوه۔" (تفسیر ماجدی)

داپه یوه خبره د نۀ تینګیدو نتیجه ده

په یوه خبره د نۀ تینګیدو اوله نتیجه نفاق دے او دنفاق سزا به عذاب الیم وی۔
(حاشیه د حضرت لاهوری رحمه اللّٰه)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۱۳۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ

هغه خلق چه د مؤمنانو په ځائے کافران ځان له دوستان جوړوی – آیا دوی لټوی

اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ﴿۱۳۹﴾

د دوی په خوا کښ عزت ؟ نو ټول عزت د الله تعالیٰ په قبضه کښ دے۔

نچوړ

منافقان خلق چه مسلمانان پرېږدی او کافران دوستان جوړوی– د دوی د پاره سخت عذاب دے او د دوی دا خیال بالکل غلط دے چه د کافرانو د دوستانے په ذریعه به مونږ ته عزت ملاؤ شی۔ ټول عزت د الله تعالیٰ د پاره دے ۔ څوک چه د دهٔ اطاعت کوی هغهٔ ته به عزت ملاویږی ۔ خلاصه دا چه داسے خلق به دنیا او آخرت دواړو کښ ذلیل او خوار وی ۔ (مفهوم عثمانی)

دعزت شوق

بالکل ښکاره معلومه شوه چه د عزت شوق دا خلق دکافرانو دوستیٔ ته تیار کړل– د عزت نه مراد دنیاوی مقام هم دے او امن او غلبه هم ۔ یعنی چونکه د دے خلقو مقصود صرف د دنیا زندگی وه او دوی ته معلومیده چه د دے زندگی امن ،عیش ،آرام او حفاظت دپاره دوی ته صرف دکافرانو نه مدد ملاویدے شی نو ددے وجهے نه دوی د الله تعالیٰ احکامات او خپله داسلام دعوٰی هیره کړه او دکافرانو په یاریٔ کښ اولګیدل چه دوی ته حفاظت او عزت مند مقام ملاؤ شی۔

امام قرطبی رحمه الله لیکی :

العزة ای الغلبة چه دعزت نه مراد غلبه ده۔ یعنی دا خلق د کافرانو د طاقت نه مرعوبه وو او دوی ته خطره وه که مونږه د مسلمانانو ملګرتیا اوکړه او کافرانو سره مو دشمنی اوکړه نو مونږ به اووهلے شو۔د دے وجهے نه مونږ دپاره دوی سره دوستانه پکار ده ۔حضرت تهانوی رحمه الله ډیر وضاحت سره لیکی۔

" دمنافقانو دکافرانو سره ملاویدل په دے غرض وو چه دمسلمانانوپه دغه رنګے

دغالب راتلو د دوی امید نه وو۔ دوی به سوچ کولو چه همیشه خو به اوسیدل وی –د دے یهودیانو او مشرکانو سره نو دوی سره ورانه ولے ؟ (بیان القرآن)

صاحب د تفسیر حقانی لیکی:

بشر المنافقین الخ په دے کښں هغه منافقانو ته هم اشاره ده چه د دنیا په مقابله کښں د دین هیڅ پرواه نۀ کوی کله عیسایان اوکله مسلمانان ۔ یَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ... الخ کښں دهغے منافقانو خوئ بیان فرمائی چه هغوی دکافرانو او مشرکانو رعب داب اووینی نو دهغوی سره ملاویږی– او دوی د دے وجهے نه یاران جوړوی چه مونږ ته به عزت او شوکت حاصلیږی – د مدینے منافقانو به دغسے کول ۔ یهودیانو له به تلل او داسلام نه نفرت او اسلام پسے به ئے توقے کولے څنګه چه به مخکښے راشي –او د دے نه به ئے مقصد داوو چه د دے خبرو سره به دا مخالفین مونږه رشتنے دوستان اوګڼړی او زمونږ عزت به اوکړی"۔ (تفسیر حقانی)

مخالفت که د پوره اسلام وی یا د یو فریضے د کافرانو سره دعزت موندلو په شوق کښں دهغوی سره یارانے کول او هغوی ته دا باور ورکول چه مونږه ستاسو رشتنے او وفادار دوستان یو– هیڅ کله د مسلمانانو شیوه نۀ شی کیدے ۔ (والله اعلم بالصواب)

تول عزت صرف دالله تعالیٰ په قبضه کښں دے

" آیا دا منافقان دکافرانو سره عزت ګوری –عزت خو تول دالله تعالیٰ دپاره دے۔الله تعالیٰ پخپله عزیز دے هغه چه چا له غواړی عزت ورکوی او چاله چه غواړی ذلت ورکوی۔ د کافرانو د دے لږ شان مال او جائیداد او د ډلے عزت چه په نظر رازی د دے هیڅ حیثیت نشته۔ الله تعالیٰ چه به ایمان والاؤ ته کوم عزت ورکوی د هغے ورانده دا هیڅ نۀ دی۔ دغه شان اوشوه–الله تعالیٰ ایماندارو ته عزت ورکړو– هغه تول کافران ذلیله شو چا چه ایمان قبول نۀ کړو او منافقان هم دوی سره ذلیله شو۔ کافران مغلوبه کیدل او مسلمانان غالب کیدل او ملکونه فتحه کیدل – داخو په دنیا کښں شو–اوآخرت کښں خو هرکافر دَ پاره "عذاب مهین" خامخا مقرر دے۔په دنیا کښں چه اوس دمسلمانانو کومه بدحالی ده – دا په دے وجه با ندے ده چه عام طور مسلمانانو د ایمان تقاضے او دایمان مطالبات پریښے دی ۔ هر مسلمان باندے لازم دی چه اسلام دتولو نه لوئے عزت اوګڼړی ـچه مسلمان وی نو چه دکافرانو سره دوستانه کولو کښں یا د دوی دکارونو او اخلاقو خپلولو کښں یا د دوی شکل او صورت او رسم

ورواج خپلولو کښې عزت او نۀ ګڼړي۔چه کوم خلق د الله تعالیٰ په نزد ذلیل دي۔ دهغوی سره یا دهغوی په شان کیدو کښې عزت نشته ۔" (انوار البیان)

دکافرانو لباس او فیشن

" فقهاؤ د دې آیت نه دامسئله راویستې ده چه دمنکرو او کافرانو سره بغیر ضرورته ناسه پاسته ـــ دهغوی وضع قطع بغیر ضرورته جوړول ـ د دوی فیشن اختیارول ـ د دوی جامه ـ تمدن او معاشرت دفخر او عزت څیز ګڼړل ټول په منافقت کښې داخل دي ۔" (تفسیر ماجدی)

د منافقت نه حفاظت

د منافقت نه د بچ کیدو یو څو طریقې معلومې شوې ۔

❶ د کافرانو سره دې یاري نۀ شي کولې ۔

❷ دکافرانو دطاقت او دنیاوي ترقئ نه دې ویره نۀ کیږي ۔

❸ کافران دې عزت مند نۀ ګڼړلې کیږي۔

❹ د عزت مالک صرف الله تعالیٰ دې۔ د دې خبرې دې پوخ یقین اوساتلې شي ۔

❺ د دنیاوي عزت په شوق کښې داخته کیدو په ځائې دې په زړۀ کښې دا شوق وي چه زۀ دالله تعالیٰ په نزد مقبول شم۔(و الله اعلم بالصواب)

د الله په لار کښې جهاد کولو کښې دا ټولې طریقې راجمع دي ۔ (والله اعلم بالصواب)

په خبره د نۀ ټینګیدو دوه نورې خرابې نتیجې

دویمه نتیجه به دا را اوزي چه خلق به دمؤمنانو په ځائې د اسلام د دشمنانو سره دوستي ساتي ۔(اَيَبۡتَغُوۡنَ) دریمه نتیجه به دا شي چه دکفارو نه به دعزت غوښتونکي شي ۔ (حاشیه دحضرت لاهوري رحمه الله)



سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ

اونازل کړے دے تاسو ته الله تعالیٰ په قرآن کښې داحکم چه کله تاسو واورئ چه دالله تعالیٰ

اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَ يُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى

دآیتونو نه انکار کیږی او په هغے پورے توقے کیږی -نو تاسو دوی سره مهٔ کښینئ تر دے

يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖٓ ۖ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ

چه دوی شروع شي په نورو خبرو کښې -گنې دغه وخت به یقینا تاسو هم د دوی په شان یئ

اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَ الْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴿۱۴۰﴾

بے شکه الله تعالیٰ د غونډو منافقانو او کافرانو په جهنم کښې راجمع کونکے دے-

نچوړ

اے مسلمانانو ! الله تعالیٰ د مخکښے نه تاسو ته په قرآن مجید کښې حکم رالیږلے دے -چه په کوم مجلس کښې دالله تعالیٰ د احکامو نه انکار او په هغے پسے توقے کیږی هلته هرگز مهٔ کینئ -گنی تاسو به هم دهغوی په شان شئ۔

یو ضروری حکم

د دے نه معلومه شوه چه کوم کس په یو مجلس کښې په خپل دین باندے اعتراض او عیب واوری او بیا هلته ناست وی او وریدل کوی (یعنی د دین او دهغے د احکامو خلاف خبرے اوری) اگرچه پخپله هیڅ او نه وائی نو دے منافق دے ۔ (تفسیر عثمانی)

په خبره د نهٔ تینگیدو څلورمه نتیجه

څلورمه نتیجه به دا شي چه دوی به دالله تعالیٰ دآیتونو نه انکار او په هغے پسے توقے اووری او خاموش به وی ۔ نو په آخرت کښې به دوی دکفارو سره جهنم کښې وی۔ (حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

غور اوکړئ

د الله تعالیٰ د آیتونو نه انکار او په هغې پسې توقې دکافرانو او منافقانو طریقه ده۔ نن هم کافران دالله تعالیٰ په هغې آیتونو باندې ګوتې اوچتوی چه په هغې کښې دجهاد حکم دے ، داسلامی حدودو او سزاګانو بیان دے او د کافرانو د دوستانې نه منعه ده ۔ دوی داسې جلسې - سیمینارونه او مذاکرې مقرر کوی چه په هغې کښې دالله تعالیٰ د احکامو خلاف خبرې کیږی۔ مسلمانان منعه کړې شو چه دوی به هرګز داسې مجلسونو کښې نۀ شریک کیږی ۔ کنې د دوی شمار به هم د منافقانو سره وی۔ خوکه د دې خبرو د جواب کولو د پاره شریک شی نو څۀ باک نشته ۔ (والله اعلم بالصواب)

د منافقت نه حفاظت

د منافقت نه دحفاظت ئې ډیر اهم اصول اوطریقه ووښودله چه دکفارو او د منافقانو هغه خبرې دې نۀ اوری او نۀ دې وائی چه په هغې کښې داسلام یا داسلام د یو حکم نه انکار وی یا د دې د شان دکمولو کوشش وی ۔ که مسلمانان په دې اصول باندې سختئ سره عمل اوکړی نو دوی ډیر مضبوط او طاقتور جوړیدې شی او دوی د هغه فکری جنګ د ګذار نه بچ کیدې شی۔ کوم جنګ چه دهر ې زمانې کافران او منافقان په خپلو ژبو او د ابلاغ په ذریعه راپاروی ۔د ټی وی -سنیما -کیبل -کمپیوټر -ریډیو -اخبارونو - د سیمینار - د دې ټولو باره کښې واضح اصول په دې آیت کښې راغلل ۔ دابلاغ او د خبرونو دا ټولې ذریعې نن صبا د پردې نه واخله تر جهاد پورې د اسلام دهرحکم دکمزورې کولو په محنت کښې لګیدلې دی ۔ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ قَالُوْٓا

هغه منافقان چه تاسو ته په انتظار کښې دی که تاسو ته د الله تعالیٰ دطرف نه فتحه

اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ قَالُوْٓا

ملاؤشي نو دوی وائي آیا مونږه تاسو سره نۀ وو- اوکه وی دکافرانو دپاره څۀ حصه

اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ فَاللّٰهُ

نو دوی وائي آیا مونږه په تاسو غالب نۀ وو راغلي او آیا مونږه تاسو د مسلمانانو نه

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ

وے بچ کړے؟ نو الله تعالیٰ به ستاسو په مینځ کښې فیصله اوکړي او الله تعالیٰ هرګز

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴿۱۴۱﴾

کافرانو له په مؤمنانو باندے لار نۀ ورکوي۔

نچوړ

دا منافقان ستاسو په حالت نظر ساتي -بیا که تاسو ته فتحه ملاؤ شي نو تاسو سره کیږي او وائي چه آیا مونږه ستاسو ملګری نۀ وو څۀ؟ او که کافرانو ته په جنګ کښې ظاهري غلبه ملاؤ شي نو دهغوی سره کیږي او دوی ته وائي چه آیا مونږه تاسو راګیر کړے نۀ وی څۀ؟ او مونږه ستا سو حفاظت کړے نۀ دے څۀ؟ او ولے مونږه د مسلمانانو دلاس نه تاسو بچ کړے نۀ وئ څۀ؟ اصل فیصله خو به د قیامت په ورځ الله تعالیٰ فرمائي۔ خو داخبره یاد ساتئ چه الله تعالیٰ به هرګز کافرانو ته په مومنانو باندے په دنیا کښې مکمله غلبه ورنۀ کړي۔

اقوال او حوالے

❶ دمنافقانو د پوره ذهنیت نه پرده لرے کولے شي او ښکاره کیږي

د دے خلقو هم عجیبه حال وو ـ کله به چه جنګ اونښتۀ نو د منافقانو ډلے ډلے به د اسلامي لښکر سره یو ځائے کیدے- اګر چه دکافرانو سره به ئے جنګ نۀ کولو یا

به ئې برائې نام جنګ کولو نو که مسلمانانو ته به فتحه اوشوه نو دا خلق به راتلل او مسلمانانو ته به ئې دخپل شرکت -د ملګرتيا اود دوستانې حق وريادولو او دمال غنيمت وغيره نه به ئې خپله حصه غوښتله ۔ خو د دې التا که چرې دکافرانو لاس ته به ميدان راغې - نو دوی به په جلتئ سره هغوی ته ورتلل- او خپل احسان به ئې وريادولو، چه ګورئ فلانئ موقعه باندې د اسلامی لښکر تله درنه وه او تاسو شکست خوړونکي وئ چه مونږه په مينځ کښ راغلو- مونږه خپل کوشش او تدبر سره ستاسو تله وزنداره کړه۔ او بيللې جنګ مو در باندې اوګټلو- نو اوس زمونږه حصه راکړئ۔ حربي کافرانو ته د مسلمانانو مخبري کول -جاسوسي کول- دا ټول د دې لاندې رازي۔ (تفسير ماجدی)

۲ دخفيه معلوماتو تبادله کونکي

د مسلمانانو خلاف جنګ کولو والا اوکافرانو سره دخفيه معلوماتو تبادلې کولو والا دې په دې آيت مبارک او په ذکر شوي پورته عبارت باندې غور اوکړي۔

۳ په خبره د نۀ اوريدو پښځمه نتيجه

پنځمه نتيجه به دا شي چه دمسلمانانو شکست ته ګوری نو خوشحاليږي به۔ وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا (جمله معترضه) دعالمګير رحمه الله د وفات نه پس د سلو کالو تاريخ اوګورئ چه اسلام په مونږه باندې د يوويختۀ برابر ظلم هم نۀ دې کړې ۔بلکه مونږه اسلام پريښودو او زمونږه نه حکومت واخيستلې شو۔ (حاشيه دحضرت لاهوری رحمه الله)

۴ ابن الوقت مفاد پرست

دوی حان له حان له اوسيږي او دواقعاتو رفتار ته ګوری -که مسلمانانو ته فتحه کيږي- نو دوی د فتحې په فائدو کښ حصه دار جوړيږي او وائي چه مونږه هم تاسو سره وو۔ او که د دشمنانو تله درنه شي نو هغوی سره ملاويږي- او وائي چه که مونږه په جنګ کښ د زړۀ نه تاسو سره نۀ وې او تاسو مو نۀ بچ کولې نو مسلمانانو خو تاسو ختمو لئ ۔" (ترجمان القرآن)

تر دې ځائې پورې د آيت د رومبئ حصې مفهوم ښکاره شو ۔ راشئ اوس د آيت د آخرئ حصې وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا مفهوم طرف ته اول د دې الهي جملې يو څو ترجمې اوګورئ ۔

وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا

❶ هرگز به ورنهٔ کړي الله تعالیٰ کافرانو ته په مسلمانانو باندې لاره ـ (حضرت شاه صاحب رحمه الله)

❷ هرگز به ورنهٔ کړي الله تعالیٰ کافرانو ته په مسلمانانو باندې دغلبې لاره۔ (حضرت شیخ الهند رحمه الله)

❸ (د قیامت په فیصله کښې) هرگز به الله تعالیٰ کافران په مسلمانانو باندې غالب نهٔ کړي ـ (حضرت تهانوي رحمه الله)

❹ او هلته به الله تعالیٰ کافران په مسلمانانو باندې هرگز غالب نهٔ کړي ـ (حضرت لاهوري رحمه الله)

دنیا یا آخرت

د مفسرینو حضراتو په دې کښې څو اقوال دي ـ د بعضو په نزد د دې نه مراد د آخرت غلبه ده۔ نو بیا به دجهاد مضمون داسې شي چه مسلمانان دې دآخرت دکامیابۍ په باره کښې مطمئن شي او دکامیابۍ والا د جهاد لاره دې خپله کړي۔ په اصل کښې منافقانو به د دې خبرې شبه اچوله چه د آخرت څهٔ پته لګي ؟ چه وي به او که نه ؟ او که وي هم نو بیا څهٔ پته لګي چه کامیابي به چا ته ملاوېږي ـ نو مسلمانانو سره د کامیابۍ پخه وعده اوکړې شوه او دوي ته زبردست ایماني قوت ورکړې شو۔

د بعضې مفسرینو په نزد مراد د دنیا غلبه ده۔ نو مطلب به دا شي چه هیڅ یو کفري طاقت به په مسلمانانو داسې نهٔ غالب کیږي چه دوي د سیلمې ختم کړي۔ یا به دا مطلب شي چه مسلمانان کله د فتحې او د نصرت ټول شرطونه پوره کړي نو په دوي باندې کفار غالب نهٔ شي راتلې ـ د بعضې مفسرینو په نزد د حجت او د دلیل غلبه مراد ده۔ چه په ښکاره مسلمانانو ته په هره زمانه کښې حاصله ده– اوس یو څو حوالې اوګورئ۔

❶ د مسلمانانو خاتمه نهٔ شي کولې

یعني الله تعالیٰ به ستاسو او د دوي په مینځ کښې فیصله شوې حکم اوکړي چه تاسو له به جنت درکړي او دوي به دوزخ کښې واچوي ـ څهٔ چه دوي کولې شي او دې کړي خو د اهل اسلام بیخ کنې هیڅ کله نهٔ شي کولې ـ کوم چه د دوي د زړهٔ

خواهش دے۔ (تفسیر عثمانی)

۲ په دے شرط چه په اسلام باندے قائم یئ

او الله تعالیٰ بیا د پاره وعده فرمائی چه کافران به په مسلمانانو باندے هیچ کله سبیل یعنی په دلیل کښې څۀ غلبه او فتحه کښې څۀ لاررا او نۀ باسی ۔ (تفسیر حقانی)

۳ د قیامت غلبه

فقال علی رضی الله عنه :معنیٰ ذلک یوم القیمة یوم الحکم. (القرطبی)

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی مطلب دا دے چه د قیامت په ورځ به په فیصله کښې کافرانو ته په مسلمانانو باندے غلبه ملاؤ نۀ شی ۔

۴ په دنیا کښې به د کفر مکمل غلبه نۀ وی

الثانی ان الله لایجعل لهم سبیلاً یمحو به دولة المومنین،ویذهب آثارهم ویستبیح بیضتهم

کما جاء فی صحیح مسلم من حدیث ثوبان رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:

وانی سئلت ربی الا یهلکها بسنة عامة والا یسلط علیهم عدوا من سوی انفسهم فیستبیح بیضتهم وان ربی قال یا محمد انی اذا قضیت قضاءً فانه لایرد وانی قد اعطیتک لامتک لا اهلکهم بسنة عامة والا اسلط علیهم عدوا من سوی انفسهم فیستبیح بیضتهم ولوا جتمع علیهم من باقطار ها حتیٰ یکون بعضهم یهلک بعضا ویسبی بعضهم بعضاً. (قرطبی)

یعنی دویم قول دا دے چه الله تعالیٰ به کافرانو ته داسے لاره ورنۀ کړی چه مسلمانان بالکل ختم کړی او د دوی نښے ختمے کړی او د دوی جرړے اوباسی څنګه چه صحیح مسلم کښې د حضرت ثوبان رضی الله عنه په روایت کښې دی۔ چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایئ چه ما خپل رب نه دعا اوکړه چه هغه زما امت په عمومی قحط باندے تباه نۀ کړی او په دوی باندے د باهر نه یو داسے دشمن مسلط نۀ کړی چه د دوی جرړے پریکړی ۔ زما رب اوفرمایل اے محمد ﷺ زما تقدیر نۀ شی بدلیدلے۔ ما تا له ستا د امت دپاره دا انعام درکړو چه زۀ به دوی په عمومی قحط سره نۀ هلاکوم او نۀ به په دوی باندے د باهر نه داسے دشمن مسلط کړم چه د دوی جرړے پریکړی اګرکه د زمکے ټول خلق د دوی خلاف جمع شی۔

تر دے چه (د امت خلق پخپله) یو بل هلاک کړی او یو بل قید کړی ۔ (قرطبی)

۵ چه کله مسلمانان پخپله دیو بل دشمنان جوړ شي

ان الله سبحانه لايجعل للكافرين على المومنين سبيلاً منه الا ان يتوا صوا بالباطل و لايتناهوا عن المنكر ويتقاعدوا عن التوبة فيكون تسليط العدو من قبلهم. (القرطبي)

یعنی اللہ تعالیٰ کافرانو ته په مسلمانانو باندے غلبه نۀ ورکوی خو چه کله مسلمانان یوبل ته دبدئ دعوت ورکوی د گناه نه منع کول پریږدی او توبه کول بند کړی نو بیابه په دوی باندے دشمن مسلط کیدل پخپله د دوی دوجهے نه وی ۔


د منافقت نه حفاظت

ددے آیت نه په اشارے سره دمنافقت نه دبچ کیدو دا طریقه معلومه شوه چه مسلمانان دِ جهاد او دمجاهدینو سره خپل حمایت ،نصرت او مدد صرف د فتح د حالاتو پورے محدود نۀ ساتی بلکه که فتح وی او که ظاهری شکست عام مسلمانان دِ دجهاد او مجاهدینو سره پیوست سی۔ (والله اعلم بالصواب)

دبرکت کلام

حضرت شاه صاحب رحمه الله په دے آیت باندے قیمتی جمله تحریر فرمائی۔

د دے نه معلومه شوه چه کوم سړے په حق لاره کښ وی او گمراهانو سره هم تعلق ساتی دا هم منافق دے۔ (موضح القرآن)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَإِذَا قَامُوْٓا إِلَى

یقینا منافقان د الله تعالی سره دهوکه کوی حالانکه الله تعالی دوی ته د دے دهوکے سزا

الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ

ورکوونکے دے- او کله چه دوی په مانځه ودریږی- نو سست ودریږی خلقو ته ځان ښائی او

اللّٰهَ إِلَّا قَلِيْلًا ۝١٤٢

دوی د الله تعالی ذکر ډیر لږ کوی-

نچوړ

منافقان په خپل خیال کښې الله تعالی له دهوکه ورکوی حالانکه الله تعالی د دوی د دے دهوکے سزا دوی ته ورکوونکے دے او هر کله چه د دوی په زړونو کښې ایمان نشته نو په دے وجه دوی په مانځۀ کښې په سستئ سره ودریږی ـ صرف خلقو ته ښودل ئے مقصد وی- یعنی پاخۀ ریاکار دی ـ او د الله تعالی یاد ډیر لږ کوی-

اقوال او حوالے

❶ د منافقانو کم عقلتوب

یعنی د خپل اسلام د دروغو اقرار کوی- او په دے سره (نور خلق خو څۀ کوے) الله تعالی ته هم دهوکه ورکول غواړی- او په خپل کم عقلتوب سره ئے داګنړلے ده ـ چه څنګه په دنیا کښې دوی سره معامله کیږی ـ دغه شان به په آخرت کښې هم وی (تفسیر ماجدی)

❷ منافقانو له بے ویرے کیدل نۀ دی پکار

و ے فرمائیل چه خدائے پاک دوی له په دهوکه ورکولو کښې ماتے ورکوی- او دوی مغلوبه کوی- د الله تعالی د ماتے ورکولو او مغلوبه کولو مطلب دا دے چه الله تعالی په دنیا کښې د ښو خلقو په شان خرابو خلقو له هم مهلت ورکړے دے- خو دا مهلت د دے د پاره نۀ دے چه ګنی د الله تعالی قانون د دوی د طرف نه غافله دے ـ بلکه دا د دے د پاره دے چه د هر عمل نتیجه په خپل مقرر وخت باندے ظاهریږی- خو وران کس په دے مهلت سره زړور شی- او هغه ګنړی چه څۀ هر څۀ کوم ـ نو څما د پاره څۀ نشته-

حالانکه د دهٔ سره هر څهٔ په خپل مقرر وخت باندے کیدے شي۔ (ترجمان القرآن)

۳ د منافقانو درے مرضونه

په دے آیت کښې د منافقانو د دریو مرضونو ذکر دے۔ خداع دهوکه کسل سستي ریاء ـ ځان ښودل۔(حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

۴ د قرآن پاک اعجاز

هغه منافقان څنګه وی؟ چه د جهاد دښمنان وی –د کافرانو دوستان وی – او د دنیا ژوند ئے خپل مقصد ګرځولے وی او اسلام او مسلمانان رسوا کوی –قرآن پاک ئے ډیره ښکلې نقشه راښکلے ده۔ په دے آیت کښې ووفرمائیلے شو۔ چه د مانځهٔ سره د دوی معامله ډیره د ظلم نه ډکه وی۔ مونځ نهٔ کوی– بلکه خلقو ته د ښودنے د پاره د مجبورئ نه څهٔ اخوا دیخوا مونځونه په ریاء کارئ بے خوندئ او غفلت سره ووکړی او بس۔ حالانکه هم دا خلق چه کله ځان مسلمان ثابتولو باندے راشی نو بیا د دوی ژبے د قینچیانو په شان چلیږی۔ خو د اسلام د ټولو نه ضروری او اهم علامت یعنی مانځهٔ سره د دوی تعلق بس دومره وی څومره چه په دے آیت مبارک کښې بیان شوے دے۔ (والله اعلم بالصواب)

۵ د نفاق نه حفاظت

د نفاق نه د حفاظت یو اهم اصول معلوم شو۔ چه خپل مونځ پوخ – مظبوط او ټیک کړے شی۔ یعنی چه د اقامة الصلوه شان حاصل کړے شی۔ کوم چه د یو مومن شان دے ـ (والله اعلم بالصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۱۴۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ

د زړۀ نه زوړند دي په دے خبره کښې. نۀ دے خلقو سره دي او نۀ دے خلقو سره دي. او الله تعالیٰ چه

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۱۴۳﴾

څوک بے لارے کړي نو تۀ به هیڅ کله هغۀ په لار را نۀ ولے.

نچوړ

منافقان خو بیخي په شک او حیرانتیا کښې ګیر دي. نۀ ورته په اسلام باندے ارام ملاویږي او نۀ په کفر باندے. په سخته پریشانۍ کښې اخته دي. کله یو طرف ته کیږي او کله بل طرف ته. چه حالات ښۀ وي نو مسلمانان (وي) (او چه) مصیبت او ویره راشي نو د کافرانو ملګري (وي) یا په ژبه سره مسلمانان وي او په زړۀ سره د کافرانو ملګري وي. عجیبه درد ناک حالت دے.

اقوال او حوالے

❶ د سیلۍ لا وارثه پاڼړے


یعنی دا منافقان په حیرانتیا او شک کښې دي. کله چه دوی ته د اسلام رڼړا په نظر راشي نو اسلام حق ووګڼړي او دے طرف ته مائله شي. او کله چه د څۀ ښکاره مصیبت او بے وسۍ او د لوړوتندو وریځے او سیلۍ راشي نو د هغے په فائدو باندے نظر نه ساتي. بلکه د هغے د ګړز ګروز د ویرے نه د انکار ګوتے د قبولیت او د یقین په غوږونو کښې ورکړي. بے شکه چه تر کومے انسان ته د یقین رڼړا حاصله شوے نۀ وي. نو هغه په سیلۍ کښې د ښړے په شان اخوا دیخوا الوځي. او در په دیکه وي. دا سخت مصیبت دے- بے شکه څوک چه د شک په دے بیابان کښې پریوتۀ نو هغه هم دغسے ګمراه شوے دے. څوک هم داسے نشته دے چه دے په لاره راولي. (خلاصه حقاني)

د منافقانو څلورم مرض

د منافقانو څلورم مرض د شک ذکر دے. (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

د نفاق نه حفاظت

ښکاره فتحه او ماتے۔ ظاهري خوشحالي او مصيبت او د دنيا ظاهري حالات كه دكاميابئ يا د ناكامي او د حق او باطل معيار او نهٔ گنړلے شي نو ډيره حده پورے د نفاق دا اثراتو نه حفاظت كيږي او د الله تعالى په ذات او د هغهٔ په تقدير باندے ايمان مضبوط طيږي (والله اعلم با الصواب)



سُورَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّة آیت ۱۴۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ

اے مومنانو! تاسو کافرانو نه دوستان مۀ جوړوئ دمؤمنانو په ځائے- که

الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَنْ تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُبِينًا ﴿۱۴۴﴾

غواړئ تا سو؟ چه دالله تعالیٰ ښکاره بهانه ځان ته جوړه کړئ-

نچوړ

مسلمانان پریخودل او کافرانو سره دوستی کول د نفاق دلیل دے- څنگه چه منافقان کوی- نوابے مسلمانانو تاسو داسے مۀ کوئ - گنی د الله تعالی ښکاره الزام او پوره حجت به په تاسو قائم شی- چه تاسو هم منافقان یئ- (مفهوم عثمانی)

اقوال او حوالے

❶ مسلمانانو ته خبردارے

کله چه الله تعالی د منافقانو صفتونه بیان کړل- نو د هغے نه پس ئے مسلمانان د دوی د عادتونو نه په ښکاره الفاظو کښ منعه کړل- يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا چه اے ایمان والؤ؛ تاسو کافران دوستان مۀ جوړوئ او مۀ د دے منافقانو سره خلۀ گډوئ- ځکه چه دوی د الله تعالی سره محبت نۀ کوی- د دوی محبت به تاسو غفلت ته او د دنیا خواهش طرف ته راکاږی- او د یو زړۀ توجه دوؤ طرفوته نۀ شی کیدے- تاسو به د الله تعالی نه غافله شئ- نو په تاسو به د الله تعالی د محبت پریخودو الزام ثابت شی- (مفهوم حقانی)

❷ د اسلام د دښمنانو سره یاری

د اسلام د دښمنانو سره دوستی مۀ ساتئ (که منافقان وی اوکه کافران) –گنی د الله تعالی د طرف نه به په تاسو باندے الزام وولگی- (حاشیه د حضرت لاهوری رحمه الله)

امام رازی رحمه الله هم دا دوه قولونه ذکر کړی دی - چه مراد د کافرانو سره یاری ده – یا د منافقانو سره- (ووگورئ تفسیر کبیر

❸ د نفاق نه حفاظت

په دے آیت کښ په صفا الفاظو کښ د نفاق نه د حفاظت اهم اصول ښودلے شوے دے- (و الله اعلم بالصواب)

سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ

بے شکه منافقان به د اور د تولو نه په کوځه طبقه کښې وی ۔ او د سره به ته نۀ مومے د دوی د پاره

نَصِيْرًا ﴿۱۴۵﴾

څوک مددګار۔

نچوړ

په جهنم کښې به په منافقانو باندے د کافرانو نه هم سخت عذاب وی۔ (هغه داسے) چه دوی به د جهنم د تولو نه لاندے یعنی سخته طبقه کښې وی۔ او هلته به د دوی هیڅ څوک مددګار نۀ وی۔ (العیاذ بالله)

اقوال او حوالے

❶ مسلمانانو ته د زیات نقصان رسولو په وجه

امام رازی رحمه الله لیکی:

لما كان المنافق اشدّ عذابا من الكافر لانه مثله فی الكفر الخ.

یعنی منافق ته د کافر نه د زیات سخت عذاب ورکولو یوه وجه دا ده چه منافق کافر هم دے ۔ او هغۀ د دے سره د کفر یو بل قسم هم ملاؤ کړے دے۔ او هغه په اسلام او مسلمانانو پورے توقے کول دی۔ او دوئمه وجه داده چه منافق خوځان مسلمان ښکاره کوی۔ نو په دے وجه دے د مسلمانانو په رازونو باندے خبریدے شی۔بیا دے دا رازونه کافرانو ته بیانوی۔ په دے وجه دوی ته د کافرانو نه سخت عذاب ورکیږی (التفسیر الکبیر)

❷ د قرآن مجید تفسیر بدلوونکی

منافقان به د جهنم د تولو نه لاندے حصه کښې وی۔ یعنی سخت عذاب کښې به اخته وی۔ د دے وجه دا ده چه کافران خو ښکاره باره منکر او مخالف دی ۔ د دوی نه اسلام ته دومره نقصان نشته څومره چه د منافقانو نه دے۔ خیال ووکړئ چه د داسے ډیرو پلیتو خلقو نه چه په پټه کافر او بے دینه او په ظاهره کښې مسلمانان دی– د دوی نه اسلام ته څومره نقصان رسیدلے دے۔ په زرګونو بدعتونه دوی جوړ کړے دی او په

غلطو تاویلونو کولو سره د قرآن (حکمونه) اړوی راړوی۔ (مفهوم تفسیر حقانی)

❸ **د آخرت سزا**

د منافقانو د آخرت سزا داده چه د دوی درجه د کافرانو نه ور اخوا ده۔ (حاشیه دحضرت لاهوری رحمه الله)

❹ **د اوسپنے صندقونه**

امام قرطبی رحمه الله د الدرک الاسفل معنی دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه دا نقل کړے ده۔

توابیت من حدید مقفلة فی النار تقفل علیهم. (القرطبی)

دا په اور کښې د اوسپنے صندقونه دی۔ چه په هغے کښې به دوی واچولے شی او تالے به ورپسے وولګی۔

❺ **اووۀ درجے**

امام قرطبی رحمه الله لیکلے دی چه د جهنم اووۀ طبقے دی۔

❶ جهنم ❷ لظی ❸ حطمه ❹ سعیر ❻ جحیم ❺ سقر ❼ الهاویه

منافق به په هاویه کښې غورزولے شی:

لغلظ کفره، وکثرة غوائله وتمکنه من اذی المؤمنین۔

ځکه چه د دوی کفر ډیر سخت دے او د دوی ګمراهی ډیره زیاته ده۔ او دے د مسلمانانو د کړولو ډیر قدرت لری۔ (القرطبی)

❻ **په دنیا کښې د تورے نه بچ وو**

انما کان المنافق اشدّ عذابا من الکافر لا نه امن السیف فی الدنیا فاستحق الدرک الاسفل فی العقبی تعدیلاً. (المدارک)

منافق ته به د کافرانو نه زیات عذاب په دے وجه ورکولے شی چه دے په دنیا کښې د مسلمان د تورے نه بچ وو۔ نو په سزا کښې د برابرئ د پاره دے د جهنم د تولونه د لاندینئ حصے حقدار شو۔

❼ **څوک مددګار نشته**

د آیت په آخرئ حصه کښې وو فرمائیلے شو۔ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا چه د قیامت په ورځ به د دوی هیڅ څوک مددګار نۀ وی۔ منافق به په دنیا کښې د الله تعالی نه

علاوه د دنیاد امن او عزت د پاره د اسلام هر دښمن خپل مددګار جوړولو۔ نو د قیامت په ورځ به دے لاوارثه او یواځے پریخودے شی۔ (والله اعلم با لصواب)

دعاء

اے الله زمونږه د نفاق نه هم حفاظت ووکړے او د جهنم نه هم۔ او مونږه ته د نفاق او د جهنم د شر نه خپله مضبوطه پناه راکړے (آمین یا ارحم الراحمین)



سُوْرَةُ النِّسَاۤءِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۴۶، ۱۴۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ

سوا د هغے کسانو نه چه توبه ووباسی ۔ او د ځان اصلاح ووکړی او ځان کلک کړی په الله پورے ۔ او

لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ

خالص کړی دین خپل د الله د پاره۔ نو دا خلق د مؤمنانو سره دی او زر ده چه ورېه کړی الله تعالی

اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۴۶﴾ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ؕ

مومنانو ته لوے اجر۔ څۀ کوی الله تعالی ستاسو په عذابولو باندے که شکر کوئ تاسو او ایمان

وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

راوړئ تاسو۔ او الله تعالی قدردان او خاوند د علم دے۔

نچوړ

د منافقانو د پاره د جهنم او د ناکامئ نه د بچ کیدلو او دکامیابو مسلمانانو په تولګی کښں د شاملیدو موقعه شته۔ خو شرط دا دے چه۔

❶ دوی د کفر او نفاق نه توبه ووباسی ۔ ❷ او د خپلو خرابو منافقانه عملونو اصلاح ووکړی۔ ❸ او د الله تعالی پناه او اسره کلکه وو نیسی ۔ یعنی د کافرانو په پناه او مدد باندے باور ساتل پریږدی۔ ❹ او دا ټول کارونه صرف خالص د الله تعالی د رضا د پاره ووکړی۔ په دے څلورو وارو کارونو خپلولو سره به دوی په ایمان والؤ کښں داخل شی۔ او د هغه لوئے اجر حقدار به جوړشی۔ کوم چه به الله پاک په آخرت کښں ایمان والؤ له ورکوی۔ یعنی چرته د جهنم د ټولو نه سخته طبقه او چرته د ټولو نه لوئے اجر؟ او الله تعالی خو سم قدردان دے۔ او هغه په هر څۀ خبردار دے۔ که چرے تاسو شکر والا او ایمان والا جوړ شئ۔ نو هغه به تاسو له عذاب درکولو باندے څه اوکړی۔

اقوال او حوالے

❶ د توبے دروازه پرانستے ده

هنه که چا توبه وویستله نو هغه به د مخلصو خلقو په ډله کښں شامل شی۔

حاشيه د حضرت لاهوري رحمه الله

❷ څلور شرطونه

د دے نه پس دوی ته د توبے ترغيب او په هغے باندے د معافئ وعده دوی سره کيږی - اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا خو څلور خبرے شرط دی۔ اول تَابُوْا چه په ريښتينی زړۀ سره توبه ووکړی -دوئم اصلحوا نيک عمله شی - که په علم او عمل کښ څۀ خرابے وی هغه ټيک کړی - دريم وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ ؛ چه الله تعالیٰ کلک وونيسئ يعنی د هغۀ دښمنان او د دين مخالفين پريږدی۔ او د هغۀ په ذات باندے باور ووساتی۔ څلورم وَاَخْلَصُوْا دِیْنَهُمْ چه اخلاص او ريښتينی نيت پيدا کړی۔ (مفهوم حقانی)

❸ د کافرانو ياری به خامخا پريخودل پکاروی

وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ او د دے اعتصام بالله د شتۀ کيدو د پاره دکافرانو سره دوستی پريخودل لازمی دی (تفسير ماجدی)

فائده

په آخری آيت کښ ئے د توبے د مضبوطے ساتلو طريقه وو ښودله۔ چه د شکر ويستلو او د ايمان لاره خپله کړئ ـ نو بيا د عذاب سوال هم نۀ پيدا کيږی۔ د الله تعالی په نعمتونو باندے د شکر ويستلو طريقه داده چه بنده سره د هغے احساس وی- د هغے قدر کوی-او د هغے صحيح استعمال کوی ـ شکر د ايمان نه مخکښ په دے وجه راوړلے شو چه د نعمت سره ذهن د نعمت ورکوونکی طرف ته ځی۔ انسان چه کله د الله تعالی نه راضی وی۔ نو هغه په تقدير باندے مطمئن ووسی۔ نو د داسے انسان نه الله تعالی هم راضی وی ـ منافقت د ناشکرئ او بے يقينئ د وجے نه پيدا کيږی او انسان جهنم ته رسوی۔ ولے شکر انسان ايمان ته او د الله تعالی رضا ته او جنت ته رسوی۔

نو په آيت(۱۴۶) کښ د منافق د پاره د توبے د نصاب او په آيت (۱۴۷) کښ د توبے د حفاظت او په هغے باندے د کلک پاتے کيدو طريقه ښودلے شوے ده۔ (والله اعلم با لصواب)

دعاء

اللّٰهم انا نسئلک ايمانا دائما و نسئلک قلباً خاشعا ونسئلک علما نافعا ونسئلک يقينا صادقا ونسئلک دوام العافية ونسئلک الشکر علی العافية ونسئلک الغنی عن الناس. آمين ياا کرم الاکرمين. ☆☆☆

سُورَةُ

المَائِدَةِ

مَدَنِيَّةٌ

ابتدائیه

په دے تالیف کښې د سورۂ مائدے د دے لاندینو شلو آیتونو جهادی مضامین بیان شوے دی۔

آیت ۲

آیت ۳

آیات ۱۱ تا ۱۳

آیات ۲۰ تا ۲۶

آیت ۳۵

آیات ۵۱ تا ۵۶

آیت ۸۲

او په دے لاندینو اتو ۸ آیتونو کښې د جهاد مضامینو ته اشارے شوے دی۔

۵۷ تا ۶۳

۶۷

په شلو آيتونو کښې د جهادي مضامينو نچوړ

آيت ۲ په بدل اخيستلو کښې د حدودونه مه تيريږئ ـ

آيت ۳ کافران د دے دين دَ مغلوب کيدونه نااميده شوے دي ـ د مکے فتحه ډيرلوے نعمت دے ـ

آيت ۱۱ الله تعالیٰ ستاسو حفاظت اوکړو اوتاسو له ئے په جهاد کښې غلبه درکړله ـ د دے نعمت قدر اوکړئ او تقویٰ او توکل اختيار کړئ ـ

آيت ۱۲ـ۱۳ الله تعالیٰ دَ بني اسرائيلو نه دَ جهاد عهد اخيستلے وو ـ خو هغوی د هغے خيال او نۀ ساتلونو سزا ئے اوخوړه ـ

آيت ۲۰ د حضرت موسیٰ عليه السلام خپل قوم ته دَ جهاد دعوت ورکول ـ اود دے د پاره ورته د الله تعالیٰ نعمتونه يادول ـ

آيت ۲۱ د جهاد په نۀ کولو کښې نقصان دے ـ

آيت ۲۲ د بزدلئ په وجه دَ بني اسرائيلو د جهاد نه انکار کول ـ اودا وجه ښودل چه دښمن طاقت ور دے ـ

آيت ۲۳ چه په کومو خلقو الله تعالیٰ انعام اوکړی او هغوی د الله تعالیٰ نه ويريږي ـ نو هغوی دَ جهاد نه مخ نۀ اړوی ـهم دغه شان دواؤ کسانو دَ حضرت موسیٰ عليه السلام د جهادي دعوت ملګرتيا اوکړه ـ

آيت ۲۴ بني اسرائيلو ووئيل چه اے موسیٰ عليه السلام ! تۀ اوستا رب لاړ شئ جهاد اوکړئ مونږ خو به دلته ناست يو ـ

آيت ۲۵ حضرت موسیٰ عليه السلام د جهاد د پاره خپل ځان او خپل ورور پيش کړل ـ اودَ قوم نه دَ جدا کيدو دعاء ئے اوکړه ـ

آيت ۲۶ دَ جهاد په پريخودو باندے الله تعالیٰ د قوم د پاره د سزا اعلان اوفرمائيلو ـ

آيت ۳۵ د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کول دَ فلاح يعني د حقيقي کاميابئ ذريعه ده ـ

آيت ۵۱ د يهوديانو اوعيسايانو سره يارانے کولو والا هم د هغوی نه شمارلے شي ـ

آیت ۵۲ د چا په زړونو کښې چه دَ شک اود نفاق بیماري ده ـ هغوی په یهودیانو او عیسایانو پسے په منډو منډو روان دي ـ یارانے ورسره کوي اود هغوی په غیږه کښې پناه ګوري ـ دا خلق به پښیمانه شي ـ

آیت ۵۳ چه کله دَ فتحے نه پس دَ منافقینو نفاق ښکاره شي ـ نو مسلمانان به حیران پاتے شي ـ

آیت ۵۴ دچا په مرتد کیدو سره به داسلام هیڅ نقصان اونۀ شي ـ د دوی په ځائے به الله تعالیٰ خپل داسے خوښ بندیګان راولی چه د الله تعالیٰ په لاره کښې به جهاد کوي ـ

آیت ۵۵ دَ اسلامي عالمي ورورولۍ تشکیل ـ

آیت ۵۶ د دے اسلامي عالمي ورورولۍ د پاره د الله تعالیٰ د طرفنه دغلبے وعده ده ـ

آیت ۸۲ د مسلمانانو د ټولو نه سخت د شمنان یهودیان او مشرکان دي ـ

په آتۀ آیتونو کښې دَ جهادي اشارو نچوړ

آیت ۵۷ نه تر ۶۳ پورے د ورانديني جهادي مضمون پوره پوخ والے اودلائل دي ـ او آیت ۶۷ کښې د دین دَ اقامت د پاره دَ دین دَ تبلیغ حکم دے چه د هغے په نتیجه کښې د مخالفت اود جنګ امکان دے ، نو ورسره یو ځائے د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دَ حفاظت وعده اوکړے شوه د دے نه مخکښې به پهره دار ساتلے شو ـ (والله اعلم بالصواب)

بله خبره

د حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله په نزد باندے په آیت ۳۲ کښې هم جهادي مضمون بیان شوے دے ـ

اختتام ابتدائیه وآغاز معارف آیات الجهاد



سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَ لَا الشَّهْرَ

اے دَ ایمان خاوندانو! تاسو روا مۀ گنړئ دَ اللّٰه تعالیٰ نخښے او نۀ عزتمنده میاشت او نۀ په حرم

الْحَرَامَ وَ لَا الْهَدْيَ وَ لَا الْقَلَآئِدَ وَ لَآ اٰمِّيْنَ الْبَيْتَ

کښې قربانی کیدونکے څاروے او نۀ غاړکئ والا څاروے او نۀ د عزت کورته راتلو والا چه گرځی د

الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ رِضْوَانًا ؕ وَ اِذَا

خپل رب په فضل پسے او د هغۀ په رضا پسے ۔ او هر کله چه تاسو حلال شئ نو ښکار کوئ ۔ او

حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ

چرے دے هم تیار نۀ کړی تاسو لره دَ یو قوم دښمنی چه بند ئے کړئ تاسو د مسجد حرام نه ۔ په

صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَ تَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ

دے خبره چه تاسو زیاتے وکړئ ۔ او تاسو امداد کوئ د یو بل سره په نیکئ کښې او په تقویٰ کښې ۔

وَ التَّقْوٰى ۪ وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ۪ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

او تاسو مدد مۀ کوئ په گناه او په ظلم کښې ۔ او ویره وکړئ دَ اللّٰه تعالیٰ نه ۔ بے شکه اللّٰه تعالیٰ

اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۲

سخت عذاب ورکولو والا دے ۔

نچوړ

اے دَ ایمان خاوندانو ! د اللّٰه تعالیٰ د دین د نخښانو بے عزتی مۀ کوئ ۔ او په څلورو عزتمندو میاشتو کښې د یوے میاشتے هم بے حرمتی مۀ کوئ ۔ (مخکښې په دے میاشتو کښې د جنگ شروع کول منعه وو ۔ اوس خو اجازت دے خو که چرے مشرکان د دے میاشتو دَ عزت او د ادب خیال ساتی نو تاسو هم خیال ساتئ ۔ او پخپله د حملے کولو نه پرهیز اوکړئ ۔ او په دے میاشتو کښې دَ گناهونو نه د بچ کیدو زیات اهتمام اوکړئ) او مۀ په حرم کښې د قربانی کیدونکو څناورو بے حرمتی کوئ که د هغوی په

غارو کښې غارکې وی او که نهٔ وی ـ او مهٔ د هغې خلقو بې حرمتی کوئ چه د الله تعالیٰ د فضل او د هغهٔ د رضا حاصلولو د پاره بیت الله شریف ته روان وی ـ په حالت دَ احرام کښې د اوچې ښکار هم منعه دې خو چه د احرام نه اوزګار شئ نو د حرم دَ حدودو نه بهر د ښکار اجازت دې ـ

او کومو خلقو چه تاسو (د حدیبئې په موقعه) دَ بیت الله شریف نه منعه کړې وئ نو د هغوی دَ دښمنئ په وجه تاسو دَشرعی حدودونه وتلو ته بېږې مهٔ وهئ ـ یعنی په جهاد او قتال کښې هم دَ شرعی خبرو پابندی کوئ ـ او دَ بدلې اخیستلو په جوش کښې زیاتې مهٔ کوئ ـ د نیکئ او تقوئ په معامله کښې د یو بل سره مدد کوئ او په ګناه او په ظلم کښې د یو بل مدد مهٔ کوئ او دَ الله تعالیٰ نه همیشه ویره کوئ ـ بې شکه د هغهٔ عذاب سخت دې ـ

د جهاد مضامین

په دې آیت کښې د جهاد د یو څو مضامینو بیان دې ـ

❶ په عزتمندو میاشتو کښې دَ جنګ حکم:ـ دا مسئله په تفصیل سره مخکښې تیره شوې ده ـ د دې آیت د لاندې امام ابن کثیر رحمه الله ډیر ښکلې بحث فرمائیلې دې ـ تفسیر ابن کثیر ووګورئ ـ

❷ د حرم په حدودو کښې مخکښې مشرکانو ته دَ داخلیدو اجازت وو ـ بیا دا اجازت منسوخ شو ـ وَلَآ آٰمِّیْنَ الْبَیْتَ الْحَرَامَ سره ګڼرو مفسرینو حضراتو دا بیان کړې دې چه کوم مشرک په ریښتونی نیت سره کعبې شریفې ته ځی نو د حدیبئې دَ بدلې اخیستلو په غرض هغه مهٔ بندوئ ـ بیا په سورهٔ براْة کښې د دې مسئلې اصل قانون بیان شو ـ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا هذا ـ

❸ په دښمنئ کښې د حدودو نه مهٔ تیریږئ ـ دا د تولو نه ضروری مضمون دې ـ چه مجاهدین په دښمنئ کښې د میانه روئ نه کار اخلی ـ او د جهاد اصل مقصد باندې به نظر ساتی ـ دشمنئ د پاسه دشمنی بدل د پاسه بدل اخیستل به خپل عادت نهٔ جوړوی ـ او چه د کومو دښمنانو سره جنګ جاری وی هغوی هم د اسلام د انصاف نه محرومه کول نهٔ دی پکار ـ

❹ په نیکئ او تقوئ کښې مدد کول او په ګناه او په ظلم کښې مدد نهٔ کول دې د

مسلمانانو دَ جماعت او دَ مجاهدینو دَ تولونه ضروری اصول وی ۔ چه چرته دینی قوت د ذاتی غرضونو د پاره استعمال نهٔ شی ۔ بلکه چه دَ الله تعالیٰ د دین دَ پورته والی او د اسلام دَ غلبے د پاره استعمال شی ۔ دد ے څلورو مضمونونه علاوه د شَعَآئِرَ اللّٰهِ په عامه تشریح کښې هم جهاد شامل د ے ۔ جهاد هم د الله تعالیٰ د دین حکم ، حصه او نخښه ده۔ نو دَ جهاد بے حرمتی هم حرامه ده۔ دغه شان په اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ کښې دَ حدیبیے واقعے ته څرګنده اشاره ده ۔

(والله اعلم بالصواب)

اوس د د ے تولو مضامینو دَ ثبوت دپاره یو څو عبارتونو باند ے نظر واچوئ ۔

اقوال او حوالے

❶ عزتمند ے میاشتے :۔ ولا الشهر الحرام بالقتال فيه (جلالين)

یعنی د عزتمند ے میاشتے بے حرمتی به نهٔ کوئ چه په د ے کښې جنګ شروع کړئ۔

❷ د مشرکینو حجونه او عمر ے :۔ وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ۔ او نه به د هغے خلقو بے حرمتی کوئ چه د الله تعالیٰ د رضا او د هغهٔ د فضل حاصلولو د پاره بیت الله شریف ته ځی ۔

صاحب د تفسیر عثمانی لیکی

ښکاره خودا شان دَ مسلمانانو د ے یعنی چه کوم مخلص مسلمان دَ حج او عمر ے د پاره ځی۔ نو د هغوی عزت او احترام کوئ او دَ هغوی په لار کښې بندونه مهٔ اچوئ او چه کوم مشرکان به د بیت الله شریف د حج د پاره راتلل نوکه چر ے هغوی هم د د ے آیت په عام حکم کښې داخل شی۔ ولے چه هغوی هم په خپل ګمان او عقیده کښې د خدائے تعالیٰ فضل او رضا پسے روان وو۔ نو مونږ به اووایو چه دا حکم د هغے وخت نه مخکښې د ے چه کله دا اعلان اوشو چه اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۔ (تفسیر عثمانی)

حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی

دا احکام هغه وخت کښې وو چه کله به کفار دَ حج او د عمر ے د پاره تلل۔ اوس خو هغوی حج او عمر ے ته پریښودل منسوخ شو ے دی :نقله البیضاوی عن ابی حنیفة رحمه الله قوله تعالیٰ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۔ (بیان القران)

❸ په دښمنئ کښ د حد نه مهٔ تیریږئ :

په مخکښ آیت کښ چه کومے نخښے الله تعالیٰ ښودلے وے چه دا د عظمت او احترام والا دی - په شپږمه هجرئ کښ مشرکانو د هغے تولو سپکاوے اوکړو، نبی کریم صلی الله علیه وسلم او تقریبا یونیم زر صحابه کرام دَ ذی قعدے په میاشت کښ صرف د عمرے کولو په اراده بانډے مدینے طیبے نه روان شو - دَ حدیبیے په مقام بانډے مشرکینو دوی دَ دے مذهبی وظیفے پوره کولو نه بند کړل - نهٔ ئے دَ احرام خیال اوساتلو- نهٔ دَ کعبے دَ عزت - نهٔ د عزتمندے میاشتے - نهٔ دَ هدیے او نهٔ دَ قلادو- د الله تعالیٰ د شعائرو د داسے قسم توهین په وجه اودَ مذهبی فریضے نه د بندولو په وجه چه مسلمانانو په داسے ظالم اودرنده قوم بانډے څومره غصه او دښمنی ښکاره کوله - نو دوی د پاره حق وو- اود بدلے اخیستلو په جوش کښ کهٔ دوی په ځان نهٔ وے پو هه شوے نو هر قسمه کارروائی کیدے شوه چه کړے ئے وے - خود اسلام محبت او دښمنی دواړه په تول تللی وی - هسے خو سړے دَ زیات محبت یا دَ زیاتے د ښمنئ په جوش کښ په ځان نهٔ پو هیږی - په دے وجه ئے ووفرمائیل چه دَ سختے نه سخته دښمنی دے تاسو دے ته تیار نهٔ کړی- چه زیاتے اوکړئ اود عدل او دانصاف نه لاس ووینځئ - (تفسیر عثمانی)

☆ د قریشو کافران مراد دی چه په شپږمه هجرئ کښ ئے مسلمانان بیت الله ته د رسیدلو نه اود عمرے کولو نه په حدیبیه کښ ایسار کړل - ارشاد دے چه داسے نقصانی دښمنانو سره خاص دَ غصے او لمبه کیدو په وخت کښ هم صرف د انصاف سلوک کوئ - الله ! الله ! څومره پرانستے سینه ده - (تفسیر ماجدی)

☆ ومعنیٰ صدهم ایاهم عن المسجد الحرام منع اهل مکة رسول الله صلی الله علیه وسلم والمؤمنین یوم الحدیبیة عن العمرة ومعنی الاعتداء الانتقام منهم بالحاق مکروه بهم (المدارک).

د دے عبارت نه په اشارے سره دا خبره هم معلومه شوه- چه که په جنګ کښ صلحه ووشی- نو دهغے به پوره خیال ساتلے شی - او د بدلے اخیستلو لاره به نهٔ لټوئ-

❹ شعائـر الله :

د حج اودَ قربانئ ذکر روان دے - نو ډیرو مفسرینو د شَعَآئِرَ اللّٰهِ نه هم هغه نخښے مراد کړے دی -دَ کومو چه د حج سره تعلق دے - خو بعضے مشرانو عالمانودَ شعائر الله نه عمومی معنیٰ مراد کړے ده-

قال الحسن دين الله كله (البحرالمحيط)

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی : چه د شَعَآئِرَ اللهِ نه دَ الله تعالیٰ پوره دین مراد دے ۔ او حضرت عطاء رحمه الله فرمائی : معالم حدود الله تعالیٰ وامره ونهيه وفرضه (روح المعانی) .

د دے معنیٰ په اعتبار سره ټول فرائض د جهاد سره په شعائرالله کښ داخل دی ۔
(والله تعالیٰ اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ

حرام کړے شوے ده په تاسو مرداره۔ او وینه ۔او دَ خنزیر غوښه۔ او هغه چه یاد کړے شي په هغے باندے

لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ

غیر الله ۔او هغه چه مرئ ئے خفه کړے شي ۔اوچه گذار ئے خوړلے وي۔ او چه د پورته نه را گذار

وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ

شوے وي۔او چه په ښکر لگیدلے وي۔ او چه درنده خوړلے وي سوا د هغے نه چه ئے ذبحه کړئ۔ او

تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه ذبحه شوے وي په بتانو۔ اودا چه تقسیم ئے کړئ په غشو ۔ دا ټوله گناه ده ۔ نن نا امیده

مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ

دي هغه خلق چه کافر دي ستاسو د دین نه۔ نو تاسو مهٔ ویریږئ د دوی نه۔ او ځما نه ویریږئ۔ نن ما پوره

لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ

کړو ستاسو دپاره ستاسو دین او ما پوره کړو په تاسو خپل نعمت۔ او خوښ مِ کړو ستاسو د پاره

الْاِسْلَامَ دِيْنًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ

اسلام د دین په اعتبار سره۔ نو څوک چه بے وسه شي د لوږے نه۔ چه نهٔ وي کگیدو والا

لِّاِثْمٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳﴾

گناه ته ۔ نو یقین وکړئ چه الله تعالیٰ ډیر بخښونکے بے حده مهربان دے ۔

نچوړ

په نن ورځ باندے کافران د دے خبرے نه نا امیده دي چه گني اوس به دَ مسلمانانو دین مغلوبه شي یا به ورک شي ۔ نو اے مسلمانانو! تاسو د کافرانو نه مهٔ ویریږئ۔ بلکه صرف دَ الله تعالیٰ نه وویریږئ ۔ الله تعالیٰ نن ستاسو د پاره ستاسو دین ته قوت ورکړو اودَ احکامو په اعتبار سره ئے مکمل کړو۔ او خپل نعمت ئے په تاسو برابر کړو او ستاسو د پاره ئے دَ اسلام دین خوښ کړو۔

اقوال او حوالے

الیوم نن ورځ

❶ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ

یعنی ان ترجعوا الی دینهم کفارا (قرطبی)

یعنی نن کافران د دے خبرے نه مایوسه دی چه تاسو به کافران شئ او د دوئ دین ته به واپس لاړ شئ۔

قال الضحاک نزلت هذه الآیة حین فتح مکة.

امام ضحاک رحمه الله فرمائی چه دا آیت دَ مکے دَ فتحے په وخت نازل شو۔

وذالک ان رسول الله صلی الله علیه وسلم فتح مکه لثمان بقین من رمضان سنة تسع ویقال سنة ثمان وَدخلها ونادیٰ منادی رسول الله صلی الله علیه وسلم الا من قال لا اله الا الله فهو آمن ومن وضع السلاح فهو آمن ومن اغلق بابه فهو آمن .

رسول الله صلی الله علیه وسلم په اتم یا نهم کال د هجرئ په دوه ویشتم ❷❷ رمضان باندے مکۂ مکرمه فتحه کړه او دے ته داخل شو اود هغوی اعلان کوونکی اعلان ووکړو چه څوک لا اله الا الله اووائی نو هغهٔ ته امن دے او چه چا وسله کیخوده نو هغهٔ ته امن دے۔ او چه چا د کور دروازه بنده کړله نو هغهٔ ته امن دے۔ (القرطبی)

❷ دَ کافرانو نا امیدی دَ قوت په وجه باندے ده

ان ترتدوا عنه بعد طمعهم فی ذالک لما رأوا من قوته (جلالین)

کافران د دے خبرے نه نا امیده شوے دی چه تاسو به اوس د خپل دین نه واوړئ۔ حالانکه مخکښې دوی ته دا امید وو۔ اوس نا امیده دی ځکه چه دوی دَ اسلام قوت اولیدهٔ۔

❸ د دین غلبه

نا امیده دی کافران د دے خبرے نه چه ستاسو دین به مغلوب شی یا به ورک شی۔(بیان القرآن)

اویئسوا من دینکم ان یغلبوه لان الله تعالیٰ وفی بوعده من اظهاره علی الدین کله ۔ (المدارک)

یاستاسو د دین نه دکافرانو دمایوسه کیدو مطلب دا دے ۔ چه اوس دوی په دے دین باندے دغالب کیدو نه مایوسه شوے دی ځکه چه الله تعالیٰ هغه خپله وعده پوره کړه۔او دین ئے غالب کړو۔

۴ د دین تکمیل

اَلۡیَوۡمَ اَکۡمَلۡتُ لَکُمۡ دِیۡنَکُمۡ نن ماستاسو د پاره ستاسو دین مکمل کړے دے۔ بان اهلکت لکم عدوکم واظهرت دینکم علی الدین کله

یعنی ما ستاسو دښمن هلاک کړے دے اوستاسو دین مے په ټولو دینونو غالب کړے دے ۔ (قرطبی)

☆ بان کفیتم خوف عدوکم واظهرتکم علیهم .

یعنی ستاسو نه مِ د دښمن ویره لرے کړه او تاسو مِ په هغوی غالب کړئ (المدارک) ۔

☆ هوازالة الخوف عنهم واظهار القدرة لهم علی اعدائهم .

مطلب دا چه د مسلمانانو نه مِ ویره لرے کړه اودوی ته مِ په خپل د ښمن باندے قدرت او غلبه ورکړه (التفسیر الکبیر)

☆ دا پوره والے د دین د قوت په لحاظ سره هم دے اود احکامو او قواعدو په لحاظ سره هم ۔ (تفسیر ماجدی۔ مفهوم بیان القرآن)

۵ دَ مکے دَ فتحے نعمت

وَاَتۡمَمۡتُ عَلَیۡکُمۡ نِعۡمَتِیۡ ۔او ما خپل نعمت په تاسو باندے پوره کړو بفتح مکة ودخولها امنین ظاهرین .یعنی د مکے په فتحے سره اومکے ته په امن او غلبے سره ستاسو په داخلیدو سره مِ خپل نعمت په تاسو پوره کړو ۔ (المدارک)

فائده

په دے یو څو حوالو سره د آیت نه جهادی مضامین ښکاره کیږی ۔ الیوم نه ګنړومفسرینو د حجة الوداع دَ عرفے ورځ مراد کړے ده ۔ اودا آیت ډیرو احکامو او مطلبونو لره راجمع کونکے دے ۔

دلته صرف د هغے حوالو بیان دے په کومو کښې چه دَ جهادی فوائدو ذکر دے۔ د مکمل تفسیر دپاره دَ تفسیر کتابونوته رجوع ووکړئ ۔

فائده

امام قرطبی رحمه الله لیکی۔

فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَاخۡشَوۡنِ .د دے مطلب دا دے۔

ای لا تخافوهم وخافون فانی انا القادر علی نصرکم ۔ (القرطبی)

یعنی اے مسلمانانو! تاسو د کافرانو نه مهٔ ویریږئ ۔ او مانه وویریږئ ۔ ځکه چه یقین ووکړئ ۔ چه زهٔ ستاسو په مدد کولو باندے قادر یم ۔ ☆☆☆

سُوۡرَةُ الۡمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۱۱

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ اِذۡ هَمَّ قَوۡمٌ اَنۡ

اے دَ ایمان خاوندانو؛ په خپل ځان باندے د الله تعالیٰ نعمت یاد کړئ کله چه اراده ووکړه یوقوم چه را ووړدۀ

يَّبۡسُطُوۡۤا اِلَيۡكُمۡ اَيۡدِيَهُمۡ فَكَفَّ اَيۡدِيَهُمۡ عَنۡكُمۡ‌ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ‌ؕ وَعَلَى

کړی تاسو ته خپل لاسونه نو بند ئے کړل دهغوی لاسونه ستاسو نه۔ اود الله تعالیٰ نه وویریږئ او بس

اللّٰهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۱﴾

صرف په الله تعالیٰ دے مؤمنان باور ساتی۔

نچوړ

اے د ایمان خاوندانو ! د الله تعالیٰ دا احسان یاد کړئ چه کله یو قوم پوره اراده کړے وه چه په تاسو باندے د جنگ د ظلم اود هلاکت لاس اووچت کړی ۔ خو الله تعالیٰ د هغوی لاسونه بند کړل او تاسو ئے په هغوی غالب کړئ ۔ نو د الله تعالیٰ نه تاسو وویریږئ یعنی بنۀ تقویٰ اختیار کړئ او بس په الله تعالیٰ باندے بهروسه ساتئ یعنی بنۀ توکل اختیار کړئ ۔

دمفسرینو عالمانو دوه قوله

تاسو ئے د یو قوم د لاس دراچولو نه بچ کړئ ۔ د دے په تفسیر کښ د مفسرینو عالمانو دوه خبرے دی ۔ یوه دا چه په دے کښ څۀ خاص واقعے ته اشاره نیشته دے بلکه عام طور دَ مسلمانانو هغه وروميی حالت ته اشاره ده چه په کوم وخت کښ به کافرانو او مشرکانو د څلور واړه طرفنه په دوی باندے حملے کولے ۔ اووهل تکول به ئے کول۔ چه د هغے نه دوی الله تعالیٰ محفوظ کړل ۔ د اسلام خاوندانو ته ئے غلبه ورکړه ۔ دویمه خبره داده چه په دے کښ څۀ خاص واقعے ته اشاره ده ۔(تفسیر حقانی)

دا عبارت د امام رازی رحمه الله د تقریر خلاصه ده ۔اوګورئ تفسیر کبیر

کومے واقعے طرفته اشاره ده؟

د شان نزول په باره کښ مفسرینو حضراتو ګڼ روایتونه نقل کړی دی ۔د یوروایت نیم خلاصه ستاسو په مخکښ ده ۔

❶ قال جماعة نزلت بسبب فعل الاعرابی فی غزوه ذات الرقاع (القرطبی)

د مفسرینو یوه ډله فرمائی : چه دا آیت دَ ذات الرقاع دَ غزا په موقعه باندے د یو بانډیسی د حرکت په باره کښ نازل شوے وو۔

ماخوذ از : سیرت المصطفیٰ صلی اللہ علیہ وسلم، حضرت مولانا محمد ادریس کاندھلوی رحمہ اللہ



غزوہ ذات الرقاع

د ذات الرقاع غزا په څلورمه هجرئ جمادی الاولی کښې او د ابن سعد په نیز ۵ هجرئ محرم کښې او د امام بخاری رحمه الله په نیز ۷ هجرئ کښې پیښه شوې وه ۔

حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : چه دے غزا ته ذات الرقاع ځکه وائی چه دَ رقاع معنیٰ د ټوندی اود چیړانګے راځی ۔ په دے غزا کښې په مزل کولو کولو سره خپے چودلے وے نو مونږه د خپو نه دَ کپړو توټے یعنی چیړانګے تاؤ کړے وے۔ په دے وجه دے ته ذات الرقاع یعنی چیړانګو والا غزا وائی (بخاری شریف)

ابن سعد رحمه الله فرمائی: چه ذات الرقاع د یو غر نوم دے کوم ځائے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دے غزا په دوران کښې دمه کړے وه ۔ په دے غر کښې تورے، سپینے او سرے نخښے وے ۔په واپسئ کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوے سوری والا اونے د لاندے آرام ووکړو۔او توره ئے یوے اونے پورے زوړنده کړه۔ یو مشرک راغے اوتوره ئے نیغه نیولے وودریدهٔ او دَ حضور پاک صلی الله علیه وسلم نه ئے پوښتنه اوکړه چه وایه ؛ اوس به تا ځما د لاس نه څوک بچ کوی ؟ هغوی ډیر په تسلئ سره جواب ورکړو " الله" دا دَ بخاری روایت دے ۔ د ابن اسحاق په روایت کښې دی چه حضرت جبرئیل علیه السلام هغهٔ ته په سینه باندے یو څوک ورکړو نو سمدستی د هغهٔ د لاس نه توره خطاشوه او حضور صلی الله علیه وسلم راواخیستله اورته ئے اوفرمائیل چه وایه ! ځما د لاس نه به تا څوک بچ کوی ؟هغهٔ وے چه څوک هم نهٔ شی ۔ حضور صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه ښه ده لاړشه ماتهٔ معاف کړے ۔واقدی وائی چه دا سړے مسلمان شو۔ او چه خپلے قبیلے ته وورسیدهٔ نو هغوی ته ئے دَ اسلام دعوت ورکړو۔ ډیر کسان د هغهٔ په دعوت باندے مسلمانان شول ۔په صحیح بخاری کښې دی۔ چه د دے سړی نوم غورث بن حارث وو۔ (سیرت مصطفیٰ ﷺ ص ۲۷۴، ج ۲)

❷ علامه آلوسی رحمه الله لیکی :

والاٰیة اشارة الی ما اخرجه مسلم وغیره من حدیث جابر ان المشرکین رأوا ان رسول الله ﷺ ......الخ

یعنی په آیت کښې هغې واقعې طرفته اشارة ده چه کومه امام مسلم رحمه الله او نورو حضراتو دَ حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه په روایت سره نقل کړې ده. چه مشرکانو ولیدل. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اود هغوی اصحاب رضی الله تعالیٰ عنهم په عسفان نومې مقام باندې یو ځائې دَ ماسپښین مونځ اوکړو. نو هغوی په دې باندې ډیر پښیمانه شو چه دوی ولې حمله اونۀ کړه. او اراده ئې ووکړه چه کله مسلمانان د مازیګر مونځ کوی نو دوی به وریاندې حمله ووکړی الله تعالیٰ د دوی دغه خراب تدبیر ناکامیابه کړو اود صلوٰة الخوف حکم ئې راؤلیږلو. (چه په هغې کښې نیمه ډله دَ جمعې مونځ کوی او نیمه ډله د دشمن مقابله کښې وی) (روح المعانی)

۳ دګنړو مفسرینو رائې دا ده چه دا آیت د یهودیانو په باره کښې نازل شوې دې. رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو مقتول دَ دیت په سلسله کښې د بنو نضیر یهودیانو له ورغلې وو. دوی سره حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنهم هم وو. یهودیان ښکاره ډیر په ښۀ اخلاقو باندې ملاؤ شو او په اکرام سره ئې دوی د قلعې د دیوال سره لاندې کښېنول. او وې وئیل چه مونږ اوس د دیت مال راجمع کوؤ.

د هغوی اراده وه چه دَ قلعه د پاسه نه به لوئې ګټ یا پَل راؤغورزوی او حضور پاک صلی الله علیه وسلم به شهید کړی. حضرت جبرائیل علیه السلام راغې اودوی ئې د دغه سازش نه خبر کړل. نو هغوی دَ خپلو ملګرو سره د هغه ځائې نه راغلل. په آیت کښې دې واقعې طرفته اشاره ده. ابن کثیر رحمه الله د دې واقعې نه پس لیکی : ثم امر رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یغدو علیهم فحاصرهم حتی انزلهم فاجلا هم. یعنی په بله ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم اود هغوی صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم د دوی محاصره ووکړه او د قلعه ګانو نه ئې راکوز کړل او جلا وطن ئې کړل. (روح المعانی. قرطبی. کبیر. ابن کثیر وغیرها)

د تفسیر ماجدی صاحب د دې واقعاتو په باره کښې لیکی چه دَ نزول د واقعې روایتونه ګنړ دی. خو په دې کښې د یو بل سره هیڅ تعارض او تناقض نشته دې. (تفسیر ماجدی)

اوس ددې آیت په یو عمومی او جامع تفسیر باندې نظر واچوئ

(اسلامی سیاست ۔تقویٰ او توکل)

د عمومي احساناتو د يادولو نه پس بعضے خصوصي احسانات مخے ته راولي ۔ يعني قريشو اودَ هغوى بهرپسو حضور صلى الله عليه وسلم ته د تكليف رسولو اودَ اسلام دَ ختمولو د پاره چه هرڅومره لاس خپے اووهل خود حق تعالىٰ جل شانه فضل او رحمت د هغوى داؤ چليدو ته پرے نۀ ښودلو ۔ د دے لوے احسان دا اثر پكار دے چه مسلمانان دَ غلبے اود قابو موندلو سره هم خپل دښمنان دَ هر قسم ظلم او زياتئ نه بچ ووساتي۔اود بدلے اخيستلو په جوش كښ د عدل او انصاف نه لاس وونۀ وينځي۔ څنګه چه په تيرو شوؤ آيتونو كښ د دے تاكيد شوے دے۔كيدے شي چه چاته دا فكر وي چه د داسے ضدي دښمنانو سره دومره قدرے د ښۀ روے تعليم چرته د سياست دَ اصولو خلاف خوبه نۀ وي۔ ولے چه شرير او په زړۀ خراب خلق چه دا نرمي ووينى نو دَ مسلمانانو خلاف دَ هغوى د زړورتيا زياتيدو غټ امكان دے۔نودا فكرئے په واتقوا الله وعلى الله فليتوكل المؤمنون سره ختم كړو۔يعني د مومن لوے سياست تقوىٰ او توكل على الله دے۔يعني دَ خدائے نه ويريدل او په هغۀ باندے بهروسه كول۔د خدائے پاک نه د ويريدو مطلب دا دے چه په ښكاره او په پټه د الله تعالىٰ سره خپله معامله پاكه ساته ۔ او چه كوم عهد يا لوظ دے كړے وي په هغے باندے پوره وفا ښكاره كوه۔ بيا الحمدلله د چانه هيڅ خطره نشته دے ۔ (تفسيرعثماني)


نکته

شكست به څنګه برداشت كيږي په سورۀ آل عمران كښ په تفصيل سره دَ هغے پوره نصاب ووښودلے شو۔او په سورۀ نساء كښ هم دغه مضمون ووچليدلو ۔ اوس په سورۀ مائده كښ زيات زور په دے باندے دے چه فتحه او طاقت به څنګه سمبالوؤ۔ يعني چه كله الله تعالىٰ فتحه او طاقت وركړي نو مجاهدينو له به دغه وخت څۀ كول پكار وي۔ ځكه چه لكه څنګه دَ شكست په وخت كښ زړۀ بيلل اودَ كفارو په مخكښے تيتيدل ناكامي ده۔ نو دغه شان د فتحے او دطاقت نه پس په ظلم ۔ بے انصافئ او په عهد او اقرارماتولو كښ اخته كيدل هم ناكامي ده۔ د شكست نه پس نا اميده كيدل اودَ فتحے نه پس مغروره كيدل دَ ريښتوني مسلمان طريقه نۀ ده۔كه فتحه وي او كه شكست ۔خو چه مسلمان په هر حال كښ مسلمان وي۔ او دَ الله تعالىٰ بنده جوړ شي۔ بس دا ددۀ كاميابي ده ۔ اوجهاد دَ دين د غلبے د پاره دے ۔نۀ چه د افرادو دَ غلبے د پاره ۔

بهر حال د سورۀ مائدے په دے تولو آیتونو کښې د جهاد هغه مضامین بیان شوی دی۔ چه ډیر دکار او ډیر اوچت او ډیر ضروری دی ۔ د شکست په حالت کښې چه کوم مرضونه دَ شیطان د طرفنه راځی ۔ د هغې علاج په تفصیل سره بیان شو ۔ اوس د هغې مرضونو علاج بیانیږی کوم چه د فتحے اود طاقت په صورت کښې پیدا کیږی ۔ او که چرے د دے علاج وونۀ کړی شی نو بیا کامیابی په ناکامئ کښې۔ غلبه په مغلوب کیدو کښې۔ او فتحه په شکست کښې بدلیږی ۔ مفسرینو حضراتو د دے آیت په بیان کښې دا خبره هم لیکلے ده چه دَ دنیا نعمتونه یعنی فتحه اوحفاظت وغیره هم سپک ګنړل نۀ دی پکار۔ د الله تعالیٰ هر نعمت د قدر لائق دے که هغه دینی نعمت وی او که دنیاوی ۔ (والله اعلم بالصواب)

فائده

په تفسیر حقانی کښې دی چه په دے آیت کښې دَ حدیبے قصے طرفته هم اشاره کیدلے شی۔ چه د قریشو سره جنګ کیدو کیدو کښې پاتے شو ۔ (تفسیر حقانی)



سُوۡرَةُ المَائدَة مَدَنِيَّة آیت ۱۳،۱۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ○

وَلَقَدۡ اَخَذَ اللّٰهُ مِيۡثَاقَ بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ‌ۚ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ اثۡنَىۡ عَشَرَ

او په تحقیق سره الله تعالیٰ یوخ عهد د بنی اسرائیلو نه اخستے وو۔ او مونږ جوړ کړے وو په دوی کښې دولس

نَقِيۡبًا‌ؕ وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّىۡ مَعَكُمۡ‌ؕ لَئِنۡ اَقَمۡتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيۡتُمُ

سرداران ۔او اوفرمائیل الله تعالیٰ چه زه تاسو سره یم که چرے قائم کړئ تاسو مونځ او ورکړئ تاسو زکوٰة او تاسو

الزَّكٰوةَ وَاٰمَنۡتُمۡ بِرُسُلِىۡ وَعَزَّرۡتُمُوۡهُمۡ وَاَقۡرَضۡتُمُ اللّٰهَ قَرۡضًا

ایمان ووړلو ځما په رسولانو۔ او د دوی مدد مو ووکړو۔ او قرض مو ورکړو الله تعالیٰ ته ښته قرض ۔نو خامخا به

حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنۡكُمۡ سَيِّاٰتِكُمۡ وَلَاُدۡخِلَـنَّكُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ

زۀ لرے کړم ستاسو نه ستاسو ګناهونه او خامخا به زۀ داخل کړم تاسو باغونو ته چه بهیږي به د هغے د لاندے

تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ‌ۚ فَمَنۡ كَفَرَ بَعۡدَ ذٰ لِكَ مِنۡكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيۡلِ‏ ﴿۱۲﴾

نهرونه۔ نو چا چه کفر ووکړو ستاسو نه ددے نه وروستو۔ نو یقینا دے ګمراه شو د نیغے لارے نه۔ نو په سبب د

فَبِمَا نَقۡضِهِمۡ مِّيۡثَاقَهُمۡ لَعَنّٰهُمۡ وَجَعَلۡنَا قُلُوۡبَهُمۡ قٰسِيَةً‌ ۚ يُحَرِّفُوۡنَ

ماتولو د دوی خپل عهد لره لعنت ووکړو مونږ په دوی باندے او د دوی زړونه مو سخت کړل۔ دوی بدلوی کلمے د

الۡـكَلِمَ عَنۡ مَّوَاضِعِهٖ‌ۙ وَنَسُوۡا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوۡا بِهٖ‌ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ

خپلو ځایونو نه ۔او دوی هیره کړه یوه غټه حصه د هغے نه چه دوی ته پرے نصیحت کیدۀ ۔او تۀ به همیشه

عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنۡهُمۡ اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡهُمۡ‌ فَاعۡفُ عَنۡهُمۡ وَاصۡفَحۡ‌ ؕ

خبریږے په څۀ ناڅۀ خیانت د دوی سوا د لږو کسانو نه په دوی کښې ۔نو دوی معاف کړه او خیال بدل کړه ۔یقین

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِيۡنَ‏ ﴿۱۳﴾

ووکړه چه الله تعالیٰ خوښه وی نیکئ کولو والا۔

نچوړ

الله تعالیٰ د بنی اسرائیلو نه عهد اخستے وو او د دے عهد د خیال ساتلو د پاره ئے په دوی کښې دولس مشران جوړ کړے وو۔ (چه د هغوی په ذمه واریٔ کښې دا هم وه چه دوی به په جهاد کښې د دښمن په حالاتو باندے نظر ساتی) الله تعالیٰ دوی ته

ووفرمائیل چه زۀ تاسو سره یم که چرے تاسو مونځ قائم ساتئ ۔ زکوٰۃ ادا کوئ ۔او ځما په ټولو رسولانو باندے ایمان لرئ۔ اود دښمنانو په مقابله کښ د دوی مدد کوئ اود زکوٰة نه علاوه هم په نیکو کارونو کښ مال خرچ کوئ۔ او الله تعالیٰ ته قرض ورکوئ۔ نوزۀ به خامخاستاسو ګناهونه ستاسو نه لرے کړم۔ او تاسو به جنتونو ته بوځم او چه څوک د دے عهد نه وروستو هم کفر کوی نو هغه به ګمراه وی ۔ خو بنی اسرائیلو دا عهد مات کړو نو الله تعالیٰ په دوی لعنت ووکړو۔ او د دوی زړونه ئے سخت کړل۔ دوی دَ الله تعالیٰ په کتاب کښ تحریف کوی (یعنی خبرے پکښ بدلوی) اود الله تعالیٰ دَ نصیحت نه پوره فائده نۀ اخلی ۔په دینی معاملاتو کښ د دوی نوے نوے خیانتونه پرله پسے مخے ته راځی ۔ په دوی کښ د ډیرو هم دغه حال دے ۔ډیر لږ خلق داسے نۀ دی ۔ (د دوی خلاف د جهاد د حکم راتلو پورے فی الحال) د معافئ کولو اود ځان نا غرضه کولو معامله کوه ۔

جهادی مضامین

❶ بنی اسرائیلو ته هم د جهاد حکم ورکړے شوے وو ۔ او دوی نه په جهاد کښ دَ شریک کیدو لوظ اخیستے شوے وو۔ په دے آیت کښ د وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ هم په الفاظو کښ هم د دے بیان دے ۔

❷ په دے آیت کښ هغے قصے طرفته هم اشاره ده چه بنی اسرائیلو د الله تعالیٰ نافرمانی اوکړه او د جهاد نه ئے مخ واړولو چه د هغے د سپیرۀ والی په وجه هغوی تر کالو سره پورے هغے مقدسے زمکے ته تلے نۀ شو ۔ او د دوی پوره یونسل په ځنګلونو کښ په وباګانو اودَ دښمن په تورو سره فناکړے شو ۔

❸ دَ جهاد نه مخکښ دَ دښمن په حالاتو باندے دَ نظر ساتلو د پاره جاسوسی نظام جوړول پکار دی ۔ په دے آیت کښ چه د کومو دولسو مشرانو ذکر دے ۔دوی موسیٰ علیه السلام د دښمن د حالاتو معلومولو د پاره لیږلی وو ۔

❹ په کومو اعمالو چه الله تعالیٰ دَ خپلے ملګرتیا او دَ مدد وعده کړے ده۔ په هغے کښ جهاد هم دے ۔

❺ په اشارے سره معلومیږی چه زر به مسلمانانو ته د اهل کتابو سره د جهاد کولو اجازت اوشی ۔ کوم چه بیا څۀ وخت پس ملاؤ شو۔

اقوال او حوالے

❶ دجهاد عهد

كانه قيل: لئن اقمتم الصلوٰة وآتيتم الزكوٰة وجاهدتم فى سبيل الله۔
يعني لكه چه ووئيلے شو چه كۀ چرے تاسو مونځ قائم كړو او زكوة مو ور كړو او د الله تعالىٰ په لاره كښې مو جهاد ووكړو (روح المعانى)

❷ د دښمنانو مقابله

عزرتموهم اى رددتم عنهم اعدائهم

يعنى د رسولانو د دشمنانو مقابله به كوئ (قرطبى)

اٰمَنْتُمْ بِرُسُلِىْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ يعنى چه كوم پيغمبران ځما د طرفنه راتلونكے وختونو كښې راځى ـ د هغوى به تصديق كوئ۔ اود هغوى د دښمنانو په مقابله كښې به د هغوى مدد كوئ ـ (تفسير ماجدى)

دولس جاسوسان

دا د موسىٰ عليه السلام د زمانے قيصه ده ـ چه كله موسىٰ عليه السلام او بنى اسرائيل په بيابانونو (يعنى په ځنګلو او صحراګانو) كښې په ديكو ديكو يعنى (د روكو پشان) د فاران د شتے ته ورسيدل نو الله تعالىٰ موسىٰ عليه السلام ته حكم ووكړو چه تۀ د بنى اسرائيلو په دولسو قبائلو كښې يو يو سردار نقيب يعنى جاسوس جوړ كړه اودَ كنعان هغے زمكے ته ئے ووليږه چه د كومے زمكے ما تاسو سره دَ دركولو لوظ كړے دے ـ نو موسىٰ عليه السلام د هر يو سبط نه دا دولس سرداران نقيبان جوړ كړل او وے ليږل (تفسير حقانى)

نقيب

زجاج رحمه الله وائى نقيب د فعيل په وزن د نقب نه مشتق دے ـ د نقب معنىٰ ده كنستل او سورے كول ـ نو چه كوم خلق په يو قوم پسے جاسوسئ له ځى نو هغوى د خبرے لټون كوى او په ګرولو ګرولو خبره راوياسى په دے وجه دوى ته نقيبان وائى ـ د نقيب جمع نقباء راځى ـ اود قوم دَ مصلحتونو اودَ فوائدو خيال ساتلو والا ته هم نقيب وائى ـ (تفسير حقانى حاشيه)

په جهاد كښې دَ جاسوسئ د نظام د قائمولو دليل

امام قرطبى رحمه الله فرمائى:

وفيها ايضا دليل على اتخاذ الجاسوس . والتجسس البحث وقد بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم بسبسة عينا اخرجه مسلم وسيأتى حكم الجاسوس فى الممتحنة ان شآء الله تعالىٰ .(قرطبى)

په دے آیت کښې د جاسوس د مقرر کولو هم دلیل دے نبی علیه السلام بسبسه رضی الله تعالیٰ عنه لره جاسوس جوړ کړے وو۔ دا روایت په صحیح مسلم کښې دے او ان شآء الله د جاسوس حکم به په سورة ممتحنة کښې راشي - (قرطبی)

یادګیرنه

د خذوا حذرکم په تفسیر کښې هم تیر شوے دی - چه مسلمانانو ته په ډیر تدبیر او حکمت عملئ سره د جنګ کولو حکم دے - او د دے د پاره دَ جاسوسی نظام مضبوطیدل ضروری دی - دپاره ددے چه دَ دښمن په حالاتو۔ طاقت او سازشونو باندے ئے کلک نظر وی - دا د جهاد ډیره شان والا او فضیلت والا شعبه ده - او رسول الله صلی الله علیه وسلم به په خپله زمانه کښې خپل خاص صحابه کرام د دے کار د پاره خوښول - اوس هم هغه ملکونه کوم چه په دنیا باندے د قبضے کولو ارادے لری - هغوی سره د جاسوسی ادارو ډیر قدر او مقام وی - خو دَ مسلمانانو په مینځ کښې دا لفظ ډیر بدنام دے - د دے بدنامئ په وجه سره کیدے شی چه د بعضے حضراتو په زړونو باندے دا لفظ ښهٔ ونهٔ لګی - دغه حضراتو ته درخواست دے چه هغوی د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم دَجهاد واقعات په غورسره ووګوری -

(والله اعلم بالصواب)

فائده

علامه ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کښې د دے آیت دلاندے دَ نبی علیه السلام د طرفنه دَ انصارو د دولسو نقیبانو مقرر کولو او په دے امت کښې د دولسو خلیفګانو د راتلو روایات نقل کړے دی هغه دولس خلیفه ګان څوک دی ؟ په دے ئے بحث فرمائیلے دے ۔او امام مهدی ئے هم په دوی کښې شامل کړے دے اودَ شیعه ګانو دَ امامت دَ عقیدے ئے هم رد فرمائیلے دے - د پوره بحث د کتلو د پاره تفسیر ابن کثیر ووګوری -



سُورَۃُ الْمَآئِدَۃِ مَدَنِیَّۃٌ آیت ۲۰،۲۱

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی لِقَوْمِہٖ یٰقَوْمِ اذْکُرُوْا نِعْمَۃَ اللّٰہِ عَلَیْکُمْ

او هرکله چه ووئیل موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته۔ اے څما قومه !یاد کړئ د الله تعالیٰ احسان

اِذْ جَعَلَ فِیْکُمْ اَنْۢبِیَآءَ وَجَعَلَکُمْ مُّلُوْکًا ۖۗ وَّاٰتٰکُمْ مَّا لَمْ یُؤْتِ

په خپل ځان باندے چه پیدا ئے کړل په تاسو کښې پیغمبران او تاسو ئے بادشاهان کړئ۔ او درئے کړل

اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِیْنَ ۝۲۰ یٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَۃَ الَّتِیْ

تاسو ته هغه چه نه ئے دی ورکړے هیڅ چاته په عالم کښې۔ اے څما قومه ! داخل شئ هغے پاکے

کَتَبَ اللّٰہُ لَکُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰۤی اَدْبَارِکُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِیْنَ ۝۲۱

زمکے ته کومه چه الله تعالیٰ لیکلے ده تاسو له۔ او شاته واپس مهٔ راځئ۔ ګنې تاسو به تاوانی شئ۔

نچوړ

او هغه وخت د یادولو قابل دے چه کله حضرت موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته د جهاد دعوت ورکولو نه مخکښې د تمهید په طور باندے اوفرمائیل اے څما قومه! په خپل ځان باندے د الله تعالیٰ احسانات یاد کړئ چه هغهٔ په تاسو کښې ګڼړ پیغمبران پیدا کړل۔ اوتاسو ته ئے آزادي او حکومت درنصیب کړو او تاسو له ئے بعضے هغه څیزونه درکړل چه په دنیا والؤ کښې ئے هیچاته نهٔ دی ورکړے (مثلا په دریاب کښې لاره ورکول۔ دښمن په عجیبه طریقے سره غرقول وغیره)۔ اے څما قومه ! (د دے نعمتونو او احساناتو تقاضا دا ده چه تاسو د عمالقه قوم خلاف جهاد اوکړئ او په دے حکم کښې د الله تعالیٰ نافرمانی اونهٔ کړئ) او دغه برکت والا زمکے ته دَ جهاد په اراده داخل شئ چه الله تعالیٰ دا ملک ستاسو په حصه کښې لیکلے دے (په دے وجه به داخلیدو سره فتحه ملاویږی) او روستو مهٔ تښتئ ګنې بیا به ډیر په تاوان کښې راشئ۔ (په دنیا کښې به د دے برکت والا فراخه ملک شام نه محرومه شئ) او په آخرت کښې به د جهاد د فریضے د پریښودو ګناه ګار جوړ شئ۔ (مفهوم از بیان القرآن)

ربط

پورته دَ یهودیانو او د عیسایانو دَ عهد ماتولو بیان وو۔ وروسته خاص کر د یهودیانو د یو عهد ماتولو قصه ذکر ده چه دوی د جهاد نه انکار کړے وو چه هغه فرض وو۔ بیان القرآن)

دبرکت کلام

حضرت شاه صاحب رحمه الله په خپل جامع کلام کښې دا پوره قصه داسے راغونډه کړے ده چه "حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل پلار وطن پریښودلو۔ د الله تعالیٰ په لاره کښې ووتلو او په ملکِ شام کښې ډیره شو۔ اودځۀ موده پورے ئے اولاد نۀ وو۔ بیا الله تعالیٰ دۀ ته زیرے ورکړو چه ستااولاد به ځۀ ډیر زیات خور کړم اودَ شام زمکه به دوی ته ورکړم او نبوت ، دین ، کتاب او بادشاهی به په دوی کښې ساتم ۔بیا د حضرت موسیٰ علیه السلام په وخت کښې هغه وعده پوره شوه ۔ بنی اسرائیل ئے دَ فرعون د بیگار (یعنی د غلامئ) نه خلاص کړل۔ او هغه (فرعون) ئے غرق کړو ۔او بنی اسرائیلو ته ئے ووفرمائیل : چه عمالقه سره جهاد ووکړئ۔ او دَ شام ملک د دوی نه واخلئ۔ بیا همیشه دغه ملک شام ستاسو دے ۔ حضرت موسیٰ علیه السلام دولس سړی په دولسو قبیلو سرداران کړے وو۔ دوی ئے ووليږل چه دهغے ملک خبر راوړی ۔ هغوی چه خبر راوړو نو د ملک شام خوبئ ئے بیان کړے ۔ او هلته عمالقه مسلط وو۔ نو د هغوی زور او قوت ئے هم بیان کړو۔ حضرت موسیٰ علیه السلام هغوی ته ووئیل چه تاسو قوم ته دَ ملک خوبئ بیان کړئ ۔ د دشمن د قوت خبره مۀ کوئ۔ په هغوی کښې دوه سړی په دے حکم ووچلیدل اولس اونۀ چلیدل ۔ قوم چه دا واوریدل نو نامردی (یعنی بزدلی) ئے ووکړه ۔او مصر ته واپس تلل ورته ښۀ ښکاره شو۔ د دے کوتاهئ (یعنی غلطئ) په وجه د شام فتحه څلویښت کاله وروستوشوه ۔ دومره موده پورے په ځنګلونو کښې ګرزیدل ۔ چه کله دَ هغے زمانے خلق مړۀ شول سوا د هغے دواؤ سړو نه چه هم هغوی دَ موسیٰ علیه السلام نه پس خلیفګان شو۔ نو د هغوی په لاس باندے فتحه ووشوه ۔ (موضح القرآن)

فائده

❶ د دے آیتونو په تفصیل کښې مفسرینو حضراتو ګنړ بحثونه کړی دی ۔

وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا :۔تاسو ئے باد شاهان کړئ ۔ دے نه څۀ مراد دے ۔ مفسرینو حضراتو ډیر اقوال لیکلی دی چه خلاصه ئے دا ده۔ چه اے بنی اسرائیلو! اوس تاسو ازاد ، اختیارمند اودَ راتلونکی وخت حکمرانان یئ

❷ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ اوتاسو له ئے هغه څیزونه درکړل چه په

ډکه دنیا کښې ئے چالـه نهٔ دی ورکړی ـ د دے څیزونونه څهٔ مراد دی ـ او په دے جملے سره دَ محمد صلی الله علیه وسلم د امت په افضلیت باندے څهٔ اثر غورزیږی۔ که نهٔ غورزیږی ؟ خلاصه دا چه د امتِ محمدی صلی الله علیه وسلم په افضلیت باندے څهٔ اثر نهٔ غورزیږی ـ دَاخو یو منلے شوے حقیقت دے ـ

۳ اَلْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ د مقدسے زمکے نه کومه علاقه مراد ده؟

د مفسرینو حضراتو یو بل سره نزدے نزدے ګڼړ اقوال دی ـ خلاصه د ټولو ملک شام علاقهٔ کنعان یعنی فلسطین دے ـ دے درے واړو زړهٔ راښکونکی بحثونو دپاره تفسیر قرطبی۔ تفسیر کبیر وغیرهما ووګورئ۔

د جهاد دعوت

الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته د فرعون نه بغیر د جنګ نه خلاصے ورنصیب کړو۔ خو دَ بیت المقدس والا پاکے زمکے یعنی ملک شام د پاره ئے ورته د جهاد شرط مقرر کړو۔

حضرت موسیٰ علیه السلام قوم ته دَ الله تعالیٰ نعمتونه اود هغوی خپل دینی مقام ورپه یاد کړل او دَ جهاد دعوت ئے ورکړو۔ او په آخر کښې ئے دَ جهاد دَ پریښودو سزا ورته هم واؤروله ـاو ورته ئے اوفرمائیل :

وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ

یعنی په جهاد فی سبیل الله کښې بزدلی او بے همتی مهٔ ښکاره کوئ۔ اودَ غلامئ ژوند طرفته منډه مهٔ وهئ (تفسیر عثمانی)

داسے شوه لکه چه په دے دواړو آیتونو کښې دَ جهاد مکمل دعوت راغے۔ څکه چه په انسان باندے دَ الله تعالیٰ د نعمتونو تقاضا دا ده چه دوی دے دجهاد د پاره اوځی او زمکه دے دَ کفر او دظلم نه پاکه کړی ـ اوچه په کوم سړی دَ الله تعالیٰ احسان څومره زیات وی هغه هومره هغهٔ ته زیات محنت په جهاد کښې کول پکار دی۔ بنی اسرائیلو د دے دومره اثرلرونکی دعوت اوریدو سره هم د جهاد نه مخ واړولو۔نو څلویښتو کالو پورے په ځنګلونو کښې مړهٔ کیدل ـآخر دا چه نوے نسل راپورته شو او هغوی دَخپل وخت دَ نبی سره ملګری شو۔ جهاد ئے اوکړو نو هغه پاکه زمکه فتحه شوه ـ

ذهنی غلامی

چه کله یو قوم تر څهٔ وخته پورے د غلامئ په حالت کښې پاتے شی نو په هغوی

کښې دَ اوچتو مقاصدو حاصلولو د پاره طاقت پاتے نۀ شي ۔ هغوی باندې دَ غلامۍ امن ښۀ لګي ۔ اګر که هغه د ذلت او نامرادۍ سره وي ۔ او دلوړو مقاصدو دَ حصول دپاره کوشش کولو نه پټيږي ۔ اګر که د هغے نتيجه کاميابي او نيک بختي وي ۔ هم دغه حال دَ بني اسرائيلو وو۔ د غټو مقاصدو د پاره په هغوی کښې همت او حوصله نۀ وه ۔ بے وسۍ او بزدلۍ ورله خپے نيولے وے ۔

چه کله حضرت موسیٰ عليه السلام دوی ته حکم ووکړو چه دَ کنعان زمکے ته داخل شئ ۔ چه د دے زمکے تاسو سره وعده شوے ده۔ نو دوی ووئيل چه هلته خو غټ طاقتور خلق ووسيږي ۔ د هغوی دَ مقابلے په مونږ کښې طاقت نشته دے ۔ چه تر کومه هغوی دَ هلته نه وتلے نۀ وي نو مونږ قدم نۀ اخلو۔ تورات کښې دي چه بني اسرائيل دَ جنګ د دباؤ نه دومره بے طاقته شو چه په ژړا ژړا کښې ئے وئيل چه اے الله ! مونږ دے دَ مصر نه ولے راؤخکلو؟ آيا دے دپاره چه مونږ دَ کنعانيانو په توره باندے قتل شو؟ دوی اراده کړے وه چه مصر ته واپس لاړ شي او حضرت موسیٰ عليه السلام پريږدي ۔ (ګنتي باب ۱۳، ۱۴)

په دے سره دَ الله تعالیٰ حکم ووشو چه دوی به څلويښتو کالو پورے د جزيرے غوندے دَ سينا په ميدانونو کښې پراته ووسيږي ۔ دے کښې مصلحت دا وو ۔ چه په څلويښتو کالو کښې به دا زوړ نسل ختم شي کوم چه په مصر کښې دَ غلامۍ په ژوند سره بے کاره شوے وو۔ او يو نوے نسل به پيدا شي چه هغوی به د بيابان په آزاد ماحول کښې غټ شوے وي او ذهن به ئے دَ غلامۍ دَ زهرونه بچ وي ۔ نو چه کله څلويښت کاله تير شو ۔ او يو نوے نسل ښکاره شو۔ نو هغوی راؤچت شو او په هغه زمکه قابض شو چه د کومے د فتحے وعده شوے وه (ترجمان القران)

غيرت په جوش کښې راتلل پکار دی

موسیٰ عليه السلام دَ خپل قوم دَ راپورته کولو دپاره ورته فرمائي: چه تاسو دَ پيغمبراولاد هم يئ او شهزادګان هم يئ ۔ نو ستاسو غيرت په جوش کښې راتلل پکار دي ۔ دخپل پلار نيکۀ ملک دَ دښمن نه په جنګ سره واخلئ ۔ خو په دوی باندے دَ عهد دَ ماتولو په وجه لعنت شوے وو۔ او دَ هغے لعنت نتيجه بزدلي وه۔ نو په دے وجه هغوی پوتے هم متاثره نۀ شول ۔ (حاشيه لاهوري رحمه الله)

سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

قَالُوْا يٰمُوْسٰىٓ اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا

دوی ووئیل۔ اے موسیٰ ! بے شکه په هغے کښې یو زور آور قوم دے او یقینا مونږه چرے هم نه ورځو دغلته۔

حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿۲۲﴾

تردے چه هغوی ووځی د هغے نه۔ نو که چرے دوی ووځی د هغے نه نو یقین ووکړه چه مونږ دننه ورځو۔

نچوړ

د حضرت موسیٰ علیه السلام د جهادی دعوت په جواب کښې قوم ووئیل چه اے موسیٰ علیه السلام په دغه زمکه د داسے خلقو قبضه ده چه ډیر طاقتور دی ۔ مونږ د هغوی مقابله نهٔ شو کولے ۔ ترکومه چه دغه خلق دغلته موجود وی مونږ دغے زمکے ته نهٔ داخلیږو ۔ اوکه چرے دغه خلق د دغه ځائے نه ووتل نو بیا به مونږ خامخا داخل شو ۔

دا عمالقه وو

دا عمالقه قوم وو چه یو زورآور اود جنګ بلد خلق وو۔ د بنی اسرائیلو پخوا راسے دښمنان وو۔ تورات اودَ بنی اسرائیلو تاریخ د دوی د خون ریزو د قصو نه ډک دے۔ (تفسیر ماجدی)

د عمالقه په باره کښې پوتے

په اسرائیلی روایاتو کښې د دے قوم په باره کښې ډیرے ناآشنا پوتے نقل شوے دی۔علامه آلوسی رحمه الله په روح المعانی کښې بعضے روایات ذکر کړے دی اود هغے ئے تردید کړے دے ۔ او په عقلی او نقلی دلیلونو سره ئے هغه غلط او باطل ثابت کړے دی ۔ په حقیقت کښې خو یهود هسے هم د دروغو اموخته دی ۔ د دوی مشرانو صرف دَ بزدلۍ په وجه جهاد پریښودهٔ ۔ وروستو خلقو دَ هغوی دا عیب د هغوی مجبوری ښکاره کړه۔ اودے دپاره ئے عمالقه د غرونو نه اوچت قوم ووګرزولو ۔ چرته حضرات صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین چه دَ زخمونو نه چوری چوری حمراء الاسده پورے دَ ابوسفیان په فاتح لښکر پسے ئے منډے وهلے ۔ اوچرته دا بنی اسرائیل چه دَ فتحے د ښکاره وعدے سره ئے هم واپس مصر ته د تښتیدو کوشش کولو ۔

(والله اعلم بالصواب)

سُوْرَةُ الْمَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا

ووئیل دواړو سړو په هغه کسانو کښې چه ویریدل چه الله تعالیٰ انعام کړے وو په هغے دواړو باندے چه ورشئ په

عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْا

دوی باندے دروازے پورے ۔ نو هرکله چه تاسو ورشئ په دوی نو هم تاسو به غالب ئے او په الله تعالیٰ باندے

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۳﴾

توکلساتئ که چرے تاسو ایماندار یئ ۔

نچوړ

د حضرت موسیٰ علیه السلام دَ جهادی دعوت د تائید د پاره هغه دوه کسان اوډریدل چه د الله تعالیٰ نه ویریدل ۔ او الله تعالیٰ هغوی ته (دَ ایمان اودَ عهد د پوره والی غوندے) نعمتونه ورکړے وو۔ دوی خلقو ته ووئیل چه (دومره زیات بے همته اوبزدله کیږیئ مه) تاسو په دوی (باندے حمله ووکړئ او) د ښار دروازے پورے خو ورشئ بیا چه کوم وخت تاسو په دروازه خپه کیږدئ هغه وخت به تاسو غالب راشئ کهٔ تاسو ایمان والا یئ نو بیا په الله تعالیٰ باندے توکل ووکړئ ۔

دوه پاخهٔ مؤمنان

قال ابن عباس وغیره :. هما یوشع و کالب بن یوقنا و کانامن الاثنی عشرنقیبًا (القرطبی)

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما او نور مفسرین فرمائی چه دا دواړه حضرات یوشع او کالب بن یوقنا وو۔ اودا په دولسو نقیبانو کښې وو۔ په دے دواړو کښې د یونوم یوشع بن نون او دبل نوم کالب بن یوقنا وو ۔ یوشع دَ بنی افرائیم سردار وو۔ او کالب د بنی یهودا د قبیلے سردار وو۔ (تفسیر ماجدی)

دکافرانو نهٔ ویریدل د الله تعالیٰ انعام دے

اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا د الله تعالیٰ انعام د دے نه غټ څهٔ کیدے شی چه دوی ته ئے دَ حق وئیلو او دحق منلو توفیق ورکړو۔ اودَ کفارو د دبدبے نه دباؤ نهٔ شول ۔(تفسیر ماجدی)

د دے دواړو تقرير

قالا لبنی اسرائیل لایهو لنکم عظم اجسا مهم فقلوبهم ملئت رعباً منکم فاجسامهم عظیمة وقلوبهم ضعیفةٌ. (القرطبی)

دے دواړو حضراتو بنی اسرائیلو ته ووئیل:۔ تاسو د دے دښمنانو د غټو بدنونو نه مهٔ ویریږئ ۔ولے چه ستاسو ویره دَ هغوی په زړونو باندے پرته ده ۔ ځکه چه د دوی بدنونه خو غټ دی خو زړونه ئے کمزوری دی ۔

په جهاد کښې وتل توکل دے

یعنی همت وکړئ د پهاټک پورے خو لاړ شئ۔ بیا به خدائے پاک تاسو غالب کړی ۔ الله تعالیٰ هم د هغه چا مدد کوی چه په خپله هم خپل مدد کوی ۔ معلومه شوه چه جائز اسباب پریښودل توکل نهٔ دے ۔ توکل دا دے چه د یو نیک مقصد د پاره ښهٔ کوشش او جهاد اوکړے ۔ بیا د هغے دَ فائده مند کیدو او دَ ښے نتیجے دپاره په الله تعالیٰ باندے بهروسه اوکړے ۔ په خپل کوشش باندے نازاونهٔ کړے او مغروره نهٔ شے ۔ باقی دَ جائزو اسبابو پریښودل خالی امیدونه تړل توکل نهٔ دے تعطل دے (تفسیر عثمانی)

ځان بچ کولو والا مړهٔ شول

بنی اسرائیلو د ځان بچ کولو د پاره جهاد ته دَ تلو نه انکار ووکړو۔ د دوی په زړونو دَ دښمن ویره ښوره شوے وه ۔د هغوی دا خیال وو چه کهٔ دوی حمله ووکړه نو دوی به ووژلے شی ۔ په ټول قوم کښې دَ حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام نه علاوه صرف دوه سړی دَ جهاد د پاره په خپله هم تیار وو او خپل قوم ته ئے هم دعوت ورکولو ۔ د الله تعالیٰ قدرت او شان ته ګوره ۔ د شلو کالو نه زیات عمر والا ټول خلق په دغه وادی تیه کښې مړهٔ شول سوا د دے دواؤ حضراتو نه کوم چه جهاد د پاره تلو ته تیار وو۔ مطلب دا شو چه چا ځان بچ کولو هغوی مړهٔ شول ۔اوڅوک چه د قربانئ د پاره تیار وو هغوی بچ شو۔ هغوی په دغه ښهر کښې فاتحان داخل شو بے شکه په دے قصه کښې د مسلمانانو دپاره ډیر لوے سبق دے ۔



سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا

>poqpexd Uçöt >2 > X pamik[ ]cqstUác t2 +lqU>2 bCoaen naé%çbJc]Øhiqaexd

فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ۝۲۴

!çnkn %dsj-QbhqU>Q 1d - <Qae Qqlbjdsth . j%qaj >E\Y çh ä Qc

نچوړ

په بني اسرائيلو باندې د دې دواړو حضراتو د بيان څۀ اثر اونۀ شو۔ بلکه د دوی ضد، بزدلي او ګستاخي دومره زياته شوه چه وې وئيل چه اې موسیٰ! چه تر کومه پورې دغه خلق د غلته وی نو مونږ دغلته چرې هم ورتلو والا نۀ يو۔ تۀ او ستا رب هلته لاړ شئ۔ مونږ خو دلته ناست يو۔ تۀ او ستا رب هلته هغوی سره لګياشئ جنګ کوئ۔

ګستاخي يا شرک؟

د اسرائيليانو په دې تقرير کښې د ګستاخئ انداز خو ښکاره دې ۔ خو دا هم کيدې شي چه دَ مشرکو قومونو نه دَ متأثر کيدو په وجه دې توحيد منونکي قوم هم په خپله عقيده کښې ډيره حده پورې شرک داخل کړې وی ۔ دَ مشرکو قومونو دا دستور وو چه د جنګ ميدان ته به تلل نو بوتان به ئې د ځان سره اوړل او دا به ئې عقيده وه چه د دوی بوتان هم د دوی سره ملګري دی ۔ (تفسير ماجدی)



سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ — آیت ۲۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِيْ وَاَخِيْ فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ

xQeorj qp .aeeff [gle%Øfi Øt, UUhP O Ölt »e.Öyc] Ømeaeé S ÇÞnAé%ø

الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۵﴾

! ä ÖyGU ¾Yç Ð%é[gleÇUy

نچوړ

حضرت موسیٰ علیه السلام چه دَ قوم دا حالت اولیدهٔ نو د الله تعالیٰ نه ئے دعاء اوغوښتله ۔ اے ځما ربه ! ځما په اختیار کښې صرف خپل ځان او خپل ورور دے ۔ نو ځمونږ او ددے نافرمانه قوم په مینځ کښې جدائی راولے ۔

یا الله ! مونږ دواړه حاضر یو

موسیٰ علیه السلام ناامیده شو۔ نود الله تعالیٰ په دربار کښې ئے عرض اوکړو چه اے ځمونږ مالکه ! مونږ دواړه ورونړه ستاد حکم منلو د پاره حاضر یو ۔ او مونږ په دے نالایقه خلقو کښې اوسیدل هم نهٔ غواړو۔ (د حضرت لاهوری رحمه الله حاشیه)

یوشع او کالب هم په دعاء کښې شامل وو

حضرت موسی علیه السلام سخت خفه شو۔ دعاء ئے ووغوښتله خود تول قوم د حکم نه مخ اړول اود هغوی بزدلی نافرمانی حضرت موسیٰ علیه السلام په سترګو لیدله نو په دے وجه ئے په دعا کښې د خپل ځان اودَ خپل ورور حضرت هارون علیه السلام نه علاوه چه هغه هم معصوم نبی وو۔ د بل چا ذکر اونهٔ کړو ۔ یوشع علیه السلام او کالب هم دے دواړو سره تبعا راغلل ۔ (تفسیر عثمانی)

امام رازی رحمه الله لیکی۔

وایضاً یجوز ان یکون المراد بالأخ من یواخیه فی الدین وعلی هذا التقدیر فکانا داخلین فی قوله وَاَخِیْ

اودا هم ممکن ده چه دَ "أخ" نه مراد دینی ورور شی ۔ په دے صورت کښې دا دواړه حضرات یوشع او کالب به په دعاء کښې شامل شی ۔

☆☆☆

سُوْرَةُ الْمَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۲۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً يَتِيْهُوْنَ فِى الْاَرْضِ

اللّٰہ تعالیٰ وفرمائیل چه یقینا دا زمکه حرامه کړے شوه په دوی باندے څلویښت کاله دوی به سرګردانه وی په دے

فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۶﴾

زمکه کښې۔ نو ته مهٔ غمژن کیږه په نافرمانه قوم باندے۔

نچوړ

د حضرت موسیٰ علیه السلام د دعاء نه پس د اللّٰه تعالیٰ د طرفنه دا فیصله اوشوه۔ او حضرت موسیٰ علیه السلام ته اوفرمائیلے شو۔ چه تیک ده دغه زمکه په دوی باندے څلویښت کاله پورے حرامه کړے شوه۔ دا خلق به په زمکه ورک شوے ګرځی۔ ته په دے نافرمانه قوم باندے افسوس مهٔ کوه۔

د موسیٰ علیه السلام دعاء قبوله شوه

❶ استجاب الله دعاء ه وعاقبهم فی التیه اربعین سنة (القرطبی)

د حضرت موسیٰ علیه السلام دعاء اللّٰه تعالیٰ قبوله کړه۔ اودوی ئے په تیه کښې څلویښت کاله سزا وار ایسارکړل۔

❷ امام رازی رحمه اللّٰه په دے باندے بحث فرمائیلے دے۔ چه حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام هم په وادی تیه کښې د قوم سره وو که نهٔ وو۔ بیا ئے دواړه قسمه قولونه اود هغے دلائل نقل کړے دی۔ اودا ئے هم لیکلے دی چه دَ بعضو په نزد باندے ملک شام حضرت یوشع بن نون علیه السلام فتحه کړو چه دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دخور ځوے وو۔ اود هغوی وصی او جانشین وو۔ او یو قول ئے داهم نقل کړے دے چه پخپله حضرت موسیٰ علیه السلام ملک شام فتحه کړے دے۔ (ووګوری دَ مکمل تفصیل د پاره تفسیر کبیر)

❸ یعنی د جدایئ دعاء خو حسی او ظاهری طور باندے قبوله نهٔ شوه۔ خو معنوی جدائی اوشوله چه هغوی خو ټول د اللّٰه تعالیٰ په عذاب کښې اخته شول۔او حیران سرګردان ګرزیدل او حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام

دواړه پیغمبران په اطمینان او پوره د زړهٔ په سکون سره د اصلاح او ارشاد په خپل منصب باندے ولاړ وو۔ لکه څنګه چه په یو کلی کښې عامه وباخوره شی اودَ زرګونو بیمارانو په مجمعه کښې دوه څلور روغ رمټ او مضبوط زړهٔ والا وی چه د هغوی په علاج کښې او د هغوی په کارونو سمبالولواو د احوالو په معلومولو کښې مشغول وی ۔ که چرے دَ " فَافْرُقْ بَيْنَنَا "۔ ترجمه "جدائی راولے" په ځائے دا سے شوے وے چه"فیصله اوکړے" نو مطلب به نور هم ښهٔ واضحه شوے وو۔ (تفسیر عثمانی)

د زمکے حرام والے دَ جهاد دَ پریښودو په وجه اوشو

والمراد بقوله کتب الله لکم ای بشرط ان تجاهدوا اهلها فلما ابوا الجهاد قیل فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ (المدارک)

مخکښې فرمائیلے شوے وو۔ کتب الله لکم : چه دا زمکه الله تعالیٰ تاسو له لیکلے ده نو د دے نه مراد دا وو چه په دے شرط ئے لیکلے ده چه تاسو به د هغے ځائے دَ خلقو سره جهاد کوئ نو ستاسو دپاره دا زمکه لیکلے شوے ده۔ بیا چه کله دوی دَ جهاد نه انکار اوکړو نو دوی ته اووئیلے شو چه دا زمکه په تاسو حرام ده ۔(نو په دواړو کښې څه تضاد نشته دے) ۔

د کلام حاصل

په دے اووهٔ آیتونو کښې د جهاد فضیلت او برکت اودَ جهاد دَ پریښودو عذاب او وبال غوندے د جهاد اهم مضامین په پوهه کښې د راوستو د پاره ډیر په ترتیب اوتفصیل سره راغلے دی مسلمانانو له پکار دی چه ښهٔ غور ووکړی ۔ حضرت علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله چه په دے اووهٔ آیتونو باندے کوم وجد پیدا کونکے تقریر کړے دے هغه ستاسو مخے ته دے ۔

حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی :۔

چه دا ټوله قصه ئے اهل کتابوته واؤروله ۔په دے چه کهٔ تاسودَ آخر الزمان پیغمبر ملګرتیا اونهٔ کړه څنګه چه ستاسو نیکونو دَ حضرت موسیٰ علیه السلام ملګرتیا پریښے وه ۔ او د جهاد نه ئے ځان پټ کړے وو۔ نودانعمت به بل چاته نصیب

شی ۔او نصیب شو ۔ یو یے لمحے د پارہ دا تولہ رکوع مخے تہ کیږدئ۔ او دَ امت محمدیہ صلی اللہ علیہ وسلم پہ احوالو باندے غور اوکړئ ۔ چہ پہ دوی باندے دَ خدائے پاک ھغہ انعامات اوشو ۔ چہ نۀ مخکښ پہ چا شوے دی او نۀ بہ راتلونکی وخت کښ پہ چا اوشی ۔

دوی تہ ئے دَ ابدی شریعت سرہ آخری نبی او د پیغمبرانو سردار صلی اللہ علیہ وسلم را اولیگلو۔ پہ دوی کښ ئے ھغہ علماء او امامان پیدا کړل ۔ چہ سرہ د دے چہ دوی پیغمبران خونۀ دی۔ خو د انبیاء کرامو کارونہ ئے ډیر پہ خشتہ طریقے سرہ سرتہ وورسول ۔ داسے خلیفگان دَ نبی علیہ السلام نہ پس دَ امت مشران جوړ شو چہ ھغوی تولے دنیا تہ اخلاق او دَ سیاست اصول اوښودل ۔ دے امت تہ ھم د جهاد حکم اوشو۔ د عمالقہ پہ مقابلہ کښ نہ ۔ بلکہ دَ زمکے دَ تولو جبارینو مقابلہ کښ ۔ صرف دَ شام دَ زمکے د فتحہ کولو د پارہ نہ۔ بلکہ پہ مشرق او مغرب کښ دَ اللہ تعالیٰ دکلمے د پورتہ کولو د پارہ۔ او دَ فتنے جرړے پریکولو د پارہ ۔ بنی اسرائیلو سرہ خدائے پاک دَ مقدسے زمکے وعدہ کړے وہ۔ خو دے امت سرہ ئے دا وعدہ فرمائیلے دہ ۔

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا (النور)

کہ بنی اسرائیل موسیٰ علیہ السلام پہ جهاد کښ دَ شاہ کولو نہ منعہ کړے وو۔ نو دے امت تہ ھم اللہ تعالیٰ دغہ رنگ خطاب کړے دے ۔ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ (انفال)

انجام دا شو چہ د حضرت موسیٰ علیہ السلام ملگری خو د عمالقہ نہ اوویریدل تردے چہ وے وئیل :

اذھب انت وربک فقاتلا انا ھھنا قاعدون ۔

تۀ او ستا پروردیگار لاړشئ ۔جنگ ووکړئ مونږ بہ دلتہ ناست یو۔ خو دَ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم ملگرو ووئیل چہ پہ خدائے قسم کہ چرے تہ د سمندر پہ چپو کښ د ور ننہ کیدو حکم ووکړے نو پہ سمندر کښ بہ مونږ ورتوپ کوؤ۔ او یو سړے بہ ھم ځمونږ نہ پاتے نۀ شی ۔ امید دے چہ اللہ تعالیٰ بہ تاسو تہ ځمونږ دَ طرفنہ ھغہ خبرہ ښکارہ کړی چہ ھغے سرہ بہ ستاسو سترگے یخے شی ۔ مونږ دَ خپل پیغمبر پہ ملگرتیا

کښې د هغوی نه ښې طرفته ، ګس طرفته ، مخکښې او روستو هر طرفته جهاد کوؤ ، د خدائے په فضل سره مونږ هغه نۀ یو چه حضرت موسیٰ علیه السلام ته ئے وئیلے وو چه " اِذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ " هم د دے نتیجه ده چه څومره موده بنی اسرائیل په وادی تیه کښې ورک ګرزیدل ـ دهغے نه په کمه موده کښې دَ محمد صلی الله علیه وسلم ملګرو په مشرق او مغرب کښې دَ هدایت اود ارشاد جنډه خخه کړه (رضی الله عنهم ورضوا عنه ذالک لمن خشی ربه)(تفسیر عثمانی)

وادی تیه

چه په کومه وادئ کښې بنی اسرائیل څلویښت کاله ورک ګرزیدل دهغے فاصله څومره وه ؟ ـ او محل وقوع ئے څۀ وه ؟ هغوی به څنګه صبا روانیدل او ماښام به هم هغه ځائے ته رارسیدل ، هغوی چه جهاد پریښودو اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ئے اووے نو څنګه څلویښتو کالو پورے الله تعالیٰ هغوی په ځائے کښینول چه روان به وو خود ځائے نه به وړاندے کیدے نه شو ـ د دے نا اشنا واقعاتو دپاره وګورئ (البحرالمحیط)

فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ

فلا تحزن علیهم لانهم فاسقون (المدارک)

یعنی په دوی باندے مۀ غمژن کیږه ځکه چه دا نافرمانه خلق دی۔

بعضے مفسرینو لیکلی دی چه حضرت موسیٰ علیه السلام ته په خپلے دعاء باندے افسوس اوشو۔نو د هغوی دَ افسوس ختمولو دپاره ورته داسے اووئیلے شو(البحرالمحیط)

تاسو اولیدل ؟ چه د جهاد دَ پریښودو ګناه څومره سخته ده ـ چه د هغوی په حالت باندے د افسوس کولو نه هم بندیز اولګیدۀ ـ

عجیبه نکته

مخکښې تیرشوے دی چه حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه په دے آیتونو کښې اهل کتابو ته تلقین شوے دے چه دوی دے پخوانئ غلطئ دوباره نۀ کوی او اوس دے په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے ایمان راوړی ـ ګنی بیا به دوی په کفر او ګمراهئ کښې ورک پاتے شی ـ او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ملګری به کامیاب شی ـ اهل کتابو خاص کر یهودیانو د حسد په وجه دَ نبی پاک صلی الله علیه وسلم نه انکار اوکړو۔ په دے وجه د دے آیتونو نه پس دَ حسد په مذمت باندے یوه قصه قرآن

پاک بیان کړه ۔ حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی " مخکښ ئے هم په دے باندے د هابیل قابیل قصه واؤروله چه حسد مهٔ کوئ حسد والا مردود دے ۔ (موضح القرآن)

د مجاهدینو د پاره نمر ادریدو

تفسیر جلالین کښ دی :۔

روی انهم یسیرون اللیل جادین فاذا اصبحوا اذا هم فی الموضع الذی ابتدأوا منه ویسیرون النهار کذالک حتی انقرضوا کلهم الا من لم یبلغ العشرین وقیل وکانوا ستمائة الف ومات هارون وموسیٰ (علیهما السلام) فی التیه وکان رحمة لهما وعذابا لاولئک سئل موسیٰ ربه عند موته أن یدنیه من الأرض المقدسة رمیة بحجر فأدناه کما فی الحدیث (الذی رواه مسلم) ونبیء یوشع بعد الاربعین وامر بقتال الجبارین فسار بمن بقی معه وقاتلهم وکان یوم الجمعة ووقفت له الشمس ساعة حتی فرغ من قتالهم وروی احمد فی مسنده حدیث ان الشمس لم تحبس علی بشر الا لیوشع لیالی سار الی بیت المقدس . (تفسیر الجلالین)

یعنی روایت کښ راغلے دی چه بنی اسرائیل به توله شپه روان وو۔ چه کله به صبا شو نو هم په هغه ځائے به ؤو کوم ځائے نه چه به دوی روان شوے وو۔ او د ورځے به هم دغه شان روان وو۔ تردے چه هم دغه شان په تلو تلو کښ ټول مړهٔ شول ۔سوا د هغے نه چه عمرئے د شلو کالو نه کم وو۔ وئیلے کیږی چه د دوی شمار شپږ لاکهه وو۔ د حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام وفات هم په دغه وادئ کښ شوے دے دا ددے دواړو حضراتو د پاره رحمت وو۔ اود قوم د پاره عذاب۔ حضرت موسیٰ علیه السلام د مرګ په وخت کښ دعاء ووکړه چه الله تعالیٰ ئے دغه پاکے زمکے ته دومره نزدے کړی چه څومره دَ غشی دَ ویشتو هومره فاصله وی ۔نو الله تعالیٰ هغه دومره نزدے کړو څنګه چه په حدیث شریف کښ د مسلم شریف په روایت سره راغلے دی ۔او څلویښت کاله پس حضرت یوشع علیه السلام ته نبوت ملاؤ شو ۔ اودوی ته دَ جبارینو خلاف د جهاد حکم ورکړے شو۔ دوی پاتے بنی اسرائیل ځان سره کړل ۔ اود جبارینو خلاف ئے جهاد ووکړو داد جُمعے ورځ وه ۔ په دغه ورځ نمر دهغوی د پاره لګ ایسار شو۔ تردے چه دوی دَ جنګ نه اوزګار شو۔امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښ حدیث روایت کړے دے چه نمر دیو انسان د پاره هم نهٔ دے ایسار شوے سوا دَ حضرت یوشع علیه السلام نه په هغه شپو کښ چه هغوی پکښ بیت المقدس طرفته تلل۔


يو بل روايت

واخرج عبدالرزاق والحاكم وصححه قوله صلى الله عليه وسلم ان نبيا من الانبياء قاتل اهل مدينة حتى اذا كاد ان تفتحها خشي ان تغرب الشمس فقال ايتها الشمس انک مامورة وانا مامور بحرمتی عليک الا وقفت ساعة من النهار قال: فحبسها الله تعالىٰ حتى افتتح المدينة (قرة العينين)

يعنى امام عبدالرزاق او امام حاكم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د افرمان روايت كړے دے ۔ چه د پيغمبرانو نه يو پيغمبر ډَيو ښار د خلقو سره جهاد كولو۔ چه كله هغه د ښار فتحه كولو ته نزدے شو نو هغهٔ ته ويره شوه چه نمر غورزيدو والا دے ۔نو هغهٔ اووئيل! اے نمره ؛ تهٔ هم د الله تعالىٰ د حكم پابند ئے او زهٔ هم د هغهٔ د حكم پابند يم۔ تاته دے زما دَعزت روى وى چه څهٔ وخت د پاره ايسار شه ۔نو وے فرمائيل چه الله تعالىٰ نمر ايسار كړو تردے چه هغه ښار فتحه شو۔

فائده

دجهاد په ذريعے سره زمكه دَ كفر ، شرک او ظلم نه پاكيږى او په دے كښ د الله تعالىٰ كلمه ووچتيږى په دے وجه نمر ۔سمندر ۔ غرونه او د الله تعالىٰ تول مخلوق د مجاهدينو سره ملګرتيا كوى ۔ څنګه چه په هره زمانه كښ شوے دى ۔ او انشاء الله په هره زمانه كښ به كيږى ۔(والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ الْمَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۳۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْۤا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ وَجَاهِدُوْا

اے دَ ایمان خاوندانو ویره ووکړئ د الله تعالیٰ نه۔ او وولټوئ هغهٔ ته وسیله۔ او جهاد ووکړئ

فِيْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۵﴾

د هغهٔ په لار کښ چه تاسو کامیاب شئ۔

نچوړ

ایمان والا کهٔ چرے دَ الله تعالیٰ نه پوره کامیابی غواړی نو دوی دے تقویٰ اختیار کړی۔ یعنی د الله تعالیٰ د نافرمانئ نه دے ځان بچ کړی۔ اود الله تعالیٰ قرب پسے دے اوګرزی یعنی د هغهٔ په احکاماتو باندے دے عمل اوکړی۔ اودَ هغهٔ په احکاماتو کښ دے خاص طور د جهاد فی سبیل الله خیال اوساتی۔ بیا به دوی ته پوره کامیابی ملاویږی۔ (او پوره کامیابی د الله تعالیٰ رضا مندی اودَ دوزخ نه بچ کیدل دی)۔

اقوال او حوالے

❶ مخکښ آیتونو کښ د هغے خلقو ذکروو چه د الله تعالیٰ اود هغهٔ رسول ﷺ سره جنګ کوی۔ او په زمکه باندے فساد خوروی۔ په دے آیت کښ د هغے ایمان والاؤ ذکر دے چه د الله تعالیٰ اود هغهٔ دَ رسول ﷺ د پاره جهاد کوی۔ اودَ هغهٔ قرب حاصلولو کښ لګیاوی محنت کوی۔ جهاد په خپله هم الله تعالیٰ ته د رسیدو اود هغهٔ دَ قرب حاصلولیوه دَ ټولو نه غوره ذریعه ده۔ په دے وجه په "وسیله" کښ هم جهاد موجود دے۔ او دا هغه جنګ دے چه د الله تعالیٰ د طرفنه د دے اجازت دے۔ او په دے جنګ سره په زمکه باندے امن قائمیږی۔ دین ته مضبوطتیا اوشریعت ته حفاظت ملاویږی داسے شوه لکه چه دَ حرام او ناجائزه جنګ نه پس ئے حلال او غوره جنګ بیان اوکړو۔

امام ابو حیان رحمه الله لیکی

ولما كانت الآية ﴿اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ﴾ نزلت في العرنيين والكلبيين اوفي اهل الكتاب

الیهود او فی المشرکین علی الخلاف فی سبب النزول وکل هؤلآء سعی فی الارض فساداً نص علی الجهاد وان کان مندرجًا تحت ابتغاء الوسیله لان به صلاح الارض وبه قوام الدین وحفظ الشریعة فهو مغایر لامر المحاربة اذ الجهاد محاربة ما ذون فیها وبالجهاد یدفع المحاربون. (البحر المحیط)

❷ دمخکښې رکوع په آخر کښې د هغې خلقو د دنیاوی او اخروی سزا بیان شوے وو چه کوم د الله تعالیٰ سره اود هغهٔ د رسول سره جنګ کوی او په ملک کښې بدامنی او فساد خوروی ـ په دے رکوع کښې ئے مسلمانان د هغے سزاګانو نه وویرول او ورته ئے ښکاره کړه چه کله هم بدبخته خلق د خدائے تعالیٰ اود هغهٔ د رسول سره جنګ کوی نو تاسو دَ خدائے پاک اود هغهٔ د رسول طرفته کیږئ او جهاد کوئ ـ هغوی کهٔ په زمکه باندے فساد خوروی نو تاسو په خپل کوشش او خشته عمل سره د امن او دسکون قائمولو فکر کوئ ـ (تفسیر عثمانی)

جهاد یو جامع عبادت دے

ګنړو مفسرینو د دے آیت په تفسیر کښې دا نکته بیان کړے ده ـ چه د الله تعالیٰ ټول احکامات په دوه قسمه کښې راګیر دی ـ

❶ د بدو خبرونه بچ کیدل ❷ په ښو خبرو باندے عمل کول ـ (ترک المنهیات وفعل المامورات) بدے خبرے هغه دی چه هغے نه شریعت منعه کړے ده ـ او ښے خبرے هغه دی چه د هغے شریعت حکم کړے دے ـ په دے آیت کښې ایمان والؤ ته د دے دواړو خبرو حکم ورکړے شوے دے ـ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ـ اے د ایمان خاوندانو اتَّقُوا اللّٰهَ د الله تعالیٰ نه وویریږئ ـ

د تقویٰ اوپرهیزګارئ معنیٰ د الله تعالیٰ نافرمانی پریخودل دی ـ یعنی د خرابو خبرو نه بچ کیدل دی وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ او د الله تعالیٰ قرب پسے ووګرزئ ـ اود الله تعالیٰ قرب د هغهٔ په احکاماتو باندے عمل کولو سره نصیب کیږی یعنی په ښو خبرو باندے عمل کولو سره ـ

د تقویٰ اود وسیلے د حکم نه پس ئے سمدستی ووئیل وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ او جهاد کوئ د الله تعالیٰ په لار کښې معلومه شوه ـ چه په جهاد کښې تقویٰ هم ده ـ او وسیله هم ده ـ بلکه جهاد د تقویٰ د ټولو نه اوچت مقام اود وسیلے دټولو نه غوره صورت دے ـ

چه کله یو مسلمان ته جهاد فی سبیل الله نصیب شی ـ نو دا دَ هغهٔ دکامیابئ علامه وی ـ په دے وجه ئے په آخر کښ اوفرمائیل تَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ چه تاسو کامیاب شئ ـ نو جهاد فی سبیل الله داسے بندگی ده چه په دے کښ تقویٰ (ترک منهیات) هم ده ـ او وسیله (فعل المامورات) هم ده ـ (والله اعلم بالصواب) ـ

د قوت استعمال او جنګ صرف په جهاد کښ جائز دے

امام ابو حیان رحمه الله په دے موقع دا یوه بهترینه نکته بیان کړے ده ـ

وایضا ففیه تنبیهٔ علیٰ انه یجب ان تکون القوة والبأس الذی للمحارب مقصوراً علی الجهاد فی سبیل الله تعالیٰ وان لا یضع تلک النجدة التی وهبهاالله له للمحاربة فی معصیة الله تعالیٰ. (البحرالمحیط)

په دے آیت کښ په دے خبره باندے تنبیه هم ده چه دَ جنګجو سړی سره کوم قوت او جنګی صلاحیتونه وی په هغهٔ لازم دی چه دغه قوت او صلاحیتونه په جهاد فی سبیل الله پورے محدود ووساتی اود الله تعالیٰ ورکړے شوے د بهادریٔ دا صفت د الله تعالیٰ د نافرمانیٔ والا جنګونو کښ ضائع نهٔ کړی ـ

(یعنی د انسان د غضبی قوت او د بهادریٔ د استعمال بهترین ځائے جهاد فی سبیل الله دے ـ)

په جهاد سره دَ ډاکوانو خاتمه

په تیر شوے آیتونو کښ د هغے کسانو او قومونو تذکره ده ـ چه ډاکے اچوی او د هغے نه پس سمدستی د جهاد فضیلت او د هغے حکم بیان شوے دے ـ تفسیر بحر محیط کښ دا جمله راغلے ده ـ وبالجهاد یدفع المحاربون او د جهاد په ذریعے سره د ډاکوانو او د جنګ کوونکو مقابله کیږی ـ په دے کښ دا اشاره هم کیدے شی چه د دنیا ډاکوان او لارے شوکوونکی قومونه چه کله هم په زمکه باندے د فساد خورولو د پاره راوځی ـ نو مسلمانان دے د هغوی د شر نه د مخلوق د بچ کولو د پاره جهاد فی سبیل الله اوکړی ـ او د دے په ذریعه دے دَ الله تعالیٰ په نزد کامیابی حاصله کړی ـ او د جهاد دا عمل دے عبادت اود الله تعالیٰ د قرب ذریعه اوګڼړی چه د پوره اهمیت سره دوی په دے کښ مشغول وی اود زمکے اصلاح اوکړی ـ د یورپ قومونو ډاکه خپله پیشه جوړه کړه او زمکه ئے د ظلم اود فساد نه ډکه کړه کیدے شی چه په دے آیت

مبارک کښې داسې حالاتو طرفته اشاره وی ۔ (واللہ اعلم بالصواب)

د مخکښې آیت سره جهادی ربط

په تیرشوې آیت کښې ئې فرمائیلې وو چه انسان د الله تعالیٰ نه په ویریدو کښې ۔او د الله تعالیٰ د قرب په حاصلولو کښې او د هغهٔ په لار کښې په جهاد کولو کښې د فلاح او کامیابئ امید ساتلې شي ۔ په دې آیت کښې ئې خبردارې ورکړو۔ چه کومو خلقو د الله تعالیٰ نه مخ اړولې دې هغوی کهٔ چرې په آخرت کښې د زمکې په سر تولې خزانې بلکه د دې نه هم زیاتې خرچ کړي او په بدله کښې ئې الله تعالیٰ ته ورکوی چه د عذاب نه خلاص شي خو دا به نهٔ شي کیدې ۔ غرض دا چه د هغه ځائې کامیابی په "تقویٰ" "د وسیلې په تلاش" او په "جهاد فی سبیل الله" سره حاصلیږی۔ په رشوت او فدیې سره نهٔ شي حاصلیدې ۔ (تفسیر عثمانی)

د تولو نه غوره ترجمه

بعضې د اردو تفسیرونو کښې ئې د " وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ " معنی ډیره وسیعه او فراخه کولو کوشش کړې دې ، حالانکه د " تقویٰ " اود "ابتغائے وسیله " غوندې الفاظو دشتهٔ والی نه پس داسې څهٔ شې باقي پاتې کیږی ۔ چه د هغې د شاملولو د پاره جهاد نه جدوجهد جوړولې شي ؟

د آیت مبارک د تولو نه غوره ترجمه او مستند ه ترجمه دَ شاه عبدالقادر صاحب رحمه الله په الفاظو کښې وړاندې ده۔" اې د ایمان خاوندانو! ویره کوئ د الله تعالیٰ نه او هغهٔ ته وسیله پیدا کړئ او جنګ ووکړئ د هغهٔ په لاره کښې ۔شاید چه ستاسو ورغ بنهٔ شي ۔ (موضح القرآن)


په دې ترجمې سره د وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ حقیقی معنیٰ بالکل واضحه شوې ده الحمدلله رب العٰلمین ۔

نکته

حضرت لاهوری رحمه الله لیکی

د یهودیانو حالت مخکښې په دوؤ رکوع کښې ذکر شوې دې چه دوی شهزادګان اودَ پیغمبرانو اولاد وو خو بیا هم دوی خپلو مخالفینو ته مخامخ کیدې نهٔ شو۔ اود

جنګ قوت به ئے په خپل مینځ کښ خرچ کولو ـ اوس مسلمانانو ته خاص طور تنبیه ورکیږی اود دے مرض علاج په دے آیت کښ بیان کړے شوے دے چه هریو کس دے په خپله ذاتی زندګئ کښ قرب الی الله خپل مقصد ووګرزوی ـ بلکه په اجتماعی زندګئ کښ دے هم قرب الی الله پسے ووګرزی ـ اوهم هغه کس دے خپل امام جوړکړی څوک چه د ټولو نه زیاته قربانی دَ حق په لاره کښ ورکولے شی ـ اودَ شهواتو او رذائلو نه پاک وی ـ (حاشیهٔ حضرت لاهوری رحمه الله) ـ



سُوْرَةُ الْمَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۵۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَ النَّصٰرٰۤى اَوْلِيَآءَ ۘ

اے د ایمان خاوندانو! تاسو مۀ جوړوئ یهود او عیسایان دوستان ـ دوی کښې بعضے دوستان دی دَ

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ وَ مَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ ؕ اِنَّ

بعضو ـ او څوک چه دوستي کوی د دوی سره په تاسو کښې ـ نو یقینا دغه کس د دوی نه دے ـ یقین

اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾

ووکړه چه الله تعالیٰ ظالم قوم ته هدایت نۀ کوی ـ

نچوړ

د ایمان والاؤ د پاره جائز نۀ دی چه دوی د الله تعالیٰ دښمنان یهودیان او عیسایان خپل دوستان جوړ کړی ـ یهودیان او عیسایان په کفر کښې او د مسلمانانو په دښمنئ کښې د یو بل سره یاران او مدد ګاران دی ـ څوک چه هم د یهودیانو او نصرانیانو سره یاری کوی ـ هغه به په هغوی کښې حسابیږی ـ او یهودیانو او عیسایانو سره دوستئ کولو والا ظالمانو ته هدایت نۀ ملاویږی۔

شان نزول

د آیت مبارک په شان نزول کښې ګڼ اقوال دی ـ

❶ د منافقانو متعلق نازل شوے دے ـ هغوی به د یهودیانو او عیسایانو سره یاری کوله۔ او هغوی ته به ئے د مسلمانانو رازونه ښودل۔ (قرطبی)

❷ د هغے کمزورو مسلمانانو په باره کښې نازل شوے دے۔ چا چه د احد د غزا د ظاهری شکست نه پس دا اراده کړے وه چه آئنده د امن د پاره د کافرانو سره مذاکرات او دوستی پکار ده ـ (قرطبی)

❸ امام غزالی رحمه الله لیکی :۔

وروی ان عبادة بن الصامت جاء الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فتبرأ من موالاة الیهود فقال عبدالله بن ابی :. لکنی لا اتبرأ منهم لانی اخاف الدوائر فنزلت هذه الآیة .

یعنی روایت دے چه عباده بن صامت رضی الله تعالیٰ عنه حضور اقدس صلی

الله علیه وسلم ته راغے اود یهودیانو د دوستئ نه ئے بیزارتیا ښکاره کړه۔ نو عبدالله بن ابی اووئیل چه څۀ د دوی نه ویزاره کیدے نۀ شم ځکه چه څۀ دَ زمانے د ګردش نه ویریږم ۔ په دے باندے دا آیت نازل شو (التفسیر الکبیر)

❷ یو قول دا هم دے چه دا آیت د حضرت ابولبابه رضی الله تعالیٰ عنه په باره کښ نازل شوے دے ۔ (القرطبی ۔ البحر المحیط)

د آیت موضوع

❶ ینهی تبارک وتعالیٰ عباده المومنین عن موالاة الیهود والنصاریٰ الذین هم اعداء الاسلام واهله قاتلهم الله ثم اخبر ان بعضهم اولیآء بعض ثم تهدد وتوعد من یعاطی ذالک فقال وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ (ابن کثیر)

الله تعالیٰ خپل مومنان بندګان دَ یهودیانو او نصرانیانو د دوستئ نه منعه کوی چه هغوی د اسلام اودَ مسلمانانو دشمنان دی ۔ الله تعالیٰ دے دوی هلاک کړی ۔ بیا الله تعالیٰ خبردارے ورکړو چه دوی د یو بل دوستان او مددګار دی۔ او بیا ئے سخته تنبیه او سخت وعید اوفرمائیلو چه څوک د دوی سره یاری کوی هغه به د دوی نه شمار وی ۔

❷ نزل نهیا عن موالاة اعداء الدین ای لا تتخذوهم اولیاء تنصرونهم وتستنصرونهم وتؤاخونهم وتعاشرونهم معاشرة المومنین (المدارک) ۔

دا آیت د الله تعالیٰ د د شمنانو سره دَ یارئ کولو نه د منعه کولو دپاره نازل شوے دے ۔ یعنی دوی داسے دوستان مۀ جوړوئ چه تاسو د دوی مدد اوکړئ ۔ اود دوی نه مدد اوغواړئ ۔ اودوی سره د ورورولئ تعلقات مه ساتئ او دوی سره دَ مسلمانانو په شان غم ښادی مۀ شروع کوئ ۔

اقول او حوالے

❶ د یهودیانو او عیسایانو عادتونه به تاسو راؤغورزوی

د یهودیانو او نصارانیانو سره خپلے دوستانے او تعلقات ختم کړئ۔ ګنی نو ناستے پاستے په وجه به د هغوی اخلاق او عادات په تاسو کښ راشی او تاسو به هم ووغورزیږئ ۔(حاشیه حضرت لاهوری رحمه الله)

۲ کفر او شرک یو نه بل ته لګیدونکے مرض دے

هر کله چه د الله پاک نافرمانی کول او فسق وفجور او کفر او شرک یو روحانی مرض دے ۔ چه ډیر کرتے د داسے قسمه خلقو سره د زړهٔ د تعلق لرلو په وجه یو بل ته لګی ۔ په دے وجه ئے د یهودیانو او د عیسایانو خرابئ ذکر کړے او هغوی سره ئے د داسے تعلق لرلو نه منعه اوکړه چه هغه د زړهٔ په محبت سره وی ۔ (تفسیر حقانی)

۳ څو مره تعلق جائز او څو مره ناجائز دے؟

اولیاء د ولی جمع ده "ولی" دوست ته هم وائی ۔ رشته دار ته هم وائی ناصر او مددګار ته هم وائی ۔غرض دا دے چه یهودیانو او عیسایانو بلکه ټولو کفارو سره څنګه چه په سورهٔ نساء کښ تصریح شوے ده ۔ مسلمانان به د دوستئ تعلق نهٔ جوړوی ۔ په دے موقعه باندے د دے خبرے لحاظ ضروری دے چه موالات ، مروت ، حسن سلوک ، مصالحت ، رواداری او عدل و انصاف دا ټول جدا جدا څیزونه دی ۔ مسلمانان کهٔ غواړی نو د هر کافر سره د مصلحت لاندے صلح او معاهده په شرعی طریقه سره کولے شی ۔ وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ (انفال ۶۱)

دعدل او انصاف حکم څنګه چه د تیر شوے آیتونو نه معلوم شوے دے ۔ د مسلمان او کافر اودَ هر فرد بشر (یعنی د هر انسان) په حق کښ برابر دے ۔ "مروت" او "ښهٔ سلوک" یا "رواداری" د هغے کافرانو سره کیدے شی چه د اسلام د جماعت سره ئے دشمنی او عناد نهٔ وی ښکاره کړے ۔ څنګه چه په سورهٔ ممتحنة کښ ښکاره راغلے دی ۔ پاتے شو "موالات" یعنی دوستانه اعتماد او د یو بل سره د مدد کولو ورورولی ۔ د دے خو یو مسلمان ته هم حق نشته دے چه د یو غیر مسلم سره دے دا قسمه تعلق اوساتی ۔ البته دَ موالاتو شکل جوړول کوم چه د إِلَّا أَن تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً لاندے راځی او داسے عام تعاون چه د هغے د اسلام اودَ مسلمانانو په پوزیشن باندے څهٔ اثر نهٔ غورزیږی۔ د دے اجازت شته دے ۔ (تفسیر عثمانی)

۴ هغوی دَ مسلمانانو خلاف ټول یو ځائے دی

☆ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وکلهم اعداء المؤمنین وفیه دلیل ان الکفر ملة واحدة . (المدارک)

یعنی هغوی ټول دَ مسلمانانو د شمنان دی ۔ په دے کښ د دے خبرے دلیل دے چه کفر یو ملت دے ۔

☆ یعنی د مذهبی فرقه بندئ اود اندرونی بغض او دشمنئ باوجود د یوبل سره دوستانه تعلقات ساتی۔ یهودی د یهودی او عیسائی دَ عیسائی دوست جوړیدے شی او د اسلام دَ جماعت په مقابله کښې ټول کفار د یوبل دوستان او مددګار جوړیږی۔ (تفسیر عثمانی)

☆ مطلب دا شو چه یهودی د یهودی سره او عیسائی د عیسائی سره خو دوست خامخا جوړیدے شی ۔ باقی د یهودیانو او نصرانیانو په مینځ کښې هم څۀ ډیر څۀ مناسبت شته دے ۔کم ازکم دا چه د اسلام اودَ مسلمانانو په دښمنئ باندے دواړه یو بل سره یو دی ۔ د دوی په خپل مینځ کښې کۀ چرے ستاسو خلاف ساز باز ووشی۔ نو څۀ د تعجب خبره نۀ ده ۔ خو تاسو چه د ایمان خاوندان یئ ۔نو ستاسو اود قرآن نه د منکرو خلقو په مینځ کښې څۀ مناسبت دے او څۀ اشتراک کیدے شی۔؟ (تفسیر ماجدی)

۵ چه کوم د هغوی یار دے ۔ هم هغوی کښې شمار دے

☆ قال ابن عباس فَإِنَّهُ مِنْهُمْ فی حکم الکفر ای ومن یولهم فی الدین وقال غیره : ومن یولهم فی الدنیا فانه منهم فی الأخرة . (البحر المحیط)

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : چه څوک دوی سره یاری کوی هغه به دَ کافر کیدو په حکم کښې هم دوی سره شماروی ۔نو د یارئ کولو نه مراد به په دین کښې یاری کول وی ۔ او نور مفسرین حضرات فرمائی ۔ چه د آیت مطلب دا دے چه څوک دوی سره په دنیا کښې یاری کوی هغه به په آخرت کښې هم د دوی سره وی ۔

☆ من جملتهم وحکمه حکمهم وهذا تغلیظٌ من الله وتشدید فی وجوب مجانبة المخالف للدین (المدارک)

یعنی چه څوک د دوی سره یاری کوی ۔ هغه به هم د دوی نه یو فرد حسابیږی او د هغۀ حکم به هم د دوی پشان وی ۔ دا دَ الله تعالیٰ د طرفنه د دین د مخالفینو سره د دوستئ نه ډیره تاکیدی اوسخته منعه ده ۔

٦ دوستی هله وی چه کله په زړۀ کښې عظمت وی

د غیرو۔ پردو او دَ الله تعالیٰ د دښمنانو سره بالکل دوستی کیدلے نۀ شی چه تر کومے پورے د مخکښې نه د هغوی د عظمت یا د محبت نقش په زړۀ کښې جوړ شوے

نۀ وی ۔ او مسلمان څۀ نا څۀ د خپل پوخ والی نه کچه شوے نۀ وی ۔ د خپل قومی شکل او دَ ملت دَ خود اعتمادئ دپاره ضروری ده چه د مسلمانانو دوستانے او رازداری او د رورولئ تعلقات د غیر مسلمو سره منعه کړے شی ۔ داد روزانه مشاهده ده۔ چه کوم خلق د دین د د شمنانو سره جوړ تعلق او ناسته ولاړه زیاته لری ۔ د هغوی نه د دین پوهه او په دین باندے پوخوالے او ملی غیرت تختی ۔

په حدیث نبوی کښ د نورو قومونو د وضع او د لباس اختیارولو نه ۔او د هغوی سره د مشابهت اختیارولو نه چه کومه منعه راغلے ده ۔ که هغه هم د دے حکمتونو او مصلحتونو په بنیاد راغلے وی نو څۀ ناشنا خبره نۀ ده ۔ (تفسیر ماجدی)

۷ د کافرانو سره یاری دَ هدایت نه محرومی

"یعنی خوک چه د اسلام د دشمنانو سره دوستی اوکړی۔ او په خپله په خپلو ځانونو باندے او په مسلمانانو باندے ظلم کوی۔ اود اسلام د جماعت دَ مغلوب کیدو انتظار کوی د داسے بدبخته ، ضدی او دهوکه باز قوم په باره کښ دا امید نۀ شی کیدلے چه دوی به چرته د هدایت په لاره باندے راشی ۔ (تفسیرعثمانی)۔

☆ لایرشدالذین ظلموا انفسهم بموالاة الکفرة . (المدارک)

الله تعالیٰ لاره نۀ ښائی هغه خلقو ته چه د کافرانو سره د یارئ کولو په وجه ئے په خپل ځان ظلم کړے دے ۔

نکته

چه څوک د اسلام د دښمنانو سره جنګ ووکړی۔ او شهید شی۔ قرآن پاک هغه تۀ ژوندے او کامیاب وائی ۔ او چه څوک د کافرانو سره یاری کوی هغۀ ته په خپل ځان باندے ظلم کولو والا وائی ۔ بے شکه قرآن پاک رښتیا وائی ۔ الله تعالیٰ دے مونږ تولو مسلمانانو ته د دے پوهه رانصیب کړی ۔ (آمین یا ارحم الراحمین) ۔

☆☆☆

سُورَةُ المَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۵۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ

نو ته به وینے هغه خلق چه د هغوی په زړونو کښې بیماری ده چه ډیر په تیزئ ورځی هغوی ته ـ وائی

نَخْشٰۤى اَنْ تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ ؕ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ اَوْ

دوی مونږه ویریږو چه راؤبه رسیږی مونږه ته د زمانے گردش ـ نو کیدے شی چه الله تعالیٰ راولی فتحه

اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ

یا یو حکم د خپل طرفنه ـ نو شی به دوی په هغه خبره باندے چه دوی ئے پټه ساتی په خپلو زړونو

نٰدِمِيْنَ ﴿۵۲﴾

کښې شرمنده ـ

نچوړ

چه د چا په زړونو کښې نفاق دے ـ هغوی په منډو منډو د یهودیانو او عیسایانو په غیرو کښې د ځائے پیدا کولو کوشش کوی ـ او په منډه منډه د هغوی مدد کوی ـ او وجه دا ښائی چه مونږه د خرابو حالاتو د پیښیدو د ویرے داسے کوؤ ـ خو چه کله الله تعالیٰ مسلمانانو ته څۀ فتحه ورکړی یا د خپل قدرت څۀ نورے معاملے ښکاره کړی نو دا منافقین به په خپلو خیالاتو باندے ستومانه شی ـ

۱ اقوال او حوالے

د مرض نه مراد نفاق دے

☆ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ (المدارک)

یعنی د دوی په زړونو کښې د نفاق بیماری ده ـ

☆ شک ونفاق: د دوی په زړونو کښې شک او نفاق دے ـ (القرطبی)

۲ دیارئ او د مدد دپاره منډے وهل

☆ يُسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ في معاونتهم على المسلمين وموالاتهم . (المدارک)

یعنی په منډو منډو دمسلمانانو خلاف مدد کوی او د یوبل نه په یاریٔ پخولو کښې وړاندے کیږی

۳ دیاریٔ یوه وجه اقتصادی ترقی

☆ یُسَارِعُوْنَ فی مودة الیهود ونصاریٰ نجران لانهم کانوا اهل ثروة وکانوا یعینونهم علی مهماتهم ویقرضونهم . (التفسیر الکبیر)

دوی به دَ یهودیانو سره او د نجران د عیسایانو سره د دوستیٔ کولو د پاره ښیے منډیے وهلے۔ ولے چه هغوی مالدار خلق وو۔ هغوی به د دوی د ضروریاتو پوره کولو د پاره دوی سره مالی تعاون کولو۔ او دوی ته به ئے قرضے ورکولے۔

۴ هغوی د دغه زمانے بینکران وو

په مدینه کښې اود مدینے په اړخونو کښې د یهودو حیثیت د لویو سوداګرو۔ صرافانو او د بینکرانو وو۔ اود عربو آبادی به د مال په اعتبار سره په هره سخته کښې او مصیبت کښې د دوی په مدد پسے ګرزیدله۔ (تفسیر ماجدی)

۵ د آیت مبارک یو جامع تفسیر

دا هغه خلق دی چه د دوی په زړونو کښې د شک او د نفاق بیماری ده۔ دوی ته د خدائے تعالیٰ په وعدو باندے اعتماد اودَ مسلمانانو په حقانیت باندے یقین نشته دے۔ په دے وجه ډیر په تادیٔ سره دوی دَ کافرانو په غیږه کښې پناه اخلی دے دپاره چه دوی دَ کافرانو د خیالی غلبے په وخت کښې د هغوی د فتحے نه فائدے حاصلے کړے شی۔ او د دوی په خیال کښې چه کوم آفتونه اودَ زمانے ګردشونه د اسلام په جماعت باندے راتلو والا دی۔ چه دوی د هغے نه بچ شی د نَخْشٰٓی اَنْ تُصِیْبَنَا دَآئِرَةٌ هم دا معنیٰ د دوی په زړونو کښې پټه پرته وه۔ خو چه کله به ئے د پیغمبر علیه السلام اود مخلصو مسلمانانو په مخکښې دا الفاظ نَخْشٰٓی اَنْ تُصِیْبَنَا دَآئِرَةٌ د دوستانے ساتلو د عذر پیش کولود پاره وئیل نو د زمانے د ګردش به ئے دا مطلب ښکاره کولو چه یهودیان زمونږ ساهوکار دی۔ مونږ د دوی نه قرضے مرضے اخلو۔ که د قحط وغیره څهٔ مصیبت راشی نو دوی به زمونږ د دوستانه تعلقاتو په وجه سخت وخت کښې پکار راشی۔ هم

د دے خیالاتو جواب مخکښې راروان دے ۔ یعنی هغه وخت نزدے دے چه الله تعالیٰ خپل نبی علیه السلام ته فیصله کن فتوحات او غلبه ورکړی او مکه معظمه چه دَ ټولو عربو منلے شوے مرکز دے الله تعالیٰ به دے ته هم خپل نبی فاتحانه داخل کړی ۔ یا د دے نه علاوه نورے څۀ معاملے به الله تعالیٰ په خپل قدرت او حکم سره ښکاره کړی ۔ چه هغے ته اوګوری نو دَدے منافقانو ټولے باطلے طمعے به ختمے شی ۔ اودوی ته به ښکاره شی چه د اسلام د دښمنانو سره د دوستئ ساتلو په نتیجه کښې په دنیا کښې د ذلت اورسوائی نه سوا او په آخرت کښې د دردناک عذاب نه بغیر بل څۀ نۀ ملاویږی ۔ چه کله د رسوایئ او د تاوان دا نتیجے مخے ته راشی نو هغه وخت به ارمان کوی۔ اود افسوس لاسونه به مروړی ۔ خو هیڅ فائده به نۀ کوی۔ آلان قد ندمت ولا ینفع الندم . نوبس هم دغه شانتے اوشوه ۔ د اسلام غلبه اودَ مکے مکرمے فتحه وغیره چه ئے اولیدله نو د اسلام دَټولو د ښمنانو حوصلے ووغورزیدلے ۔ ډیر یهودیان ووژلے شول ۔ ډیر دَ وطن نه ووشړلے شو۔ د منافقینو په ټولو امیدونو باندے یخے اوبۀ توے شوے ۔ دَ مسلمانانو مخکښې ښکاره دروغژن شول ۔ د یهودیانو سره د دوستئ چه ئے کوم کوششونه کړے وو۔ هغه ټول بے کاره لاړل ۔ اود دنیاوی تاوان اود همیشه هلاکت هارئے په غاړه شو۔ (تفسیر عثمانی)

❻ د نفاق نه بزدلی پیدا کیږی

چه د چا په زړونو کښې د نفاق مرض دے ۔ هغوی د ویرے نه په قطع تعلق کښې نۀ شاملیږی د نفاق خاصه بزدلی ده اود توحید خاصه جرأت دے ۔(حاشیه حضرت لاهوری رحمه الله)

❼ امر من عنده نه څۀ مراد دے؟

ارشاد اوکړے شو چه الله تعالیٰ به یا مسلمانانو ته فتحه ورکړی یا به د خپل طرفنه څۀ بله معامله ښکاره کړی ۔ نو "د دے بلے معاملے نه" څۀ مراد دے؟ مفسرینو حضراتو یو څو خبرے دلته نقل کړے دی ۔

امام رازی رحمه الله لیکی :۔

معناه او امر من عنده لا یکون للناس فیه فعل البته کبنی النضیر اللذین طرح الله فی قلوبهم الرعب فاعطوا بایدیهم من غیر محاربة ولا عسکر .

یعنی مطلب ئے دا دے چه الله تعالیٰ به داسے معامله ښکاره کړی چه خالص د

هغهٔ د طرفنه به وی او په هغې کښې به د خلقو د عمل دخل بالکل نهٔ وی لکه بنی نضیر چه الله تعالیٰ د هغوی په زړونو کښې ویره واچوله او هغوی بغیر دَ جنګ او لښکر کشئ نه وسله کیخوده ۔ (التفسیر الکبیر) ۔

د بعضے مفسرینو په نزد باندے د اَمۡرٍ مِّنۡ عِنۡدِهٖ نه مراد دا دے چه د منافقینو نومونه به د وحی په ذریعه ښکاره کړی ۔ (کمافی بیان القرآن) ۔



سُورَةُ المَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۵۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ

او وائی به هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے۔ آیا دا هغه خلق دی چه خوړل به ئے په الله تعالیٰ

اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۭ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۵۳﴾

باندے سخت قسمونه چه مونږ ه تاسو سره یو۔ برباد شول عملونه د دوی نو دوی تاوانیان شول۔

نچوړ

چه کله مسلمانانو ته فتحه په لاس ورشی اود منافقانو نفاق ښکاره شی نو مسلمانان به په دے خبره حیران شی ۔ چه دے خلقو خو به څمونږ په مخکښ پے واره قسمونه خوړل۔ او ځان به ئے څمونږ ملګری ښکاره کول۔ (دا خلق څومره دروغژن او منافقان ووختل) دمنافقانو ټول عملونه برباد او په خپله سراسر په نقصان کښ دی ۔

فائده

اصل مفهوم خود "تفسیر په خلاصه" کښ راغے ۔بعضے مفسرینو دا احتمال هم لیکلے دے چه کله مسلمانان ووینی چه منافقان خو په جنګونو کښ د یهودیانو ملګرتیا نهٔ کوی۔ نو دوی په حیرانتیا سره دَ یهودیانو نه پوښتنه کوی چه دے منافقانو خو به قسمونه خوړل او تاسو ته به ئے د خپل مدد یقین درکولو خو چه اوس تاسو وهل خوریٔ نو دوی ستاسو دَ مدد د پاره نهٔ راځی ۔ (البحر المحیط)

د مسلمانانو حیرانتیا

مسلمانان به حیران وی او وائی به چه دے خلقو به څمونږ په ډله کښ دَ شاملیدو پخے دعوے کولے ۔ (حاشیه حضرت لاهوری رحمه اللّٰه)

منافقت ښکاره کیږی

ډیر منافقان په پوره تدبیرا و احتیاط سره د کافرانو ملګرتیا کوی ۔ او ډیر په پټه هغوی له مخبری کوی ۔ او په پټه باندے دَ هغوی تنخواه دار نوکران وی ۔او

مسلمانانو ته نقصان ورکوی ـ ددغه شان ماهرانو او مکارانو منافقانو نفاق پټ وی او مسلمانانو ته دوی خپل پاخۀ ملګری ښکاری ـ ولے چه دا قسمه منافقان په هره موقعه باندے د مسلمانانو مخکښې د خپلے مسلمانئ رباب غګوی اود کافرانو خدمت دوی په پټه کوی ـ

د داسے منافقانو او پټو جاسوسانو پته مسلمانانو ته دَ کافرانو د شکست نه پس په مختلفو ذریعو سره لګی ـ کیدے شی چه په آیت مبارک کښې د دغه شان منافقانو طرفته اشاره وی ـ (والله اعلم بالصواب)



سُوْرَةُ الْمَائِدَةِ مَدَنِيَّة آيت ٥٤

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ

اے مؤمنانو! څوک چه مرتد شي په تاسو کښې د خپل دین نه۔ نو زر به راولي الله تعالیٰ یو داسے قوم چه

يَاْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَ يُحِبُّوْنَهٗۤ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

الله تعالیٰ به محبت کوی هغوی سره او هغوی به محبت کوی د هغهٔ سره۔ نرم به وی مومنانو ته

اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ

زورآوره به وی په کافرانو۔ جنګ به کوی د الله تعالیٰ په لار کښې۔ او نهٔ به ویریږی د ملامت ویونکی دَ

لَوْمَةَ لَآئِمٍ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ

ملامتیا نه۔ دا فضل د الله تعالیٰ دے ورکوی ئے هغه چاته چه چاته ئے خوښه شي۔ او الله تعالیٰ فراخه دے

وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾

دلوے علم خاوند دے۔

نچوړ

دیو "مسلمان" په مرتد کیدو د اسلام هیڅ نقصان نه کیږی۔ او نهٔ به د اسلام کاربند شي بلکه الله تعالیٰ به د دے مرتدو په ځائے خپل داسے محبوب بندیګان راولی چه د الله تعالیٰ سره به ریښتونے محبت لری هغوی به مومنانو ته نرم او کافرانو ته سخت وی هغوی به د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کولو والاوی او هغوی به د دین او د جهاد په معامله کښې د چا دَ ملامتیا پروا نهٔ کوی۔ په دے خلقو به د الله تعالیٰ فضل وی۔ د الله تعالیٰ خوښه ده چه چا ته ووغواړی خپل فضل ورکوی۔

جامع تفسير

❶ د اسلام د حفاظت او دَ بقا غټه پیشن ګوئی

په دے آیت کښې د اسلام دَ همیشه د پاره د باقی پاتے کیدو او د حفاظت متعلق ډیره غټه پیشن ګوئی شوے ده۔ په وړاندینی آیتونو کښې د کافرانو د دوستئ نه منعه شوے وه۔ کیدے شوه چه د کفارو دَ دوستئ په وجه یو سړے یا یو قوم ښکاره دَ اسلام

نه اوړېدلے وے ـ څنګه چه په " وَمَنۡ يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡ " کښې یادګیرنه شوے ده ـ قرآن شریف په ډیر قوت او صفایۍ سره خبردارے ورکړو. چه داسے خلق کۀ د اسلام نه واؤړی نو صرف خپل نقصان به اوکړی. اسلام ته څۀ ضرر نۀ شي رسولے. حق تعالیٰ بـه د مرتدینو په بدله کښې یا د هغوی په مقابله کښې داسے قوم راولي چه د هغوی به د خدائے تعالیٰ سره عشق وی او خدائے تعالیٰ به د هغوی سره محبت کوی ـ دوی به په مسلمانانو باندے زړۀ سواندي او مهربانه وی ـ او دَ اسلام په دښمنانو به زورآور او کلک وی ـ دا پیشن ګوئی بحول الله وقوته په هر قرن (یعنی په هره زمانه) کښې پوره کیږی ـ د ارتداد لویه فتنه دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس د صدیق اکبر رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کښې بڼوره شوه ـ څو څو قسمه مرتدان د اسلام په مقابله کښې اودریدل خو د صدیق اکبررضی الله تعالیٰ عنه ایمانی جرئت او اعلیٰ تدبر اودَ مخلصو مسلمانانو د اسلام د پاره د سر ورکولو عاشقانه خدماتو سره دا اور مړشو. او ټول عرب ئے یو ځائے کړل اوسر دوباره ئے دَ اسلام اود ایمان په لاره باندے روان کړل.

نن هم مونږ په سترګو باندے وینو چه کله یو څو جاهلان او لالچی افراد د اسلام د حلقے نه ووځی نو د هغوی نه ډیر او د هغوی نه بهتر تعلیم یافته او محققین غیر مسلمولره اسلام په خپل فطری کشش سره ځان ته راکاږی ـ او د مرتدینو د سر وهلو د پاره الله تعالیٰ داسے وفادار قربانۍ والا مسلمانان را ولاړ کړی چه هغوی ته د خدائے پاک په لاره کښې دَ چاد ملامتیا اود پیغور اود بدو وئیلو څۀ پروا نۀ وی ـ د انسان لوے سعادت او په هغۀ باندے دَ خدائے تعالیٰ غټ فضل دا دے چه د فتنے په وخت کښې دے دَ حق په لاره باندے کلک پاتے شي او د نورو خلقو د هلاکت نه دَ بچ کولو فکر ووکړی ـ الله تعالی چه کومو بندګانو ته اوغواړی نو د دے لوی سعادت او غټ فضل نه ورته غټه حصه ورکوی ـ د هغۀ فضل غیر محدود دے او هم هغۀ ته پته لګی چه کوم بنده د دے ښۀ اهل او حقدار دے ـ (تفسیر عثمانی)

❷ د برکت کلام

چه کله دَ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په وفات باندے (څۀ) عربو دین پریښودۀ نو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه دَ یمن نه مسلمانان

راؤغوښتل او هغوی ئے جهاد ته وړاندے کړل۔ تردے چه ټول عرب مسلمانان شول۔ دا دهغوی په حق کښ زیرے دے۔ (موضح القرآن)

۳ چه څوک د کافرانو سره دوستی نهٔ پرېږدی

اے مسلمانانو! که تاسو د الله تعالیٰ حکم پوره نهٔ کړو اودَ خدائے پاک د دښمنانو نه جدا نهٔ شوئ۔ نو الله تعالیٰ به بل جماعت پیدا کړی چه په مومنانو به نرم اود اسلام دَ دښمنانو په حق کښ به سخت وی۔ (د حضرت لاهوری رحمه الله حاشیه)

۴ خطاب د قیامته پورے دے

وابن کعب والضحاک والحسن وقتادة وابن جریج وغیرهم:. نزلت خطابا للمؤمنین عامة الی یوم القیامة.(البحر المحیط)

په دے آیت کښ د قیامته پورے مسلمانانو ته عام خطاب دے (نو دے نه ثابته شوه چه جهاد به تر قیامته پورے جاری وی) ځکه چه په دے آیت کښ د یو داسے جماعت د موجود والی خبر دے چه هغه به جهاد کولو والا وی۔

۵ وړومبی مرتدان

د آیت د ړومبئ جملے نه معلومیږی چه څهٔ خلق به مرتد کیږی۔ او راتلونکی وخت کښ به هم کیږی نودا بدبختی په ړومبی ځل د چا په حصه کښ راغله۔ مفسرینو حضراتو عموما د یؤلسو فرقو ذکر کړے دے۔ په هغے کښ درے فرقے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ۔ اووهٔ فرقے د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کښ او یو د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کښ مرتده شوه۔

د رسول الله ﷺ په زمانه کښ دا درے قبیلے مرتدے شوے۔

❶ مذحج:۔

د دوی دَ سردار نوم اسود عنسی (عبهله بن کعب ذوالخمار) وو۔ دے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه یوه ورځ مخکښ قتل شو۔ حضور اقدس صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم ته د دهٔ دَ قتل خبر ورکړو۔ اود قاتل نوم ئے اوښودلو۔ د دهٔ د قاتل نوم فیروز وو۔ حضور اقدس صلی الله تعالیٰ علیه وسلم دا خبر د وحی په رڼا کښ ورکړے وو۔ کنی عوامی خبر خو د ربیع الاول په آخر کښ مدینے منورے ته رارسیدلے وو۔

❷ بنو حنيفه:
د دوی دَ سردار نوم مسيلمه كذاب وو۔ دے د حضرت ابوبكر صديق رضی الله تعالیٰ عنه په دور كښی دَ حضرت وحشی رضی الله تعالیٰ عنه په لاس باندے قتل شو۔

❸ بنواسد:
د دوی د سردار نوم طليحه بن خويلد وو۔ دوی ته حضرت خالد بن وليد رضی الله تعالیٰ عنه شكست وركړو۔ طليحه ووتښتيدۀ۔ خو وروستو مسلمان شو او بيا مسلمان ووختلو ۔ د دے درے واړو مرتدو ډلو سردارانو په دروغه د نبوت دعویٰ كړے وه۔

اودَ حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه په زمانه كښی دا اووۀ ډلے مرتد شوے وے۔

❶ فزاره: د عيينه بن حصن قوم ۔
❷ غطفان: د قرة بن سلمة القشيری قوم ۔
❸ سليم: دَ فجاة بن عبد ياليل قوم ۔
❹ يربوع: د مالک بن نويره قوم ۔
❺ تميم: (د دے قبيلے بعضے خلق) د سجاح بنت منذر قوم (دے ښځے هم د نبوت دعویٰ كړے وه اود مسيلمه كذاب سره ئے واده كړے وو) ۔
❻ كندة:۔د اشعث قوم ۔
❼ بكربن وائل: (البحرين) د حظم بن يزيد قوم۔

د حضرت ابوبكر صديق رضی الله تعالیٰ عنه په لاس باندے الله تعالیٰ د دے ټولو علاج اوكړو۔

اود حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه كښی د غسان خلق مرتد شو كوم چه د جبله بن ايهم قوم وو۔ جبله مسلمان شوے وو۔ د يو مسلمان ته ئے څپيړه اووهله ۔ د مسلمان د نۀ معاف كولو په صورت كښی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د بدلے اخستلو حكم اوكړو ۔ نو جبله اوتښتيدلو روم ته لاړو او عيسائی شو۔ (البحر المحيط)

❻ **اولنی محبوب**

هغه كوم خوش قسمته دی چه د ټولو نه مخكښی د ياتی الله بقوم يعنی د هغے قوم مصداق جوړ شول چه الله تعالیٰ ته محبوب دی ۔اود هغوی صفات په دے آيت كښی ذكر دی ۔ امام ابو حيان رحمه الله دا اقوال ليكلے دی ۔

❶ حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ تعالیٰ عنہ او د هغهٔ ملګری۔
❷ حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی اللہ تعالیٰ عنهما او دد ے دواړو ملګری۔
❸ د حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه قوم۔
❹ اهل یمن: دوه زره د سمندری علاقے ۔ پنځهٔ زره د کندے اود جیله دَ قبائلو اودرے زره د هغوی دَ مختلفو قبائلو نه ۔ دوی د حضرت عمر رضی اللہ تعالیٰ عنه په زمانه کښې په قادسیه کښې جهاد کړے وو۔
❺ دمدینے انصار۔
❻ مهاجرین حضرات ۔
❼ د یمن هغه قبائل چه د هغوی په ذریعے سره حضرت صدیق اکبر رضی اللہ تعالیٰ عنه د مرتدینو خلاف جهاد اوکړو ۔
❽ القربیٰ ۔
❾ حضرت علی بن ابی طالب رضی اللہ تعالیٰ عنه چه کله هغوی خوارجو سره قتال اوکړو ۔ دے نهو اقوالو ذکر کولو نه پس ابو حیان رحمه اللہ لیکی :۔

وفی المستدرک لابی عبداللہ الحاکم باسناد: انه لما نزلت اشار رسول اللہ صلی اللہ تعالیٰ علیه وسلم الیٰ ابی موسیٰ الاشعری رضی اللہ عنه فقال قوم هذا وهذا اصح الاقوال ۔ (البحر المحیط)

یعنی په مستدرک حاکم کښې روایت دے چه کله دا آیت نازل شو نو رسول اللہ صلی اللہ تعالیٰ علیه وسلم حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی اللہ عنه طرفته اشاره اوکړه او وے فرمائیل چه د دے نه د دوی قوم مراد دے ۔

ابو حیان رحمه اللہ فرمائی:۔ چه دا قول د ټولو نه زیات صحیح دے ۔

❿ صاحب د کشاف لیکی:۔

وقیل سئل رسول اللہ صلی اللہ تعالیٰ علیه وسلم عنهم فضرب یده علی عاتق سلمان وقال هذا وذووه ثم قال: لو کان الایمان معلقًا بالثریا لناله رجال من ابناء فارس .

یعنی یو قول دا دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دغه قوم په باره کښې تپوس اوشو نو هغوی خپل لاس مبارک د حضرت سلمان فارسی رضی اللہ تعالیٰ عنه په څټ باندے کیخودهٔ او وے فرمائیل: چه دے اود دهٔ ملګری دی ۔بیا ئے اوفرمائیل: چه کهٔ ایمان په ثریا پورے اینختے وی نو د فارسیانو سړی به ئے حاصل کړی ۔ (کشاف)

یو زبردست علمی تحقیق

صاحب د تفسیر حقانی د دے آیت اولنے مصداق حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه گرزولے دے ۔ او لیکلے ئے دی چه د دے آیت نه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه خلافت برحق ثابتیږی ۔ په دے موقعه باندے حضرت مصنف رحمه الله د شیعه گانو د مغالطو پوره جواب ورکړے دے ۔ دغه ټول تحقیق د لوستلو او یادولو لائق دے ۔ شوق لرونکی حضرات دے تفسیر حقانی اوګوری ۔

د کلام حاصل

د دے آیت مفهوم بالکل عام دے ۔ چه څوک هم تر قیامته پورے مرتد کیږی ۔ هغه به ذلیله او ناکامیابه وی ۔ او الله تعالیٰ به په هره زمانه کښې د هغوی په ځائے خپل محبوب ، مقرب او مجاهد بند یګان راولی ۔ په تیره زمانه کښې هم داسے شوے دی او بیا به هم دغه شان کیږی ۔ علامه آلوسی رحمه الله لیکی :

شروع فی بیان حال المرتدین علی الاطلاق بعد ان نهی سبحانه فیما سلف عن موالاة الیهود والنصاریٰ وبین ان موالاتهم مستدعیة للارتداد عن الدین .

یعنی په دے آیت کښې مطلق طور باندے د مرتدینو حال بیانیږی ۔ دے نه مخکښې آیتونو کښې د یهودیانو او عیسایانو د دوستئ نه منعه راغله او اوس ئے اوفرمائیل: چه د دوی سره دوستی د مسلمانانو د پاره دَ مرتد کیدو ذریعه جوړیږی۔ (روح المعانی)

امام رازی رحمه الله لیکی :

معنی الآیة یاایها الذین اٰمنوا من یول منکم الکفار فیرتد عن دینه فلیعلم ان الله تعالیٰ یاتی باقوام اٰخرین ینصرون هذا الدین علی ابلغ الوجوه .

یعنی د آیت مطلب دا دے چه اے ایمان والاؤ! چه څوک په تاسو کښې د کفارو سره یاری کوی اود خپل دین نه مرتد شو نو هغه دے پو هه شی چه الله تعالیٰ به بل داسے قوم راولی چه ښۀ برابر به د دین نصرت کوی (التفسری الکبیر)

ډیرو مفسرینو حضراتو د حضرت حسن بصری رحمه الله په حواله سره لیکلے دی چه په دے آیت کښې د راتلونکی وخت یو غیبی خبر دے ۔ چه راتلونکی وخت کښې به څۀ خلق د اسلام نه مرتد کیږی نو بس هم دغه شان اوشوه ۔ نو دا خبر هم دَ معجزاتو نه دے ۔

امام رازی رحمه الله لیکی:

وقالت عائشة رضی الله تعالیٰ عنها مات رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم وارتدت العرب واشتهر النفاق ونزل بابی مالو نزل بالجبال الراسیات لهاضها۔

حضرت عائشه رضی الله تعالیٰ عنها فرمائی: چه رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم وفات شو نو عرب مرتد شو او نفاق خور شو او څما په پلار باندے هغه حالات راغلل چه که چرے په غټو پخو غرونو باندے راغلے وے نو رقولے به ئے وو۔(التفسیر الکبیر)

دے ټولو حوالو نه هم دغه ثابتیږی چه آیت مبارک دَ قیامته پورے عام دے ۔او په هره زمانه کښ مسلمانانو ته دغه حالات راتلے شی ۔ او په هره زمانه کښ به د دین د نصرت د پاره د الله تعالیٰ محبوب او مجاهد بندیګان کمربسته وی ۔ جهاد به تر قیامته پورے جاری وی ۔ اود دین د خادمانو اود سرتیرو ډله به په هره زمانه کښ د حق د نصرت تاریخ جوړوی ۔(والله اعلم بالصواب)

د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما فرمان

د الله تعالیٰ ددغه محبوب مجاهد قوم صفت حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه په دے الفاظو سره بیانوی :۔

هم للمؤمنین کالوالد للولد والسید للعبد وهم فی الغلظة علی الکفار کالسبع علی فریسته ۔ (القرطبی)

دوی به د ایمان والاؤ د پاره داسے وی لکه د اولاد د پاره پلار اود غلام د پاره خپل مالک ۔او دوی به (د اسلام دښمنانو) کافرانو د پاره په سختئ کښ داسے وی لکه د ښکار دپاره ازمرے ۔

د خلفائے راشدینو حقانیت

امام قرطبی رحمه الله لیکی :

فدل بهذا تثبیت امامة ابی بکر وعمر وعثمان وعلی رضی الله تعالیٰ عنهم لانهم جاهدوا فی الله عزوجل فی حیاة رسول الله صلی الله علیه وسلم وقاتلوا المرتدین بعده ومعلوم ان من کانت فیه هذه الصفات فهو ولی الله تعالیٰ .(القرطبی)

د دے آیت نه د حضرت ابوبکر صدیق اود حضرت عمر اود حضرت عثمان او د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنهم د خلافت تصدیق اوشو۔ ولے چه دے حضراتو د

حضور پاک صلی اللہ تعالیٰ علیہ وسلم پہ ژوند کښں ہم دَ اللہ تعالیٰ پہ لارہ کښں جہاد اوکړو۔ اود هغوی نه پس د مرتدینو سره ئے ہم جنګ اوکړو اودا خبره معلومه ده چه دا صفات په چا کښں وی هغه د اللہ تعالیٰ ولی دے۔ (القرطبی)

د ملامتیا پرواه په څۀ څیز کښں؟

ډیرو لویو مفسرینو حضراتو د دے په تفسیر کښں ہم دا لیکلے دی چه دا خلق به د جهاد اود دین د نصرت په معامله کښں د چا د ملامتیا پروا نۀ کوی۔ او وجه ئے دا لیکلے ده چه منافقان به د خپلو کافرو دوستانو د ملا متیا د ویرے نه جهاد له نۀ تلل۔ دے نه معلومه شوه چه د جهاد نه بندولو د پاره کافر قومونه همیشه دَ ملامتیا او د اعتراضونو جال خوروی۔ خو چه کوم پاخۀ ایمان والا وی۔ هغوی د دوی دَ اعتراضونو او ملا متیا پرواه نۀ ساتی۔ خو هغه منافقان چه د کافرانو په مینځ کښں ځان له مقبولیت پیدا کوی۔ هغوی د دوی د اعتراضونو نه ویریږی او خپل ځان د جهاد نه لا تعلقه ښکاره کوی۔ اوګورئ تفسیر کبیر، بیان القرآن او قرطبی وغیره۔

حضرت تهانوی رحمه اللہ لیکی:۔ اود دین او د جهاد په معامله کښں به دغه خلق د چا د ملامتیا اندیښنے نۀ کوی۔ څنګه چه دَ منافقانو حال دے۔ چه هغوی به دَ زړۀ د پاسه جهاد له تلل۔ خو په زړۀ کښں به ئے اندیښنه وه چه هغه کفار چه دوی ورسره دَ زړۀ نه دوستی لری هغوی به دوی ملامته کړی۔ یا به ئے زړۀ کښں دا اندیښنه وه چه اتفاقی طور که هغه خلق چه دچا خلاف جهاد دے که هغوی خپل دوستان وی یا رشته داروی۔ نو تول به د لیدوسره پیغورونه کوی چه تاسو د داسے خلقو په وژلو پسے تلے وئ۔(بیان القرآن)

عجیبه نکته

دے نه دا نکته معلومه شوه چه کافران په هره زمانه کښں د جهاد خلاف د اعتراضونو یو طوفان جوړوی۔ نو په جهاد باندے دهغه سړی خپے کلکے پاتے کیږی چه هغه د دے بے مطلبه بد نامئ نه وونۀ ویریږی۔ او هغه عظیم کار جاری اوساتی دکوم چه دوی ته اللہ تعالیٰ حکم کړے دے۔ (واللہ اعلم بالصواب)

يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

د اللہ تعالیٰ د دے محبوبو بندیګانو اهم صفت جهاد فی سبیل اللہ دے۔ امام نسفی رحمه اللہ فرمائی :۔

يقاتلون الكفار يعني كافرانو سره به جنگ کوي ـ (المدارک)

د حضور اقدس صلی الله تعالیٰ علیه وسلم صفت

امام ابن کثیر رحمه الله ليکي:ـ

وفي صفة رسول الله صلى الله عليه وسلم انه الضحوک القتال فهو ضحوک لا وليائه قتال لاعدائه .

د حضور اقدس صلی الله تعالیٰ علیه وسلم په صفتونو کښ يو صفت دا وو۔ چه هغوي ښۀ خنديدونکي او ښۀ جهاد کوونکي وو۔ يعني حضور اقدس صلی الله تعالیٰ علیه وسلم د خپلو ملگرو د پاره ښۀ خنديدونکے وو او د خپلو دښمنانو سره ښۀ جهاد کوونکے وو۔(تفسير ابن کثير رحمه الله)

سبقونه

د آيت مبارک نه ډير سبقونه ملاويږي مثلا ـ

❶ دين اسلام د چا محتاج نۀ دے مونږ تول د دين اسلام محتاج يو۔ اسلام د يو قبيلے يا د يو قوم يا د يو سړي محتاج نۀ دے ـ څوک چه هم مرتد شي نو صرف خپل نقصان به کوي ـ

❷ د مرتد والي د فتنے علاج هم جهاد في سبيل الله دے ـ

❸ د الله تعالیٰ محبت په مسلمانانو کښ غيرت پيدا کوي او جهاد ته ئے تيارَوي۔ ځکه ئے مخکښ اوفرمائيل : يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهٗ او بيائے ووفرمائيل يُجَاهِدُونَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

❹ د مرتد والي د فتنے په وخت کښ مسلمانانو له په خپل مينځ کښ د يو کيدو سخت ضرورت وي ـ ځکه اوفرمائيلے شو اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ

❺ د محبت اودَ نفرت د پاره معيار ايمان او کفر دے ـ قوم ـ قبيله ـ ژبه يا علاقه نۀ ده۔ ځکه اوفرمائيلے شو چه هغوي به د ايمان والا ؤ د پاره نرم يعني سرنه تر خپو پورے به محبت اوشفقت وي۔ او دَ کافرانو دپاره به ډيرسخت وي ـ ايمان والا چه هر څوک وي او کافر هم چه هر څوک وي ـنو هغه تول تحريکونه باطل دي چه دَ علاقے او د ژبے په بنياد باندے د کفر اودَ اسلام فرق ختمولو د پاره راووچت شوے دي ـ

❻ د مسلمانانو په مینځ کښ د یووالی پیدا کولو د پاره به د حیثیت او د قوت خاوندان کردار ادا کوی ـ څنګه چه دَ اذلة د لفظ نه معلومیږی چه دوی به مسلمانانو ته ټیټیږی ـ او نرمی به کوی ـ مفسرینو حضراتو لیکلے دی ـ چه دوی به دَ مسلمانانو په مخکښ عاجزی کوی ـ ښکاره خبره ده چه ټیټیږی به هغه خلق چه د ووچتے درجے وی او عاجزی به هغه خلق کوی چه دَ حیثیت خاوند وی ـ ګنی کمزوری خلق خو هسے هم عاجزه وی ـ

❼ د مسلمان په جهاد باندے د راووچتولو د پاره درے جذبے پکاردی :

☆ د الله تعالیٰ محبت ـ

☆ د مسلمانانو د پاره همدردی

☆ د الله تعالیٰ د دښمنانو نه نفرت ـ


او په جهاد باندے د ټینګ پاتے کیدو د پاره دوه څیزونه ضروری دی ـ

☆ د جهاد په معامله کښ د ملا متیا او دَ ظاهری بدنامیٔ پروا نۀ کول ـ

☆ او جهاد کول په خپل ځان باندے د الله تعالیٰ فضل ګڼړل ـ نۀ دا چه خپل احسان ووګڼړلے شی ـ

دا اووۀ سبقونه په دے آیت کښ څمونږ د ټولو مسلمانانو د پاره موجود دی ـ (والله اعلم بالصواب) ـ

الله تعالیٰ دے مونږ ته د عمل توفیق رانصیب کړی ـ (آمین ثم آمین)



سُوْرَةُ الْمَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۵۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ

بے شکه ستاسو دوست الله تعالی دے، اوډ هغهٔ رسول دے او هغه خلق دی چه ایمان ئے راوړے دے

الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿۵۵﴾

هغه خلق چه سم مونځ کوی او زکوٰة ورکوی او دوی عاجزی کونکی وی۔

نچوړ

د مسلمانانو حقیقی دوست الله تعالیٰ دے۔ اوډ هغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم دے۔ او هغه مسلمانان چه په مونځ او زکوٰة کښ پاخهٔ وی۔ اوډ الله تعالیٰ نه ویرېږی۔ نو مسلمانانو له پکار دی چه صرف دے درے قسمه کسانو سره دوستی کوی۔ او هم د دوی یاری د خپل ځان د پاره کافی اوګنړی۔

ربط

انه تعالیٰ لما نهی فی الآیات المتقدمه عن موالاة الکفار امر فی هذه الآیة بموالاة من یجب موالاته.(التفسیر الکبیر)

په تیروشوو آیتونو کښ چه الله تعالیٰ د کفارو د یارئ نه منعه ووکړه۔ نو په دے آیت کښ ئے د هغے خلقو سره ډ دوستئ کولو حکم ووکړو۔ چه د چا سره دوستی واجب ده۔

آیت عام دے

امام رازی رحمه الله لیکی۔

ورومبے قول دا دے چه دا آیت ډ تولو مؤمنانو د پاره عام دے۔ ځکه چه حضرت عباده بن صامت رضی الله تعالیٰ عنه د یهودیانو نه د برأت اعلان اوکړو۔ او وے فرمائیل چه ځهٔ د بنی قریظه او بنو نضیر ډ حلیف جوړیدو نه ډ الله تعالیٰ په مخکښ د برأت اعلان کوم۔ او الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم خپل دوست جوړوم۔ نو دا آیت د هغهٔ په موافقت کښ نازل شو۔ او دا روایت هم شته دے چه حضرت عبدالله بن سلام رضی الله تعالیٰ عنه عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ! څمونږ یهودی قوم خو مونږه پریښودو۔ او قسمونه ئے خوړلے دی چه مونږ سره به

کینی پاسی نه ـ او مونږ د کورونو د لرے والی د وجهے نه ستاسو د ملګرو سره کیناستے پاسیدے نۀ شو ـ په دے باندے دا آیت نازل شو ـ نو حضرت عبدالله بن سلام رضی الله تعالیٰ عنه اوفرمائیل چه مونږ دالله تعالیٰ اود هغۀ دَ رسول صلی الله تعالیٰ علیه وسلم اود ایمان والاؤ په دوستیٔ باندے راضی یو ـ مخکښ امام رازی رحمه الله لیکی :ـ

فعلی هذا الأیة عامة فی حق کل المؤمنین فکل من کان مومنا فهو ولی کل المؤمنین۔

نودا آیت د ټولو مؤمنانو په حق کښ عام دے ـ چه کوم مؤمن وی هغه به د ټولو مؤمنانو دوست وی ـ (التفسیر الکبیر)

د ولی درے معنیٰ

وفسرالولی هنا بالناصر اوالمتولی الامر اوالمحب۔

دولی معنیٰ په دے آیت کښ مددګار یا د معاملاتو اختیارمند یا دَ محبت کونکی ده ـ (البحر المحیط)

ولیکم دلته ولی په دے معنیٰ کښ دے چه هغه کس چه تاسو له هغۀ سره دوستی کول پکار دی ـ یعنی چه ستاسو حقیقی دوست دے ـ (تفسیر ماجدی)

د دے درے واړو نه سوا دَ مسلمانانو هیڅ دوست نۀ شی کیدے

په تیرشوؤ آیتونوکښ د یهودیانو اوعیسیانو د دوستیٔ اوملګرتیا نه منعه شوے وه۔ چه دهغے دَ اوریدو نه پس په زړۀ کښ دا سوال پیداکیږی۔ چه بیا دَ مسلمانانو د مینے تعلقات او د دوستیٔ معاملات دچاسره پکار دی ـ په دے آیت کښ اوښودلے شو چه د دوی اصلی ملګرے خدائے پاک اوپیغمبر علیه الصلوٰة والسلام او دمخلصو مسلمانانو نه علاوه هیڅوک هم نۀ شی کیدے۔ (تفسیر عثمانی)

عالمی اسلامی ورورولی داده

په دے آیت کښ الله تعالیٰ د مسلمانانو د پاره دَ عالمی اسلامی ورورولیٔ تشکیل اوکړو۔ یوه رښتونے خالصه او مضبوطه ورورولی ـ چه په هغے کښ د هر رنګ ، نسل او دهرے قبیلے کس په پوره برابریٔ سره شاملیدے شی ـ داسے ورورولی

چه په هغے کښې سپین په تور باندے او تور په سپین باندے غوره والے نۀ لري ۔ داسے وروروِلي چه په هغے کښې د عربو او د عجمو په مینځ کښې فرق اوجداوالے نیشته ۔ داسے وروروِلي چه دَملکونو جغرافیه او د سمندرونو فاصلے هم دوی دیوبل نه نشي بیلولے ۔ داسے وروروِلي چه په هغے کښې د شاملیدو دروازه هر وخت پرانستے ده ۔ داسے وروروِلي چه د یو بدن او د یو ساه پشان وي او د هغے مضبوط دیوال پشان وي چه هغه نۀ ماتیدے شي او نۀ تقسیمیدے شي ۔

د الله تعالیٰ حکم منل او دَحضور اقدس صلی الله علیه وسلم طریقه او د مسلمانانو سره دوستي ۔ بس دے دریؤ نکتو سره دا وروروِلي د دنیا د ټولو نه مضبوط قوت جوړیږي ۔ بیا د دے وروروِلۍ مخے ته هیڅ څوک نۀ شي ټینګیدے ۔ او هیڅ څوک دا نۀ شي بندولے ۔(والله اعلم بالصواب)

دیوے شبهے جواب

شبه دا کیږي چه که دا وروروِلي دومره راغونډه شي نو د ټولے د نیا انسانانو ته به دا وروروِلي فائده وونۀ رسولے شي ۔ د دے جواب بالکل ښکاره دے چه تر کومے پورے خپل کور مضبوط نۀ وي ۔نو د بهر والاؤ مدد نۀ شي کیدے ۔ الله تعالیٰ د مسلمانانو خپل مینځ کښې وروروِلي جوړه کړه او د ټولے دنیا یو مضبوط قوت ئے ترے جوړ کړو۔ نو دوی د ټولے دنیا خدمت اوکړو۔ او چه کله مسلمانانو د خپل غفلت په وجه دا وروروِلي ختمه کړه نو نۀ دَ خپل ځان پکار راغلل او نۀ د بل چا ۔

بیلماځه طبقه

په آیت مبارک کښې ئے واضحه شرط اوښودلو۔ چه د مسلمانانو همدرد او مخلص دوست صرف هغه مسلمان کیدے شي ۔چه مونځ قائمولو والا ۔ زکوٰة اداکولو والا ۔او د الله تعالیٰ په حضور کښې عاجزي کولو والا وي ۔

نو ثابته شوه چه د مونځ په معامله کښې بے پرواهي کولووالا کسان که هر څومره د مسلمانۍ دعویٰ کوي خو په اسلامي وروروِلۍ کښې هغه هیڅ پکار نۀ راځي ۔ نن دمسلمانانو سیاسي مشری هم د دغه بیلماځه طبقے په لاس کښې ده ۔ ښکاره خبره ده چه دالله تعالی فیصله پخه ده ۔او د دے خلقو په کارونو سره مسلمانانو ته د فائدے په ځائے صرف نقصان رسي ۔

د خشوع صفت

د اسلامي و رورولۍ د جوړولو د پاره او د اسلامي لښکر د قوي کولو د پاره د خشوع صفت ډير ضروري دے ۔ د ټولو عبادتونو اصل فائده خو به هله حاصليږي چه د زړۀ مخه الله تعالیٰ طرف ته وي ۔ او په زړۀ کښې دَ الله تعالیٰ د ذکر په وجه نرمي پيدا کيږي ۔او ويلے کيږي ۔ د خشوع صفت ډير په تيزۍ سره اوچتيږي ۔
د عباداتو صرف جسم باقي پاتے شوے دے ۔ او ددے روح په فنا کيدو دے ۔ نو د هغے ښکاره نقصان دا دے چه مسلمانان په خپل مينځ کښې د محبت او ملګرتيا نه محرومه کيږي او په مختلفو وړو وړو ډلو کښې تقسيميږي ۔ او د تقسيمدو دا سلسله نوره هم مخکښې روانه ده ۔
الله تعالیٰ دے مونږ ټولو مسلمانانو ته د خپلے رضا والا خشوع راکړي ۔



سُوْرَةُ الْمَائِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۵۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ

او څوک چه دوستي کوي د الله تعالیٰ سره۔ او د هغهٔ دَرسول سره او مومنانو سره نو بے شکه دَ الله تعالیٰ ډله

هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۵۶﴾

چه ده هم دوي به غالب وي۔

نچوړ

مسلمانان که چرے دا حکم پوره کړي ۔او صرف د الله تعالیٰ سره او د هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم سره او دمسلمانانو سره دوستي اوساتي۔ نو دا به حزب الله یعني د الله تعالیٰ ډله جوړه شي ۔ اود الله تعالیٰ وعده ده چه د ''حزب الله'' د پاره غلبه ده ۔

حزب اللہ څوک دي؟

(۱) ای من فوض امره الی الله وامتثل امر رسوله ووالی المسلمین فهو حزب الله. (القرطبی).

یعني چه څوک خپله معامله الله تعالیٰ ته ووسپاري ۔ (یعني چه صرف په هغهٔ باندے توکل او بهروسه ووکړي ۔ اود رسول الله صلی الله علیه وسلم حکمونه وومني اودَ مسلمانانو سره د زړهٔ دوستي ووساتي نودا خلق حزب الله کښې دي ۔

(۲) وقیل ای ومن یتولی القیام بطاعة الله ونصرة رسوله والمؤمنین۔ (القرطبی)۔

او یوقول دا دے چه څوک د الله تعالیٰ اطاعت او د هغهٔ دَرسول صلی الله علیه وسلم اودَ مومنانو دَ نصرت پوره خیال ساتي نو دا خلق حزب الله دي ۔

قال الحسن :. حزب الله جند الله.(القرطبی)

حسن بصري رحمه الله فرمائي چه : د حزب الله معنیٰ د الله تعالیٰ لښکر راځي

وقال غیره انصارالله ، او نورو وئیلے دي چه د الله تعالیٰ د دین مددګار ۔ (القرطبی)

د یوشک ختمول

د کافرانو ډیروالي ته اود مسلمانانو لږوالي ته چه اوګوري۔ نو دَیو کمزوري زړهٔ

والا مسلمان چه په ظاهر دهوکه کیږی ۔ هغۀ ته دا شک راتلے شو چه د تولے دنیا سره دوستی ختمه کړے شی اود یو څو مسلمانانو ملګرتیا کافی ووګنړلے شی۔ نو غالب کیدل خو لا پریږده۔ د کافرانو د حملو نه د خپل ژوند اود بقا حفاظت هم ګران دے ۔ د داسے خلقو دَ تسلئ د پاره ئے ووفرمائیل چه دَ مسلمانانو دے ظاهری کموالی او بے سروسامانئ ته مۀ ګورئ ۔ چه کوم طرفته خدائے وی اودَ هغۀ رسول وی او ریښتونے وفادار مسلمانان وی هم هغه طرف به درووند وی ۔(تفسیر عثمانی)

د مسلمانانودَ مغلوب کیدو سبب

د ایمان خاوندان چه په ایمان باندے کلک وی۔ د نافرمانئ نه بچ ووسی په الله تعالیٰ بهروسه لری ۔ د الله تعالیٰ په احکامو باندے ژوند تیروی ۔ او په اخلاص سره د کافرانو سره جنګ کوی۔ نو خامخا به دا خلق غالب وی ۔ د څۀ بے تدبیرئ په وجه یا دَ څۀ ګناه په وجه کۀ ورته څۀ تکلیف وورسی ۔نو دا بیله خبره ده۔ د آیت مطلب دا نۀ دے چه چرے به هم یو مسلمان د کافرانو د لاسه نۀ مری او نۀ به شهید کیږی ۔ مطلب دا دے چه آخر کښ به فتحه ۔ نصرت ۔او غلبه دَحق اودَ ایمان د خاوندانو وی ۔ تاریخ ګواه دے چه د ایمان خاوندان کومے پورے په ایمان باندے ولاړ وو۔ او په اخلاص باندے دکافرانو سره جنګیدل ۔ د الله تعالیٰ د دین د پورته کولو د جذبے نه ډک وو۔نو په دنیا کښ په فتحو سره مخکښ روان وو۔ د قیصر او کسریٰ حکومتونه د دوی دَ جهاد په وجه ټکړے ټکړے شول ۔ لوئے لوئے ملکونه د دوی په قبضه کښ راغلل او کافران په شا روان وو ۔ خو چه کله دوی د شرعی اعمالو پابندی پریخودله۔ اود الله تعالیٰ په نافرمانو باندے راغلل ۔ دنیا ئے مقصود جوړه کړه ۔ د کافرانو د دوستئ لوبه ئے ګرمه کړله ۔نو د دوی په قبضه کښ چه کوم ملکونه وو۔ هغه ئے هم د لاس نه ووتل ۔او کافرانو عالمی ادارے جوړے کړے او مسلمانان ئے د هغے ممبران کړل او په دوی کښ ئے اختلافات پیدا کړل ۔ اوبیا ئے لکه دګډاګی پشان اوګڅول ۔

مسلمانان کۀ نن هم په صحیح طریقه باندے حزب الله یعنی د الله تعالیٰ جماعت جوړ شی ۔نو اوس هم غلبه موندے شی۔(انوارالبیان)

د غلبے نصاب موجود دے

مسلمانانو د پاره د غلبے پوره نصاب په دے آیتونو کښ موجود دے ۔ د یهودیانو

عیسایانو اودَ اسلام د تولو دښمنانو سره دے دوی یاری خمته کړی ۔ او د الله تعالیٰ سره دے ربنتونے محبت او وفاداری په خپل زړهٔ کښ پیدا کړی ۔ د مسلمانانو د پاره دے سرنه تر خپو پورے د محبت او دهمدردی نه ډک شی ۔ د اسلام د دښمنانو نه دے سخت نفرت ووکړی ۔ جهاد فی سبیل الله دے ښهٔ په لویه پیمانه باندے ژوندے کړی ۔ دَ جهاد په باره کښ دے د بے فائدے تنقید او ملامتیا پرواه نهٔ کوی ۔ د الله تعالیٰ او دهغهٔ د رسول اطاعت اود مسلمانانو دوستی او مدد دے خپل معیار جوړ کړی۔ او خپله اسلامی وروروِلی دے قائمه کړی۔ نو دوی به په توله د نیا ښوارهٔ شی ۔ او غالب به راشی ۔ (والله اعلم بالصواب)

نصاب مشکل نهٔ دے

په تیره شوے زمانه کښ چه کوم مسلمانانو په دے نصاب باندے عمل کړے دے ۔ هغوی هم زمونږ په شان انسانان وو۔ خو هغوی د همت نه کار واخستلو۔ او د دنیا نه ئے نظر ووچت کړو۔ او آخرت ئے خپلے مخے ته کیخودهٔ ۔ کهٔ هغوی هم زمونږ په شان دحالاتو د سختیٔ بهانه جوړه کړے وه۔ او ناست وو۔ نودا دین به مونږ ته نهٔ وے رارسیدلے۔ اود یو څو ښارونو پورے به محدود پاتے شوے وو۔ خو هغوی حالاتو ته وونهٔ کتل ۔ د الله تعالیٰ حکم ته ئے ووکتل او بیا د الله تعالیٰ په بهروسه باندے اودریدل ۔نو الله تعالیٰ د خپلے وعدے مطابق هغوی ته غلبه ورکړله ۔ (والله اعلم بالصواب)

حالات مخکښ هم سخت وو

داسے ډیره کمه موقعه وی چه په دے نصاب باندے عمل کولو دپاره حالات نرم او آسان وی ۔ دجنت لاره دَ تکلیفونو او دمشقتونو نه ډکه ده۔ په حضراتو صحابه کرامو باندے چه کوم مشکل حالات راغلے وو۔ مونږ د هغے تصور هم نهٔ شو کولے ۔ په دے وجه دا عذر کول چه اوس زمانه ډیره مخکښ تلے ده۔ اوس مونږ په جنگ او په جهاد کښ چرے هم دښمن ته شکست نهٔ شو ورکولے ۔دا بالکل دروغ او بے کاره عذر دے ۔ د هرانسان سره یوه ساه ده ۔ دا ساه د تورے سره هم ووځی او په ایټم بم سره هم ۔ د روم او د فارس طاقتونو په هغه زمانه کښ د تولو مسلمانانو د ختمولو دومره طاقت لرلو ۔چه د نن وخت طاقتونه ئے نهٔ لری ۔ په دے وجه باندے ایټم بم ۔ هائیدروجن بم ۔ او فضائی قوت ته صرف په کتو باندے زړه بائیلل او خپل ایمان خرڅول د مسلمان کار نهٔ دے ۔

مونږ کۀ د کافرانو یاران شو ـ نو هم به دومره ورځے ژوند تیر وو څومره چه مونږ د هغوی د ښمنان یواو ژوند تیر وو ـ د چا یاری او حفاظت د ژوند ورځے زیاتولے نۀ شی ـ او د چا د ښمنی د وخت نه مخکښ مرګ نۀ شی راوستے ـ (والله اعلم بالصواب)

مونږ چرته لاړ شو

مسلمانان په ملکونو ـ قومونو ـ ژبو ـ فرقو ـ جهتو او ډلو کښ تقسیم شوے دی اوس کۀ څوک په دے نصاب باندے عمل کول غواړی نو د چاسره یو ځائے شی ؟

جواب آسان دے ـ فرقے او ډلے په هره زمانه کښ موجودے وی ـ په دے وجه دا امتحان هم څۀ نوے نۀ دے ـ د ټولو نه مخکښ دے خپل زړۀ ټیک کړی ـ او د زړه نه دے د دنیا محبت او دلته د همیشه پاتے کیدو اود فضول جائیدا دونو پیدا کولو شوق اوباسی ـ زړۀ دے د اسلام د غلبے د فکر نه ډک کړی ـ او بیا دِ په ربښتونی زړۀ سره خپل ځان او خپل سر د اسلام د پاره الله تعالیٰ ته ورمخکښ کړی ـ بیا دِ په ربښتونی زړۀ سره د قبولیت دعاء ووکړی ـ دا ټول هرڅۀ دے پټ وی ـ خالص د الله تعالیٰ د پاره دے وی ـ بیا به لاره پخپله ملاؤ شی ـ او منزل به په نظر راشی ـ باقی د حق جماعت علامے هم اوس د دے سورت په آیت (۵۴) کښ تیرے شوے دی ـ هغه دین والا خلق چه په جهاد کښ مشغول وی ـ هغوی سره په ځان تړلو کښ خیر دے ـ (والله اعلم بالصواب)


د ټولو نه آسانه نسخه

په دے نصاب باندے د عمل کولو دپاره د ټولو نه آسانه نسخه صرف هم دا ده ـ چه مونږ د خپل زړۀ خواهش صحیح کړو ـ مونږ دنیا غواړو کۀ آخرت ؟ مونږ د الله تعالیٰ رضا غواړو کۀ د دنیا فنا کیدونکے عیش او آرام ؟ کۀ چرے مونږ د الله تعالیٰ رضا او آخرت غواړو ـ نو بیا خو هرڅۀ آسان دی ـ تردے چه یوا ځے وتل او دټولے دنیا کافرانو ته مقابله کښ اودریدل هم آسان دی ـ خو کۀ چرے مونږ د دنیا طالبان یو ـ نو بیا دا ټول هرڅۀ مشکل دی ـ تردے چه په ټول کال کښ یوه پیره د خپل مال څلویښتمه حصه د الله تعالیٰ په لاره کښ ورکول هم مشکل دی ـ چه هر کله دومره آسان کار هم ګران دے نودَ باقی کارونو تاسو په خپله اندازه اولګوئ ـ بیا داسے خلق بهانے جوړوی او دا نصاب ناممکنه ګنړی ـ

الله تعالیٰ دے مونږه د نفس اود شیطان دَ شر نه بچ اوساتی ـ (آمین)

څۀ خلق به موجود وی

اسلام ریښتونے دین دے ۔قرآن پاک ریښتونے کتاب دے ۔ دا ممکنه نۀ ده چه ټول خلق دے په دے باندے عمل پریږدی ۔ د الله تعالیٰ د مخلصو بندیگانو نه دا دنیا چرے هم نۀ خالی کیږی ۔ مونږ له پکار دی چه د قرآن پاک د بیان کړے شوے علاماتو په ذریعه سره دغه خلقو پسے ووګرزو ۔ او د الله تعالیٰ نه دعاء اوغواړو چه الله تعالیٰ مونږه هم د هغوی حصه اوګرزوی۔(وما ذالک علی الله بعزیز)



سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ آیت ۸۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ وَالَّذِيْنَ

ضرور بہ تۀ وومومے زیات سخت د خلقو نہ پہ دښمنئ کښې د مومنانو د پارہ یهودیان او هغه خلق

اَشْرَكُوْا ۚ وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ قَالُوْٓا

چه شرک ئې کړے دے ۔ او ضرور بہ تۀ وومومے نزدے پہ دوی کښې پہ محبت کښې د مومنانو د پارہ

اِنَّا نَصٰرٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَرُهْبَانًا وَّاَنَّهُمْ

هغه خلق چه وائی مونږه نصارىٰ یو دا ځکه چه یقینا پہ دوی کښې علماء دی اودرویشان دی اودا چه

لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۸۲﴾

دوی تکبر نۀ کوی ۔

نچوړ

دَ مسلمانانو د تولو نه سخت دښمنان یهودیان او مشرکان دی ۔ او مسلمانانو سره پہ دوستئ ساتلو کښې زیات نزدے هغه عیسایان دی چه پہ هغوی کښې علم دوست کسان او دنیا نه ځان ساتونکے درویشان موجود وی۔ او چه هغوی تکبر هم نۀ کوی ۔

شان نزول

پہ تفسیر قرطبی وغیرہ کښې دی چه کله د مکے مشرکانو تہ د بدر پہ غزا کښې شکست اوشو۔نو هغوی دَ خپلو مړو د هغے مسلمانانو نه د بدلے اخیستلو ارادہ اوکړه۔ چا چه حبشو تہ هجرت کړے وو۔ دے کافرانو د حبشو نجاشی بادشاه لہ هدیے، تحفے اولیګلے او وفد ئې اولیګلو چه نجاشی بادشاه هلته کښې موجود مسلمانان دے مشرکینو تہ پہ حوالہ کړی ۔ حضور اقدس صلی اللہ تعالیٰ علیہ وسلم تہ چه پته اولګیده۔ نو هغوی هم حضرت عمرو بن امیہ ضمری رضی اللہ تعالیٰ عنہ تہ د نجاشی پہ نوم باندے خط ورکړو۔ او وے لیګلو ۔ نجاشی چه خط مبارک اولوستلو۔ نو مهاجر مسلمانان ئې راوغوښتل او خپل علماء او درویشان ئې هم راجمع کړل ۔بیا ئې حضرت جعفر رضی اللہ تعالیٰ عنہ تہ دَ قران پاک د تلاوت کولو اووئیل ۔نو

هغوی د سورۀ مریم تلاوت اوکړو۔ نو عیسائی علماء او درویشان اوژړیدل ۔ اود هغوی د سترګو نه اوښکے روانے شوے ۔ (القرطبی)

حضرت شاه صاحب رحمه الله لیکی:

په مکه مکرمه کښ چه کله کافرانو په مسلمانانو باندے ظلم اوکړو۔ نو حضور ﷺ هغوی ته اجازت ورکړو چه دَ ملک نه اوځئ۔ تقریبا اتیامسلمانان سړی بعضے یواځے او بعضے د کوروالا سره دحبشو ملک ته لاړل ۔ د هغه ځائے بادشاه ښۀ انصاف کوونکے وو۔ بیا د مکے کافرانو دهغۀ د تیر باسلو کوشش اوکړو ۔ چه دے مسلمانان دلته اوسیدو ته پرے نۀ ږدی۔ ځکه چه دوی عیسیٰ علیه السلام ته غلام وائی ۔نو بادشاه مسلمانان راؤغوښتل او تپوس ئے ترے اوکړو ۔او د قرآن پاک د اورولوئے ورته اووئیل ۔ قرآن پاک ئے چه واؤریدلو۔ نودۀ او د دۀ عالمانو ډیر ووژړل۔ او وے وئیل چه مونږ ته د عیسیٰ علیه السلام د ژبے نه هم د دے په شان وینا رارسیدلے ده ۔ اومونږ ته حضرت عیسیٰ علیه السلام خبر راکړے دے چه هغوی نه پس به دَ قیامت نه مخکښ یو بل نبی راځی۔ بے شکه دا هم هغه نبی دے ۔ هغه بادشاه پټ مسلمان شو۔دهغوی په حق کښ دا آیتونه دی ۔ (موضح القرآن)۔

شرط کړے شوے نرمی

د یهودیانو اود مشرکانو دښمنی خو بیخی ښکاره ده۔ دا په هره زمانه کښ ده ۔ او تر اوسه پورے ده ۔ او قیامت ته نزدے د مسلمانانو د لاسه د یهودیانو پوره ختمیدل خو په صحیح احادیثو کښ راغلے دی ۔ پاتے شوه دَ عیسایانو نرمی نو هغے کښ درے شرطونه دی ۔ ❶ علم ❷ ترک دنیا ❸ تواضع ۔ په اصل کښ د مسلمانانو سره دښمنی د جهالت ۔ د دنیا د محبت ۔اود تکبر د وجهے نه پیدا کیږی ۔ چه کله په دوی کښ قِسِّيسِينَ یعنی علم دوست خلق وو۔ نو جهالت کم وو ۔ چه وَرُهْبَانًا یعنی دنیا نه ماړۀ خلق پکښ وو نو د دنیا محبت کم وو۔ او هم لَا يَسْتَكْبِرُونَ ئے اوفرمائیل نو وے ښودله چه په دوی کښ تواضع (یعنی عاجزی) هم وه ۔

دا درے شرطونه چه په عیسایانو کښ کله هم وی۔ نو دوی به مسلمانانو ته نزدے راځی او حق به اوری او قبلوی به ۔خو چه دا درے شرطونه نۀ وی۔ نو دوی هم دَ نورو کفارو او مشرکینو په شان اسلام سره او مسلمانانو سره د ښمنی لری ۔ څنګه چه د دے زمانے ډیر عیسایان لری ۔ هسے خو به قیامت ته نزدے بعضے غټو جنګونو کښ دمسلمانانو او عیسایانو اتحاد هم جوړیږی ۔

او بیا به دا اتحاد مات شي او دَ جنګ شکل به اختیار کړي ـ (والله اعلم بالصواب)

حضرت عثماني رحمه الله لیکي:۔

په دے آیتونو کښ (د عیسایانو) هم د دغه (خاص) ډلے حال بیان شوے دے ـ ترقیامته پورے څۀ خبر نۀ دے ورکړے شوے ـ چه همیشه به د عیسایانو۔ یهودیانو او مشرکانو وغیره د اسلام سره او دَ مسلمانانو سره د تعلقاتو شان هم دغه وی ـ نن چه کوم خلق عیسایان دی ـ په دوی کښ څومره قسیس ، رهبان او متواضع او عاجز مزاجه خلق دی ـ او څومره دی چه د هغوی د سترګو نه د کلام الهی په اوریدو سره اوښکے بهیږی ؟ چه هرکله د اَقۡرَبَهُمۡ مَّوَدَّةً علت پاتے نۀ شو کوم چه ذٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ ....الخ سره بیان شوے دے نومعلول یعنی"قرب مودت" به څنګه پاتے شي؟

خلاصه دا چه دَ نبی علیه السلام په زمانه کښ دَ عیسایانو۔ او د یهودیانو۔ او دمشرکینو کوم اوصاف بیان شوے دی۔ دغه اوصاف چه کله هم او په کوم ځائے کښ هم په هر څومره مقدار کښ وی ـ هم په دغه نسبت سره به اسلام او مسلمانانو سره د دوی محبت او دښمنی ګنړلے شي ـ (تفسیر عثمانی)

د دنیا د محبت نتیجه

امام رازی رحمه الله لیکلے دی۔

چه د عیسایانو کفر دَ یهودیانو نه زیات سخت وو۔ ولے چه هغوی هم د الله تعالیٰ په باره کښ غلطے عقیدے لرلے۔ بیا هم الله تعالیٰ یهودیان زیات سخت د ښمنان اوګنړل ـ ځکه چه په دوی کښ د دنیا محبت ډیرزیات وو۔ نو د دنیا محبت په دوی باندے د زیات لعنت ذریعه ده۔ هم د دے خبرے دَ حضورپاک صلی الله تعالیٰ علیه وسلم دا فرمان خبردارے ورکوی ـ

حب الدنیا رأس کل خطیئة : چه د دنیا محبت د هرے بدئ جرړه ده ـ (ملخص کبیر)

د دے علمی نکتے نه معلومه شوه چه د دنیا په محبت کښ کوم قوم څومره زیات انختے وی۔ دومره به د هغوی دَ مسلمانانو سره دښمنی وی ـ اوخدائے دے نۀ کړی خو چه کله په خپله په مسلمانانو کښ د دنیا د محبت مرض عام شي نو دوی به مغلوب شي ـ (والله اعلم بالصواب)۔

دعاء

یاالله! مونږ ټولو مسلمانانوته خپل محبت راکړے۔ اوزمونږ دَ ټولو د دنیا د محبت د مرض نه حفاظت اوکړے ـ (آمین یا ارحم الراحمین)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

تعارف

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ ۝

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى...... سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى سَيِّدِنَا اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى سَيِّدِنَا اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِيْ لِجَلَالِ وَجْهِكَ وَلِعَظِيْمِ سُلْطَانِكَ......

اما بعد

① اللہ تعالی دے پہ خپل فضل قبول کړی۔ د دے تالیف نوم "فتح الجواد فی معارف آیات الجهاد" دے۔ د کتاب پہ دے اولنی جلد کښ د سورۂ بقرے۔ د سورۂ آل عمران۔ د سورۂ نساء اود سورۂ مائدے د جهادی آیتونو مضامین راغلے دی۔ او دے سرہ د یو دیرش آیتونو جهادی اشارے هم مختصر بیان شوے دی۔

② د کتاب دشروع کولو نہ مخکښے څو ځله د ټول قرآن تلاوت ووکړے شو۔او د جهاد د مضامینو پہ حوالے سرہ څلور فهرستونہ تیار کړے شو۔ دا څلور وارہ م پہ دے کتاب کښ د قارئینو مخے تہ ایخودلے دی۔ چہ طالب علمانو تہ هم آسانہ وی۔ اود علم خاوندانو تہ هم پہ تحقیق کولو کښ سهولت وی۔

③ مخکښے څما ارادہ وہ چہ وړومبے جلد د سوۂ انفال پورے شی۔ خو د سورۂ انفال جهادی مضامین څۀ قدرے تفصیل سرہ لیکلے شوے دی نو کہ سورۂ انفال م هم پہ وړومبی جلد کښ شامل کړے وے نو کتاب بہ ډیر غټ شوے وو۔ پہ دے وجہ وړومبے جلد پہ سورۂ مائدہ باندے ختم کړے شو۔

④ په دے تالیف کښې د عربۍ او د اردو د مستندو تفسیرونو نه فائده اخیستے شوے ده - او ددے خبرے زیات کوشش شوے دے چه یو مضمون هم بے حوالے او بے سنده پاتے نۀ شی۔ د تالیف په دوران کښې که څۀ خبره په ذهن کښې راغلے وی نو د هغے دتائید دپاره په حوالو راپیداکولو کښې پوره محنت شوے دے - په دے طریقه اوس الحمدللّٰه د دے کتاب زیاته حصه د مستندو او معتبرو مفسرینو حضراتو د علمی تحقیقاتو نه ډکه ده-

⑤ په دے کتاب کښې چه د کومو عربی تفسیرونو نه فائده اخیستے شوے ده –نو په هغے کښې تفسیر قرطبی ــــــ تفسیر مدارک–تفسیر کبیر–روح المعانی–جلالین- بحرمحیط- او ابن کثیر وغیره د ټولونه په سر کښې دی –تاسو ته به په دے کتاب کښې ځائے په ځائے د دغه تفسیرونو حوالے او عبارتونه ملاویږی- د عربی عبارتونو سره سره د هغے ترجمه په پښتو کښې شوے ده –په بعضے ځایونو کښې پښتو ترجمه په دے وجه نۀ ده لیکلے شوے چه د دغه عبارت مضمون هم په دغه ځائے کښې دیو معتبر اردو تفسیر په حوالے سره وی۔ د تفسیرونو حوالے ورکولو په وخت د صفحو نمبر نۀ دے ورکړے شوے صرف د تفسیر نوم لیکل کافی ګڼړلے شوے دی که چرے تاسو دغه حواله په اصل تفسیر کښې کتل غواړئ نو د دغه آیت په تفسیر کښې به درته په آسانه ملاؤ شی۔

⑥ د اردو په مستندونو تفسیرونو کښې زیات انحصار دحضرت شاه عبد القادر صاحب نور الله مرقده په تفسیر (موضح القرآن) باندے شوے دے۔ د قرآن پاک د آیتونو په جهادی مضامینو باندے پوهیدلو کښې او په پوهولو کښې حضرت شاه صاحب د امام درجه لری۔ په دے باب کښې نور مفسرین د هغوی مقتدیان دی–حضرت مولانا احمد علی لاهوری رحمه الله صاحب هم د حضرت شاه صاحب طریقه وړاندے چلولے ده –او په خپله لا جوابه حاشیه کښۍ د جهاد مضامین ښۀ سپړدے دی– حضرت اقدس تهانوی رحمه الله په بیان القرآن کښې په ډیر حیرانوونکی علمی شان سره د جهاد مضامین پرانستے دی–او دیخوا

تحقیقات ددے ځلورو حضراتو نه نقل دی ۔ حضرت شاه صاحب ۔ حضرت تهانوی صاحب ۔ حضرت لاهوری صاحب رحمهم الله د دے درے واړو حضراتو په خیال کښې د نورو څو آیتونو تعلق هم د جهاد سره شته دے ـ په دے کتاب کښې هغه آیتونو طرف ته هم اشارے شوے دی ـ خو وجه داده چه د دغه آیتونو د جهاد سره تعلق د ربط په اعتبار سره زیات او د مضمون په اعتبار سره کم دے ۔ نو په دغه وجه مونږه د دغه آیتونو مضامین باقاعده طور باندے بیان نۀ کړل ۔ د دے ځلورو تفسیرونو نه علاوه د تفسیر حقانی نه هم ښۀ فائده اخیستے شوے ده ۔ دا تفسیر په اصل کښې د امام رازی رحمه الله د تفسیر کبیر نه اخیستے شوے دے ۔ د حضرت دریاآبادی رحمه الله تفسیر ماجدی هم په یو څو ځایونو کښې لاس راکړے دے ـ هغوی په تاریخ او جغرافیه کښې ماهر دی ـ دے سره سره معارف القرآن ـ الفرقان ـ ترجمان القرآن ـ او انوار البیان هم په مطالعه کښې وو ـ

د اردو د تفسیرونو د حوالے پیداکولو طریقه هم هغه ده چه متعلقه آیت به راؤوباسے ۔ او حواله به تاته ملاؤ شی ۔ دوه ځلور ځایه د یو آیت حواله د بل آیت سره یو ځائے لګیدلے ده ۔ خو ورسره وضاحت شوے دے چه دا خبره د تفسیر خاوند د فلانی آیت په تفسیر کښې لیکلے ده ۔ د حضرت شاه عبد القادر صاحب رحمه الله ډیر احسان دے ۔ په دے وجه د هغوی د عبارت په شروع کښې اکثر عنوان "د برکت کلام" وی ۔ د حضرت شاه صاحب د تفسیر مشهور نوم "موضح القرآن" دے ـ خو د بعضے عالمانو دا خیال دے چه اصل نوم "موضح قرآن" دے ـ او دا تاریخی نوم دے ـ یعنی د ابجدو په حساب باندے په دے نوم کښې د تالیف تاریخ ذکر شوے دے ـ

⑥ جهاد د امت مسلمه یوه مقبوله موضوع ده ۔ په دے وجه مفسرین حضرات په پرانستے زړۀ په دے باندے لیکل کوی ۔ که چرے د مفسرینو ټول اقوال او عبارتونه لیکلے شوے وے نو کتاب به ډیر غټ شوے وو ۔ دغه شان که چرے د هر آیت سره احادیث مبارک او د فقهائے کرامو اقوال لیکلے کیدل نو د هر آیت په مضامینو کښې به څو څو صفحے زیاتے شوے وے ۔ دغه شان که چرے د وعظ او د

دعوت انداز سره لیکلے شوے وے او د هر آیت مضمون د وعظ په انداز کښې بیان شوے وو۔ نو خبره به ډیره وو ړده شوے وه ۔ په دے وجه دغه تول څیزونه پریخودلے شو ۔ او دا طریقه خوښه کړے شوه چه د هر آیت جهادی مضمون ښکاره کړے شي ۔ او په مستندو عبارتونو سره هغه پوره ووسپړلے شي۔ او مسلمانانو ته معلومه شي چه د قرآن پاک په دے آیت کښې دوی ته په کومه خبره باندے پوهه ور کیږی ۔ او دوی ته په دے خبره یقین راشي چه جهاد د اسلام یوه محکمه قطعي فریضه او د الله تعالیٰ بالکل واضح حکم دے ۔ د الله تعالیٰ نه امید دے چه دا کوشش الحمد لله کامیاب روان دے ۔ او د هر آیت جهادی مضمون په داسے طریقه ښکاره کړے شوے دے چه د بے شماره اعتراضاتو او وسوسو جواب پخپله معلومیږی ۔ او دا خبره ډیره ښۀ په زړۀ کښې کښینی چه جهاد داسے مسئله نۀ ده چه ملیانو د ځانه جوړه کړیده بلکه د الله تعالیٰ واضح او تاکیدی حکم دے او دا خبره هم په زړۀ کښې کښینی چه د جهاد اصل معنیٰ څۀ ده ۔ د بعضے آیتونو نه دمعلوم شوے سبقونود موجوده زمانے سره سمون هم بیان شوے دے ۔

❽ قرآن پاک د اول نه تر آخره پورے د الله تعالیٰ رښتونے او قدیم کتاب دے ۔ په تول کتاب ایمان راوړل فرض دی ۔ د قرآن پاک د یو آیت نه انکار هم کفر دے ۔ او د ایمان راوړلو په اعتبار سره د قرآن پاک تقسیم کول چه بعضے منلے شي او بعضے نۀ شي منلے ۔ دا د کافرانو او ظالمانو طریقه ده– مونږ په تول قرآن پاک باندے ایمان راوړے دے او الحمد لله ایمان ور باندے لرو ۔ په تیر شوے وختونو کښې زمونږه مشرانو د قرآن پاک د جداجدا حصو جداجدا تفسیرونه لیکلے دی ۔ چا په آیات الاحکام باندے تفسیر لیکلے دے۔ چا په قصص القرآن باندے ځانله تفسیر لیکلے دے ۔ چا په شان نزول باندے کتاب لیکلے دے –چا د مونځ آیتونه راچنړ کړل او جمع ئے کړل - په دے وجه د جهادی آیتونو ځانله تالیف کول څۀ نوے کار نۀ دے ۔ بلکه دا هم دقرآن پاک او د دین د خدمت یو دتولونه معمولی غوندے کوشش دے ۔په دے زمانه کښې دجهاد دحکم خلاف ډیر تدبیرونه ۔ مکرونه

اوکوششونه کیږي۔ اومسلمانان دے گمراهی طرفته رابللے کیږی چه دوی دے داسے اسلام پسے روان شي چه په هغے کښ جهاد نهٔ وي –په دے حالاتو کښ د الله تعالیٰ په توفیق سره دقرآن پاک هغه آیتونه بیانیږی چه په هغے کښ د جهاد بیان دے ۔ د کافرانو طاقت په خپل ځائے ۔ د دنیاتقاضے په خپل ځائے ۔ د مسلمانانو کمزوری په خپل ځائے ۔ خو مسلمانانوته څمونږ ه دومره قدرے درخواست دے چه هغوی دے یوه پیره دغه آیتونه اودهغے مستندمضامین وولولی ۔ اوکه زیات نهٔ وی نوصرف د دغه آیتونو ترجمه دے وولولی او بیا دے فیصله ووکړی چه مونږ له څهٔ کول پکار دی اوڅه نهٔ دی کول پکار ۔ او دا خبره خوتولوته معلومه ده چه دین اواسلام خوصرف هغه ربنتونے او معتبر دے کوم چه قرآن پاک بیان کړے دے– او کوم چه حضورپاک ﷺ په خپل قول او په خپل عمل سره بیان کړے دے ۔

❾ په دے کتاب کښ چه د قرآن پاک کوم آیتونه بیان کړے شوے دی ۔ دغه آیتونه چه کله نازلیدل نو مسلمانان کمزورے وو ۔ ډیرلږ وو او صرف د دنیا په یوه خطه کښ موجود وو ۔ دغے مسلمانانو دا آیتونه وولوستل نو هغوی د خپلے کمزورئ او دکموالی عذر وونهٔ کړو ۔ بلکه دا آیتونه ئے د الله تعالیٰ حکم ووګڼړلو او دعمل دپاره ا ودریدل نو نتیجه ئے څهٔ ووختله ؟ هغه زمونږ دتولو مخے ته ده– او نن مونږ ځکه مسلمانان یو چه وړاندے مسلمانانو د همت نه کار واخیستلو او په قرآن پاک ئے عمل ووکړو ۔ نن چه د هجرت په پنځلسمه صدئ کښ دا آیتونه راجمع کولے شي ۔او مسلمانانو ته وړاندے کولے شي نو اوس هم مسلمانان کمزورے او څهٔ حده پورے مغلوبه دی –خو بیا هم د مسلمانانو کافی شمیره ده– او دوی سره وسائل هم د بیخي اولنئ زمانے د مسلمانانو نه ډیر دی نو اوس ددے آیتونو د لوستلو نه پس دا وئیل چه دا زمونږ دپاره نهٔ دی– ولے چه مونږه کمزورے یو ۔یوه ډیره نا اشنا خبره ده۔مونږه ټولو له پکار دی چه مونږ د کامیابئ او د عزت دا نسخے او دغلبے دا طریقے د عمل په نیت باندے وولولو– او د الله تعالی نه د کامل ایمان او د عمل د توفیق دعاء ووغواړو ۔

۱۰ دجهادی آیتونو د را جمع کولو کار د ۱۹۹۵ نه شروع شوے وو۔ په اول کښې د شپاړس دپاسه د شلورو سوؤ آیتونوفهرست تیار شوے وو –او د تعلیم الجهاد د شلورمے حصے په عنوان سره د دے آیتونو ترجمه او لنډه غوندے تشریح مسلمانانو کښې خوره کړے شوے وه– د قید نه پس کتابونه په لاس راغلل او د مطالعے موقعه ملاؤ شوه- نود نورو آیتونو جهادی مضامین راته هم په علم کښې راغلل۔ په دے دوران کښې دوه ځله د سورۀ انفال او دوه پیرے دجهادی آیتونو د دورے د لوستلو سعادت راته حاصل شو د دے تالیف په دوران کښې الحمد لله هغه تقریرونه هم پوره په کار راغلل کوم چه د کراچۍ، ملاکنډ، مردان او دکوهاټ د تفسیری دورود کیستهو نه لیکلے شوے وو۔ د کو هاټ د دورے نه پس خو بیا په خپله د دے د لوستلو موقعه ملاؤ نۀ شوه خو الله تعالیٰ ځو ملګروته دا نیک بختی ور نصیب کړه– اوس الحمد لله د ځو کالو راسے دا شپږ حضرات په پا بندۍ سره دا دورے لو لی ۔ او تر اوسه پورے په زرګو نو مسلمانان د دے دورو په وا سطے سره دجهاد په حکم باندے پوهه شوے دی ۔ په تیرشوے کال چه دے شپګو حضراتوته کوم خط لیکلے شوے وو– هغه هم د دے پیژند ګلو په آخره کښې شامل دے۔ امید دے چه دعلم خاوندان به انشاء الله د دے خط په ذریعه د دے دورے په فا ئده باندے په آسانۍ سره پو هه شی ۔

۱۱ د قرآن پاک جهادی مضا مین چه کله په زرګو نو او په لکهونو مسلمانانوته وور سیدل نودے خبرے ته هم ضرورت پیښ شو چه جهادی آیتونه په تحریرسره هم راجمع کړے شی ۔تیر کال دعید الاضحیٰ نه څۀ لږ غوندے وړاندے الله تعالی د دےکارد شروع کولو توفیق راکړو ۔مخکښې فهرستونه تیار کړے شو او بیا د سوړۀ بقرے نه کار شروع شو ۔دالله تعالی دحد نه زیات شکر دے چه په ډیره لږه موده کښې داسخت کار سورۀ انفال ته وورسیدۀ ۔ خود هغے نه وروستو نور کار وونۀ کړے شو–اوس که الله تعالی ووغوښتل اوخپل فضل اواحسان ئے ووکړو نودسورۀ توبے نه به دوباره کار شروع کړے شی ۔تولولوستونکو مسلمانانو ښځو

او سړو ته د دعاګانو درخواست دے۔

⑫ اوسه پورے چه کوم کار شوے دے دا زما په وس کښې نۀ وو ۔اونۀ زۀ ددے کار اهل یم – داصرف دالله تعالی فضل او احسان دے چه هغۀ توفیق راکړو ۔ داالله تعالی ډیر زیات شکر دے چه الله تعالی داسے مور پلار راکړے دی چه دهغوی دعاګانے قبلیږی ۔ د الله تعالی دے دواړو بندیګانو د زړۀ په محبت او په توجه سره ماته ډیرے ښے دعاګانے وکړے ۔ چه کله به هم کار بند شو نو دوی به الله تعالی ته ووژړل او مالک الملک به خپلے دروازے پرانستے – الله تعالی دے زما عزت مندو والدینو ته جزائے خیر ورکړی او په دنیا او آخرت کښې دے ورته د دے احساناتو دټولو نه ښکلے بدله ورکړی ۔ د دے کتاب لوستونکو ټولو مسلمانانو ته هم درخواست دے چه د دوی دپاره دعاء ووکړی – او زۀ د چا چا احساناتو ذکر ووکړم ؟ الحمد لله هرچا دخپل وس نه زیات زما مدد کړے دے ۔او ډیرے ښے دعاګانے ئے راته کړی دی -که د یو کس نوم لیکم نو بل به رانه پاتے شی – حال دا چه دے ټولو دا هرڅۀ د الله تعالیٰ د رضا دپاره کړی دی – او الله تعالی دا ټول پیژنی او هغه خو شکور دے شکور – ډیر زیات قدردان دے – هم دهغۀ نه سوال دے چه دے ټولو ته لوے اجر ورکړی ۔ یا الله ؛ دا ډیر معمولی او نۀ څۀ کوشش د خپلے رضا د پاره قبول کړے قبل کړے قبول کړے ۔

ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم وتب علینا انک انت التواب الرحیم
و صلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقهٖ سیّدنا محمّد وعلیٰ آله واصحابه
وازواجه وبناته واتباعه اجمعین وسلم تسلیماً کثیراً کثیرا۔

محمد مسعود ازہر

۳/صفر الخیر ۱۴۲۸ھ

یوم الاربعاء

بسم الله الرحمٰن الرحیم

کوم علماء کرام چه د جهادی آیتونو دوره لولي د هغوی په خدمت کښې یو ګذارش

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

څلور فهرستونه ستاسو په خدمت کښې حاضر دي۔

❶ په مدني سورتونو کښې د جهادي مضامینو فهرست۔ په دې کښې ټول پنځه سوه اتۀ پنځوس آیتونه ښودلې شوي دي۔

د فتح الجواد کارکولو نه مخکښې څو پیرې د پوره قرآن پاک تلاوت ووکړې شو۔ او ترجمه اولوستلې شوه

د هغې نه پس دې فهرست ته ترتیب ورکړې شو ۔ چه کوم نوې آیتونه په دې فهرست کښې شامل کړې شوې دي۔ د هغې په جهادي مضامینو باندې ځان پوهولو د پاره د حضرت لاهوري رحمه الله د حاشیې د موضح القرآن (موضح قرآن) او د تفسیر کبیر مطالعه ووکړۀ ۔

❷ دویم فهرست :۔ په مدني سورتونو کښې د جهاد طرفته د اشارو والا آیتونو فهرست دې ۔ په لږ شان سوچ او مطالعې سره د دې فهرست په اشارو باندې بنده پوهیږي ۔

❸ دریم فهرست د مکي سورتونو د هغه مبارکو آیتونو دې په کوم کښې چه جهادي اشارې بالکل واضحه دي ۔

❹ څلورم فهرست د هغه آیتونو دې چه هغه زمونږه په دې فهرست کښې شامل نۀ دي۔ خو حضرت لاهوري رحمه الله د ربط په وجه باندې هغه جهادي آیتونه ګڼړلې دي۔ (نۀ چه د مضمون په بناء باندې)

مبارکباد

داحادیثو او آثارو نه ښکاره دا خبره معلو میږي چه په آخره زمانه کښې به بیا جهاد

فی سبیل الله په پوره زور شور او رعب داب سره جاری کیږی- او په زمکه باندے به خلافت علیٰ منهاج النبوة قائمیږی۔ نوستا سو دا دورے لوستل د جهادی آیتونو هم د دغه خوشخبرو د ربښتیا کیدو اشاره ده ۔ د الله تعالیٰ په دے نعمت باندے چه څومره شکر ووکړے شی نو هغه کم دے ۔ او د دے نعمت چه څومره قدر کیدے شی هغه دے ووکړے شی -

د پریشانه کیدو څه ضرورت نشته دے

د آیتونو په شمیره کښ بیا بیا فرق راتلو سره پریشانه کیدل نۀ دی پکار- ولے چه مونږه د یو خاص شمیرے په باره کښ چرے هم دعویٰ نۀ ده کړے -چه د دے نه زیات نۀ شی کیدے ۔ مقصد د جهاد فی سبیل الله ژوندی کول دی ۔ په دے باره کښ چه کله هم زمونږه په علم کښ اضافه راځی نو مونږ هغه امانت مسلمانانو ته درسولو کوشش کوؤ ۔ په تفسیر کښ د رائے دخل نشته دے -خو چه کله هم د اسلافو د طرف نه مستنده خبرے زمونږه مخے ته راځی نو مونږ به په هغے پسے روانیګو- او خپلے رائے ته به بالکل ځائے نۀ ورکوؤ ۔ د وړاندینو تفسیری دورو کیستے تاسو واؤ ریځ - نو په هره دوره کښ مونږ هم دا خبره عرض کړے ده چه په یو تعداد باندے بس نۀ ده- اوس چونکه تحریری کار شروع کول وو ـ نو محنت مو بیا د سره کړو ۔

د غزاګانو تعلیم

دوره خود قرآن پاک په ترتیب باندے لولیږ ۔ الله تعالیٰ چه د قرآن پاک کوم ترتیب قائم کړے دے - هم په دغے کښ خیر او حکمت دے نو اول د سورۀ بقرے آیتونه ۔ بیا دآل عمران او دغه شان راځه وړپسے ۔ خو چه کله د یوے غزا یا د یوے سریے آیتونه راشی نو د هغے تعلیم دے د سیرت مصطفیٰ نه ووکړے شی ۔ او زیاتی که څۀ ویل پکار وی نو هغه دے زبانی ووئیلے شی ۔ دے سره یو خو به طالب مستند ماخذ ته وورسی بل به انشاء الله د دورے ماحول د جوش وخروش نه ډک شی ۔

د سورۀ انفال تقریر

په کراچۍ کښ د سورۀ انفال چه کومه دوره شوے وه نو هغه کافی تفصیلی وه- که

چرے تول استاذان هغه یوه پیره وولولی – یا واؤ ری – نو انشاء الله ډیره فائده به وی ۔ په لیکلے شوے تقریر کښ د کتابت ډیرے غلطی دی ۔

نورے تحفے

دکوهاټ دوره هم لیکلے شوے ده – او د مردان دوره هم ډیر صفا ده او غلطئ په کښ ډیرے کمے دی ۔ د هغے نقل حاصل کړئ ۔ ان شآء الله فائده به وی ۔فتح الجواد هم د سورۀ برآت پورے شوے دے ۔(برآءة په کښ شامل نهٔ دے ۔) که چرے سهولت سره د دے کاپئ درته ملاؤ شی ۔نوانشآء الله فائده به ووشی ۔خو په دے کښ څهٔ خصوصی بحثونه پاتے دی

د تنقید نه ځان ساتل

په جهاد باندے قرآنی دلائل د زړونو د شفا د پاره کافی دی ۔ په دے وجه په تبلیغی جماعت او په خانقاګانو وغیره باندے ښکاره یا په اشارے سره تنقید هرګز مهٔ کوئ ۔ خپله خبره ښهٔ په قوت سره بیا نوئ – انشاء الله هم دغه به کافی وی

تأثرات

که چرے ممکنه وی نود دورے نه پس طالبانو ته او په دوره کښ شریکو علماء کرامو ته دے په خاص طور دعوت ورکړے شی چه هغوی خپل تأ ثرات وولیکی – بیا هغه دے په محفوظه طریقه باندے شعبۀ دعوت ته اورسولے شی ۔

څۀ نه

د بنده رائے داده او ځما خیال دا دے ۔ داحقر د ارائے ده ۔ داسے غوندے خبرونه ځان ووساتئ ۔مونږ په امت کښ وړۀ خلق یو ۔ مونږه سره دغتو خلقو خبرے خوندنهٔ کوی ۔ علم تول لیکلے شوے دے ۔ نهٔ څهٔ نوے تحقیق شته او نهٔ څهٔ تفرد – که څهٔ خبره په ذهن کښ راشی او بیا په کتاب کښ ملاؤ شی نو د توافق د نعرے نه بچ ووسیږی ۔ نن صبا حافظے کمزورے دی ۔ په دے وجه په دے دعوئ کښ غلطی کیدے شی ۔کیدے شی چه مخکښ مونږ دغه تحقیق دچا نه اوریدلے وی یا په څهٔ کتاب کښ مونږه لیدلے وی ۔ هسے هم دا قسمه نعرو او دعوو سره مونږه غوندے طالبانو باندے

دعلم دروازے بندیدے شی ۔ و لے چه متکبره ته علم نهٔ نصیب کیږی ۔ بس ځان د اکابرو دخبرو نقل کوونکی ښکاره کړئ او خپل ځان په زړهٔ کښې هم دغه شان ووګنړئ ۔

موجوده زمانه

د سبقونو په دوران کښې د خپلے زمانے د تحریکونو پیژندګلو هم پکارده– په مینځ مینځ کښې دے د ربښتونی مسلک دعوت هم ووچلیږی اوپه پوره شرح صدر سره دے خپل جماعت طرفته د مسلمانانو پام کړی ۔

په یو رنګ کښې برکت

که چرے تول ملګری خپل طرز یو وولری او په یو رنګ کښې د دورے لوستلو کوشش ووکړی نو په دے کښې به فائده وی۔نامعلومه زمانے پورے به دا صدقه جاریه جاری وی ۔ ان شآء الله

ددعاء اهتمام

د سبق نه وړاندے او د دورے په مئینځ کښې د صلوٰة الحاجة او د دعاګانو ډیر خیال ساتل پکار دی ۔ چه د بره نه مدد راځی ۔یو غریب مسافر هم ستاسو د دعاګانو محتاج دے

والسلام


خویدم

(امیر محترم حضرت مولانا)


محمد مسعود اظهر

(دامت برکاتهم العالیه)

مترجم بنده : ګلاب شاه



دجهادی آیتونوڅلور فهرستونه



بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

بقره ۳۵	ال عمران ۶۲	نساء ۴۳	مائده ۲۰	انفال ۷۵	توبه ۱۲۹	حج ۱۷	نور ۴	احزاب ۲۲	محمد ۳۸
۱۰۹	۱۲	۶۹تا۸۵	۲	مکمل سورة	مکمل سورة	۱۹تا۲۴	۵۳	۹تا۲۷	مکمل سورة
۱۱۴	۱۳	۸۸تا۹۱	۳			۳۸تا۴۱	۵۴	۶۰	
۱۵۳تا۱۵۷	۲۸	۹۳تا۱۰۴	۱۱تا۱۳			۵۵	۵۵	۶۱	
۱۷۷	۱۱۰تا۱۱۲	۱۳۸تا۱۴۷	۲۰تا۲۶			۵۸تا۶۲	۶۲	۶۲	
۱۹۰تا۱۹۵	۱۱۸تا۱۲۹		۳۵			۷۸			
۲۰۷	۱۳۹تا۱۷۵		۵۱تا۵۶						
۲۱۴تا۲۱۸	۱۹۳تا۲۰۰		۸۲						
۲۳۹									
۲۴۳تا۲۵۲									
۲۶۱									
۲۶۲									
۲۷۳									
۲۸۶									

د جهاد مدنی آیتونه

تول آیتونه ۵۵۸

فتح ۲۹	حجرات ۵	حدید ۴	مجادله ۹	حشر ۱۷	ممتحنه ۱۳	صف ۱۴	منافقون ۱۱	تحریم ۱	عادیات ۸	نصر ۳
مکمل سورة	۶	۱۰	۱۴تا۲۲	۱تا۱۷	مکمل سورة	مکمل سورة	مکمل سورة	۹	۱تا۸	مکمل سورة
	۹	۱۱								
	۱۰	۱۹								
	۱۴	۲۵								
	۱۵									

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

د جهاد مدني اشارے

تول آیتونه ۳۱

بقره ۵	ال عمران ۱۸	مائده ۸
۳۰	۱۴	۵۷
۳۶	۱۵	۵۸
۵۸	۱۹	۵۹
۵۹	۲۶،۲۷	۶۰
۸۹	۵۵	۶۱
	۵۶	۶۲
	۸۱	۶۳
	۱۰۰تا۱۰۳	۶۷
	۱۳۰تا۱۳۳	

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دمکے قصے او د جهاد اشارات

ټول آیتونه۹۳

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

بقرہ ۵	ال عمران ۷	نساء ۳	مائدہ ۱	نور ۱	عنکبوت ۲۹	روم ۲۰	حجرات ۱۸	حدید ۲۹
۱۱۰	۱۴	۸۵	۳۲	۵۷	مکمل سورة	مکمل سورة	مکمل سورة	مکمل سورة
۱۸۷	۱۵	۱۱۰						
۱۹۶	۱۳۰	۱۵۰						
۲۱۹	۱۳۱							
۲۲۰	۱۳۲							
	۱۳۳							
	۱۳۴							

د جهاد اشارے په نزد
د لاهوری رحمۃ اللہ علیہ

تول آیتونه ۱۹۳

فهرست

سُورَة البَقَرَة

سُوۡرَةُ آلِ عِمۡرَانَ

سُوۡرَةُ النِّسَآء

سُوْرَةُ الْمَائِدَة

